تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی: ابو صدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح اوسمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبه حنفیه
گانی روډ کوټه

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

پہ قندھاری پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد نهم پاره (۲۵) ..... (۲۲) ..... (۲۷)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ، الخ ۴۷ تر ۵۴ ..... ۵
معلومات او مسئلی ۸

﴿ سورة الشوری ﴾ ۹

حم (۱) عسق ، الخ ۱ تر ۹ ..... ۹
معلومات او مسئلی ۱۱
وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ ، الخ ۱۰ تر ۱۲ ..... ۱۲
شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا ، الخ ۱۳ تر ۱۵ ..... ۱۳
اقامت دین فرض او په دی کی تفرق حرام دی ۱۲
دمجتهدینو امامانو فروعی اختلافات په ممنوع تفرق کی داخل نه دی ۱۸
وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيبَ ، الخ ۱۲ تر ۱۸ ..... ۲۰
معلومات او مسئلی ۲۱
اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ ، الخ ۱۹ تر ۲۰ ..... ۲۲
معلومات او مسئلی ۲۲
یو مجرب عمل ۲۴
أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا ، الخ ۲۱ تر ۲۳ ..... ۲۴
معلومات او مسئلی ۲۲
دآل رسول ﷺ دتعظیم او محبت مسئله ۲۷
أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا فَإِنْ يَشَإِ اللَّهُ ، الخ ۲۴ تر ۲۲ ..... ۲۸
دتوبی حقیقت ۳۰
وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا ، الخ ۲۷ تر ۳۵ ..... ۳۱
په دنیاکی ددولت عامه فراوانی دفساد سبب دی ۳۳
دجنت اودنیا فرق ۳۴
فَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ، الخ ۳۶ تر ۴۳ ..... ۳۶
معلومات او مسئلی ۳۸
دمشوری اهمیت او دهغه طریقه ۴۰
په عفوه بدل اخیستو کی درمیانه فیصله ۴۱
وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ وَلِيٍّ مِنْ بَعْدِهِ ، الخ ۴۴ تر ۵۰ ..... ۴۱
معلومات او مسئلی ۴۴
وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ ، الخ ۵۱ تر ۵۳ ..... ۴۵
معلومات او مسئلی ۴۶

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سُورة الزخرف﴾	**۴۸**
حـــم (۱) وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ ، الخ۱ تر ۸	۴۸
مُبلغ ته مایوسه کیدل او کښینستل نه دی په کار	۴۹
وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ ، الخ ۹ تر ۲۵	۴۹
دسفر په وخت کی دعا کانی	۵۴
وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِمَّا تَعْبُدُونَ ، الخ ۲۶ تر ۳۰	۵۶
معلومات او مسئلی	۵۷
وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَذَا الْقُرْآنُ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ، الخ ۳۱ تر ۳۲	۵۸
دتقسیم معیشت قدرتی نظام	۵۹
دمعاشی مساوات حقیقت	۶۰
داسلامی مساوات مطلب	۶۳
وَلَوْلَا أَنْ يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً ، الخ ۳۳ تر ۳۵	۶۴
دمال دولت زیاتی دفضیلت سبب نه دی	۶۵
وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ ، الخ ۳۶ تر ۴۵	۶۵
دخدای دیادو څخه اعراض دبد صحبت سبب دی	۶۷
نیک شهرت هم په دین کی خوښ ګڼل سوی دی	۶۸
دانبیاوو علیهم السلام په صحیفو کی دتوحید تعلیم	۶۹
وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا إِلَى فِرْعَوْنَ ، الخ ۴۶ تر ۵۶	۶۹
معلومات او مسئلی	۷۲
وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ ، الخ ۵۷ تر ۶۵	۷۲
هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَنْ تَأْتِيَهُمْ بَغْتَةً ، الخ ۶۶ تر ۷۷	۷۷
دوستی په حقیقت کی هغه ده کومه چی دالله ﷻ دپاره وی	۷۹
لَقَدْ جِئْنَاكُمْ بِالْحَقِّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ ، الخ ۷۸ تر ۸۹	۸۰
معلومات او مسئلی	۸۴
﴿سورة الدخان﴾	
حـــم (۱) وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ ، الخ۱ تر ۹	۸۴
دسورة فضیلت	۸۵
فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ ، الخ ۱۰ تر ۱۲	۸۷
معلومات او مسئلی	۸۸
وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ، الخ ۱۷ تر ۳۳	۹۲
دمحکی او دآسمان ژړل	۹۵
إِنَّ هَؤُلَاءِ لَيَقُولُونَ ، الخ ۳۴ تر ۴۲	۹۶
دقوم تُبّع واقعه	۹۸

Maktaba Tul Ishaat.com

بل ضحزة الزقوم . الخ ۳۳ تر ۵۹	۹۹
معلومات اومسئلی	۱۰۱
(سورة الجاثية)	۱۰۲
حم (۱) تنزيل الكتاب من الله العزيز الحكيم . الخ ۱ تر ۱۱	۱۰۲
معلومات اومسئلی	۱۰۳
الله الذي سخر لكم البحر لتجري الفلك . الخ ۱۲ تر ۱۵	۱۰۵
معلومات اومسئلی	۱۰۶
ولقد اتينا بني إسرائيل الكتاب والحكم . الخ ۱۲ تر ۲۰	۱۰۷
دتیرو امتونو دشریعتونو حکم زمونږ ۵ پاره	۱۰۹
ام حسب الذين اجترحوا السيئات . الخ ۲۱ تر ۲۲	۱۱۰
عالم اخرت اوپه دی کی جزا اوسزا عقلاً ضروری ده	۱۱۰
افرايت من اتخذ إلهه هواه واضله الله . الخ ۲۳ تر ۳۲	۱۱۱
معلومات اومسئلی	۱۱۳
دهریازمانی له بد ویل نه دی	۱۱۴
ولله ملك السموات والارض ويوم تقوم الساعة . الخ ۲۷ تر ۳۷	۱۱۴
معلومات اومسئلی	۱۱۲

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

تفسير معارف القرآن د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ؕ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٰتٍ مِّنْ اَكْمَامِهَا وَ

هغه ته حواله دی خبر دقیامت او نه را وزی څه میوی دخپل غلاف څخه اونه پاته کیږي

مَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اَيْنَ شُرَكَآءِيْ ۙ

حمل دیوی ښځی اونه هغه زیږوی مګر دهغه په علم سره ، او په کومه ورځ چی دوی ته اواز وسی چیری دی زما شریکان ،

قَالُوْۤا اٰذَنّٰكَ ۙ مَا مِنَّا مِنْ شَهِيْدٍ ﴿۴۷﴾ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَدْعُوْنَ

وبه وایی چی مونږ خوتاته وویل په مونږکی هیڅوک ددې اقرارنه کوی ، او ورک سول د دوی څخه کوم چی یی بلل

مِنْ قَبْلُ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿۴۸﴾ لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ

دمخکی څخه اوپوه سول چی دوی ته چیری نسته خلاصی ، نه ستړی کیږي بنده په غوښتلو

الْخَيْرِ ۫ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَـُٔوْسٌ قَنُوْطٌ ﴿۴۹﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا

دخیرسره،اوکه ورسیږي ده ته بدی نومایوسه ناامیده سی ، او که مونږ وځکوو وده ته دخپلی مهربانی څخه

مِنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ ۙ وَمَاۤ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ

وروسته دتکلیف څخه چی ده ته رسیدلی وُ،نووایی دازماسره لائق وه اوزه ګمان نه کوم چی قیامت راتلونکی دی

وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْۤ اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ

او که زه واپس سوم خپل رب طرف ته بیشکه ما لره ده دهغه سره نیکی نو خبر به کړو مونږ منکران

كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۵۰﴾ وَاِذَاۤ اَنْعَمْنَا

په هغه چی دوی کړی دی او وبه څکوو مونږ دوی ته دسخت عذاب څخه ، اوکله چی مونږ نعمتونه ولیږو

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ

په انسان نو مخ اړوی او تا و وی خپل بغل او کله چی ورسیږي ده ته بدی نو دعاګانی کوی

عَرِيْضٍ ﴿۵۱﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ

اوږدی ، ته ووایه آیا وینی تاسی که دا وی دالله ﷻ دطرف څخه بیا تاسی دا ونه منی بیا دهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿۵۲﴾ سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَ

څخه زیات ګمراه به څوك وی کوم چی لیری ولاړ سی په مخالفت کی ، اوس به وښایو مونږ دوی ته خپلی نښانی په دنیا کی

فِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ

او په خپله د دوی په خانونو کی تردی چی ښکاره سی په دوی باندی چی دا حق دی ، آیا پوره نه دی ستاربِ

أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿۵۳﴾ أَلَا إِنَّهُمْ فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَاءِ

په هرشی باندی شاهد کیدونکی ، خبردار دوی په شك کی دی دملاقات

رَبِّهِمْ ۗ أَلَا إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطٌ ﴿۵۴﴾

دخپل رب څخه ، خبردار هرشی دهغه په احاطه کی دی.

لنډتفسیر: (لږ چی دکوم قیامت ذکر دی چی په هغه کی به دوی ته جزا رسیږی دهغه) قیامت دعلم حوالہ دخدای طرف ته کول کیږی (یعنی ددی سوال په جواب کی چی قیامت به کله راځی لکه چی کفارو به په غرض دانکار داسی ویل ، هم دابه ویل کیږی چی دهغه علم خدای ته دی ، مخلوق ته دهغه نه کیدو څخه دهغه نه واقع کیدل نه لازمیږی) او (دقیامت څه تخصیص دی دهغه علم خو په هرشی باندی احاطه کوونکی دی ، تردی چی) یوه میوه دخپل پوښ څخه نه راوځی اونه یوه ښځه حملداره کیږی اونه هغه بچی زیږوی ، مگر دا ټول دهغه په علم کی وی (او ددی علم لرلو په وجه دهغه دعلم صفت ذاتی دی کوم چی داعلی درجی دکمال په وجه دتوحید دلیل هم دی او دقیامت دعلم دلیل هم دی ، نوپه دی سره د دواړو مضمونونو تائید وسو) او (مخکی ددغه قیامت دیوی واقعی ذکر دی چی په دی سره دتوحید اثبات او دشرك ابطال هم کیږی یعنی) په کومه ورځ چی الله ﷻ دوی (مشرکان) راوبلی (او ووایی ورته) چی (کوم تاسی زماسره شریکان کړی وه هغه) زما شریکان (اوس) چیری دی (هغوی راوغواړی چی تاسی ددی مصیبت څخه خلاص کړی) هغوی به ووایی چی (اوس خو) مونږ تاسی ته داعرض کووچی په مونږ کی هیڅوك (ددی عقیدی) دعوه کوونکی نسته (یعنی په خپله غلطی باندی اقرار کوو چونکی هلته به دعقیدو حقیقتونه ښکاره سی ، وروسته دا اقرار یاخو اضطراری دی یاپه دی وجه چی په دی سره یی دنجات څه توقع کړی وی) اوکوم کوم چی دی خلګو دمخکی څخه (یعنی په دنیا کی) بلل هغه به ټول غائب سی او (کله چی داحالات وسی نو) دا خلګ به پوه سی چی د دوی دپاره دخلاصی هیڅ صورت نسته (هغه وخت به ورته د درواغو دخدایانو بی وسی او دالله ﷻ واحد حقوالی معلوم سی، مخ ته دکفر اوشرك یولوی اثر په انسانی طبیعت باندی بیانوی چی څوك سړی دتوحید اوایمان څخه بی برخی سو دهغه) بنده (اخلاق او عادتونه عقیدی اوعملونه داسی ناکاره سی چی یو خو په هیڅ حالت کی یعنی په فراخی اوتنګی دواړو کی) دترقی په خواهش سره دده زړه نه مړیږی (کوم چی دانتهایی حرص نښه ده) او

Maktaba Tul Ishaat.com

(خاص په حالت دتنگی وغیره کی خو یی دا حال وی چی) که ده ته څه تکلیف رسیږی نونا امیده اوپه بیره کی وی (او دا دانتهایی ناشکری اودالله ﷻ څخه دبدګمانی نښه ده) او (کله چی تنګی ورڅخه لیری سی نو دغه وخت دده دا حالت وی چی) که مونږ ده ته دتکلیف څخه وروسته کوم چی په ده واقع سوی وو دخپلی مهر بانی خوند وڅکوو نو وایی چی دا خو زما دپاره خامخا په کار وه (ځکه چی زما تدبیر اولیاقت او فضیلت ددی مقتضی وو او دا هم انتهایی ناشکری اوتکبر دی) او (په دی نعمت کی داسی بدمسته اونا خبره سی چی داسی هم وایی چی) زه دقیامت دراتلو خیال نه کوم اوکه چیری (بفرض محال راهم سی او) زه خپل رب ته ورسیږم هم (لکه چی نبی ﷺ وایی) نو زما دپاره به دهغه سره هم ښه والی وی (ځکه چی زه په حق یم او ددی مستحق یم، دقیامت څخه انکار کوم چی انتهایی درجه کفر دی اودقیامت دواقع کیدو په صورت کی داګمان چی هلته به هم ماته انعامات ورسیږی دادالله ﷻ په معامله کی په انتهایی دوکه کی اخته کیدل دی غرض دکفر اوشرك څخه دامفاسد پیدا سول ، هغه داسی ناکاره شی دی) نو (دا خلق دلته چی څه غواړی ، دعوی دحقونو او استحقاقونو دی کوی اوس (دیر ژر) مونږ به دی منکرانوته د دوی (دا) ټول کردار خامخا وښیو او دوی ته به دسخت عذاب خوند وڅکوو او (دارنګه دکفر او شرك یو اثر دا دی) چی کله مونږ (داسی) بنده ته نعمت ورکړی نو (زمونږ څخه اوزمونږ داحکامو څخه) مخ اړوی اومنع ګرځوی (کومه چی انتهایی درجه ناشکری ده) او (په حالت دتنګی اوضرر کی دکفر اوشرك دننبو څخه یوه دا ده چی) کله ده ته تکلیف رسیږی نو (دنعمت دلیری کیدو دبیری څخه په ډډا فریاد سره نه چی دخپل منعم طرف ته په زاری کولو سره) ښی اوږدی اوغتی دعاګانی کوی (اودا انتهایی درجه بی صبری او ددنیا په محبت کی تښتیدل دی مخ ته درسالت اوقرآن دحقوالی طرف ته ددعوت ورکولو دپاره ارشاد دی چی ای پیغمبرﷺ ته (دی منکرانو ته) ووایه چی (ای منکرانو! دقرآن په حقوالی چی کوم دلیلونه قائم دی لکه ددی معجزه کیدل او دغیبو خبرو صحیح صحیح ښوول که تاسی دعدم تدبر په وجه سره سبب دیقین نه ګنی نوکم از کم ددی داحتمال په درجه کی خونفی تاسی هم نه سی کولی ځکه چی په نفی باندی خو ستاسی سره څه دلیل هم قائم نه دی نو) ایا داخو وښیاست چی که چیری (بناء په احتمال مذکور) دا قرآن دخدای دطرف څخه راغلی وی اوبیا تاسی ددی څخه انکار کوی نو ددا سی سړی څخه زیات به څوك پرغلطی وی کم چی (دحق څخه) په داسی لیری مخالفت کی پروت وی (په دی وجه په انکار کی دتلواری څخه کارمه اخلی بلکه دفکر پوهی څخه کار واخلی چی حق واضح اومتعین سی او ددی خلګو څخه څه امیددی چی داتدبیربه وکی مګرخیر) مونږ (په خپله) به ډیر ژر دوی ته خپلی (دقدرت) ننبی (کومی چی دلالت کوی په صدق دقرآن) ددی خلګوپه ګیر چاپیره ماحول کی هم وښیو (چی ټول عرب به دپیښګویی مطابق فتح سی) او په خپله د دوی په (خاص) ذات کی هم (وښیو چی په بدر کی به قتل سی او د دوی د اوسیدو ځای مکه به هم فتح سی) تردی پوری چی (په مجبوری ددی پیښګویو په وقوع سره به) دوی ته ښکاره سی چی دا قرآن حق دی (چی ددی پیښګویی څنګه رښتیا کیږی ، که څه هم دا اضطراری علم بغیر داختیاری تصدیق څخه مقبول نه دی ، لیکن په اتمام دحجت کی خو قوت زیاتیږی ، غرض دا چی ددی حقیقت به یوه ورځ داسی ظاهرسی ، باقی فی الحال چی کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

داخلق ستادوحی درسالت څخه انکارکوی، ته غمجن کیږه مه څکه چی که داخلق په دی شهادت ورنه کی نو ایاستادرب خبره (ستادحقانیت دشهادت اوتسلی دپاره) کافی نه ده چی هغه دهر(واقعی) شی شاهد دی (اوهغه څای په څای ستا درسالت شهادت ورکړی دی، مخ ته اصل وجه ددی انکار ښیی اوپه دی سره تسلی هم زیاتیدی سی) یادساته چی هغه خلګ خپل رب ته دمخامخ کیدوڅخه په شك کی پریوتلی دی (په دی وجه په زړه کی یی بیره نسته چی دحق طلب په وکی) مګر یاد ساته چی هغه هرشی (دخپل علم) په احاطه کی راګیرکړی دی (نوددوی په شك اوشبهه باندی هم پوه دی اوسزابه ورته ورکوی)

معلومات او مسئلي : فَذُو دُعَاءٍ عَرِيضٍ : مقصود دا دی چی دکافر انسان خصلت دا دی چی کله الله ﷻ ده ته څه نعمت دولت او عافیت ورکی نو په هغه کی مشغول اومست سی ، دمنعم حقیقی الله ﷻ څخه نور هم زیات لیری سی او دده تکبر او غفلت زیات سی اوکله چی ورته څه مصیبت راپیښ سی نو دالله ﷻ څخه اوږدی اوږدی دعاګانی غواړی ، اوږده دعایی دلته په عریض یعنی پلنی سره تعبیر کړي ده چی په دی کی زیاته مبالغه ده، څکه چی دکوم شی پلنوالی ډیر وی دهغه اوږدوالی ددی څخه زیات خود بخوده معلومیږی په دی وجه دجنت په فراخی بیانولوکی هم حق تعالی فرمایی ، عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ : یعنی جنت دومره وسیع دی چی په پلنوالی کی یی ټول اسمانونه اومځکه څای کیږی .

او اوږدی دعاګانی غوښتل که څه هم فی نفسه محمود یو مستحسن کار دی لکه چی په صحیح احادیثوکی ددعاپه ادابوکی ذکرسوی دی ، چی په دعاګانوکی زاری فریاد اوبار بار تکرار کول ښه دی ، (لکه چی بخاری ، مسلم اوعامو محدثینو یی ذکر کړی دی)

لیکن دلته ددی کافر انسان چی کوم مذمت سوی دی ، هغه په حقیقت کی په اوږدی دعا باندی نه دی بلکه په دغه مجموعی مذموم خصلت باندی دی چی کله الله ﷻ په دوی باندی دخپل نعمت ارزانی وفرمایی نو په تکبر او غرورکی بدمسته سی اوکله چی مصیبت پرراسی نو دخپلی پریشانی دلیری کیدو دپاره بار بار الله ﷻ را بولی ، لکه چی دغافلو خلګو عادت وی چی دالله ﷻ څخه دعا کول یی مقصود نه وی بلکه خپل تکلیف ژړل او خلګو ته یی ښوول مقصود وی ، والله سبحانه وتعالی اعلم

سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ : یعنی دخپل کامل قدرت او وحدانیت ننبانی دی خلګوته به وښیو، په خوا اوشاکی هم اوپخپله د دوی په تن بدن کی هم افاق دأفق جمع ده او دآسمان غاړی ته ویل کیږی ، مراد دافاق څخه اطراف دعالم دی ، یعنی دټول عالم لوی اوکوچنی مصنوعات اومخلوقات، دآسمان اومځکی او ددی په درمیانی مخلوقات کی هرشی ته وګوره نو هغه دالله ﷻ دوجود او دده دعلم اوقدرت دمحیط کیدو او دده دیو والی شهادت ورکوی او ددغو څخه زیات نژدی شی په خپله دانسان خپل ځان اوجسم دی دده یویو اندام اوپه ده کی کار کوونکو باریکو اونازکو مشینانو ته وګوری چی په دی کی دانسان دراحت اوسهولت څنګه څنګه انتظام سوی دی چی عقل ورته حیرانیږی بیایی دا نازك مشینونه دومره مضبوط جوړکړی دی چی تر اویا (۷۰) اتیا (۸۰) کالو پوری هغه سولیږی نه ، دانسان په عامو بندونو کی چی کوم سپیرنګونه لګیدلی دی که دا دانسان کاریګری وی نو دفولادو سپرنګ هم سولیږی اوختمیږی ، دلته دلاسونو څرمن اوپه دی لیکل سوی کربښی اوخطونه هم ټول عمرنه سولیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی دی ته که دیو ادنی عقل خاوندهم فکروکی نوپه دی یقین کولوبه مجبوره سی چی ددی پیدا کوونکی اوقائم ساتونکی څوك داسی ذات دی چی دعلم اوقدرت انتهایی نسته اومثل یی نسته ، فَتَبَارَكَ اللهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ .

تمّت سُورة حم السجدة بعون الله وحده للعشرين من الرّبيع الثانی سـ ۱۳۹۲ ـنه هـ يوم السبت .

﴿سورة الشوری﴾

حٰمٓ عٓسٓقٓ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَخَمْسُ اٰيَاتٍ خَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة شوریٰ په مکه کی نازل سو او په دی کی دروپنځوس (۵۳) آیتونه اوپنځه (۵) رکوع ګانی دی .

شروع کوم په نوم دالله ﷻ سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

حٰمٓ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ

، دغه شان وحی لیږي تاته او ستا څخه چی مخکې وه

اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَهُوَ

الله زبردست حکمتونو والا ، دهغه دی څه چی دی په آسمانونو کی او په مځکه کی او هغه دی

الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۴﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

دټولو څخه پورته لوی ، نژدی ده چی اسمان څیری سی دلوړ څخه او ملائکی

يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِى الْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِنَّ

پاکی بیانوی دصفتونو دخپل رب او بخښنه غواړی دمځکی والاوو دپاره خبردار هغه دی

اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵﴾ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ اللّٰهُ

الله معافی کوونکی مهربانه ، او چاچی نیولی دی دهغه څخه ماسوا نور کارسازان الله

حَفِيْظٌ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۶﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ

دغو ټولو ته یادونکی دی ، او ته د دوی ذمه وار نه یی ، او دغه شان نازل کړو مونږ

اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ يَوْمَ

په تا قرآن په عربی ژبه چی ته وبیروی لوی کلی او ددی خوا اوشا دکلو والا او خبر واورو ی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ﴿٧﴾ وَلَوْ

دجمع کیدو دورځی چی شك په کی نسته ، یوه فرقه به په جنت کی وی او یوه فرقه په دوزخ کی ، او که

شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن يُدْخِلُ مَن يَشَاءُ فِي

غوښتلی الله نو کړی به یی وای ټول خلق یوه فرقه او لیکن هغه دا خلوی چا لره چی وغواړی

رَحْمَتِهِ ۚ وَالظَّالِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٨﴾ أَمِ اتَّخَذُوا

په خپل رحمت کی او څوك چی ظالمان دی دهغوی نسته څوك کارساز او نه مدد گار ، آیا دوی نیولی دی

مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ۖ فَاللَّهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ

دهغه څخه ماسوا نور کارسازان ، نو الله چی دی هغه دی کارساز او هغه ژوندی کوی مړی او هغه په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٩﴾

هرڅه کولو قادر دی .

لنډتفسیر حٰمٓ عسق (ددی معنٰی خوالله ﷻ ته معلومه ده ، څنگه چی ددین داصولو دتحقیق اوعظیم فائدو دپاره دا سورة په تا نازلیږی) دغه شان په تا اوکوم (پیغمبران) چی ستا څخه مخکی تیر سوی دی په هغوی دالله ﷻ چی غالب حکمت والا دی (د نورو سورتونو اوکتابونو) وحی لیږلی ده (او دهغه شان دا دی چی) دهغه دی څه چی په اسمانونو کی دی اوڅه چی په مځکه کی دی او هغه دټولو لوړ او عظیم الشان دی (دده عظیم شان که څینی دمځکی خلګ ونه پیژنی اووی نه منی ، مګرپه آسمانونوکی دده معرفت لرونکی اوعظمت پیژندونکی ملائکی دومره ډیری دی چی) څه لیری نه ده چی آسمان (د دوی دبار په وجه) دخپل لوړ څخه (چی بار په هغه سره راځی) څیری سی (لکه چی په حدیث کی دی .

أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحُقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعَةِ أَصَابِعَ إِلَّا وَمَلَكٌ وَاضِعٌ جَبْهَتَهُ سَاجِدًا لِلَّهِ . رواه الترمذی وابن ماجه وبه فُسِّرَ الايةَ فِي الْمَدَارِكَ ، یعنی په آسمان کی داسی اواز پیدا سو لکه چی په یوشی دزیات بار غورځیدو څخه پیداکیږی ، او په دی کی داسی اواز په کار دی څکه چی په ټولو آسمانونو کی دځلورو ګوتو ځای هم داسی نسته په کوم کی چی یو ملائکه خپل تندی ایښوونکی په سجده نه وی) او (دغه) ملائکی دخپل رب تسبیح اوحمد کوی او دمځکی اهل (کی چی کوم خلګ دهغه دعظمت حق نه ادا کوی بلکه په شرك اوکفرکی مبتلادی ، په دی وجه مستحق دعذاب دی ، دغه ملائکی د دوی) دپاره (تر یو خاص وخته پوری) معافی غواړی (ددی محدودی معافی غوښتلو څخه مراد دا دی چی ملائکی ددی دعا کوی چی په دوی په دنیاکی څه سخت عذاب رانه سی چی ټول په هلاك سی ، ددنیا دمعمولی

Maktaba Tul Ishaat.com

سزاګانی او داخرت اصلی عذاب ددی استغفار دمطلب څخه دباندی دی اوالله ﷻ دملائکو دا دعا او درخواست قبلوی او دوی ددنیا دعام عذاب څخه محفوظ کوی، بنه پوه سی چی الله ﷻ معاف کوونکی او رحمت کوونکی دی (که څه هم دکفارو دا معافی محدوده او رحمت صرف ددنیا ترحده پوری وی) اوکومو خلګو چی دخدای څخه ماسوا نور کارسازان مقررکړی دی ، الله ﷻ هغه (قبیح عملونه) وینی پیژنی (چی سزابه یی ورته په مناسبت وخت ورکول سی) اوتا ته په دوی هیڅ اختیار نه دی درکول سوی (چی ته کله غواړی په دوی عذاب نازل کړی) او (تاته په دی خلګو باندی په دی وجه غم اوخفګان نه دی په کار چی په دوی فوری عذاب نه راځی ځکه چی ستاکار تبلیغ کول دی ، هغه تاوکی ددی څخه زیات فکر ته مه کوه چنانچی) مونږ داسی (لکه څنګه چی ته وینی) په تاعربی قرآن کریم دوحی په ذریعه (محضی ددی دپاره) نازل کړی دی چی ته (دټولو څخه اول) دمکی اوسیدونکی اوکوم خلګ چی د دوی خوا اوشاته دی دوی وبیروی او (دا بیرول هم دیو لوی شی څخه دی یعنی) دجمع کیدو دورځی څخه یی وبیروی (مراد ددی څخه قیامت دی په کوم کی چی به ټول اولین اواخرین په یو میدان کی جمع کیږی) په کوم کی چی یوه ذره شك نسته (چی فیصله به په کی دا وی چی) یوه ډله به جنت کی (دا خله) اویوه ډله به په دوزخ کی (داخله) وی (بس ستا کار دومره دی چی ددغه ورځی څخه دوی وبیروی) او (پاته سو د دوی ایمان راوړل یانه راوړل داپه مشیت الهی باندی موقوف دی) که الله ﷻ ته منظوره وای نو دوی ټول به یی په یوه طریقه جوړ کړی وای (یعنی ټولوته به ایمان نصیب سوی وای لکه چی الله ﷻ فرمایی ، وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا: یعنی که مونږ غوښتلی نوهرسړی به موهدایت ته رسولی وو) لیکن (دډیروحکمتونو په بناهغه ته دامنظوره نه سوه بلکه) هغه چا ته چی وغواړی (ایمان ورکړی) په خپل رحمت کی یی داخلوی (اوچاته چی وغواړی دی په کفر اوشرك باندی پریږدی چی هغه په رحمت کی داخل نه سی) اودَ (دی) ظالمانو (کمو چی په کفر اوشرك کی مبتلادی دقیامت په ورځ څوك حامی اومددګار نه وی (مخ ته دشرك ابطال کول کیږی) ایا دی خلګو دخدای څخه ماسوا نور کارسازان مقررکړی دی نو (که کار ساز جوړول وی نو) الله ﷻ دکار ساز (جوړولو مستحق) دی او هغه به مړی ژوندی کوی اوهغه په هرڅه باندی قدرت لری (نو دکار ساز جوړولو لایق هغه دی کوم چی په هرڅه باندی تردی چی په مړو ژوندی کولو هم قادر دی ، دهغه دقدرت خصوصیت دا دی ، چی په نورو شیانو دپاره دنامه قدرت څه خو نورو ته هم دا وخت حاصل دی ، مګر دمړو دژوندی کولو په قدرت کی څوك دپاره دنامه هم شریك نسته)

معلومات اومسئلي: يَتَفَطَّرْنَ : په دی کی په حواله دحدیث لوړ بیان سوی دی چی دملائکو په بار سره په آسمان کی داسی اوازونه پیدا کیږی لکه په یو شی چی ددروند بار دایښیدو څخه پیدا کیږی ، ددی څخه معلومه سوه چی په ملائکوکی دروند والی سته او په دی کی څه استبعاد نسته ځکه چی دا خبره خو منل سوي ده چی ملائکی هم بدنونه دی ، که څه هم لطیف بدن دی اولطیف اجسام کله چی په ډیر تعداد کی سی نو ددی بار پریوتل څه مستبعد کار نه دی (بیان القرآن)

لِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ، د: أُمَّ الْقُرَىٰ ، معنٰی ده ، دټولو کلو اوښارونو اصل اوبنیاد ، مراد مکه مکرمه ده ، ددی نوم اُمَّ القرٰی ځکه کښیښول سوچی دانبارد ټولی دنیادښارونواوکلونواودټولی مځکی څخه دالله ﷻ په نزد

Maktaba Tul Ishaat.com

اشرف او افضل دی لکه چی امام احمد په خپله مسند کی د حضرت عدی بن حمراء زهری څخه روایت کړی دی دوی فرمایی چی مادنبی کریم ﷺ څخه هغه وخت واوریدل کله چی دوی (دمکی مکرمی څخه هجرت کوی او) دمکی دبازار په مقام حزوره باندی وو چی دوی مکی مکرمی ته خطاب وکی او وي فرمایل.

إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللهِ وَأَحَبُّ أَرْضِ اللهِ إِلَى اللهِ وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ لَمَا خَرَجْتُ: رواه الترمذی والنسائی وابن ماجه وقال الترمذی هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ته زما په نزد دالله ﷻ دټولی مځکی څخه ښه یی اودټولو مځکو څخه زیاته مجبوبه یی که زه ددی مځکی څخه ایستل کیدی نه نو مابه په خپله رضاسره هیڅکله دامځکه نه وای پری ایښی.

وَمَنْ حَوْلَهَا: یعنی دمکی مکرمی خوا اوشا، ددی څخه مراد دخوا اوشا عرب ملکونه هم کیدی سی اوټوله مځکه ترمشرق او مغرب هم.

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللهِ

او په کومه خبره کی چی جګړه کوی تاسی خلق دځه شی څخه دهغه فیصله دالله په حواله ده

ذٰلِكُمُ اللهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ فَاطِرُ

دغه الله دی رب زما په هغه ده زما بروسه، او دهغه طرف ته زما رجوع ده، پیدا کوونکی

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ

دآسمانونو او دمځکی، جوړی کړی یی دی ستاسی دپاره ستاسی څخه جوړی او

الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ

دحیوانانو څخه جوړی، خپروی تاسی دغسی، نسته دهغه په شان هیڅوك، او هغه اوریدونکی

الْبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

لیدونکی دی، هغه سره دی کیلیانی دآسمانونو او دمځکو، فراخه کوی رزق

لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٢﴾

دچا دپاره چی وغواړی اوتنګوی، بیشکه هغه دهر شی خبر لرونکی دی.

لنډتفسیر: او (ته دی خلګو ته کوم چی په توحید کی ستاسره اختلاف ساتی دا ووایه چی) په کومه کومه خبره کی تاسی (دحق دخاوندانو سره) اختلاف کوی دهغه (ټولو) فیصله الله ﷻ ته سپارلی ده (هغه دا ده چی په دنیاکی یی په دلیلونو اومعجزو سره دتوحیدحق والی واضح کی اوپه اخرت کی به ایماندار په

Maktaba Tul Ishaat.com

جنت کی او ایمان نه راوړونکی په دوزخ کی وغورځوی، دا الله (چی دایی شان دی) زمارب دی (اوستاسی دخلاف اومخالفت څخه چی دکوم تکلیف اونقصان رسیدو ببره کیدی سی ددی په باره کی) په هغه توکل ساتم او (ددنیا اودین په ټولو کارونوکی) دهغه طرف ته رجوع کوم (په دی سره دتوحید مضمون ښه مؤکّدسو مخ ته دکمال په نوروصفتونو بیانولوسره ددی زیات تاکید کول کیږی یعنی) هغه داسمانونو اومځکو پیدا کوونکی دی (اوستاسی هم پیداکوونکی دی چنانچی) هغه ستاسی دپاره ستاسی دجنس څخه جوړې جوړی کړی او (دغه شان) دحیواناتو جوړې یی جوړی کړی (او) ددی (جوړو دیو ځای کیدو) په ذریعه ستاسی نسل خپروی (هغه په ذات اوصفاتوکی داسی کامل دی چی) هیڅ شی دهغه مثل نسته او هغه دهری خبری اوریدونکی لیدونکی دی (په خلاف دنورو چی دهغوی لیدل اوریدل دیر محدود دی او په مقابله دالله ﷻ دسمع اوبصرکالعدم دی) دهغه په اختیارکی دی کیلیانی دآسمانونو او دمځکی (یعنی په دی کی دتصرف کولوصرف هغه ته حق حاصل دی ، په کوموکی چی یو تصرف دا دی چی) چاته غواړی زیات رزق ورکوی او (چاته چی غواړی) کموی بیشکه هغه په هرڅه پوره پوه دی (هرچاته یی دمصلحت مطابق ورکوی)

معلومات اومسئلي: وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللهِ : یعنی په کومه معامله کوم کار کی چی ستاسی په مینځ کی څه اختلاف وی دهغه فیصله الله ﷻ ته سپارل سوي ده ، څکه چی اصل حکم صرف دالله ﷻ دی ، لکه چی په بل آیت کی ارشاد دی ، اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ : او په نورو دیرو ایتونوکی چی کوم داطاعت په حکم کی رسول اوپه ځینو ایتونوکی اولو الامر هم شامل کړی دی ، هغه ددی معارض نه دی څکه چی رسول یااولو الامر چی کومه فیصله یاحکم کوی ، هغه په یوحیثیت سره دالله ﷻ حکم کوی ، که په ذریعه دوحی یا دکتاب او سنت په نصونو سره وی ، نو دهغه خو حکم الهٰی کیدل ظاهردی ، او که په خپل اجتهاد سره وی نو چونکه داجتهاد مدار هم دقرآن اوسنت پرنصوصو وی ، په دی وجه دغه هم په یو حیثیت سره دالله ﷻ حکم دی ، دامت دمجتهدینو اجتهادونه هم په دی حیثیت سره دالله ﷻ په احکامو کی دا خل دی ، په دی وجه علماء فرمایی چی دعام سړی کوم چی دقرآن اوسنت دپوهی صلاحیت نه لری دهغه په حق کی دمفتی فتوٰی ته حکم شرعی ویل کیږی.

شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا

مقررکی الله ستاسی دپاره هغه دین کوم چی حکم یی کړی دی دهغه نوح ﷺ ته اودکوم حکم چی ولیږی مونږ ته ته

وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ

او دکوم چی حکم ولیږی مونږ ابراهیم ﷺ ته او موسی ﷺ ته اوعیسی ﷺ ته دا چی قائم کړی دین

وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ ۭ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ۭ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ

اواختلاف مه اچوی په دی کی درونډ دی په مشرکانو هغه شی دکوم طرف ته چی ته دوی بولی الله ﷻ غوره کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ﴿۱۳﴾ وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا

دخپل طرف څخه چاله چې وغواړي اوهدایت کوي خپل طرف ته هغه چاته چې رجوع کوي اوکوموچې اختلاف وکې

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۭ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ

نو دپوهیدو څخه وروسته دوجهې دضد څخه په خپل مینځ کې او که نه وی یوه خبره چې مخکې سوی ده

مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا

ستا درب څخه تر یوی مقرری نیټې پوری نو فیصله به سوی وه په دوی کې ، او کومو ته چې ورکړه سوی دی

الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۴﴾ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ

کتاب د دوی څخه وروسته نو دوی خامخا ددې څخه په دوکه کې دی چې آرام ورلره نه ورکوی نوته

وَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ

وبوله ددې طرف ته اوبرابرسه لکه چې تاته حکم سوی دی،اومه څه د دوی په خواهشاتو پسې اووایه مایقین وکې

اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ ۚ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ ۭ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۭ لَنَآ

په هرکتاب چې نازل کې الله ﷻ ، اوماته حکم دی چې انصاف وکړم په تاسی کې الله رب دی زمونږاوستاسی مونږ

اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۭ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ۭ اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾

ته به زمونږ عمل رسیږی او تاسی ته ستاسی عمل ، هیڅ جګړه نسته په مونږاوتاسی کې ، الله به جمع کړی مونږ تول او دهغه طرف ته واپس کیدل دی .

لنډتفسیر: الله تاسی خلګو دپاره هغه دین مقررکې دکوم چې هغه نوح ﷺ ته حکم ورکړې وو اوکوم چې مونږ تاته دوحی په ذریعه رالیږلی دی اودکوم چې مونږ ابراهیم ﷺ او موسیٰ ﷺ ته (سره دهغو تولو تابعدارو) حکم ورکړی وو (اودهغوی امتونوته مودا ویلی وه) چې دین قائم ساتی اوپه دی کې اختلاف مه پیدا کوی (مراد ددی دین څخه اصول ددین دی کوم چې مشترک دی په تولو شریعتونوکې لکه توحید رسالت اوبیاژوندی کیدل وغیره اوقائم ساتل دا چې دغه بدلوی مه اوپریږدی یې مه اواختلاف داچې په څه خبره ایمان راوړل سی اوپه څه خبره ایمان رانه وړل سی یاځوک ایمان راوړی اوځوک ایمان رانه وړی ، مطلب دا چې توحید وغیره پخوانی دین دی چې داول څخه تردی وخته پوری تول شریعتونه په دی کې متفق دی او ددی په ضمن کې دنبوت هم تائید وسو ، وروسته په کار وه چې ددی په قبلولو کې خلګوذره

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته او مخکې نه کولی مګر بیاهم) په مشرکانو دغه خبره (یعنی توحید) ډیرګران لګیږی دکوم طرف ته چی ته دوی رابلی (او ددی سره دا هم چی) الله ﷻ خپل طرف ته چاته چی وغواړی راولی (یعنی دحق دین دقبلولو توفیق ورکوی) اوکوم بنده چی (دخدای طرف ته) رجوع کوی هغه ته خپل طرف ته رسایی ورکوی (دمشیت څخه وروسته اجتباء وی اواجتباء یعنی دایمان دتوفیق څخه وروسته که انابت اواطاعت وی ، نو په دی قرب الٰهی اوثواب غیرِ متناهی مرتب کیږی ، لنډه داچی په مشرکانوکی صفت دانکاردی اوپه مومنانوکی صفت داجتبا) (یعنی ښه کولو) اوهدایت دی او (زمونږچی کوم تیرو امتونوته حکم وو: أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ نو ډیر خلګ په دی قائم پاته نه سول اومختلف سول ددی سبب څه التباس اواشتباه نه وه چی دمعذوری احتمال وی بلکه) دغه خلګ وروسته ددی چی دوی ته (یعنی د دوی غوږونو اوذهنونوته صحیح) علم رسیدلی وو ، محض په خپل مینځ کی دضدپه وجه په خپل مینځ کی مختلف سول (داسی چی اول دمال دولت په طلب اودمرتبی اوریاست په طلب سره غرضونه مختلف سول ، بیاپه کی فرقی جوړی سوی په داسی وخت کی ددین په پرده کی په نورو باندی عیبونه اونقصانونه لګوی اوکرار کرار مذهب اومسلك مختلف کیږی ، بیا دفروعو څخه اصولوته رسیږی) او (داخلګ په دی عظیم جرم کی چی سره دحق پیژندو مختلف سول او ددی سخت عذاب مستحق سوی وه چی) که ستا دپروردګار دطرف څخه تریو معین وخته پوری (دمهلت ورکولو) یوه خبره دمخکی څخه نه وی مقرر سوی (چی د دوی موعود عذاب به په اخرت که څه هم وی) نو (په دنیاکی به) د دوی (داختلافاتو) فیصله سوی وه (یعنی په عذاب سره به ختم سوی وای او که څه هم په تیرو امتونو عذاب رالی لیکن بغیر دمومنانو رالی ، په مومنانوکی چی چا اختلاف کړی وو ، په برکت دالتزام دایمان په هغوی رانه لی که په څینو ثابت سی نوپه ټولونه دی راغلی ، په دی تقدیر به دا معنی وی چی په کومو څینو رانغی دهغه وجه عدم مقتضی والی نه دی ، بلکه ددی مانع وجه مهلت یعنی تر: أَجَلٍ مُسَمًّى موجودیدل دی) دا خو قصه دتیرو امتونو سوه اوکومو خلګو ته چی دهغو (تیرو امتونو) څخه وروسته کتاب ورکول سوی دی (مراد ددی څخه مشرکین دعهد نبوی دی چی ستاپه ذریعه دوی ته قرآن ورسیدی) هغه (خلګ) دهغه (کتاب) څخه داسی په (کلك) شك کی پراته دی کوم چی (هغوی) په تردد کی اچولی دی (مطلب دا دی چی په تیرو امتونوکی څینو چی څنګه انکار کړی وو ، هغه شان اوس د دوی وار راغی) نو ته (دچاپه انکار زړه ماتی کیږه مه بلکه کوم طرف ته چی ته دوی دمخ کی څخه رابولی چی ذکر یی په دی آیت کی دی، كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ : یعنی توحید) هغه طرف ته (دوی برابر) رابله اوځنګه چی تاته حکم سوی دی (چی فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ: په دی) مستقیم اوسیږه اوددوی په (فاسدو) خواهشونو پسی مه څه (یعنی هغوی مخالفت کوی اوداغواړی چی مونږ ته خبری کول پریږدی خو ته یې مه پریږده) اوته وایه چی (زه کوم طرف ته تاسی رابلل غواړم زه په خپله هم په هغه عمل کوونکی یم چنانچی) الله ﷻ چی څومره کتابونه نازل کړی دی (قرآن په کی هم داخل دی) زه په ټولو ایمان راوړم (دکومو دمتفق علیها مضامینو څخه چی توحیدهم دی) اوماته دا (هم) حکم سوی دی چی (په خپل او) ستاسی په مینځ کی عدل (اوانصاف) وکړم (یعنی کوم شی چی په تاسی واجب اولازم وایم په خپل ځان

Maktaba Tul Ishaat.com

هم هغه لازم ولرم ، داسی نه چی تاسی په تکلیف کی واچوم اوپه خپله ازاد سم ، په داسی مضامینو سره سلیم الطبع ته رغبت اواتباع کول راځی اوپه دی که هم نرم نه سی نو اخری خبره دا ده چی) الله ﷻ زماهم مالك دی اوستاسی هم مالك دی (یعنی هغه دټولوحاکم دی او) زمونږ عمل زمونږ دپاره دی اوستاسی عمل ستاسی دپاره، زمونږ او ستاسی په مینځ کی هیڅ بحث نسته ، الله (چی ټولو مالك دی په قیامت کی) به مونږ ټول جمع کی (په دی کی هیڅ شك نسته چی) دهغه طرف ته تلل دی (هغه به ټولو فیصله دعملونو موافق وکی، دا وخت ستاسی سره بحث فضول دی ، هاتبلیغ به کول کیږی)

معلومات اومسئلي: شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَاوَصّٰى بِهٖ نُوحًاالاية : په تیرو ایتونو کی دالله ﷻ دظاهری اوجسمانی نعمتونو ذکروو ، ددی ځای څخه دروحانی اوباطنی نعمتونو بیان دی ، هغه داچی الله ﷻ ستاسی دپاره داسی مضبوط اومستحکم دین درکړی دی کوم چی په ټولو پیغمبرانوکی مشترك اومتفق علیه دی ، په آیت کی یی دانبیآء علیهم السلام څخه دپنځو ذکر وفرمایی دټولوڅخه اول دنوح علیه السلام اوپه اخرکی زمونږ درسول خاتم الانبیاء ﷺ اوپه مینځ کی دحضرت ابراهیم علیه السلام څکه چی هغه ابو الانبیاء دپیغمبرانو پلاردی او دعربو خلګ سره دخپل کفر اوشرك څخه دهغوی دنبوت قائل وه او د دوی څخه وروسته یی دحضرت موسیٰ علیه السلام اوحضرت عیسیٰ علیه السلام ذکرڅکه وکی چی دقرآن دنزول په وخت کی ددی دواړو پیغمبرانو منونکی یهود اونصاریٰ موجود وه ، په دی سورة احزاب کی هم دمیثاق انبیاء په ذکر کی ددی پنځو ذکر راغلی دی ، وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسٰى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ، فرق دادی چی په سورة احزاب کی دخاتم الانبیاء ﷺ ذکراول اودحضرت نوح علیه السلام وروسته دی اوپه سورة شوریٰ کی دحضرت نوح علیه السلام اول او ددوی وروسته دی په دی کی شاید اشاره دی طرف ته وی چی حضرت خاتم الانبیاء ﷺ که څه هم دزمانی دولادت اوبعثت په اعتبار سره دټولو څخه په اخرکی دی ، مګر په ازلی تقسیم نبوت اورسالت کی دټولو څخه مخ ته دی، لکه چی په یو حدیث کی فرمایی چی زه په ټولو انبیاووکی په اعتبار دتخلیق (ازلی) مخ ته یم اودبعثت په اعتبارسره دټولو څخه په اخرکی یم، (ابن ماجه، دارمی عن بهز بن حکیم ﷺ وقال هٰذا حدیث حسن کذافی المشکوٰة صـ۵۸۴)

پاته سو دا سوال چی دټولو څخه اول پیغمبر خو حضرت ادم علیه السلام دی دانبیاوو ذکر یی د دوی څخه ولی شروع نه کی ، ددی وجه دا ده چی حضرت ادم علیه السلام دټولو څخه اولنی پیغمبر دی کوم چی دنیاته تشریف راوړی دعقائدو په اصولو او ددین په مهماتوکی که څه هم هغه مشترك وو ، مګر دهغوی په زمانه کی شرك اوکفر په انسانانو کی نه وو ، دشرك او کفر مقابله دحضرت نوح علیه السلام څخه شروع سوي ده ، په دی لحاظ سره حضرت نوح علیه السلام اولنی پیغمبر دی کوم ته چی داسی معاملات پیښ سول چی وروسته پیغمبرانو ته پیښیدونکی وو ، په دی وجه سلسله دحضرت نوح علیه السلام څخه شروع سوه ، والله تعالی اعلم

أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ : دا جمله داولی جملی تشریح ده چی هغه دین په کوم کی چی ټول انبیاء مشترك اومتحد دی هغه دین قائم وساتی په هغه کی اختلاف اوتفرقه جائزنه ده، بلکه دهلاکت موجب ده

(اقامتِ دین فرض اوپه دی کي تفرق حرام دی)

په دی آیت کی دوه حکمونه مذکوردی یو اقامتِ دین ، دوهم ددی منفی اړخ ، یعنی په دی کی دتفرق

Maktaba Tul Ishaat.com

ممانعت، هرکله چی دجمهورو مفسرینو په نزدیه ، أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ : کی حرف أَنْ دتفسیر دپاره دی نو ددین معنٰی متعین سوه چی مراد هغه دین دی کوم چی په تولو انبیاوو کی مشترك راروان دی اوداهم ظاهره ده چی دغه مشترك دین په تولو انبیاوو کی دعقیدو اصول یعنی توحید ، رسالت په اخرت ایمان اودعبادتونو اصول، لمونځ، روژه، حج، زکوة، په پابندی سره کول دی، دارنګه غلا ، ډاکه زنا ، دروغ، فریب، چاله بی وجهی ازارول وغیره اودوعدی ماتولو حرامو الی دی ، کوم چی په تولو آسمانی دینونو کی مشترك اومتفق علیه راروان دی او دا هم په نص قرانی سره ثابته ده چی په فروعی احکاموکی دانبیاوو په شریعتونوکی جزوی اختلاف هم دی ، لکه چی ارشاد دی: لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا: ددی مجموعی څخه ثابته سوه چی دایت په دی جمله کی چی دکوم دین داقامت حکم اوپه دی کی داختلاف ممانعت ذکر دی ، دا هغه الهی احکام دی کوم چی دتولو انبیاؤ په شریعتونوکی مشترك اومتفق علیه راغلی دی په هغوکی تفرق اواختلاف حرام اوموجب دهلاکت دامتونو دی .

حدیث : حضرت عبدالله بن مسعود ؓ فرمایی چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ زمونږ په مخکی یوسیده خط راکش کی بیایی ددی خط راسته چپه طرفونوته نور کوچنی کوچنی خطونه راکش کړل اووی فرمایل چی داراسته اوچپه طرفونوته واړه واړه خطونه هغه لاری دی کومی چی شیطان ایجاد کړی دی اوپه دی هره لاره یوشیطان مسلط دی کوم چی خلګو ته په دی طرف دتلو تلقین کوی اوبیایی سیده خط طرف ته اشاره وکړه اوویی فرمایل ، وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ : یعنی دا زماسیده لارده تاسی ددی تابعداری کوی (رواه احمد والنسائی والدارمی ، مظهری)

په دی تمثیل کی صراط مستقیم دهغه قیم دین لارده کومه چی په تولو انبیاؤکی مشترك راغلی ده اوپه دی کی ښاخونه را ایستل ، دا تفرق حرام او دشیطانانو عمل دی اوپه دی اجماعی اومتفق علیه احکامو کی داختلاف کولو سخت ممانعت په صحیح احادیثوکی راغلی دی نبی کریم ﷺ فرمایی ، مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ (احمد وابوداود) یعنی کوم سړی چی دمسلمانانو دجماعت څخه یوه لویشت قدر جلاوالی اختیار کړی هغه داسلام دعقیدت حلقه دخپلی غاړی څخه وایستله .

اوابن عباس ؓ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی یَدُ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ (رواه الترمذی بسند حسن) یعنی دالله ﷻ لاس دی پر جماعت (تولی) باندی .

اودحضرت معاذ بن جبل ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی شیطان دانسانانو دپاره شرمښ دی لکه دبزوپه رمی پسی چی شرمښ وی ، نودی هغه بزه نیسی کومه چی دخپلی رمی څخه وروسته یا اخوا دیخوا پاته سی، په دی وجه تاسی ته په کار دی چی دجماعت سره اوسیږی جلاکیږی مه (رواه احمد داتول احادیث په مظهری کی دی)

لنډه خبردا ده چی په دی آیت کی حکم ددی مشترك اومتفق علیه دین دقائم ساتلو دی په کوم چی تول انبیاء متفق اومشترك راغلی دی ، په دی کی یی اختلاف په لفظ دتفرق سره تعبیر کړی اومنع کړی یی دی ، په دی قطعی احکاموکی اختلاف اوتفرق یی په ذکر سوو احادیثوکی دایمان دپاره خطره اوسبب دهلاکت فرمایلی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دمجتهدينو امامانو فروعي اختلافات په ممنوع تفرق کې داخل نه دی)

ددی څخه واضحه سوه چی په فروعی مسئلوکی کوم څای چی دقرآن اوحدیث واضح حکم موجودنه وی یا دقرآن اوحدیث په نصوصوکی څه ظاهری تعارض وی ، هلته دمجتهدینو امامانو په خپل خپل اجتهاد سره څه حکم متعین کول چی باهمی اختلاف په کی وی درایی اونظر داختلاف په بنا لازمی دی ، ددی ممنوع تفرق سره ددی هیڅ تعلق نسته ، داسی اختلاف په صحابه کرامو ﷺ کی په خپله درسالت دزمانی څخه راغلی دی اوداپه اتفاق دفقهاوو رحمت دی، او داقامت دین څخه مرادپه هغه قائم دائم پاته کیدل، په دی کی څه شك اوشبهه نه کول اوپه هیڅ حال کی هغه نه پریښوول دی (قرطبی)

كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ : یعنی دین حق دکوم لوی رکن چی توحیددی ، دعالم دابتداء څخه دټولو انبیاوو ﷺ په اتفاق سره دحقوالی دثابتیدو باوجود کوم خلګ چی دشرك عادت سوی دی دوی ته ستا دتوحید دعوت ډیر دروند معلومیږی چی وجه یی خواهشات اواغراض اودشیطانی تعلیماتو تابعداری اوصراط مستقیم پریښوول دی چی لوړ یی ممانعت مذکور دی ، مخ ته فرمایی

اَللّٰهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ : یعنی دصراط مستقیم دهدایت دوی طریقی دی یوه داچی الله ﷻ په خپله چاته دخپل دین اوصراط مستقیم دپاره منتخب کړی نودهغه فطرت اوطبیعت ددی مطابق جوړکړی لکه انبیاء اوخاص اولیاء الله، دکومو په باره کی چی قرآن فرمایی، إِنَّا أَخْلَصْنَاهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ : یعنی مونږ دوی دیوخاص کار دپاره خالص کړی دی کوم چی داخرت فکر دی او دخاصوخاصو انبیاوو ﷺ په باره کی قرآن مُخْلَصْ په زبر دلام وضاحت فرمایلی دی چی معنٰی یی منتخب اومخصوص ده ، دا مطلب دی د: اَللّٰهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَنْ يَشَاءُ : دا طریقه دهدایت مخصوص اومحدوده ده اوبله عامه طریقه دهدایت پیداکیدو دا ده ، چی کوم سړی دالله ﷻ طرف ته رجوع وکی او دهغه په دین دټولو اراده وکی نو هغه ته الله ﷻ دحق دین هدایت کوی دامطلب دی د دوهمی جملی ، وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ : لنده داچی دهدایت پیداکیدو صرف دوی طریقی دی ، یوه خصوصی چی الله ﷻ چاته په خپله دصراط مستقیم دپاره منتخب کړی ، دوهم غمومی چی څوك دالله ﷻ طرف ته رجوع وکی او دده دحق دین تلاش وکی نوالله ﷻ هغه دهغه مقصود هدایت ته رسوی ، اودمکی مشرکان چی دتوحید دعوت ورته درومد معلومیږی، ددی سبب دادی چی هغوی په دین دپوهیدو اوپه دی دچلیدو اراده هم نه کوی.

وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ، د: مَاتَفَرَّقُوْا : ضمیر دحضرت ابن عباس ﷺ په نزد قریشو دمکی ته راجع دی او مطلب یی دا مقرر کړی دی چی دقریشو کافرانو چی کوم دحق دین اوصراط مستقیم څخه جلاوالی اوبیزاری اختیار کړي ده ، دا فی نفسه هم سخته ناپوهی وه، په دی سربیره دا چی دالله ﷻ دطرف څخه دعلم راتلو څخه وروسته هم دوی داسی وکړل دعلم راتلو څخه مراد دحضرت ابن عباس ﷺ په نزد دنبی کریم ﷺ راتلل دی کوم چی دټولو الٰهی علومو سرچشمه وه اوځینی حضرات د:مَاتَفَرَّقُوْا ضمیر دټیرو امتونو دخلګو طرف ته راګرځوی اومعنٰی دا مقرر وی چی دټیرو امتونو خلګو دخپلوخپلو انبیاوو په دین کی اختلاف اوځان ځانی اختیار کړه ، سره ددی چی هغوی ته دانبیاوو په ذریعه دصراط مستقیم صحیح علم راغلی وو، تیر امتونه مخاطب وی یادامت محمدیه کفار، ددواړو تقاضا داوه چی په خپله

Maktaba Tul Ishaat.com

خوپه گمراهی کی پراته وه اودخپلو رسولانو هم په خپله لاره دچلولو خواهشمند وه ، په دی وجه ددی څخه وروسته نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی او ارشاد فرمایی .

(۱) فَلِذٰلِكَ فَادْعُ (۲) وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ (۳) وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ (۴) وَقُلْ آمَنْتُ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتَابٍ (۵) وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ (۶) اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ (۷)، لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ (۸) لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ (۹)، اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا (۱۰) وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ .

حافظ ابن کثیر فرمایی چی دا آیت په لسو مستقلو جملو مشتمل دی اوهره جمله په خاصو احکامو مشتمله ده ، گویا په دی یو آیت کی داحکامو لس فصلونه ذکر دی ، ددی نظیر په ټول قرآن کی دایة الکرسی څخه ماسوا بل نسته، په ایة الکرسي کی هم دلسو احکامو لس فصلونه راغلی دی .

اولنی حکم : فَلِذٰلِكَ فَادْعُ : یعنی که څه هم پرمشرکانو ستا دتوحید دعوت ډیردروند لګیږی مګرپه دی وجه ته خپل دعوت مه پریږده اومسلسل ددی دعوت کار جاری ساته ، دوهم حکم . وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ دی یعنی ته په دی دین په خپله مستقیم اوسیږه دکوم دعوت چی خلګو ته ورکوی اودا استقامت داسی په کار دی لکه څنګه چی تاته حکم سوی دی یعنی په ټولو احکامو اوعقیدو، اعمالو اوعاداتو اواخلاقو اومعاشرت کی په صحیح اعتدال قائم اوسیږه چی یوطرف ته دافراط اوتفریط ادنی شان میلان نه وی اوظاهره ده چی داسی استقامت اسان کارنه دی، په دی وجه دنبی کریم ﷺ څخه چی کله اصحابو ﷺ د دوی دوریښتو سپینیدو ذکر وکی نو دوی ﷺ وفرمایل ، شَيَّبَتْنِي هُودٌ ، یعنی زه سورة هود بوډا کړم ، په سورة هودکی هم داحکم په دی الفاظو سره راغلی دی (هلته په سورة هود (ج۲ پاره ۱۲ ، سورة هود ، آیت۱۱۲) کی په دی په تفصیل سره بحث سوی دی ویی ګوری) دریم حکم: وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ دی یعنی په خپلو فرائضو دتبلیغ کی ته دچامخالف په مخالفت پروامه کوه، څلورم حکم، وَقُلْ آمَنْتُ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتَابٍ : دی یعنی ته اعلان وکه چې څومره کتابونه الله ﷻ نازل کړی دی زماپه هغو ټولو باندی ایمان دی، پنځم حکم: وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ دی ددی مطلب په ظاهره خودادی چی ماته کومی معاملی دباهمی جګړو راسی ماته حکم سوی دی چی زه په هغه کی عدل اوانصاف وکړم ، څینی حضراتو دعدل معنی دلته دبرابری اخیستی ده دایت دا مطلب یی مقرر کی چی زه ستاسی په مینځ کی ددین ټول احکام برابر وساتم چی په هرنبی اوهرکتاب ایمان راوړی او دالله ﷻ دټولو احکامو اطاعت وکی ، داسي نه چې په څینو ایمان وی اوپه څینونه وی یادځینو احکامو تعمیل وی اودځینو نه وی ، شپږم حکم اَللّٰهُ رَبُّنَا دی ، یعنی الله ﷻ زمونږ دټولو پالونکی دی ، اووم حکم، لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ دی : یعنی زمونږ عملونه به زمونږ په کار راځی ، تاسی ته به دهغه څه نفع نقصان نه رسیږی ، څینی مفسرین حضرات فرمایی چی دا ایت په مکه مکرمه کی هغه وخت نازل سوی وو کله چی دکفاروسره دجهاد کولو احکام نه وو نازل سوی، دجهاد داحکامو ایتونو داحکم منسوخ کی ، ځکه چی دجهاد مطلب دا دی چی کوم خلګ په نصیحت اوپوهولو اثر وانه خلی ، هغوی په جنګ باندی مغلوب سی ، داسی نه چی هغوی به په خپل حال پریږدی اوځینی حضرات فرمایی چی دا حکم منسوخ نه دی اومطلب دایت دا دی چی کله مونږحق په دلیلونو اوبرهانونو سره ثابت کی نو اوس دده نه منل صرف دعناد

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبغض په وجه سره کیدی سی اوچی عناد رالی نو اوس په دلیلونو سره خبری فضول سوی ، ستاسی عمل به تاسي ته اوزما دابه ماته را رسیږی (قرطبی)

اتم حکم لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ دی ، دحجت څخه مراد بحث مباحثه ده، مراد دا دی چی دحق واضح کیدو څخه اوثابتیدو څخه وروسته هم که تاسی دعناد څخه کاراخلی نواوس خبری فضول دی زمونږاوستاسی په مینځ کی اوس هیڅ بحث نسته، نهم حکم اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا دی، یعنی دقیامت په ورځ به مونږ تول الله ﷻ جمع کړی اودهریو عمل بدله به راکی، لسم حکم وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ دی، یعنی مونږتول به هغه ته واپس کیږو.

وَالَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا

او کوم خلق چی جګړه کوی دالله ﷻ په خبره کی نو دهغه چی خلق یی

اسْتُجِيبَ لَهُ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ

ومنی د هغو جګړه باطله ده دهغوی درب په نزد او په هغوی غضب دی

وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾ اَللّٰهُ الَّذِي أَنْزَلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ

او دهغوی دپاره سخت عذاب دی ، الله هغه دی چی نازل یی کی کتاب په حق باندی او تله هم

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿١٧﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ

او ته څه خبر یی ، شاید چی قیامت نژدی وی ، تلوار کوی په قیامت سره هغه خلق چی

لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا وَالَّذِينَ اٰمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ

یقین ورباندی نه کوی ، او هغه خلق چی یقین کوی هغوی ورڅخه په بیره کی دی اوپوه دی

أَنَّهَا الْحَقُّ أَلَآ إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلٰلٍ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾

چی هغه حق دی ، کوم خلق چی جګړه کوی ددغه ګړی په راتلو کی هغوی په ګمراهی لیری کی لویدلی دی.

لنډتفسیر: اوکوم خلک چی دالله ﷻ (ددین) په باره کی (دمسلمانانو سره) جګړی راباسی وروسته دهغه څخه چی هغه ومنل سو (یعنی ډیر پوه عاقلان خلک مسلمانان سول دایی منلی دی اودحجت واضح کیدو څخه وروسته جګړه زیاته مذمومه ده) دهغو خلکو حجت دهغوی درب په نزد باطل دی اوپه هغوی (دخدای دطرف څخه) غضب (راتلونکی) دی او دهغوی دپاره (په قیامت کی) سخت عذاب (کیدونکی) دی (اوددی څخه دمحفوظ کیدو طریقه دا ده چی الله ﷻ ومنی او دهغه دین ومنی یعنی دهغه کتاب کوم چی په حقوق الله اوحقوق العباد تولوباندی حاوی دی داواجب العمل ومنی څکه چی) الله ﷻ دی چاچی

Maktaba Tul Ishaat.com

(دا) کتاب (یعنی قرآن) او (په دی کی چی کوم خاص حکم دی د) انصاف (هغه) یی نازل وفرمایی (کله چی داکتاب دالله ﷻ دی نوالله ﷻ منل بغیرددی کتاب دمنلوڅخه معتبرنه دی ، ځینی غیر مسلم کوم چی دالله ﷻ دمنلو دعوه خو کوی ، مگر قرآن نه منی دا دنجات دپاره کافی نه ده) او (داخلک کوم چی ستا څخه دقیامت دمتعین وخت پوښتنه کوی نو) تاته (دهغه) څه پته ده (لیکن چی تاته یی پته نسته نوپه دی سره ددغی ورځی نفی نه لازمیږی بلکه دهغه واقع کیدل یقینی دی اودتعین دوخت دپاره اجمالاً دومره پوهیدل کافی دی چی) عجیبه نه ده چی قیامت نژدی وی (مگر) کوم خلک چی ددی یقین نه کوی (هغوی ددغی ورځی څخه دبیریدو په ځای په طور دمسخرو او انکار) دهغه تقاضا کوی (چی هغه ژرولی نه راځی) اوکوم خلک چی یقین لری هغوی ددی څخه (ډیرږی او) بیریږی اوعقیده لری چی هغه برحق ده یاد ساتی چی (په دغو دواړو قسمو خلکوکی داول قسم خلک یعنی) کم خلک چی دقیامت (څخه منکردی اوددی په باره کی جگړی کوی) په ډیره لیری (اوږده) گمراهی کی (اخته) دی.

معلومات اومسئلې: په تیرو ایتونوکی دهغه قویم دین په طرف اهل عالم ته دعوت ورکول سوی وو په کوم چی ټول اسمانی کتابونه اوانبیاء متفق دی اوپه هغه دقائم اوسیدو اواستقامت اختیارولو تلقین وو ، مگر ځینی کافران کوم چی داوریدو اومنلو اراده نه لری ، هغوی په دی هم دمسلمانانو سره حجت بازی شروع کړه ، په ځینو روایتونو کی دی چی ځینو اهل کتابو یهودو اونصاراوو داحجت پیش کی چی زمونږ نبی ستاسی دنبی څخه مخ ته اوزمونږ کتاب ستاسی دکتاب څخه مخ ته دی ، په دی وجه زمونږ دین ستاسی ددین څخه افضل دی اوپه ځینی روایتونوکی دامضمون دقریشو دکفارو څخه ذکرسوی دی ځکه چی دوی به خپلو ځانونوته ددین ابراهیمی متبعان ویل.

قرآن کریم په ذکرسوو ایتونوکی دوی خبردار کړل چی ددین اسلام اوقرآن حجت په خلکو تمام سوی دی اوپه خپله په تاسی کی پوهانو اوانصاف پسندو خلکو منلی دی او مسلمانان سوی دی اوس داستاسی حجت بازی باطله اوگمراهی ده چی هیڅ قرار یی نسته اوس که دانه منی نو دخدای غضب به په تاسی راځی ، مخ ته دقرآن دالله ﷻ دطرف څخه کیدل اودحقوق الله اوحقوق العباد دپاره جامع قانون کیدلو ذکر دی ، اَنْزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ : دکتاب څخه مراد دلته مطلق اسمانی کتاب دی چی په دی کی قرآن اومخ کی ټول کتابونه داخل دی اودحق څخه مراد هغه حق دین دی دکوم ذکر چی لوړ راغلی دی او دمیزان لفظی معنیٰ تله ده ، دا چونکی دانصاف قائمولو اوحق پوره ورکولو یوه اله ده، په دی وجه حضرت ابن عباس ﷺ دمیزان تفسیر په عدل اوانصاف سره کړی دی ، دتفسیر امام مجاهد فرمایی چی دلته دمیزان څخه مراد هغه عامه تله ده کومه چی خلک استعمالوی اومراد ددی څخه دټولو دحقونو پوره ادا کول او انصاف دی ، نو په لفظ دحق کی ټول حقوق الله اوپه لفظ دمیزان کی دټول حقوق العباد طرف ته اشاره وسوه.

او دا چی فرمایی چی مومنان دقیامت څخه بیریږی ، مراد ددی څخه اعتقادی بیره ده کومه چی دقیامت دهیبت څخه ده ، دارنگه دخپلو عملونو په کوتاهی دنظر کولو سره لازمی وی ، مگرځینی وخت په مومن دالله ﷻ دملاقات شوق زیات سی اوپه دی بیره باندی غالب سی ، هغه ددی منافی نه دی لکه چی په

Maktaba Tul Ishaat.com

قبرکی دځینو مړو دا ویل ثابت دی چی قیامت دی ژر راسی ، وجه دا ده چی په قبر کی کله دملائکو دطرف څخه انسان ته چی درحمت او مغفرت خوشخبری ورکول کیږی ، نو دقیامت بیره مغلوبه سی .

اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿۱۹﴾ مَنْ

الله ﷻ نرمی کوی په خپلو بندګانو رزق ورکوی چاته چی غواړی او هغه دی زور اور زبردست ، څوک چی

كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ

غواړی دآخرت پیدا وار زیاتوو مونږ دده دپاره دده پیداوار ، او څوک چی

يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿۲۰﴾

غواړی ددنیا پیداوار ده لره ورکوو مونږ څه ددې څخه اوددې دپاره به نه وی په آخرت کی څه حصه .

لنډتفسیر: اوهغه خلګ کوم چی ددنیاپه نازاونعمت مغروره سوی دی اخرت یی هیرکړی دی اوداسی ګڼی اووایی چی که زمونږ عمل دالله ﷻ درضاخلاف وی نومونږ ته به یی داعیش اوعشرت ولی راکوی نه پوه سی چی دا د دوی ناپوهی ده ، دا ددنیا نعمت او دولت دلیل درضانه دی بلکه ددی وجه خوداده چی الله ﷻ (په دنیاکی) په خپلو بندګانو باندی (په عام طورسره) مهربان دی (ددی عام رحمت په سبب سره تولوته رزق ورکوی ، صحت اوتندرستی ورکوی چی په دی کی دمصلحتونو اوحکمتونو په بناکومی اوزیاتی هم کیږی چی) چاته (څومره قدر) چی غواړی رزق ورکوی (مګر نفس رزق په تولوکی مشترک دی) او (په دنیاکی په دی لطف اومهربانی سره داګڼل چی دده طریقه حقه ده اوپه اخرت کی به هم دالطف اومهربانی جاری وی سراسر دوکه ده، هلته خوبه ددوی په بدو عملونو باندی عذاب وی کومه چی څه مستبعده نه ده ځکه چی) هغه قوت والا زبردست دی (غرض دا چی د دوی دتولو خرابیو اصل په دنیا مغروره کیدل دی ، دوی ته په کار دی چی ددی څخه منع سی او داخرت فکروکی ځکه چی) کوم سړی داخرت پیداوار غواړی ، مونږ ده ته دده په پیداوارکی ترقی ورکوو (نیك عملونه پیداوار یعنی فصل دی اوپه دی ورکول کیدونکی ثواب ددی میوه ده اوترقی یی دا ده چی ثواب به ورته دوچنده ورکول کیږی لکه چی په قرآن کی ارشاد دی چی دیوی نیکی بدله لس چنده ورکول کیږی) اوڅوک چی ددنیا دپیداوار طالب وی (یعنی دتول عمل اوکوشش مقصدیی ددنیا نفع وی، داخرت دپاره څه کوشش نه کوی) نو مونږ ده ته څه دنیا (که وغواړو) ورکوو او په اخرت کی به دده هیڅ حصه نه وی (ځکه چی ددی شرط ایمان دی هغه په دوی کی نسته)

معلومات اومسائل (۱) اَللّٰهُ لَطِيْفٌ بِعِبَادِهٖ لفظ دلطیف دلغت په اعتبارسره په څومعانیوکی استعمالیږی دلته ابن عباس ﷺ ددی ترجمه حفی په معنٰی دمهربان سره اوحضرت عکرمه ﷺ باریعنی په محسن سره کړې ده

(۱) بسم الله الرحمٰن الرحیم

دنعمت شکر

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۴ ربیع الثانی سنه ۱۳۹۲ھ ورځ دچهارشنبی دسهار، دمعارف القرآن، تفسیر تردی ځای پوری درسولو او ددارالعلوم دنورو کارونو کولو څخه وروسته دماپښین لمونځ اداکی اودا صفحی می دبالښت لاندی کښیښوولی چی د دوډی خورلو څخه وروسته به لږ ارام وکړم نوبیا به دتفسیر کار شروع کړم، مګر انسان اودده دارادو دکمزوری اندازه ددی څخه وکړی چی نن پوره شپږ پنځوس ۵۶ ورځی وروسته ۲۰ جمادی الثانی سنه۱۳۹۲ھ په ورځ دچهارشنبی دوباره په دی کاغذ باندی دقلم لګولو نوبت ددی څخه وروسته رالی چی ترڅه مودی پوری دژوند څخه مایوسی وه اویوه نیمه پاره دقرآن تفسیرچی لیکل یی باقی وو، ددی دتکمیل وصیت می خپل برخور دار صالح مولوی محمدتقی سلمه ته وکی اودخپل حسرت لرمخ نیوی می وکی اوزړه می فارغه کړی وو واقعه داسی وسوه چی دغرمی دډوډی خورلو څخه وروسته زماپه سینه کی سخت درد پیدا سو چی په بله ورځ دډاکټرانو دتشخیص مطابق زماپه زړه باندی سخته حمله (هارټ اټیک) ثابت سو. زما مخلص محب محترم ډاکټر صغیراحمد هاشمی حق تعالی زما ددوهم ژوند ذریعه جوړه کړه هغوی په خپل خاص تدبیر سره زه فوراً دزړونو دمرضونوپه هسپتال کی داخل کړم خوزه په خپل اختیارسره په دی باندی په هیڅ رنګ تیارنه وم ځکه چی په هسپتال کی دمریضانو سره دسلوك چی کومی مشاهدی ماکړی وی ددی په سبب زما زړه په هیڅ شان مطمئن نه وو، چی خصوصاً دمرګ اوژوند دکشمکش په حال کی داخل سم مګر موصوف څه تدبیرونه وکړل او زه یی هلته ورسولم دی څخه وروسته ثابته سوه چی هم هغه زما ددوباره ژوندی ظاهری سبب جوړسو. په هسپتال کی دقیام څخه بغیرعلاج ممکن نه وو.

۲۵ ربیع الثانی سنه ۱۳۹۲ھ دزیارت په ورځ دزړه دمرضونوپه هسپتال کی داخل سوم اوبحمدالله ددی ځای ډاکټران دماهروالی سره سره همدرد اومهربان هم ثابت سول په یوځو ورځوکی الله ﷻ دخطی څخه وایستلم دنور احتیاطی علاج دپاره دودیرش ۳۲ ورځی په هسپتال کی پاته کیدل راغلل ۱۱جولایی سنه ۱۹۷۲په ورځ ددوشنبی زه دهسپتال څخه رخصت سوم اوپه لسبیله کی واقع خپل کورکی می یو څو هفتی دقیام اراده وکړه دلته هم احتیاطی تدابیر اوعلاج جاری دی، نن ۲۰ جمادی الثانی کوم چی اتفاقاً زما پاکستان کراچی ته درسیدلو تاریخ دی اونن پاکستان ته دراتلو زما څلورویشت کاله پوره سول اوپنځه ویشتم شروع کیږی اوبحمد الله صحت اوقوت هم اوس کرار کرار زیاتیږی نودالله ﷻ په نوم می نن داصفحات بیا رالوړ کړل اودا حاشیه می ولیکله.

دتفسیر معارف القرآن صورت حال دا دی چی کله داحادثه ماته راپیښه سوه نومعارف القرآن، ما تقریباً دقرآن تراخره پوری لیکلی وو په یوخاص سبب مینځنی شپږم منزل پاته سوی وو. ددی دلیکلو کار دسورة شوریٰ تردی مقام پوری رسیدلی وو. مخکی تقریباً یوه نیمه پاره قرآن کریم سورة حجرات پوری لیکل باقی وو. اوس حق تعالی لکه چی دوباره ژوند راکی اومعالج ډاکټرانو څه دلیکلو ویلو اجازت راکی نو برخوردار مولوی محمد تقی می دځان سره ملګری کی اوپه نوم دخدای می بیا داکار شروع کړی دی. وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ. وَعَلَيْهِ التُّكْلَانُ.

حضرت مقاتل فرمایی چی الله ﷻ په خپلو تولو بندګانو باندی مهربان دی تردی پوری چی په کافر فاجر

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی هم په دنیاکی دده نعمتونه اوریږی ، دحق تعالی عنایتونه اولطف اوکرم پرخپلو بندګانو په بی شمیره انواعو اواقسامو دی، په دی وجه تفسیر قرطبی دلفظ دلطیف معناوی هم دیری بیان کړی دی اوحاصل دټولو په لفظ د ، حفی، او، بارّ، کی شامل دی .

دالله ﷻ رزق خو دټولو مخلوقاتو دپاره عام اوشامل دی ، په وچه او دریاب کی اوسیدونکی هغه حیوان کوم چی هیڅوك نه پیژنی د دوی رزق هم دوی ته رسیږی ، په دی آیت کی چی کوم دا ارشاد دی چی رزق ورکوی چاته چی غواړی، ددی زیات واضح مطلب هغه دی کوم چی تفسیرِ مظهری اختیار کړی دی چی دالله ﷻ درزق بی شمیره قسمونه دی ، په قدر دضرورت معاش درزق خودټولو دپاره عام دی ، بیا دخاصو خاصو قسمونو درزق په تقسیم کی یی په خپل حکمت بالغه سره مختلفی درجی اوپیمانی مقرر کړی دی ، چاته یی دمال او دولت رزق زیات ورکی ، چاته یی دصحت اوقوت ، چاته یی دعلم اومعرفت چاته یی دنورو اقسامو ، دغه شان هرانسان دبل محتاج هم وی اودا احتیاج دوی دیوبل مدد اوتعاون ته تیاروی چی په دی دانسانی تمدن بنیاد دی . حضرت جعفربن محمد فرمایی چی درزق په معامله کی دالله ﷻ رحمت اومهربانی په بندګانوپه دوه قسمه سره ده ، اول خو دا چی هر یو ذی روح ته ددده دحال مناسب خوراك او ضرورتونه ورکوی ، دوهم داچی هغه چاته ددده پوره رزق دټول عمرپه یووخت نه ورکوی کنه نواول خو به دهغه حفاظت کول مشکل وای اوکه هرځومره حفاظت یی کولی هم خو سره ددی به بیاهم دسخا کیدو اوخرابیدو څخه نه سومحفوظ کیدی (مظهری او ددی په مثل په قرطبی کی)

یومجرب عمل : مولانا شاه عبد الغنی پهولپوری رحمه الله فرمایی چی دحضرت حاجی امداد الله رحمه الله څخه منقول دی چی کوم سړی سهار اویا ۷۰ واره په پابندی سره دا ایت ووایی هغه به درزق دتنګی څخه محفوظ وی ، اوفرمایی چی دا دیر مجرب عمل دی ، هم داایت دی کوم چی لوړ ذکرسوی دی یعنی .

اَللّٰهُ لَطِیْفٌ بِعِبَادِهٖ یَرْزُقُ مَنْ یَّشَآءُ وَهُوَ الْقَوِیُّ الْعَزِیْزُ .

اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّیْنِ مَا لَمْ یَاْذَنْۢ بِهِ اللّٰهُ ؕ وَلَوْلَا

آیاددوی دپاره نورشریکان دی چی هغوی لارجوړه کړی ده د دوی دپاره ددین ، دکومی چی حکم نه دی کړی الله

كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِیَ بَیْنَهُمْ ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِیْنَ لَهُمْ

اوکه نه وی مقررسوی یوه خبره دفیصلی نو فیصله به سوی وه په دوی کی،اوبیشکه کوم چی ګناهګار دی هغوی

عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۲۱﴾ تَرَی الظّٰلِمِیْنَ مُشْفِقِیْنَ مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ

لره دی عذاب دردناك ، ته به ووینی ګناهګاران بیریدونکی به وی دهغه څخه چی یی کړی وی اوهغه

وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِیْ رَوْضٰتِ

به واقع کیږي په دوی ، او کومو خلقو چی ایمان راوړی او نیك کارونه یی وکړی په باغونو کی به وی دجنت

Maktaba Tul Ishaat.com

الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿۲۲﴾

دهغوی دپاره دی څه چی هغوی غواړی دخپل رب سره دا ده لویه بزرګی ،

ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ

دا ده خوشخبری چی ورکوی یی الله خپلو هغو بندګانو ته چی ایمان راوړی اونیک عملونه وکی ،

قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ۭ وَمَنْ يَّقْتَرِفْ

ته ووایه زه نه غواړم تاسی څخه په دی څه بدله مګر دوستی دخپلوی ، اوڅوک چی وکتی

حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِيْهَا حُسْنًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۲۳﴾

نیکی مونږ به زیاته کړو ده ته نیکی ، بیشکه الله معاف کوونکی حق منونکی دی .

لنډتفسیر: (حق دین خوالله ﷻ مشروع اومقرر فرمایلی دی مګر داخلګ چی دا نه منی نو) ایا دهغوی (تجویز سوی) څینی شریکان (په خدایی کی) سته کومو چی دهغوی دپاره داسی دین مقرر کړی دی دکوم چی خدای اجازت نه دی ورکړی (مطلب دا دی چی هیڅوک ذات ددی قابل نسته چی دخدای خلاف دهغه مقرر سوی دین معتبرسی) اوکه چیری (دخدای دطرف څخه) یوه خبره فیصله (سوی) نه وی (یعنی چی په دوی به اصل عذاب دمرګ څخه وروسته وی) نو (په دنیاکی به) دهغوی (عملی) فیصله سوی وه او (په اخرت کی) ددی ظالمانو دپاره به ضرور دردناك عذاب وی (په هغه ورځ) ته به داظالمان ووینی چی دخپلو عملونو (دوبال) څخه به بیریږی اوهغه (وبال) به په دوی (خامخا) راځی (دا خو دمنکرانو حال سو) اوکومو خلګو چی ایمان راوړی اوهغوی نیك کارونه کړی وی هغوی به دجنت په باغونوکی (داخل) وی (جنت یی جمع څکه راوړی چی دجنت مختلفی طبقی او درجی دی، هره طبقه یوجنت دی اوپه هرطبقه کی دیرباغونه دی دخپلی خپلی مرتبی مطابق به څینی یوڅای وی اوڅینی بل ځای) هغوی چی څه غواړی دهغوی درب سره به هغوی ته ورکول کیږی دالوی انعام دی (نه چی هغه فانی عیش عشرت کوم چی په دنیاکی موجود دی) دا دی دکوم خوشخبری چی الله ﷻ خپلو بندګانوته ورکوی کوم چی ایمان راوړی اونیك عملونه وکی (اوچونکی کفار دپوره مضمون اوریدو څخه اول دتکذیب کولو عادت وه په دی وجه ددی مضمون دختمولو څخه اوپه یوه معترضه جمله سره کفاروته دیوزړه ویلی کوونکی مضمون اورولو حکم فرمایی یعنی) ته (دوی ته) داسی ووایه چی زه خوستاسی څخه نور څه مطلب نه غواړم بغیر دقرابت دمحبت څخه (یعنی دومره غواړم چی ستاسی دقرابت چی کوم تعلقات دی دهغه دحقوقو خیال وساتی ، ایا دقرابت داحق نه دی چی زماسره په دښمنی کی تلوارمه کوی بلکه په اطمینان سره زما پوره خبره واوری اودا دعقل اودلیل په صحیح میزان سره وتلی که مقبوله وی قبوله یی کړی اوکه څه شبهه په کی

Maktaba Tul Ishaat.com

وی نوصفایی کړی اوکه په فرض محال غلطه وی نوماپوه کی غرض کومه خبره چی وی په خیر خواهی سره دی وی داسی نه چی فوراپه جوش کی راسی) او (مخ ته دمومنانو دپاره دخوشخبری تتمه ده یعنی) کوم سړی چی څه نیکی وکی مونږبه دده په هغه (نیکی) کی نوری خوبی زیاتی کړو(یعنی دهغه نیکی دفی نفسه مقتضا چی څومره ثواب دی مونږبه دهغه څخه زیات ثواب ورکو) بیشکه الله ﷻ (داطاعت گذارو بندگانو دگناهونو) لوی بخښنې والا (او د دوی دنیکیو) لوی قدردان (اولوی ثواب ورکوونکی دی)

معلومات اومسئلې: قُلْ لَا اَسْاَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى : ددی آیت کوم تفسیرچی په ذکر سوی لنډ تفسیرکی تیر سوی دی ، هغه دجمهورو مفسرینو څخه منقول ماثور اومختار دی ، ددی مطلب دا دی چی زما اصل حق په تاسی ټولو دا دی چی زه دالله رسول یم تاسی ددی اعتراف وکی اودخپلی صلاح اوفلاح دپاره زما اطاعت وکی، مگرکه زما رسالت او نبوت تاسی نه تسلیموی نو پروا نسته ، مگر زما یوانسانی اوخاندانی حق خوهم دی دکوم څخه چی تاسی انکارنه سی کولی چی ستاسی په اکثرو قبیلو کی زماقرابت اوخپلولی ده ، دخپلولی دحقوقو اودصله رحمی دضرورت څخه خوستاسی هم انکارنسته نو زه ستاسی څخه دخپل دغه خدمت کوم چی ستاسی دتعلیم تبلیغ اوعملونو اوحالاتو دپاره کوم ، څه معاوضه ستاسی څخه نه غواړم ، صرف دومره غواړم چی دقرابت دحقوقو خیال کوی ، خبره منل یانه منل ستاسی په اختیارکی دی ، مگر عداوت اودښمنی خوکم از کم ددی خپلولی اونسب په وجه مه کوی اوس داخبره ظاهره ده چی دقرابت دحقوقو رعایت داخوپه خپله ددوی خپل فرض وو ، دی ته دڅه خدمت تعلیم اوتبلیغ معاوضه نه سی ویلی ، په ذکرسوی آیت کی چی یی داپه لفظ داستثناء سره ذکر کړي دی ، نودا ، ر په اصطلاحی الفاظوکی استثناء منقطع ده ، په کومه کی چی مستثنیٰ ددی مجموعه مستثنیٰ منه جزء نه وی ، یایی بیا دامجازاً اوادعاءً معاوضه مقرر کړه، چی مطلب یی دا دی چی زه ستاسی څخه صرف دومره خبره غواړم کومه چی که څه هم په حقیقت کی څه معاوضه نه ده ، تاسی که دامعاوضه گنی نو دا ستاسی خپله غلطی ده ، ددی نظائر دعرب اوعجم په هره ژبه کی پیدا کیدی سی ، متنبی شاعر دیو قوم شجاعت بیانوی ، وایی چی په دوی کی هیڅ عیب نسته ، بغیر ددی څخه چی ددوی په تورو کی د ډیر جنگ اوگذارونو په وجه داغونه جوړ سوی دی ، ظاهره ده چی دیو شجاع اوبهادر دپاره داڅه عیب نه دی ، بلکه هنر دی ، ددی عربی شعر دا دی .

وَلَا عَيْبَ فِيهِمْ غَيْرَ اَنَّ سُيُوْفَهُمْ بِهِنَّ فُلُوْلٌ مِّنْ قِرَاعِ الْكَتَائِبِ

اویو دارُدو ژبی شاعر دغه شان مضمون داسی لیکلی دی

په ما کی یو لوی عیب دا دی چی زه وفاداریم ، ده وفاداری دعیب په لفظ سره تعبیرکړي ده ، او خپله بی گناهی یی ډیره لوړه کړی ښکاره کړي ده .

لنډه دا چی دخپلولی دحقوقو رعایت کوم چی په واقع کی څه معاوضه نه ده زه ستاسی څخه ددی څخه ماسوا نور هیڅ نه غواړم .

دذکر سوی آیت دا تفسیر په صحیحینو کی دحضرت ابن عباس ؓ څخه منقول دی او دتفسیر په امامانو کی ، مجاهد ، قتاده اوډیر لوی جماعت داتفسیر اختیار کړی دی ، دا دټولو انبیاوو اواز په هر دورکی

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلی دی چی خپل قوم ته یی په واګه ښوولی ده چی مونږ چی ستاسی دخیر ښیګړی دپاره څه کوشش کوو، ستاسی څخه دهغه څه معاوضه نه غواړو، زمونږ معاوضه راکوونکی صرف الله ﷻ دی، دسید الانبیاء ﷺ شان خو په دی ټولو کی اعلیٰ اولوړ دی هغه به څنګه دقوم څخه څه معاوضه وغواړی.

داحادیثو امام سعید بن منصور رحمۃ اللہ علیہ، ابن سعد رحمۃ اللہ علیہ، عبد بن حمید رحمۃ اللہ علیہ، حاکم رحمۃ اللہ علیہ او بیهقی رحمۃ اللہ علیہ دامام شعبی رحمۃ اللہ علیہ څخه داواقعه نقل کړي ده اوحاکم ددی سند ته صحیح ویلی دی، واقعه دا ده چی امام شعبی وایی چی خلګو زمونږ څخه ددی آیت دتفسیرپه حقله سوالونه وکړه نو مونږ ابن عباس ؓ ته خط ولیکی او ددی دصحیح تفسیر پوښتنه مو ورڅخه وکړه نو دوی په جواب کی ولیکل چی.

اَنْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ وَسَطَ النَّسَبِ فِيْ قُرَيْشٍ لَيْسَ بَطْنٌ مِّنْ بُطُوْنِهِمْ إِلاَّ وَقَدْ وَلَدُوْهُ فَقَالَ اللهُ تَعَالٰى: (قُلْ لاَّ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْراً) عَلٰى مَاأَدْعُوْكُمْ عَلَيْهِ (إِلاَّ الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى) تَوَدُّوْنِيْ لِقَرَابَتِيْ مِنْكُمْ وَتَحْفَظُوْنِيْ بِهَا (روح)

نبی کریم ﷺ دقریشو دداسی نسب سره تعلق لری چی د دوی دهر یوه ذیلی خاندان سره دده تعلق دولادت قائم وو، په دی وجه الله ﷻ وفرمایل چی، ته مشرکانو ته دا ووایه چی په خپل دعوت زه ستاسی څخه څه معاوضه بغیر ددی څخه نه غواړم چی تاسی زما سره دخپلولی دمروّت اومؤدّت معامله وکی بغیر دڅه تکلیف رسولو څخه می په خپل مینځ کی اوسیدو ته پریږدی اوزما حفاظت وکی، اوابن جریر وغیره دا الفاظ هم نقل کړی.

يَاقَوْمِ إِذَا أَبَيْتُمْ أَنْ تُتَابِعُوْنِيْ فَاحْفَظُوْا قَرَابَتِيْ مِنْكُمْ وَلاَ يَكُوْنَنَّ غَيْرُكُمْ مِّنَ الْعَرَبِ أَوْلٰى بِحِفْظِيْ وَنُصْرَتِيْ مِنْكُمْ (روح)

ای قومه! که تاسی زما دتابعداری څخه انکار کوی نوستاسی سره چی زما دخپلولی کومه خپلوی ده نو دهغه لحاظ خو وکی او داسی نه چی دعربو نور خلګ (دکومو سره چی زما خپلولی نسته) زماپه حفاظت اومدد کی ستاسی څخه بازی یو سی.

او دحضرت ابن عباس ؓ په یو ضعیف سند سره یو روایت دا هم منقول دی چی کله دا آیت نازل سو نو څینی خلګو د دوی څخه دا پوښتنه وکړه چی ستاسی په خپلولی کی کوم خلګ دی؟ نو دوی وفرمایل چی علی ؓ اوفاطمه ؓ او د دوی اولاد، ددی روایت سندپه درمنثورکی سیوطی اوپه تخریج احادیث دکشاف کی حافظ ابن حجر ضعیف ګرځولی دی اوچونکی ددی مطلب دا جوړیږی چی زه دخپل خدمت دومره معاوضه غواړم چی زما داولاد تاسی رعایت کوی، کومه چی دعامو انبیاوو خصوصاً دسید الانبیاء ﷺ دشان سره مناسبه هم نه ده، په دی وجه راجح اومختار تفسیر دجمهور امت په نزد هغه دی کوم چی لوړ لیکل سوی دی، روافضو دا روایت نه صرف اختیار کړی دی، بلکه په دی یی لوی لوی قلعه ګانی جوړی کړی دی چی هیڅ بنیاد یی نسته.

(دآلِ رسول ﷺ دتعظیم او محبت مسئله)

لورچی څه لیکل سوی دی دهغه تعلق صرف ددی خبری سره دی چی په ذکرسوی آیت کی نبی کریم ﷺ دخپل خدمت په معاوضه کی دقوم څخه دخپل اولاد دمحبت اوعظمت دپاره څه درخواست نه دی کړی، ددی دا معنٰی دهیڅا په نزد نه ده چی پرخپل ځای دآلِ رسول مقبول ﷺ محبت اوعظمت څه اهمیت نه لری داسی خیال خوبه څوك بدبخته ګمراه کولی سی حقیقت دمسئلی دادی چی دنبی کریم ﷺ تعظیم اومحبت

Maktaba Tul Ishaat.com

دټولو کائناتو څخه زیات کیدل دایمان جزء بلکه مدار دایمان دی اوددی دپاره لازمه ده چی چاته څومره قدرنژدی نسبت دنبی کریم ﷺ سره دی دهغه تعظیم اومحبت هم په دی پیمانه سره واجب دی اوپه لازموانی کی هیڅ شبهه نسته ، چی دانسان صلبی اولادته دټولوڅخه زیات نسبت دنژدی والی حاصل دی په دی وجه دهغوی محبت بیشکه جزوی ایمان دی، مگر دَدی دامعنٰی نه ده چی پاکی بیبیانی اونور صحابه کرام ﷺ دکوموچی دنبی کریم ﷺ سره ډیرقسمه نسبتونه اوخپلولی حاصلی دی هغوی هیرکی. لنډه دا چی داهل بیتو اوالِ رسول ﷺ دمحبت مسئله په امت کی هیڅکله داختلاف لاندی نه ده راغلی ، په اجماع اواتفاق سره د دوی محبت اوعظمت لازم دی ، اختلافات هلته پیدا کیږی کوم ځای چی دنورو په عظمتونو حمله کول کیږی ، کنه نو دالِ رسول ﷺ دکیدو په حیثیت سره عام سیدان برابره خبره ده که ددوی سلسله دنسب که هرڅومره لیری هم وی ، د دوی محبت اوعظمت عین سعادت اجر اوثواب دی اوچونکی ډیرخلګ په دی کی ډیری کوتاهیانی کوی ، په دی وجه حضرت امام شافعی په څو اشعارو کی ددی سخت مذمت فرمایلی دی ، هغه اشعار دا دی اوپه حقیقت کی دادجمهور امت مسلك اومذهب دی.

يَا رَاكِبًا قِفْ بِالْمُحَصَّبِ مِنْ مِنًى ... وَاهْتِفْ بِسَاكِنِ خَيْفِهَا وَالنَّاهِضِ

سَحَرًا اِذَا فَاضَ الْحَجِيْجُ اِلٰى مِنًى ... فَيْضًا كَمُلْتَطِمِ الْفُرَاتِ الْفَائِضِ

اِنْ كَانَ رِفْضًا حُبُّ اٰلِ مُحَمَّدٍ (ﷺ) ... فَلْيَشْهَدِ الثَّقَلَانِ اَنِّيْ رَافِضِي

یعنی ای شهسوارہ! دمنٰی وادی محصب ته نژدی ودریږه اوکله چی دسهار په وخت کی دحاجیانو سیلاب دڅپی وهونکی دریاب په شان دمنٰی طرف ته روان وی نو ددی علاقی هر اوسیدونکی اوهر یو په لاره تیریدونکی ته په چغه دا ووایه چی که صرف دالِ محمد ﷺ دمحبت نوم رفض وی نو ددی کائناتو ټول پیریان او انسانان شاهد سی چی زه هم رافضی یم.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۖ فَإِنْ يَشَإِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى

آیا دوی وایی چی ده جوړ کړی دی په الله ﷻ باندی دروغ ، نو که الله ﷻ وغواړی نو مهربه ووهی

قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ۗ إِنَّهٗ عَلِيْمٌ

ستا په زړه او محوه کوی الله ﷻ دروغ ، او ثابتوی رښتیا په خپلو خبرو سره ، هغه ته معلوم دی

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٢٤﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ

څه چی په زړونو کی دی ، او هغه دی چی قبلوی توبه دخپلو بندګانو څخه

وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٢٥﴾ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ

او معاف کوی دګاهونو څخه ، او پیژنی څه چی تاسی کوی ، او دعا اوری دایماندارو

Maktaba Tul Ishaat.com

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالْكٰفِرُوْنَ

چې نيك كارونه كوى او زيات وركوى هغوى ته دخپل فضل څخه ، اوڅوك چې منكر دى

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿۲۶﴾

دهغوى دپاره سخت عذاب دى.

لنډتفسير: ايادا خلګ (ستاپه نسبت نعوذ بالله) داسى وايى چې دوى په خداى پاك باندى دروغ جوړ كړى دى (چې خلاف واقع يى دنبوت او وحى دعوه كړې ده) نو (د دوى دا قول په خپله افتراء ده ځكه چې ستا په ژبه چې دحق ترجمانى كوونكى ده دالله ﷻ دا معجزكلام جارى سوى دى كوم چې دربښتينى نبى څخه ماسوا دبل چاپه ژبه نه سى جارى كيدى كه معاذالله ته په خپله دعوه درسالت كى ربښتينى نه واى نوالله ﷻ به دا كلام په تا نه واى جارى كړى چنانچې) خداى (ته داقدرت حاصل دى چې) كه چيرى (هغه) وغواړى نوستا په زړه به بند ولګوى (اودا كلام به ستاپه زړه القاء نه سى بلكه درڅخه ليرى به سى اوستا څخه به بالكل هيرسى ، اوپه دى صورت كى ظاهره ده چې بياپه ژبه به نه سى ادا كيدى) اودالله ﷻ (عادت دا دى چې هغه دنبوت) باطله (دعوه) وركوى (چليدو ته يى نه پريږدى ، يعنى دداسى درواغجن مدعى دلاسه معجزى نه ظاهروى) او (دنبوت) حق (دعوه) په خپلو احكامو سره ثابته (اوغالبه) كوى (نو ته صادق او دوى درواغجن دى او چونكى) هغه (يعنى الله ﷻ) دزړونو خبرى پيژنى (نو دژبى خبرى او داندامونو كارونه څه دى ، نو الله ﷻ ددى خلګو دعقيدو اوخبرو اوعملونو تولوڅخه خبردى ، په دى تولوبه ورته ښه سزا وركړى ، البته كوم خلګ چې دخپل كفر اوبدو عملونو څخه توبه وكى نو هغوى به معاف كړى ځكه چې دا دهغه قانون دى) اوهغه داسى (رحيم) دى چې دخپلو بندګانو توبه (چې په خپلو شرطونو پوره وى) قبلوى اوهغه (ددى توبى په بركت سره) تول (تير) ګناهونه معاف كوى اوڅه چې تاسى كوى هغه دا (تول) پيژنى (نوهغه ته دا هم معلومه ده چې توبه يى خالصه كړې ده كه غيرِ خالصه) او (هركله چې يوسړى دكفر څخه توبه وكى مسلمان سى نُودده چې كوم عبادتونه اول نه قبليدل اوس قبليږى ځكه چې الله ﷻ) دهغو خلګو عبادت (په دى شرط چې درياء دپاره نه وى) قبلوى كوم چې ايمان راوړى اوهغوى نيك عملونه وكى (هغه عبادتونه دانيك عملونه دى اوددى دقبلولو مطلب دا دى چې دوى ته ثواب وركوى) او (علاوه ددى ثواب څخه كوم چې فى نفسه ددغه عمل مقتضاء ده) هغوى ته دخپل فضل څخه نور زيات (ثواب) وركوى (دا خو دايماندارو دپاره سوه) اوكوم خلګ چې پركفر (باندى اصرار) كوى (اوايمان نه راوړى) دهغوى دپاره سخت عذاب (مقرر) دى.

معلومات اومسئلې: دذكر سوو ايتونو څخه په اول آيت كى حق تعالى دنبى كريم ﷺ رسالت اونبوت اوقرآن ته غلط اوپه خداى تعالى باندى افتراء ويونكو ته خپله يوه عامه قاعده وښوولە اوجواب يى وركى چې دهغه خلاصه دا ده چې داسى كار كوم چې عادتًا انسان نه سى كولى اوكوم ته چې خرقِ عادت يامعجزه ويل كيږى كه څه هم څينى ساحران جادوګران هم دخپل سحر څخه داسى كارونه ښيى ، دا خو ظاهره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

چی په دی دواړوکی یو هم بغیر دالله ﷻ دارادی اومشیت څخه څه نه سی ورکول کیدی حق تعالی په خپل فضل سره دانبیاوو علیهم السلام دنبوت ثابتولو دپاره دوی ته معجزی ورکوی په کومو کی چی دپیغمبر هیڅ اختیارنه وی .

دغه شان دجادوګرانو جادوهم دخپل حکمت امتحان او ازمائش په بناء باندی چلوی ، مګر په سحر اومعجزه کی دفرق اوپه نبی اوساحرکی دامتیاز دپاره هغه داقاعده جاری کړې ده چی کوم سړی دنبوت دعوه په دروغو وکی ، دهغه په لاس سره هیڅ سحر یاجادو کامیاب نه وی ، ترڅوپوری چی هغه دنبوت مدعی نه وی سحریی چلیږی، دنبوت په دروغ ددعوی کولو څخه وروسته دده سحر الله ﷻ نه چلوی .

اوکومو ته چی الله ﷻ نبوت او رسالت ورکی هغوی ته یی معجزی هم ورکړی او دهغوی دمعجزو ښکاره کیدل روښانه کړی ، دغه شان په تکوینی اوتقدیری طور سره دهغوی نبوت ثابت کړی ، بل دخپل کلام په ایتونو کی د دوی تصدیق نازل فرمایی .

هرکله چی دا قاعده معلومه سوه نو اوس پوه سی چی قرآن کریم یوه معجزه ده چی دټولی دنیا پیریان اوانسانان ددی دیو ایت دمثال جوړولو څخه عاجزه دی چی عجزیی په زمانه دنبوت کی ثابت سو اوترننه پوری ثابت دی ، داسی ښکاره معجزه دچا درواغجن مدعی دنبوت څخه دذکر سوی قاعدی مطابق نه سی صادریدی ، په دی چی ستادعوه دوحی او رسالت حقه ده اوصحیح ده ، دی ته غلطه اوافتراء ویونکی ګمراه اودروغ ترونکی دی .

په دوهم آیت کی منکرینو اومعاندینو ته نصیحت سوی دی چی اوس هم دکفر اوانکار څخه واپس سی اوتوبه وکاړی ، الله ﷻ ډیرلوی رحیم اوکریم دی دتوبه کوونکو توبه قبلوی او خطاګانی یی معاف کوی .

(دتوبې حقیقت)

دتوبی لفظی معنٰی واپس کیدل او رجوع کول دی اوپه شرعی اصطلاح کی دګناه څخه واپس کیدو ته توبه وایی او ددی دصحیح اومعتبر کیدو دپاره دری شرطونه دی ، یو دا چی په کومه ګناه کی فی الحال مبتلا دی هغه فوراً پریږدی ، دوهم دا چی په تیر وخت کی ورڅخه کومه ګناه سوی وی په هغه پښیمانه اونادم سی دریم داچی اثنده دپرینښولو پوخ قصدوکی اوکه څه شرعی فرض یی پریښی وی نوچی دهغه په اداکولو او قضا راګرځولوکی شروع سی اوکه ګناه دحقوق العباد سره متعلق وی نوپه دی کی یو شرط دا هم دی چی که دچا مال دده پرذمه واجب وی اوهغه سړی ژوندی وی نوچی یاهغه ته هغه مال واپس کی یا ورڅخه معافی وغواړی اوکه هغه ژوندی نه وی او ورثا یی موجود وی نوهغوی ته یی واپس کړی اوکه ورثایی هم نه وی نوچی په بیت المال کی یی داخل کړی ، که بیت المال هم نه وی یایی انتظام صحیح نه وی نو چی دهغه دطرف څخه یی صدقه کړی اوکه څه غیر مالی حق یی په ذمه دچا واجب وی مثلاً ناحقه یی څوك ازار کړی وی ، بد ردیی ورته ویلی وی یایی دهغه غیبت کړی وی نوڅنګه چی ده لره ممکن وی ، هغه دی راضی کړی اومعافی دی ورڅخه حاصله کړی .

او دا خو دهر قسم توبی دپاره ضروری ده چی دګناه پرینبوول دالله ﷻ دپاره وی دخپلی څه جسمانی کمزوری یامجبوری په بناء باندی نه وی اوپه شریعت کی اصل مطلوب خو دا دی چی توبه دټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

گناهونو څخه وسی ، لیکن که صرف دځه خاص گناه څخه توبه وکاړی نو داهلِ سنتو دمسلك مطابق به دهغه گناه ترحده پوری که معاف سی خو دنورو گناهونو وبال به یی پرسر باندی پاته وی .

وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا

او که فراخه کړی الله رزق دخپلو بندگانو دپاره نو بغاوت کوی

فِی الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ

په مځکه کی او لیکن نازلوی یی په اندازه سره څومره چی غواړی ، بیشکه هغه په خپلو بندگانو خبردار

بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ وَهُوَ الَّذِیْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ

لیدونکی دی ، او هغه دی چی نازلوی باران نو ددی چی نا امیده سی اوخپروی

رَحْمَتَهٗ ؕ وَهُوَ الْوَلِیُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۸﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ

رحمت خپل ، او هغه کارساز دتولو تعریفونو لائق دی ، او دهغه دنښو څخه پیدا کول داسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ ؕ وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ

او دمځکی دی او څه چی خپاره دی په دی کی دحیوانانو څخه ، او هغه په جمع کولو ددی

اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ

کله چی وغواړی قادر دی ، او څه چی رسیږی تاسی ته څه مصیبت نو هغه بدله ده دهغه چی کړی دی

اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۰﴾ ؕ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِی الْاَرْضِ ۚ

ستاسی لاسونو اومعاف کوی دیر گناهونه ، او تاسی نه یاست ستړی کوونکی په تیښته په مځکه کی

وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۳۱﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهِ

او هیڅوك نسته تاسی لره دالله ﷻ څخه ماسوا کارساز او نه مدد گار ، او دهغه دنښو څخه دی

الْجَوَارِ فِی الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۳۲﴾ ؕ اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ

جهازونه تلونکی په دریاب کی لکه غر ، که وغواړی نوبنده به کړی هوا بیا به پاته سی

Maktaba Tul Ishaat.com

رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۳﴾

تولہ ورځ ولاړ ددې په شا باندې ، بیشکه په دې کې نښانې دي دپاره هر صبر کوونکې شکر کوونکې ،

اَوْ يُوْبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوْا وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۴﴾ وَّيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

یا تباه کړي دوی په سبب د دوی دعملونو او معاف کوي هم ډیر ، او چې پوه سي هغه خلق کوم چې

يُجَادِلُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِنَا ؕ مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۵﴾

جګړې کوي زمونږ په قدرتونو کې ، چې نسته د دوی دپاره دتیښتې ځه ځای .

لنډتفسیر: او (دالله ﷻ دصفت حکمت داثارو څخه دا ده چې ده تولو انسانانوته زیات مال ورنه کې ، څکه چې) که الله ﷻ دخپلو تولو بندګانو دپاره (په موجوده حالت کې لکه چې د دوی طبیعتونه دي) رزق فراخ کړي وای نو دغو به (په دنیاکې) شرارت کوی (څکه چې کله تول انسانان مالداروی اوځوك دچامطلق محتاجه نه وای نو هیڅوك به دچا څخه نه بیریدی) لیکن (دا یې هم ونه کړل چې بالکل یې چاته څه ورنه کړل بلکه) څومره رزق چې غواړي په (مناسب) انداز سره (هر یوه ته یې) نازلوی (څکه چې) هغه دخپلو بندګانو (دمصلحتونو) پیژندونکی (او د دوی دحال) لیدونکی دی ، اوهغه داسی (رحیم) دی کوم چې (دیر واره) دخلګو دنا امیده کیدو څخه وروسته باران اوروی او دخپل رحمت (اثار په دنیا کې) خپروی (داثارو څخه مراد نباتات اومیوی اوګلونه دي) اوهغه (دتولو) کارساز (اوپه دی کارسازی) قابل دحمد (اوثنا) دی اومن جمله دهغه د (قدرت د) نښانو څخه پیداکول دی ، دآسمانونو اودمڅکی اودحیوانانو کوم چې هغه په مڅکه اواسمانونوکی خپاره کړی دی اوهغه (دقیامت په ورځ په دوباره ژوندی کولو) دهغه (مخلوقاتو) په جمع کولو هم کله چې هغه (جمع کول) وغواړي قادر دی او (هغه بدل اخیستونکی مګر ور سره معاف کوونکی هم دی) چنانچې تاسی ته (ای ګناهګارو!) چې کوم مصیبت (حقیقتاً) رسیږی نو هغه ستاسی دلاسونو په کړو کارونو سره (رسیږی اوبیاهم په هره ګناه نه بلکه په ځینو ګناهونو) او د ډیرو (ګناهونو) څخه درګذرکوی (برابره خبره ده که په دواړه جهانه یاصرف په دنیاکې) او (که هغه په تولو مواخذه کول شروع کړی نو) تاسی (د) مڅکی (په یوه حصه) کې (په پناه اخیستو سره) هغه نه سی کمزوری کولی او (په داسی وخت کې به) دخدای څخه ماسوا ستاسی څوك حامی مددګار نه وی اومنجمله دهغه د (قدرت د) نښانو څخه جهازونه دی په سمندرکی (داسی لوی) لکه غرونه (مراد دا دی چې ددغو په سمندر کې تلل دلیل دی دالله ﷻ دعجیبه صنعت کاری کنه نو) که هغه وغواړی نو هوا به ودروی نو هغه (جهاز) به دسمندر په سطح ولاړ پاته سی (دا دهغه کار دی چې هوا چلوی اوپه دی سره هغه جهاز چلیږی) بیشکه په دې کې (په قدرت دلالت کوونکی) نښانی دی دهرصبر کوونکی اوشکر کوونکی (یعنی مومن) دپاره (ددی تشریح دسورة لقمان په اخری رکوع کې ددی قسم جملی لاندی تیره سوې ده ، غرض که هغه وغواړی نو هوا به بنده کړی جهاز به ودروی) یا (که هغه وغواړی نو تیزه هوا به

Maktaba Tul Ishaat.com

راولی دَ) دهغه جهاز (سپرلی) لره به دهغوی دَ (بدو) عملونو (کفر وغیره) په سبب تباه کړی او (په دوی کی) دډیرو انسانانو څخه درګذرکوی (یعنی دغه وخت غرق نه سی که څه هم په اخرت کی به سزا پیداکی) او (ددی تباهی په وخت کی) به هغو خلګو ته کوم چی زمونږ په ایتونوکی جګړی راباسی معلومه سی چی (اوس) دهغوی دپاره هیڅکله دخلاصی (صورت) نسته (ځکه چی په داسی وختونوکی به هغوی هم خپل خیالی شریکان عاجز ګڼل)

معلومات اومسئلي: ترون اوشانِ نزول په دی ایتونوکی الله ﷻ دتوحید دعقیدی دثابتولو دپاره دخپل دی حکمت بالغه ذکر فرمایلی دی دکوم په ذریعه چی یی کائنات په یومستحکم نظام کی ترلی دی اومقصد دا دی چی دکائناتو دا مستحکم نظام ددی خبری واضح دلیل دی چی څوک حکیم اوخبیر ذات دا ډلوی. ددی مضمون په ابتداکی باری تعالی خپل دمعیشت دی نظام طرف ته اشاره کړې ده کوم چی ده په خپل حکمت سره په دنیاکی جاری فرمایلی دی او دا مضمون دتیرو ایتونو سره داسی ترل سوی دی چی په تیرو ایتونو کی دا بیان سوی وو چی الله ﷻ دمومنانو عبادت قبلوی په کوم کی چی د دوی ددعاګانو قبلول هم شامل دی ، اوس دلته دا اشکال کیدی سوچی دا خبره ډیره لیدل کیږی چی مسلمان دخپل څه دنیوی مقصد دپاره دعاکوی لیکن هغه مقصدنه پوره کیږی، ددی اشکال جواب په ذکرسوو لوړو ایتونوکی دتولو څخه په اولنی آیت کی ورکول سوی دی او ددی خلاصه دا ده چی دانسان دهرخواهش پوره کیدل څینی وخت په خپله دانسان دانفرادی یا اجتماعی مصلحت خلاف وی ، په دی وجه که څه وخت دانسان څه دعاپه ظاهره قبوله نه سی نو ددی په شا دکائناتو هغه عظیم مصلحتونه وی په کومو چی ددغه علیم اوحکیم خالق څخه ماسوا بل څوک نه پوهیږی که ددنیاهرانسان ته هرقسم رزق اوهرقسم نعمتونه ورکړل سی نو ددنیا دانظام په حکمت سره نه سی چلیدی (تفسیر کبیر)

چنانچی په څینو روایتونوکی ددی تائید کیږی چی دا آیت دهغو مومنانو په باره کی نازل سوی وو کومو چی به دکافرانو مال دولت لیدی او ارزوګانی به یی کولی چی دا فراوانی او فراخی مونږ ته هم حاصله سی امام بغوی دحضرت خباب بن ارت ﷺ داقول نقل کړی دی چی مونږدبنوقریظه بنو نضیر اوبنو قینقاع مال دولت ولیدی نوزمونږپه زړونوکی هم دمالداری ارزوګانی پیداسوی، په دی باندی دا آیت نازل سو، اوحضرت عمروبن حریث ﷺ فرمایی چی په اصحاب صفه کی څینو حضراتو دنبی کریم ﷺ په مخکی ددی خواهش اظهار کړی وو چی الله ﷻ مونږ مالداران جوړ کړی په دی دا آیت نازل سو (روح المعانی وغیره)

(په دنیاکي ددولت عامه فراواني دفساد سبب دی)

په هرحال په دی آیت کی دافرمایل سوی دی چی که ددنیاپه هرفرد باندی هرقسم رزق اوهرقسم نعمتونه پریمانه کړی نو دانسانانو دیوبل خلاف بغاوتونه اوفسادونه به دحد څخه زیات سی ، په دی وجه چی ددولت دپریمانی په وجه به نه څوک دچامحتاج وو اونه به څوک په چا کمزوری کیدی ، بل طرف ته د دولت مندی یو خاصیت دا دی چی څومره دولت زیاتیږی دومره په حرص اوهوس کی هم اضافه کیږی ، ددی لازمی نتیجه به دا وه چی دیو بل په مالونو به دقبضی کولو دپاره دزور اوزبردستی استعمال عام وو جنګ جګړی ، سرکښی اونور بدعملونه به دحد څخه زیات سوی وو ، په دی وجه الله ﷻ هربنده ته هر

Maktaba Tul Ishaat.com

قسم رزق او هرقسم نعمت ورکولو په ځای دانعمتونه په خپلو بندګانو داسی تقسیم کړی دی چی دچاسره مال دولت زیات دی ، څوك په صحت اوقوت کی دبل څخه زیات دی . څوك په حسن اوجمال سره مالامال دی ، دچا سره دعلم اوحکمت دولت دنورو څخه زیات دی ، غرض هر سړی په څه ناڅه شی کی بل ته محتاج دی ، اوپه دی باهمی احتیاج باندی دتمدن عمارت قائم دی ، د ، وَلَكِنْ يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَا يَشَاءُ مطلب دا دی چی الله ﷻ خپل نعمتونه په یوخاص انداز سره ددنیا په خلګو باندی نازل کړی دی اومخ ته یی: إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ (بیشکه هغه په خپلو بندګانو پوه او لیدونکی دی) وفرمایل اودی طرف ته یی هم اشاره وکړه چی الله ﷻ ښه پوه دی چی دکوم انسان دپاره کوم یو نعمت مناسب دی اوکوم نقصان ورکوونکی دی؟ په دی وجه هغه هر سړی ته مناسب نعمتونه ورکړی دی اوکه دچا څخه یی څه نعمت اخیستی دی نو هغه یی دهغه او دټول عالم دمصلحت په بنا باندی ورڅخه اخیستی دی او دا بالکل ضروری نه ده چی دهر فرد په باره کی دا مصلحت زمونږ په خیال کی راسی ، ځکه چی دلته هر بنده دخپلو معلوماتو په یوه محدوده دائره کی فکر کوی ، اوداللہ ﷻ په مخکی دټول کائنات مصلحتونه دی په دی وجه دهغه ټولوحکمتونوته رسیدل ممکن نه دی، ددی یومحسوس مثال دا دی چی یو دیانتدار سربراه دحکومت ډیر واړه داسی احکام جاری کوی چی هغه دځینو افرادو خلاف پریوزی اوهغوی ددی په وجه په مصیبتونوکی اخته کیږی ، کوم سړی چی ددا سی قسم مصیبتونو ښکارسی هغه صرف دخپلو محدودو مفادوپه دائره کی فکر کوی ، په دی وجه ممکنه ده چی ده ته دسربراه مملکت دا اقدام بد محسوسیږی ، لیکن دکوم سړی نظر چی دټول ملك او قوم په حالاتو وی اوڅوك چی داګنی چی دیو سړی په مفادو باندی ټول ملك نه سی قربانولی هغه دغه اقدام ته بدنه وایی اوس کوم ذات چی دټولو کائناتو نظام چلوی دهغه دحکمتونو احاطه اخرڅنګه کیدی سی ، که دانکته په ذهن کی وی نو هغه وهمونه او وسوسی خودبخوده لیری کیدی سی ، کومی چی په دنیاکی څوك په مصیبتونوکی ګرفتار وویني پیدا کیږی .

ددی آیت څخه دا هم معلومیږی چی ددنیا دټولو انسانانو په مال دولت کی برابر کیدل نه ممکن دی نه مطلوب ، اونه دنظام عالم تکوینی مصلحتونه ددی تقاضاکوی ، ددی مسئلی پوره تفصیل به انشاء الله دسورة زخرف دایت ، نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ، لاندی راسی .

دجنت اودنیا فرق: دلته دااشکال کیدی سی چی په جنت کی خو به په ټولو انسانانو دنعمتونو فراوانی وسی ، هلته به داشی دفساد څنګه وی ؟ ددی جواب دا دی چی په دنیا کی دفساد سبب دمال دولت دزیاتی سره دحرص اوهوس هغه جذبات دی کوم چی د دولت مندی سره سره عموماً زیاتیږی ، ددی برخلاف په جنت کی دنعمتونو عام باران خوبه وی ، لیکن دحرص اوهوس اوسرکښی داجذبات به ختم سی چنانچی هلته به دا فساد نه سی ښکاره کیدی ، حکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله په لندتفسیر کی په موجوده حالت ، الفاظ دی طرف ته داشاری کولو دپاره زیات کړی دی (بیان القرآن)

اوس دلته دا اعتراض قطعی فضول دی ، چی په دنیاکی هم دمال دولت دزیاتوالی سره دحرص اوهوس جذبات ولی ختم نه سول ؟ ځکه چی ددنیا دپیدا کولو مقصد یوداسی جهان پیدا کول دی کوم چی دخیر

Maktaba Tul Ishaat.com

اوشر دواړو قوتونو څخه مرکب وی ، ددی څخه بغیر دانسانانو دغه ازمائش ممکن نه دی کوم چی دعالم دپیدا کولو اصل منشاء ده ، په دی وجه که دلته دانسانانو څخه داجذبات ختم سی ، نو ددنیا دپیدا کولو اصل مقصدبه فوت سی ، ددی برخلاف جنت به خاص په خیر باندی مشتمل وی ، په دی وجه هلته به دا جذبات ختم سی .

وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا : اوهغه داسی دی کوم چی دخلګو دنا امیده کیدو څخه وروسته باران واوروی ، هسی خو دالله ﷻ عام عادت دی چی کله مخکی ته داوبو سخت ضرورت سی باران اوروی لیکن دلته ، دنا امیده کیدو څخه وروسته ، یی وفرمایل اودی طرف ته یی اشاره کړي ده چی کله کله الله ﷻ په باران اورولوکی دعام عادت خلاف دومره تاخیرکوی چی خلګ په نا امیده سی ، په دی سره دازمائش څخه علاوه په دی خبره خبردار کول مقصود وی ، چی باران اوقحط ټول دالله ﷻ په قبضه دقدرت کی دی ، هغه چی کله غواړی دخلګو دبدو عملونو وغیر په بنا باندی بندوی چی خلګ دده درحمت طرف ته متوجه سی ، عاجزی اوزاری ورته وکی ، ورنه که دباران هم څه مقرر وخت وای چی دوربښته هومره اخوا دیخوانه یی ورځخه هیڅکله نه کولی نو خلګو به داخالص دظاهری اسبابو تابع ګڼلی اودالله ﷻ دقدرت څخه به بی فکره سوی وای او دلته دَ، نا امید ، کیدو څخه مراد دخپلو تدبیرونو څخه نا امیده کیدل دی ، کنه نو دالله ﷻ درحمت څخه مایوسی خو کفر دی .

وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِنْ دَابَّةٍ : دَآبَّةٍ په اصل لغت کی هرهغه شی ته ویل کیږی کوم چی په خپل اختیارسره تلونکی اوحرکت کوونکی وی، وروسته ددی لفظ صرف دحیوانانو دپاره استعمال شروع سو، په دی آیت کی یی آسمان اومخکی دواړو طرف ته نسبت کړی دی اودایی ویلی دی ، چی په دی کی الله ﷻ ډیر چلیدونکی مخلوقات پیدا کړی دی ، په مخکه خوتلونکی مخلوقات معلوم دی ، په آسمان کی ددی څخه مراد ملائکی هم کیدی سی او دا هم ممکنه ده چی په آسمانونوکی څه داسی حیوان موجود وی ، کوم چی لاتراوسه دانسان په علم کی نه دی راغلی .

په هرحال مقصد دا دی چی که څه هم دنظام عالم په مصلحت سره الله ﷻ هرانسان ته په مال او دولت کی وسعت نه دی ورکړی ، بلکه په یوحکیمانه انداز سره یی درزق تقسیم فرمایلی دی ، لیکن دکائناتوکوم نعمتونه چی دعامی فائدی دی ، دهغه څخه یی هرسړی حصه اخیستونکی کړی دی، باران وریځ، مخکه آسمان او ددی مخلوقات ټول دانسانانو دفائدی دپاره پیدا سوی دی ، او دا ټول شیان دالله ﷻ په یو والی دلالت کوی ، ددی څخه وروسته که یو سړی ته تکلیف رسیږی نو هغه دهغه دخپلو عملونو په وجه رسیږی ، په دی وجه ده ته په دی دالله ﷻ څخه دشکوی کولو په ځای په خپل ګریوان کی کتل په کار دی د، وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ : مطلب هم دغه دی ، دحضرت حسن ﷺ څخه روایت دی چی کله دا آیت نازل سو نونبی کریم ﷺ وفرمایل چی قسم دی په هغه ذات دکوم په لاس کی چی زما روح دی ، کوم سړی ته چی په څه لرګی باندی خراش رسیږی یایی رګ غورځی یایی پښه ښوئیږی ، دا ټول ددده دګناهونو په سبب سره وی او دهری ګناه سزا الله ﷻ نه ورکوی بلکه کوم ګناهونه چی الله ﷻ معاف کوی هغه ددی څخه ډیر زیات دی ترهغو په کومو چی سزا ورکول کیږی ، حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

اشرف المشائخ فرمایی چی لکه څنګه جسمانی ازارونه اوتکلیفونه دګناهونوپه سبب راځی ، دغه شان باطنی مرضونه هم دځه ګناه نتیجه وی ، دبنده څخه یوه ګناه وسی نو هغه په نورو ګناهونوکی داخته کیدو سبب سی ، لکه چی حافظ ابن القیم په ،الدواء الشافی، کی لیکلی دی، چی دګناه یوه نغده سزا دا وی چی ددی سره په نورو ګناهونوکی مبتلاسی ، دغه شان دنیکی یوه نغده جزاء دا ده چی یوه نیکی بله نیکی ځان ته راکشوی .

بیضاوی وغیره فرمایی چی دا ایت دهغو خلګو دپاره مخصوص دی دکومو څخه چی ګناه کیدی سی ، انبیاء علیهم السلام کوم چی دګناهونوځخه معصوم دی یاناباالغ بچی اولیونی دکومو څخه چی څه ګناه نه کیږی هغوی ته چی کوم تکلیف اومصیبت رسیږی هغه په دی حکم کی داخل نه دی ددی نوراسباب اوحکمتونه وی، مثلاً ددرجو پورته کول، اوپه حقیقت کی دهغه دحکمتونو احاطه انسان نه سی کولی . واللہ اعلم

فائده : دحدیث دځینو روایتونو څخه ثابته ده چی په کومو ګناهونو څه سزا په دنیاکی ورکول سی دمومن دپاره په اخرت کی دهغه څخه معافی کیږی ، لکه چی حاکم په مستدرك کی اوبغوی دحضرت علی ﷺ څخه مرفوعاً نقل کړی دی (مظهری)

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ

نو څه چې رسیږي تاسی ته څه شی نودغه سامان دژوند ددنیادی ، اوڅه چی دالله سره دی غوره دی اوباقی پاته

اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٣٦ وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ

کیدونکی دی دایمانداروپه کوم چی په خپل رب باندی توکل ساتی ، او کوم خلق چی ځان ساتی دغټو

الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ۝٣٧ وَالَّذِيْنَ

ګناهونوڅخه او دبی حیایی څخه او کله چی غصه ورسی نو معاف کول کوی ، او کومو چی

اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۪ وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ ۪

حکم ومنی دخپل رب او قائم یی کی لمونځ او کار کوی په مشوری سره په خپل مابین کی

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝٣٨ وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ

او زمونږ دورکړی رزق څخه څه خرڅ کوی ، او هغه خلق کله چی ورسیږي دوی ته دچا څخه ظلم نودوی

يَنْتَصِرُوْنَ ۝٣٩ وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا

صرف خپل بدل اخلی ، او بدله دبدی بده ده په مثل دهغه ، نو چا چی عفوه وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۰﴾ وَلَمَنِ

او صلح یی وکړه نو دده ثواب دالله په ذمه دی ، بیشکه نه خوښوی هغه ګناهګاران ، او څوک چی

انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۱﴾ ؕ اِنَّمَا

بدله واخلی پس دخپل مظلوم کیدوڅخه نو په ده نسته څه الزام ، الزام

السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَيَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ

خو په هغوی دی کوم چی ظلم کوی په خلقو اوبغاوت کوی په مځکه کی

بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴۲﴾ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ

په ناحقه ، دهغو خلقو دپاره دی عذاب دردناك ، او البته چای چی صبر وکی او معاف یی کی

اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۴۳﴾

بیشکه داکار دی دهمت .

لنډتفسیر: (اوتاسی لوړ اوریدلی دی چی ددنیا دطالب هره دنیوی تمنّا نه پوره کیږی او داخرت څخه محروم وی اوداخرت طالب ترقی کوی ، دارنګه تاسی اوریدلی دی چی ددنیا دزیات سامان انجام ښه نه وی اکثرپه دی سره مضر عملونه پیدا کیږی) نو (ددی څخه ثابته سوه چی دنیا دمطلوب جوړولو قابله نه ده، بلکه اخرت دی اوباقی ددنیادشیانو څخه) تاسی ته چی څه درکول کیږی هغه محضی (دځوورځو) ددنیوی ژوند سامان دی (چی دعمر ختمیدو سره به ددی هم خاتمه وسی) اوڅه چی (اجر اوثواب په اخرت کی) دالله ﷻ سره دی هغه په ډیرو درجو ددی څخه (دکیفیت په اعتبار سره هم) ښه دی او (دکمیت په لحاظ سره هم) زیات پائیدار (یعنی همیشه پاته کیدونکی دی نو ددنیا طلب پریږدی اوداخرت طلب کوی ، مګر داخرت دحصول دپاره دکم څخه کم شرط خو ایمان راوړل اوکفر پریښوول دی اوداخرت دمکملو درجو دپاره ټول واجبات اوفرائض اختیارول اوټول ګناهونه پریښوول ضروری دی اودتقرب ددرجو حاصلولو دپاره نفلی عبادتونه اختیارول اوخلاف اولی مباحات پریښوول هم ښه دی چنانچی) هغه (ثواب دکوم تفصیل چی لوړ تیر سو) دهغو خلګو دپاره دی کوم چی ایمان راوړی اوپه خپل رب توکل کوی اوکوم چی دکبیره ګناهونو څخه او (په دی کی) دبی حیایی دخبرو څخه (بالخصوص زیات) ځان ساتی اوکله چی هغوی ته غصه راسی نو معافی کوی ، اوکومو خلګو چی دخپل رب حکم ومنی اوهغوی دلمانځه پابند دی او هغوی هر (هغه) کار (په کوم کی چی دالله ﷻ دطرف څخه څه معین حکم نه وی) په خپل مینځ کی په مشوره سره وی اومونږچی څه دوی ته ورکړی دی هغوی په هغه کی خرڅ کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکوم چی داسی (منصف) دی چی کله په هغوی (دچا دطرف څخه څه) ظلم وسی نوهغوی (که بدلی اخلی نو) برابر بدله اخلی (زیاتوب نه کوی ، او دا مطلب نه دی چی معافی نه کوی) او (دسر په سربدلی اخیستو دپاره مونږ دا اجازت ورکړی دی چی) دبدی بدله بدی ده دهغه په شان (په دی شرط چی دغه کاربذات خودګناه نه وی) بیا (دبدل اخیستو داجازت باوجود) کوم سړی چ ، معافی وکی او (په خپل مینځ کی دمعاملی) اصلاح وکی (چی دښمنی پرختمه سی اودوستی جوړه سی) نو ددی ثواب (دوعدی مطابق) دالله ﷻ په ذمه دی (اوڅوك چی په بدله اخیستوکی زیاتی وکی نو داواوری چی) واقعی الله ﷻ ظالمان نه خوښوی اوڅوك چی (زیاتوب نه کوی بلکه) په خپل ځان دظلم کیدوڅخه وروسته برابر په برابر بدله واخلی ، نو په داسی خلګو هیڅ الزام نسته ، الزام صرف په هغو خلګودی کوم چی په خلګو باندی ظلم کوی (برابره خبره ده که دابتداء څخه یادبدل اخیستوپه وخت کی) اوپه ناحقه په دنیا کی سرکښی (اوتکبر) کوی (ګرځی ، اوداتکبر دظلم سبب سی، اوناحقه یی ځکه وویل چی سرکښی اوتکبر همیشه په ناحقه وی، مخ ته ددی الزام بیان دی چی) ددا سی خلګو دپاره دردناك عذاب (مقرر) دی اوکوم سړی چی (دبل په ظلم) صبر وکی اومعافی وکی داالبته دلوی همت دکارونو څخه دی (یعنی داسی کول ښه او داولو العزمی تقاضا ده)

معلومات اومسئلي: په ذکر سوو ایتونوکی ددنیا دنعمتونو ناقص کیدل اوفانی کیدل اوددی په مقابله کی داخرت دنعمتونو کامل والی هم اودائموالی هم بیان سوی دی او داخرت دنعمتونو دحصول دپاره دټولوڅخه اهم اولوی شرط خوایمان دی چی ددی څخه بغیر دانعمتونه هلته هیڅاته نه سی ورکول کیدی لیکن دایمان سره که نیك عملونه هم په پوره اهتمام سره سوی وی نو داخرت دانعمتونه بالکل ورکول کیږی کنه نو دخپلو ګناهونو اوکوتاهیو دسزا تیرولو څخه وروسته به ورکول کیږی ، په دی وجه په ذکر سوو ایتونوکی دټولو څخه اولنی شرط خویی اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بیان وفرمایی ، ددی دخاصو عملونو ذکریی وکی، دکمو څخه بغیرچی دقاعدی مطابق داخرت نعمتونه دشروع څخه نه ورکول کیږی، بلکه دخپلو ګناهونو دسزا پیدا کولو څخه وروسته به ورکول کیږی او دقاعدی مطابق یی ځکه وویل چی که الله ﷻ وغواړی نو ټول ګناهونه به معاف کی ، داول څخه به داخرت نعمتونه دلوی څخه لوی فاسق ته ورکړی ، هغه دهیڅ قانون پابندنه دی اوس هغه عملونه اوصفتونه وګوری دکومو چی دلته په اهمیت سره ذکر سوی دی.

اولنی صفت :عَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ : یعنی په هرکار او په هرحال کی په خپل رب توکل کوی ، دهغه څخه ماسوا بل څوك حقیقی کار ساز نه ګڼی ، دوهم صفت : وَالَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ کَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ : یعنی کوم چی دکبیره ګناهونو څخه خصوصًا دبی حیایی دکارونو څخه پرهیز کوونکی دی ، کبیره ګناهونه څه دی؟ ددی تفصیل په سورة نساء وغیره کی مخکی بیان سوی دی، اواحقر په یوه لنډه شان رساله کی دکبیره اوصغیره ګناهونو پوره فهرست هم لیکلی دی کومه چی د ، ګناه بی لذت ، په نوم شائع سوي ده . په کبیره ګناهونوکی ټول ګناهونه داخل وه ، په دی کی دفواحشوپه جدا بیان بیانولوکی داحکمت دی ، چی دفواحشو ګناه دعاموکبیره ګناهونوڅخه زیاته سخته هم ده اوهغه یومتعدی مرض وی چی نور

Maktaba Tul Ishaat.com

خلګ ورځخه هم متاثره کیږی ، فواحش هغو کارونو ته ویل کیږی په کوموکی چی بی حیایی وی ، لکه زنا او ددی مقدمات، دارنګه هغه بدعملونه کوم چی همیشه اوپه ډاګه کول کیږی هغه ته هم فواحش وایی ، دهغه وبال هم ډیرسخت اوپوره انسانی معاشری لره خرابوونکی وی .

دریم صفت: وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ : یعنی هغه چی کله ورته غصه راسی نو معاف کوی ، دا دښه خوی اعلی نمونه ده ، ځکه چی دچامحبت یاچاته غصه ، دادواړه شیان چی کله غالب سی نوښه عاقل بنده ړوند کوړ کوی ، هغه دجائز اوناجائز ، حق اوباطل اودخپلو کړو په نتیجو دفکر کولو صلاحیت ختم کړی ، چاته چی غصه سوی وی نو دهغه کوشش دا وی چی دخپل وس مطابق په هغه خپله غصه سړه کړی الله ﷻ دمومنانو صالحانو دا صفت بیان کی چی هغه صرف په دی باندی بس نه کوی چی دغصی په وخت کی دحق او ناحق په حدودو قائم پاته سی ، بلکه خپل حق هم معاف کوی .

څلورم صفت : الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ :داستجابت ځخه مراد دا دی چی دالله ﷻ دطرفه کوم حکم ورکول سی هغه فوراًبی چون اوچرا اوبی تامله قبلولو اوعمل کولوته تیار سی ، هغه دده دطبیعت مطابق وی اوکه مخالف ، په هرحال کی ددی تعمیل کوی ، په دی کی داسلام دټولو فرائضو ادائیګی اودټولو محرماتو اومکروهاتو ځخه دځان ساتلو ځخه پابندی شامله ده ، مګر په فرائضوکی چونکی لمونځ دټولو ځخه اهم فرض دی او په دی کی داخاصه هم ده چی په دی په عمل کولو سره دنورو فرائضو پابندی او دممنوع شیانو ځخه دمحفوظ کیدو توفیق هم کیږی ، په دی وجه یی ددی ذکر په امتیاز سره وکی ، وَأَقَامُوا الصَّلوة، یعنی داخلګ لمونځ دده دټولو واجباتو اوادابو سره صحیح صحیح ادا کوی،

پنځم صفت : وَأَمْرُهُمْ شُورٰى بَيْنَهُمْ : یعنی دهغوی کارپه خپل مینځ کی په مشوره طی کیږی ، شورٰی په وزن دبشرٰی مصدردی، تقدیر، دعبارت، ذوشورٰی، دی، مراد دا دی چی دکارونو په مهمونو کی په کومو کی چی شریعت څه خاص حکم نه دی متعین کړی دهغه په فیصله کولوکی هغوی په خپل مینځ کی دمشوری ځخه کار اخلی ، دمهمو کارونو قید په خپله دلفظ دامر ځخه مستفاد دی ، ځکه چی په عرف کی امر داسی کارونو ته ویل کیږی دکومو چی اهمیت وی، لکه دسورة الِ عمران دایت ، وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ : لاندی یی تفصیل تیرسوی دی ، په دی کی دا هم واضحه سوې ده ، چی په مهماتوکی مشوره اخیستل واجب دی ، په اسلام کی یی دامیر انتخاب هم په مشوره موقوف کړی دی اودجاهلیت دزمانی شخصی بادشاهتونه یی ختم کړی دی کومو ته چی به ریاست په طور دوراثت ورکول کیدی ، اسلام دټولو ځخه اول داختم کی اودحقیقی جمهوریت بنیادیی کښیښووی، مګر دمغربی جمهوریت په شان یی عوامو ته هرقسم اختیارات نه دی پریښی اوپه اهل شورٰی باندی یی څه پابندی عائد کړی ، دغه شان داسلام نظام حکومت دشخصی بادشاهت اومغربی جمهوریت دواړو ځخه جدا یوډیر معتدل دستور دی، ددی تفصیل په څلورمه پاره کی دسورة الِ عمران دایت نمبر ۱۵۹ په تفسیرکی وګورە .

امام جصاص په احکام کی فرمایی چی ددی آیت ځخه دمشوری اهمیت واضح سو اودا چی مونږ په دی مامور یو چی په داسی مشوره طلب اهم کارونو کی دتلواری اوخپلی رایی ځخه کارنه اخلو بلکه دهو ښیارانو اوپوهانو ځخه مشوره اخلو ، هله بیا قدم لورو .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دمشوری اهمیت او دهغه طریقه)

خطیب بغدادی دحضرت علی ﷺ څخه روایت کړی دی چی دوی فرمایی چی مانبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی ستاځخه وروسته که مونږته څه داسی معامله راپیښه سی په کومه کی چی قرآن څه فیصله نه وی کړی اوستاسی څخه هم ددی څه حکم مونږته نه وی رسیدلی نومونږبه څنګه عمل کوو نونبی کریم ﷺ وفرمایل اِجْمَعُوْا لَهُ الْعَابِدِيْنَ مِنْ اُمَّتِیْ وَاجْعَلُوْهُ بَيْنَكُمْ شُوْرٰى وَلَا تَقْضُوْا بِرَاْیِ وَاحِدٍ (روح المعانی بحواله خطیب)

ددی دپاره زما دامت عبادت ګذار جمع کوی اوپه خپل مینځ کی مشوره طی کوی ، دچاپه یوازی رایی باندی فیصله مه کوی .

ددی روایت په ځینو الفاظ کی دفقهاوو اوعابدینو لفظ راغلی دی چی ددی څخه معلومه سوه چی مشوره دهغوخلګو څخه اخیستل په کار دی کوم چی فقهاء یعنی ددین پوه لرونکی عبادت ګذار وی .

صاحب دروح المعانی فرمایی چی کومه مشوره په دی طریقه نه وی بلکه دبی دینه اوبی علمه خلګو په مابین کی وی نو دهغه فساد به په اصلاح باندی غالب وی .

بیهقی په شعب الایمان کی دحضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دځه کار اراده وکړه اوپه هغه کی یی په مشوره باندی عمل وکی نوالله ﷻ به هغه ته دښو کارونو طرف ته هدایت وفرمایی یعنی دهغه مخ به هغه طرف ته وګرځوی کوم چی دهغه دپاره انجام کار خیر اوښه وی ، دغه شان یو حدیث بخاری په ادب المفرد کی اوعبد بن حمید رحمه الله علیه په مسند کی دحضرت حسن ﷺ څخه هم نقل کړی دی چی په هغه کی دوی ذکرسوی آیت ووایه اوویی فرمایل .

مَا خَابَ وَرَ قَوْمٌ قَطُّ اِلَّا هُدُوْا لِاَرْشَدِ اَمْرِهِمْ : هرکله چی یوقوم په مشوره باندی کارکوی نوخامخا دوی ته دصحیح لاری طرف ته هدایت کول کیږی .

حدیث : په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی هرکله ستاسی امیران اوحاکمان هغه خلګ وی کوم چی په تاسی تولوکی ښه دی اوستاسی مالدار خلګ سخیان وی (چی دالله ﷻ په لاره کی اوپه غریبانو خرڅ کوی) اوستاسی کارونه ستاسی په مینځ کی په مشوره سره کیږی ترهغه پوری ستاسی په مځکه دلوړ اوسیدل یعنی ژوندی پاته کیدل ښه دی اوکله چی ستاسی امیران اوحاکمان ستاسی دقوم بدان خلق سی اوستاسی مالداران بخیلان سی اوستاسی کارونه ښځوته وسپارل سی چی هغوی څنګه غواړی کوی ، دغه وخت ستاسی دپاره دمځکی دشا په ځای دمځکی نس ښه ده یعنی دژوند څخه به درته مرګ ښه وی (روح المعانی)

شپږم صفت : مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ : یعنی هغه خلګ دالله ﷻ د ورکړی رزق څخه په نیکو کارونوکی کی خرڅ کوی چی په دی کی فرض زکوٰة او نفلی صدقات ټول شامل دی ، دقرآن دعام اسلوب مطابق دزکوٰة اوصدقو ذکر په لمانځه پسی متصل راتلل په کار وو ، دلته دلمانځه دذکر څخه وروسته دمشوری مسئله اول بیان سوه بیا دزکوٰة بیان رالی، په دی کی شاید دی طرف ته اشاره وی چی دلمانځه داقامت دپاره په جماتونوکی پنځه وخته اجتماع کیږی ، ددی اجتماع څخه په مشوره طلب کارونوکی دمشوری اخیستلو کار هم اخیستی سی (روح المعانی)

اووم صفت : وَالَّذِيْنَ اِذَا اَصَابَهُمُ الْبَغْیُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ : یعنی کله چی په دوی څوک ظلم کوی نو دوی سړه

Maktaba Tul Ishaat.com

سربدله اخلی ، په دی کی دمساوات دحد څخه تجاوزنه کوی ، دا صفت په حقیقت کی د دریم صفت تشریح اوتفصیل دی ، ځکه چی د دریم صفت مضمون دا وو چی داخلګ خپل مخالف معاف کوی ، مګر ځینی حالات داسی هم پیښیږی چی په معاف کولو سره فساد زیاتیږی نوهلته بدل اخیستل ښه وی ، ددی قانون یی په دی آیت کی وښووی چی که چیری په یوځای کی بدل اخیستل مصلحت وګڼل سی نو ددی خیال ساتل ضروری دی چی په دی انتقام اخیستوکی دبرابری څخه زیاتی ونه کړی، کنه نودی به په خپله ظالم سی ، په دی وجه ددی څخه وروسته یی وفرمایل، وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا : یعنی دبدی جزا ددی برابر بدی کول دی، یعنی څومره نقصان مالی یاجسمانی چی چا تاته رسولی دی، صحیح دهغه هومره ته ور ورسوه ، څنګه بدی چی هغه ستاسره کړي ده هغسی ته وکړی ، مګر په دی کی دا شرط دی چی هغه بدی فی نفسه ګناه نه وی ، مثلاً چاپه ده شراب په زور چښلی وی ، نو ددی په جواب کی به ده ته جائز نه وی چی په هغه په زور شراب وچښی ، په دی آیت کی که څه هم دبرابر په برابر دبدلی اخیستو اجازت ورکول سوی دی ، مګر مخ ته یی دا هم وفرمایل چی ، فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ : یعنی څوک چی معافی وکی اوداصلاح لار اختیار کړی، دهغه اجر دالله ﷻ په ذمه دی ، په دی کی یی داهدایت وکی چی معاف کول افضل دی ، ددی څخه وروسته په دوو ایتونوکی ددی زیات تفصیل راغلی دی.

(په عفوه بدل اخیستو کي درمیانه فیصله)

حضرت ابراهیم نخعی فرمایی چی سلفو صالحانو دا نه خو ښوله چی مومنان خپل ځانونه دفاسقانو فاجرانو په مخکی ذلیل کړی او دهغوی جرأئت زیات سی ، په دی وجه کوم ځای چی داخطره وی چی په معاف کولوسره دفاسقانو فاجرانو جرأت زیاتیږی اوهغوی به نورنیکان خلګ ازاروی نوهلته به بدل اخیستل ښه وی ، دمعافی ښه والی په دی صورت کی دی کله چی ظلم کوونکی په خپل کار ستومانه کیږی اوپه نورظلم کولو دهغه دجرأت زیاتیدو خطره نه وی، قاضی ابن عربی په احکام القرآن کی اوقرطبی په خپل تفسیرکی دا اختیار کړي ده چی دعفوی اوانتقام دواړو حکم دمختلفو حالاتوپه اعتبار سره دی ، څوک چی دظلم کولو څخه وروسته شرمنده سی هغه ته عفوه افضله ده اوځوک چی په خپل ضد اوظلم اصرار کوی دهغه څخه انتقام اخیستل ښه دی.

اوحضرت اشرف المشائخ په بیان القرآن کی اختیارکړي ده،چی الله ﷻ په دی دواړو ایتونوکی دمومنانو مخلصینودوه صفتونه بیان کړی دی په هُمْ يَغْفِرُوْنَ کی خویی داوښوله چی هغوی دغصی څخه نه مغلوب کیږی،بلکه رحم اوکرم دهغوی په مزاج غالب وی اومعافی کوی اوپه هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ کی دا وښوله چی دا هم ددغو صالحینو خصوصیت دی چی که چیری دظلم دبدل اخیستو تقاضا دهغوی په زړه کی پیدا سی اوبدله اخلی نو په دی کی دحق څخه تجاوزنه کوی که څه هم معاف کول دهغوی دپاره افضل دی.

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ۭ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

او څوک چی بی لاری کړی الله نو هیڅوک نسته ده لره کار ساز دده څخه ماسوا اوته به وینی ګناهګاران کوم وخت چی ووینی عذاب.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾ وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا

چې وايي به چې په څه شان به دواپس کيدو څه لار وي؟ او ته به وينې دوي چې مخامخ کړل سي اورته

خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ

کښته به وي ذلت څخه کوري به په پټ کتلوسره او وايي به هغه خلق

اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ

چې ايماندار وه بيشکه په تاوان کې دي هغه خلق چې په تاوان کې يې واچول خانونه اوخپل اهل په ورځ

الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿۴۵﴾ وَمَا كَانَ لَهُمْ

دقيامت ، خبردار ظالمان پراته دي په عذاب هميشه کې ، او نسته هغوی لره

مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

څوک مدد کار چې دهغوی مدد وکړي ما سوا دالله څخه ، او څوک چې ګمراه کړي الله ﷻ

فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۶﴾ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ

نسته هغه لره څه لار ، ومنئ حکم درب خپل مخکې دهغه څخه چې راسي

يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ

يوه ورځ چې نه وي واپسي هغه ته دالله ﷻ دطرف څخه ، نه به وي تاسي لره ځای دپناه په دغه ورځ اونه به وي

مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿۴۷﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ اِنْ

تاسي لره انکار (دخپلې ګناه څخه) بيا که هغوی مخ واړوي ، نو مونږ نه يې ليږلې ته په هغوی باندې نګهبان ،

عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ

ستا په ذمه خو صرف تبليغ کول دي، اومونږ چې هرڅه وځکوو بنده ته دخپل طرف څخه رحمت نو خوشحاليږي په دې

وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ ﴿۴۸﴾

او که ورسيږي هغوی ته څه بدی په بدله دکړو عملونو دهغوی کې نو انسان ډير ناشکره دی

Maktaba Tul Ishaat.com

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ

الله لره حکومت دی په آسمانونو کی اوپه مخکه کی ، پیداکوی څه چی وغواړی ، بخښی چاته چی وغواړی

اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ﴿۴۹﴾ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ

لونی اوبخښی چاته چی وغواړی زامن ، یا ورکوی جوړی زامن او لونی

وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾

او کوی چالره چی وغواړی شنډی ، هغه په هرڅه پوه او قادر دی.

لنډتفسیر: (دا حال خو داهل هدایت وو چی هغه په دنیا کی دالله ﷻ دطرف څخه په هدایت اوپه اخرت کی په ثواب مشرف سو) او (مخ ته دګمراهانو خال واوری هغه دا چی) کوم چی الله ﷻ ګمراه کړی نو ددی څخه وروسته دهغه سړی (په دنیاکی هم) څوك کار ساز نسته (چی دی په لاره کی) او (په قیامت کی به یی هم بدحال وی چنانچی په دغه ورځ) ته به (دا) ظالمان وینی څه وخت چی هغوی ته عذاب وښوول سی (په ډیر افسوس سره به) وایی چی ایا (دنیاته) دبیرته تللو څه صورت کیدی سی؟ (چی بیاښه عمل وکړ راسو) او (دارنګه) ته به هغوی په داسی حالت کی ووینی چی هغوی به دوږخ ته مخامخ راوستل سی دډیر ذلت څخه به تیټ وی (او دوی به هغه ته) په سست (سست) نظر سره ګوری (لکه بیریدلی بنده چی ګوری اوپه یو بل آیت کی چی یی کوم درندیدو خبر ورکړی دی هغه دحشر وخت دی او دا دهغه څخه وروسته واقعه ده چنانچی هلته دلفظ د: نَحْشُرُهُ وضاحت دی) او (دغه وخت) ایماندار به (په خپل محفوظ کیدو باندی دشکر دپاره او په دوی دملامت کولو دپاره) ووایی چی پوره تاوان کوونکی هغه خلګ دی کوم چی دخپلو ځانونو سره او دخپلو متعلقینو سره (ټن) دقیامت په ورځ په خساره کی پریوتل (ددی تفسیر دسورۂ زمر په دوهمه رکوع کی تیر سوی دی) یادساتی چی ظالمان (یعنی مشرکان اوکافران) خلګ به په دائمی عذاب کی (ګرفتار) وی او (هلته به) د دوی څوك مددګارنه وی کوم چی دخدای څخه جلا (سی) د دوی مدد وکی اوڅوك چی خدای ګمراه کړی دهغه د (نجات د) پاره هیڅ لارنسته (یعنی نه معذورت نه دچامدد اونه نورڅه ، مخ ته کافرانو ته خطاب دی چی ای خلګو! هرکله چی تاسی د دوږخ داهولناك حالات واوریدل نو) تاسی دخپل رب حکم (دایمان وغیره) ومنی مخکی دهغه څخه چی داسی ورځ راسی دکومی دپاره چی دخدای دطرف څخه واپس کیدل نه وی (یعنی لکه څنګه چی به په دنیاکی عذاب واپس کیدی سو ، په اخرت کی به داسی څه صورت نه وی او) نه به په هغه ورځ تاسی ته څه (بله) پناه درکول سی او نه به ستاسی په باره کی څوك (دخدای سره) روك ټوك کوونکی وی (چی دومره پوښتنه وکی چی د دوی داحال ولی جوړ سو اوای پیغمبر ﷺ دی خلګو ته دا واوروه) بیاکه داخلګ (دا واوروی هم او) منع کوی (اوایمان رانه وړی) نو (ته فکر اوغم مه کوه څکه چی) مونږ ته په دوی باندی نګران کړی نه یی لیږلی (چی ستا څخه به ګوندی دپوښتنی احتمال وی چی ستاپه نګرانی کی د دوی څخه داکارونه

Maktaba Tul Ishaat.com

ولی وسول ، بلکه، ستاپه ذمه خوصرف (دحکم) رسول دی (کوم چی ته کوی ، بیاته ددی څخه زیات فکر ولی کوی) او (د دوی دحق څخه دمنع کولو سبب دالله ﷻ سره دتعلق کمزوری ده چی دهغه نښانه دا ده چی) مونږ هر کله (داقسم) بنده ته څه دخپلی مهربانی خوند وڅکوو نو هغه په دی (مست سی) خو شحاله سی (او منعم ته نه ګوری چی شکر یی وکی) اوکه چیری په (داسی) خلګو باندی د دوی د (بدو) عملونو په بدله کی کوم چی دوی مخکی په خپلو لاسونو سره کړی وی څه مصیبت راپریوزی نو (د اسی) بنده ناشکری کول شروع کړی (اوداسی نه کوی چی دګناهونه توبه او استغفار وکی دعبادت اوطاعت په ذریعه دالله ﷻ طرف ته رجوع سی اودا دواړه حالتونه ددی خبری علامت دی چی دده تعلق دخپلو نفسانی لذتونو سره زیات اودالله ﷻ سره معدوم یاکمزوری دی او په دی سره هغه په کفرکی اخته سوی دی ، اوچونکی دا حالت دهغو خلګو طبیعت ثانیه جوړ سوی دی ، په دی وجه ته د دوی څخه دایمان توقع ولی ساتی چی دا موجب دغم سی ، مخ ته بیا دتوحید بیان دی چی) دالله ﷻ دی (ټول) حکومت داسمانونو اودمځکی هغه چی څه غواړی پیدا کوی (چنانچی) چالره چی غواړی لونی ورکوی اوچالره چی غواړی زامن ورکوی یادوی لره (دچا دپاره چی غواړی) په جمع ورکوی (چی) زامن هم (ورکوی) اولونی هم اوڅوک چی غواړی بی اولاده یی ساتی، بیشکه هغه لوی پوه لوی قدرت والا دی.

معلومات اومسئلي: دذکرسووایتونوڅخه په اولنیوایتونوکی دهغوخلګوانجام ذکر دی کوم چی دمومنانو صالحانو په مقابله کی داخرت دفکر په ځای ددنیا لذت او راحت غواړی ، ددی څخه وروسته په اِسْتَجِيبُوا لِرَبِّكُمْ، کی دوی ته نصیحت سوی دی چی دقیامت دعذاب راتلو څخه اول توبه وکی اوایمان راوړی اوبیا نبی کریم ﷺ ته تسلی او اطمینان ورکول سوی دی چی ستا دبار بار تبلیغ اوکوشش باوجود که داخلګ په هوش کی رانه سی نوته غم مه کوه دَ، فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا دامطلب دی.

په اخری ایتونوکی دَ: لِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ : څخه تر اخره پوری چی دکائناتو په پیدائش کی چی کوم دحق تعالی دکامل قدرت اوبالغ حکمت مشاهده کیږی چی په دی کی څوک دده سره شریك نسته ، ددی په بیانولو کی یی دتوحید دعوت ورکړی دی ، په دی سلسله کی دآسمانونو اومځکی دپیداکولو دذکر څخه وروسته یی دقدرت یوه قاعده بیان کړي ده ، چی يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ، یعنی دهرلوی اوکوچنی شی په جوړولو باندی ده ته پوره قدرت حاصل دی ، هغه چی کله غواړی اوڅه چی غواړی پیدا کوی ، په دی سلسله کی یی دانسان دپیدا کیدو ذکر وفرمایی ، يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ، أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ : یعنی دانسان په پیدا کولوکی دچا دارادی اواختیار بلکه دعلم اوخبر هم هیڅ دخل نسته او دچا دخل خو څه کوی دانسان مور اوپلار کوم چی دهغه دپیدائش ظاهری سبب جوړیږی ، په خپله د دوی دارادی اواختیار هم دبچی په پیدائش کی څه دخل نسته ، په پیدائش کی دخل خو لیری خبره ده دبچی دپیدائش څخه مخکی مور ته هم هیڅ خبر نه وی چی ددی په نس کی څه اوڅنګه اوپه څه شان جوړیږی ، دا صرف دالله ﷻ کار دی چی چاته لونی ورکوی اوچاته زامن ورکوی ، چاته زامن اولونی دواړه ورکوی اوڅوک شندی کوی چی هیڅ اولاد یی نه کیږی.

په دی آیتونوکی دبچیانو په اقسامو بیانولوکی الله ﷻ اول دجینکیو ذکر فرمایلی دی او دهلکانو ذکر

Maktaba Tul Ishaat.com

یی وروسته کړی دی ، ددی آیت داشاری څخه حضرت واثله بن اسقع فرمایی چی دکومی بښځی دنس څخه اول لور پیدا سی ، هغه مبارکه وی (قرطبی)

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا

اودهیڅ بنده په طاقت کی نه ده چی خبری ورسره وکړی الله مگریه اشاره سره یادپردی څخه شاته یاولیږي خوك پیغام

فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿۵۱﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ

راوړونکی بیاورسوی دهغه په حکم سره څه چی غواړی بیشکه هغه دتولو څخه لوړ حکمتونو والادی، اودغه شان لیږلی ده مونږ

اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ؕ مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ

تاته یوه ملائکه په حکم خپل سره ، ته نه وی پوه چی څه دی کتاب اونه ایمان

وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ؕ وَاِنَّكَ

اولیکن مونږ کړی ده دا رنا لار په ښیو چا ته چی وغواړو دبندګانو څخه ، اوبیشکه چی ته

لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۲﴾ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي

ښیی سیده لار ، لار دالله هم دهغه دی څه چی دی

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ ﴿۵۳﴾

په اسمانونو کی او چی په مځکه کی دی ، خبردار الله ﷻ ته رسیږي ټول کارونه

لنډتفسیر: او دیو بشر په موجوده حالت کی) دا شان نه دی چی الله ﷻ دهغه سره خبری وکی مگر (په دری طریقو سره) یاخو په الهام سره (چی په زړه کی ورته څه ښه خبره واچوی) یا دپردی څخه وروسته (ورته څه خبره واوری لکه حضرت موسیٰ ﷺ ته یی چی اورولی وه) یاپیوه ملائکه ولیږی چی هغه دخدای په حکم سره چی څه خدای ته منظوره وی ، پیغام ورسوی (ددی وجه دا ده چی) هغه لوی عالیشان دی (په دی سره چی هرکله هغه په خپله طاقتورنه وی خوك ورسره هم کلام کیدی نه سی ، مگر ددی سره) لوی حکمت والا (هم) دی (په دی وجه دبندګانو په مصلحت سره هغه دخبرو کولو دری ذکر سوی طریقی مقرر کړی دی) او (لکه څنګه چی دبشر سره زمونږ دخبرو کولو طریقه بیان سوه) دغه شان (یعنی ددی قاعدی مطابق) مونږ تا ته (هم) وحی یعنی خپل حکم لیږلی دی (اوته مو نبی جوړ کړی یی او دا وحی دا سی هدایت نامه ده چی ستا په بی مثله علومو کی ددی په وجه ترقی وسوه ، چنانچی ددی څخه مخکی) تاته نه دا خبر وو چی (دالله) کتاب څه شی دی اونه دا خبر وو چی دایمان (مکمل ترینه درجه یی کومه چی اوس درته حاصله ده)

Maktaba Tul Ishaat.com

څه شی ده (که څه هم نفس ایمان نبی ته دنبوت څخه مخکی هم حاصل وی) اولیکن مونږ (تاته نبوت او قرآن درکی او) دا قرآن مو (ستا دپاره اولاً او دنورو دپاره ثانیاً) یو نور جوړ کی (چی په دی سره تاته دا عظیم علوم او ډلوی مرتبی احوال حاصل سول او) دکوم په ذریعه چی مونږ دخپلو بندګانو څخه چاته چی غواړو هدایت کوو (نو ددی نورپه عظیم کیدوکی هیڅ شبهه نسته اوس چی څوک ړوندوی، هغه ددی نور دنفع څخه محروم بلکه ددی څخه منکر دی ، لکه دا اعتراض کوونکی) اوپه دی کی هیڅ شك نسته چی ته (ددی قرآن اووحی په ذریعه سره عامو خلګوته) دیوی سیده لاری هدایت کوی یعنی دهغه خدای دلاری چی دهغه دی څه چی په آسمانونوکی دی اوڅه چی په مځکه کی دی (مخ ته ددی احکامو منونکو اونه منونکوته دجزا اوسزا ذکر دی چی) یاد ساتی ټول کارونه به دهغه طرف ته واپس کیږی (نرهغه به په ټولو جزا اوسزا ورکی)

معلومات اومسئلي: په ذکر سوو ایتونو کی اولنی آیت دیهودو دیوی عنادی مطالبی په جواب کی نازل سوی دی ، لکه چی بغوی اوقرطبی وغیره لیکلی دی چی یهودو نبی کریم ﷺ ته وویل چی مونږ په تا څنګه ایمان راوړو ، کله چی ته نه خدای ﷻ وینی اونه ورسره مخامخ خبری کولی سی لکه چی موسیٰ علیه السلام به ورسره کولی اوالله ﷻ به یی لیدی .

نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دا خبره غلطه ده چی حضرت موسیٰ علیه السلام الله ﷻ لیدلی دی ، په دی دا ایت نازل سو ، دکوم مطلب چی دا دی چی دیو انسان دپاره دالله ﷻ سره مخامخ خبری کول په دی دنیاکی ممکنه نه ده ، په خپله حضرت موسیٰ علیه السلام هم مخامخ خبری نه دی اوریدلی ، بلکه دپردی څخه اخواته یی صرف اواز اوریدلی دی .

په دی آیت کی دا هم وښوول سوه چی دیو بشر سره دالله ﷻ دخبرو کولو صرف دری صورتونه کیدی سی ، یو وَحْیًا یعنی یو مضمون په زړه کی غورځول ، دا په ویښه هم کیدی سی او په خوب کی په صورت دخوب لیدو هم ، لکه چی په ډیرو احادیثوکی نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی ، اُلْقِیَ فِیْ رُوْعِی : یعنی دا خبره زماپه زړه کی وغورځول سوه او دانبیاء خوب هم وحی وی ، په دی کی شیطانی تصرف نه سی کیدی ، په دی صورت کی عموماً الفاظ دالله ﷻ دطرف څخه نه وی ، صرف یو مضمون په زړه کی راسی دکوم څخه چی هغه په خپلو الفاظوکی تعبیر کوی .

دوهم صورت مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ دی : یعنی په ویښه څه خبره دپردی څخه اخوا واوری ، لکه حضرت موسیٰ علیه السلام ته چی په کوه طورکی پیښه سوه چی دالله ﷻ کلام یی واوریدی ، مګر زیارت یی ونه سو ، په دی وجه دزیارت درخواست یی وکی، رَبِّ اَرِنِیْٓ اَنْظُرْ اِلَیْكَ چی جواب یی په نفی کی ورکول سو، لَنْ تَرٰانِیْ .

اودا حجاب کوم چی په دنیاکی انسان ته دحق تعالیٰ ددیدار څخه مانع دی ، هغه څه داسی شی نه دی کوم چی الله ﷻ پټ کړی څکه چی دهغه محیط نور هیڅ شی نه سی پټولی ، بلکه دانسان دلیدو دقوت کمزوری ده ، په دی وجه دزیارت حق په مینځ کی حجاب وی ، په دی وجه په جنت کی کله چی دده دلیدو قوت قوی سی ، نوهلته به هرجنتی دالله ﷻ په زیارت سره مشرف سی لکه چی دصحیح احادیثو دوضاحت مطابق داهل سنت والجماعت مذهب دی ، دا قانون کوم چی په ذکر سوی آیت کی ارشاد دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددنیاپه حقله دی چی په دنیاکی هیڅ انسان دالله ﷻ سره مخامخ یعنی بی حجابه خبری نه سی کولی او دانسان په خبروکی په دی وجه دی چی خبری دانسان سره متعلق وی ، کنه نو ظاهره دا ده چی دملائکو سره هم دالله ﷻ کلام مخامخ نه وی ، لکه چی دترمذی په روایت کی دحضرت جبرائیل ﷺ څخه نقل دی چی زه ډیر نژدی سوی وم اوبیاهم اویا زره حجابونه پاته وه اودمعراج په شپه کی دنبی کریم ﷺ دالله ﷻ سره مخامخ خبری که ثابتی سی لکه چی دځینو علماوو قول دی ، نو هغه ددی منافی نه دی څکه چی دغه کلام په دی عالم کی نه وو په عالم سمٰوٰت کی وو ، والله تعالی اعلم

دریم صورت اَوۡیُرۡسِلَ رَسُولاً دی ، یعنی یو ملائکی جبرائیل وغیره ته خپل کلام ورکی راوړی لیږی ، هغه بی رسول ته واوروی او دا طریقه عامه ده ، قرآن مجید ټول دغه شان په واسطه دملائکی نازل سوی دی په ذکر سوی تفصیل کی لفظ دوحی صرف په زړه کی داچولو په معنٰی کی اخیستل سوی دی ، مگر اکثره دالفظ دټولو اقسامو دکلام ربانی دپاره هم استعمالیږی، لکه چی دصحیح بخاری په یواوږد حدیث کی دوحی په اقسامو کی په ذریعه دملائکی کلام هم شامل کړی دی اوپه دی کی دا تفصیل هم دی چی دملائکی په ذریعه کومه وحی راځی دهغه هم دوه صورتونه وی ، کله فرښته په خپل اصلی شکل کی وی ، کله دانسان په شکل کی مخ ته راځی ، والله تعالی اعلم

مَا كُنۡتَ تَدۡرِي مَا الۡكِتَابُ وَلَا الۡإِيۡمَانُ وَلَكِنۡ الخ : دا ایت داول آیت دمضمون تکمله ده ، مطلب یی دا دی چی په دنیاکی مخامخ خبری خونه دچاسره سوی دی ، نه کیدی سی، البته الله ﷻ په خپلو مخصوصو بندګانو باندی خپله وحی لیږی دکومی چی دری طریقی په اول آیت کی بیان سوی ددی سنت الهی مطابق په تاهم وحی لیږل کیږی ، دیهودو دا مطالبه چی ته دالله ﷻ سره مخامخ خبری ولی نه کوی ، محض جهالت اوبغض ده په دی وجه یی دا وفرمایل چی یو انسان ته تردی چی چا رسول ته هم څه علم ورکول کیږی هغه ټول دالله ﷻ ورکړه وی اوترڅو پوری چی الله ﷻ په ذریعه دوحی دوی ته ونه ښیی نونه دوی ته دڅه کتاب پوه حاصلیدی سی، نه دایمان تفصیلات، دکتاب پوه خو دوحی څخه مخکی نه کیدل ظاهره ده ، دایمان څخه دواقفیت نه کیدو معنٰی دا ده چی دایمان تفصیلات او دایمان شرائع یا دایمان اعلی مقام کوم چی وروسته دوحی حاصلیږی دوحی څخه مخکی ددی واقفیت نه وی ، که نه نو په اجماع دامّت داثابته ده چی الله تعالی کوم انسان خپل رسول اونبی جوړوی هغه دابتداء څخه په ایمان باندی پیدا کوی اودهغوی فطرت په ایمان باندی مبنی وی ، دنبوت ورکولو اووحی نازلیدو څخه مخکی هم هغوی پاخه مومنان وی، دایمان اصول دهغوی په فطرت اوخلقت کی دا خل وی ، وجه دا ده چی دټولو انبیاوو څخه چی کله د دوی قومونو مخالفت وکی نو په دوی یی قسم قسم الزامونه ولګول ، مگر په یو پیغمبر باندی هیڅ امت هم دا الزام نه دی لګولی چی ته خو هم دنبوت ددعوی څخه مخکی زمونږ په شان دبتانو عبادت کوونکی وی ، قرطبی په خپل تفسیر اوقاضی عیاض په شفاء کی ددی مضمون پوره تفصیل لیکلی دی.

سورة شورٰی ختم سو

وَالۡحَمۡدُلِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡن

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سُورة الزخرف﴾

سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة زخرف په مکه کی نازل سو او په دی کی نهه اتیا(۸۹) ایتونه او اووه (۷) رکوع ګانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ

، قسم دی په دی کتاب واضحه ، مونږ کړی دی دا قرآن په عربی ژبه چی تاسی

تَعْقِلُوْنَ ﴿۳﴾ وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿۴﴾ اَفَنَضْرِبُ

پوه سی ، او بیشکه دا قرآن په لوح محفوظ کی زمونږ سره دی او لوړ مستحکم ، آیا واپس کوم

عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ﴿۵﴾ وَكَمْ اَرْسَلْنَا

ستاسی څخه دا قرآن اړولی په دی سبب چی تاسی یاست داسی خلق چی حد باندی نه پاته کیږی ، او ډیر لیږلی دی

مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ ﴿۶﴾ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ

مونږ نبیان په مخکنیو خلقو کی ، او نه راځی خلقو ته څوک پیغام راوړونکی چی دوی ورپوری

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۷﴾ فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸﴾

مسخری نه کوی ، بیا برباد کړل مونږ د دوی څخه سخت زور والا او راغلی دی مثال په مخکنیو خلقو کی.

لنډتفسیر: حٰمٓ (ددی معنی الله ﷻ ته معلومه ده) قسم (دی) په دی کتاب واضح ، چی مونږ دا په عربی ژبه جوړ کړی دی ددی دپاره چی (ای عربو!) تاسی (په آسانی سره) پوه سی اوهغه زمونږ سره په لوح محفوظ کی دلوی مرتبی اوحکمت څخه ډک کتاب دی (نوهرکله چی هغه په پوهیدوکی اسان اوخاص زمونږ دحفاظت اواعجاز په وجه دلوی مرتبی والا اوحکیمانه مضامینو باندی مشتمل دی ، نو داسی کتاب ضرور منل په کار دی لیکن که تاسی نه منی نو بیا هم مونږ دخپل حکمت په تقاضاسره ددی لیږل اوتاسی ته یی مخاطب جوړول نه پریږدو ، چنانچی ارشاددی چی) آیا مونږ ستاسی څخه دا نصیحت (نامه محض) په دی خبره واپس کړ چی تاسی دحد (داطاعت) څخه تیریدونکی یاست (او دا نه منی یعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

برابره خبره ده که تاسی منی اوکه نه منی ، مگرنصیحت به برابر کول کیږی اودا فیض به خامخا کاملیږی چی په دی سره مومنان نفع واخلی اوپه تاسی حجت قائم سی) اومونږ په مخکنیو خلګوکی (سره دهغوی د درواغجن کولو) دیر نبیان لیږلی دی (داسی نه ده سوی چی دهغوی د درواغجن کولو په وجه سره سلسله دنبوت بنده سوې ده) او (ای پیغمبرﷺ لکه څنګه چی مونږ د دوی د درواغجن کولو پرواه نه کوو ، دغه شان ته هم څه پرواه اوغم مه کوه څکه چی د) هغو (مخکو) خلګو (هم دا حال وو چی هغوی) ته هم څوک نبی داسی نه دی راغلی چی هغوی ورپوری مسخری نه دی کړی بیامونږ هغه خلګ کوم چی ددی (مکی والاو څخه) زیات زورآور وه (د درواغجن کولو اومسخروپه سزاکی) تباه کړل او دمخکو خلګو داحالت سوی دی (نومه ته غم کوه چی د دوی هم داسی حال کیدونکی دی ، لکه چی په بدر وغیره کی وسو ، اونه دی دوی بی فکره کیږی چی نمونه موجوده ده)

معلومات اومسئلي: داسورة مکی دی البته دحضرت مقاتل قول دی چی آیت وَاسْئَلْ مَنْ اَرْسَلْنَا الخ مدنی دی اویوقول داهم دی چی داسورة دمعراج په وخت کی په آسمان کی نازل سوی دی (روح المعانی) واللہ اعلم

وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ : قسم دی په واضح کتاب ، ددی څخه مراد قرآن کریم دی اللہ ﷻ چی هرکله په یوشی قسم اخلی نوعموماً هغه شی دورپسی دعوی دلیل وی ، دلته یی په قرآن کریم باندی قسم واخستی او دی طرف ته یی اشاره کړې ده ، قرآن بذات خود دخپل اعجاز په وجه سره دخپل حقوالی دلیل دی اوقرآن ته دواضح ویلو مطلب دا دی چی ددی په وعظ اونصیحت باندی مشتمل مضامین داسی دی چی په اسانی سره په پوهیدی سی ، لیکن تر کومه حده پوری چی ددی څخه دشرعی احکامو داستنباط تعلق دی هغه بیشکه یومشکل کار دی ، داجتهاد دپوره صلاحیت څخه بغیر نه سی کیدې چنانچی بل ځای دا خبره واضحه سوې ده (اوبیشکه مونږ قرآن دنصیحت حاصلولو دپاره اسان جوړکړی دی ، نو سته څوک نیصحت حاصلوونکی؟) په دی کی یی فرمایلی دی چی قرآن دنصیحت حاصلولو دپاره اسان سوی دی ، په دی وجه ددی څخه داجتهاد اواستنباط اسان والی نه لازمیږی، بلکه په نورو دلیلونو سره ثابته ده چی ددی کار دپاره په متعلقه علوموکی پوره مهارت شرط دی .

(مُبلغ ته مایوسه کیدل اوکنبینستل نه دی په کار)

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ (آیامونږ دا نصیحت ستاسی څخه په دی خبره واپس کړو چی تاسی دحدڅخه تیریدونکی یاست) مطلب دا دی چی تاسی په خپله سرکښی اونافرمانی کی که هرڅومره دحدڅخه تیوسی لیکن مونږ تاسی ته دقرآن په ذریعه نصیحت کول نه پریږدو ددی څخه معلومه سوه چی کوم سړی ددعوت اوتبلیغ کار کوی ، ده ته هر سړی ته دحق پیغام ورړل په کار دی ، یوی ډلی یاجماعت ته تبلیغ کول محض په دی بنا باندی نه دی پریښوول په کار چی هغه خو دانتهایی درجی ملحدان بی دینه یافاسقان اوفاجران دی ، هغو ته ولی تبلیغ ورکول کیږي .

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ

او که ته دهغوی څخه پوښتنه وکړی چی چاجوړکړی دی اسمانونه اومځکه نو وبه وایی جوړ کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ۙ﴿۹﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ

زبردست پوه ، هغه دی چا چی جوړه کړه ده تاسی دپاره مخکه فرش اوجوړی کړی یی دی تاسی دپاره

فِيْهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۙ﴿۱۰﴾ وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

په دی کی لاری ، چی تاسی لار پیدا کی ، او چا چی نازلی کړی داسمان څخه اوبه

بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَالَّذِيْ

په اندازه نو تازه کړه مونږ په دی سره مخکه مړه ، دغه ډول به تاسی را وباسی ، او هغه چی جوړی

خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مَا

کړی یی دی دهرشی جوړی او جوړی کړی یی دی تاسی دپاره کښتی ، او حیوانان

تَرْكَبُوْنَ ۙ﴿۱۲﴾ لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا

چی تاسی پرسپریږي ، چی وخیژی تاسی د دوی شاګانو ته ، بیا یاد کړی دخپل رب احسان کله چی

اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا

کښینی په دی باندې او ووایی پاک ذات دی هغه چا چی مسخرکړی دی دا مونږ لره ، او

كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ۙ﴿۱۳﴾ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ

مونږ نه وو ددې قابو کوونکی ، او زمونږ خپل رب ته واپس کیدل دی ، اومقرر کړی دی دوی الله لره

عِبَادِهٖ جُزْءًا ۭ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ

دهغه دبندګانو څخه اولاد ، په تحقیق سره انسان ، ډیرناشکره دی ښکاره ، آیاهغه دخان دپاره ونیول په مخلوقاتو کی

بَنٰتٍ وَّاَصْفٰىكُمْ بِالْبَنِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ

لونی اوتاسی یی غوره کړاست په زامنوسره؟ اوکله چی دوی ته څوک خوشخبری ورکړی دهغه شی چی دوی یی درحمن په نوم

مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۱۷﴾ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا

کوی ، نوټوله ورځ یی مخ تور وی ، او په زړه کی ویلی کیږي ، آیا هغه څوک چی پرورش پیدا کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿۱۸﴾ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ

په کالو کی او هغه په جګړه کی خبره نه سی کولی ، اوګرځولی دی دوی ملائکی

الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ؕ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ؕ سَتُكْتَبُ

کوم چی دخدای بندګان دی ښځی ، آیا دوی دپیدائش په وخت کی لیدل ؟ د دوی دا شاهدی

شَهَادَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ

به مونږ ولیکو او د دوی څخه به پوښتنه وسی ، اووایی که الله ﷻ رحمٰن غوښتلی نو مونږ به د دوی عبادت نه وای کړی

مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا

هیڅ خبر نسته دوی ته دا ، دوی اټکلونه چلوی ، آیا مونږ څه کتاب ورکړی دی دی ته

مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿۲۱﴾ بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا

دد ې څخه مخکې نو دوی هغه لره مضبوط نیولی دی ، بلکه وایی مونږ پیدا کړی دی خپل پلاران نیکه ګان

عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ

په یوه لاره ، او مونږ د دوی په قدمونو لار پیدا کړی ده ، او دغه شان چی څوک ولیږی مونږ

قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا وَجَدْنَآ

ستا څخه مخکې یو کلی ته بیروونکی نو وویل دهغه ځای خوشحالو خلقو مونږ پیدا کړی دی

اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾ قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ

پلار نیکه خپل په یوه لاره او مونږ دهغوی په قدمونو چلیږو ، هغه وویل که څه هم ما راوړه تاسی ته

بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ؕ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ

زیاته لار دهدایت په کومه چی تاسی پیدا کړی دی خپل پلار نیکه ، نو دایی وویل چی مونږ ستاسی راوړل سوی

كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾ النصف

نه منو ، نو مونږ دهغوی څخه بدله واخیسته نو وګوره څنګه سو؟ انجام د درواغجن کوونکو ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: اوکه د دوی څخه پوښتنه وکی چی آسمانونه اومځکه چاپیدا کړی دی نودوی به خامخا دا ووایی چی هغوی زبردست پوه (خدای) پیدا کړی دی (اوظاهره ده چی کوم ذات یوازی داعظیم مخلوقات پیدا کړی وی ، عبادت هم یوازی دهغه کول په کار دی په دی وجه توحیدپه خپله د دوی په اقرارسره ثابت سو ، مخ ته دالله ﷻ دتوحید دزیات مدلل کولو دپاره خپل هغه کارونه بیانوي کوم چی په توحید دلالت کوونکی دی،یعنی دامځکه او آسمانونه هغه پیدا کړی دی) کوم چی ستاسی دَ (ارام دَ) پاره مځکه (په مثل دَ) فرش جوړه کړه (چی په دی ارام کوی) اوپه هغه (مځکه) کی هغه ستاسی (منزل مقصودته درسیدو) دپاره لاری جوړی کړی چی (په هغولارو ولاړسی) تاسی منزل مقصود ته ورسیږی اوچاچی دآسمان څخه اوبه په یو (خاص) اندازه سره (دخپل مشیت اوحکمت مطابق) را واورولی بیامونږ په هغو (اوبو) سره لوړه مځکه (دهغه په مناسب) ژوندی کړه (اوپه دی سره دتوحید ددلالت څخه علاوه دا هم پوهیدل په کار دی چی) دغسی به تاسی (هم دخپلو قبرونو څخه) را ویستل سی اوچاچی (په مختلفو انواعو اواجناسو کی) ټول (مختلف) اقسام (یعنی اصناف) جوړکړل اوستاسی هغه کښتی اوحیوانان یی جوړ کړل په کومو چی تاسی سپریږی چی تاسی په هغو (کښتیو اوحیوانانو په سطح او) شاګانو باندی کلك (په اطمینان سره) کښینی بیا کله چی پرهغه کښینی نودخپل رب نعمت (په زړه سره) یادکړی او (په ژبه سره استحباباً) داسی ووایی چی دهغه ذات پاك دی کوم چی داشیان زمونږ په واك کی کړل اومونږ خو داسی (طاقتور اوهنرمند) نه ووچی هغه مو په واك کی کړی وای (ځکه چی دحیوانانو څخه زیات طاقت نسته او دالهام حق څخه بغیر دکښتی چلولو په تدبیر سره خبر نه وو ، د دواړو متعلق حق تعالی تدبیرونه وښوول) اومونږ ته دخپل رب طرف ته بیرته تلل دی (په دی وجه چی مونږ په دی سپاره سو دشکر څخه غفلت یاتکبر نه کوو) او (باوجود دتوحید ددلیلونو دواضح کیدو) دی خلګو (شرك اختیار کړی دی او هغه هم څومره قبیح ، چی ملائکوته دخدای لونی وایی اودهغو عبادت کوی ، نو یوه خرابی خو دا سوه چی دوی) دخدای په بندګانوکی (چی کوم مخلوق دی) دخدای جزء مقرر کړی دی (حال دا دی چی دخدای څه جزء کیدل عقلاً محال دی) واقعی (داسی) انسان واضح ناشکره دی (چی دخدای ﷻ سره دومره لوی کفر کوی چی هغه صاحب جزء ګرځوی په کوم سره چی دخدای ﷻ معاذ الله حادث والی لازمیږی غرض یوه خرابی خو دا سوه او دوهمه خرابی دا چی خلګ خو لور ناقصه ګڼی اوبیادخدای دپاره لونی منی نو) ایاخدای په خپل مخلوق کی (ستاسی په ګمان کی دخپل ځان دپاره خو) لونی خوښی کړی اوتاسی یی په زامنو سره مخصوص کړاست حال دا چی (تاسی خو لونی دومره بدی ګڼی چی) کله په تاسی کی چاته دهغه شی دپیدا کیدو خبر ورکول سی، کوم چی یی دخدای رحمٰن نمونه (یعنی اولاد) جوړکړی دی (مراد لونی دی) نو (دومره ناراضه سی چی) ټوله ورځ دده مخ خراب وی او دی په زړه زړه کی ویلی کیږی (نو دحیرانی خبره ده چی دخدای طرف ته دنقص نسبت کوی، تردی پوری خو د دوی دفاسدی عقیدی الزامی تردیدد وو چی تشریح یی په سورة صافات کی تیره سوي ده ، ددی عقیدی تحقیقی تردیدکوی چی که څه هم انجلی کیدل بذات خودځه دذلت یاشرم خبره نه ده ، لکه چی تاسی یی ګڼی ، لیکن مونږ ته خو په دی کی هیڅ شك نسته چی دا دخپل اصل خلقت په اعتبارسره ناقص العقل او

Maktaba Tul Ishaat.com

ضعیف الرأی خامخادی ، هرکله چی دا خبره ده نو) آیا (خدای داولاد گرځولو دپاره انجلی خوښی کړی) کومی چی (عادتًا) په ارائش (اوزیبائش) کی وپالل سی (کوم چی دکالو اوډول اوسنگار طرف ته د دوی درغبت سبب وی اودهغه لازمی نیتجه دعقل اورایی کچه والی وی) اوهغه (دفکری قوت دکمزوری په بنا) په مباحثه کی قوت دبیان (هم) نه لری (چنانچی ښځی عمومًا دخپل مافی الضمیر په قوت اوفصاحت سره په بیانولوکی دسړو په نسبت کومی قادری وی ، اکثره نیمګړی خبره کوی اوفضول خبری ورسره یوځای کوی ، دکومو چی په اصل مقصد کی هیڅ دخل نه وی دا دوه خرابی سوی) او (دریمه خرابی دشرك لازمیدو څخه قطع نظر دا ده چی) دغوخلګو ملائکی کوم چی دخدای (مخلوق) بندګان دی (په دی وجه الله ﷻ ته د دوی پوره حالت معلوم دی اوچونکی هغه په نظر نه راځی په دی وجه د دوی څه صفت بغیر دالله ﷻ دښوولو څخه هیچاته نه سی معلومیدی اوالله ﷻ هیڅکله دا نه دی ښوولی چی ملائکی ښځی دی لیکن ددی باوجود دوی هغه بی دلیله) ښځی مقرری کړی دی (اودهغوی په ښځو کیدو نه څه عقلی دلیل موجود دی نه نقلی په دی وجه مشاهده په کار ده نو) آیا دوی دهغوی دپیدائش په وخت کی موجود وه (اولیدلی یی جواب ظاهر دی چی دوی دملائکو پیدائش نه دی لیدلی په دی وجه د دوی ددی احمقانه دعوی حقیقت واضح سو) د دوی دا دعوه (کومه چی بی دلیله ده ، دعمالو په دفتر کی) لیکل کیږی او (په قیامت کی به) د دوی څخه پوښتنه کیدی سی (دا خبری خو دملائکو دلونو کیدو سره متعلق وی) او (مخ ته ددغو دمعبود کیدو متعلق بیان دی چی) هغه خلګ داسی وایی چی که الله ﷻ (دا خبره په خوشحالی سره) غوښتلی (چی دملائکو عبادت دی نه وی یعنی دهغوی په عبادت سره هغه ناخوښه وای) نو مونږ به (هیڅکله هم) دهغوی عبادت نه وای کړی (ځکه چی هغه به یی مونږ کولو ته نه وای پریښی بلکه جبرًا به یی منع کولو ، هرکله چی مونږ نه منع کوی نومعلومه سوه چی هغه دهغوی په عبادت نه کولو سره خوشحاله نه دی ، بلکه په عبادت کولو سره یی خوشحاله دی ، مخ ته د دوی تردید دی چی) هغوی ته ددی (خبری) هیڅ تحقیق نسته محضی بی تحقیقه خبره کوی (ځکه چی دالله ﷻ خپلو بندګانو ته په یوکار قدرت ورکول ددی خبری دلیل نه دی چی هغه په هغه کار راضی هم دی، لکه داتمی پاری دنیمی څخه مخکی آیت سَيَقُولُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا الخ کی ددی تفصیل تیرسوی دی ، اوس دا وښایاست چی) آیا مونږ دوی ته ددی (قرآن) څخه مخکی څه کتاب ورکړی دی چی دوی (په دی دعوه کی) دهغه څخه استدلال کوی (حقیقت دا دی چی نه د دوی سره دلیل عقلی سته نه دلیل نقلی) بلکه (محض دخپلو پلارانو نیکه ګانو اتباع ده چنانچی) هغه خلګ وایی چی مونږ خپل پلاران نکه ګان په یوه طریقه پیدا کړی دی او مونږ هم په هغوی پسی وروسته وروسته په لاره ځو او (لکه څنګه چی داخلګ بی دلیله بلکه ددلیل څخه خلاف خپل پخوانی رسم په طور دسند پیش کوی) دغه شان مونږ ستا څخه مخ ته یوکلی ته هیڅ یوپیغمبر نه دی لیږلی، مګر دهغه ځای خوشحاله خلګو (اولاً اومتبعینو یی ثانیًا) دا وویل چی مونږ خپل پلاران نیکه ګان په یوه طریقه پیدا کړی دی او مونږ هم په هغوی پسی وروسته وروسته روان یو (په دی خبره) دهغوی (هغه) پیغمبر (هغوی ته) وویل چی ایا (دپلار نیکه درسمونو تابعداری به کوی) که څه هم ماخوددی څخه ښه (منزل) مقصودته رسوونکی طریقه تاسی ته راوړی ده چی په کومه باندی تاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل پلاران نیکه ګان پیدا کړی دی هغوی (په بغض سره) وویل چې مونږ خو دهغه (دین) منونکی نه یو کوم چې تاته درکول سوی دی ته په هغه (په خپل ګمان سره) راغلی یې نو هرکله چې بغض دحدڅخه زیات سو، دغه وخت) مونږ دهغوی څخه بدل واخیستی نو وګوری د درواغجن کوونکو څنګه (بد) انجام سو.

معلومات اومسئلي: جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا (ستاسی دپاره یی مځکه فرش جوړکړی ده) مطلب دا دی چې دمځکې ظاهري صورت او ددې ارام دفرش په شان دی په دی وجه دا دمځکی دګول والی منافی نه ده.

وَجَعَلَ لَكُمْ مِنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ (اوستاسی دپاره یی دغه کښتی اوحیوانان جوړکړی دی په کومو چې تاسی سپرېږی) دانسان دسپرلی دوه قسمونه وی، یو هغه سپرلی کوم چې انسان دخپل صنعت اوکاریګری په ذریعه یې په خپله جوړ وی، اودوهم هغه حیوانات دکومو په پیدائش کی چې دانسان دکاریګری هیڅ دخل نسته، دکښتیو څخه دسپرلیو اولنی قسم مراد دی او دحیوانانوڅخه دوهم قسم، په هرحال مطلب دا دی چې دانسانی استعمال ټولی سپرلی برابره خبره ده که ددوی په تیاری کی دانسان دخل وی اوکه نه وی دالله ﷻ یو ډیر لوی نعمت دی، دحیوانانو نعمت کیدل خو بالکل ظاهر دی چې هغه دانسان څخه څوچنده زیات طاقتور دی، لیکن الله ﷻ دوی دانسان په مخکی داسی آرام کړی دی چې یو بچی هم د دوی په خله کی واګی واچوی یاپه پزه کی پیزوان نوکوم خواته چې غواړی بیولی یی سی، دغه شان هغه سپرلی هم دالله ﷻ لوی نعمت دی دکومو په تیاری کی چې دانسان دکاریګری دخل دی، دهوایی جهازڅخه واخله ترمعمولی سائیکل پوری دا ټولی سپرلی که څه هم په ظاهره انسان په خپله جوړی کړی دی، لیکن د دوی دجوړولو صنعت الله ﷻ ښوولی دی، دهغه څخه ماسوا ددی ښوونکی څوک دی؟ دا هغه قادر مطلق دی چاچی انسانی دماغوته هغه طاقت ورکړی دی کوم چې اوسپنه موم کوی، ددی څخه علاوه دهغه په جوړولوکی چې کوم خام مواد استعمالیږی، هغه او دهغه اثرات اوخواص خو سیده په سیده دالله ﷻ پیدا سوی دی.

ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ (اوچې تاسی یادکی دخپل پروردګار نعمت) په دی سره یی اشاره وفرمایله چې دیو عاقل اوهوښیار انسان کار دا دی چې هغه دمنعم حقیقی دنعمتونوپه استعمالولوکی دغفلت بی پرواهی اواستغناء دمظاهری کولو په ځای دی خبری ته خیال کوی چې داپه مادالله ﷻ انعام دی، په دی وجه پرما دهغه شکر ادا کول اوعاجزی اظهار کول واجب دی، په یومومن اوکافرکی په حقیقت کی دا فرق دی چې دکائناتو نعمتونه دواړه استعمالوی، لیکن کافر یی په غفلت او په بی پرواهی سره استعمالوی او مومن یی دالله ﷻ انعامات ګڼی اوخپل سرپه عاجزی سره دهغه په حضورکی کښته کوی، ددی مقصد دپاره په قرآن اوحدیث کی دمختلفو کارونو دکولوپه وخت کی دصبر اوشکر په مضامینو مشتملی دعاګانی راغلی دی اوکه انسان په خپل روزانه ژوندکی دکښینستو ولاړیدو، تللو اوګرځیدلو په وخت دغه دعاګانی خپل معمول جوړکی نو دهغه هر مباح کار هم عبادت جوړیږی، دا دعاګانی دعلامه جزری په کتاب حصن حصین، او دحکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله په، مناجات مقبول کی لیدلی سی.

(دسفر په وخت کي دعاګاني)

سُبْحٰنَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا (پاک دی هغه ذات چاچی دا زمابه واک کی کړی) داپه سپرلی دکښینستلو دعاده

Maktaba Tul Ishaat.com

چنانچې دنبی کریم ﷺ څخه په ډیرو روایتونوکی نقل دی چی ده ﷺ به په سپرلی دکښینستلو په وخت دا الفاظ ویل ، او دسپریدو پوره مستحب طریقه دحضرت علی ﷺ څخه دا منقول ده چی سپرلی ته دپښی خیژولو په وخت کی ، بسم الله، ووایی ، بیا دی دسپریدو څخه وروسته ، الحمدلله، او ددی څخه وروسته دا کلمی د ، سُبْحٰنَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ وَإِنَّا إِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ پوری (قرطبی)

دارنګه دنبی کریم ﷺ څخه دا هم روایت دی چی که دی ﷺ به په څه سفرتلی نو دذکر سووکلموڅخه وروسته به یې دا دعا هم ویله .

اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْاَهْلِ وَالْمَالِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ، وَسُوْءِ الْمَنْظَرِ فِي الْاَهْلِ وَالْمَالِ، اوپه یوه روایت کی دا الفاظ هم منقول دی ، اَللّٰهُمَّ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّه لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ (قرطبی)

وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ (او زمونږ ددی راګرځولو کولو وس نسته) دا خبره په مشینی سپرلیو هم دغسی صادقه راځی ، لکه څنګه چی په حیوانانو اوځاروو ، ځکه چی که الله ﷻ دغه کچه مواد نه وای پیدا کړی یایی په هغه کی دغه اثار او خواص نه وای ایښی ، یایی انسانی دماغوته دهغه خواصو معلومولو طاقت نه وای ورکړی ، نو که ټول کائنات یو ځای سی هم به یی داسی سپرلی نه وی پیدا کړی .

وَإِنَّا إِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (اوبیشکه مونږ دخپل رب طرف ته واپس کیدونکی یو) ددی الفاظو په ذریعه تعلیم دا ورکول سوه چی انسان ته دخپل هر یو دنیوی سفر په وخت کی داخرت هغه سخت سفر یادساتل په کار دی کوم چی به په هرحال کی پیښیږی او دهغه په آسانی سره دطی کولو دپاره دنیکو عملونو څخه ماسوا به بله هیڅ سپرلی نه وی .

وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا (او دوی دخدای دبندګانو څخه دخدای جزء مقرر کړی دی) دلته دجزء څخه مراد اولاد دی چی مشرکانو به ملائکو ته دالله ﷻ لونی ویلی اود ، اولاد ، په ځای یی دجزء لفظ اختیار کړي دی ، خلاصه یی دا ده چی که دالله ﷻ څوك اولاد وی نو هغه به دده جزء وی ځکه چی زوی دپلار جزء وی اوداعقلی قاعده ده چی هرکل په خپل وجود کی دجزء محتاجه وی نو ددی څخه به لازم سی چی معاذ الله الله ﷻ به هم دخپل اولاد محتاج وی اوظاهره ده چی هر قسم احتیاج دشان خداوندی بالکل منافی دی

أَوَمَنْ يُنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ (ایاځوك چی په ارائش کی پرورش پیداکی) ددی څخه معلومه سوه چی دښځی دپاره دکالی استعمال اودشریعت موافق دول سنګار کول جائز دی ، چنانچی په دی اجماع ده لیکن ددی سره دبیان طرز دابښیی چی په دول اوسنګسارکی دومره مشغولیدل چی شپه او ورځ په دی کی مشغوله وی دامناسبه نه ده بلکه دا دکمزوری عقل اورایی ښانه هم ده او ددی سبب هم .

وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ (او هغه دمباحثی په وخت کی قوت بیان هم نه لری) مطلب دا دی چی دښځو اکثریت داسی دی چی هغه مافی الضمیر دقوت او وضاحت سره دسړو په مخ کی په بیانولو قادری نه وی ، په دی وجه که چیری مباحثه جوړه سی نوخپله دعوه ثابتول او دبل دلیلونه ردکول ددی دپاره مشکل وی ، لیکن دا حکم داکثریت په اعتبار سره دی ، په دی وجه که ځینی ښځی دخبرو دسلیقی

Maktaba Tul Ishaat.com

مالکانی وی او په دی معامله کی دسرو څخه هم زیاتی سی نو ددی آیت منافی نه ده څکه چی حکم په اکثریت باندی لګیږی او اکثریت بیشکه چی داسی دی.

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲۶﴾ اِلَّا

اوکله چی وویل ابراهیم ﷺ پلار خپل ته اوددہ قوم ته زه بیزاره یم دهغوشیانو څخه دکومو چی تاسی عبادت کوی

الَّذِيْ فَطَرَنِيْ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿۲۷﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِيْ

مګر چا چی زه پیدا کړم، نو هغه به ما ته لار وښیی ، او دا خبره یی وروسته پریښوله ، په خپل

عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى

اولاد کی چی هغوی رجوع کوی ، نه ده بلکه ما نفع ورکړی ده دوی ته او د دوی پلارنیکه ته تردی

جَآءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۹﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا

چی راغی دوی ته دین ربښتینی اورسول ښکاره بیان کوونکی ، او هرکله چی راغی دوی ته ربښتینی دین وې ویل

سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾

دا جادو دی او مونږ دا نه منو .

لنډتفسیر: او (هغه وخت دیادولو قابل دی) کله چی ابراهیم ﷺ خپل پلار ته اوخپل قوم ته وفرمایل چی زه دهغه شیانو (دعبادت) څخه بیزاره (اوبی تعقله) یم دکومو چی تاسی عبادت کوی مګرها (دهغه خدای سره تعلق لرم) کوم چی زه پیدا کړم بیاهغه ماته (زما ددین اودنیا دمصلحتونو) لارښیی (مطلب دا دی چی دی خلګوته دحضرت ابراهیم ﷺ حال یادول په کار دی چی هغه په خپله هم دتوحید معتقدو) او (دوصیت په ذریعه) هغه ﷺ هغه (عقیده) په خپل اولاد کی (هم) یوه قائم پاته کیدونکی خبره وګرځوله (یعنی خپل اولاد ته یی هم وصیت وکی چی دهغه لږ لږ اثر دحضور ﷺ تر بعثت پوری برابر پاته سو، تردی چی په زمانه دجاهلیت کی هم په عربو کی څینی خلګو دشرک څخه نفرت کوی ، او دا وصیت هغوی په دی وجه کړی وو) چی (په هره زمانه کی مشرک) خلګ (دموحدینو څخه دتوحید عقیده اوری دشرک څخه) واپس کیږی (مګر داخلګ بیاهم نه واپس کیږی او دی طرف ته توجه نه کوی) بلکه ما (چی کوم) دوی ته او د دوی پلارنیکه ته (ددنیا) ښه سامان ورکړی دی (په دی کی منهمك اوغافله کیږی) تردی چی (ددی انهماك خوب دغفلت څخه دبیدارولو دپاره) دوی ته ربښتینی قرآن (کوم چی دمعجز کیدو په وجه دخپل ربښتینوالی خپل دلیل په خپله دی) اوصفا صفا بښوونکی رسول (دالله دطرف څخه) رالی اوهرکله چی دوی ته دارښتینی قرآن راورسیدی (اواعجاز یی ظاهرسو) نو ویی ویل چی داجادو دی اومونږ دا نه منو

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ دتیرو ایتونو په اخر کی باری تعالی دابیان فرمایلی وو چی دعربو دمشرکانو سره په خپل شرك ماسوا دخپل پلارنیکه درسمونو څخه بل هیڅ دلیل نسته او دا ظاهره ده چی دواضحو عقلی اونقلی دلیلونو په موجودگی کی محض دپلار نیکه په تقلید اصرار کول دحق او انصاف څخه څومره قدر بعیده ده ، اوس په دی ایتونوکی دی طرف ته اشاره فرمایلی ده چی که دخپل پلار نیکه په لاره تلل غواړی نو دحضرت ابراهیم ﷺ په لاره ولی نه څی کوم چی ستاسی اشرف ترین جد اعلی دی اودکوم سره چی نسبی ترون تاسی دخپل ځان دپاره سرمایه دفخر گنئ ، هغه نه صرف دتوحید قائل دی ، او خپل اولاد ته یی هم ددی وصیت کړی وو ، بلکه په خپله دده طرزعمل دابنیی چی دښکاره عقلی اونقلی دلائلو په موجودگی کی محض دپلار نیکه تقلیدکول جائز نه دی ، هرکله چی هغه دنیاته مبعوث سو نو دده ټول قوم دخپل پلارنیکه په تابعداری کی په شرك کی مبتلاوو ، لیکن دوی دخپل پلارنیکه درویند تقلید په ځای دواضحو دلیلونو په تابعداری کی دخپل قوم څخه دبیزاری اظهار وفرمایی ، إِنَّنِي بَرِيءٌ مِمَّا تَعْبُدُونَ (دکومو شیانو چی تاسی عبادت کوی زه دهغوی څخه بری یم)

ددی څخه داهم معلومه سوه چی که یوسړی دچابدعملویابدعقیده خلگوپه مینځ کی اوسیږی اودخاموش پاته کیدو په صورت کی یی دا بیره وی چی دی به هم ددی خلگو هم خیال وگنل سی نو محض دخپلی عقیدی اوعمل درست کول کافی نه دی ، بلکه دهغو خلگو دعقیدی اوعملونوڅخه دخپل برات اظهار هم ضروری دی ، چنانچی دلته حضرت ابراهیم ﷺ صرف دومره ونه کړل چی خپل عقیده او عملونه یی دمشرکانو څخه عملاً جلا اومتاز گرځل بلکه په ژبه سره یی هم دبرائت په واگه اظهار وفرمایی .

وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ (او هغه دا په خپل اولاد کی یوه باقی پاته کیدونکی خبره کړه) مطلب دا دی چی دوی دتوحید خپله عقیده ترخپل ځان پوری محدوده ونه ساتله بلکه خپل اولادته یی هم په دی عقیده دقائم اوسیدو وصیت وفرمایی چنانچی د دوی په اولاد کی یولوی شمیر موحدین پیدا سول اوپه خپله په مکه مکرمه او ددی په خوا اوشا کی دنبی کریم ﷺ دبعثت تروخته پوری داسی سلیم الفطرت حضرات موجود وه کوم چی دصدیو تیریدو څخه وروسته هم دحضرت ابراهیم ﷺ په اصل دین قائم وه

ددی څخه داهم معلومه سوه چی دخپل ذات څخه علاوه خپل اولادپه صحیح دین دکاربندکولو اوساتلو فکر هم دانسان په فرائضوکی داخل دی په انبیاء کی دحضرت ابراهیم ﷺ څخه علاوه دحضرت یعقوب ﷺ په باره کی هم قرآن کریم ښوولی ده چی هغوی دوفات په وخت کی خپلو زامنوته په صحیح دین دقائم اوسیدو وصیت کړی وو ، په دی وجه په کوم صورت سره چی ممکنه وی . داولاد دعملونو اواخلاقو په اصلاح کی خپل پوره کوشش صرف کول ضروری هم دی اودانبیاؤ سنت هم اوهسی خو د اولاد داصلاح دیری طبقی دی کوم چی دموقعی مطابق اختیاریږی ، لیکن حضرت شیخ عبدالوهاب الشعرانی رحمه الله په لطائف المنن والاخلاق کی لیکلی دی چی داولاد داصلاح دپاره دټولو څخه زیات کارگر عمل دا دی چی مور اوپلار د دوی ددینی اصلاح دپاره ددعا اهتمام کوی ، افسوس دی چی ددی اسان تدبیر څخه نن صبا عام غفلت کیدی سی او ددی دبد انجام مشاهده په خپله مور اوپلار کوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾ اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ؕ نَحْنُ قَسَمْنَا

اووای چی ولی نازل نه سو دا قرآن په یولوی سړی ددی دوو کلو څخه، آیادوی تقسیموی ستادرب رحمت؟ مونږ تقسیم

بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ

کړی دی، په دوی کی رزق د دوی په ژوند ددنیاکی اوپورته کړی دی مونږ درجی دځینو په ځینو

دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ؕ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾

باندی چی ونیسی یو بل لره خدمت گار، او ستا درب رحمت غوره دی دهغوی شیان چی دوی یی جمع کوی

لنډتفسیر: (دا کافرانو دقرآن په باره کی وویل) او (دمحمد ﷺ په باره کی) وایی چی دا قرآن (که کلامی الهی دی اوپه حیثیت درسالت راغلی دی نو) په دی دواړو کلو (یعنی دمکی اوطائف په اوسیدونکو) کی پرچا لوی سړی ولی نازل نه سو؟ (یعنی درسول دپاره عظیم الشان والی ضروری دی اونبی کریم ﷺ مال او ریاست نه لری نو دی پیغمبرنه سی کیدی، باری تعالی د دوی دشبهی تردید فرمایی چی) ایا داخلک ستادرب (خاص) رحمت (یعنی نبوت په خپله) تقسیمول غواړی (یعنی داغوښتل چی نبوت زمونږ درایی مطابق خلکوته ورکول کیدل په کاردی گویاپه خپله دتقسیمولو هوس کول دی چی داتقسیم دی مونږ ته سپارل سوی وای، حال دا دی چی دا هوس صرف ناپوهی ده څکه چی) په دنیوی ژوند کی (خو) ددوی رزق مونږتقسیم کړی دی او(په دی تقسیم کی) مونږیوه لره په بل لوړوالی ورکړی دی ددی دپاره چی (په دی سره دامصلحت حاصل سوچی) دیوبل څخه کاراخلی (اودعالم انتظام قائم وی) او(ظاهره اویقینی خبره ده چی) ستادرب (خاص) رحمت (یعنی نبوت) په څوچنده دهغه (دنیوی مال اواسباب اومرتبی اومنصب) څخه ښه دی کوم چی داخلک جمع کوی (نو هرکله چی ددنیوی معیشت تقسیم مونږ د دوی په رایی نه دی اینبی، حال دا دی چی دا دادنی درجی شی دی، نو نبوت چی په خپله هم داعلی درجی شی دی اوددی مصلحتونه هم دډیری عظیمی درجی دی، هغه به څنگه د دوی په رایی تقسیم سی؟)

معلومات اومسئلې: په دی ایتونوکی الله ﷻ دعربو دمشرکانو دیو اعتراض جواب ورکړی دی کوم چی به هغوی دنبی کریم ﷺ په رسالت کوی، دراصل په اول کی خو هغوی دی باورکولوته هم تیارنه وه چی یو انسان دالله ﷻ رسول کیدی سی، چنانچی دهغوی دا اعتراض قرآن کریم ځای په ځای ذکرکړی دی چی نبی کریم ﷺ مونږ رسول څنگه ومنو، هرکله چی دی دعامو انسانانوپه شان خوری چښی اوپه بازارونو کی گرځی، لیکن هرکله چی دقرآن ډډیرو ایتونو په ذریعه داواضحه سوه چی داصرف دنبی کریم ﷺ خصوصیت نه دی، بلکه په دنیاکی چی څومره انبیاء راغلی دی هغه ټول انسانان وه، نواوس هغوی خبره بدله کړه اودا اعتراض یی وکی چی که یوانسان ته نبوت ورکول کیږی نوحضور ﷺ خو په مالی اعتبار سره څه لوی صاحب حیثیت نه دی، دامنصب دحضور ﷺ په ځای دمکی اوطائف یو لوی دولتمند اوصاحب دمرتبی اومنصب والا انسان ته ولی ورنه کول سو؟ په روایتونوکی دی چی په دی سلسله کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی دمکی مکرمی څخه دولیدبن مغیره اوعتبه بن ربیعه اودطائف څخه دعروه بن مسعود ثقفی، حبیب بن عمرو ثقفی یاکنانه بن عبد یالیل نومونه پیش کړی وه (روح المعانی)

دمشرکانو ددی اعتراض په باره کی الله ﷻ دوه جوابونه ورکړی دی ، اولنی جواب دذکر سوی ایتونو په دوهم آیت کی، اودوهم جواب په راتلونکو ایتونوکی ورکول سوی دی ، ددی تشریح به هم هلته راسی ددی اولنی جواب خلاصه دا ده چی په دی معامله کی تاسی ته ددخل ورکولو هیڅ حق نسته، چی الله ﷻ دنبوت منصب چاته ورکوی اوچاته یی نه ورکوی؟ دنبوت تقسیم ستاسی په لاسونوکی نه دی چی څوك دنبی جوړولو څخه اول ستاسی څخه رایه واخلی سی ، داکار کلیةً دالله ﷻ په لاس کی دی اوهغه یی دخپلو عظیمو مصلحتونو مطابق کوی ، ستاسی وجود اوعقل اوشعور ددی عظیم کار صلاحیت دسره نه لری چی دنبوت دتقسیم کارتاسی ته وسپارل سی ، اودنبوت تقسیم خو ډیر دلوړی درجی شی دی ، ستاسی حیثیت ، وجود اوشعور خو ددی هم محتمل کیدی نه سی چی په خپله ستاسی دمعشیت او سامان دمعیشت دتقسیم کارتاسی ته وسپارل سی څکه چی مونږ پوه یو چی که داسی وسوه نوتاسی به یوه ورځ هم نظام عالم ونه چلولی سی اوټول نظام به درهم برهم سی ، په دی وجه الله ﷻ په دنیوی ژوند کی ستاسی درزق تقسیم هم ستاسی په ذمه دی ایښی، بلکه دتقسیم دمعشیت کار یی په خپله په خپل لاس کی اخیستی دی ، کله چی دادئی درجی کاریی تاسی ته نه دی حواله کړی ، نو دنبوت دتقسیم کار چی دومره لوی عظیم کاردی ، تاسی ته څنګه حواله سی، دایتونو څخه دخبری مقصد خو دغومره دی ، لیکن مشرکانو ته دجواب ورکولو په ضمن کی باری تعالی چی ددنیا دنظام معیشت په متعلق کوم ارشاد کړی دی ، ددی څخه ډیرمعاشی اصول مستنبط کیږی ، دلته ددغو لنډ شان وضاحت ضروری دی

(دتقسیم معیشت قدرتي نظام)

نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ (مونږ تقسیم کړی دی د دوی په مینځ کی د دوی معیشت) مقصد دا دی چی مونږ په خپل حکمت بالغه سره ددنیا نظام داسی جوړ کړی دی چی دلته هرسړی دخپلو ضرورتونو دپوره کولو دپاره دبل دکومك محتاجه دی ، اوټول خلګ ددې باهمی احتیاج په تارکی تړل سوی دپوره معاشري ضرورتونه پوره کوی، دی آیت په واضح طور سره دا خبره ښوولی ده چی الله ﷻ دمعیشت دتقسیم کار (داشتراکیت په شان) چا با اختیاره انسانی اداری ته نه دی سپارلی، کوم چی دمنصوبه بندی په ذریعه داطی کړی چی دمعاشری ضرورتونه څه دی؟ هغه څنګه پوره کولی سی ، دپیداوار وسائل دی په کوم تناسب سره په کومو کارونوکی ولګول سی ، او د دوی په مینځ کی دآمدنی تقسیم په کوم بنیاد کول کیږی ؟ ددې پرځای داټول کارونه الله ﷻ په خپل لاس کی اخستی دی اوپه خپل لاس کی دساتلو مطلب دا دی چی هر سړی یې دبل محتاج کړي دی اوددنیا نظام یی داسی جوړکړی دی چی په دی کی که (داجاره دارو وغیره په ذریعه) غیر فطری خنډونه پیدا نه سی نوهغه نظام خود بخوده داټول مسائل حل کوی ، دباهمی احتیاج دی نظام ته په موجوده معاشی اصطلاح کی د (طلب اورسد) نظام ویل کیږی ، دَ، دطلب اورسد ، قدرتی قانون دادی چی دکوم شی رسد کم وی اوطلب زیات دهغه قیمت زیاتیږی ، په دی وجه دپیداوار وسائل دهغه شی په تیاری کی زیاته نفع ورکوی اودی طرف ته متوجه

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی اوکله چی رسد دطلب په مقابله کی زیات سی نو قیمت کمیږی چنانچی دهغه شی زیاته تیاری نفع بخش نه پاته کیږی اودپیداوار وسائل دهغه په څای په څه بل داسی کارکی مصروف سی، دکوم ضرورت چی زیات وی، اسلام دَ، طلب اورسد، ددی قدرتی قوتونوپه ذریعه ددولت پیداوار اودتقسیم کار اخیتسی دی او په عامو حالاتوکی یی ، دَتقسیم معیشت، کار یو انسانی اداری ته نه دی حواله کړی، ددی وجه دا ده چی دمنصوبه بندی برابره خبره ده که هرڅومره ترقی یافته طریقی معلومی سی ، لیکن ددی په ذریعه دمعیشت دیویو جزوی ضرورت احاطه ممکنه نه ده اوداقسمه معاشرتی مسائل عموماً ددا سی قدرتی نظام تابع چلیږی ، دژوند ډیری معاشرتی مسئلی دغه شان په قدرتی طور خودبخوده طی کیږی اودا دحکومت منصوبه بندی ته حواله کول په ژوندکی دیو مصنوعی جنجال پیدا کولو څخه ماسوا نور هیڅ نسته ، دمثال په طور دا خبره چی دورځی وخت دکار دپاره دی اوشپه دخوب دپاره ده ، دا دڅه عمرانی معاهدی یا انسانی منصوبه بندی لاندی نه ده طی سوی، بلکه دقدرت خودکار نظام خود بخوده دافیصله کړي ده ، دغه شان دامسئله چی کوم سړی دچاسره واده وکی ، دطبعی مناسبتونو دفطری نظام لاندی خودبخوده انجام پیداکی اودا دمنصوبه بندی په ذریعه دحل کولو گرسره دچا په خیال کی هم نه دی راغلی .

یامثلاً داخبره چی کوم سړی دعلم اوفن کومه شعبه خپل میدان جوړ کړی ، دا دطبعی ذوق اومناسبت په څای دحکومت منصوبه بندی ته حواله کول خامخا یوه زبردستی ده اوپه دی سره نظام فطرت درهم برهم کیدی سی ، دغه شان نظام معیشت هم قدرت په خپل لاس کی اینبی دی ، او دهر سړی په زړه کی یی هغه کار اچولی دی کوم چی دهغه دپاره زیات مناسب دی اوکوم چی هغه په ښه طریقه سره کولی سی چنانچی هر سړی برابره خبره ده که هغه یوخاکروب ولی نه وی په خپل کار خوشحاله دی اوهغه دڅان دپاره سرمایه دفخر گنی، كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ، البته دسرمایه دارانه نظام په شان اسلام افرادو ته دومره ازادی نه ده ورکړی چی هغه په هره جائزه اوناجائزه طریقه دولت راغونډ کړی ، او دنورو دپاره درزق دروازی بندی کړی ، بلکه دامدنی په ذریعوکی یی دحلال اوحرام تمیز کړی دی ، سود، سته، خمار او ذخیره اندوزی یی ممنوع گرځولی ده بیاپه جائزه امدنی باندی هم زکوٰة ، عشر وغیره واجبات عائدکړی دی او ددی خرابی یی بندی کړی دی ، کومی چی په موجوده سرمایه دارانه نظام کی لیدل کیږی ، ددی باوجود هم که چیری اجاره داری قائمی سی ، نو دهغه دماتولو دپاره دحکومت مداخلت یی جائز کړی دی ، دلته ددی دتفصیل موقع نسته ، په دی موضوع داحقرمستقلی رسالی، مسئله سود، داسلام د دولت دتقسیم نظام، او، په اسلامی نظام کی معاشی اصلاحات، وگوری .

(دمعاشي مساوات حقیقت)

وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ (اومونږ یوه ته پربل لوړ والی ورکړی دی) ددی څخه معلومه سوه چی معاشی مساوات (په دی معنٰی کی چی ددنیا دټولو افرادو امدنی بالکل برابروی) نه مطلوب ده نه ممکن العمل، ددی تفصیل دا دی چی الله ﷻ ددی کائناتو په هر رکن باندی څه فرائض عائدکړی دی اوڅه حقوق یی ورکړی دی اوپه دواړوکی یی په خپل حکمت سره داتناسب اینبی دی چی دچاپه ذمه څومره

Maktaba Tul Ishaat.com

فرائض دی ، هومره یی حقوق دی دانسان څخه علاوه چی څومره مخلوقات دی ، دهغوی په ذمه چونکی فرائض دټولوڅخه کم دی چی هغه شرعًا دحلالو حرامو جائزو او ناجائزو مکلف نه دی په دی وجه دهغوی حقوق هم دټولو څخه کم دی ، چنانچی انسان ته یی ددغو په معامله کی وسیعه ازادی ورکړی ده چی هغوی د دوی څخه دیوڅو معمولی غوندی پابندیو سره چی څنګه غواړی نفع اخستی سی چنانچی څینی حیوانات دوی پریکوی اوخوری یی ، په څینو سپرلی کوی ، څینی حیوانات پامال کوی . مګر ددی سره دهغو مخلوقاتو حق تلفی نه سی کیدی ، په دی وجه چی په دی مخلوقاتو چونکی فرائض کم دی نو څکه دهغوی حقوق هم کم دی ، بیاپه کائناتوکی دټولو څخه زیات فرائض په انسان اوپیری باندی عائد سوی دی څکه چی هغوی په خپل هرقول اوفعل اوهرنقل او حرکت کی دالله ﷻ په مخکی جواب ورکوونکی دی ، اوکه خپلی ذمه داری پوره نه کی نو داخرت دعذاب مستحق دی ، په دی وجه الله ﷻ انسان اوپیری ته حقوق هم دنورو مخلوقاتو په مقابله کی زیات ورکړل بیاپه انسانانوکی هم دالحاظ دی چی دچاذمه داری اوفرائض دنورو څخه زیات دی دهغوی حقوق هم زیات دی ، په انسانانوکی دټولو څخه زیاته ذمه واری په انبیاوو وی ، چنانچی دوی ته ډیر حقوق هم دنورو څخه زیات ورکول سوی دی ، په نظام معیشت کی هم الله ﷻ دا رعایت ایښی دی چی هرسړی ته دومره معاشی حقوق ورکول سی ، دڅومره فرائضو ذمه واری چی هغه په خپل سر اخلی اوظاهره ده چی په فرائضوکی یوشان والی پیدا کول بالکل ناممکن اوتفاوت په کی ناګزیر دی ، داسی هیڅکله نه سی کیدی چی دهر سړی معاشی وظائف اوفرائض دانسانانو په فطری صلاحیتونو باندی موقوف وی چی په دی کی جسمانی طاقت ، صحت ، دماغی قوی اوعمر، ذهنی معیار، چستی اوچالاکی په شان شیان دا خل دی او دا خبره هرسړی په ظاهرو سترګو لیدی سی ، چی ددی صفتونو په اعتبار سره په انسانانو کی یو شان والی اومساوات پیدا کول ، دلوی څخه دلوی ترقی یافته اشتراکی حکومت په وس کی هم نه ده ، هرکله چی دانسانانوپه صلاحیتونوکی تفاوت ناګزیر دی نو دهغوی په فرائضو کی به هم لازمًا تفاوت وی اومعاشی حقوق چونکی په دی فرائضو باندی موقوف دی ، په دی وجه په معاشی حقوقو یعنی امدنی کی هم فرق ضروری دی ، څکه چی که دټولو امدنی بالکل مساوی سی اوپه فرائضوکی فرق وی نو په دی سره هیڅکله عدل اوانصاف قائم نه سی پاته کیدی ، په دی وجه چی په دی صورت کی به دڅینوخلګو امدنی ددوی دفرائضو څخه زیاته اودڅینوبه د دوی دفرائضو څخه کمه سی کمه چی صریحه نا انصافی ده ، ددی څخه واضحه سوه چی په امدنی کی مکمل مساوات په یو دورکی هم قرین انصاف کیدی نه سی ، په دی وجه اشتراکیت دخپلی ترقی په انتهایی (۱)

(۱) داشتراکیت وینادا ده چی فی الحال خو دامدنی مکمل مساوات ممکن نه دی لیکن که داشتراکیت په ابتدایی اصولو عمل شروع سی نو یو وخت به داسی راسی هرکله چی په امدنی کی مکمل مساوات یاپه املاکوکی مکمل اشتراک پیداسی اودابه دمکمل کمیونزم دور وی.

دور (مکمل کمیونزم) کی هم چی دکوم مساوات دعوه کوی هغه په هیڅ حال کی نه قابل عمل ده اونه قرین دعدل اوانصاف ، البته داطی کول چی دچا فرائض زیات اودچاکم دی او ددی په مناسبت سره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

ته څومره حقوق ورکول کیدل په کار دی یو ډیر نازك اومشکل کار دی او دانسان سره څه داسی پیمانه نسته چی په هغه سره هغه ته ددی خبری ټیك ټیك تعین وسی ، څینی وخت داسی محسوسیږی چی یوماهر اوتجربه کار انجنیر په یوه ګنټه کی دومره امدنی حاصله کړي ده ، چی یوغیر هنرمند مزدور ټوله ورځ په منونو خاوره واړوی حاصله نه کی ، لیکن که په انصاف سره وکتل سی نو قطع نظر ددی څخه چی دمزدوری دټولی ورځی دازادمحنت ذمه واری دهغه بار سره نه سی برابریدی کوم چی انجنیر پورته کړی دی ، دانجنیر دا امدنی صرف دهغه یوی ګنټی دمحنت صله نه ده ، بلکه په دی کی دکلونو دهغه دماغ سوزی ، عرق ریزی اوجان فشانی دصلی یوه حصه هم شامله ده کومه چی ده دانجنیرنګ دتعلیم او تربیت اوبیاپه دی کی په تجربی اومهارت حاصلولوکی یی برداشت کړي ده ، اشتراکیت په خپل ابتدایی دورکی دامدنی دافرق تسلیم کړی دی ، چنانچی په ټولو اشتراکی ملکونو کی دابادی دمختلفو طبقو په مینځ کی دتنخواه ګانو زبردست فرق پیداکیږی، لیکن تیندك یی دلته خوړلی دی چی دپیداوار ټول وسائل یی دحکومت په تحویل کی ورکړل ، دوسائلو دپاره یی دفرائضو تعین اوبیا د دوی په مناسبت سره په دوی دامدنی تقسیم یی هم ټول حکومت ته حواله کړی دی ، حال دا دی چی لکه لوړچی عرض وسو، دفرائضو او حقوقو په مینځ کی دتناسب دباقی ساتلو دپاره دانسان سره څه پیمانه نسته چنانچی داشتراکیت دطریق کار لاندی دټول ملك دانسانانو دروزی تعین دحکومت دځو کارندو په لاسوکی راغلی دی او دوی ته دا اختیار ورکول سوی دی چی چاته څومره غواړی ورکړی ، څومره غواړی بندکړی ، اول خو په دی کی بد دیانتو اواقربا نوازو ته یولوی میدان ورکول کیږی ، په اصلی سرمایه یی افسر شاهی مزی اوچرچی کوی ، دوهم که دحکومت ټول کارنده ملائکی هم تصور سی اوهغوی فی الواقع داغواړی چی په ملك کی دامدنی تقسیم دی دحق اوانصاف په بنیاد وی ، نو د دوی سره اخرهغه کومه پیمانه ده چی په هغه سره هغوی دا فیصله وکی چی دیو انجنیر اویو مزدور په فرائضو کی څومره فرق دی او په دی نسبت سره د دوی په امدنونو کی څومره فرق قرین انصاف دی .

واقعه دا ده چی ددی خبری صحیح صحیح فیصله دانسانی عقل او ادراك څخه قطعی ماوراء ده په دی وجه داقدرت په خپل لاس کی اخیستی دی ، په زیربحث آیت، وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ : کی الله ﷻ دی طرف ته اشاره فرمایلی ده چی ددی فرق تعین مونږ انسانانو ته دحوله کولو په څای په خپل لاس کی اینبی دی اوپه خپل لاس کی دایښولو مطلب دلته هم دا دی چی په دنیاکی دهر سړی ضرورتونه دبل سره وترل سول او داسی نظام جوړ سوی دی چی هر سړی دخپل حاجت پوره کولو دپاره بل ته په دومره څه ورکولو مجبور دی دځومره چی هغه مستحق دی ، دلته هم په باهمی احتیاج باندی مبنی د، طلب اورسد ، نظام دهرسړی دامدنی تعین کوی، یعنی هرسړی ددی خبری فیصله پخپله کوی چی څومره ګرائض ماپه خپله ذمه اخیستی دی اوددی څومره معاوضه زمادپاره کافی ده ددی څخه په کمه ورکول کیدودی په کار باندی راضی نه وی اوکه زیاته غواړی نوکار اخیستونکی ورځخه کارنه اخلی، دَلِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا : دامطلب دی چی مونږ په امدنی کی فرق په دی وجه اینبی دی چی یوسړی دبل څخه کار واخلی ، کنه نو که دټولو امدنی برابره وای نوځوك به دچاپه کار نه راتلی .

Maktaba Tul Ishaat.com

البته په څینو غیر معمولی حالاتو کی دلوی څخه لوی سرمایه دار د (طلب او رسد) ددی قدتی نظام څخه نا جائزه فائده واخلی ، غریبان په دی خبره مجبوره کیږی چی هغوی دخپل حقیقی استحقاق څخه په کم اجرت کار وکی اسلام اول خودحلالو حرامو اوجائزو ناجائزو دوسیعو احکامو په ذریعه دارنګه اخلاقی هدایتونه او داخرت دتصور په ذریعه داسی صورت حال دپیدا کیدو څخه بند کړی دی اوکه چیری په څه مقام داسی صورت پیداسی نواسلامی حکومت ته دا اختیار ورکول سوی دی چی ددی غیر معمولی حالاتو ترحده پوری هغه داجرتونو تعین کولی سی ، لیکن ظاهره ده چی داصرف دغیر معمولی حالاتو دپاره دی په دی وجه ددی مقصد دپاره تول وسائل دپیداوار حکومت ته دحواله کولوهیڅ ضرورت نسته څکه چی دَدی نقصانات دفائدو څخه زیات دی .

(داسلامي مساوات مطلب)

دلورڕوارشاداتوڅخه داخبره په ښه شان سره واضحه کیږی چی په امدنی کی مکمل مساوات نه دعدل اوانصاف تقاضاده نه عملاًهیڅکله قائم سوي ده نه کیدی سی اونه دااسلام غواړی البته اسلام چی کوم مساوات قائم کړی دی ، هغه دقانون ، معاشرت او د ادایی حقوق مساوات دی ، ددی مطلب دا دی چی دلورڕ ذکر سوی قدرتی طریق کار لاندی دکوم سړی چی څومره حقوق متعین سی دهغه دحاصلولو په قانون ، تمدنی اومعاشرتی حق کی تول برابر دی ، ددی خبری هیڅ معنی نسته چی یوامیر یاصاحب مرتبه او منصب انسان دی خپل حق په عزت سره په اسانی حاصل کړی اوغریب دی دخپلو حقونوحاصولو دپاره درپه در تکری خوری اوسپك اوذلیل کیږی دی ، قانون دی دامیر دحقونو حفاظت کوی اوغریب دی بی یار اومددګار پریږدی ، داخبره حضرت ابوبکر صدیق ؓ په خپله یوه خطبه کی ارشاد فرمایلی وه .

وَاللهِ مَا عِنْدِی اَقْوٰی مِنَ الضَّعِیْفِ حَتّٰی اٰخُذَ الْحَقَّ لَهُ وَلَا عِنْدِیْ اَضْعَفَ مِنَ الْقَوِیِّ حَتّٰی اٰخِذَ الْحَقَّ مِنْهُ (په خدای قسم دی زماپه نزد دیوکمزوری سړی څخه زیات قوی څوك نسته ترهغه پوری چی زه دهغه حق دهغه دپاره وانه خلم او زماپه نزد دیو قوی سړی څخه زیات کمزوری څوك نسته ترڅو چی زه دهغه (دکمزوری) حق وصول نه کړم)

دغه شان په محکم معاشی نقطه نظر سره داسلامی مساوات مطلب دا دی چی داسلام په نظرکی هرسړی ته دګټی وتی یوشان موقعی حاصلی دی اواسلام داخبره نه خوښوی چی یوڅو لوی لوی دولت مند دی دمال دولت پرګټلوقابض خپلی اجاره داری قائمی کړی او دوړو سوداګرو دپاره دی په بازارکی کنښینستل مشکل کړی ، چنانچی سود ، سټه، خمار، ذخیره اندوزی اواجاره دارانه تجارتی وعدی یی ممنوع وګرځولی ، دارنګه زکوٰة ، عشر، خراج نفقات ، صدقات اونور واجبات یی عائد کړل او داسی ماحول یی پیدا کړی دی چی په دی کی هر یو انسان دخپل ذاتی صلاحیت، محنت اوسرمایی په تناسب سره دګټی کولو مناسبی موقعی حاصلولی سی اوپه دی سره دیوی خوشحاله معاشری تعمیرکیدی سی، ددی باوجود دآمدنی چی کوم فرق باقی پاته سی ، هغه په حقیقت کی ضروری دی اولکه څنګه چی دانسانانو په مینځ کی دحسن وجمال ، قوت اوصحت ، عقل اوذهانت اود آل او اولاد فرق ختمول ممکن نه دی ، دغه شان دا فرق هم نه سی ختمولی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ

او که دا خبره نه وی چی ټول خلق به سی په یو دین باندی نومونږ به ورکړی وای هغو خلقو ته

يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾

چی منکر دی درحمن څخه دهغوی دکورونو دپاره چتونه دسپینو زرو اوځینی چی په هغ خیژی ،

وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿۳۴﴾ وَزُخْرُفًا ؕ وَاِنْ كُلُّ

او دهغوی دکورونو دپاره دروازی او تختونه چی تکیه وهلی وربانډی ناست وی ، او دسروزرو ، او دا ټول

ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾

نه دی ، مګر سامان ددنیا دژوند دی او آخرت ستا درب په نزد دهغو دپاره دی چی ویریږي.

لنډتفسیر: (او دا کافران خلک دمال دولت زیاتوب دنبوت دصلاحیت شرط ګڼی ، حال دا دی چی نبوت یو عظیم الشان شی دی په دی وجه ددی دصلاحیت شرط هم عظیم الشان په کار دی) او (ددنیا ، دولت اوجاه زمونږ په نزد دومره سپك دی چی) که دا خبره (متوقع) نه وی چی (قریب قریب) ټول خلک به په یوه طریقه سی (یعنی کافران به سی) نوکوم خلک چی په خدای باندی کفر کوی (او دخدای په نزد سخت مبغوض دی) مونږ به دهغو (ټولو) دپاره دهغوی دکورونو چتونه دسپینو زرو کړی وای اوځینی هم (دسپینو زرو کړی وای) په کومو چی خیژی (کښته کیږی) اودهغوی دکورونو دروازی به موهم (دسپینو زرو کړی وای) اوتختونه هم (به دسپینو زرو کړی وای) په کومو چی تکیه لګولی ناست وی او (دا شیان دسرو زرو به هم (کړی وای ، یعنی څه دسرو زرو اوځه دسپینو زرو ، مګر داسامان مونږ کفاروته څکه ورنه کی چی داکثرو انسانانو په طبیعت کی دمال اسباب دحصول یقینی سبب جوړ ده ، نو دلږ کسانو څخه علاوه به قریب قریب ټولوکفر اختیارکړی وای ، په دی وجه مونږ ټولو کافرانو ته دمال دولت دافراخی ورنه کړه کنه نوکه دا مصلحت نه وای نو مونږ به داسی کړی وای اوظاهره ده چی دښمن ته دقدر اوفراخی شی نه ورکوو ، ددی څخه معلومه سوه چی ددنیا مال متاع په حقیقت کی څه عظیم الشانه شی نه دی پس داد نبوت په شان دیوعظیم الشان منصب دپاره دصلاحیت شرط هم نه سی کیدی ، ددی په ځای دنبوت شرط هغه اعلی درجه ملکات دی کوم چی دالله ﷻ دطرف څخه انبیاوو ته ورکول کیږی او دا ملکات په محمد ﷺ کی په پوره شان سره جمع دی ، نو نبوت د دوی ﷺ دپاره زیباوو ، نه چی دمکی او طائف درئیسانودپاره) او(ددنیادحقارت یوه بالکل واضحه وجه بیان فرمایی چی) دا ټول (ساز او سامان دکوموچی لورډکروسو)هیڅ هم نه دی صرف ددنیادژوند دڅو ورځوکامرانی ده (بیافنا ، اخر فنا) او اخرت (کوم چی ابدی دی او په دی وجه ددی څخه ښه دی هغه) ستا دپروردګار په نزد دخدا تر سو دپاره دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي

(دمال دولت زياتي دفضيلت سبب نه دی)

کفارو چی دا ویلی وه چی دمکی اوطائف یولوی مالدار نبی ولی جوړ نه سو ، په دی آیتونوکی دهغه دوهم جواب ورکول سوی دی او ددی خلاصه دا ده چی بیشکه دنبوت دپاره دصلاحیت څه شرطونه پیدا کول ضروری دی لیکن دمال دولت دزیاتی په بنا باندی چاته نبوت نه سی ورکول کیدی ، ځکه چی مال دولت زمونږ په نظر کی دومره سپك شی دی چی که دټولو خلګو دکافرو جوړیدو بیره نه وای نو مونږ به په ټولو کافرانوباندی دسرواوسپینوباران کړی وای اودصحیح ترمذی په یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، لَوْ كَانَتْ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ (یعنی که دنیادالله ﷻ په نزد دغوماشی دیوه وزر برابره درجه لرلی نوالله ﷻ به یو کافر ته ددی څخه داوبو یوغړپ هم نه وای ورکړی .

ددی څخه معلومه سوه چی نه دمال او دولت زیاتی څه دفضیلت شی دی ، نه ددی کمی دانسان دکمی رتبی کیدو نښانه ده ، البته دنبوت دپاره دځه اعلی درجی اوصاف ضروری دی اوداپه سرکار دوعالم ﷺ کی په کامله درجه سره پیدا کوی سی ، په دی وجه دا اعتراض بالکل خطا اوباطل دی .

او په ذکر سوو ایتونو کی چی دا ویل سوی دی چی که په کافرانو دمال دولت دومره فراوانی وسی نو ټول خلګ به کافران سی ، ددی څخه مراد دخلګو اکثریت دی کنه نو دالله ﷻ څه نیك بندګان نن هم داسی موجود دی چی دا یقین ساتی چی په کفر اختیارولو سره دوی په مال دولت مالامال کیدی سی لیکن هغه دمال دولت په خاطر کفر نه اختیار وی ، داسی خلګ شاید هغه وخت هم په ایمان قائم پاته کیدل لیکن شمیر یی په اوړو کی دمالګی برابر وو .

وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾

اوڅوك چی ځان ناوڼده کی دیادو درحمن څخه مونږ په ده مقرر کړو یو شیطان نو هغه دده ملګری وی ،

وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۷﴾

او هغه دی منع کوی دلاری څخه او دوی ګڼی چی مونږ په لاری یو ،

حَتّٰۤى اِذَا جَآءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ

تردی چی هرکله راسی مونږته وایی ای کاشکی! چی زماا وستاپه مابین کی لیری والی دمغرب اومشرق هومره وی

الْقَرِيْنُ ﴿۳۸﴾ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اِذْ ظَّلَمْتُمْ اَنَّكُمْ فِى الْعَذَابِ

چی څنګه بد ملګری دی ، اوهیڅ فائده نسته تاسی ته نن ورځ هرکله چی تاسی ظالمان سو است ددې خبری څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۹﴾ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ اَوْ تَهْدِى الْعُمْىَ وَمَنْ كَانَ

چی تاسی په عذاب کی شامل یاست ، نو آیاته اورولی سی کنو ته یاهدایت کولی سی رندوته اوڅوك چی

فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۰﴾ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَوْ

په ښکاره غلطی کی ورك وی ، بیا که مونږ تاددی ځای څخه بوزو نو مونږ د دوی څخه بدله اخیستونکی یو

نُرِيَنَّكَ الَّذِىْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَيْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿۴۲﴾ فَاسْتَمْسِكْ

یا تاته وښیو کومه چی د دوی سره مونږ وعده کړی ده نو دا زمونږ په وس کی ده ، نو ته مضبوط ونیسه

بِالَّذِىْ اُوْحِىَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ

کوم چی تاته حکم کیږي ، ته یی بیشکه په سیده لاره ، اودانصیحت دی تاته

وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

اوستا قوم ته او مخکې به ستا څخه پوښتنه کیږي ، اوپوښتنه وکړه دهغو څخه چی مونږ لیږلی وه ستاڅخه

مِنْ رُّسُلِنَآ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ﴿۴۵﴾

مخکې رسولانو ، چیری مونږ مقرر کړی دی درحمنت څخه ماسوا بل حاکم چی عبادت یی وسی

لغتتفسیر: اوکوم سړی چی دالله ﷻ دنصیحت (یعنی قرآن) څخه (قصداً) ځان پوندکی (لکه چی دا کافران دی چی دکافی شافی دلیلونو باوجود ځان ناولده کوی) مونږ په هغوی یوشیطان مسلط کی ، نو هغه (هر وخت) دهغوی سره وی اوهغه (دهغوی سره اوسیدونکی شیطانان) هغوی (دقرآن څخه اعراض کوونکی برابر) دلاری (حقی) څخه منع کوی (او دا دتسلط اثر دی) او دا خلګ (سره ددی چی دحقی لاری څخه لیری دی) دا خیال کوی چی هغوی (یعنی مونږ) په لاره (سیده) باندی دی (نو دچا دګمراهی چی داحالت اودا صورت وی دهغه پرلاری دکیدو څه امیددی نو غم ولی کوی او دا هم تسلی ساته چی د دوی دا تغافل به ژرختم سی او ژر به دوی ته خپله غلطی ښکاره سی ځکه چی دا تغافل صرف تر دنیا پوری دی) تردی چی هرکله داسی سړی مونږ ته راسی (او دده غلطی ظاهره سی) نو (دغه ملګری شیطان ته) به ووایی چی کاشکی! زما اوستا په مینځ کی (په دنیاکی) دمشرق اومغرب دومره فاصله وی (ځکه) چی ته (خو) بد ملګری وی (چی تازه ګمراه کړم ، مګر دا حسرت به دغه وخت په کار را نه سی) او (دارنګه دوی ته به وویل سی چی) کله چی تاسی (په دنیاکی) کفر کړی وو نو (لکه څنګه چی نن حسرت ستاسی په کارنه راځی دغه ډول) نن دا خبره (هم) ستاسی په کارنه راځی چی تاسی (اوشیطانان) ټول په عذاب کی شریك

Maktaba Tul Ishaat.com

یاست (لکه په دنیاکی چی ځینی وخت نور په مصیبت کی شریك وینی یو قسم تسلی کیږی ، هلته به چونکی عذاب ډیر سخت وی ، په دی وجه بل طرف ته به التفات هم نه وی ، هر سړی به په خپل حال کی اخته وی او خپل ځان به دټولو ځخه زیات مبتلا وینی) نو (تاته چی هرکله د دوی دا حالت معلوم سوچی د دوی دهدایت هیڅ امید نسته نو) ایاته (داسی) کنوته اوریدل کولی سی یا (داسی) راندہ اوهغه خلګ کوم چی په ښکاره ګمراهی کی (مبتلا) دی ، په لاره کولی سی (یعنی د دوی هدایت ستا داختیار ځخه خارج دی ، ته مه ورپسی کیږه) بیا (د دوی داسرکښی خالی تلونکی نه ده ، بلکه په دی ضرور سزا مرتب کیدونکی ده برابره خبره ده که ستاپه ژوند کی وی برابره خبره ده که ستا دوفات ځخه وروسته وی نو) که چیری مونږ (ددنیا ځخه) تا لوړ کو نو هم مونږ د دوی (کافرانو) ځخه بدله اخیستونکی یو یاکه د دوی سره چی کومه مونږ دعذاب وعده کړي ده هغه (ستاپه ژوند کی په دوی نازله کړو) تاته یی (هم) وښیو نوبیاهم (څه بعیده نه ده ځکه چی) په دوی زمونږ هرقسم قدرت دی (مطلب دادی چی عذاب به خامخاوی برابره خبره ده هرکله چی وی او کله چی داخبره ده) نوته (تسلی ساته اوپه اطمینان سره) په دی قرآن قائم اوسیږه کوم چی په تا دوحی په ذریعه نازل سوی دی (ځکه چی) بیشکه ته په سیده لاریی (مطلب دا دی چی ته خپل کار کوه او دنورو دکار غم مه کوه) او دا قرآن (په کوم چی دقائم اوسیدو مونږ وایو) ستا دپاره اوستا دقوم دپاره دلوی شرف شی دی (ستا دپاره خو په دی وجه چی ته بلا واسطه مخاطب یی او دقوم دپاره په دی وجه چی هغه بالواسطه مخاطب دی ، دعامو بادشاهانو سره هم کلامی لوی شرف ګټل کیږی نو لا بیا دبادشاهانو دبادشاه مخاطب کیدل) او ډیر ژر (دقیامت په ورځ) به ستاسی ټولوځخه (دخپلی خپلی ذمی دواجبو حقونو) پوښتنه وسی (نو ستاځخه به صرف دتبلیغ په حقله پوښتنه وی کوم چی تابنه ادا کی ، او دعمل متعلق به د دوی ځخه پوښتنه وی ، نوهرکله چی ستاځخه د دوی دعملونوپه باره کی پوښتنه نه وی نوته غم ولی کوی) او (مونږچی کومه په تانازلیدونکی وحی حقه ګرځوو ، په دی کی کفارو ته دټولو ځخه لوی اعتراض په عقیده دتوحید ده ځکوم په حقوالی کی چی دوی خبری کوی ، نو په حقیقت کی دا داسی حق کار دی چی په دی دټولو انبیاوو اجماع ده اوچونکی انبیاء دعقلی اونقلی دلائلو جامع دی په دی وجه ګویا په دی په زرګونو عقلی اونقلی دلیلونه قائم دی ، چنانچی که ستازړه غواړی نو) ته دهغو ټولو پیغمبرانو ځخه کوم چی مونږ ستا ځخه مخکی لیږلی دی پوښتنه وکړه (یعنی دهغوی دکتابونو اوصحیفو ځخه دکوموچی څه بقیه موجود دی تحقیق وکړه) چی ایا مونږ دخدای رحمٰن ځخه ماسوا (کله هم) نور معبودان مقررکړی وه چی دهغوی عبادت دی وسی (ددی ځخه نوروته اورول منظور دی چی که دچازړه غواړی تحقیق دی وکی اوپه کتابونو کی کتلو ته یی درسولانو ځخه پوښتنه کول مجازاً ویلی دی)

معلومات اومسئلي

(دخدای دیادو ځخه اعراض دبد صحبت سبب دی)

وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ مطلب دا دی چی کوم سړی دالله ﷻ دنصیحت یعنی قرآن اووحی ځخه قصداً اعراض کوی نو مونږ په ده یوشیطان مسلط کی کوم چی په دنیاکی هم دده سره اوسیږی اودی دنیکیو

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه منع کوی اوبدیوته یی راپاروی اوپه اخرت کی هم چی کله دا سړی دقبرڅخه پورته سی نو داشیطان به دده سره وی ، تردی چی دواړه به جهنم ته دا خل کړل سی (قرطبی) ددی څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ دیادو څخه داعراض دومره سزاپه دنیاکی ورکول کیږی چی دانسان صحبت خراب سی اوشیطانان برابره خبره ده که دانسانانو څخه وی اوکه دپیریانو څخه ، دی دنیکیو څخه لیری اوبدیو ته نژدی کوی ، دی ټول کارونه دګمراهی کوی ، مګر ګنی داسی چی ډیر ښه کوی (قرطبی)

او دلته چی دکوم شیطان دمسلط کولو ذکر دی هغه دهغه شیطان څخه علاوه دی کوم چی دهر مومن او کافر سره لګیدلی دی ځکه چی هغه دمومن څخه په خاصو وختونو کی لیری کیږی هم ، نو دا به همیشه ورسره وی (بیان القرآن)

وَلَنْ يَنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ الخ ددی آیت دوه تفسیرونه کیدی سی یو دا چی کله ستاسی کفر او شرك ثابت سوی دی نو په اخرت کی ستاسی داتَمَنّا هیڅ په کارنه راځی چی کاشکی دا شیطان زماڅخه لیری وای ځکه چی دغه وخت به تاسی ټول په عذاب کی شریك یاست ، په دی صورت کی به ، اِنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ الخ ، د ، لِاَنَّكُمْ په معنی کی وی او د ، يَنْفَعُ (ضمیر دفاعل به مقول يَالَيْتَ بَيْنِي الخ طرف ته راجع وی .

او دوهم تفسیر دا ممکن دی چی هلته درسیدو څخه وروسته به ستاسی او دشیطانانو په عذاب کی مشترك والی څه فائده مند نه وی ، په دنیاکی بیشکه داسی کیږی چی په یو مصیبت کی څو تنه شریك سی نو دهر یو غم سپك سی ، لیکن هلته به چونکی په هر یوه خپله سخته وی اوځوك به دچا درد نه سی کمولی په دی وجه ددغه اشتراك څخه به هیڅ فائده نه رسیږی په دی صورت کی به اِنَّكُمْ ، دَيَنْفَعُ فاعل وی

(نیک شهرت هم په دین کې خوښ ګڼل سوی دی)

وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَكَ وَلِقَوْمِكَ (او دا قرآن ستا دپاره اوستا دقوم دپاره لوی دشرف شی دی) دَذِكْرٌ څخه مراد نیکه ناموری ده اومطلب دا دی چی قرآن کریم ستا اوستا دقوم دپاره عظیم شرف او دنیك شهرت باعث دی ، امام رازی فرمایی چی ددی آیت څخه دا معلومه سوه چی نیك شهرت یوقابل رغبت شی دی ، په دی وجه الله ﷻ دلته دا دیو احسان په طور سره ذکر فرمایلی دی او په دی وجه حضرت ابراهیم ﷺ دا دعا فرمایلی وه چی ، وَاجْعَلْ لِي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ (تفسیرکبیر)

لیکن دا یاد ساتل په کار دی چی نیك شهرت هغه وخت ښه دی کله چی دا دژوند دمقصد جوړولو څخه بغیر دانسان دنیکو عملونو په وجه خود بخوده حاصل سی اوکه انسان نیکی صرف په دی مقصد سره کوی چی دده په دنیاکی نوم نیك سی نو دا ، ریا ، ده چی په دی سره دنیکیو ټوله فائده ختمه سی اوچپه ګناه لازم سی ، په دی آیت کی ، ستا دقوم ، څخه مراد ځینو مفسرینو صرف دقریشو قبیله مقرره کړې ده او په دی سره یی دقریشو فضیلت ثابت کړی دی ، لیکن علامه قرطبی فرمایی چی صحیح دا ده چی ددی څخه مراد د دوی ټول امت دی ، برابره خبره ده که دهر رنګ اونسل سره چی تعلق لری قرآن کریم ددی ټولو دپاره دعظمت ، شرف او نیك نامی باعث دی (قرطبی)

وَاسْاَلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُسُلِنَا (ته دهغو ټولو پیغمبرانو څخه کوم چی مونږ ستا څخه مخ کی لیږلی دی ، پوښتنه وکړه) دلته داسوال پیداکیږی چی تیرانبیاء خو وفات سوی دی دهغوی څخه دپوښتنی

Maktaba Tul Ishaat.com

کولوحکم څنګه ورکول کیږی ؟ ددی جواب څینو مفسرینو خودا ورکړی دی چی دایت مطلب دا دی چی که الله ﷻ دغه معجزی په طور دتیرو انبیاء سره ستا ملاقات وکی نوهغه وخت دهغوی څخه ددی خبری پوښتنه وکړه ، چنانچی دمعراج په شپه د دوی ملاقات دتولو انبیاوو سره وسو اوعلامه قرطبی څینی روایتونه نقل کړی دی دکومو څخه چی معلومیږی چی دوی دانبیاء دامامت کولوڅخه وروسته دهغوی څخه ددی خبری پوښتنه کړی وه ، لیکن دهغو روایتونو سند مونږ ته معلوم نه سو، چنانچی اکثرو مفسرینودایت مطلب دانبوولی دی چی په خپله دانبیاء څخه پوښتنه مرادنه ده بلکه په دوی دنازلو سوو صحیفوڅخه تحقیق کول اوددوی دعالمانوڅخه پوښتنه کول مراد دی چنانچی دبنی اسرائیلو دانبیاوو چی کومی صحیفی اوس موجودی دی په هغه کی د ډیرو تحریفاتو باوجود دتوحید تعلیم او دشرك څخه دبیزاری تعلیم تر اوسه شامل دی دمثال په طورپه موجوده بائبل کی دالاندی عبارتونه ملاحظه کی .

(دانبیاوو علیهم السلام په صحیفو کي دتوحید تعلیم)

په موجوده تورات کی دی (چی ته پوه سی چی خداوند یوازی خدای دی او دهغه ماسوا هیڅوك دده سره نسته (استثناء ۴ : ۳۵)

او. واوره ای اسرائیل ! خداوند زمونږ خدای صرف یو خدای دی (استثناء ۶ : ۴)

او دحضرت اشعیا علیه السلام په صحیفه کی دی .

زه خداوند یم بل هیڅوك نسته زما څخه ماسوا څوك خدای نسته چی دمشرق څخه تر مغربه پوری خلګ پوه سی چی زماڅخه ماسواڅوك نسته زه خداوند یم، زماڅخه ماسوا څوك بل نسته، یسعیاه ۴۵ : ۵ ، ۶)

اودحضرت مسیح علیه السلام دا قول په موجوده انجیلونوکی ذکر دی ، ای اسرائیل ! واوره ! خداوند زمونږ خدای صرف یوخداوند دی او ته دخداوند خپل خدای سره دخپل ټول زړه ، خپل ټول ځان اوخپل خوږ عقل اوخپل ټول طاقت سره محبت ساته (مرقس ۱۲ : ۲۹ ومتّی ۲۲ : ۳۶)

نقل دی چی دوی یو وار مناجات کوی ، ویی فرمایل .

او دهمیشه ژوند دا دی چی هغه تاخدای واحد اوبرحق اویسوع مسیح کوم چی تا رالیږلی دی وپیژنی ، (یوحنّا ۱۷ : ۳)

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ

او مونږ ولیږی موسی علیه السلام دخپلو ننبو سره فرعون او ددده سردارانو ته نو وی ویل چی زه رالیږلی سوی یم

الْعَالَمِينَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِآيَاتِنَا إِذَا هُمْ مِنْهَا يَضْحَكُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا

دجهان درب ، بیا چی کله یی راوړی دوی ته زمونږ ننبانی نو هغوی ور پوری خندا کوله ، اونه

نُرِيهِمْ مِنْ آيَةٍ إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا وَأَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ

ښوولە مونږ دوی ته یوه ننبانه مګر هغه به داولی څخه لویه وه ، او ونیول مونږ هغوی په عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ

کی چی هغوی واپس سی،او وي ویل ای جادو کړه! اوبله زمونږ دپاره خپل رب چی ستاسره یی وعده کړی ده

اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۵۰﴾

مونږ به ضرور په لاری سو ، بیا چی هرکله لیری کی مونږ دهغوی څخه عذاب نو هغوی وعده ماتوله ،

وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَيْسَ لِيْ مُلْكُ مِصْرَ

او آواز وکی فرعون په خپل قوم کی وي ویل ای زما قومه! آیا نه دی زما په لاس کی حکومت دمصر

وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِيْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۱﴾ اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ

او دا نهرونه چی بهیږي لاندی دمحل زما څخه آیا تاسی نه وینی ؟ آیا زه یم غوره

هٰذَا الَّذِيْ هُوَ مَهِيْنٌ ۙ وَّلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿۵۲﴾ فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ

دهغه سړی څخه دکوم چی څه عزت نسته ، او صفا خبری نه سی کولی ، نو ولی نه غورزیږي په ده بنګړی

مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ

د سرو زرو یا ولی نه راځی ده ته ملائکی په قطارونو کی ؟ نو بی عقله کی ده خپل قوم

فَاَطَاعُوْهُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۵۴﴾ فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا

پس دده خبره یی واوریده ، بیشکه هغه وو خلق نافرمانه ، بیا چی مونږ یی غصه کړو نومونږ بدله

مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۵﴾ فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾

واخسته دهغوی څخه بیا دوب کړل مونږ هغه ټوله ، بیاکړل مونږ هغه تیر سوی او یومثال د وروسته دپاره

لنډتفسیر: اومونږ موسی علیه السلام ته خپل دلیلونه (یعنی معجزی عصا اوید بیضاء) ورکړل فرعون اودده سردارانو ته مولیږلی وه نو دوی (هغه خلکو ته رالل) نووي فرمایل چی زه درب العلمین دطرف څخه (ستاسی خلکو دهدایت دپاره) پیغمبر (سوی راغلی) یم (مګر فرعون اودفرعون خلکو ونه منل) بیا (مونږ نور دلیلونه دسزاګانوپه رنګ کی د دوی دنبوت ثابتولو دپاره ظاهرکړل یعنی قحط سالی وغیره مګر ددغو خلکو بیاهم دا حالت ووچی) کله به موسی علیه السلام هغوی ته زمونږ (هغه) ننبانی راوړی (کوموته چی

Maktaba Tul Ishaat.com

نهه ۹ ایتونه ویل کیږی، نوهغوی به یکدم په هغو (معجزو) پوری خندا وکړه (چې داڅه معجزی دی محض معمولی واقعات اوحادثی دی ځکه چې قحطی وغیره خوهسی هم راځی ، مګر دا د دوی حماقت وو ځکه چې په نورو قرائنو سره صفا معلومیده چې دا واقعات غیرِ معمولی دی اودمعجزی په طورکیږی په دی وجه هغوی دجادو تهمت پرلګولی وو لکه چې په سورة اعراف کی لِتَسْحَرَنَا به الفاظ پردی شاهد دی) او (دهغوننبانوکیفیت داوو چې) مونږبه هغوی ته کمه ننبه ښوولـه هغه به دبلی ننبانی ځخه زیاته وه (مطلب داچې ټولی ننبانی لویی وی او دا مطلب نه دی چې هره ننبانه دبلی یوی ننبی ځخه لویه وه دایوه محاوره ده هرکله چې دډیرو شیانو کمال بیانول غواړی نوداسی وایی چې یودبل ځخه زیات دی اوداهم ممکنه ده چې واقعةً هم هری راتلونکی ننبی دبلی تیری ننبی ځخه څه زیات فضیلت لرلی وی) اومونږ (ددی ننبوپه واقع کولو سره) هغه خلګ په عذاب کی نیولی وه چې هغوی (دخپل کفر ځخه) واپس سی (یعنی هغه ننبی دنبوت دلیلونه هم وه اودهغوی دپاره سزاګانی هم وی، مګرهغه خلګ واپس نه سول، سره ددی چې دهری ننبی په واقع کیدریی ددی ځواره عهدهم وکی) اوهغوی (موسیٰ ﷺ ته په هره ننبه باندی دا) وویل چې ای جادوګره (دالفظ یی دتیرعادت موافق په ډیره بدحواسی سره دخلی ځخه به وتلی وی کنه نو ددا سی عاجزانه درخواست په موقع باندی دا دشرارت لفظ ویل خومستبعد معلومیږی، په هرحال مطلب یی داووچې ای موسیٰ ﷺ) زمونږ دپاره دخپل رب ځخه دهغه خبری دعاوکړه دکومی چې هغه ستاسره عهدکړی دی (اوهغه خبره ده زمونږ په واپس کیدو دقهر لیری کول، مونږ وعده کوو چې که تا داعذاب لیری کی نو) مونږ به خامخا پرلاری سوبیا (کله چې) مونږ هغه عذاب دهغوی ځخه لیری کی نوبیا هغوی (خپله) وعده ماته کړه (ددی ننبوبیان په سورة اعراف کی تیرسوی دی) اوفرعون (غالبًاپه دی خیال سره چې دمعجزوپه لیدو چیری عام خلګ مسلمانان نه سی) په خپل قوم کی اواز وکی (اوپه دغه اوازکی یی) داخبره وکړه چې ای زما قومه! ایا دمصر (سره دتوابعو) حکومت زمانه دی او (ګوری) دانهرونه زما (دمحل) لاندی چې بهیږی ایاتاسی (داشیان) وینی نه (اودحضرت موسیٰ ﷺ سره هیڅ سامان هم نسته نو وښیاست چې زه ښه او قابل اتباع یم اوکه موسیٰ ﷺ) بلکه زه (خاص) ښه یم ددی سړی ځخه (یعنی موسیٰ ﷺ ځخه) کوم چې (په اعتبار دمال اومرتبی) کوم قدره (سړی) دی اوقوت بیانیه هم نه لری (اوکه داسړی خپل ځان ته پیغمبر وایی) نودده (په لاسونوکی) دسرو زرو بنګړی ولی وانه چول سول (لکه چې ددنیا دبادشاهانو عادت دی چې کله په چاخاص عنایت کوی نو ده ته په عام دربارکی دسرو زرو بنګړی ورپه لاس کوی ، مطلب دا چې که دی سړی ته نبوت ورکول سوی وی نو دده په لاسونو کی به دسرو زرو بنګړی وای) یاملائکی دده په خواکی په قطار ولی نه راځی (لکه چې دخاصو امیرانو شاهی جلوس دغه شان وزی) غرض هغه (داسی خبری وکړی) خپل قوم یی مغلوب (العقل) کی اوهغوی دده په خبروکی راغلل (او) هغه خلګ (دمخکی ځخه هم) دشرارت ځخه ډک وه (په دی وجه دفرعون دخبرو په دوی زیات اثر وسو) بیا چې هرکله هغو خلګو (برابرپه کفر اوبغض باندی اصرار کوی) مونږ یی غصه کړو نو مونږ د دوی ځخه بدله واخیسته اوهغه ټول مودوب کړل اومونږ هغوی دائنده راتلونکو دپاره په خاص طور سره متقدمین اونمونه (دعبرت) جوړکړه (په خاص طور دمتقدمینو جوړولو مطلب دا دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

خلگو ته د دوی قصه دعبرت اخیستو دپاره ذکر کیږی چی وگوری په تیرو خلگوکی داسی داسی خلک تیرسوی دی اودهغو داسی داسی حال سوی دی)

معلومات اومسئلي

دحضرت موسیٰ ﷺ واقعه مخکی باربار تیره سوي ده او په دی ایتونوکی چی د دوی کومو واقعاتو ته اشاره سوي ده هغه په تفصیل سره په سورة اعراف کی راغلی ده ، دلته دده دواقعی یادولو څخه مقصددا دی چی دمکی کافرانو به دنبی کریم ﷺ په نبوت باندی د دوی دنه مالداری په وجه شبهه کوله ، دا څه نوی شبهه نه ده ، بلکه فرعون او دده قوم هم دا شبهه دحضرت موسیٰ ﷺ په نبوت باندی کړی وه ، دفرعون ویناوا وه چی زه دمصر دحکومت مالك یم اوزما ترمحلونو لاندی نهرونه بهیږی په دی وجه زه دحضرت موسیٰ ﷺ څخه (معاذالله) ښه یم ، بیازماپه مقابله کی ده ته نبوت ولی ورکول کیږی؟ لیکن څنگه چی دهغه داشبهه دهغه هیڅ په کار ورنغله اوهغه سره دخپل قوم غرق سوه دغه شان دمکی دکفارو دا اعتراض به هم دوی ددنیا اواخرت دوبال څخه محفوظ نه کړل سی .

وَلَایَکَادُ یُبِیْنُ (اوکوم چی دخبرو کولو قوت هم نه لری) که څه هم دحضرت موسیٰ ﷺ په دعاسره الله ﷻ دده دژبی تتوالی لیری کړی وو لیکن فرعون ته دده اولنی منظر یاد وو ، په دی وجه هغه په حضرت موسیٰ ﷺ باندی دا عیب ولگوی او دا هم کیدی سی چی دلته د ، قوت بیانیه، څخه مراد دژبی دروانی په څای دلائل دقوت او وضاحت وی او دفرعون مطلب دا وی دحضرت موسیٰ ﷺ سره داسی کافی دلائل نسته کوم چی مامطمئن کی ، حال دا دی چی دا دفرعون صرف الزام وو ، کنه نو دحضرت موسیٰ ﷺ ددلائلو اوبراهینو په مقابله کی فرعون قطعی لا جوابه وو (تفسیر کبیر، روح المعانی)

فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ : ددی دوی ترجمی کیدی سی یوه داچی فرعون په اسانی سره خپل قوم خپل تابع جوړکی طَلَبَ مِنْهُمُ الْخِفَّةَ طَاوَعَتْهُ، اودوهمه داچی ده خپل قوم بی عقل پیدا کی وَجَدَهُمْ خَفِیْفَةَ اَحْلَامِهِمْ (رح المعانی)

فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا: دا دَاَسَفٌ څخه وتلی دی چی لغوی معنیٰ یی ده افسوس په دی وجه ددی جملی لفظی معنیٰ سوه . نو هرکله چی دوی مونږ ته افسوس راکی ، او افسوس ډیر دغصی په معنیٰ کی هم استعمالیږی ، په دی وجه ددی بامحاوره ترجمه عموماً داسی کول کیږی چی ، کله دوی مونږ ته غصه راوسته ، او چونکی الله ﷻ دافسوس اوغصی دانفعالی کیفیتونو څخه پاك دی ، په دی وجه ددی مطلب دا دی چی دوی کار داسی وکی ، په کوم سره چی مونږ دوی ته دسزا ورکولو پخه اراده وکړه (روح)

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْیَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ یَصِدُّوْنَ ﴿۵۷﴾ وَقَالُوْٓا

او هرکله چی مثال بیان سو دزوی دمریم نو دغه وخت ستا قوم په دی سره چغی کړی ، او وایی

ءَاٰلِهَتُنَا خَیْرٌ اَمْ هُوَ مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا بَلْ هُمْ قَوْمٌ

زمونږ معبودان غوره دی یا دغه ، دا مثال چی بیانوی تا ته نو صرف دجگړی دپاره بلکه دا خلق دی

Maktaba Tul Ishaat.com

خَصِمُونَ ﴿۵۸﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي

جګړه کوونکی ، دغه نه دی بلکه یو بنده دی چې مونږ وربانده فضل کړی دی او کې مونږ دی مثال دبنی

إِسْرَائِيلَ ﴿۵۹﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿۶۰﴾

اسلائیلو دپاره، که مونږ وغواړو نوراوبه باسو تاسی څخه ملائکی چې اوسیږي به په مځکه کی ستاسی په ځای

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ

او هغه ښښانه ده دقیامت نو په دی کی شك مه کوی او زما خبره ومنی ، دا یوه سیده

مُّسْتَقِيمٌ ﴿۶۱﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿۶۲﴾ وَلَمَّا

لاره ده ، او منع دی نه کړی تاسی شیطان هغه بیشکه ستاسی دښمن دی ښکاره ، اوهر

جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم

کله چې راغی عیسی ﷺ دښښو سره وې ویل ما راوړی دی تاسی ته پخی خبری اوچې بیان کړم تاسی ته

بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿۶۳﴾ إِنَّ اللَّهَ هُوَ

ځینی هغه شیان چې تاسی په کی اختلاف کوی ، نو و بیریږي دالله څخه اوزما خبره ومنی ، بیشکه الله چې دی

رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿۶۴﴾ فَاخْتَلَفَ

هغه دی رب زما او رب ستاسی نو دهغه بندګی کوی دا لاره ده برابره ، بیااختلاف وکی

الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿۶۵﴾

فرقو په خپل مینځ کی ، نو خرابی ده ګناهګارانو لره دعذاب د ورځی دردناکی څخه .

لنډتفسیر: (یو وار نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی وو چې دالله ﷻ څخه ماسوا دڅومره څه چې ناحقه عبادت کول کیږی په هغوکی په هیڅاکی هم خیرنسته ، په دی دقریشو ځینو خلکوا عتراض وکی چې نصرانیان خو دحضرت عیسیٰ ﷺ عبادت کوی ، مګر دهغوی په باره کی خو ته هم منی چې په هغوی کی خو سراسر خیر وو ، دهغوی په جواب کی الله ﷻ ارشاد فرمایی) اوهرکله چې د (عیسیٰ) ابن مریم (رض) متعلق (دیو معترض دطرف څخه) یوعجیبه مضمون بیان سو (عجیبه ځکه چې په سرسری نظرسره دهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

بطلان دوی ته په خپله معلومیدی سو نو سره دعقله داسی اعتراض کول دیرعجیبه وو ، غرض کله چی دا اعتراض وسو، نویکدم دده دقوم خلګ په هغه (اعتراض اوریدو) سره (دخوشحالی څخه) په چغو سر سوه او (دهغه معترض سره متفق سوه) ویی ویل چی (ووایاست ستاسی په نزد) زمونږ معبود زیات ښه دی یاعیسیٰ (علیه السلام) ښه دی مقصد دا دی چی ته عیسیٰ (علیه السلام) خو یقیناً ښه ګنې حال دا دی تاچی کوم دا ویلی وه چی دالله ﷻ څخه ماسوا دځومره څه چی ناحق عبادت کول کیږی په هغه کی هیڅ خیر نسته ، ددی تقاضا خو دا ده چی په حضرت عیسیٰ (علیه السلام) کی دی بالکل خیر نه وی ، په دی سره یو خو ستا داقول معاذ الله صحیح پاته نه سو ، دوهمه معلومه سوه چی کومو ته ته خیر وایی په خپله دهغوی هم عبادت سوی دی نو په دی وجه په دی سره دشرك صحت ثابت سو ، مخ ته ددی اعتراض جواب دی اول اجمالاً بیا تفصیلاً ، اجمالاً خو دا چی، دی خلګو چی کوم دا (عجیبه اعتراض) تاته بیان کړی دی نومحض دجګړی په غرض سره (نه چی دحق دطلب دپاره کنه نو په خپله په دوی ددی اعتراض عبث والی پټ نه دی او ددی خلګوجګړه کول څه ددی اعتراض سره مخصوصه نه ده) بلکه داخلګ (عادتاً) جنګ کوونکی دی (چی اکثره په حقو خبروکی جګړی راباسی ، مخ ته تفصیلی جواب دی یعنی) عیسیٰ (علیه السلام) خومحض یوداسی بنده دی په کوم چی مونږ (په مقبولیت اوکمالاتو دنبوت ورکولوسره خپل) فضل وکی اوهغه مودښی اسرائیلو دپاره (اولاً اودنورو دپاره هم ثانیاً دخپل قدرت) یوه نمونه جوړه کړی وه (چی خلګ په دی پوه سی چی خدای ﷻ ته دغه شان بغیر دپلارڅخه پیداکول هم څه مشکل نه دی ، په دی سره دهغو دواړو اعترضاتو جواب راووتی دکومو تشریح چی به په معلوماتو اومسئلوکی راسی) او (مونږ خو ددی څخه په ریاتو عجیبو اونا اشنا کارونو باندی قادریوچنانچی) که مونږ غوښتلی نومونږ به ستاسی څخه ملائکی پیداکړی وای (لکه څنګه چی ستاسی څخه ستاسی بچی پیداکیږی) چی هغه په مځکه (دانسان په شان) په یو بل پسی اوسی (یعنی پیدائش به یی هم دانسانانو په شان وای اومرګ هم، نو بغیر دپلار څخه په پیداکیدو سره دا نه لازمیږی چی حضرت عیسیٰ (علیه السلام) دخدای بنده اودهغه په قدرت کی نه دی پاته ، په دی وجه داکار دحضرت عیسیٰ (علیه السلام) دمعبود کیدو دلیل نه سی جوړیدی ، بلکه په دغسی پیدا کولو کی څینی حکمتونه وه دکوموڅخه چی یوخولور بیان سوچی دوی دخپل قدرت نمونه جوړول وه) او (دوهم حکمت دا وو چی) هغه (یعنی دعیسیٰ (علیه السلام) په داسی پیداکیدوکی) دقیامت (دامکان) دیقین ذریعه ده (داسی چی په قیامت کی په دوباره ژوندی کیدوکی ددی څخه زیات نورڅه بعددی چی دوباره ژوندی کیدل خلاف عادت دی اودحضرت عیسیٰ (علیه السلام) بغیردپلارڅخه په کیدو سره ثابته سوه چی الله ﷻ دخلاف عادت کارونو په صادرولو قادر دی ، نو په دی سره داخرت اوقیامت دعقیدی صحیح والی ثابت سو اوکله چی تاسی داخرت دعقیدی دا دلیل واوریدی) نوتاسی خلګ په (صحت دَ) هغه کی شك مه کوی او (دتوحید اواخرت وغیره په عقیدو کی) تاسی خلګ زما تابعداری کوی ، دا (مجموعه دکوموطرف ته چی زه تاسی رابولم) سیده لارده اوتاسی دی شیطان (په دی لاره دراتلوڅخه) منع نه کی هغه بیشکه ستاسی ښکاره دښمن دی او (تردی پوری خو دکفارو دذکر سوی اعتراض جواب وواومخ ته په خپله دحضرت عیسیٰ (علیه السلام) ددعوت په مضمون سره دتوحید داثبات او دشرك دابطال تائید دی یعنی) کله چی

Maktaba Tul Ishaat.com

عیسیٰ (علیه السلام) بنکاره بنکاره، معجزی راوړی نوهغه (خلګوته) وویل چی ماتاسی ته دپوهیدو خبری راوړی دی (چی ستاسی دعقیدو اصلاح وکړم) اوچی ځینی خبری (لکه حلال اوحرام) په کوموکی چی تاسی اختلاف کوی تاسی ته بیان کړم (چی اختلاف اواشتباه په رفع سی ، کله چی زه داسی راغلی یم) نو تاسی خلګ دالله ﷻ ځخه وبیریږی (او زمادنبوت ځخه انکار مه کوی ځکه چی دادخدای ځخه مخالفت دی) او زماخبره ومنی (ځکه چی دنبوت دتصدیق دپاره دا ضروری ده اوحضرت عیسیٰ (علیه السلام) دا هم وویل چی) بیشکه الله ﷻ زماهم رب دی اوستاسی هم رب دی نو (صرف) دهغه عبادت کوی (او) دا (دتوحید) سیده لارده نو (باوجود دحضرت عیسیٰ (علیه السلام) ددی واضح بیان دتوحید ځخه بیاهم) مختلفو ډلو (په دی باره کی) په خپل مینځ کی اختلاف جوړ کی (یعنی دتوحید خلاف یی قسم قسم مذهبونه ایجاد کړل ، چنانچی په توحید کی دنصاراوو اوغیر نصاراوو اختلاف هم معلوم دی) نو دهغوظالمانو (مسلمانانو مشرکینو اهل کتابو اوغیر اهل کتابو) دپاره دیوی دردناکی ورځی دعذاب لویه خرابی (کیدونکی) ده (پس دحضرت عیسیٰ (علیه السلام) په دی دعوت سره په خپله دتوحید تائید وسو لهذا دحضرت عیسیٰ په ناحقه عبادت سره دشرك په صحت استدلال دمدعی سُست شاهد چُست مثال دی)

معلومات اومسئلي : وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ : ددی ایتونو په شان نزول کی مفسرینو دری روایتونه بیان کړی دی یو دا چی یو وار نبی کریم ﷺ دقریشو دقبیلی خلګوته خطاب کوی ، وي فرمایل ، يَا مَعْشَرَقُرَيْشٍ لَاخَيْرَ فِيْ اَحَدٍ يُعْبَدُ مِنْ دُوْنِ اللهِ یعنی ای دقریش خلګو! دالله ﷻ ځخه ماسوا چی دچاعبادت کول کیږی په هغه کی هیڅ خیرنسته ، په دی مشرکینو وویل چی نصارا دحضرت مسیح (علیه السلام) عبادت کوی ، لیکن ته په خپله منی چی هغه دالله ﷻ نیك بنده او دهغه نبی وو ، د دوی ددی اعتراض په جواب کی دا ایت نازل سو (قرطبی)

دوهم روایت دا دی چی کله دقرآن کریم دا ایت، إِنَّكُمْ وَمَاتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ : بیشکه ای مشرکانو! تاسی او دکومو چی تاسی عبادت کوی هغه به دجهنم خشاك جوړیږی ، نازل سو، نو په دی باندی عبدالله بن الزّبعری، کوم چی دغه وخت کافر وو ، دا وویل چی ددی آیت خو زماسره بهترین جواب موجود دی اوهغه دا چی نصارٰی خو دحضرت مسیح (علیه السلام) عبادت کوی اویهود دحضرت عزیر (علیه السلام) نوایا دا دواړه به دجهنم خشاك جوړیږی؟ دا خبره چی دقریشو مشرکانو واوریده نو ډیر خوشحال سول په دی الله ﷻ یو خو دا ایت نازل کی چی ، إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنَى أُولَئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ : او دوهم دسورة زخرف دا لوړ ذکر سوی آیت (ابن کثیر وغیره)

دریم روایت دا دی چی یو وار دمکی مشرکانو دا بی هوده خیال ظاهرکی چی حضرت محمد ﷺ دخدایی دعوه کول غواړی دده مرضی دا ده چی لکه څنګه نصارٰی دحضرت مسیح (علیه السلام) عبادت کوی دغه شان مونږ هم دده عبادت کوو ، په دی باندی دا لوړ ایتونه نازل سو ، او په حقیقت کی په درو سره وو روایتونو کی څه تعارض نسته ، کفارو دی دری سره خبری کړی وی چی په جواب کی یی الله ﷻ داسی جامع ایتونه نازل کړل چی ددغو د درو سره وو اعتراضونو جواب په وسو ، ددی اخری اعتراض جواب خو په ذکر سوو ایتونو کی بالکل واضح دی چی کومو خلګو دحضرت مسیح (علیه السلام) عبادت شروع کړی دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی نه په څه خدایی حکم سره داسی کړی دی ، نه دحضرت مسیح ﷺ په خپله دا خواهش وو اونه قرآن دهغه تائید کوی ، دوی خو دحضرت عیسیٰ ﷺ په بی پلاره پیدا کیدو باندی غلط سوی وه او قرآن ددی مغالطی تردید کوی ، بیا دا څنګه ممکنه ده چی نبی کریم ﷺ (معاذ الله) دعیسایانو په لیدو سره دخپلی خدای دعوه وکی .

اوپه اول اوپه دوهم روایتونوکی دکفارو داعتراض مطلب تقریباً یودی دهغه جواب دذکر سوو ایتونو څخه داسی راوزی چی الله ﷻ چی کوم داسی فرمایلی وه چی دالله ﷻ څخه ماسوا چی څومره مخلوق معبودان جوړ سوی دی هغه به دجهنم خشاك وی یاحضور ﷺ چی کوم فرمایلی وه چی په دوی کی خیر نسته ، ددی څخه مراد هغه معبودان وه کوم چی یا خو بی جانه وه ، لکه ډبری بتان یاجاندار وه ، مګر په خپله یی دخپل عبادت حکم کړی وی یایی خوښ کړی وی ، لکه شیطانان ، فرعون اونمرود وغیره ، حضرت عیسیٰ ﷺ په هغوی کی څنګه داخلیدی سی ، څکه چی هغه خو په هیڅ مرحله هم خپل عبادت نه وو خوښ کړی ، نصارا دهغه دځه هدایت په بنا عبادت نه کوی بلکه هغه مونږ دخپل قدرت یوه نمونه جوړه کړی وه او بغیر دپلار څخه مو پیدا کړی وه ، چی خلګو ته دا واضحه سی چی دالله ﷻ په خپل تخلیق کی داسبابوڅه واسطی ته ضرورت نسته ، لیکن نصاراوو ددی څخه غلط مطلب واخیستی اومعبود یی ورڅخه جوړ کی، حال دا دی چی دهغه دا معبود جوړول عقلاًهم غلط وه اوپه خپله دحضرت عیسیٰ ﷺ ددعوت څخه هم بالکل خلاف وه ، څکه چی هغوی همیشه دتوحید تعلیم ورکړی وو ، غرض دا چی دحضرت عیسیٰ ﷺ دخپل عبادت څخه بیزاری ددی خبری څخه مانع ده چی هغه دنورو باطلو معبودانو په صف کی شامل کړل سی .

په دی سره دکفارو دا اعتراض هم ختم سو دکوم ذکر چی په لنډتفسیر کی راغلی دی چی کومو ته ته په خپله خیر وایی (یعنی حضرت عیسیٰ ﷺ) دهغوی هم عبادت سوی دی ، نو ددی څخه معلومه سوه چی دغیرالله عبادت څه بده خبره نه ده ، په ذکر سوو ایتونو کی ددی جواب واضح دی ، چی دحضرت عیسیٰ ﷺ کوم عبادت سوی دی ، هغه دالله ﷻ دمرضی څخه هم خلاف وو اوپه خپله دحضرت عیسیٰ ﷺ ددعوت څخه هم ، په دی وجه په دی سره دشرك په صحت باندی دلیل نه سی راوړی .

وَلَوْنَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ : دا دنصاراوو دهغه مطالبی جواب دی دکوم په بناچی دوی حضرت عیسیٰ ﷺ معبودمقررکړی وو ،هغوی دحضرت عیسیٰ په بی پلاره پیدا کیدوسره دده په خدایی دلیل نیولی وو ، باری تعالیٰ د دوی په تردیدکی فرمایی چی دی خومحض زمونږ دقدرت یوه مظاهره وه اومونږخوددی څخه هم زیات په خلاف عادت کارونوقادریو ، بغیردپلارڅخه پیداکیدل خوڅه ډیره زیاته خلاف عادت نه ده ، څکه چی حضرت ادم ﷺ خو بغیر دمور اوپلار څخه پیدا سوی وه که مونږ وغواړو نوداسی کارهم کولی سوچی تراوسه یی مثل نسته اوهغه داچی دانسانانوڅخه ملائکی پیدا کړی .

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ (اوبیشکه حضرت عیسیٰ ﷺ دقیامت دیقین کولو دپاره یوه ذریعه ده) ددی دوه تفسیرونه سوی دی ، یو هغه چی په لنډتفسیرکی بیان سو ، یعنی حضرت عیسیٰ ﷺ خلاف عادت بغیر دپلارڅخه پیداکیدل ، ددی خبری دلیل دی چی الله ﷻ بغیر دظاهری اسبابوڅخه هم خلګ پیداکولی

Maktaba Tul Ishaat.com

سی ، ددی څخه ثابته سوه چی مړی دوباره ژوندی کول هغه ته څه مشکل نه دی ، لیکن اکثرو مفسرینو ددی آیت مطلب دا بیوولی دی چی دحضرت عیسیٰ ﷺ دوباره دآسمان څخه نازلیدل دقیامت علامه ده ، چنانچی د دوی په اخره زمانه کی دوباره تشریف راوړل او ددجال قتلول په متواترو احادیثو سره ثابت دی ، ددی مسئلی څه تفصیل په سورة الِ عمران په آیت ، إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ الخ کی اوځه په سورة مائده کی تیرسوی دی ، دزیات تفصیل دپاره داحقر رسالة ، التصریح بِمَا تَوَاتَرَ فی نزول المسیح ، اود ، مسیح موعود کی پیهچان وغیره وګوری .

وَلِأُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ (او چی زه بیان کړم تاسی ته څینی هغه خبری په کوموکی چی تاسی اختلاف کوی) چونکی په بنی اسرائیلو کی دعناد او بغض غلبه وه ، په دی وجه دوی په څینو شرعی احکامو کی تحریف کړی وو ، حضرت عیسیٰ ﷺ ددی حقیقت واضح کی او ، څینی خبری ، یی څکه وفرمایل چی څینی کارونه خاص دنیوی وه ، حضرت عیسیٰ ﷺ به په هغه کی داختلاف رفع کولو ضرورت نه ووګڼلی (بیان القرآن)

هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَنْ تَأْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَهُمْ

اوس دا خبره ده چی دوی انتظار کوی دقیامت چی راسی په دوی نا څاپه او دوی ته

لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا

خبر هم نه وی ، څومره دوستان چی دی په هغه ورځ به دیو بل دښمنان وی مګر

الْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾ الَّذِينَ

کوم خلق چی بیریدونکی دی ، ای زما بندګانو ! نه څه بیر سته په تاسی نن ورځ او نه به تاسی غمجن سی ، کوم

آمَنُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنْتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ

چی یقین راوړی زمونږ په خبرو او سی حکم منونکی ، داخل سی جنت ته تاسی اوستاسی ښځیانی

تُحْبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِنْ ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ وَفِيهَا

په خوشحالی سره ، ګرځی به په دوی باندی تالی دسرو زرو اوپیالی اوهلته به وی

مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ وَأَنْتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٧١﴾

هغه چی زړه یی غواړی ، اوسترګی پر خوشحالیږي او تاسی به په هغه کی همیشه یاست ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾ لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ

او داهغه جنت دی کوم چی میراث پیدا کی تاسی په بدله دهغه کارونو کی چی تاسی کول تاسی دپاره په دی کی ډیری میوی دی

كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۳﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۷۴﴾

ددغوڅخه ځینی تاسی خوری ، بیشکه کوم خلق چی ګناهګار دی هغوی به د دوزخ په عذاب کی همیشه وی

لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا

سپك به نه‌ سی دهغوی څخه او هغوی به په کی نا امیده سوی پراته وی، اومونږ په هغوی ظلم ونه کی اولیکن وو

هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۶﴾ وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿۷۷﴾

هغوی بی انصافه، اواواز به وکی چی ای مالکه ! ووایه چی فیصله وکی زمونږ ستاربه، هغه به ووایی تاسی لره همیشه وسیدل دی

لنډتفسیر: دا خلګ (دحق واضح کیدو باوجود په باطل اصرار کوی نو) بس دقیامت انتظار کوی چی هغه په دوی ناڅاپه راسی او دوی ورڅخه خبر هم نه وی (دانکار باوجود دانتظار څخه مراد دا دی چی د دوی دلیلونه نه منل داسی دی ، لکه یو سړی چی دمشاهدی منتظر وی چی کله یی په سترګو سره ووینم نوهله به یی منم او دقیامت ددغی ورځی واقعات دا دی چی) ټول (ددنیا دوستان) به په دغه ورځ دیوبل دښمنان سی بغیر دهغو څخه کوم چی دخدای څخه بیریږی (یعنی ایماندارڅکه چی په دغه ورځ به دباطل د دوستی نقصان ښکاره سی نو خامخا به یی بده ګڼی او د دوستانو څخه به یی نفرت وی چی دنقصان سبب دغه خلګ سول او دحق د دوستی نفع اوثواب به ښکاره سی ، په دی وجه به دغه باقی وی اوهغو مومنانو ته به دالله ﷻ دطرف څخه اواز وسی) ای زما بندګانو! په تاسی نن څه بیره (واقع کیدونکی نسته) اونه به تاسی غمجن سی ، یعنی هغه بندګان کوموچی زمونږ په ایتونو ایمان راوړی وو او (علماً اوعملاً زمونږ) فرمانبردار وه ، تاسی اوستاسی (ایمانداری) بیبیانی په خوشحالی سره په جنت کی داخل سی (اوجنت ته دتلو څخه وروسته به د دوی دپاره دا وی چی) هغوی ته به دسرو زرو پلیټونه (دخوراك دشیانو څخه ډك سوی) اوګلاسونه (دشربتونو څخه ډك دسرو زرو یادبل شی) راوړل سی (یعنی غلمان به یی راوړی) اوهلته به هغه شیان ورکول کیږی کوم چی زړه غواړی اوپه کومو سره چی سترګوته خوند حاصلیږی او (دوی ته به وویل سی چی) تاسی دلته همیشه اوسیږی او (دابه ورته هم وویل سی چی) دا هغه جنت دی دکوم چی تاسی مالکان سواست (ستاسی څخه به هیڅکله نه سی اخیستل کیدی) دخپلو (نیکو) عملونو په بدله کی (او) ستاسی دپاره په دی کی ډیری میوی دی دکومو څخه چی خوری (داخو دایماندارو حال سو، مخ ته دکفارو ذکر دی چی) بیشکه نافرمان (یعنی کافران) خلګ به د دوزخ په عذاب کی همیشه وی اوهغه (په عذاب) کی مایوسه اوسیږی او (مخ ته دحق تعالی ارشاد دی چی) مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغوی (ذره) ظلم نه دی کړی (چې ناحق عذاب ورکوو) لیکن هغوی په خپله ظالمان وه (چې کفر اوشرک یی وکی خپل نقصان یی وکی) او (مخ ته دهغوی دباقی حال ذکر دی چې هرکله دنجات څخه بالکل مایوسه سی نو دغه وخت به دمرګ ارزوګانی کوی او د دوزخ دا روغه مالك نومی ملائکی ته) به اواز وکی چې ای مالکه! ته دعاوکړه چې) ستاپروردګار (مونږلره مرګ راولی او) زمونږ کار تمام کی هغه (ملائکه) به جواب ورکی چې تاسی به همیشه په دی حال کی اوسیږی (نه به ورڅخه وتی سی نه به مری)

معلومات اومسئلي

(دوستي په حقیقت کي هغه ده کومه چې دالله ﷻ دپاره وی)

الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ : تول دوستان به په دغه ورځ دیوبل دښمنان سی، بغیر دهغو څخه چې دخدای څخه بیریږی) دی آیت دا خبره په ډاګه بنکاره کړه چې دا دوستانه تعلقات په کوموچې انسان په دنیاکی ناز کوی او دکومو په خاطر چې حلال او حرام یو کوی ، دقیامت په ورځ به نه صرف دا چې په کار رانه سی ، بلکه دښمنان به سی ، چنانچې حافظ ابن کثیر ددی آیت لاندی دحضرت علی ﷺ دا ارشاد دمصنف عبدالرزاق اوابن ابی حاتم په روایت سره نقل کړی دی چې دوه دوستان مومنان وه او دوه کافران ، په مومنانو دوستانوکی دیو انتقال وسو او ده ته دجنت خوشخبری واورول سوه نوده ته خپل دوست را یادسو ، ده دعا وکړه چې یاالله! زما فلانی دوست به ماته ستا اوستا درسول ﷺ داطاعت تاکید کوی ، دنیکی حکم به یی راته کوی اودبدی څخه به یی منع کولم او دا به یی راته را یادوله چې زه به یوه ورځ تاته حاضریږم ، په دی وجه یاالله! دی زما څخه وروسته مه ګمراه کوی چې هغه هم (دجنت) دامناظر وویني ، کوم چې تاماته وښوول ، اوته چې څنګه زماڅخه راضی سوی ، دغه شان دهغه څخه هم راضی سه ، ددی دعاپه جواب کی به ده ته وویل سی چې که تاته معلومه سی چې ماستا دهغه دوست دپاره څه اجر اوثواب ایښی دی نو ته به ژاړی کوم اوخاوندی به زیات ، ددی څخه وروسته چې هرکله دبل دوست انتقال وسی نو د دواړو ارواحان به جمع سی ، باری تعالی به دوی ته وفرمایی چې په تاسی کی هر یو دی دبل تعریف وکی نو د دوی څخه هر یو به دبل په باره کی دا ووایی چې دابهترین ورور، بهترین ملګری اوبهترین دوست دی .

ددی برخلاف کله چې د دوو کافرو دوستانو څخه دیوه انتقال وسی اوخپل دوست یی وریاد سی ، دغه وخت به هغه دعاوکی چې یا الله! زما فلانی دوست به ماته ستا اوستا درسول ﷺ دنافرمانی کولو حکم کوی ، دبدی تاکید به یی راته کوی او دنیکی څخه به یی منع کولم اوماته به یی ویل چې زه به هیڅکله هم ستاپه حضورکی حاضرنه سم ، په دی وجه یاالله! چې زما څخه وروسته ده ته هدایت ونه سی چې هغه هم (د دوزخ) دا مناظر وویني کوم چې تاماته وښوول اوته چې څنګه زما څخه ناراضه سوی یی دغه شان دهغه څخه هم ناراضه سی ، ددی څخه وروسته به د دوهم دوست هم انتقال وسی نو د دواړو روحونه به یوځای سی او دوی ته به وویل سی ، چې په تاسی کی دی هر یو دبل ملګری تعریف وکی ، نو په هغوی کی به هر یو دبل په باره کی ووایی دا بد ترین ورور، بد ترین ملګری اوبد ترین دوست دی (ابن کثیر ص۱۳۴ ج ۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی وجه ددنیا اواخرت دواړوپه لحاظ سره بهترینه دوستی هغه ده کومه چی دالله ﷻ دپاره وی ، په کومو دوو مسلمانانو کی چی صرف دالله ﷻ دپاره محبت وی ، ددی ډیر فضیلتونه په احادیثو کی راغلی دی ، دکومو څخه چی یو دا دی چی په میدان دحشرکی به دا خلګ دالله ﷻ دعرش دسایی لاندی وی ، او دالله دپاره دمحبت مطلب دا دی چی دبل سره یی په دی بنا تعلق وی چی هغه دالله ﷻ ددین رښتینی پیرو کار دی چنانچی ددینی علمونو داستاذ شیخ مرشد ، علماء اواهل الله سره دارنګه دټولی دنیا دمسلمانانو سره بی اختیاره محبت په دی کی دا خل دی .

لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۸﴾

مونږ راوړی دی تاسی ته حق دین اولیکن ډیر خلق په تاسی کی حقه خبره بده ګڼی ،

اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ اَمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ

آیا دوی مقرر کړی ده یوه خبره مونږ به هم مقرر کړو ، آیا خیال کوی چی مونږ نه اورو د دوی رازونه

وَنَجْوٰىهُمْ ؕ بَلٰى وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۸۰﴾ قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ

او د دوی مشوری ، ولی نه او زمونږ لیږلی سوی د دوی سره دی چی لیکی یی ، ته ووایه که وی درحمن دپاره

وَلَدٌ ۖ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبِّ

اولاد ، نو زه به یی اول دټولو څخه عبادت کوم ، پاك دی هغه رب دآسمانونو اودمځکی رب

الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا

دعرش دهغه خبروڅخه چی دوی یی بیانوی ، نو پریږده دوی چی عبث کوی او لوبی کوی تردی چی مخامخ

يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۸۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي

سی دهغه ورځی خپلی سره چی د دوی سره یی وعده سوی ده ، اوهغه دی چی عبادت یی کیږي په اسمان کی

الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۴﴾ وَتَبٰرَكَ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

اوعبادت یی کیږي په مځکه کی ، اوهغه دی حکمت والا په هرڅه پوه ، اولوی برکت دی هغه لره چی حکومت یی دی

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۵﴾

په اسمانونو کی اوپه مځکه کی اوڅه ددې په مابین کی دی ، او هغه سره دی علم دقیامت ، اوهغه ته به بیابیرته راسی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنْ شَهِدَ

او اختیار نه لری هغه څوك چی دوی یی بولی ماسوا دهغه څخه دشفاعت مگر هغه چا چی شاهدی یی وکړه

بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ

په حقه او دوی پوه دی ، او که ته پوښتنه وکړی د دوی څخه چی چا پیدا کړل دوی نو وبه وایی چی الله

فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۸۷﴾ وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ فَاصْفَحْ

بیا کومی خواته چپه چلیږي ، قسم دی درسول په دی خبره چی ای ربه دا خلق دی چی یقین نه کوی ، نو ته مخ

عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ؕ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾

واړوه د دوی څخه او ووایه سلام دی ، نو ژر به دوی پوه سی .

لنډتفسیر: (اولور چی دکومو سزاګانو بیان وسو دهغه وجه دا ده چی) مونږ ربښتنی دین (چی رکن اعظم یی په توحید او رسالت عقیده ده) تاسی ته ورسوی ، لیکن په تاسی کی اکثره خلک دربښتنی دین څخه نفرت کوی (اکثره خلک خو یی په دی وجه وویل چی څینی خلک اتنده ایمان راوړونکی وه اویا څکه چی نفرت خو په صحیح معنٰی سره څینوته وو نورو څینو محض په تقلید سره حقه لار پریښی ده ، او دا نفرت شامل دی ، مخالفت درسول او مخالفت دتوحید دواړوته ، مخ ته د دواړو تفصیل دی چی) البته ایادوی (رسول ته دنقصان رسولو په باره کی) څه انتظام برابر کړی دی نو مونږهم یوانتظام برابرکړی دی (اوظاهره ده چی دخدایی انتظام په مخکی د دوی انتظام نه سی چلیدی چنانچی ته محفوظ سوی اوهغه خلک ناکامه سول اواخر په بدرکی هلاك سول ، ددی په تفصیل سره ذکر دسورة انفال په څلورمه رکوع آیت ، وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِيُثْبِتُوْكَ الخ کی تیرسوی دی) البته (داخلک کوم چی تاته دنقصان رسولو دپاره پټ تدبیرونه کوی) ایاددی خلکو داخیال دی چی مونږ دهغو پټی پټی (سوی) خبری او دهغوی (پټی) مشوری نه اوروو (کنه نوکه مونږ یی اوریدونکی ګڼلی نوبیابه یی داسی جرأت ولی کوی؟ مخ ته د دوی ددی خیال تردید فرمایی چی) مونږ خامخا (اورو او ددی څخه علاوه) زمونږ ملائکی (کومی چی عملونه لیکی) دهغوی سره دی هغوی هم لیکی (که څه هم ددی ضرورت نسته، لیکن عام عادت دا دی چی دمجرم دپاره دپولیسو لیکل سوی رپورټ دحاکم دمعائنی څخه زیات قابل الزام وی ، داخو د دوی درسول دمخالفت بیان سو ، مخ ته دتوحید دمخالفت په باره کی فرمایی چی ای پیغمبره ﷺ ته (دی مشرکانوته) ووایه چی (تاسی کوم په خپلو څینو مشرکانه خبرو کی دحق تعالی طرف ته داولاد نسبت کوی نو) که چیری (به فرض محال داسی وی یعنی) دخدای رحمٰن اولاد وی نو دتولوڅخه اول دهغه عبادت کوونکی زه یم (څنګه چی تاسی ملائکی دخدای لونی ګڼی اوعبادت یی کوی دغه شان به ماهم په دغه صورت کی دخدای داولاد عبادت کوی مطلب داچی زه ستاسی په شان دحقی خبری څخه انکارنه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم که تاسی یی ثابته کی نو دتولوځخه اول به یی زه ومنم اوهرکله چی ورته دخدای اولاد ومنم نو چونکی دخدای اولادهم خدای په کار دی ، اوخدای مستحق دعبادت دی ، په دی وجه به زه دهغه عبادت هم کوم ، مگر چونکی داکار محضِ باطل دی ، په دی وجه یی زه نه منم اونه یی عبادت کوم مخ ته دشرك ځخه دالله ﷻ دپاکوالی بیان دی یعنی) دآسمانونو اودمځکی مالك کوم چی دعرش هم مالك دی دهغو خبرو ځخه منزه دی کوم چی دا (مشرکان) خلګ (دهغه په جناب کی) بیانوی (هرکله چی داخلګ دحق واضح کیدو باوجود دخپل بغض ځخه نه راګرځی) نوته دوی په دی شغل اولوبو کی پریږده ، تر دی چی دوی دخپلی هغه ورځی سره مخامخ سی دکوم چی د دوی سره وعده کیږی (دغه وخت به ټول حقیقت معلوم سی اود ، پریښودو ، مطلب دا نه دی چی تبلیغ مه کوه بلکه مطلب دا دی چی د دوی مخالفت ته مه ګوره او د دوی په ایمان نه راوړو غمجن کیږه مه) اوهغه ذات کوم چی په آسمانونو کی هم دعبادت قابل دی اوپه مځکه کی هم دعبادت قابل دی اوهغه لوی حکمت والا اولوی علم والا دی (بل هیڅوك په علم اوحکمت کی دهغه سره شریك نسته ، نو خدایی هم دهغه سره خاصه ده) اوهغه ذات لوی عالی شان دی دکوم دپاره چی دآسمانونو اودمځکی اوکوم چی ددی په مینځ کی (مخلوقات) دی دهغه حکومت ثابت دی او (علم یی داسی کامل دی چی) هغه ته دقیامت خبر (هم) دی (دکوم چی هیڅ مخلوق ته پته نسته) او (دجزا اوسزا مالك هم هغه دی چنانچی) تاسی ټول به هغه ته واپس کیږی (اوهغه لره به حساب ورکوی) او (دغه وخت به دالله ﷻ بغیر دشرکت دغیر ځخه دجزا اوسزامالکوالی داسی ظاهر اوښکاره سی چی) دخدای ځخه ماسواکوم معبودان داخلګ بولی هغه به دسفارش (قدر) اختیارنه لری البته کوموخلګوچی دحقی خبری (یعنی دایمان دکلمی) اقرارکړی وو اوهغه یی (په زړه سره) تصدیق هم کوی (هغوی به البته دالله ﷻ په اذن دایماندارو سفارش کوی ، مگر د دوی ځخه کفاروته څه فائده ده؟) او (مونږ چی کوم لوړ دتوحید مضمون بیان کړی دی ، په کوم کی چی داخلګ اختلاف کوی نو ددغه مقدماتی خو دوی هم تسلیموی چنانچی) که ته د دوی ځخه پوښتنه وکی چی دوی (یعنی تاسی) چاپیدا کړی دی نودابه ووایی چی الله ﷻ (پیدا کړی دی) نو (ظاهره ده چی مستحق دعبادت هغه کیدی سی کوم چی په پیدا کولو قادر وی ، نو) دا خلګ (مقدماتی خومنی مګربیا دمطلوب دمنلوپه وخت کی خدای خبرچی) کوم طرف ته چپه چلیږی (ددی ټولو خبرو ځخه واضحه ده چی ددی کافرانو جرمونه څومره سخت دی ، په دی وجه سزابه یی هم یقیناً چی سخته وی اومخ ته دسزا سختی زیاته دموکد کولو دپاره یوه بله خبره بیان فرمایی چی لکه څنګه چی الله ﷻ دقیامت ځخه خبر دی ، دغه شان) هغه ته درسول الله (ﷺ) ددی خبری هم خبر دی چی ای زماربه! دا داسی خلګ دی چی (سره زما د دومره پوهولوځخه) ایمان نه راوړی (په دی سره دسزا سختی نوره زیاته سوه چی جرمونه خوی یی سخت وه ددی سره درسول نالش هم موجود دی ، نو پوهیدل په کار دی چی څومره سخت عذاب به وی ، اوهرکله چی تاته دا معلومه سوه چی د دوی انجام داسی کیدونکی دی) نو ته د دوی ځخه مخ واړوه (یعنی د دوی دایمان داسی امید مه ساته کوم چی وروسته موجب دغم وی) او (که هغوی ستا سره دمخالفت اوجهالت خبری کوی نو ته دشر رفع کولو دپاره) داسی ووایه چې تاسی ته سلام کوم (اونور هیڅ نه وایم اونه درسره څه واسطه لرم ، مخ ته الله ﷻ دتسلی دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمایی چی ته لږ صبر وکړه) نو دوی ته به اوس (دمرګ سره) معلومه سی.

معلومات اومسئلې: إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ (که دالله رحمٰن څوك اولاد وی نو دتولو څخه مخکی به مادهغه عبادت کوی) ددی مطلب دا نه دی چی معاذ الله دخدای داولاد کیدو په څه درجه کی هم امکان سته، بلکه مقصد په اصل کی دا ښودل دی چی زه ستاسی دعقیدو انکار په څه عناد یابغض سره نه کوم، بلکه ددلیلونو په وجه سره یی کوم که په صحیح دلیلونو سره دالله ﷻ داولاد وجود ثابتیدی نو مابه ضرور منلی وای، مګر دعقل اونقل هر یو دلیل ددی تردید کوی، په دی وجه دمنلو یی هیڅ سوال نه پیدا کیږی، ددی څخه معلومه سوه چی داهل باطلو سره دمباحثی په وخت کی دخپلی حق پسندی وریادولو دپاره دا ویل جائز او مناسب دی چی که ستاسی وعده په صحیح دلیلونو سره ثابته وای نومابه تسلیمه کړی وای، ځکه چی ځینی وخت دخبرو په داسی انداز سره دمخالف په زړه کی داسی نرمی پیدا کیدی سی، کومه چی هغه حق قبلولو ته تیارکی.

وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَا يُؤْمِنُونَ: داجمله یی ددی خبری دواضحه کولو دپاره راوړی ده چی په دی کافرانو دالله ﷻ دعذاب نازلیدو څومره سخت اسباب موجود دی، یوطرف ته خو د دوی جرمونه فی نفسه سخت دی، دوهم طرف ته دغه رسول کوم چی رحمت دمخلوقاتو اوشفاعت کوونکی دګناهګارو جوړ سوی اورالیږل سوی دی (ﷺ) کله چی په خپله ددی خلګو څخه شکایت وکی او دا وفرمایی چی دا خلګ دبار بار پوهولو باوجود ایمان نه راوړی نو اندازه ولګوی چی دوی به نبی کریم ﷺ ته څومره تکلیف رسولی وی، کنه نو په معمولی تکلیف باندی رحمة لّلعٰلمین ﷺ ته داسی د درد څخه ډك شکایت نه فرمایی، ددی تفسیر مطابق، وَقِيلِهِ یو آیت مخکی په لفظ دَالسَّاعَةِ باندی معطوف دی، ددی آیت نور هم دیر تفسیرونه سوی دی، مثلاً دا چی دلته واو دعطف نه دی بلکه دقسم دی، يَارَبِّ دقیل مقوله ده اوانَّ هٰٓؤُلَآءِ الخ جواب دقسم دی ددی تفسیرونوتفصیل عالمان په روح المعانی وغیره کی لیدلی سی وَقُلْ سَلَٰمٌ په آخرکی هغه تلقین سوی دی کوم چی دحق هر داعی ته همیشه سوی دی چی دمخالفینو ددلیلونو اوشبهو جواب خو ورکوه لیکن هغوی چی کومی دجهالت اوحماقت یا دکبنځلو خبری کوی، ددی جواب د دوی په ژبه دورکولو په ځای خاموشی اختیارکړه او دا چی یی کوم فرمایلی دی چی، ووایه تاسی ته سلام کوم، ددی مقصد دا نه دی چی دوی ته، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ، ووایه، ځکه چی یوغیر مسلم ته په دی الفاظو سره سلام کول جائز نه دی، بلکه دا یوه محاوره ده چی هرکله دیو سړی سره قطع تعلق کول وی نو وایی چی، زما دطرف څخه سلام یا، تاته سلام کوم، ددی څخه په حقیقی طورسره کول مقصود نه وی، بلکه مطلب دا وی چی زه په ښه طور سره ستاسی څخه قطع تعلق کول غواړم، په دی وجه کومو حضراتو چی ددی آیت څخه دلیل نیولی دی اوکافرانو ته یی اَلسَّلَامُ عَلَيْكُم یاسَلَامٌ ویل جائز کړی دی دهغوی قول مرجوح دی (روح المعانی)

اَلْحَمْدُلله په تاریخ د(۳) رجب په ورځ د دوشنبی په وخت دماخستن دسورة زخرف تفسیر په اوو (۷) ورځوکی مکمل سو

والحمدلله اولاً واخراً وصلی الله علی خیر خلقه محمد وعلی اله واصحابه اجمعین.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة الدخان﴾

سُوْرَةُ الدُّخَانِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة دخان په مکه کی نازل سو په دی کی نهه پنځوس (۵۹) آیتونه اودری (۳) رکوع ګانی دی.

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا

قسم دی په دی واضح کتاب ، مونږ دا نازل کی په یوه برکت ناکه شپه کی مونږ یو خبر

مُنْذِرِيْنَ ﴿۳﴾ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ﴿۴﴾ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا اِنَّا كُنَّا

ورکوونکی ، په دی کی جلا کیږي هر یو کار دحکمت ، حکم کیدل زمونږ دطرف څخه مونږیو

مُرْسِلِيْنَ ﴿۵﴾ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶﴾ رَبِّ السَّمٰوٰتِ

لیږونکی ، په رحمت سره ستا د رب دطرف څخه ، هغه دی اوریدونکی پوهیدونکی ، رب داسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۷﴾ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ

او دمځکی او څه چی په دی کی دی ، که تاسی یقین کوی ، نسته لائق دعبادت ماسوا دهغه څخه ژوندی کوی

رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸﴾ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ﴿۹﴾

اومړه کوی ، رب ستاسی او رب ستاسی دتیرو پلارانو نیکه ګانو ، داسی نه ده بلکه هغوی په دوکه کی لوبی کوونکی دی

لنډتفسیر: حٰمٓ (ددی معنی الله ﷻ ته معلومه ده) قسم دی په دی واضح کتاب (چی معنی یی واضحه ده) چی مونږ دا (دلوح محفوظ څخه آسمان ددنیاته) په یوه برکت والا شپه (یعنی شب قدر) کی نازل کی (ځکه چی) مونږ (په وجه دشفقت په خپله اراده کی خپلو بندګانوته) خبردارکوونکی وو (یعنی مونږته دامنظوره سوه چی دوی دمضرتونوڅخه دبچ کولو دپاره په خیر اوشر باندی خبردارکړو، دا دقرآن دنازلولو مقصدوو مخ ته ددغه شپی دبرکتونو اونفعو بیان دی چی) په دی شپه کی هره یوه حکمت والا معامله زمونږ په مخکې حکم (صادر) کیږی طی کیږی (یعنی دتول کارمعاملی کوم چی سراسر تولی په حکمت مبنی وی څنګه انجام ته رسول یی چی الله ﷻ ته منظور وی په هغه طریقه سره متعین کولی اواطلاع یی متعلقه ملائکوته ورکول کیږي دوی ته سپارل کیږي ، چونکی هغه شپه داسی ده اودقرآن نازلول دتولو څخه زیات حکمت والا کار وو په دی وجه ددی دپاره هم داشپه منتخب سوه اودا قرآن ځکه نازل سوچی)

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږ په وجه درحمت کوم چی ستا درب دطرف څخه وی ستا پیغمبر جوړونکی وو (چی ستاپه معرفت سره خپل بندګان خبردارکی) بیشکه هغه لوی اوریدونکی لوی پوهیدونکی دی (په دی وجه دبندګانو رعایت کوی اوهغه داسی دی) کوم چی مالك دی دآسمانونواودمځکی اوکوم (مخلوق)چی ددی دواړوپه مینځ کی دی دهغه هم که تاسی یقین کوی(نودادتوحید دلیلونه دیقین کولو دپاره کافی موجود دی ، مخ ته دتوحیدوضاحت دی چی) دهغه څخه ماسوابل څوك لایق دعبادت نسته هغه دی روح ورکوونکی اوهغه دی روح ایستونکی هغه ستاسی هم پروردګار دی اوستاسی دتیرو پلارانو نیکونو هم پروردګار دی (او ددی تصریح او وضاحت تقاضا خو دا وه چی دغو خلګو منلی وای مګر دغه خلګ یی بیاهم نه منی) بلکه هغوی (دتوحیدپه شان دحقیقتونو څخه) په شك کی (پریوتی) دی (اوپه دنیوی) مشغلو کی مصروف دی (داخرت فکر ورسره نسته کوم چی دحق طلب وکی اوپه دی کی دفکر کولو څخه کارواخلی .

معلومات اومسئلي : دسورة فضیلت : دحضرت ابو هریره ؓ څخه روایت دی ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دجمعی په شپه کی سورة دخان ووایی نوسهار ته به دده ګناهونه معاف سوی وی اودحضرت امامه ؓ څخه روایت دی ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی چا دجمعی په شپه یا په ورځ کی سورة دخان ووایه الله ﷻ به دهغه دپاره په جنت کی کور جوړکی (قرطبی بروایت ثعلبی)

په ذکر سوو ایتونوکی دقرآن دعظمت اوخاصو صفتونو بیان دی ، وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ : یعنی دواضح کتاب څخه مراد قرآن دی ، په دی آیت کی الله ﷻ په قرآن قسم اخیستی دی او ارشاد یی فرمایلی دی چی دا مونږ په یوه شپه مبارکه کی نازل کی چی مقصد یی دغافلو انسانانو بیدارول دی ، دغه شان قسم په دی الفاظو سره دسورة زخرف په اول کی هم تیر سوی دی ، هلته ددی بیان تیر سوی دی .

لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ : څخه مراد دجمهورو مفسرینو په نزد شب قدر دی ، کومه چی درمضان المبارك په اخری لسوکی وی ، دی شپی ته یی څکه مبارك ویلی دی چی په دی شپه کی دالله ﷻ دطرف څخه په خپلو بندګانو بی شمیره خیر اوبرکات نازلیږی اودقرآن کریم په شب قدر کی نازلیدل په سورة قدرکی په وضاحت سره راغلی دی ، إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ددی څخه ظاهره سوه چی دلته هم د لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ څخه مراد شب قدر دی او په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ څخه منقول دی، چی الله ﷻ څومره کتابونه ددنیا دابتداء څخه تر اخره پوری په خپلو پیغمبرانو باندی نازل کړی دی هغه ټول په رمضان المبارك په مختلفو تاریخونو نازل سوی دی ، دحضرت قتاده ؓ څخه په روایت دحضرت واثله ؓ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دحضرت ابراهیم ؑ صحیفی درمضان په اول تاریخ کی اوتورات درمضان په شپږم تاریخ کی، زبورپه دولسم تاریخ، انجیل په اتلسم تاریخ اوقرآن دځلور ویشتم تاریخ دتیریدو څخه وروسته یعنی په پنځ ویشتمه شپه نازل سو (قرطبی)

دقرآن په شب قدرکی دنازلیدو مطلب دا دی چی دلوح محفوظ څخه ټول قرآن لاندی (اول) اسمان ته په دی شپه نازل سوی وو، بیاپه درویشت کاله موده کی لږلږ په نبی کریم ﷺ باندی نازلیدی اوځینی حضرات فرمایی چی په هرکال کی به څومره قرآن نازلیدل مقدر وو، دومره به په شب قدرکی دلوح محفوظ څخه اول آسمان ته نازل سو (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

اودځینو مفسرینو عکرمه ﷺ اونورو ځخه نقل دی چی دوی په دې آیت کی د: لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ ځخه مراد شب برات یعنی دشعبان پنځلسمه شپه مقرر کړی ده، مګرپه دی شپه کی دقرآن نازلیدل دنورو تولو نصوصو دقرآن اوروایتونو شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ او، إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ: په شان دواضحو نصوصو په موجودګی کی بغیر دځه قوی دلیل ځخه نه سی ویل کیدی چی دقرآن نزول په شب برات کی سوی دی البته دشعبان پنځلسمه شپه یی په ځینو روایتونو دحدیث کی په شب براءت یالیلة الصّك په نوم سره تعبیرکړي ده او ددی شپی مبارکوالی اوپه دی کی دالله ﷻ درحمتونو دنزول ذکر دی ، ددی سره په ځینو روایتونوکی دا مضمون هم راغلی دی کوم چی دلته دشپی مبارکی په صفت کی راغلی دی ، یعنی ، فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا : یعنی په دی شپه کی دهرحکمت والا معاملی فیصله زمونږ دطرف ځخه کول کیږی ، چی معنی یی حضرت ابن عباس ﷺ دا فرمایلی ده چی دا شپه په کومه کی چی دقرآن نزول وسو یعنی ، شب قدر، په دی کی دمخلوقات متعلق تول اهم کارونه دکومو فیصلی چی په دی کال کی تر راتلونکی شب قدر پوری واقع کیدونکی وی طی کیږی چی څوك څوك به په دی کال کی پیداکیږی څوك څوك به په دی کی مری ، چاته به څومره رزق په دی کال کی ورکول کیږی دا تفسیر دنورو امامانو دتفسیر حضرت قتاده ﷺ ، مجاهد ﷺ ، حسن ﷺ وغیره ځخه هم منقول دی او مهدوی رحمه الله فرمایی چی معنی ددی دا ده چی دا تولی فیصلی کومی چی په تقدیر الهی کی دمخکی ځخه طی سوی وی ، په دی شپه کی متعلقه ملائکو ته سپارل کیږی ، ځکه چی دقرآن اوسنت نورنصونه په دی شاهد دی چی الله دا فیصلی دانسان دپیدائش ځخه هم مخکی په ازل کی لیکلی وی ، نو په دی شپه کی دهغه دطی کولو مطلب دا کیدی سی چی دقضا او قدر نفاذ چی دکومو ملائکوپه ذریعه کیږی ، په دی شپه کی دغه سالانه احکام دوی ته سپارل کیږی (قرطبی)

چونکی دحدیث په ځینو رایتونو کی دشب براءت یعنی پنځلسمی شپی شعبان متعلق هم راغلی دی چی په دی کی دعمرونو او رزقونو فیصلی لیکل کیږی ، په دی وجه ځینو حضراتو په ذکر سوی آیت کی دمبارکی شپی تفسیر په شب براءت سره کړی دی ، مګر دا صحیح نه ده ځکه چی دلته په دی شپه کی دقرآن دنزول ذکر دتولو ځخه اول دی او دا په رمضان کی کیدل دقرآن دنصوصو ځخه متعین دی ، او دشب براءت متعلق چی کوم دا مضمون په ځینو روایتونوکی راغلی دی چی په دی کی دارزاقو وغیره فیصلی کیږی اول خو ابن کثیر ددی متعلق فرمایی چی دا روایتونه مرسل دی اوداسی روایتونه دصحیح او واضحو نصوصو په مقابله کی قابل اعتماد نه سی کیدی دغه شان قاضی ابوبکر ابن عربی فرمایی چی دپنځلسمی شپی دشعبان په باره کی څه قابل اعتماد روایت داسی نسته چی دهغه ځخه ثابته سی چی درزق اومرګ ژوند فیصلی په دی شپه کی کیږی ، بلکه دوی فرمایی چی ددی شپی په فضیلت هم څه قابل اعتماد حدیث نه دی راغلی ، لیکن په روح المعانی کی یوبلا سنده روایت دحضرت ابن عباس ﷺ ځخه ددی مضمون نقل سوی دی چی درزق اومرګ اوژوند وغیره فیصلی دشعبان په پنځلسمه شپه کی کیږی اوپه شب قدرکی ملائکو ته حواله کیږی که دا روایت ثابت سی نو دغه شان به په دواړو قولونو کی تطبیق وسی ، کنه نو اصل خبره کومه چی دظاهر قرآن اوصحیح احادیثو ځخه ثابته

Maktaba Tul Ishaat.com

ده هغه دا ده چی په سورة دخان کی په دی ذکر سوی آیت کی ، لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ، ده، اود: فِيهَا يُفْرَقُ وغیره الفاظ دشب قدرمتعلق دی، پاته سوه دشب برات دفضیلت معامله پس هغه یوه مستقله معامله ده کومه چی په څینو روایتونو دحدیث کی منقول ده ، مګر هغه اکثر ضعیف دی ، په دی وجه ابوبکربن عربی ددی شپی دځه فضیلت څخه انکار کړی دی ، لیکن دشب برات دفضیلت روایتونه که څه هم دسند په اعتبار سره دضعف څخه یو هم خالی نسته لیکن په تعدد دطرقو اوپه تعدد دروایتونو سره دوی ته هم یوقسم قوت حاصلیږی په دی وجه ډیرو مشائخو دوی قبول کړه ، ځکه چی په فضائلو داعمالوکی په ضعیفو روایتونو باندی هم دعمل کولو ګنجائش سته ، والله تعالی اعلم

فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾ يَّغْشَى النَّاسَ ۖ هٰذَا عَذَابٌ

نو ته انتظار کوه دهغه ورځی چی راوړی آسمان دود ښکاره ، چی ګیرکړی به یی وی خلق دا دی عذاب

أَلِيمٌ ﴿١١﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾ أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ وَقَدْ

دردناك ، ای ربه! لیری کړی زمونږ څخه دا آفت مونږ یقین راوړو ، دکومه به ورکول سی دوی ته نصیحت او

جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا

راغلی دی دوی ته ښکاره بیان کوونکی ، بیا یی ورڅخه مخ واړوی او وې ویل پوه کړل سوی لیونی دی ، مونږ

كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴿١٥﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ

لیری کوو دا عذاب دلږ وخت پوری ، تاسی به بیا هغه کوی ، په کومه ورځ چی ونیسو مونږ په

الْكُبْرَىٰ ۚ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾

لویو نیولو سره ، بیشکه مونږ بدله اخیستونکی یو.

لنډتفسیر: (اوکله چی داخلګ دواضح کیدو باوجود نه منی) نو ته (د دوی دپاره) دهغه ورځی انتظارکوه چی دآسمان دطرف څخه په نظر راتلونکی دود پیدا سی کوم چی په دی ټولو خلګو باندی عام سی دا (هم) یوه دردناکه سزاده (کومه چی به دوی ته وی ، ددی څخه مراد دغلی قحطی ده په کومه کی چی دمکی خلګ دنبی کریم ﷺ په ښراوو سره اخته سوی وه اودا ښیری یووارپه مکه کی سوی وی اویو وارپه مدینه منوره کی اوقاعده ده چی سخته لوږه اوتنده دآسمان اومځکی په مینځ کی دسترګو په مخکی ددود شان په نظر راولی ، غرض دمکی خلګ په خپلو ځانونو پوری تنګ سول اوعاجزی یی شروع کړه چنانچی دپیشګویی په طور فرمایی چی دغه وخت به دالله ﷻ په دربارکی عرض کوی چی) ای زمونږ ربه زمونږ څخه دامصیبت لیری کړی مونږ ضرور ایمان راوړو (چنانچی پیش ګویی داسی پوره سوه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوسفیان اونورو قریشو دوی ته ولیکل هم اوراغلل هم چی ته دعا وکړه اوثمامه رئیس دیمامه کوم چی غله بنده کړی وه پوه کړی اودروح صاحب دابو سفیان دایمان وعده هم نقل کړي ده مخ ته د دوی دا وعده په زړه سره نه کول ارشاد فرمایی چی) دوی ته به (په دی سره) کله نصیحت حاصل سی (په کوم سره چی د دوی دایمان توقع وسی) حال دا دی چی (ددی څخه مخکی) دوی ته په ظاهر شان سره پیغمبر رالی (چی دنبوت شان یی ظاهروو) بیاهم دی خلګو دهغه څخه مخ واړوی اودایی وویل چی (بل چا) دی پوه کړی دی (او) لیونی دی (نو هرکله چی د دومره لوی رسول په راتلوچی درسالت په دلیلونوکی یی هیڅ تاویل نه سی کیدی ، دی خلګو ایمان راوړی ، نو په قحطی باندی چی په دی کی بی انصافه سړی دا هم احتمال راوایستی سی چی دایو معمولی واقعه ده چی دطبعی اسبابو لاندی سویده او دکفر سزا نه ده ، کله ورڅخه دایمان راوړلو امید دی.

ددوی دا وینا محض دفع الوقتی ده ، مګر خیر) مونږ (دحجت تمامولو دپاره) لږ نور دا عذاب لیری کوو (مګر) تاسی به بیاپه خپل هغه حالت باندی سی (چنانچی داپیش ګویی داسی پوره سوه چی دوی دعاوکړه ، باران وسو اوثمامه ته یی هم خط ولیکی چی غله دی راپریږدی اودمکی خلګوته تسلی نصیب سوه ، مګر ایمان یی څه راوړی بلکه دمخکی څخه هم زیات سرتیزه اوزور شور کوونکی سول او ، ترلږ وخت پوری ، یی څکه وفرمایل چی ددی عذاب دواپس کیدو موده صرف تردنیوی ژوند پوری ده ، بیا دمرګ څخه وروسته چی کوم مصیبت راسی دهغه خاتمه هیڅکله نسته ، چنانچی ارشاد دی چی) په کومه ورځ یی مونږ په سختو نیولو سره ونیسو (په هغه ورځ) به مونږ (پوره) بدله واخلو (یعنی په اخرت کی به پوره سزا وی)

معلومات اومسئلې : په ذکرسوی آیت کی چی دکوم دُخانِ مبین ذکر په طور دپیشګویی راغلی دی ، چی ته انتظار کوه ، دهغه واضح دود چی به په آسمان وی اوپه خلګو راسی ، ددی متعلق دصحابه وو اوتابعینو څخه دری قولونه منقول دی ، اول دا چی دا دقیامت دعلامو څخه یوه علامه ده ، کومه چی به قیامت ته بالکل قریب واقع کیږی ، دا قول دحضرت علی مرتضٰی، ابن عباس ﷺ ابن عمر ﷺ ابوهریره ﷺ اوزیدبن علی ﷺ اوحسن بصری ﷺ اوابن ابی ملیکه رحمه الله وغیره دی اوحضرت ابوسعید خدری ﷺ اوحذیفه بن اسید غفاری ﷺ څخه داقول مرفوعًا هم روایت سوی دی چی ددی تفصیل مخ ته راځی. دوهم قول دادی چی پیشګویی واقع سوې ده او ددی مصداق دمکی مکرمی قحط دی کوم چی دنبی کریم ﷺ په بنراوو سره په دوی مسلط سوی وو ، هغوی دلوږی څخه مړه کیدل ، مرداری به یی خوړل ، په آسمان باندی به په ځای دباران او وریځی هغوی ته دود په نظر راتلی ، دا قول دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ وغیره دی ، دریم قول دا دی چی ددی دود څخه مراد هغه ګرد اوغباردی کوم چی دمکی دفتح په ورځ دمکی مکرمی پراسمان غوړول سوی وو ، دا قول دعبد الرحمٰن اعرج ﷺ وغیره دی (قرطبی)

زیات معروف اولنی دوه اقوال دی ، د دریم قول متعلق ابن کثیر فرمایی (دا قول ډیر غریب دی بلکه منکر دی) دباقی دوو ذکر په صحیح احادیثو کی راغلی دی ، روح المعانی دوهم قوله ته ترجیح ورکړی ده او په ذکر سوی لنډتفسیر دبیان القرآن یی دا اختیار کړی ده ، دابن کثیر اوقرطبی څخه داولنی قول

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجیح معلومیږی ، والله اعلم ، د دواړو اقوالو دروایتونو ذکر څه داسی دی ، په صحیح مسلم کی دحضرت حذیفه بن اسید ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ دیوی بالاخانی څخه مونږ ته وکتل ، مونږپه خپل مینځ کی دعلاماتِ قیامت تذکره کوله ، دوی وفرمایل چی قیامت به ترهغه پوری قائم نه سی ، ترڅو پوری چی تاسی لس نښانی ونه وینی ، دلمر دمغرب طرف څخه راختل اودود اودابة الارض اودیاجوج ماجوج راوتل اودعیسیٰ ﷺ نزول او ددجال راوتل اودری مځکی ننوتل یوه په مشرق کی اوبله په مغرب کی ، دریمه په جزیرة العرب کی اواور چی دقعر عدن څخه به راووزی خلک به شړی کوم ځای چی خلک دشپی دخوب دپاره ودریږی ، دی به هم ودریږی اوکوم ځای چی خلک دغرمی دارام دپاره ودریږی ، دی به هم ودریږی (ابن کثیر)

ابن جریر دابو مالك اشعری ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زه تاسی د درو شیانو څخه بیروم یو د دود څخه کوم چی به مومن ته یوقسم زکام پیداکړی اودکافرپه ټول بدن کی به ننوزی تردی چی دهریوی سایی اومسام څخه به یی راوزی اودوهم شی دابه ده (کوم چی به یوعجیبه قسم حیوان دمځکی مخ ته راووزی) اودریم دجال ، دا روایت ابن کثیر نقل کړی دی فرمایی چی (ددی اسناد جید دی) ددی مضمون یو روایت په حواله دابن ابی حاتم دحضرت علی کرم الله وجهه څخه هم ابن کثیر نقل کړی دی چی ددخان پیشگویی تیره سوی نه ده (بلکه قیامت ته نژدی به) دا دود دمومن دپاره یوقسم زکام پیداکی اوکافرته به دومره ورننوزی چی دده دهر وریښته دسوری څخه به راووزی ، دغسی یو مضمون په حواله دابن جریر دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه اوحضرت ابن عباس ﷺ څخه هم نقل سوی دی چی ددی دنقل کولو څخه وروسته ابن کثیرفرمایی .

وهذا إسناد صحيح إلى ابن عباس حبر الأمة وترجمان القرآن، وهكذا قول من وافقه من الصحابة والتابعين أجمعين، مع الأحاديث المرفوعة من الصحاح والحسان وغيرهما، التي أوردوها مما فيه مقنع ودلالة ظاهرة على أن الدخان من الآيات المنتظرة، مع أنه ظاهر القرآن، قال الله تعالى (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ) وعلى ما فسره ابن مسعود، ﷺ إنما هو خيال رأوه في أعينهم من شدة الجوع والجهد، وهكذا قوله تعالىٰ: (يَغْشَى النَّاسَ) أي: يتغشاهم ويَعُمهم، ولو كان أمرا خياليًا يخص أهل مكة المشركين لما قيل فيه: (يَغْشَى النَّاسَ)

دحضرت ابن عباس ﷺ حبر امت اوترجمان القرآن څخه دا اسناد صحیح دی اوداقول دنورو حضراتو اصحابو اوتابعینو هم دی کومو چی دابن عباس ﷺ موافقت فرمایلی دی ، ددی سره احادیث مرفوعه په کوموکی چی ځینی صحیح ځینی حسن دی هغه هم ددی ثابتولو دپاره کافی دی چی دخان دقیامت دهغو علاماتو څخه دی دکومو چی انتظار دی اوس لانه دی راغلی خصوصًا کله چی ظاهر الفاظ دقرآن هم په دی شاهد دی اوحضرت عبدالله ابن مسعودپه مشهور تفسیرکی په کوم کی چی د دود ذکر دی هغه خو یو خیالی دود وو کوم چی دسختی لوږی په وجه د دوی سترګو ته محسوس کیدی ، په دی وجه لفظ دیغشی الناس بعید معلومیږی، ځکه چی داخیالی دود خو داهل مکه دپاره مخصوص وو او دیَغْشَی النَّاسَ الفاظ دانښیی چی هغه پرټولو خلکوپه عام طورسره غوړیدلی وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

او اول یعنی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ دقول روایت په صحیحینو اومسند احمد ، ترمذی اونسایی وغیره کی داسی راغلی چی حضرت مسروق روایت کړی دی چی یوه ورځ مونږ دکوفی په جمات کی داخل سوکوم چی ابواب کنده ته نژدی دی هلته موولیدل چی یو واعظ خلګوته وعظ کوی او ددی آیت یعنی: يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ : متعلق یی دحاضرینو څخه پوښتنه وکړه چی تاسی پوهیږی چی ددی دخان څخه مراد دی؟ بیایی وفرمایل چی دا به یو دود وی کوم چی به دقیامت په ورځ راوزی کوم چی به دمنافقانو غوږونه اوسترګی ونیسی اومومنانو ته به ورڅخه زکام راسی.

مسروق وایی چی دواعظ داخبره چی مو واوریده نو مونږ حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ته ولاړو هغه ته مو ددی ذکر وکی هغه پروت وو په بیړه راپورته سو او ویی فرمایل چی الله ﷻ ستاسی نبی ﷺ ته دا هدایت فرمایلی دی چی، قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ (یعنی زه ستاسی څخه په دی تعلیم اوتبلیغ څه معاوضه نه غواړم اونه زه دهغو خلګو څخه یم کوم چی په تکلف سره څه خبره جوړوی) په دی وجه دعلم تقاضا دا ده چی څوک څه شی نه پیژنی نوصفا ووایی چی زه نه پوهیږم ددی علم الله ﷻ ته دی په تکلف سره خبره نه جوړ وی) بیایی وفرمایل چی زه اوس تاسی ته ددی آیت دتفسیر یوه واقعه اوروم ، هغه دا ده چی کله قریشو دنبی کریم ﷺ ددعوت اسلام دقبلولو څخه انکار اوپه خپل کفر یی اصرار وکی نونبی کریم ﷺ دوی ته بنرا وکړه چی یاالله! په دوی داسی قحط راوله لکه چی تادحضرت یوسف ﷺ په زمانه کی راوستلی وه ، ددی بنراوو اثر داسی وسو چی دغه خلګ په سخت قحطی کی اخته سول ، تردی چی هډوکی اومرداری خوړل یی شروع کړل ، دی خلګو چی به آسمان ته نظر پورته کوی نو دسختی لوږی څخه به دوی ته د دود شان په نظر راتلی ، ددی څخه وروسته عبدالله ابن مسعود ﷺ دا آیت په دلیل کی تلاوت وفرمایی ، فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ : کله چی داواقعه پیښه سوه نوخلګ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول اودرخواست یی وکی چی دخپلی قبیلی مضر دپاره دالله ﷻ دباران سوال وکړه کنه نو دغه به ټول هلاک سی نبی کریم ﷺ دعا وفرمایله نوالله ﷻ باران وکی ، په دی دا آیت نازل سو، إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ : یعنی مونږستاسی څخه داعذاب دځو وروځو دپاره لیری کوو (مګر کله چی تاسی دمصیبت څخه ووزی) نوبیابه دخپل کفرطرف ته واپس سی چنانچه داسی وسوه بیا هغوی خپل تیرحالت ته واپس سول ، نوالله ﷻ دا آیت نازل کی ، يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ إِنَّا مُنْتَقِمُونَ : یعنی په کومه ورځ چی مونږپه سختو نیولو ونیسو دهغه ورځی څخه وبیرږی بیاابن مسعود ﷺ وفرمایل چی دابطش کبرٰی یعنی لوی سخت نیول په غزوه بدرکی وسو، حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ددی واقعی نقل کولو څخه وروسته فرمایی چی پنځه شیان تیرسوی دی یعنی دخان، روم، قمر، بطشه، لزام، (ابن کثیر)

ددخان څخه مرادپه دی تفسیرکی دمکی مکرمی قحطی ده او دروم څخه مراد هغه پیش ګویی ده کومه چی په سورة روم کی د دوی دغلبی متعلق راغلی ده ، وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ : او دقمرڅخه انشقاق دقمر مراد دی چی ذکر یی په، اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ : کی دی اوبطشه دذکر سوی تفسیر مطابق په

Maktaba Tul Ishaat.com

غزو بدرکی دقریشو دکفارو انجام دی اودلزام څخه اشاره دی آیت طرف ته ده: فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا که په ذکر سوو ایتونوکی فکر وسی نو په دی کی څو پیشګویی دی اول دود په آسمان باندی ظاهریدل اوپه تولو خلګو څپریدل ، دوهم دمشرکانو ددی عذاب څخه عاجز راتلل ، دایمان وعده کول ، دالله ﷻ څخه دعاګانی غوښتل، دریم د دوی وعده دروغ کیدل او وروسته منکر کیدل ، څلورم دالله ﷻ د دوی د درواغو په وعده هم په طور داتمام حجت دڅه وخت دپاره د دوی څخه عذاب لیری کول اودا ورته ښوول چی تاسی به په دی وعده قایم پاته نه سی ، پنځم دوباره بیادوی ته په سختو نیولو سره نیول ، دحضرت عبدالله ابن مسعود دتفسیر مطابق دا تولی پیش ګویی پوره سوی ، اول څلور خو په مکه والاوو دسخت قحط په مسلط کیدو اوبیا درفع کیدوپه دوران کی پوره سوی اوپنځمه په غزو بدرکی پوره سوه .

لیکن په دی تفسیر دقرآن دظاهرو الفاظو څخه دا بعیده معلومیږی چی دلوړی دسختی په سبب په آسمان کی خیالی دود په نظر راتلل دی قرآن کریم په تَأْتِي السَّمَاءُ او دُخَانٍ مُبِينٍ او يَغْشَى النَّاسَ په الفاظوسره تعبیر کړی وی، څکه چی په ظاهره ددی الفاظو څخه په عام آسمان کی بنکاره دود ښوریدل اودتولو خلګو ددغه دود څخه متاثره کیدل معلومیږی، په ذکرسوی تفسیرکی نه پرآسمان ددود څپریدل ثابتیږی اونه دخلګو ددی دود څخه متاثره کیدل معلومیږی، بلکه دا دود خو په خپله د دوی دخپل سخت مصیبت اثروو، په دی وجه حافظ ابن کثیر دظاهر قرآن مطابق دی ته ترجیح ورکړي ده چی دا دخان مبین دقیامت دعلاماتو څخه دی او ددی ترجیح په دی وجه هم ده چی دا په مرفوع روایتونو سره ثابت دی او دا صرف دحضرت عبدالله ابن مسعودﷺ خپل قول دی ، مګر په دی تفسیر په ظاهره د: إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ : څخه دا اشکال کیږی ، چی په قیامت کی خو دکفارو څخه هیڅ عذاب نه سی لیری کولی ، دلته دڅو ورځو دپاره دعذاب لیری کولو ذکر څنګه درست کیدی سی؟ ابن کثیر فرمایی چی ددی دوی معناوی کیدی سی ، یوه دا چی مراد ددی څخه داوی چی که مونږ ستاسی دوینا مطابق عذاب لیری کو اوتاسی بیا دنیاته واپس کړو نوتاسی به بیادغه کفر اوانکار شروع کی لکه چی په نورو ایتونوکی هم دامضمون دغسی راغلی دی ، وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِنْ ضُرٍّ لَلَجُّوا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ : اوپه یوبل آیت کی فرمایی: وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ : دوهمه معنی دا هم کیدی سی چی په كَاشِفُوا الْعَذَابِ کی دکشف عذاب څخه مراد دا وی چی که څه هم دعذاب راتلو اسباب مکمل سول او عذاب تاسی ته نژدی راغلی دی ، مګر دڅو ورځو دپاره مونږ دا وروسته کی ، لکه چی دحضرت یونس ﷺ دقوم په باره کی راغلی دی ، كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ، حال دا دی چی دحضرت یونس ﷺ په قوم عذاب نه وو راغلی ، صرف اثار دعذاب په نظر راغلی وه ، دا یی په کشف دعذاب سره تعبیرکړه ، لنډه داچی که ددخان پیش ګویی دقیامت په علاماتوکی شمارسی نود: كَاشِفُ الْعَذَابِ په الفاظو سره په دی هم څه اشکال نه پاته کیږی اوپه دی تفسیربه د: يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ څخه مراد دقیامت دورځی نیول وی دحضرت عبدالله ابن مسعودﷺ په تفسیرکی چی یی دبدر دغزا نیول فرمایلی دی هغه په خپل ځای صحیح ده هغه هم یوسخت نیول وو، لیکن په دی سره دانه لازمیږی چی مخ ته په قیامت کی به ددی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

لوی نیول نه دی اوپه دی کی هم څه بعدنه معلومیږی چی قرآن کریم دمکی کفار دیو راتلونکی عذاب څخه په دې آیتونو کی بیرولی دی ددې څخه وروسته چی هرڅه عذاب پرهغوی راغلی دی ، هغه په څه درجه کی صحابه کرامو ﷺ ددی مصداق ګڼلی دی او ددی ایتونو ذکر یی فرمایلی دی چی په دی سره ددی دعلامو دقیامت دکیدو څخه نفی نه کیږی لکه چی په روح المعانی کی دعلامه سفارینی دکتاب ، البحور الزاخرة، په حواله سره په خپله دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت کړی دی .

هما دخانان مضى واحد والذي بقي يَملأُ ما بين السماء والأرض ولايصيب المؤمن إلا بالزكمة وأما الكافر فيشق مسامعه فيبعث الله تعالى عند ذلك الريح الجنوب من اليمن فتقبض روح كل مؤمن ويبقى شرار الناس (روح)

دخانونه دوه دی یو تیر سو (یعنی دمکی دقحطی په وخت کی) اوبل کوم چی باقی دی هغه به دآسمان اومځکی دمینځ فضا ډکه کړی اومومن ته به ددی څخه صرف دزکام حالت پیداسی اودکافر ټول مسامونه به څیری کړی دغه وخت به الله ﷻ دیمن دطرف څخه جنوبی هوا راولیږی چی دهرمومن روح به قبض کړی اوصرف کفار شرار الناس به باقی پاته سی .

که څه هم صاحب دروح المعانی دخپل مختار تفسیر مطابق ددی روایت دصحت متعلق دخپل شك اظهار کړی دی ، مګر که دا روایت ثابت سی نو دظاهر دقرآن سره او دمرفوع روایتونو سره څه تعارض نه پاته کیږی ، والله سبحانه وتعالی اعلم

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿١٧﴾

او آزمائش کړی دی مونږ د دوی څخه مخکې دقوم دفرعون او راغی دوی ته رسول عزتمند

اَنْ اَدُّوْٓا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٨﴾ۙ وَّاَنْ

چی حواله کړی ما ته بندګان دخدای ، زه تاسی ته راغلی یم رسول معتبر ، او دا

لَّا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٩﴾ۚ وَاِنِّيْ عُذْتُ

چی لویی مه کوی دالله په مقابله کی ، ما راوړی دی تاسی ته دلیل واضح ، او زه پناه غواړم

بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿٢٠﴾ۚ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا

په خپل رب اوستاسی په رب ددی څخه چی تاسی ماسنګسار کړی، اوکه تاسی یقین نه کوی په مانوزما څخه لیری سی، بیایی

رَبَّهٗٓ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿٢٢﴾ فَاَسْرِ بِعِبَادِيْ لَيْلًا اِنَّكُمْ

دعا وکړه خپل رب ته چی دا خلق ګناهګار دی ، نو اوباسه زما بندګان دشپی خامخا په تاسی به

Maktaba Tul Ishaat.com

مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ؕ اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۴﴾ كَمْ تَرَكُوْا

درپسی کیږي ، او پریږده دریاب خلاص سوی ، خامخا دغه خلق به ډوبیږي ، دیر ورځې پاته سول

مِنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۲۶﴾ وَّنَعْمَةٍ كَانُوْا فِيْهَا

باغونه اوچینی ، او فصلونه اوخاص کورونه ، او دارام سامان په کومو کی

فٰكِهِيْنَ ﴿۲۷﴾ كَذٰلِكَ ۫ وَاَوْرَثْنٰهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿۲۸﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ

چې به دوی خبری جوړولی، هم دغسی وسوه اوهغه ټول په میراث ورکړل مونږبل قوم ته نوونه ژړل په هغوی اسمان

وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنَ

او نه مخکی اونه هغوی ته مهلت ورکړل سو ، اومونږ محفوظ کړل بنی اسرئیل د

الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿۳۰﴾ مِنْ فِرْعَوْنَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾

عذاب د ذلت څخه ، کوم چې دفرعون دطرف څخه وو ، بیشکه هغه وو لویی کوونکی دحد څخه وتونکی

وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ مِّنَ الْاٰيٰتِ

او دوی مونږ خوښ کړل په خپل علم سره په مخلوقات کی ، او ورکی مونږ دوی ته ننښی په کومو

مَا فِيْهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِيْنٌ ﴿۳۳﴾

کی چې وو ښکاره مدد

لغت تفسیر: اومونږ د دوی څخه مخکی دفرعون دقوم ازمائش کړی دی او (هغه ازمائش دا وو چې) دوی ته یو معزز پیغمبر (یعنی حضرت موسیٰ علیه السلام) راغلی وو (دپیغمبر په راتلو سره ازمائش داسی کیږي چې کوم ایمان راوړی اوکوم نه راوړی اودوی (راغلل دفرعون قوم ته یې وفرمایل) چې دا دالله بندګان (یعنی بنی اسرائیل کوم چې تاسی په قسم قسم تکلیفونوکی اچولی دی) ماته حواله کړی (او د دوی څخه لاس واخلی چې زه کوم ځای اوخنګه مناسب وی دوی ازاد وساتم) زه تاسی طرف ته (دخدای) پیغمبر (جوړ سوی راغلی) یم (او) دیانتدار یم (په یوه خبره دوحی کی کومی زیاتی نه کوم کوم حکم چې وی هغه تاسی ته رسوم، نو تاسی ته یې منل په کار دی) او دا (یې هم وفرمایل) چې تاسی دخدای څخه سرکښی مه کوی (لور دحق العباد حکم وو دلته دحق الله) زه ستاسی په مخکی یو واضح دلیل (دخپل نبوت) پیش کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

(مراد ددی څخه معجزه دعصا اوید بیضاء وی) او (هرکله چی فرعون اواهل فرعون ونه منله بلکه د دوی په مینځ کی مشوره د دوی دقتل وسوه دغه وخت چی دوی واوریدل نووې فرمایل) زه دخپل پروردګار اوستاسی دپروردګار پناه غواړم ددی څخه چی تاسی خلګ ما په ډبرو (وغیره) قتل کی اوکه تاسی په ما ایمان نه راوړی نوتاسی زما څخه لیری سی (یعنی زماپه تکلیف رارسولو مه پسی کیږی ځکه چی ماته هیڅ نقصان نه رسیږی ، زماسره دالله ﷻ وعده ده، فَلَا يَصِلُونَ اِلَيْكُمَا ، لیکن ستاسی جرم نورپه زیاتیږی په دی وجه په خیر خواهی سره وایم چی داسی مه کوی، مګر هغوی کله منع کیدل) پس موسیٰ ﷺ خپل رب ته دعا وکړه چی داډیر سخت مجرمان خلګ دی (چی دجرمونو څخه نه منع کیږی اوس د دوی فیصله وکی ارشاد وسوچی مونږ دعا قبوله کړه او د دوی دفیصلی وخت رالی) نو اوس زما بندګان (یعنی بنی اسرائیل) ته په شپه روان کړه ووزه (ځکه چی) ستاسی به (دفرعون دطرف څخه) تعاقب (هم) کیږی (په دی وجه چی تاسی دشپی ووزی نو دومره لیری به ولاړسی چی دوی به تاسی (لاندی نه کړی) او (په سفرکی چی درته دریاب مخ ته راسی) تاسی دغه دریاب (اول په لکړه ووهی چی هغه وچ سی لار درکړی بیا دپوری وتلو څخه وروسته کله چی دی په دغه حالت ووینی نوفکرمه کوی چی دغه شان به فرعون هم شاید چی راپوری وزی بلکه تاسی دی دغسی) دسکون په حالت کی (یعنی داوبو لیری کیدو اولارو جوړیدو سره چی د دریاب کوم هیئت جوړسوی دی په دغه هیئت یی) پریږدی (اوبی فکره اوسیږی ځکه چی ددی په دی حالت کی په پاته کیدوکی داحکمت دی چی) ددوی (فرعونیانو) ټول لښکر (په دی دریاب کی) به ډوب سی (داسی چی هغوی به وردننه سی اوټول په کی ورسی نودځلور طرفه څخه به اوبه پرراسی ، چنانچی داسی وسوه چی حضرت موسیٰ ﷺ پوری وتی اوفرعونیان غرق سول او) عمده کورونه (اوځومره دارام سامانونه په کوموکی چی هغوی خوشحاله اوسیدل پریښوول (داقصه) دغه شان وسوه اومونږ یوبل قوم ددی مالکان جوړ کړل (مراد ورڅخه بنی اسرائیل دی) پس (چونکی هغوی نهایت مبغوض وه په دی وجه) نه پردوی آسمان اومځکی ته ژړا ورغله اونه دوی ته (دعذاب څخه) څه مهلت ورکول سو (یعنی که لږ نور ژوندی پاته سوی وای نودجهنم دعذاب څخه به څه ورځی بچ پاته سوی وای) اومونږ (دغه شان) بنی اسرائیلو لره دسخت ذلت دعذاب څخه یعنی دفرعون (دظلم اوستم) څخه نجات ورکی، واقعی هغه (فرعون (لوی سرکښ (او) دحد (دبندګی) څخه دوتونکو څخه وو (یونعمت خوپه بنی اسرائیلو داوسو) او (ددی څخه علاوه) مونږ بنی اسرائیلو لره (نور نعمتونه ورکړل) دخپل علم (اوحکمت) په وجه وسره (په څینو کارونو کی دټولی) دنیاپه خلګو باندی (یاپه ټولو کارونوکی په یوه لویه حصه دمخلوق باندی مثلاً ددغه زمانی په خلګومو) فوقیت ورکی او (په دغو نعمتونوکی، دانعام کیدو څخه علاوه دالله ﷻ په قدرت باندی دلالت هم وو چی مطلب یی دا دی چی) مونږ دوی ته (دخپل قدرت) داسی (لوی لوی) نښانی ورکړی په کوموکی چی صریح انعام وو (یعنی کوم احسان چی په دوی وسو، په دی کی دوه صفتونه پیدا کیږی انعام والی یی هم اودقدرت دلیل والی یی هم بیا څینی په دغوکی حسی نعمتونه وه لکه دفرعون څخه نجات ورکول او څینی معنوی وه لکه علم اوکتاب اومشاهده دمعجزاتو)

معلومات اومسئلي: وَاِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُونِ (زه دخپل پروردګار اوستاسی دپروردګار پناه

Maktaba Tul Ishaat.com

غواړم ، ددی څخه چی تاسی ما رجم کی) درجم معنی په ډبرو ویشتل او هلاکول هم دی اوچاته ښکنځل اوبدی ردی ویل هم ، دلته دواړی معناوی مرادی دی څکه کیدی سی چی دفرعون قوم موسی ﷺ ته دقتل اخطار هم ورکړی وی .

وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا (اودریاب دسکون په حالت کی پریږده) دَرَهْوٌ معنی ده ، سکون ، په اصل کی دحضرت موسی ﷺ او ده دملګرو طبعی خواهش داسی په کار وو چی د دوی دپوری وتو څخه وروسته دی دریاب په خپل اصلی حالت سی چی دفرعون لښکر راپوری نه سی ، په دی وجه الله ﷻ دوی خبردار کړل چی تاسی پوری وخی نو سمندر په خپل حالت ساکن پریږدی او د اوبو دبیرته جاری کیدو فکر مه کوی چی فرعون په دریاب کی وچه جوړه سوی لار وویني نو دسمندر مینځ ته به ورسیږی هغه وخت به مونږ دریاب جاری کو او دا لښکر به ډوب سی (ابن کثیر)

وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ (او مونږ ددغو وارثان یو بل قوم جوړ کی) په سورة شعراء کی وضاحت دی چی ددی دوهم قوم څخه مراد بنی اسرائیل دی اوپه کوم چی مشهور اشکال دی چی په مشهودو تواریخوکی هیڅکله دا نه ثابتیږی چی بنی اسرائیل دوباره په مصرکی اباد سول ، ددی جواب هم دسورة شعراء په تفسیرکی تیرسوی دی .

(دمڅکې او دآسمان ژړل)

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ (نو په دوی آسمان اومڅکی ته ژړا ورنغله) مطلب دا دی چی دوی په مڅکه څه داسی نیك عمل نه وو کړی چی په مرګ یی مڅکی وژړل او نه د دوی څه نیك عمل آسمان ته رسیدلی وو چی آسمان په وژاړی او دا خبره په ډیرو روایتونو سره ثابته ده چی دیو نیك بنده په مرګ باندی آسمان او مڅکی ژاړی .

حافظ ابویعلی دحضرات انس ﷺ په روایت سره دنبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل کړی دی چی په آسمان کی دهر بنده دپاره دوی دروازی مقرری دی په یوه دده رزق نازلیږی ، په دوهمه دده عمل او دده خبری لوړ رسیږی ، چنانچی کله دغه بنده مړ سی نو دا دروازی دی یادوی او ژاړی ، ددی څخه وروسته دۀ ﷺ (په طور داستشهاد) دا ایت تلاوت وفرمایی چی ، فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ : دحضرت ابن عباسؓ ﷺ څخه هم ددی قسمه روایتونه روایت سوی دی (ابن کثیر)

په یو بل حدیث کی کوم چی دحضرت شریح بن عبید حضرمی ﷺ څخه مروی دی ، دوی ارشاد فرمایی چی ، کوم مومن دداسی مسافری په حالت کی مری چی په ده څوك ژړیدونکی نه وی نو په ده آسمان او مڅکه ژاړی په دی هم دوی دااایت تلاوت وفرمایی او ویی فرمایل چی دامڅکه اوآسمان په یوکافر باندی نه ژاړی (ابن جریر)

دحضرت علی ﷺ څخه هم نقل دی چی دوی دنیك سړی په مرګ باندی دآسمان اومڅکی دژړلو ذکر فرمایلی دی (ابن کثیر)

اوڅینو حضراتو دایت الفاظ مجاز او استعاره مقرره کړی ده او ویلی دی چی دآسمان اومڅکی حقیقتًا ژړا مرادنه ده ، بلکه مقصد دا دی چی د دوی وجود داسی ناقابل التفات وو چی د دوی په ختمیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

هیچاته افسوس ونه سو، لیکن دذکر سوو روایتونو په رنا کی راجع دا معلومیږی چی دلته دآسمان اومځکی حقیقتاً ژړا مراد ده ځکه چی هرکله دایت حقیقی معنی ممکنه ده او دروایتونوځخه هم ددی تائید کیږی نو خامخاپه مجاز او استعاره باندی دمحمول کولو ضرورت نسته ، پاته سوه دا شبهه چی په آسمان اومځکه کی شعور کله وو ؟ چی دوی وژاړی ؟ نو جواب یی ظاهر دی چی دکائناتوپه هر مخلوق کی څه ناڅه شعور ضرور موجود دی ، لکه چی دقرآن کریم دایت ، وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ څخه معلومیږی اواوس کرار کرار نوی سائنس هم دی نتیجی ته رسیږی ، البته دا ضروری نه ده چی دآسمان اومځکی ژړادی داسی وی لکه دانسانانو چی وی ، د دوی دژړا کیفیت به یقیناً چی مختلف وی چی حقیقت یی مونږ ته معلوم نه دی .

وَلَقَدِ اخْتَرْنَاهُمْ عَلَى عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (او مونږ بنی اسرائیلو ته دخپل علم په وجه سره ددنیا پرمخلوق فوقیت ورکی) په دی سره دبنی اسرائیلو په امت محمدیه علی صاحبها السلام باندی فائق کیدل لازم نه راځی ځکه چی ددی څخه مراد دهغه زمانی ددنیامخلوق دی اوهغه وخت بیشکه چی هغه په ټولو قومونو باندی ښه وو اودا داسی ده لکه چی دحضرت مریم (رض) دپاره په نِسَآءَ الْعٰلَمِيْنَ باندی فضیلت قرآن کریم ذکرکړی دی او دا هم ممکنه ده چی په څه خاص وجه سره بنی اسرائیلوته په ټولی دنیا اودهری زمانی په خلکوځه فضیلت حاصل وی لیکن په مجموعی حیثیت سره افضلیت امت محمدیه ته حاصل دی (دتفصیل دپاره ابن کثیر وغیره وګوری) اودعلی عِلْمٍ (دخپل علم په وجه سره) مطلب دا دی چی زمونږ په هر کار کی حکمت وی ، نو دوی ته فوقیت ورکول چونکی زمونږ دعلم اوحکمت اومصلحت تقاضاوه ، په دی وجه مونږ دوی لره فوقیت ورکی .

وَآتَيْنَاهُمْ مِنَ الْآيَاتِ مَا فِيهِ بَلَاءٌ مُبِينٌ (اومونږ دوی ته داسی ننبی ورکړی په کومو کی چی واضح انعام وو) دننبو څخه مراد عصا یَد بیضاء وغیره معجزی دی او دبَلَاءٌ دوی معناوی راځی یوه دانعام بله دآزمائش، دلته دواړی معناوی بلا تکلفه ممکنی دی (قرطبی)

إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا

او بیشکه دا خلق وایی ، نورهیڅ نسته زمونږ دا مرګ دی

الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنْشَرِينَ ﴿٣٥﴾ فَأْتُوا بِآبَائِنَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٦﴾

اولنی او مونږ لره بیا پورته کیدل نسته (که وی) نو را ولی زمونږ پلار نیکه که تاسی رښتینی یاست،

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَاهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا

آیا دوی غوره دی یا قوم دتُبَّع او کوم چی د دوی څخه مخکی وه ، مونږ هلاک کړل هغه بیشکه

Maktaba Tul Ishaat.com

مُجْرِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾

هغه وه ګناهګار، اومونږ چې جوړ کړی دی اسمانونه او مځکه او څه چې ددې په مینځ کې دی لوبې نه دی،

مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ

مونږ جوړ کړی دی دوی په حقه سره ، او لیکن ډیر خلق نه پوهیږي ، بیشکه دفیصلی ورځ

مِيْقَاتُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۰﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ

وعده ده ددې ټولو ، په کومه ورځ چې په کار ور نه ولی یو دوست دبل دوست هیڅ قدری اونه به

يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۱﴾ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۴۲﴾

ورته مدد ورسیږي ، مګر په چاچې رحمت وکړی الله ، بیشکه هغه زبردست دی رحم والا .

لنډتفسیر: دا خلګ (دقیامت وعدی اوری اودقیامت څخه انکارکوی او) وایی چې اخری حالت بس دا زمونږ ددنیا مرګ دی اومونږ به دوباره ژوندی نه سو (مطلب دا چې اخری حالت دغه اخروی ژوندنه دی ، بلکه دا دنیوی مرګ اخری حالت دی چې ددی څخه وروسته هیڅ حالت نسته) نو (ای مسلمانانو!) که تاسی (داخرت په دعوه کی) رښتینی یاست نو (انتظار دځه دی اوس) زمونږ پلرونه اونیکه ګان (ژوندی کړی) راوړی موجود کی (مخ ته د دوی په کفریاتو باندی زورنه ده چې) دوی لره لږ فکر په کاردی چې دا خلګ (په قوت اوشوکت کی) زیات لوی سوی وه اوکه دتبع (بادشاه دیمن) قوم اوکوم قومونه چې د دوی څخه مخکې تیر سوی دی (مثلاً عادیان، ثمودیان وغیره یعنی داقومونه ډیر زیات سوی وه مګر) مونږ هغه (هم) هلاك کړل (محض په دی وجه چې) هغوی نافرمان وه (نو داخلګ که دنافرمانی څخه واپس نه سول نو دوی به څنګه څانونه محفوظ کړی) او (مخ ته دقیامت دصحت اوحکمت بیان دی چې) مونږ آسمانونه اومځکی اوڅه چې ددی په مینځ کی دی دا په دی طور سره نه دی جوړکړی چې مونږ عبث کار کوونکی یو (بلکه) مونږ دا دواړه (د دوی دنور مخلوقات سره) په څه حکمت باندی جوړ کړی دی (مثلاً ددوی څخه یو خو دالله ﷻ په کامل قدرت باندی دلالت کیدی سی دوهم ورځخه دجزا اوسزا ثبوت ورکول کیږی) لیکن اکثره خلګ نه پوهیږی (چې کوم ذات دداسې عظیمو اجسامو په اول وار پیدا کولو باندی قادر دی هغه ددی په دوباره پیدا کولو هم قادر دی) بیشکه دفیصلی ورځ (یعنی دقیامت ورځ) ددی ټولو (ددوباره ژوندی کیدو اودجزا اوسزا ورکول کیدو) وخت مقرر دی (چې وقوع به یې په خپله موقع ضرور وی ، مخ ته دقیامت څه واقعات دی ، یعنی) په کومه ورځ چې یو دوست دبل دوست یوه ذره په کار رانه سی اونه (بل څوك دچا دطرف څخه مثلاً ددوی داتکلی خدایانو دطرف څخه به) د دوی څه حمایت کول کیږی البته مګر په چاچې الله ﷻ رحم وکی (چې په رحمت سره دده په حق کی دباری تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

په اجازه سره سوی سفارش په کار راسی او الله ﷻ به دده مددګار وی) هغه (الله) غالب دی (د کافرانو څخه به بدله واخلی) مهربانه دی (په مسلمانانو به رحمت وکی)

معلومات اومسئلي : فَأْتُوا بِآبَائِنَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (که تاسی رښتینی یاست نو زمونږ پلاران نیکه ګان راوړلی موجود کی) قرآن کریم د دوی ددی اعتراض جواب څکه نه دی ورکړی چی بالکل ظاهره وه اوهغه دا چی دټولو انسانانو ددوباره ژوند دعوه په اخرت کی کیدی سی ، هغه وخت به الله ﷻ ټول ژوندی کوی ، په دنیا کی مرګ اوژوند دقدرت دمخصوصو قوانینو اومصلحتونو پابند دی که الله ﷻ دا وخت چاته دوهم ژوند ورنه کی نو دا ددی خبری دلیل څنګه جوړ سو چی په اخرت کی به هم هغه دوباره ژوندی نه سی ، په منطقی اصطلاح کی ددی جواب داسی تعبیر کیږی چی دمقید عدم وقوع دمطلق عدم وقوع لره مستلزم کیدی نه سی (بیان القرآن)

دقومِ تُبّع واقعه : أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ (آیا دا خلګ دشان اوشوکت په اعتبار سره زیات سوی دی یا دتُبّع قوم) په قران کریم کی دقوم تُبّع ذکر دوه ځایه راغلی دی ، یو دلته او بل په سورة قٓ کی ، لیکن په دواړو ځایونوکی صرف د دوی دنوم ذکر دی څه مفصل واقعه یی ذکر نه ده ، په دی وجه مفسرینو په دی باره کی اوږده بحثونه کړی دی چی ددی څخه څوک مراد دی؟ واقعه دا ده چی تُبّع دیو معین سړی نوم نه دی بلکه دا دیمن دهغو حمیری بادشاهانو پرله پسی لقب راغلی دی کوموچی تراوږدی زمانی پوری دیمن مغربی حصه دار السلطنت مقررکړی وو ، دعرب ، شام، عراق اودافریقی په ځینو حصو یی حکومت وکی ، په دی وجه دتُبّع جمع تبابعه اودغو بادشاهانو ته تبابعه دیمن وایی، دلته ددغو تبابعو څخه کوم یو تُبّع مراد دی؟ په دی باره کی دحافظ ابن کثیر تحقیق زیات راجح معلومیږی چی ددی څخه مراد تُبّع اوسط دی چی نوم یی اسعد ابوکریب بن ملکیکرب یمانی دی ، دابادشاه دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه کم ازکم اووه سوه کاله مخکی تیرسوی دی ، اوپه حمیری بادشاهانوکی دده دحکومت موده دټولوڅخه زیاته سوې ده ، ده په خپل عهدِ حکومت کی ډیری علاقی فتح کړی ، تردی چی سمرقند ته ورسیدی، دمحمدبن اسحٰق روایت دی چی ددی فتوحاتو په دوران کی هغه یو وار دمدینی منوری پرکلی تیر سو او په دی یی دحملی اراده وکړه دمدینی خلګو داطریقه اختیار کړه چی دورځی به یی دده سره جنګ کوی او دشپی به یی ورته میلمستیا ورکوله ، په دی سره ده ته شرم ورلی اودمدینی والاوسره یی دجنګ اراده منسوخه کړه ، په دی دوران کی دوو یهودی عالمانو دی خبرکی چی په دی کلی ستا وس نه چلیږی په دی وجه چی دادنبی اخر زمان ﷺ مقام دهجرت دی ، چنانچی هغه دغه یهودیان دځان سره یمن ته راوستل او ددی یهودیانو دتبلیغ اوتعلیم څخه متاثره سول او دین موسوی یی قبول کی کوم چی هغه وخت حق دین وو بیا دده قوم هم دده څخه متاثره سو او اسلام یی راوړی لیکن دده دوفات څخه وروسته داقوم بیا ګمراه سو او بت پرستی او آتش پرستی یی شروع کړه ، چی په نتیجه کی یی په هغوی هغه قهر الهی نازل سودکوم چی مفصل ذکر په سورة سباکی تیر سوی دی (خلاصه دتفسیر ابن کثیر ص۴۴ ج۴) ددی واقعی څخه ظاهریږی چی دکوم تُبّع دلته ذکر دی ، هغه په خپله اسلام راوړی وو ، البته دده قوم وروسته ګمراه سوی وو ، دا وجه ده چی په قرآن کریم کی دواړه ځایه دقوم تُبّع ذکرسوی دی نه د تُبّع، ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

تائید دحضرت سهل بن سعد ﷺ اودحضرت ابن عباس ﷺ دروایتونو څخه هم کیږی ، کوم چی ابن ابی حاتم ، امام احمد اوطبرانی وغیره روایت کړی دی ، چی نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی، لاَ تَسُبُّوْا لُبَّعًا فَاِنَّهٗ قَدْ کَانَ اَسْلَمَ، لُبّع ته بد رد مه وایاست څکه چی هغه اسلام راوړی وو (ذکرسوی حواله)

مَا خَلَقْنٰهُمَا اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ (مونږ دا دواړه یعنی مځکه اوآسمانونه په څه حکمت سره جوړکړی دی لیکن اکثره خلګ نه پوهیږی) مطلب دا دی چی که په چاکی دسوچ اوفکر والاعقل وی نو آسمانونه اومځکی اوپه دی کی چی کوم مخلوقات پیداسوی دی هغه ټول په ډیرو حقیقتونو دلالت کوی، مثلاً یوخوپه قدرت خداوندی باندی، دوهم داخرت په امکان، څکه چی کوم ذات داعظیم اجسام دعدم څخه وجود ته را وستل هغه یقیناً په دی خبره هم قادر دی چی دوی یو وار فنا کړی او دوباره یی پیدا کی ، دریم دجزا اوسزا په ضرورت باندی ، څکه چی که داخرت جزا اوسزانه وی نودا ټوله کارخانه دوجود بی کاره کیږی ، ددی دپیدا کولو خو حکمت دا دی چی دادار الامتحان جوړ سی او ددی څخه وروسته په اخرت کی جزا اوسزا ورکول سی ، کنه نو دنیك اوبد دواړو انجام یوکیدل لازمیږی ، کوم چی دالله ﷻ دشان حکمت څخه بعید دی ، ځلورم داکائنات دسوچ اوفکر کوونکو دپاره دخدای طاعت ته پاروونکی هم دی څکه چی دا ټول مخلوقات دهغه ډیر لوی انعام دی اوپر بنده واجب دی چی ددی نعمت شکر دالله ﷻ په اطاعت کولو سره ادا کړی.

اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿۴۳﴾ طَعَامُ الْاَثِيْمِ ﴿۴۴﴾ كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ﴿۴۵﴾ كَغَلْيِ

بیشکه درخته دزقوم ، خوراك دی دګناهګارو ، لکه ویلی سوی اوسپنه جوش به وهی په نس کی ، لکه

الْحَمِيْمِ ﴿۴۶﴾ خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ

جوشیدل داوبو ، ونیسی دی او وردیکه یی کړی مینځ د دوزخ ته ، بیا واړوی دده په سر

رَاْسِهٖ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿۴۸﴾ ذُقْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ ﴿۴۹﴾ اِنَّ

دعذاب دګرمو اوبو څخه ، دا وځکه ته وی لوی عزت والا سردار ، بیشکه

هٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ﴿۵۱﴾

دا هغه دی چی په دی کی تاسی په دوکه کی پراته واست ، بیشکه بیریدونکی به په کورونو دارام کی وی ،

فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۲﴾ يَّلْبَسُوْنَ مِنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ

په باغونو کی او په چینو کی ، اغوندی به کالی دباریکو وریښمو او پندو وریښمو یوبل ته

Maktaba Tul Ishaat.com

مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۵۳﴾ كَذٰلِكَ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿۵۴﴾ يَدْعُوْنَ فِيْهَا

به مخامخ وی ، دغه شان به وی ، او ښځی به ورکی دوی ته حوری غټو سترګو والا ، راغواړی به

بِكُلِّ فَاكِهَةٍ اٰمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا الْمَوْتَ اِلَّا الْمَوْتَةَ

هلته هره یوه میوه په دلجمعی سره ، وبه نه څکی هلته مرګ مګر کوم چې دوی نه

الْاُوْلٰى ۚ وَوَقٰىهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ۭ ذٰلِكَ هُوَ

اول راغلی دی ، او محفوظ یی کړل دوی د دوزخ دعذاب څخه ، په فضل سره ستا درب دا دی لوی مراد

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾

پیدا کیدل ، نو دا قرآن مونږ آسانه کی دوی ته ستا په ژبه چې دوی یی یاد کړی ،

فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿۵۹﴾

اوس ته لږ انتظار وکړه دوی هم انتظار کوی .

لنډتفسیر: بیشکه دزقوم درخته (چې تحقیق یی دسورة صافات په دوهمه رکوع کی تیر سوی دی) دلوی مجرم (یعنی کافر) خوراك به وی کوم چې (دصورت په بدوالی کی) دتیلو دبیخ دخیری په شان به وی (او) هغه به په ګیډه کی داسی جوش کوی لکه تیزی ګرمی اوبه چې جوش کوی (اوملائکوته به حکم وی چې) دی ونیسی بیایی راکش کی د دوزخ مینځ ته یی ورسوی بیا دده پرسر سربیره تکلیف ورکوونکی ګرمی اوبه واړوی (اوده ته به په طور دمسخرو وویل سی چې) واخله وڅکه! ته لوی عزتمند مکرم وی (داستا تعظیم کیږی ، لکه چې تابه په دنیاکی ځان عزتمند اومکرم ګڼی ، زمونږ داحکامو څخه به دی شرم کوی او دوزخیانو ته به وویل سی چې) داهغه شی دی په کوم کی چې تاسی شك (اوانکار) کوی (داخو دکافرانو دوزخیانو حال سو مخ ته دایماندارو ذکر دی چې) بیشکه دخدای څخه بیریدونکی به دامن (ارام) په ځای کی وی یعنی په باغونوکی اوپه نهرونوکی (او) هغوی به لباس اغوندی دباریکو اوپټو وریښمو مخامخ به یو بل ته ناست وی (او دا) خبره دغسی ده او مونږ به د دوی دغټو سترګو والاو حورو سره ودونه وکړو (او) هلته به په اطمینان سره هرقسم میوی راغواړی (او) هلته به هغوی بغیر دهغه مرګ څخه کوم چې په دنیاکی راغلی وو ، دبل مرګ خوند هم ونه څکی (یعنی مړه کیږی به نه) اوالله ﷻ به دوی د دوزخ څخه (هم) محفوظ کی (او) دا هر څه به ستا درب په فضل سره وی ، لویه کامیابی دا ده (اوای پیغمبره ﷺ ستا کار دومره دی چې ته دوی ته ووایه) نو (په دی غرض سره) مونږ دا قرآن ستاپه ژبه (عربی) کی اسان کی چې دوی (په دی باندی پوه سی ددی څخه) نصیحت قبول کړی نو (که داخلک یی نه

Maktaba Tul Ishaat.com

منی نو) ته (په دوی دمصیبتونو دنزول) منتظر اوسه ، دا خلک هم (پرتا دمصیبتونو دنزول) منتظر دی (نوته دتبلیغ څخه ماسوا نور فکر مه کوه ، مه په مخالفت غم کوه ، د دوی معامله خدای ته وسپاره اوصبر کوه دوی به په خپله پوه سی)

معلومات اومسئلي : په دی آیتونو کی داخرت دځه احوالو بیان دی ، او دعادت مطابق دلته هم قرآن کریم د دوزخ اوجنت دواړو احوال په یو بل پسی بیان کړی دی .

إِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّومِ ، د زقوم دحقیقت متعلق څه ضروری خبری دسورة صٰفّٰت په تفسیرکی لیکل سوی دی ، هلته یی وگوری ، دلته دومره خبره قابل ذکر ده چی دقرآن کریم دآیتونو څخه په ظاهره دا معلومیږی چی کفارونه به زقوم په دوزخ کی دداخلیدو څخه مخکی ورکول سی ځکه چی دلته دزقوم دخوړلو څخه وروسته دا حکم ذکر دی چی ، دوی راکش کی د دوزخ مینځ ته یی ورسوی ، ددی څخه علاوه دسورة واقعه دایت ، هَذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّينِ : څخه هم څینو حضراتو داګنلی ده ځکه چی ، نزل، د دوی په نزد اصلاً دمیلمه هغه خاطر تواضع ته ویل کیږی کوم چی په اصل کی ددعوت څخه اول وسی وروسته خوراك ته ، ضیافة ، یا، مَادبّه، وایی، هسی خو په قرآنی الفاظوکی احتمال ددغه هم دی چی دزقوم خوړل دجهنم ددخول څخه وروسته وی په دی صورت کی به دَ، نُزُل، استعمال ددعوت داصل خوراك په معنٰی کی توسعًا وی، او په دی ذکرسوی آیت کی چی ددی څخه وروسته دجهنم طرف ته دراکښته کولو ذکر دی ، ددی مطلب به دا وی چی هغوی خوره دمخکي څخه په جهنم کی ، لیکن دزقوم خوړلو څخه وروسته دوی دزیات ذلیله کولو او ورته دتکلیف درسولو دپاره به د دوزخ مینځ ته بیول سی ، والله تعالی اعلم (دبیان القرآن څخه په لنډه سره)

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ : ددی آیتونو په ذریعه دجنت دهمیشه نعمتونو طرف ته اشاره سوي ده اوتقریبًا دنعمتونو ټول قسمونه یی جمع کړی دی ځکه چی دانسانی ضرورت شیان عمومًا دا وی ، داوسیدو عمده ځای ، عمده لباس ، دژوند بهترین ملګری ، بهترین خوراکونه ، بیا ددی ټولو نعمتونو دباقی پاته کیدو ضمانت او درنج اوتکلیف څخه په کلی طور سره دامن داوسیدو یقین دلته یی داشپږ سره خبری دجنتیانو دپاره ثابتی کړی دی ، لکه چی په دی شپږو خبرو دفکر کولو څخه صفاظاهره ده ، دلته دجنتیانو داوسیدو ځای ته یی (په امن) وویل او دی طرف ته یی هم اشاره فرمایلی ده چی دانسان داوسیدو دځای دټولو څخه قابل تعریف صفت ددی په امن یعنی دخطراتو څخه محفوظ کیدل دی .

سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ دا دواړه دوریښمو دکپړو نومونه دی ، سُنْدُس دنرمو وریښمو کپړه ده او اِسْتَبْرَقْ دپنډو وریښمو .

وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ دتزویج اصلی معنٰی ده ، څوك دچا جوړه مقرر کول ، وروسته دا الفاظ دنکاح کولو په معنٰی کی دیر استعمالیدل شروع سوه دلته دا دواړی معناوی کیدی سی ، د دوهمی معنی په لحاظ سره به مطلب دا وی چی دجنتیانو سره به باقاعده دحورِعین نکاح کول کیږی اوکه څه هم په جنت کی به یو سړی په احکامو مکلف نه وی ، لیکن دا نکاح ترڼ به په طور داعزاز اواکرام وی ، په دی وجه څه اشکال نسته اوکه اوله معنٰی واخیستل سی نو مطلب به دا وی چی حورِ عین به دجنتی سړی جوړه

Maktaba Tul Ishaat.com

وګرځول سی اوهغه جنتی ښځی به په طور دهبی دوی ته ورکول سی او د دوی دپاره به ددنیاپه شان دنکاح ترلو ضرورت نه وی .

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ : مطلب دا دی چی کوم مرګ یو وار راغی نو هغه وسو دهغه وروسته به هیڅ مرګ په دوی رانه سی اوداخبره که څه هم جهنمیانو ته به هم حاصله وی ، لیکن ظاهره ده چی هغه به دهغوی دپاره نوره زیاته دتکلیف سبب وی اودجنتیانودخوشحالی زیاتولوباعث به وی، ځکه چی نعمت که هرڅومره ډیر وی دهغه دزوال تصور لازمًا دخفګان سبب وی اوجنتیان چی هرکله داتصور وکی چی دا نعمتونه به هیڅکله زمونږ څخه نه سی اخیستی نو په دی سره به د دوی په خوشحالیو کی اضافه وسی .

الحمدلله چی نن په تاریخ ۶ درجب سنه ۱۳۹۲ھ ، په ورځ دپنجشنبی ، په وخت دلمانځه دماخستن ، دسورة دخان تفسیر مکمل سو .

وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ اَوَّلًا وَّ اٰخِرًا وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ .

﴿ سورة الجاثية ﴾

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَثَلٰثُوْنَ اٰيَةً اَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة جاثیه په مکه کی نازل سو په دی کی اووه دیرش (۳۷) آیتونه اوخلور (۴) کوع ګانی دی .

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ

نازلول دکتاب دالله دطرف څخه دی چی زبردست دی حکمتونو والا بیشکه په اسمانونوکی

وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳﴾ وَفِيْ خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ

اوپه مخکه کی ډیری ننبانی دی دمنونکودپاره،اوستاسی په پیداکولوکی او څه چی یی خپاره کړی دی حیوانان

اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

ننبانی دی دهغو خلقو دپاره چی یقین کوی ، او په بدلولو دشپی او د ورځی کی اوڅه چی نازلوی الله

مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيْفِ

داسمان څخه د رزق پس ژوندی یی کړه په دی سره مخکه پس دمرګ ددې څخه او په بدلولو

الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۵﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ

دهواګانو کی ننبانی دی دهغو خلقو دپاره چی دعقل څخه کار اخلی ، دا خبری دی دالله چی مونږ یی او روو تاته په حقه

Maktaba Tul Ishaat.com

فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾ وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ﴿۷﴾

پس په کومه خبره به دالله او دهغه دخبرو څخه وروسته یقین وکړي ، خرابی ده هر یوه درواغجن ګناهګار لره ،

يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ

چې اوري خبری دالله چې ویل کیږي په ده بیا ضد کوی په غرور سره ګویا چې اوریدلی یې نه دی ،

فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۸﴾ وَاِذَا عَلِمَ مِنْ اٰيٰتِنَا شَيْـًٔا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ؕ

نو خوشخبری واو روه ده ته په عذاب دردناک سره، اوهرکله چې خبرواوری زمونږ په خبروکی دځینو نومسخری ورپوری کوی

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۹﴾ مِنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ مَّا

دهغوی دپاره دی عذاب د ذلت ، دهغوی په مخکې جهنم دی او په کار به ورنه سی دوی ته

كَسَبُوْا شَيْـًٔا وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۰﴾

څه چې یې کړی وی لږهم اونه هغه کوم چې نیولی یې وومامسوادالله څخه دوستان اودهغوی دپاره دی عذاب لوی

هٰذَا هُدًى ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ ع

دا هدایت دی ، څوک چې منکر دی ، دخپل رب دخبرو څخه هغوی لره عذاب دی سخت دردناک،

لنډتفسیر: حٰمٓ دا نازل سوی کتاب دی دالله ﷻ غالب حکمت والادطرفه (اوهرکله چې دا داسی کتاب دی نو ددی مضامین ښه په توجه سره اوریدل په کار دی چنانچې په دی مقام کی یومضمون خو دتوحیددی چې بیان یې دا دی چې) په آسمانونو اوپه مځکه کی دایماندارو د (استدلال د) پاره دیر دلیلونه (دقدرت اوتوحید) دی او (دغه شان) په خپله په تاسی اودهغو حیواناتو په پیداکولو کی کوم چې یی (په مځکه) غورولی دی (دارنګه) دلیلونه (دقدرت اوتوحید) دی دهغو خلګود (پوهیدو د) پاره کوم چې یقین لری او (دغه شان) دشپې اوورځې په یوبل پسی په تلو راتلوکی او (دغه شان) په هغه (ماده د) رزق کی کوم چې الله ﷻ دآسمان څخه نازل کی (مراد باران دی) بیاپه هغه (باران) سره مځکه تروتازه کړه دهغه دوچیدو څخه وروسته او (دغه شان) دهوا ګانو په بدلیدوکی (په اعتبار دطرف اوکیفیت چې کله مشرقی وی اوکله مغربی ، کله ګرمه وی کله یخه غرض په دی تولو شیانوکی) دلیلونه (دقدرت اوتوحید موجود) دی دهغو خلګو دپاره کوم چې (سلیم) عقل لری (په دی سره په توحید داستدلال طریقه په دوهمه پاره، إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ الخ کی تیره سوې ده او دوهم مضمون دنبوت دی دهغه بیان دا دی چې) دادالله ﷻ ایتونه دی کوم چې په صحیح صحیح طور سره مونږ تاته اور وو (چې په دی سره نبوت ثابتیږی لیکن د دومره

Maktaba Tul Ishaat.com

لوی معجز دلیل باوجود هم که یی دا خلګ نه منی، نوبیا دالله ﷻ او دهغه دَ (داسی) ایتونو څخه وروسته به کومه خبره (ددی څخه لویه وی چی په هغه) به داخلګ ایمان راوړی (اودریم مضمون داخرت دی چی په دی کی به دی دحق مخالفینو ته سزا هم وی ، لکه بیان یی دا دی چی) لویه خرابی به وی دهر داسی سړی دپاره کوم چی (دعقیدو متعلق خبروکی) درواغجن وی (اوپه اعمالوکی) نافرمانه وی (سره ددی چی) دخدای ایتونه اوری (هم) هرکله چی هغه دده په مخکی ویل کیږی (او) بیاهم هغه تکبر کوونکی (په خپل کفر) داسی ټینګ وی لکه چی دا (آیتونه) اوریدلی نه وی ، نو داسی سړی ته دیو دردناك عذاب خبر واوروه (اودهغه سړی دشرارت دا حال دی چی) هرکله هغه زمونږ په ایتونوکی دیو آیت خبر پیدا کی نو خندا ورپوری کوی ، دداسی خلګو دپاره (په اخرت کی) دذلت عذاب دی (مطلب دا چی کوم ایتونه په تلاوت کی اوری هغه هم درواغجن کوی او دکومو ایتونو څخه چی هسی خبریږی هغه هم درواغجن کوی ، غرض دایتونو په درواغجن کولوکی دیر زیات سوی دی ، مخ ته ددغه عذاب تعین دی یعنی) ددې په مخکی جهنم (را روان) دی او (هغه وخت به) نه خوهغه شیان دده یوه ذره په کار ورسی کوم چی یی (په دنیا کی) ګټلی وه (په دی کی مالونه اوعملونه ټول راغلل) اونه هغه (به یی په کار ورسی) کوم چی ده دالله ﷻ څخه ماسوا کارسازان (اومعبودان) جوړکړی وه اودهغوی دپاره به لوی عذاب وی (اووجه دهغه عذاب دا ده چې) دا قرآن سراسر هدایت دی (او واجب ده چی ومنل سی) او (ددی مقتضا دا ده چی) کوم خلګ چی دخپل رب (دا) ایتونه نه منی ، دهغوی دپاره به سخت دردناك عذاب وی .

معلومات اومسئلې : دا پوره سورة مکی دی صرف یو قول دا دی چی آیت ، قُلْ لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللهِ : مدنی دی اوباقی مکی لیکن دجمهورو دقول مطابق ټول سورة دهجرت څخه مخکی نازل سوی دی او دنورو مکی سورتونو په شان ددی بنیادی مضمون دعقیدو اصلاح ده ، چنانچی په دی کی دتوحید رسالت او دآخرت عقیدی یی په مختلفو طریقو سره مدلل کړی دی ، په خاص طور سره داخرت داثبات دلیلونه دمنکرانو دشبهو او ددهریانو تردید په دی کی په زیات تفصیل سره راغلی دی .

إِنَّ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ : په دی آیتونو سره دتوحید اثبات مقصود دی ، ددی په شان ایتونه په دوهمه پاره کی په رکوع ، إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ الخ کی تیر سوی دی ، هلته ددی تفسیر په تفصیل سره تیر سوی دی او دا هم چی په دی شیانو سره توحید څنګه ثابتیږی په دواړو ځایونو کی چی دعنوان څه لږ لږ فرق دی ، ددی متعلق نکتی عالمان دامام رازی په تفسیرکی لیدی سی ، البته یوه خبره دذکر قابله ده چی دلته دکائناتو مختلفی ننبنی یی بیان کړی دی یوځای یی دا فرمایلی دی چی په دی کی د ، ایمان راوړونکو دپاره، ننبنی دی ، بل ځای ارشاددی چی ، دیقین کوونکو دپاره، ننبنی دی او دریم ځای ارشاد دی چی دَ، عقل لرونکو دپاره ، ننبنی دی، په دی کی دتنوع داسلوب څخه علاوه دی طرف ته هم اشاره ده چی ددی ننبنو څخه پوره فائده خو هغه اخیستی سی کوم چی ایمان راوړی ، دوهم لمبر دا دهغو خلګو دپاره مفید کیدی سی کوم چی برابره خبره ده که فوراً خوایمان رانه وړی لیکن د دوی په زړه کی یقین پیداسی چی داشیان په توحید دلالت کوی ځکه چی دا یقین یو نه یو ورځ دایمان سبب جوړیدی سی او په دریمه درجه کی دهغوخلګودپاره مفیددی کوم چی برابره خبره ده که فی الحال نه مومن وی نه یقین

Maktaba Tul Ishaat.com

کوونکی لیکن عقل سلیم لری اوپه دی کی په بصیرت سره فکر وکی،څکه چی په عقل اوبصیرت سره کله هم په دی ننبنو باندی فکروسی ، اخر په دی سره ایمان اویقین ضرور پیدا کیدی سی، البته کوم خلک چی عقلِ سلیم نه لری یاپه دی معاملاتوکی عقل لره تکلیف ورکول نه برداشت کوی ددوی په مخکې که په زرګونو دلیلونه پیش سی تول به ناکافی وی .

وَيْلٌ لِكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيمٍ (لویه خرابی به وی هغه سړی لره کوم چی درواغجن اونافرمانه وی) ددی آیت په شان نزول کی دیر روایتونه دی ، دځینو څخه معلومیږی چی دا دنضر بن حارث په باره کی نازل سوی دی ، په ځینوکی دی چی دحارث بن کلده په باره کی دی اودځینو وینا ده چی ددی څخه مراد ابوجهل اودده ملګری دی (قرطبی) اوپه حقیقت کی دقرانی مطلب دوضاحت دپاره دیو سړی دمتعین کولو ضرورت نسته ، دَ،کُل، لفظ دانبیی چی برابره خبره ده که دایت دنزول په وروسته منظرکی دادری سره افراد وی ، لیکن مراد هرهغه سړی دی کوم چی داسی صفتونه لری .

مِنْ وَرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ مَّا كَسَبُوْا شَيْئًا وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ : لفظ په عربی کی دَ، شاته، دپاره زیات اودَ، مخکې ، دپاره کوم استعمالیږی لیکن اکثرو مفسرینو دلته دمخکی معنی کړي ده ، چنانچی په لنډتفسیرکی ترجمه ددی مطابق سوي ده البته ځینو مفسرینو دَ، شاته، معنی کړي ده ، اومطلب یی دا اخیستی دی چی په دنیاکی هغوی چی په کوم غرور اوتکبر سره ژوند تیروی په هغه پسی شاته یعنی وروسته جهنم راتلونکی دی (قرطبی)

اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ فِيْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا

الله هغه دی چی په قابو کی یی کی تاسی دپاره دریاب چی چلیږي په دی کی جهاز دهغه په حکم سره اوچی

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي

تلاش کړی دهغه دفضل څخه اوچی تاسی شکر وکاږی ، او په کار یی ولګول ستاسی دپاره څه چی دی په اسمانونو کی

الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ قُلْ لِّلَّذِيْنَ

اوپه مځکه کی تول دخپل طرف څخه ، په دی ننبانی دی دهغو خلقو دپاره چی فکر کوی ، ووایه ایماندارو

اٰمَنُوْا يَغْفِرُوْا لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ اَيَّامَ اللّٰهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوْا

ته چی درګزرکوی دهغوی څخه چی امید نه لری دالله د ورځو چی هغه سزا ورکړی یو قوم ته په بدله دهغه کی

يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ثُمَّ

چی دوی کول ، چاچی نیک کا وکی نو دخپل ځان دپاره اوچاچی بدی وکړه نو وبال یی په هغه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾

بیا به دخپل رب طرف ته واپسی کړل سی.

لنډتفسیر: الله ﷻ هغه دی چاچی ستاسی دَ (فائدی دَ) پاره دریاب په واك کی درکړی چی دهغه په حکم سره په دی کی کښتی وچلوی اوچی (په دی کښتی کی سفر وکی) تاسی دهغه رزق تلاش کی اوچی (دغه رزق حاصل کی) تاسی شکر وکاړی او (دغه شان) څومره شیان چی په آسمانونوکی دی اوځومره شیان چی په مځکه کی دی ، دا ټوله یی دخپل طرف څخه (یعنی په خپل حکم اوفضل سره) مسخر (دقدرت) جوړ کړل (چی ستاسی دنفع سبب سی) بیشکه په دی خبروکی دهغو خلګو دپاره دلیلونه (دقدرت) دی کوم چی فکر کوی (او دکفارو په شرارتونو به ځینی وخت مسلمانانو لره غصه ورتله مخ ته دوی ته ددرګزرکولو حکم دی) ته ایماندارو ته وفرمایه چی دهغو خلګو څخه درګزر کوی کوم چی دخدای ﷻ په معاملاتو (یعنی داخرت په جزا اوسزا) یقین نه لری ، چی الله ﷻ یوقوم ته (یعنی مسلمانانو ته) د دوی په (دی نیك) عمل باندی (ښه) بدله ورکی (ځکه چی هلته قاعده کلیه دا ده چی) کوم سړی نیك کارکوی نو دخپلی ذاتی نفع (اوثواب) دپاره (یی کوی) اوکوم سړی چی بدکار کوی نو دهغه وبال پرهغه پریوزی بیا (دټول نیك اوبدکار کولو څخه وروسته) به تاسی خپل درب طرف ته واپس کیږی (نو هلته به تاسی ته ستاسی دښو عملونو اواخلاقو بهترینه بدله اوستاسی مخالفینو ته به د دوی دکفر اومعصیت په بدله کی بدترینه سزا ورکول سی، په دی وجه تاسی ته درګذر مناسب دی.

معلومات اومسئلې: اَللّٰهُ الَّذِي سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ تر: وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ پوری ، په قرآن کریم کی دفضل دتلاش کولوځخه مراد دکسب معاش جد اوجهدوی ، دلته ددی مطلب دا هم کیدی سی چی تاسی ته په سمندر کی په کښتو چلولو باندی ځکه قدرت درکول سوچی ددی په ذریعه تاسی تجارت وکی اوداهم ممکنه ده چی دفضل تلاش کول دکښتیو چلولو سره هیڅ تعلق نه لری ، بلکه دا ددریاب دمسخرکولو یومستقل قسم وی اومطلب دا وی چی په سمندرکی مونږ ډیر دنفع شیان پیداکړل ، سمندر مو ستاسی دپاره مسخرکړی دی چی تاسی په کی تلاش وکی اونفع واخلی چنانچی دنوی سائنس په وجه سره دامعلومه ده چی په سمندرکی دومره معدني ذخیری اودمځکی پټ دولتونه دی چی دومره په وچه کی نسته ، قُلْ لِلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللّٰهِ (ته ایماندارو ته ووایه چی دهغه خلګو څخه درګزر کوی کوم چی دخدای ﷻ په معاملاتو یقین نه لری) ددی آیت په شان نزول کی دوه روایتونه دی ، یو دا چی په مکه مکرمه کی یو مشرك حضرت عمر ﷺ ته کښنځل کړی وه ، حضرت عمر ﷺ ددی په بدله کی هغه ته دځه تکلیف رسولو اراده وفرمایله ، په دی باندی داایت نازل سو، ددی روایت مطابق داایت مکی دی، دوهم روایت دادی چی دغزوه بنی مصطلق په موقعه نبی کریم ﷺ او د دوی اصحابو ﷺ دمُریسیع نومی یوځاه په خوا کی هوسایی وکړه، دمنافقانو سردار عبدالله بن ابی هم دمسلمانانوپه لښکرکی شامل وو، ده خپل غلام ځاه ته داوبو ډکولو دپاره ولیږی، ده په واپسی کی ډیر وخت واخیستی عبدالله بن ابی پوښتنه ځینی وکړه نو ده وویل چی دحضرت عمر ﷺ یوغلام دځاه په غاړه ناست وو، هغه چاته ترهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخته پوری داوبو ډکولو اجازت نه ورکوی، ترڅو پوری چی دنبی کریم ﷺ اودحضرت ابوبکرؓ مشکیزی ډکی سوی نه وای ، په دی باندی عبدالله بن ابی وویل چی ، په مونږ اوپه دغوخلګو خوهغه مثل صادق راڅی ، سَمِّنْ كَلْبَكَ يَاكُلْكَ : خپل سپی چاغ کړه نوتابه وخوری ، حضرت عمر ؓ ددی څخه خبر سو نو هغه توره را واخیسته او دعبدالله بن ابی طرف ته روان سو، په دی باندی دا ایت نازل سو، ددی روایت مطابق دا ایت مدنی دی (قرطبی ، روح المعانی)

ددی روایتونو داسنادی تحقیق څخه که د دواړو صحبت ثابت وی نو په دواړوکی تطبیق داسی کیدی سی چی په اصل کی دا ایت په مکه مکرمه کی نازل سوی وو، بیاچی هرکله دغزوه بنی المصطلق په موقع باندی د دوی سره یوشان واقعه پیښه سوه نونبی کریم ﷺ دا ایت په هغه موقع هم تلاوت وفرمایی او واقعه یی په دی پوری منطبق وفرمایله ، او دشان نزول په روایتونوکی داسی واقعات په کثرت سره سوی دی یابیا دا هم ممکنه ده چی حضرت جبرائیل ؑ دیاد دهانی دپاره دغزوه بنی المصطلق په واقعه کی دوباره دا ایت راوړی وی چی داموقع په دی آیت دعمل کولو ده ، دتفسیر داصولو په اصطلاح کی دی ته ، نزول مکرر، ویل کیږی.

او په آیت کی دَاَيّامُ اللهِ دلفظ څخه مراد دډیرو مفسرینو په نزد دالله ﷻ هغه معاملی دی کومی چی به هغه په اخرت دانسانانو سره کوی یعنی، جزا اوسزا، ځکه چی دَ، ایّام، لفظ دواقعاتو اومعاملاتو، په معنٰی کی په عربی کی ډیر استعمالیږی.

دلته دوهمه دا خبره قابل غورده چی خبره خوداسی هم ویل کیدی سوه چی ، ته ایماندارو ته ووایه چی هغوی دمشرکینو څخه درګزر کوی ، ددی په ځای ویل سوی داسی دی چی ، دهغو خلګو څخه درګزر کوی کوم چی دخدای ﷻ په معاملاتو یقین نه کوی ، په دی سره شاید چی دی خبری طرف ته اشاره وی چی دی خلګوته به اصل سزا په اخرت کی ورکول کیږی اوچونکی داخلګ په اخرت یقین نه لری په دی وجه هغه سزا به د دوی دپاره غیرِ متوقع اوناڅاپه وی اودغیرِ متوقع تکلیف ډیر زیات وی ، د دوی وجه دوی ته رسیدونکی عذاب به ډیرسخت وی او ددی په ذریعه به د دوی څخه دټولو بدو عملونو پوره پوره بدله واخیستل سی ، په دنیاکی ته د دوی په کوچنیو کوچنیو خبرو دګرفت فکر مه کوه.

ځینو حضراتو فرمایلی دی چی ددی آیت حکم دجهاد داحکامو دنازلیدو څخه وروسته منسوخ سو، لیکن دډیرو تحقیق کوونکو مفسرینو ویناده چی ددی آیت دجهاد دحکم سره هیڅ تعلق نسته ، دا خو په عام معاشرت کی په کوچنیو کوچنیو خبرو دبدل نه اخیستو تعلیم دی کوم چی دهری زمانی دپاره عام دی اونن هم ددی حکم باقی دی ، په دی وجه ددی منسوخ ګرځول درست نه دی ، خصوصاً که ددی شان نزول دغزوه بنی المصطلق واقعه وی نو دجهاد ایت ددی دپاره ناسخ نه سی جوړیدی ، ځکه چی دجهاد ایتونه ددی څخه مخکی نازل سوی دی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ

او مونږ ورکړی دی بنی اسرائیلو ته کتاب او حکومت او پیغمبری

Maktaba Tul Ishaat.com

وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾

او رزق مو ورکړی دی هغوی ته پاک شیان او مونږ غوره کړل هغوی په مخلوق باندی ،

وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ

او ورکړی مونږ هغوی ته بنکاره خبری ددین ، بیا هغوی اختلاف وکی وروسته دهغه څخه چی راغی

الْعِلْمُ ۙ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا

هغوی ته علم دوجهی دضد څخه په مینځ خپل کی،بیشکه ستارب به فیصله وکړی په هغوی کی په ورځ دقیامت

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰي شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا

په کومه خبره کی چی هغوی اختلاف کوی ، بیاکړی مونږ ته په یوه لاره ددین دکارونو څخه پس ته په دی

وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاۗءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾ اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ

چلیږ او مه چلیږه په خواهشاتو دناپوهانو خلقو ، هغوی هیڅکله په کار نه راځی ستا

اللّٰهِ شَيْـــًٔا ۭ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَاۗءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹﴾

دالله په مخکې هیڅ قدر، او بی انصافه دیو بل ملګری دی ، او الله ملګری دی دبیریدونکو

هٰذَا بَصَاۗىِٕرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۲۰﴾

دا دپوهی خبری دی دخلقو دپاره او هدایت دی او رحمت دی دهغه خلقو دپاره کوم چی یقین کوی

لنډتفسیر: او (نبوت څه نوی شی نه دی چی ددی څخه انکار وسی چنانچی ددی څخه مخکی) مونږ بنی اسرائیلو ته کتاب (اسمانی) اوحکمت (یعنی علم داحکامو) او نبوت ورکړی وو (یعنی په هغوی کی موانبیاء پیدا کړی وه) اومونږ هغوی ته عمده عمده شیان دخوراك ورکړی وه (داسی چی په میدان تیهه کی موورباندی من اوسلوی نازل کړل اوهغوی مودشام دملك مالکان جوړکړل کوم چی دمخکی دبرکتونو خزانه ده) اومونږ (په څینی کارونوکی مثلاً په سمندرکی دلاری ورکولو ، دوریځی سایی پرکولو وغیره) هغوی ته ددنیا په مخلوق باندی فوقیت ورکی اومونږ هغوی ته ددین په باره کی بنکاره بنکاره دلیلونه ورکړل (یعنی هغوی ته مو دیری واضحی معجزی وښوولی، غرض حسبی، معنوی، علمی هرقسم نعمتونه مو ورکړل) نو (په کار وه چی بنه اطاعت یی کولی مګر) هغوی دعلم دراتلو څخه وروسته دیوبل

Maktaba Tul Ishaat.com

سره اختلاف وکی په وجه په خپل مینځ کی دضد (چی بیان یی په دوهمه پاره دوهمه رکوع ، کی سوی دی ، مطلب دا دی چی کوم علم داختلافاتو ختمولو سبب په کار وو ، هغوی دنفسا نفسی په وجه چپه هغه داختلاف موجب جوړکی ، نو) ستارب به دهغوی په مینځ کی دقیامت په ورځ په هغه کارونوکی (عملی فیصله وکی) په کوموکی چی هغوی په خپل مینځ کی اختلاف کوی ، بیا (په بنی اسرائیلو کی دنبوت د دور ختمیدو څخه وروسته) مونږ تاته (نبوت درکی اوته مو) ددین په یوه خاص طریقه باندی کړی نو ته په هم هغه طریقه چلیږه (یعنی په عمل کی هم اوپه تبلیغ کی هم) او ددی جاهلانوپه خواهشونو پسی مه څه (یعنی دهغوی خواهش خو دا دی چی ته تبلیغ پریږدی او ددی دپاره هغوی په قسم قسم طریقو سره تاپریشانه کوی چی ته تنګ سی تبلیغ پریږدی نو ستا څخه که څه هم دا احتمال نسته مګر دتبلیغ دکار داهتمام دپاره تاته بیاددی حکم کیږی ، مخ ته په دی طرز باندی ددی حکم علت فرمایی چی) دا خلګ دخدای په مقابله کی ستایوه ذره په کارنه سی راتلی (نو چی د دوی تابعداری ونه کړی) اوظالمان خلګ دیوبل دوستان وی (اودیوبل خبره منی) اوالله ﷻ دوست دی دمتقیانو (اومتقیان دهغه خبره منی ، نو هرکله چی ته ظالم نه یی بلکه سردار دمتقیانو یی نوستا دهغوی دتابعداری سره څه نسبت دی؟ البته دالله ﷻ دحکمونو سره دی خاص نسبت دی غرض ته صاحب نبوت اوشریعت حقّه یی او) داقرآن (کوم چی تاته درکول سوی دی دا) دعامو خلګو دپاره دپوهیدو سبب او دهدایت ذریعه ده او دیقین (یعنی ایمان) راوړونکو دپاره دلوی رحمت (سبب) دی .

معلومات اومسئلي : ددی ایتونو موضوع دنبی کریم ﷺ درسالت اثبات دی اوپه دی ضمن کی چی به کفارو دوی ته کوم ازار رسوی ، دوی ته یی تسلی هم فرمایلی ده ، إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ : تردی پوری دایتونو دمضمون څخه دوی خبری مستفادی سوی ، یوه خو بنی اسرائیلو ته په کتاب اونبوت ورکولو د دوی دنبوت تائید ، دوهم دوی ته تسلی چی بنی اسرائیلوته داختلاف کومه وجه پیښه سوی وه ، هغه ستا قوم ته ستاسره په اختلاف کولو کی پیښه سوي ده ، یعنی ددنیا محبت اوحسد اونفسانیت داسی نه ده چی گوندی ستاپه دلیلونوکی څه کمی دی ، نو ته غم مه کوه (بیان القرآن)

(دتیرو امتونو دشریعتونو حکم زمونږ دپاره)

ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ (بیا مونږ ته ددین په یوه خاص طریقه باندی کړی) دلته داخبره په ذهن کی لرل په کار دی چی ددین اسلام څه خو اصولی عقائد دی ، مثلاً توحید اخرت وغیره اوځه دعملی ژوند سره متعلق احکام دی ، ترکومه حده پوری چی داصولی عقائدو تعلق دی ، هغه خو دهرنبی په امت کی یو شان راغلی دی ، اوپه دی کی هیڅکله ترمیم اوتبدیلی نه ده سوی لیکن عِملی احکام دمختلفو انبیاوو په شریعتونوکی دخپلی خپلی زمانی په لحاظ سره بدل سوی دی ، په ذکرسوی آیت کی یی دا دوهم قسم احکام ، ددین په یوخاص طریقه ، سره تعبیرکړی دی اوپه دی وجه فقهاوو ددی آیت څخه دانتیجه را ایستلی ده چی دامت محمدی دپاره صرف دشریعت محمدی احکام واجب العمل دی، تیرو امتونوته چی کم احکام ورکول سوی وه، هغه زمونږ دپاره ترهغه وخته پوری واجب العمل نه دی، ترڅو پوری چی دقرآن اوحدیث څخه دهغه تائید ونه سی، بیا دتائید یوشکل خودادی چی په قران یاحدیث

Maktaba Tul Ishaat.com

کی په وضاحت سره دافرمایلی دی چی دفلانی نبی دامت داحکم زمونږ دپاره هم واجب العمل دی او دوهم صورت دا دی چی قرآن کریم یانبی کریم ﷺ دچاتیر امت څه حکم په طور دتحسین اومدح بیان کړی وي او ددی سره یی دا نه وی فرمایلی چی دا حکم زمونږ په زمانه کی منسوخ سوی دی ، ددی څخه هم دا معلومیږی چی دا حکم زمونږ په شریعت کی هم جاری دی اوپه حقیقت کی ددی حکم واجب العمل کیدل هم په دی صورت کی دشریعت محمدی دیو جزء کیدو په حیثیت سره وی ، دلته دومره خبره دمسئلی په حقیقت دپوهیدو دپاره کافی ده ، تفصیلات دفقه داصولو په کتابونو کی مذکور دی .

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

آیاخیال کوی کوموچی گټلی دی بدی چی مونږ به کړو دوی برابر دهغوی خلقو کوموچی یقین راوړی اووي کړل نیک کارونه ،

سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ

یو شان دی د دوی ژوند او مرګونه ، ناکاره دعوی دی چی کوی یی ، او جوړ کړی دی الله اسمانونه

وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٢﴾

اومځکه څنګه چی په کار وو اوچی بدله پیدا کړی هریو د خپل کار اوپه دوی به ظلم نه وی.

لنډتفسیر: دا (دقیامت څخه انکار کوونکی) خلګ چی ناکاره کارونه (کفر، شرك، ظلم اومعصیت) کوی (په مخکی) ایاداخیال کوی چی مونږبه دوی دهغوخلګو سره برابرکړوکوموچی ایمان اونیك عمل اختیار کی چی دهغوی ټولو ژوند اومرګ یوشان سی (یعنی دمومنانو مرګ اوژوندپه دی معنی برابرسی چی لکه څنګه چی په ژوندکی یی دخوندونو اومزو حصه نه کړه پیدا، دغه شان دمرګ څخه وروسته هم محروم پاته سی، اودغه شان دکافرانو مرګ اوژوند هم په دی معنی یوشان سی چی لکه څنګه چی په دی ژوندکی دعذاب اوتکلیفونو څخه محفوظ پاته سو دغه شان دمرګ څخه وروسته هم دعذاب څخه په امن سی ، مطلب دا دی چی ددوباره ژوندی کیدو څخه دانکار کولو څخه دا لازمیږی چی اطاعت شعار بندګانوته هیڅکله د دوی داطاعت میوه ورنه کړل سی او په مخالفینو باندی هیڅکله دمخالفت وبال رانه سی) دوی ناکاره حکم لګوی ، اوالله ﷻ آسمانونه اومځکی په حکمت سره پیدا کړل (یوحکمت خودا دی چی ددی عظیم الشان مخلوقات په پیدا کولو ـالله ﷻ قدرت ولیدل سی اوهر دعقل خاوندپه دی پوه سی چی څوك په اول وار داشیان پیدا کولی سی هغه دادفنا کولوڅخه وروسته دوباره هم دغسی موجود کولی سی چی ددی څخه دقیامت اواخرت وجود ثابتیږی) او (دوهم حکمت دا دی چی) ددی دپاره چی هرسړی ته دهغه دکار بدله ورکول سی (اوپه دی سره ټول پوهیږی چی په دنیاکی پوره بدله نسته ، په دی وجه داخرت راتلل ضروری سول) او (په دی بدله کی) به په هغوی ظلم نه سی کیدی .

(معلومات اومسئلي : عالم اخرت اوپه دی کي جزا اوسزا عقلاً ضروری ده)

دذکر سوو دوو ایتونو څخه داول آیت مطلب یو عقلی استدلال دی دقیامت دورځی په ضروری کیدو،

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه دا دی چی دا خبره خو هرسړی وینی اوهیڅاته په دی کی دانکار ګنجائش نسته چی په دنیاکی دښه اوبد عمل پوره بدله نه ورکول کیږی ، بلکه په عام طورسره کفار فجار په دولت دنیا عیش اوعشرت کی ژوند تیر وی ، اوداللہ ﷻ اطاعت شعار بندګان په لوړه تنده اومصیبتونو افتونوکی مبتلاوی، اول خوپه دنیاکی دبدکارو مجرمانو دجرم اکثره پته نه لګیږی، اوکه پته یی ولګیږی هم نونیوی کیدی نه سی ، که ونیول هم سی نودحلالوحرامو رښتیا دروغو دپروا کولو څخه بغیر دسزا څخه دمحفوظ کیدولاری لټوی اوپه سوونو کی که چیری یوه ته هم سزا ورکول سی نوهغه هم دده دعمل پوره سزانه وی ، دغه شان دخدای ﷻ باغی دخپلو خواهشاتو پیروکار ددی دنیاپه ژوندکی په مزو اوچرچو سره ګرځی اوبی چاره مومن پابند دشریعت ډیر دولت اولذتونه خوحرام ګنی اوپریږدی یی او دمصیبتونو اوافتونو څخه دبچ کیدو دپاره هم جائزی طریقی اختیاروی په دی وجه په دنیاکی ددوی دلویو راحتونو اولذتونو څخه محروم کیدل خو ښکاره خبره ده ، اوهرکله چی دامعلومه سوه چی په دی دنیاکی دعملونو پوره بدله نه ورکول کیږی نو اوس که ددی دنیاڅخه وروسته بل عالم اخرت اوپه دی کی دوباره ژوند اودجزا اوسزا نفاذ نه وی نو بیاپه دنیاکی غلا ، ډاکی ، زنا ، قتل وغیره ته جرم ویل دحماقت څخه ماسوا نورڅه دی دا خلګ خو اکثره په دنیاکی لوی کامیاب ژوند تیروی ، یوغل ډاکو په یوه شپه کی دومره دولت حاصلوی نوکه اخرت او ددی حساب کتاب هیڅ نه وی نودی غل ډاکو ته ددی شریف فارغ شده څخه به بیا ښه ویل په کار وی کوم چی یو دعقل خاوندیی نه سی خوښولی ، پاته سوه داوینا چی په دی خلګوپه دنیاکی سختی سزاګانی په هرحکومت کی مقرردی، ۰ګر دنن صبا تجربه دانښیی چی مجرم صرف هغه نیول کیږی کوم چی بی وقوف وی،دهوښیارعادی مجرم دپاره دسزاڅخه دمحفوظ کیدولاری ډیری دی یورشوت دی کوم چی په چوردروازه دده دتینبتی دپاره کافی دی لنډه دا ده چی یاخو دا ومنل سی چی په دنیاکی هیڅ ښه بدنیکی بدی څه شی نسته خپل مطلب چی په څه طریقه حاصل کړی دغه عینی ثواب دی مګرددی خو په دنیاکی هیڅوک قائل نسته اوکله چی دنیکی بدی امتیاز تسلیم سی، نوبیا ددواړو انجام برابر دی ، بلکه بد اومجرم دنیك څخه زیات په ارام کی دی ، ددی برابر هیڅ ظلم نه سی کیدی ، دایی دقرآن کریم په ذکرسوی آیت کی فرمایلی دی چی ایا تاسی داغواړی چی مجرم اوغیر مجرم دواړه په دنیا اوپه اخرت کی برابرسی، سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ داډیره احمقانه فیصله ده ، هرکله چی په دنیاکی دنیکی بدی جزا او سزا پوره نه ورکول کیږی ، نوداخرت بل ژوند اوپه هغه کی دجزا اوسزا کیدل لازمی دی .

په دوهم آیت کی یی هم ددی مضمون دتکمیل دپاره وفرمایل ، كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ : یعنی دظلم زور ختمولو او دانصاف قائمولو دپاره دجزا ورځ راتلل ضروری دی ، پاته سوه دا شبهه چی په دنیا کی دهر عمل بدله ښه یابده ولی ورنه کړل سوه دا ددی تکوینی حکمت خلاف ده چی داعالم الله ﷻ دار العمل اودار الامتحان جوړ کړی دی ، دار الجزاء یی نه دی جوړ کړی ، والله تعالی اعلم

أَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ

آیاتاولیدل چا چی جوړ کړی دی معبود خواهش خپل او بی لاری کی دی الله سره دعلم څخه اومهریی ولګوی

Maktaba Tul Ishaat.com

سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ

په غوږونو دده او په زړه دده او وی غورځوله په سترګو دده پرده ، بیا به څوک په لاری کړی دی

اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَقَالُوْا مَا هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا

دالله ﷻ څخه ماسوا ، آیا تاسی غور نه کوی ، او وایی نه دی مګر دا ژوند ددنیا زمونږ دی مرو او ژوندی کیږو

وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا

او نه هلاکوی مونږ مګر زمانه ، او دوی هیڅ په دی باندی خبر نه دی ، دوی محض اټکل

يَظُنُّوْنَ ﴿۲۴﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّآ اَنْ

چلوی ، او هرکله چی وویل سی دوی ته زمونږ ایتونه واضح هیڅ دلیل نه وی د دوی سره مګر دا

قَالُوا ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ

چی وایی راولی زمونږ پلار نیکه که تاسی رښتینی یاست ، ووایه چی الله ژوندی کوی تاسی بیابه تاسی مړه کوی

ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ ع

بیا به تاسی جمع کوی دقیامت د ورځی پوری چی شك نسته په هغه کی او لیکن اکثر خلق نه پوهیږی

لنډتفسیر: نو ایا (دتوحید اواخرت ددی واضحو بیاناتو څخه وروسته) تادهغه سړی حالت هم لیدلی دی کوم چی خپل خدای خپل خواهش نفسانی جوړ کړی دی (چی څه یی په زړه کی راځی هغه کوی) اوخدای دی سره دپوهی ګمراه کړی دی (چی حق یی واوریدی او پوه په هم سو مګر دنفسانی خواهش په پیروی سره ګمراه سو) او (خدای تعالی) دده په غوږونو اوزړه مهر لګولی دی اوددده په سترګو یی پرده اچولی ده (یعنی دنس پرستی په وجه یی دحق صلاحیت نهایت کمزوری سو) پس داسی سړی ته وروسته دخدای (دګمراه کولو) څخه به څوك هدایت وکی (په دی کی تسلی هم ده ، مخ ته دی منکرانو ته په طور دزجر خطاب دی چی) ایا تاسی (ددی بیانولو په اوریدو) بیا هم نه پوهیږی (یعنی داسی پوهه چی نفع منده وی که څه هم دعامی معنی په اعتبار سره پوهیږی) اودا (دقیامت انکار کوونکی) خلګ داسی وایی چی بغیر زمونږ ددی دنیوی ژوند څخه بل ژوند (په اخرت کی) نسته مونږ (دغه یو وار) مرو او (دغه یووار) ژوندی کیږو (مقصد دا دی چی دمرګ په شان ژوندهم ددنیاسره خاص دی) اومونږ لره صرف دزمانی (په ګردش) سره مرګ راځی (مطلب دا چی دزمانی دتیریدو سره سره جسمانی قوتونه خرځیږی اوپه دی طبعی اسبابو سره مرګ راځی اودغه شان دژوند سبب هم طبعی اموردی، پس هرکله چی مرګ اوژوند

Maktaba Tul Ishaat.com

دطبعی اسبابو تابع دی اوطبعی اسباب داخرت دژوند تقاضانه کوی نو داخرت ژوندبه نه وی، اوددی خلگو سره په دی هیڅ دلیل نسته محض اتکل چلوی (یعنی داخرت دژوندپه نفی باندی هیڅ دلیل نسته) او (نه داهل حقو ددلیل هغوی څه جواب ورکولی سی چنانچی) څه وخت چی (په دی باره کی) ددوی په مخکی زمونږ ښکاره ایتونه ویل کیږی (کوم چی دمطلوب ثابتولو دپاره کافی وی) نودهغوی (په دی باندی) بغیر ددی څخه بل هیڅ جواب نه وی چی وایی چی زمونږ پلار نیکه (راژوندی کړه) مخامخ یی راوله که تاسی (په دی دعوه کی) رښتینی یاست (او ددی جواب څخه ماسوا بل جواب نه سی ورکولی، مثلاً دا چی په څه عقلی دلیل سره ددی عقلاً محالوالی ثابت کی) ته (د دوی په جواب کی) داسی ووایه چی الله ﷻ تاسی (ترکومه پوری چی غواړی) ژوندی ساتی بیا (هر کله چی وغواړی) تاسی ته به مرګ درکړی بیابه دقیامت په ورځ په کومی (وقوع) کی چی ذره شك نسته تاسی (ژوندی کړی او) جمع به موکړی (نو دعوه په دغه ورځ کی دژوندی کولو ده او په دنیاکی دمړو دنه ژوندکولو څخه په دغه ورځ دنه ژوندی کولو نفی نه راځی) لیکن اکثره خلګ نه پوهیږی (او بی دلیله دحق څخه انکار کوی)

معلومات اومسئلي: مَنِ اتَّخَذَ إِلٰهَهُ هَوَاهُ (یعنی هغه څوك چاچی خواهشات نفسانی خپل معبود جوړکی) دا خو ظاهره ده چی یوکافر هم خپلو نفسانی خواهشاتوته خپل خدای یا معبودنه وایی، مګر قرآن کریم په دی آیت کی دا وښوولله چی عبادت په حقیقت کی داطاعت نوم دی کوم سړی چی دخدای داطاعت په مقابله کی دبل چا اطاعت اختیارکی، هغه ته دده معبود ویل کیږی، نوکوم سړی چی دحلالو حرامو اوجائزو اوناجائزو پرواه نه کوی، خدای ﷻ چی کوم شی حرام کړی دی، په هغه کی هغه دخدای ﷻ دحکم منلو په ځای دخپل نفس پیروی کوی، نوکه څه هم هغه خپل نفس ته په ژبه سره خپل معبودنه وایی، مګر په حقیقت کی هغه دهغه معبود سو، دامضمون چا عارف په یوشعرکی ویلی دی.

سوده گشت از سجدهٔ راه بتان پیشانیم چند برخود تهمت دینِ مسلمانی نهم

تندی می دمجازی معشوقو په لاره کی په سجدو کولو وسولیدی او زه ځان ته وایم چی زه مسلمان یم، دا خو زه په ځان دمسلمانی عبث تهمت لګوم.

په دی شعرکی یی خواهشات نفسانی په بتانو سره تعبیر کړي دی چاچی خپل خواهشات امام اومقتداء جوړ کی او په دی پسی سو نو ګویا داخواهشات دده بتان دی.

حضرت ابوامامه ﷺ فرمایی چی مادنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی دآسمان لاندی په دنیاکی دځومره معبودانوعبات سوی دی په هغه کی دتولوڅخه زیات مبغوض دالله ﷻ په نزدخواهش دی یعنی نفسانی خواهش.

دحضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روایت دی، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی هوښیار هغه سړی دی کوم چی خپل نفس په منع کی وساتی اودمرګ څخه دوروسته وخت دپاره عمل وکی اوفاجر هغه دی کوم چی خپل نفس په خواهش پسی ورپریږدی او ددی باوجود دالله ﷻ څخه داخرت دښیګړی ارزو لری.

اوحضرت سهل بن عبد الله تستری رحمه الله فرمایی چی ستاسی بیماری ستاسی نفسانی خواهشونه دی البته که تاسی ددی مخالفت کوی نودا بیماری ستاسی دوایی هم ده (داتول روایتونه دقرطبی څخه را اخیستل سوی دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا الدَّهْرُ : لفظ ددهر په اصل کی دهغه تولی مجموعه مودی نوم دی کومه چی ددی عالم دابتداء څخه ترانتها پوری ده اوکله ډیری لویی مودی ته هم دهر ویل کیږی ، کفارو داقول په طور ددلیل پیش کړی دی چی زمونږ دمرګ اوژوند دخدای دحکم اومشیت سره هیڅ تعلق نسته بلکه دطبعی اسبابو تابع دی چی مشاهده یی دمرګ په حقله هرسړی کوی چی دانسان اندامونه اوقوتونه داستعمال په سبب کمیږی اودیوی اوږدی زمانی تیریدو څخه وروسته هغه بالکل معطل سی ددی نوم مرګ دی ، په دی باندی ژوند هم قیاس کړه چی هغه هم په څه خدایی حکم سره نه دی ، بلکه دمادی په طبعی حرکتونو سره حاصلیږی ﴿دَهَر یازمانی ته بَدْ ویل ښه نه دی﴾

کفار اومشرکان دزمانی ګردش دتولو کائناتو او ددی تولوحالاتو علت ګرځوی اودی ته یی منسوب کوی لکه چی په دی آیت کی یی ذکرسوی دی، حال دا دی چی په حقیقت کی داتول کارونه دالله ﷻ په قدرت او اراده سره کیږی ، په دی وجه په صحیح احادیثو کی دهر یازمانی ته دبدو ویلو څخه منع سوې ده څکه چی کفارقوت ددهر په لفظ سره تعبیر کوی ، په حقیقت کی هغه قوت اوقدرت دحق تعالی دی ، په دی وجه دهرته دبدو ویلو نتیجه په حقیقت کی الله ﷻ ته رسیږی ، رسول الله ﷺ فرمایی چی دهرته بدمه وایاست څکه چی دهرپه حقیقت کی الله ﷻ دی ، مراد دا دی چی داجاهلان کوم کارته چی ددهرکار وایی هغه په حقیقت کی دالله ﷻ دقوت اوقدرت کار دی ، دهرڅه شی نه دی ، په دی سره دانه لازمیږی چی دهر دالله ﷻ دنومونو څخه یونوم وی څکه دلته مجازاً الله ﷻ ته دهر ویل سوی دی .

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

او الله لره دی حکومت داسمانونو اودمځکی ، او په کومه ورځ چی قائم سی قیامت

يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ اُمَّةٍ

په دغه ورځ به خراب سی درواغجنان ، او ته به وینی هره فرقه پراته په زنګونانو هره فرقه به بلل کیږی

تُدْعٰٓى اِلٰى كِتٰبِهَا ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا

خپلی خپلی عملنامی ته ، نن به بدله پیدا کوی دهغه چی تاسی کوی ، دا زمونږ کتاب دی

يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ؕ اِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَمَّا

چی خبری کوی په تاسی صحیح ، مونږ لیکل څه چی تاسی کول ، نو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ

کومو خلقو چی یقین کړی دی اونیک عملونه یی کړی دی، نو داخل به کړی هغوی رب دهغوی په خپل رحمت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۰﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۫ اَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ

دا دی بنکاره مراد پیدا کول ، او کوم چی منکر سول آیا تاسی ته نه وو

تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا قِيْلَ

او رول سوی زمونږ ایتونه ، بیا تاسی تکبر وکی اوسواست تاسی خلق ګناهګار ، او کله چی به وویل سول

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيْهَا قُلْتُمْ مَّا نَدْرِيْ مَا

چی وعده دالله ﷻ حقه ده او په قیامت کی هیڅ شك نسته تاسی به ویل مونږ نه پوهیږو چی

السَّاعَةُ ۙ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَبَدَا لَهُمْ

قیامت څه دی ؟ مونږ خو صرف دیو خیال ګمان پر کوو او زمونږ یقین نه راځی ، او بنکاره به سی هغوی ته

سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَقِيْلَ

بدی دخپلو عملونو کوم چی یی کړی وه او ګیرېه کړی هغوی هغه شی په کوم پوری چی یی مسخری کولی او وبه ویل سی

اَلْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَ

چی نن مونږ تاسی هیر کړاست لکه چی تاسی هیر کړی وو ملاقات ددې ورځی ستاسی اوکور ستاسی دوزخ دی

مَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ

اوهیڅوك نسته ستاسی مددګار ، دا په تاسی څکه وسوه چی تاسی نیولی وی خبری دالله پاك مسخری اومغروره کړی واست

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۳۵﴾

تاسی ژوند ددنیا نو دنن څخه خو د دوی وتل منظور دی ددې څخه او نه ورځخه توبه مطلوب ده

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۶﴾ وَلَهُ

نو الله لره ده تولې ثنا چی رب دی دآسمانونو او رب دی دمځکی رب دمخلوقاتو او هغه لره

الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳۷﴾

لویی ده په آسمانونو کی او په مځکه کی او هغه زبردست حکمت والا دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: او (لوړ چې څه وویل سول چې ، الله ﷻ به تاسی جمع کړی ، نو دا دی مشکل نه ګڼل کیږی څکه چې) دالله ﷻ حکومت دی په آسمانونوکی اوپه مځکه کی (هغه چې څه غواړی تصرف کوی، نو ستاسی دمرګ څخه وروسته ژوندی کول اوجمع کول هغه ته څه مشکل نه دی) اوپه کومه ورځ چې قیامت قایم سی په هغه ورځ به اهل باطل په خساره کی پریوزی اوته به (په دغه ورځ) هره ډله ووینی چې (دبیری څخه) به په زنګونانو پریوزی ، هره فرقه به په خپلی عملنامی (کی دلیکل سوو عملونو دحساب) طرف ته راوبلل سی (دا مطلب دی دعملناموطرف ته درابللو ، کنه نوعملنامی خوبه په خپله د دوی سره وی او دوی ته به وویل سی چې) نن به تاسی ته ستاسی دعملونو بدله درکول سی (او ورته به وویل سی چې) دا (عملنامه) زمونږ (لیکل سوی) کتاب دی کوم چې ستاسی په مقابله کی صحیح صحیح خبری کوی (یعنی ستاسی عملونه ظاهروی او) مونږ (په دنیاکی) ستاسی (تولو) عملونه (په ملائکو سره) لیکو (او دا دهغه مجموعه ده) نو (دحساب څخه وروسته به فیصله دا وسی چې) کومو خلګو ایمان راوړی وو اوهغوی نیك کارونه کړی وه نو دوی به د دوی رب په خپل رحمت کی دا خل کړی اودا ښکاره کامیابی ده اوکوم خلګ چې کافران وه (هغوی ته به وویل سی چې) ایا زما ایتونه تاسی ته نه ویل کیدل، نو تاسی (دهغو دقبلولو څخه) تکبر کړی وو او (په دی وجه) تاسی لوی مجرمان واست او (ستاسی داحال ووچې) هرکله (تاسی ته) به وویل سول چې دالله ﷻ وعده (د دوباره ژوندی کولو جزا او سزا ورکولو) حقه ده او په قیامت کی هیڅ شك نسته نوتاسی به (په ډیره بی پرواهی) ویل چې مونږ نه پیژنو چې قیامت څه شی دی؟ (صرف په اوریدو سره) محضی یوخیالی شان خومونږته هم راځی اومونږته (په هغه) یقین نسته او (هغه وخت) به دوی ته خپل تول بد عملونه ظاهرسی اودکوم (عذاب) سره چې دوی مسخری کولی هغه به دوی راګیر کړی او (دوی ته) به وویل سی چې نن مونږ تاسی هیروو (یعنی درحمت څخه تاسی محرومه کوو کوم ته چې یی مجازاً هیرول وویل) لکه څنګه چې تاسی خپلی ددی ورځی راتلل هیر کړی وه او (دنن څخه) ستاسی ځای جهنم دی اوځوك ستاسی مددګار نسته دا (سزا) په دی وجه سره ده چې تاسی دخدای ﷻ په ایتونو پوری خنداګانی کولی اوتاسی ددنیا ژوند په دهوکه کی غورځولی واست (چې په هغه کی مشغول سواست داخرت څخه بالکل غافل بلکه منکر سواست) نو نن به داخلګ نه د دوزخ څخه را وایستل سی اونه به د دوی څخه دخدای ﷻ دخفګان څه تدارك وغوښتل سی (یعنی ددی موقع به ورلره ورنه کول سی چې توبه وکی ، خدای راضی کی ، کله چې دا تول مضامین تاسی واوریدل) نو (په دی سره دا هم معلومه سوه چې) تول ثناء اوصفت الله تعالی لره (ثابت) دی کوم چې پروردګار دی دآسمانونو اوپروردګار دی دمځکی (اودآسمان اومځکی څه تخصیص دی هغه خو) پروردګار دی دتول عالم اوهغه لره لویی ده (دکومی ظهور او اثار چې په علاماتو سره) په آسمانونو اوپه مځکه کی (کیږی) اوهغه غالب دی حکمت والا دی.

معلومات اومسئلي: وَتَرَى كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً دَعُوْا : څخه مشتق دی چې معنی یی په زنګونانو کښینستل دی اوحضرت سفیان فرمایی ، جُثُوّ داسی کښینستلو ته وایی په کوموکی چې په مځکه صرف زنګونان اودپښو خپړی ولګیږی ، دغه شان کښینستل دبیری اوترهی په وجه سره وی ، او دَ: كُلَّ أُمَّةٍ دلفظ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

ظاهره دا ده چې دا صورت دبيرې به په ټول اهل محشر مومن کافر نيک اوبد ټولو باندې وي اوبه ځينو نورو ابنونو او روايتونو کې چې يې دمحشر دبيرې اوترهې څخه انبياء اوصالحان مستثنى کړځولې دي دا ددې منافي نه ده . ځکه چې ممکنه ده چې دابيره اوترهه دلم وخت دپاره په انبياوو اوصالحانوهم راسي . مګر دلږوالي په وجه يې دنشت برابر کړي ده او دا هم کيدې سي چې دَ. كُلُّ أُمَّةٍ ځخه مراد عام اهل محشرنه وي بلکه اکثر ورځخه مراد وي لکه چې لفظ دکل ځينې وخت داکثر دپاره ربل کېږي اوځينو مفسرينو دجاثية معنى داسې کښېنسټل کړي ده . لکه په لمانځه کې چې وي . بيا دغه اشکال په خپله ختمېږي ځکه چې داکښېنسټل دبيرې ځخه وي دادب کښېنسټل وي .

كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَى إِلَى كِتَابِهَا : دکتاب ځخه مراد دلته داکثرو مفسرينو په نزد هغه عملنامه ده کومه چې ملائکو په دنيا کې ليکله او به محشر کې به دغه عملنامې را والوزول سي . دهر بوه سپې عملنامه به دهغه لاس ته ورسيږي او هغه ته به ووېل سي . اِقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا يعنى خپله عملنامه ووايه اوبه خپله حساب وکړه چې تاته ددې عملونو څه بدله درکيدل په کاردې اودې عملنامې نه ډيلو مطلب د دوې دحساب طرف نه بلل دي لکه چې په لنډتفسير کې راغلې دي والله تعالى اعلم

سورة الجاثيه اويلمه ويشمه پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

تفسير معارف القرآن د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۳۲)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي رود حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فہرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	صفحہ
﴿سورۃ الاحقاف﴾	۷
حٰمٓ (۱) تَنْزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ، الخ ۱ تر ۲	۷
معلومات او مسئلی	۸
وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ ، الخ ۷ تر ۱۰	۹
معلومات او مسئلی	۱۱
دنبی کریم ﷺ دعلم غیب متعلق دادب تقاضا	۱۲
وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ ، الخ ۱۱ تر ۱۲	۱۳
معلومات او مسئلی	۱۴
إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا ، الخ ۱۳ تر ۲۰	۱۵
معلومات او مسئلی	۱۸
دمور حق دپلار څخه زیات دی	۲۰
په اکثره موده دتی ورکولو کی دامت دفقهاوو اختلاف	۲۱
ددنیا دلذتونو اونعمتونو څخه دځان ساتلو ترغیب	۲۴
وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ ، الخ ۲۱ تر ۲۲	۲۴
وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِنَ ، الخ ۲۷ تر ۲۸	۲۷
لنډ تفسیر: دایتونو ترون	۲۷
وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ ، الخ ۲۹ تر ۳۲	۲۷
معلومات او مسئلی	۲۸
أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللّٰهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَوَاتِ ، الخ ۳۳ تر ۳۵	۳۰
معلومات او مسئلی	۳۱
﴿سورۃ محمد﴾	۳۲
الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ أَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ، الخ ۱ تر ۳	۳۲
معلومات او مسئلی	۳۲
فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ، الخ ۴	۳۴
معلومات او مسئلی	۳۴
دجنګی قیدیانو په حقله امام المسلمین ته څلور اختیاره	۳۶
په اسلام کی دغلامی بحث	۳۶
ذٰلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللّٰهُ ، الخ ۵ تر ۱۱	۳۹
معلومات او مسئلی	۴۱
دجهاد دمشروعیت یوحکمت	۴۱
إِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا ، الخ ۱۲ تر ۱۵	۴۳

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلی	۴۴
وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتّٰى ، الخ ۱۲ تر ۱۸	۴۵
معلومات او مسئلی	۴۶
فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ ، الخ ۱۹	۴۶
معلومات او مسئلی	۴۷
وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ، الخ ۲۰ تر ۳۱	۴۸
معلومات او مسئلی	۵۲
دصلہ رحمی سخت تاکید	۵۳
په یو معین سړی دلعنت حکم او دیزید دلعنت بحث	۵۳
إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا ، الخ ۳۲ تر ۳۸	۵۵
معلومات او مسئلی	۵۷
﴿سورة الفتح﴾	**۶۱**
إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا ، الخ ۱ تر ۳	۶۱
معلومات او مسئلی	۶۳
دحُدیبیه واقعه	۶۳
اول جزء دنبی کریم ﷺ خوب	۶۴
دوهم جزء ددوی ﷺ دصحابه کرامو ﷺ اودکلو دمسلمانانو دځان سره دبیعت لودپاره بلل اودځینو انکارکول.	۶۴
دریم جزء مکی ته روانیدل	۶۴
څلورم جزء دمکی دخلکو دمقابلی دپاره تیاری	۶۴
دخبر رسانی یوه عجیبه ساده طریقه	۶۵
دنبی کریم ﷺ خبر رسان	۶۵
پنځم جزء دنبی کریم ﷺ داوښی په لاره کی کښینستل	۶۵
شپږم جزء په مقام حدیبیه کی یوه معجزه	۶۶
اووم جزء دمکی دخلکو سره په واسطه دوفود خبری اتری	۶۶
اتم جزء حضرت عثمان ﷺ دمکی خلکو ته دپیغام سره لیږل	۶۷
نهم جزء دمکی دخلکو اودمسلمانانو په مینځ کی اړی کړی اودمکی دخلکو څخه داویا ۷۰ کسانو نیول	۶۸
لسم جزء دبیعت رضوان واقعه	۶۹
یوولسم جزء دحدیبیی واقعه	۶۹
دصلح په شرطونو دعامو صحابه کرامو ﷺ ناراضگی او خفگان	۷۱
یوه بله حادثه او دمعاهدی په پابندی کی دنبی کریم ﷺ بی نظیره عمل	۷۱
احرام خلاصول او دقربانی حیوانان ذبح کول	۷۲
دصحابه کرامو ﷺ دایمان او اطاعت رسول یوبل امتحان او د دوی بی نظیر قوت ایمانی	۷۳
دصلح حدیبیه دفائدو او برکتونو بیانول	۷۳
هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ ، الخ ۴ تر ۷	۷۵

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلی	۷۷
إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا ، الخ ۸ تر ۱۰	۷۷
معلومات اومسئلی	۷۸
سَيَقُولُ لَكَ الْمُخَلَّفُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ ، الخ ۱۱ تر ۱۴	۸۰
معلومات اومسئلی	۸۱
سَيَقُولُ الْمُخَلَّفُونَ إِذَا انْطَلَقْتُمْ ، الخ ۱۵ تر ۱۷	۸۲
معلومات اومسئلی	۸۴
وحی الهی صرف په قرآن کی منحصر نه ده د قرآن څخه علاوه هم په ذریعه دوحی احکام راغلی دی او درسول الله ﷺ احادیث هم دکلام الله په حکم کی دی	۸۴
دحدیبیی په متخلفینو کی څینی خلک بیا وروسته توبه گار رسول اوربښتینی مسلمانان سوی وه	۸۵
لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ ، الخ ۱۸ تر ۲۱	۸۲
معلومات اومسئلی	۸۷
په اصحابو کرامو ﷺ بد رد ویل او دهغوی په خطاگانو کی غور او فکر کول ددی آیت خلاف دی	۸۸
شجره رضوان	۸۸
دخیبرفتح	۸۸
وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوَلَّوُا الْأَدْبَارَ ، الخ ۲۲ تر ۲۲	۸۹
معلومات اومسئلی	۹۲
دصحابه کرامو ﷺ دغلطی اوعیب څخه دمحفوظ کولو قدرتی نظام	۹۳
لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ ، الخ ۲۷ تر ۲۹	۹۴
معلومات اومسئلی	۹۲
دآئنده کیدونکو کارونو دپاره دانشاء الله ویلو تاکید	۹۲
دصحابه کرامو ﷺ فضیلتونه اوصفتونه اوخاص علامات	۹۸
صحابه کرام ﷺ ټول په جمع جنتیان دی ، د دوی خطاگانی مغفور دی د دوی تنقیص کول عظیمه گناه ده	۱۰۱
﴿سورة الحجرات﴾	**۱۰۳**
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ ، الخ ۱ تر ۵	۱۰۳
لنډ تفسیر	۱۰۴
دسورة ترون او شان نزول	۱۰۴
ددینی عالمانو او دینی پیشوایانو سره هم دا ادب ملحوظ ساتل په کار دی	۱۰۲
دروضه اقدس په وراندی هم دیر په لوړ اواز سره سلام اوخبری کول ممنوع دی	۱۰۲
حجرات امهات المؤمنین	۱۰۸
دنزول سبب	۱۰۸
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ ، الخ ۲	۱۰۹
معلومات اومسئلی ، شان نزول	۱۰۹
دآیت سره متعلق احکام او مسئلی	۱۱۰

Maktaba Tul Ishaat.com

یواهم سوال اوجواب دصحابه وو دعدالت متعلق	۱۱۱
وَاعْلَمُوا اَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللّٰهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ ، الخ ۷ تر ۸	۱۱۲
معلومات اومسئلی	۱۱۳
وَاِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا ، الخ ۹ تر ۱۰	۱۱۴
دآیتونو ترون	۱۱۵
سبب دنزول	۱۱۵
متعلقه مسئلی	۱۱۵
دصحابه کرامو رضی الله عنهم مشاجرات	۱۱۷
يَا اَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى ، الخ ۱۱	۱۱۸
معلومات اومسئلی	۱۱۹
دځینو القابو ددی څخه استثنا	۱۲۱
سنت دا دی چی خلک په ښو القابو سره یادسی	۱۲۲
يَا اَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا ، الخ ۱۲	۱۲۲
معلومات اومسئلی	۱۲۲
دغیبت متعلق مسئلی	۱۲۵
يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَاُنْثَى ، الخ ۱۳	۱۲۷
معلومات اومسئلی: شان نزول	۱۲۷
قَالَتِ الْاَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ ، الخ ۱۴ تر ۱۸	۱۲۹
شان نزول	۱۳۱
اسلام او ایمان یودی که څه فرق په کی سته؟	۱۳۲
﴿سورة قٓ﴾	**۱۳۲**
قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ، الخ ۱ تر ۱۵	۱۳۲
دسورة قٓ خصوصیات	۱۳۲
آیا آسمان په نظر راځی	۱۳۲
نو دمرګ څخه په ژوندون دمشهوری شبهی جواب	۱۳۲
اصحاب الرس کوم خلق دی؟	۱۳۷
وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ ، الخ ۱۶ تر ۲۹	۱۳۸
الله ﷻ انسان ته دده دشاه رګ څخه هم زیات نژدی دی ددی تحقیق	۱۴۲
دهر انسان سره دوی ملائکی	۱۴۳
عملنامه لیکونکی ملائکی	۱۴۴
دانسان هر قول ریکارډ کیږی	۱۴۴
سکرات الموت	۱۴۵
دانسان میدان حشر ته راوستونکی دوی ملائکی	۱۴۵
دمرګ څخه وروسته به سترګی هغه هرڅه وویني کوم چی یی په ژوندکی نه سوای لیدلی	۱۴۶

Maktaba Tul Ishaat.com

قَوْمٌ تُنْكَرُونَ لِمَنْهُمْ خَلٍ مُتَكَلِّمٌ وَتَقُولُ خَلٍ بْنِ مَرْيَمَ ۔ الخ ۳۰ تر ۳۵	۱۴۷
اوآب کرم خلق دی	۱۴۸
وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ ۔ الخ ۳۶ تر ۴۰	۱۴۹
دعلم وحصول دوی طریقی	۱۵۱
وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ۔ الخ ۳۱ تر ۴۵	۱۵۲
معلومات اومسئلی	۱۵۳
(سورۃ الذاریات)	۱۵۴
وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ۔ الخ ۱ تر ۲۳	۱۵۴
په عبادت کی شب بیداری او دوی تفصیل	۱۵۸
دبیشلمی واستغفار برکتونه اوفضیلتونه	۱۵۹
صدقه اوخیرات کوونکوته خاص هدایت	۱۶۰
په افاق او انفس دواړوکی دقدرت نښانی	۱۶۰
هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ۔ الخ ۲۴ تر ۳۰	۱۶۲
معلومات اومسئلی	۱۶۳
دمیلمستیا اداب	۱۶۴

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

.....

تفسير معارف القرآن د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة الاحقاف﴾

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة الاحقاف په مکه کی نازل سو په دی کی پنځه دیرش (۳۵) ایتونه اوځلور (۴) رکوع ګانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ○ مَا خَلَقْنَا

نازلول دکتاب دی ، دالله زبردست حکمت والا دطرف څخه ، مونږ نه دی پیدا کړی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

اسمانونه اومځکه اوځه چی ددې په مینځ کې دی مګر په حقه سره اوپه یوه نیټه مقرره

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ﴿۳﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ

اوکوم چی کافران دی هغوی دبیری په آوریدو مخ اړوی ، ته ووایه آیا تاسی وینی کوم چی تاسی بلی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ

ماسوا دالله څخه وښایاست ماته هغه چی څه یی پیدا کړی دی په مځکه کی یا دهغوی څه شرکت ستة

فِي السَّمٰوٰتِ ؕ اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ

په اسمانونوکی ، راوړی ماته کتاب ددی څخه مخکې یا څه علم چی نقل راغلی وی ،

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴﴾ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ

که تاسی رښتینی یاست ، او څوک دی زیات ګمراه دهغه څخه چی بلی ما سوا دالله ﷻ څخه

اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ

هغه چی نه سی قبلولی دده بلنه تر ورځی دقیامته پوری او هغوی دبلنی دهغوی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

غٰفِلُوْنَ ۝۵ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ۝۶

ناخبره وی ، او کله چی خلق جمع سی نو هغوی به وی دهغوی دښمنان اووی به دهغوی دعبادت څخه منکر

لنډتفسیر: حٰمٓ (ددی معنی الله ﷻ ته معلومه ده) داکتاب دالله ﷻ زبردست حکمت والا دطرف څخه رالیږل سوی دی (په دی وجه ددی مضامین قابل غور دی ، مخ ته دتوحید او معاد بیان دی چی) مونږ آسمانونه اومځکی اوکوم شیان چی ددی په مینځ کی دی په حکمت سره اوتر یو معین میعاد پوری پیدا کړی دی اوکوم خلک چی کافران دی دوی چی دکوم شی څخه بیرول کیږی (مثلاً داچی دتوحید څخه په انکار به تاسی ته په قیامت کی عذاب وی) هغه په دی پوری مسخری کوی (اوخیال ورته نه کوی اوتوحید نه قبلوی) ته (دوی ته دتوحید په باره کی) ووایه چی داخو وښیاست کوم شیان چی تاسی دخدای (دتوحید) څخه ماسوا دهغو عبادت کوی (دهغوی دعبادت دمستحق کیدو څه دلیل دی؟ که عقلی دلیل وی نو) ماته دا وښیاست چی هغوی کومه مځکه پیدا کړې ده یادهغوی په آسمانونو (پیدا کولو) کی څه حصه ده (اوظاهره ده چی تاسی هم هغوی خالقان نه منی کوم چی دلیل کیدی سی دعبادت دمستحق کیدو بلکه مخلوق ورته وایاست کوم چی دعبادت دمستحق کیدو منافی دی نو عقلی دلیل خونیستی سو اوکه ستاسی سره دلیل نقلی وی نو) ماته څه (صحیح) کتاب (راوړی په کوم کی چی دشرك حکم وی او) کوم چی ددی (قرآن) څخه مخکی وی (څکه چی تاسی هم پوه یاست چی په قرآن کریم کی دشرك نفی ده نو ضرورت دبل کتاب دی) یا (که کتاب نه وی نو) څه بل (معتبر) مضمون (چی زبانی) منقول (راروان وی اوپه کتاب کی لیکلی نه وی) راوړی که تاسی (په دعوه دشرك کی) رښتنی یاست (مطلب دا چی دلیل نقلی قابل دتصدیق اومستند ضروری دی دچانبی کتاب وی یا دهغه قول وی زبانی) او (ظاهره ده چی داسی دلیل هیڅوك نه سی پیش کولی، مګرڅوك چی دخپلی باطلی عقیدی څخه بیاهم واپس نه سی، ددا سی سړی په باره کی فرمایی چی) دهغه سړی څخه زیات ګمراه به څوك وی چی (په خپله ددلیل څخه عاجزه وی اوپه ده ددلیل قائمیدو څخه وروسته بیاهم) خدای پریږدی ، داسی معبودان بلی کوم چی ترقیامته پوری هم دده دبلنی جواب نه سی ورکولی اوهغوی دده دبلنی څخه هم خبرنه وی او (بیا) هرکله چی (په قیامت کی) ټول انسانان (دحساب دپاره) جمع سی نوهغوی (معبودان) به ددوی (عبادت کوونکو) دښمنان سی اودسره به دهغوی دعبادت څخه انکار وکی (نو ددا سی معبودانو دعبادت کولو څخه زیاته غلطی بله څه ده چی دعبادت کولویی څه معقوله وجه نسته اودعبات نه کولواسباب اووجهی یی ډیری دی)

معلومات اومسائل: قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ : په دی ایتونوکی دمشرکانو دشرك ددعوه دباطلولو دپاره د دوی څخه د دوی په دعوه ددلیل مطالبه سوې ده ، څکه چی څه دعوه بغیر دشهات اودلیل څخه عقلاً یاشرعًا قابل عمل نه وی ، بیاپه دی کی چی څومره قسمونه ددلائلو کیدی سی هغه ټول یی جمع کړی دی ، او ثابته کړه یی ده چی ستاسی په دعوه باندی هیڅ قسم دلیل اوشهادت هم موجودنه دی ، په دی وجه په دی بی دلیله دعوه باندی پاته کیدل ګمراهی ده ، په دی آیت یی ددلیلونو دری قسمونه کړی دی ، یو عقلی دلیل چی دنفی دپاره یی فرمایی ، اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ :

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم قسم دلیل نقلی دی او دا ظاهره ده چی دالله ﷻ په معامله کی نقلی دلیل هغه معتبر کیدی سی کوم چی په خپله دالله ﷻ دطرف څخه راغلی وی لکه اسمانی کتابونه تورات انجیل قرآن وغیره یادهغه حضراتو اقوال کوم چی الله ﷻ خپل رسول اونبی منتخب کړی وی ، په دی دواړو قسمونوکی خویی داول قسم نفی په دی سره وفرمایله ، اِئْتُونِي بِكِتَابٍ مِنْ قَبْلِ هَذَا یعنی که ستاسی سره دبت پرستی څه نقلی دلیل موجود وی نوځه اسمانی کتاب پیش کی چی په هغه کی یی دبت پرستی اوشرك اجازت ورکړی وی اودبل قسم یعنی دپیغمبرانو داقوالو دنفی دپاره یی وفرمایله، أَوْ أَثَارَةٍ مِنْ عِلْمٍ یعنی که دالله ﷻ په یوکتاب کی تاسی ته دشرك اوبت پرستی څه دلیل اوشهادت نه ښکاری نوکم ازکم په انبیاووکی دچا قول پیش کوی کوم چی په معتبر سندسره د دوی څخه ثابت وی اوکله چی تاسی دا هم نه سی پیش کولی نوستاسی قول اوعمل بغیر دګمراهی څخه نورڅه کیدی سی، په لفظ د، أَثَارَةٍ مِنْ عِلْمٍ کی اَثَرَة مصدردی په وزن دشجاعت ، سماحت وغیره دی چی معنی یی نقل او روایت ده ، په دی وجه حضرت عکرمه او مقاتل د، أَثَارَةٍ مِنْ عِلْمٍ په تفسیرکی «روایت عن الانبیاء» فرمایی اوقرطبی ددی تفسیر په اسناد حسن سره فرمایلی دی لنده دا سوه چی ددلیل نقلی دوه قسمونه معتبردی ، یوآسمانی کتاب کوم چی الله ﷻ په یوپیغمبرنازل کړی وی، دوهم دپیغمبر ﷺ قول کوم چی په صحیح سندسره دپیغمبر څخه ثابت وی، د أَثَارَةٍ مِنْ عِلْمٍ دامطلب دی،داتول مضمون دتفسیرقرطبی څخه را اخیستل سوی دی ، او دا تفسیر مختار اوبی غباره دی ځینی حضراتو د، أَثَارَةٍ مِنْ عِلْمٍ په تفسیرکی نور اقوال هم نقل کړی دی مګر هغه ثابت نه دی او دقرآن دنظم مناسب هم نه دی ، په دی وجه دجمهورو په نزد مختارنه دی ، والله تعالی اعلم

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

او هرکله چی وویل سی دوی ته زمونږ آیتونه واضح ، وایی هغه چی منکران دی ،

لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ هَٰذَا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿٧﴾ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ

رښتینی خبری ته هرکله چی دوی ته راسی داجادو دی ښکاره، آیا دوی وایی چی دا یی جوړ کړی دی ته ووایه

إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَلَا تَمْلِكُونَ لِي مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا

چی که ما جوړ کړی وای نو تاسی ښیګړه نه سی کولی دالله په مخکی یوه ذره ، هغه ښه خبر دی په کومو

تُفِيضُونَ فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۖ وَهُوَ الْغَفُورُ

خبروکی چی تاسی اخته یاست هغه کافی دی حق ښوونکی زماا وستاسی په مینځ کی ، او هغه دی بخښنی والا

الرَّحِيمُ ﴿٨﴾ قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ

مهربانه ، ته ووایه زه څه نوی رسول نه یم راغلی او نه ماته معلومه ده چی څه به کیږي زما سره ،

Maktaba Tul Ishaat.com

بِیْ وَلَآ اَبْكُمْ ؕ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا یُوْحٰۤی اِلَیَّ وَمَاۤ اَنَا اِلَّا نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ۝۹

او ستاسی سره ، زه خو په هغه چلیږم کوم چی حکم راځی ماته اونه یم زه مگر بیرونکی ښکاره ،

قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ شَاهِدٌ

ته ووایه آیا وینی تاسی که راغلی وی دا دطرفه دالله ﷻ څخه اوتاسی دا ونه منی او شاهدی ورکړی ده

مِّنْ بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ عَلٰی مِثْلِهٖ فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

یو شاهد دبنی اسرائیلو څخه دیو داسی کتاب بیا هغه ایمان راوړی او تاسی تکبر وکی بیشکه الله ﷻ

لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ۝۱۰

لار نه ښیی گناهگارانو ته .

لنډتفسیر: اوهرکله چی زمونږ ښکاره آیتونه (کوم چی دمعجزه کیدوپه وجه درسالت دلیلونه دی) ددی (منکرانو درسالت) خلگوپه مخکی ویل کیږی ، نو دا منکران خلگ ددی رښتینی خبری په نسبت کله چی هغه دوی ته رسیږی داسی وایی چی دانښکاره جادودی (حال دا دی چی دجادو دمثل ممکن کیدل او ددی دمثل نه ممکن کیدل ددی قول دبطلان واضح دلیل دی اوددی څخه زیاته بله واوری) ایا داخلگ دا وایی چی دی سړی (یعنی تانعوذ بالله) دا (قرآن) دخپل طرف څخه جوړکړی راوړی دی (اودخدای طرف ته دی منسوب کړی دی مخ ته ددی قول جواب دی چی) ته ووایه چی که مادا دخپل طرف څخه جوړکړی وی (اودخدای طرف ته می ددی منسب کړی وی) نو (خدای ﷻ به دخپل عادت مطابق دخلگو د دوکی څخه دمحفوظ کولو دپاره مادنبوت د درواغو په دعوه باندی ډیر ژرهلاك کړی) بیا (کله چی هغه ما هلا کوی نو) تاسی (یانور) خلگ ما دخدای (دعذاب) څخه یوه ذره هم نه سی محفوظ کولی (مطلب دا چی د درواغو دنبوت په دعوه باندی عذاب راتلل داسی لازمی دی چی زما هیڅوك حامی اومددگار هم هغه نه سی منع کولی ، مگر په ماعذاب رانه غی دا دلیل دی ددی چی زه په خپله دعوه دنبوت کی درواغجن نه یم اوهرکله چی زه درواغجن نه یم نوپوه سی چی) هغه ښه پوه دی چی تاسی کومی کومی خبری په قرآن کریم جوړوی (په دی وجه به تاسی ته دسزا دپاره) هغه کافی شاهد (یعنی خبردار) دی (په دی وجه به تاسی ته سزا وی غرض دا چی) زما اوستاسی په مینځ کی (دصدق او دکذب دفیصلی کولو دپاره) هغه کافی شاهد (یعنی خبردار) دی (په دی وجه که زه درواغجن یم نوماته به یی فوراً عذاب راکړی اوکه تاسی درواغجن یاست نوتاسی ته به ژر یا وروسته عذاب درکی) او (که چاته داشبهه وی چی هرکله هغه زمونږ دخبرو څخه خبردار دی اوبیا هم په مونږ عذاب رانغی نولکه څنگه چی په یومدعی دنبوت عذاب نه راتلل دده درښتین والی دلیل دی ، دغه ډول پرمونږ منکرانو عذاب نه راتلل زمونږ درښتنوالی دلیل

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدی سی ، نو ددی جواب دا دی چی، هغه لوی مغفرت والا دی (په دی وجه دمغفرت ځینی اقسام مثلاً په دنیاکی په کافرانو عذاب نه راتلل هم واقع کوی) اولوی رحمت والا دی (په دی وجه درحمن ځینی اقسام هم کومو ته چی رحمتِ عامه وایی دکفارو دپاره هم واقع کوی ، په دی وجه دمنکرانوپه انکار په دنیا کی عذاب نه کیدل د دوی دصدق دلیل نه دی ، په خلاف دمدعی دَنبوت څخه چی هلته د دروغو دعوه او دعذاب نزول دواړه لازم اوملزوم دی ، ځکه چی دنبوت په دروغه دعوه کوونکی ته په دنیاکی عذاب نه ورکول کیږی دخلګو دګمراهی سبب جوړیدی سی ، په خلاف دنورو مجرمانوځخه ، مخ ته دنبوت داثبات تاکید دی چی، ته ووایه چی زه څه نا اشنا رسول خونه یم (چی ستاسی دپاره دتعجب باعث سی ، ځکه چی زماځخه مخکی دیرپیغمبران راغلی دی دکومو خبر چی په تواتر سره تاسی هم او ریدلی دی) او (دغه شان دځه عجیبه خبری هم زه دعوه نه کوم لکه چی مثلاً علم غیب دی ، چنانچی زه په خپله وایم چی ماته دغیب دخبرو څخه صرف هغه معلومی دی کوم چی په وحی سره ماته ښوول سوی دی دغیبودځه بلی خبری ماته خبرنسته حتی چی، زه نه پوهیږم چی زماسره به څه څه کول کیږی اونه (دامعلومه ده چی) ستاسی سره به څه څه کول کیږی (په دی وجه هرکله چی دخپل اوستاسی دائنده حالاتو دعلم زه مدعی نه یم نو دلیری غیبی خبروپه باره کی به زه څه دعوه کوم، البته دکومو کارونو علم چی په وحی سره سوی دی برابره خبره ده که هغه دځان متعلق وی یادغیر او برابره خبره ده که ددنیا حالات وی یاداخرت دهغه علم بیشکه چی کامل دی ، چنانچی مخ ته ارشاد دی چی، زه خو (په علم اوعمل کی) صرف دهغه تابعداری کوم کوم چی ماته دوحی په ذریعه سره راځی او (دهغه تبلیغ هم کوم اوکه تاسی دا نه منی نو زما هیڅ نقصان نسته ، ځکه چی، زه خو صرف صفا صفا بیرونکی یم (کومه چی ماپه دلیلونو سره ثابته کړې ده اولوړ چی کوم الزام دافتراء دتردید په ، هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ سره اجمالاً سوی وو ، مخ ته دهغه دتفصیل په طور سره ارشاد دی چی، ته ووایه چی تاسی ماته دا وښیاست چی که داقرآن دالله دطرف څخه وی او (بیا) تاسی ددی څخه انکارکوی او (په څه دلیل سره ددی دالله ﷻ دطرف څخه دکیدلو زیات تائیدهم وسی ، مثلاً په دی لیل سره چی، دبنی اسرائیلو (دعالمانو) څخه یو (معتبر) شاهد (کوم چی دعلم او دیانت په اعتبار سره منل سوی او معتبر وی او یو وی یازیات په ماضی کی وی یاپه حال کی یاپه مستقبل کی) ددی په شان په کتاب (یعنی ددی کتاب دالله ﷻ دطرف څخه په کیدو) باندی شاهدی ورکی ایمان نه راوړی اوتاسی (سره دبی علمه کیدوپه دی کتاب دایمان راوړلو څخه) تکبروکی (نوپه دی صورت کی به ستاسی څخه زیات بی انصافه څوك وی، اودبی انصافه خلګو داحالت دی چی) بیشکه الله ﷻ بی انصافه خلګوته (د دوی دعناد په وجه) هدایت نه کوی (بلکه همیشه په ګمراهی کی وی او دګمراهی انجام اور دی)

معلومات اومسئلي: وَمَآ أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ : په دی آیت کی جمله اِنْ اَتَّبِعُ په معنی داستثناء ده، یعنی زه نه پیژنم بغیردهغه څخه چی په ماباندی وحی کیږی ، په دی بنا باندی دتفسیر دامام ضحاك څخه ددی آیت تفسیر هغه منقول دی کوم چی په لنډ تفسیرکی ذکردی، چی مطلب یی دا دی چی دغیبو دکارونو علم ماته صرف په وحی سره کیدی سی ، دکومی معاملی متعلق چی ماته په

Maktaba Tul Ishaat.com

وحی سره علم نه وی برابره خبره ده که هغه زما دذات سره متعلق وی یادمومن اوکافر امتی سره وی او برابره خبره ده که هغه معامله ددنیاوی اوکه داخرت دهغه ماته هیڅ خبرنسته دغیبو دکارونو متعلق چی زه څه وایم هغه ټول په وحی الهی سره وایم ، چنانچی په قرآن کریم کی په خپله ذکردی چی الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته بی شماره علوم دغیبو دکارونو متعلق ورکړی دی د ، تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ : همدا مطلب دی ، داخرت دکارونو ، دجنت، دوږخ، حساب، کتاب سزا اوجزا متعلق خوتفصیلات په خپله په قرآن کریم کی بیشمیره ذکردی اوپه دنیاکی پیښیدونکی واقعات اثنده په صحیح متواترو احادیثوکی دنبی کریم ﷺ څخه نقل دی ، ددی څخه ثابته سوه چی دذکر سوی آیت مطلب صرف دومره دی چی زه دغیبو په علم محیط کی دخدای ﷻ په شان نه وایم اوپه دغه علم کی په خپله مختار نه یم ، بلکه ماته چی په واسطه دعلم خداوندی څه ښوول کیږی زه هغه ذکر کوم .

په تفسیرِ روح المعانی کی ددی قول نقل کولو څخه وروسته فرمایی چی زما اعتقاد دا دی چی نبی کریم ﷺ ددی دنیا څخه ترهغه وخته پوری نه دی رخصت سوی ترڅو چی دالله ﷻ دذات اوصفتونو اواخرت اودنیا راپیښیدونکی اهم معاملات ده ته په ذریعه دوحی ونه ښوول سوه ، پاته سو داشخاصو اوافرادو جزوی شخصی حالاتو اومعاملاتوعلم چی زیدبه صباڅه کار کوی اودهغه انجام به څه وی ، عمر بکربه په خپلو خپلو کورونوکی څه کارونه کوی یابه یی وکی ، ددی غیبو دکارونو علم نه څه کمال دی ، نه ددی په نه کیدو سره په کمال نبوت کی څه فرق راځی .

(دنبي کریم ﷺ دعلمِ غیب متعلق دادب تقاضا)

دنبی کریم ﷺ دعلم غیب متعلق دادب تقاضا دا ده ، چی داسی ونه ویل سی چی دوی په غیبونه پوهیدل بلکه داسی وویل سی چی الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته دغیبو دکارونو ډیرلوی علم ورکړی ووکوم چی په انبیاووکی بل چا ته نه دی ورکول سوی اوځینو مفسرینو حضراتو چی دافرمایلی دی چی په دی آیت کی نفی دعلم صرف ددنیوی کارونو سره متعلق ده داخرت متعلق دعلم غیب نفی په دی کی شامله نه ده ،لکه چی قرطبی یی ذکر کړی دی، دوی غالبًاجمله د: إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى په معنٰی داستثناء نه ده مقرر کړی ، په دی وجه نفی دعلم غیب یی ددنیا دکارونو سره مخصوص کړه ځکه چی داخرت متعلق خو دوی په ډاګه وښوولە چی کافران به دوږخ ته اومومنان به جنت ته ځی .

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى مِثْلِهِ فَآمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ددی آیت مضمون تقریبًا هغه دی کوم چی دسورة شعراء داخری رکوع دایت دی یعنی . أَوَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ آيَةً أَنْ يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ مطلب یی دا دی چی دا جاهل یهود اونصارا کوم چی دنبی کریم ﷺ درسالت اوقرآن څخه انکار کوی ، دوی په خپله دخپلو کتابونو څخه هم ناواقفه اوجاهلان دی ځکه چی ډیرو علماوو دبنی اسرائیلو په خپلو کتابونو کی دنبی کریم ﷺ دنبوت او د دوی دعلاماتو مشاهده وکړه او په ده یی ایمان راوړی دی آیا دهغو عالمانو شهادت هم ددی جاهلانو خلګو دپاره کافی نه دی په دی آیت کی دا ارشاد دی چی تاسی چی دا وایاست چی زما دعوه درسالت او دقرآن دالله ﷻ کتاب کیدل غلط او افتراء ده ، اول خو ددی دغلطیدو دپاره دغه خبره کافی ده کومه چی اول اوس ذکر سوي ده چی کوم سړی په الله ﷻ داسی ښکاره افتراء کوی چی زه هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی جوړ کړی رالیږلی یم او په واقع کی هغه نبی نه وی نو په ده باندی په دی دنیاکی عذاب راتلل اودده هلاکول ضروری دی چی عام خلګ د دوکی څخه محفوظ سی اوبالفرض که تاسی دا هم نه منی نوکم ازکم دا احتمال خو مه نظر انداز کوی چی که زما دعوه صحیح وی اودا کتاب دالله ﷻ دطرف څخه راغلی وی اوتاسی ددی څخه په کفر اوانکار باندی ټینګ یاست نوستاسی به څه انجام وی ، خصوصاً په دی صورت کی چی په خپله ستاسی دقوم بنی اسرائیلو څخه څوک لوی سړی ددی دالله ﷻ دطرف څخه دکیدو شهادت ورکړی اومسلمان سی اوتاسی دهغه دعلم څخه وروسته هم په خپل ضد اوتکبر باندی پاته سی نو تاسی به دخومره عذاب مستحق سی.

ددی آیت په الفاظو کی یی دیو خاص عالم دبنی اسرائیلو نوم نه دی اخیستی او نه یی دا متعین کړه چی داشهادت ددی آیت دنزول څخه مخ ته دخلګو په مخکی راغلی دی اوکه اثنده راتلونکی دی ، بلکه دیوی جملی شرطیی په طوریی فرمایلی دی چی که په ماضی کی یابالفعل یاپه اثنده کی که داسی وسی نو تاسی لره دخپل ځان فکر کول په کار دی چی تاسی به دعذاب څخه څنګه محفوظ سی؟ په دی وجه دایت په مضمون دپوهیدو دپاره دا ضروری نه ده چی دبنی اسرائیلو دعلماوو څخه یومعین شاهد ددی مصداق مقرر سی ، بلکه څومره حضرات چی په یهودو اونصاراوو کی په اسلام کی داخل سوه په کومو کی چی حضرت عبدالله بن سلام ﷺ زیات معروف دی ، هغه ټول په دی کی دا خل دی که څه هم دحضرت عبدالله بن سلام ﷺ ایمان ددی آیت دنازلیدو څخه وروسته په مدینه منوره کی وسو اودا پوره سورة مکی دی (ابن کثیر)

او په ځینو روایتونو کی چی کوم دحضرت سعد ﷺ څخه نقل دی چی دا آیت دحضرت عبد الله پن سلام ﷺ په باره کی نازل سو (لکه چی روایت یی کړی دی بخاری، مسلم اونسایی دحدیث دمالك څخه) دارنګه حضرت ابن عباس ﷺ مجاهد ضحاك قتاده وغیره امامانو دتفسیر ټولوپه اتفاق فرمایلی دی چی دا آیت دحضرت عبدالله بن سلام ﷺ په باره کی نازل سوی دی نو دا ددی آیت دمکی کیدو منافی نه ده ځکه چی په دی صورت کی به دا پیش ګویی دائنده دپاره سی (لکه چی ابن کثیر وایی)

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا

او وایی کافران مؤمنانو ته که دا دین ښه وای

سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ۭ وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ فَسَيَقُوْلُوْنَ هٰذَآ

نو نه به وای مخ ته سوی دی ته زمونږ څخه او هرکله چی په دی سره دوی لار نه کړه پیدا نو وبه وایی دا دی

اِفْكٌ قَدِيْمٌ ۝۱۱ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ وَهٰذَا

دروغ پخوانی ، او ددې څخه مخکې وو کتاب دموسی ﷺ لار ښوونکی اورحمت ، او دا کتاب دی

Maktaba Tul Ishaat.com

كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۠ وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲﴾

تصدیق کوونکی په عربی ژبه کی چی وبیروی ګناهګاران اوخوشخبری ده نیکی کوونکو لره .

لنډتفسیر: اودا کافران دایماندارو (دایمان راوړو) په نسبت داسی وایی چی که داقرآن (په کوم چی دی خلګوایمان راوړی دی) څه ښه (یعنی ربښتینی) شی وای نودا (دکومی درجی) خلګ به زمونږ څخه دی ته نه وای مخ ته سوی (یعنی مونږ دیر عاقلان یو اودغه خلګ کم عقل دی اوحقه خبره عاقل مخ ته قبلوی نوکه داحقه وای نو مونږ به اول منلی وای کله چی مونږ ونه منله نو دا حقه نه ده ، داخلګ دبی عقلی څخه اخوا دی خواته منډی وهی ، دکافرانو دا قول د دوی دانتهایی تکبر دلیل دی چی ذکر یی لوړ په اسْتَكْبَرُ تُمْ کی راغلی دی) اوهرکله چی (دعناد اوتکبر په وجه) دی خلګوته دقرآن څخه هدایت نصیب نه سو نو (دخپل عناد اوضد په بنا) به دا ووایی چی دا هم (په مثل دَ) پخوانیو (دروغو دمضامینو څخه یو) دروغ (مضمون) دی او ددی (قرآن) څخه مخ ته دموسیٰ ﷺ کتاب (نازل سوی) دی کوم چی (دموسیٰ ﷺ دامت دپاره بالعموم) لار ښوونکی (وو) او (داهل ایمانو دپاره بالخصوص رحمت وو (لکه څنګه چی په تورات کی ددی پیش ګویی ده) دا (دغه شان) یوکتاب دی کوم چی هغه (پیش ګویی) ربښتینی کوی (او) په عربی ژبه کی (ددی) ظالمانو دبیرولو دپاره اونیکو خلګو لره دخوشخبری ورکولو دپاره (نازل سوی دی)

معلومات اومسائل: لَوْ كَانَ خَيْرًا مَا سَبَقُوْنَا إِلَيْهِ : تکبر اوغرور دانسان عقل هم مسخ کوی متکبر بنده خپل عقل اوخپل عمل دحسن اوقبیح اوخیر اوشر معیار ګڼی کوم شی چی دده خوښ نه وی برابره خبره ده که نور خلګ هغه څومره ښه ګڼی ، دی هغه ټوله بی وقوف ګڼی ، حال دا دی چی دی په خپله بی وقوف دی دکفارو ددی درجی دغرور اوتکبر بیان په دی آیت کی دی چی اسلام اوایمان چونکی د دوی خوښ نه وو نوکوم خلګ چی په ایمان عاشقان وه ، هغوی ته به یی ویل چی که دا ایمان څه ښه شی وای ، نو دټولو څخه اول به مونږ خوښ کړی وای ، ددغو نورو غریبانو او دفقیرانو خلګو دخوښولو هیڅ اعتبار نسته .

ابن منذر وغیره روایت نقل کړی دی چی حضرت عمر بن خطاب ﷺ هرکله چی مسلمان سوی نه وو ، دده یوه مینځه وه چی نوم یی رنین وو اومسلمانه سوی وه ، ده به هغه په اسلام وهله اوبیره به یی پرتیروله چی په یودول سره دا اسلام پریږدی ، اودقریشو کافرانو به ویل چی که دا اسلام ښه شی وای نو درنین په شان یوه سپکه ښځه به زمونږ څخه مخ ته سوی نه وای ، ددی متعلق داذکر سوی آیت نازل سو (مظهری)

وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى إِمَامًا وَّرَحْمَةً : په دی کلام سره یوخو دَ ، مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ ثبوت ورکول سو چی ته څه نوی رسول اوقرآن څه نوی کتاب نه دی ، چی په دی کی په ایمان راوړو کی خلګوته څه اشکال وی بلکه ستا څخه مخ ته موسیٰ ﷺ پیغمبر راغلی دی اوپه هغه تورات نازل سوی دی کوم چی داکفار یهود اونصارا ټول تسلیموی ، دوهم لوړ چی کوم، شَهِدَ شَاهِدٌ راغلی دی دهغه هم تقویت وسوځکه چی موسیٰ ﷺ او تورات په خپله دقرآن اونبی کریم ﷺ دحقانیت شاهد دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ

بیشکه چاچی وویل چی زمونږ رب الله دی بیا ثابت قدم پاته سول نو نه به وی بیره

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ

په دوی او نه به دوی غمجن سی ، هغه خلق دی جنتیان همیشه به اوسیږي

فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ

په دی کی ،بدله ده دهغه کارونو کوم چی یی کول ، او مونږ حکم کړی دی انسان ته دخپل مور اوپلار سره

إِحْسَانًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ

دنیکږی، په نس کی وساتی دی موردده په تکلیف سره اوپیدا کی دی په تکلیف سره اودده په نس کی پاته کیدل

ثَلَاثُونَ شَهْرًا حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ

اوتی ورکول دیرش میاشتی دی ، تردی چی ورسیږي خپل قوت ته او ورسیدی څلویښتو کالو ته ، وې ویل

رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ

ای زماربه ! زما په قسمت کی کړه چی شکر وکاږم ستاداحسان کوم چی تا په ما وکی او زما په

وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي ۖ

مور اوپلار ، او دا چی وکړم نیك کار په کوم چی ته راضی سی او ماته راکړی نیك اولاد زما

إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ

بیشکه ما توبه وکړه تا ته اوزه یم دحکم منونکو څخه ، دا هغه خلق دی دکومو

نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّئَاتِهِمْ فِي

څخه چی مونږ قبلوو ، دغورو څخه غوره کار چی یی کړی وی اومعاف کوو مونږ د دوی بدی په

أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾ وَالَّذِي

اوسیدونکو دجنت کی ، وعده رښتنی کومه چی د دوی سره وکړل سوه ، او هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ لِوَالِدَيْهِ اُفٍّ لَّكُمَآ اَتَعِدٰنِنِيْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ

چا چی وویل خپل مور او پلار ته چې زه بیزاره یم تاسی څخه ما ته وعده راکوی چې زه را ویستل سم دقبر څخه

مِنْ قَبْلِيْ ۚ وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ اٰمِنْ ۖ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

او تیرسوی دی ډیر خلق مخکې زما څخه او دوی فریاد کوی الله ته هلاک سی ته ایمان راوړه ، بیشکه وعده دالله

حَقٌّ ۚ فَيَقُوْلُ مَا هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۷﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

حقه ده ، نو دی وایی دا ټول نقلونه دی دمخکنیو خلقو ، دا هغه خلق دی چې

حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ

ثابته سوه ورباندی خبره دعذاب شامل په نورو فرقو کی چې تیرسوی دی مخکې د دوی څخه

الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۸﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ

دپیریانو او انسانانو ، بیشکه دوی وه په تاوان کی لویدلی ، او دهری ډلی څو درجی دی دخپلو عملونو

وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ

موافق او چې پوره ورکړی دوی ته بدله دعملونو د دوی اوپه دوی به ظلم نه وی ، اوپه کومه ورځ چې راوستل

كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ۭ اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ

سی منکران د اور غاړې ته ، ضائع کړی تاسی خپلی خوندونه ددنیا په ژوند کی او نفع مو واخیسته

بِهَا ۚ فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي

په هغه ، نو نن به سزا پیدا کی د ذلت دعذاب بدله دهغه چې تاسی غرور کوی

الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُوْنَ ﴿۲۰﴾ ع

په مځکه کی په ناحقه او دهغه چې تاسی نا فرمانی کوله .

لنډتفسیر: کومو خلکو چې (په صدق د زړه سره) وویل چې زمونږ رب الله دی (یعنی توحید یې درسول دتعلیم مطابق قبول کی) بیا (په دی) مستقیم پاته سوه (یعنی دایې پری ننبووی) نو (ددی نیتجه دا ده

Maktaba Tul Ishaat.com

چې) په دغو خلګو به (په اخرت کې) هیڅ بیره (واقع کیدونکې) نه وی اونه به دوی (هلته) غمګین وی (داخو د دوی دمضرت څخه دمحفوظ کیدو بیان وو، مخ ته د دوی دنفعې ذکردی کومه چې دوی ته ورکول کیدونکې ده چې) داخلګ جنتیان دی کوم چې به په دی کې همیشه اوسیږی په بدل دهغه (نیکو) کارونو کوم چې هغوی کول (په کومو کې چې دایمان راوړل اوپه دی دقائم پاته کیدو لوړ ذکر دی) او (څنګه چې مونږ حقوق الله واجب کړی دی دکومو چې ذکر وسو، دغه شان موحقوق العبادهم واجب کړی دی، چنانچې په هغه کې یو ډیر لوی حق دمور اوپلاردی په دی وجه) مونږ انسان ته دخپل مور اوپلار سره دنیک سلوک کولوحکم کړی دی (اوخاص دمور سره زیات ځکه چې) دهغه مور هغه په ډیر شفقت سره په نس کې وساتی او (بیا) په ډیر مشقت سره یې هغه وزیږوی اودهغه په نس کې ساتل اوهغه دتی څخه پریکول (اکثره په) دیرش میاشتی (کې پوره کیدل) دی (په دومره ورځوکې قسم قسم مصیبت تیروی، اوکم اوبیش په دی مصیبتونوکې دپلار شرکت هم وی، بلکه داکثرو کارونو انتظام عادتًا پلار لره کول وی اوپه خپل ارام کې خلل راتلل دا دواړوته په مساوی طور ورپیښیږی، په دی وجه دمور اوپلار حق پرانسان باندی زیات واجب سوی دی، غرض ددی څخه وروسته نشو اونما پیداکې) تردی چې هرکله (نشو اونما پیداکې) خپلې ځوانۍ ته (یعنی بلوغ ته) ورسیږی او (بیا دبلوغ څخه وروسته په یوه زمانه کې) دڅلویښتو کالو (عمر) ته ورسیږی نو (کوم چې نیک بخت وی هغه) وایی چې ای زما پروردګاره! ماته په دی همیشوالی راکې چې زه ستا دهغو نعمتونو شکر اداکړم کوم چې تاماته اوزما مور اوپلارته راکړی دی (که مور او پلار مسلمانان وی نو ددین نعمت هم اوکه مسلمانان نه وی نو ددنیا نعمت خو ظاهر دی او دمور اوپلار دنعمت اثر اولادته هم رسیږی چنانچې دمور اوپلار وجود اوبقاء کوم چې دنیوی نعمت دی دهغه په دولت خو داولاد وجود هم وی او ددینی نعمت اثر دا وی چې دمور اوپلار تعلیم او تربیت د دوی دپاره دعلم اوعمل ذریعه جوړیږی) او (هغه دا هم وایی چې ماته ددی پابندی هم نصیب کړی چې) زه نیک کارونه وکړم په کومو سره چې ته خوشحاله سی او زماپه اولادکی هم زمادَ (نفع دَ) پاره صلاحیت پیداکی (دنیوی نفع داچې ددوی په لیدو زه راحت پیداکړم اودینی نفع داچې اجر اوثواب می وسی او) زه ستاپه جناب کی (دګناهونو څخه هم) توبه کوم او زه (ستا) فرمانبردار یم (مقصود په دی سره دخپلې غلامی اقرار دی نه چې دعوه، مخ ته د دوی داعمالو نیتجه فرمایی چې) داهغه خلګ دی چې مونږ به د دوی نیکو کارونه قبلوو او د دوی ګناهونه به معاف کوو داسی چې دوی به دجنتیانو څخه وی (او دا ټول) دهغه رښتنی وعدی په وجه سره (وسو) دکومی چې د دوی سره (په دنیاکی) وعده وکړل سوه (تردی پوری خو دنیکانو او خوش بختو خلګو بیان وسو، مخ ته دظالمانو اودبد بختو خلګو ذکر دی یعنی) او چاپه (حقوق الله اوحقوق العباد دواړه پامال کړل لکه چې دهغوی ددی حال څخه معلومیږی چې ده) خپل مور او پلارته وویل (دکومو دحق چې په حقوق العبادکی دټولو څخه زیات تاکید دی، خصوصًا هرکله چې هغه مور اوپلار مسلمانان هم وی اوهرکله چې هغه ده ته داسلام دعوت هم ورکوی) چې لعنت دی په تاسی ایاتاسی ماته دا وعده (یعنی خبر) راکوی چې زه به (په قیامت کې دوباره ژوندی سم) دقبر څخه به پورته سم حال دا دی چې زما څخه مخ ته ډیرخلګ تیرسوی دی (کومو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

چی به په هره زمانه کی د دوی پیغمبرانو دغسی خبرونه ورکول ، مگر تراوسه یوه خبره ښکاره نه سوه ، ددی څخه معلومه سوه ، چی دا تولی هسی خبری دی، اوهغه دواړه (غریبان مور اوپلار دده په دی انکار سره کوم چی عظیم کفر دی په بیره سره، الله ﷻ ته فریاد کوی (اودیرپه دردمندی سره ورته وایی) چی ای هلاك سی ایمان راوړه (اوقیامت هم حق وگنه) بیشکه دالله ﷻ وعده رښتینی ده نودی (پردی هم) وایی چی دابی سنده خبری دمخکنیو خلگو څخه راروانی دی (مطلب دا دی چی داسی بدنصیبه دی چی دکفر اودمور اوپلار دواړو سره په بدسلوکی کی اخته دی اوبدسلوکی هم ددی درجی چی دمور اوپلار دمخالفت سره ددوی سره په خبروکی هم بدتمیز کوی مخ ته دده دعملونو نیتجه فرمایی چی) داهغه خلگ دی چی ددوی په حق کی هم دهغو خلگو سره دالله ﷻ قول (یعنی وعده دعذاب) پوره سوه کوم چی د دوی څخه مخ ته په پیریانو او انسانانوکی (کفار) تیر سوی دی بیشکه دا (ټول) په خساره کی سول او (مخ ته ذکرسوی تفصیل په لنډه اواجمالی طورسره فرمایی چی دذکر سوو دواړو فرقو څخه) دهری یوی (فریقی) دپاره ددوی دَ (مختلفو) عملونوپه وجه سره جلا جلا درجی (چاته په جنت کی چا ته په دوزخ کی) ورکول سی او (مختلفی درجی به ورته څکه ورکول کیږی) چی الله ﷻ تولوته د دوی دعملونو (بدله) پوره ورکی اوپه هغوی به (څه قسم) ظلم نه وی او (لوړ خو دنیکانوپه جزاکی جنت متعین کړی بیان سوی وو، مگر دظالمانو عذاب متعین سوی نه وو ښوول سوی اجمالاً یی فرمایلی وه، حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ او: كَانُوا خَاسِرِينَ په دی وجه مخ ته دعذاب تعین فرمایی چی هغه ورځ دیادولو قابله ده) په کمه ورځ چی کافران اورته مخامخ راوستل سی (اودوی ته به وویل سی) چی تاسی دخپل لذت شیان ددنیاپه ژوند کی حاصل کړه (دلته به هیڅ لذت تاسی ته حاصل نه سی) اوهغه موښه استعمال کړل (تر دی چی په هغه کی بوخت سوی مورِ مو هیرکړو) پس نن به تاسی ته دذلت سزا درکول کیږی (چنانچی دسزا دپاره اوردی اوذلت څخه داملامت اولعنت دی) په دی وجه چی تاسی به په دنیاکی ناحقه تکبر کوی (دتکبر څخه مراد داسی تکبردی کوم چی یی دایمان څخه لیری وساتی، څکه چی دائمی عذاب ددی سره خاص دی) اوپه دی وجه چی تاسی نافرمانی کوله (په دی کی کفر فسق ظلم اوددی ټول صورتونه داخل سوه)

معلومات اومسئلي :دذکرسوو ایتونوپه اولنیودووایتونوکی خودتیرکلام تکمله ده کوم چی ددی په مخکنی آیت کی راغلی ده چی دظالمانودپاره دعذاب وعیداودمومنانوصالحانودپاره دفوزاوفلاح خوشخبری وه. اولنی آیت یعنی ، إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا : کی یی په لوی بلاغت سره اسلام او ایمان عمل صالح ټول جمع کړل ، دَرَبُّنَا اللهُ اقرار پوره ایمان دی او په دی باندی په استقامت کی په ایمان ترمرګه پوری قائم پاته کیدل هم شامل دی او ددی په مقتضیاتو پوره پوره عمل هم ، دلفظ داستقامت او ددی داهمیت تشریح او تفصیل په سورة حٰم سجده کی بیان سوی دی ، په ذکر سوی آیت کی په ایمان او استقامت دا وعده سوي ده چی داسی خلگوته به آئنده نه دځه تکلیف اوپریشانی بیره وی اونه به یی په تیرتکلیف باندی څه رنج اوافسوس پاته سی ، په بل آیت کی یی ددی بی نظیر راحت ددائمی اوغیر منقطع کیدو خوشخبری ورکړی ده ، ددی څخه وروسته یی په څلورو ایتونوکی انسان ته دده دمور اوپلار سره دحسن سلوك حکم او ددی په خلاف کولو یی مذمت او په درمیان کی یی پرانسان دده دمور

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپلار داحساناتو اوداولاد دپاره دسخت محنت اومشقت برداشت کولو تذکره اولوی عمرته درسیدو سره انسان ته یی دالله ﷻ طرف ته درجوع اوانابت خاص تلقین فرمایلی دی ، دتیرو ایتونو سره ددی مناسبت او ربط په قول دابن کثیر دا دی چی دقرآن کریم عام اسلوب دا دی چی هغه کوم ځای انسان ته دالله ﷻ دعبادت او اطاعت طرف ته دعوت ورکوی نو ورسره سره دمور اوپلار سره دحسن سلوك اوخدمت او اطاعت احکام هم ورکوی ، دقرآن کریم ډیر ایتونه په مختلفو سورتونوکی په دی شاهد دی ددی اسلوب مطابق دلته هم الله ﷻ دتوحید ددعوت سره دوالدینو سره دحسن سلوك ذکر وکی اوقرطبی په حواله دقشیری وجه دربط دابیان کړي ده چی په دی کی دنبی کریم ﷺ دپاره دتسلی یو اړخ دی چی ته دایمان اوتوحید دعوت ورکوه ځوك یی قبلوی اوکه نه قبلوی په دی سره غمجن کیږه مه ځکه چی دانسان حال دا دی چی هغه ټول دخپل مور اوپلار سره هم یوشان نه وی ځینی ښه سلوك کوی اوځینی ددوی سره هم بدسلوکی کوی ، والله اعلم

په هر حال په دی ځلورو ایتونو کی اصل مضمون انسان ته دخپل مور او پلار سره دښه سلوك تلقین کول دی اوضمنًا په کی نور تعلیمات راغلی دی، که څه هم دحدیث ډیرینو روایتونو څخه ددی ایتونو دحضرت صدیق اکبر ﷺ په شان کی نازلیدل معلومیږی اوپه دی بنا تفسیرِ مظهری په ، وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ کی دالْاِنْسَان الف لام دعهد مقررکړی دی ، ددی څخه یی مراد صدیق اکبر ﷺ اخیستی دی ، لیکن دا ظاهره ده چی که دقرآن دیو آیت دنزول سبب څه خاص فرد یاخاص واقعه وی ، نوبیا هم حکم یی دټولو دپاره عام وی ، که شان نزول یی خاص صدیق اکبر ﷺ وی اوتخصیصات دایتونو د دوی صفتونه وی ، بیا هم مقصود دایتونو عام تعلیم دی اوکه اصل ایتونه عام تعلیم مقررسی ، په دی کی به هم صدیق اکبر ﷺ ددی تعلیم اولنی مصداق ګرځول کیږی، دځوانیدو اوځلوینښتو کالو عمر څخه وروسته چی کوم تخصیصات په دی ایتونوکی مذکور دی هغه تخصیصات به په طور دتمثیل وی اوس دذکر سوو ایتونو دخاص خاص الفاظو تشریح وګوری.

وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا : لفظ دوصیت دتاکیدی حکم په معنٰی کی وی اواحسان په معنٰی دحسن سلوك دی چی په دی کی د دوی خدمت او اطاعت هم داخل دی او تعظیم او تکریم هم.

حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا لفظ دکُرْهًا : په پیښ دکاف سره هغه مشقت ته ویل کیږی دکوم چی انسان لره په څه وجه سره برداشت کول وی اوکَرْهًا په زبر دکاف دهغه محنت اومشقت نوم دی ، په کوم چی دی بل سړی مجبوره کړی ، ددی څخه اکراه مشتق دی ، په اوله جمله کی چی کوم دوالدینو سره دحسن سلوك حکم ورکړی دی دا دوهمه جمله دهغه تاکید دپاره ده چی دوالدینو دخدمت اواطاعت ضروری کیدو یوه وجه دا هم ده چی دوی ستاسی دپیدائش څخه واخله ترځوانیدو پوری ستاسی دپاره لوی مشقتونه برداشت کړی دی خصوصًا دمور محنت اومشقت ډیر ښکاره دی ، په دی وجه دلته بیان صرف دمور دمشقت سوی دی چی دی یوه اوږده موده نه (۹) میاشتی په خپله نس کی تاسی وساتلاست چی په دی کی یی قسم قسم تکلیفونه اومشقتونه برداشت کړل ، بیا دپیدائش په وخت کی په سخت درد اوتکلیف سره ستاسی وجود دی دنیا ته راغی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(دمور حق دپلار څخه زیات دی)

دایت په شروع کی دحسن سلوك حکم دمور اوپلار دواړو دپاره دی، مگر دلته صرف دمور دمحنت او مشقت په ذکر کولوکی حکمت دا دی چی دمور محنت اومشقت لازمی اوضروری دی ، دحمل زمانی تکلیفونه ، بیا دوضع حمل او لنگون (زیږولو) تکلیف په هرحال دهربچی دپاره لازمی دی کوم چی صرف دمور محنت دی ، دپلار دپاره دپرورش محنت دومره لازمی اوضروری نه سی کیدی چی دپلار دپاره د اولاد په پرورش کی څه محنت اومشقت کول راسی ، کله چی بیاهغه مالدار اودخادمانو خاوند وی نو په نورو داولاد خدمت کوی یابل ملك ته ولاړسی اوخرڅ رالیږی ، دا وجه ده چی نبی کریم ﷺ پر اولاد باندی دمورحق دټولوڅخه زیات ایښی دی په یوحدیث کی ارشاد دی، صِلْ اُمَّكَ ثُمَّ اُمَّكَ ثُمَّ اُمَّكَ ثُمَّ اَبَاكَ ثُمَّ اَدْنَاكَ فَاَدْنَاكَ(مظهری)یعنی صله رحمی اوخدمت کوه دخپلی موربیادخپلی موربیادخپلی موردی څخه وروسته دخپل پلار، اوددی څخه وروسته چی کوم زیات نژدی قریب وی ، دهغوی بیا چی په دوی پسی وی .

وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا: په دی جمله کی هم دمور دمحنت اومشقت بیان دی چی دبچی دحمل اوپیدا کیدو څخه وروسته هم مور ته دمحنت څخه فراغت نه وی ځکه چی ددی څخه وروسته دبچی خوراك هم قدرت دمور په سینه کی نازل کړی دی هغه ده ته تی ورکوی ، په آیت کی ارشاد دافرمایی چی دبچی حمل اودتی څخه پریکول دیرش میاشتی دی حضرت علی ﷺ ددی آیت څخه په دی خبره استدلال کړی دی چی دحمل موده کم ازکم شپږمیاشتی ده ځکه چی قرآن کریم اکثره موده دتی ورکولو خو دوه کاله متعین کړي ده ، لکه چی ارشاد دی ، وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ : اودلته یی دحمل اوتی ورکولو دواړو مود دیرش میاشتی مقرر کړه ، نو چی دتی ورکولو دوه کاله موده ورڅخه لیری کړی نو شپږمیاشتی پاته کیږی کومه یی چی دحمل کم ازکم موده مقرره کړه ، په یوه روایت کی دی چی دحضرت عثمان غنی ﷺ په زمانه کی دیوی ښځی بچی په شپږ میاشتوکی پیداسو، کله چی عام عادت په نهو میاشتوکی اوکم ازکم په اوو میاشتوکی دبچی پیداکیدو دی ، حضرت عثمان غنی ﷺ داناجائز حمل مقرر کی او دسزا حکم یی ورکی ، حضرت علی ﷺ خبر سو نو هغوی حضرت عثمان ﷺ ددی سزا ورکولو څخه منع کی اوویی فرمایل چی په قرآن کریم کی دحمل اوتی ورکولو مجموعی موده دیرش میاشتی ده ، بیا دتی ورکولو موده بل ځای څلیرویشت ۲۴ میاشتی مقرره سوی ده په دی وجه باقیمانده شپږ میاشتی دحمل کم ازکم موده ده حضرت عثمان غنی ﷺ ددده استدلال قبول کی اوخپل حکم یی واپس واخیستی (قرطبی) په دی وجه دکم څخه کم موده دحمل په باره کی دټول امت امامان متفق دی چی هغه شپږ میاشتی کیدی سی، اکثره موده څومره ده؟په دی کی دامامانو اقوال مختلف دی قرآن ددی په حقله څه فیصله نه ده کړی

فائده : په دی آیت کی دحمل دکمی مودی خوبیان وسو او دتی ورکولو داکثری مودی په دی کی اشاره ده چی دحمل کم ازکم موده شپږ میاشتی متعینه ده ، ددی څخه په کمه کی صحیح سالم بچی نه سی پیدا کیدی ، مگر دزیات څخه زیات څومره موده بچی په حمل کی پاته کیدی سی ، په دی کی عادتونه مختلف دی ، دا متعینه نه ده ، دغه شان دتی ورکولو دزیات څخه زیاته موده متعینه ده چی تردوو کالو پوری تی ورکول کیږی ، کمه از کمه موده هیڅ متعین نه ده ، دځینو ښځو تی دسره نه وی ، دځینو داپه

Maktaba Tul Ishaat.com

څومیاشتوکی وچ سی څینی بچی دمورتی زیات نه خوری یاورلره مضروی نو نور تی ورلره ورکول کیږی

(په اکثره موده دتي ورکولوکي دأمّت دفقهاوو اختلاف)

اکثره موده دحمل دامام ابوحنیفه رحمه‌الله په نزد دوه کاله دی ، دامام مالك څخه مختلف روایتونه نقل دی څلورکاله ، پنځه کاله، اووه کاله ، دامام شافعی رحمه‌الله په نزد څلور کاله ، دامام احمد رحمه‌الله هم مشهور روایت دڅلورو کالو دی (مظهری) اواکثره موده دتی ورکولو په کومی سره چی درضاعت دحرمت احکام متعلق کیږی ، دجمهورو فقهاؤ په نزد دوه کاله دی ، امام مالك رحمه‌الله شافعی رحمه‌الله احمدبن حنبل رحمه‌الله او په حنفی امامانوکی ابو یوسف او امام محمد تول په دی متفق دی اوپه اصحابو کی دحضرت عمر رضی‌الله‌عنه، ابن عباس رضی‌الله‌عنه هم دا قول دی (رواه الدارقطنی) دحضرت علی مرتضٰی رضی‌الله‌عنه عبدالله ابن مسعود رضی‌الله‌عنه هم دا ارشاد دی (اخرجه ابن ابی شیبه) صرف دامام اعظم ابو حنیفه رحمه‌الله څخه دا منقول چی تردوه نیم کاله پوری بچی ته تی ورکول کیږی چی ددی مطلب دجمهورو حنفیوپه نزد دا دی چی که بچی کمزوری وی ، دمور دشیدو څخه ماسوا بل خوراك تر دوو کالو پوری نه سی کولی نو نور زیات ترشپږو میاشتو پوری دتی ورکولو اجازت نسته ، ځکه چی په دی دټولو اتفاق دی چی درضاعت دمودی دپوره کیدو څخه وروسته دمور تی بچی ته ورکول حرام دی مګر دحنفی فقهاوو فتوٰی هم دجمهورو امامانو په مسلك ده چی که د دوو کالو مودی څخه یی وروسته ورته تی ورکی نو په دی سره درضاعت دحرمت احکام نه ثابتیږی ، حکیم الامت په بیان القرآن کی فرمایی چی که څه هم فتوٰی دجمهوروپه قول وه ، مګر په عمل کی احتیاط کول ښه دی چی په دوه نیم کاله موده کی دننه کوم بچی ته تی ورکول سو دهغه سره په نکاح کولو کی احتیاط په کار دی ، څینو حضراتو دایت، وَحَمْلُهٗ وَفِصَالُهٗ ثَلَاثُونَ شَهْرًا څخه دامام اعظم دقول مطابق داکثری مودی درضاعت دوه نیم کاله دثابتولو کوشش کړی دی ، په تفسیرِ مظهری کی فرمایی چی دا صحیح نه ده ځکه چی دصحابه کرامو رضی‌الله‌عنهم جماعت حضرت علی مرتضٰی رضی‌الله‌عنه، عثمان غنی رضی‌الله‌عنه دایت تفسیر دامتعین کړی دی چی په دی کی شپږ میاشتی دحمل کمه موده اوڅلیرویشت میاشتی دتی ورکولو مراد ده اوحضرت ابن عباس رضی‌الله‌عنه فرمایی چی قرآن کریم دحمل اوتی ورکولو شریکه موده دیرش میاشتی ښوولی ده دهریوه یی جلا جلا حد نه دی ښوولی، ددی سبب دا دی چی عام عادت دا دی چی بچی په نهو میاشتوکی پیدا کیږی اوکله چی بچی پوره په نهو میاشتوکی پیدا سو نودمور دتی ورکولو ضرورت صرف یو ویشت میاشتی پاته کیږی اوکه بچی په اوو میاشتوکی پیداسی نودرویشت میاشتی ضرورت پاته کیږی اوکوم بچی چی په شپږو میاشتوکی پیداسی نوڅلیرویشت میاشتی یعنی پوره دوه کاله دتي ورکولو ضرورت وی (مظهری)

حَتّٰی إِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِینَ سَنَةً : دلفظ دَاَشُدَّ لغوی معنٰی دقوت ده ، په سورة انعام کی د، حَتّٰی یَبْلُغَ اَشُدَّهٗ، لاندی ددی تفسیرپه بلوغ سره سوي دی ، یعنی هرکله چی بچی سن بلوغ ته ورسیږی ، حضرت ابن عباس رضی‌الله‌عنه فرمایی چی دَ، بلوغ اشدّه، څخه مراد داتلس کاله عمرته رسیدل دی ، په ذکر سوی آیت کی هم څینو حضراتو دبَلَغَ اَشُدَّهٗ معنٰی داکړي ده چی بچی سن بلوغ ته ورسیږی او ددی څخه وروسته بَلَغَ اَرْبَعِینَ سَنَةً، یی یومستقل منزل دعمر مقررکی ، دا قول دشعبی او ابن زیددی اوحسن بصری، بلوغ

Maktaba Tul Ishaat.com

اشده اوبَلَغَ أَرْبَعِينَ دواړه هم معنی اوبَلَغَ أَرْبَعِينَ یی دبَلَغَ اشُدَّهُ تفسیر اوتاکید مقرر کړی دی (قرطبی) اوتقدیر دعبارت دا دی چی اول دبچی دحمل بیا دحمل پیداکیدو بیادتی ورکولو دزمانی دذکر کولو څخه وروسته دَ، حَتّٰی اِذَا بَلَغَ، فرمایلو مطلب دا دی چی: فَعَاشَ وَاسْتَمَرَّتْ حَيَاتُهُ حَتّٰى إِذَا اكْتَهَلَ وَاسْتَحْكَمَ قُوَّتُهُ وَعَقْلُهُ (روح) یعنی دتی پریکولو څخه وروسته بچی ژوندی پاته سو اوعمریی پیداکی تردی چی هغه بالغ اوقوی سو اودهغه قوت اوعقل مکمل سو نو اوس دهغه خپل پیداکوونکی اوپالونکی طرف ته درجوع کیدو توفیق نصیب سو او هغه داسی دعا غوښتل شروع کړل چی.

رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ : یعنی ای زما پالونکیه! ماته توفیق راکړی چی زه ستا دهغه نعمت شکر اداکړم کوم چی تاپه ماکړی دی اوزمابه مور اوپلاردی کړی دی اوماته داتوفیق راکی چی زه هغه عمل وکړم په کوم سره چی ته راضی سی او زما دپاره زما داولاد هم اصلاح وکی ، زه تاته رجوع کوم اوزه ستا دتابع فرمان مسلمانانو څخه یم ، قرآن دلته د: حَتّٰى إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ څخه تر مِنَ الْمُسْلِمِينَ پوری تولی صیغی دماضی استعمال کړی دی چی ددی څخه داظاهریږی چی دابیان دځه خاص واقعی اوخاص سړی دی کوم چی دایت دنزول په وخت کی سوی دی ، په دی وجه تفسیر مظهری دا اختیارکړي ده چی دا تول حالات دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ دی ، د دوی بیان یی په عامو الفاظوکی په دی حکمت سره کړی دی چی نورو مسلمانانو ته هم ددی ترغیب وسی چی هغوی هم داسی کوی او ددی دلیل هغه روایت دی کوم چی قرطبی په روایت دعطاء دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل کړی دی چی رسول الله ﷺ هرکله دشلو کالوپه عمرکی دحضرت خدیجی ﷺ په مال سره دتجارت قصد وکی اودشام سفر یی وکی نوپه دی سفرکی ابوبکر صدیق ﷺ د دوی سره وو ، دغه وخت ددوی عمر اتلس کاله وو کوم چی مصداق دی دبَلَغَ أَشُدَّهُ ، بیاپه دی سفرکی دوی دنبی کریم ﷺ داسی حالات ولیدل چی ده ﷺ یی داسی خوښ سول چی دسفر څخه بیرته راغلل نوبیا به هر وخت د دوی سره وو تردی چی هرکله د دوی عمر شریف څلویښت کاله سو او دوی الله ﷻ په نبوت اورسالت سره مشرف وفرمایل، دغه وخت دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ عمر اته دیرش کاله وو ، په سړوکی دتولو څخه اول دوی اسلام قبول کی ، بیاچی هرکله د دوی عمر څلویښت کاله سو نو دغه وخت یی دا دعا وغوښتله کومه چی لوړه په آیت کی ذکر ده ، رَبِّ أَوْزِعْنِي اودا مصداق دی دَ ، بَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً اوکله چی یی دا دعا وغوښتله ، أَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ نو الله ﷻ دا دعا قبوله کړه او ده ﷺ ته یی دنهو داسی غلامانو اخیستلو او ازادولو توفیق ورکی کوم چی مسلمانان سوی وه او دهغوی مالکانو په هغوی داسلام راوړلو په وجه ظلمونه کول ، دغه شان د دوی دعا، أَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي هم قبوله سوه ، د دوی په اولاد کی څوک داسی پاته نه سول کوم چی ایمان نه وی راوړی ، دغه شان په صحابه کرامو ﷺ کی دا خصوصیت حق تعالی صدیق اکبر ﷺ ته ورکی چی هغه په خپله هم مسلمان سو اومور اوپلاریی هم او اولادیی هم اوتولوته دنبی کریم ﷺ دصحبت شرف هم حاصل سو اوپه تفسیر روح المعانی کی دی چی ددی تائید ددی خبری څخه هم کیږی چی په تولو صحابه کرامو ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

مهاجرینو اوانصارو کی دغه وخت داخصوصیت صرف دصدیق اکبرﷺ ووچی هغه په خپله هم مسلمان سو اودهغه موراوپلار هم مسلمانان سول پاته سو داسوال چی دحضرت صدیق اکبرﷺ پلار قحافه ﷺ دمکی دفتح څخه وروسته مسلمان سوی دی اوداسورة ټول مکی دی په دی وجه داایت هم په مکه کی نازل سوی دی دغه وخت په والدینودالله ﷻدنعمت ذکربه څنګه مناسب وی؟نوددی جواب دا دی چی څینو حضراتو دا ایتونه مدنی ګرځولی دی ، په دی خوځه اشکال نه پاته کیږی اوکه مکی هم وی نو مراد به ورڅخه په نعمت داسلام سره دمشرف کیدلو دعاوی (روح) ددی تفسیرپه روسره که څه هم داټول حالات دحضرت صدیق اکبرﷺ بیان سو ، مګرحکم یی عام دی ټولو مسلمانانوته په دی باندی هدایت کول دی چی دبنده عمر هرکله څلویښتو کالوته نژدی سی نوپه ده باندی داخرت فکر غالب په کار دی چی دتیرو ګناهونو څخه توبه نوی کړی اودائنده دپاره دهغه څخهَ دځان ساتلو پوره اهتمام وکی ، څکه چی عادت او تجربه دا ده چی دځلویښتو کالوپه عمرکی چی کوم اخلاق عادات دچاجوړسی دهغه لیری کول بیا مشکل وی .

دحضرت عثمان غنی ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی چی مومن بنده چی کله دځلویښتو کالو عمرته ورسیږی نوالله ﷻ دده حساب اسانه کړی اوهرکله چی شپیته کاله عمرته ورسیږی نوددده خپل ځان طرف ته رجوع اوانابت نصیب کړی اوهرکله چی اویا کاله عمرته ورسیږی نوټول آسمان دده سره محبت شروع کړی ، اوهرکله چی اتیا کالوته ورسیږی نوالله ﷻ دده نیکی قائمی پاته کوی او دده بدی خرابوی اوهرکله چی نوی ۹۰ کالوته ورسیږی نوالله ﷻ دده مخکنی وروستنی ګناهونه معاف کړی او ده ته دخپلو اهلِ بیتو متعلق دشفاعت کولوحق ورکړی اوپه آسمان کی دده دنوم سره ولیکل سی چی دی په مځکه کی دالله ﷻ قیدی دی (ذکره ابن کثیر عن ابی یعلی ومسند احمد وغیره) او داظاهره ده چی مراد ددی څخه هغه مومن بنده دی کوم چی خپل ژوند دشریعت داحکامو مطابق په تقوٰی سره تیرکړی وی ، ابن کثیر چونکی اولنی تفسیر اختیار کړی دی چی مراد ورڅخه عام انسان دی نوکوم الفاظ چی دخصوصیت په دی کی راغلی دی لکه ، حَتّٰى إِذَا بَلَغَ اَشُدَّهُ وَبَلَغَ اَرْبَعِينَ سَنَةً الخ داټول په طور دمثال دی په کوم کی چی داهدایت ورکول مقصود دی ، چی انسان هرکله دځلویښتو کالو عمرته ورسیږی نوپه ده دخپل اصلاح او دخپل اهل اوعیال داصلاح اوداخرت فکر غالب کیدل په کار دی ، والله تعالی اعلم

أُولَئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَاعَمِلُواوَنَتَجاوَزُ عَنْ سَيِّئَاتِهِمْ: یعنی دداسی مومن مسلمان دکوم چی دا حالت وی کوم چی دالورتیرسودده نیکی قبلول کیږی اوګناهونه یی معاف کول کیږی داحکم هم عام دی که ددی دنزول سبب صدیق اکبرﷺ وی نوهغه به ددی اولنی مصداق وی دحضرت علیﷺ دلاندینی ارشاد څخه هم دایت دمطلب عاموالی معلومیږی ابن کثیرپه خپل تفسیرکی په سند سره دمحمدابن حاطب داروایت نقل کړی دی چی زه یووارد امیرالمومنین حضرت علیﷺ په خدمت کی حاضروم دغه وخت ددوی سره څه نورحضرات هم موجودوه کوموچی په حضرت عثمان ﷺ باندی څه عیب ولګوی په دی باندی حضرت علی ﷺ وفرمایل .

كَانَ عُثْمَانَ ﷺ مِنَ الَّذِينَ قَالَ اللهُ ، (أُولَئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجاوَزُ عَنْ سَيِّئَاتِهِمْ فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ) قَالَ: وَاللهِ عُثْمَانُ وَأَصْحَابُ عُثْمَانَ ﷺ قَالَهَا ثَلَاثًا (ابن كثير)

حضرت عثمان ﷺ دهغو خلکو څخه دی دکومو په باره کی چی الله ﷻ فرمایلی دی ، أُولَئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَنْهُمْ الخ په خدای قسم دی ، ددی مصداق حضرت عثمان ﷺ او دده ملګری دی ، دا خبره حضرت علی ﷺ دری واری وفرمایله (ابن کثیر)

وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَكُمَا: په تیرایت کی دوالدینو خدمت او اطاعت احکام وه په دی آیت کی دهغه سړی دعذاب اوسزاذکردی کوم چی دموراوپلارسره بدسلوکی اوبدزبانی کوی خاصکرهرکله چی والدین ده ته داسلام اونیکو عملونو طرف ته دعوت ورکوی ، د دوی خبره نه منل دوچنده ګناه ده ، ابن کثیر فرمایی چی مطلب دایت عام دی کوم سړی چی دخپل مور اوپلار سره بدسلوکی کوی هغه ددی مصداق دی .

مروان چی کوم ددی آیت مصداق حضرت عبد الرحمٰن بن ابی بکر ﷺ په خپله یوه خطبه کی ویلی وه ، ددی تکذیب په صحیح بخاری کی دحضرت عائشی ﷺ څخه نقل دی ، صحیح خبره دا ده چی مطلب دایت عام دی ، په څه صحیح روایت کی یو فرد مصداق دایت نقل سوی نه دی .

أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا : یعنی کفاروته خطاب دی او دا ورته ویل کیږی چی تاسی که څه ښه کار په دنیاکی کړی وو ، نو دهغه بدله هم تاسی ته ددنیوی نعمتونو اوعیش عشرت په صورت کی درکول سوي ده اوس په اخرت کی ستاسی هیڅ حصه باقی نه ده پاته سوی ، داخطاب کفاروته دی ، ددی څخه معلومیږی چی دکفارو نیك عملونه کوم چی دایمان نه راوړوپه وجه دالله ﷻ په نزد مقبول نه دی ، په اخرت کی خو ددی هیڅ قیمت نسته ، مګر په دنیاکی الله ﷻ د دوی بدله دوی ته ورکوی ، کفارو فاجرانو ته چی کوم مال دولت اوعزت مرتبه وغیره کومه په دنیاکی ورکول کیږی هغه د دوی دنیکو عملونو سخاوت ، همدردی او رښتینوالی وغیره بدله وی ، دمومنانو دپاره دا حکم نه دی چی که دوی ته په دنیاکی څه مال دولت نعمت وغیره ورکول سی نو داخرت دحق څخه به محرومه سی .

ددنیا دلذتونو اونعمتونو څخه دځان ساتلو ترغیب)

په دی آیت کی کفاروته عتاب اوعذاب دهغوی په دنیوی لذتونوکی دمشغولید وپه بنا وسوپه دی وجه نبی کریم ﷺ اوصحابه ﷺ اوتابعینو ددنیا دلذتونو پریښوولو عادت جوړکی لکه چی د دوی سیرت په دی باندی شاهد دی اونبی کریم ﷺ حضرت معاذ ﷺ ته دیمن طرف ته دلیږلو په وخت کی دا وصیت فرمایلی وو چی ددنیا دنعمتونو څخه پرهیز کوه اودحضرت علی ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دالله ﷻ څخه په لږ رزق اخیستو راضی سو نو الله ﷻ به دهغه په لږ عمل راضی سی (مظهری عن بغوی)

وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَ

اویادکړه دعادیانوورورهرکله چی وي بیروی خپل قوم په احقاف کی اوپه تحقیق سره تیرسوی ووبیروونکی دده څخه مخکی

مِنْ خَلْفِهِ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

او وروسته چی بندګی مه کوی دچا ما سوا دالله ﷻ څخه ، زه بیریږم په تاسی دعذاب د ورځی

عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوا أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ آلِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ

لوی څخه ، وي ویل آیا ته راغلی مونږ ته چی واړوی مونږ دخپلو معبودانو څخه ، نو راوله په مونږ کومه وعده چی کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۲﴾ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاُبَلِّغُكُمْ مَّآ

که ته ریښتینی یې ؟ وې ویل علم دهغه خو الله ﷻ ته دی او زه خو رسوم

اُرْسِلْتُ بِهٖ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا

تاسی ته هغه چی زه پر رالیږل سوی یم او لیکن زه وینم چی تاسی خلق ناپوهی کوی ، بیاچی هرکله ولیدہ دوی

مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۭ بَلْ هُوَ مَا

وریځ را مخ ته کیدونکی د دوی دروته وې ویل دا وریځ ده په مونږ به باران وکی ، داسی نه ده بلکه

اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۴﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۢ بِاَمْرِ

دا خو هغه دی چی تاسی تلوارکوی ، هوا ده چی عذاب دی په کی دردناك ، دبیخه خرابوی هر شی په حکم

رَبِّهَا فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ

درب خپل بیا صبا ته داسی سول چی په نظر نه را تلل ، مگر د دوی کورونه ، مونږ دغسی سزا ورکوو

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ وَجَعَلْنَا

گناهگارو خلقو ته ، او اومونږ دوی اوسولی وو په داسی خایونو کی چی تاسو مو په کی نه یاست اوسولی

لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ

او ورکړی وو مونږ هغوی ته غوږونه اوسترگی او زړونه ، پس په کار ورنغلل دهغوی غوږونه دهغوی اونه

اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ

سترگی دهغوی او نه زړونه دهغوی په هیڅ شی کی ، ځکه چی انکار یی کوی د الله د خبرو څخه ،

اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۲۶﴾

او گیر کړل هغوی هغې خبری چی دوی ورپوری مسخری کولی

لنډتفسیر: او ته دقوم د عاد دورور (یعنی هود ﷺ دوی ته) ذکر وکړه هرکله چی هغوی خپل قوم ته کوم چی په داسی مقام اوسیدل چی هلته دشګو اوږدی اوږدی ډیری وی (دا دمقام نښه یی په دی وجه

وښوولە چې دلیدونکو په ذهن کې دغه ځای حاضرسی) په دی (خبره) باندی (دعذاب الهی څخه) وبیرول چې تاسی دخدای څخه ماسوا دبل چا عبادت مه کوی (کنه نوپه تاسی به عذاب نازل سی) او (دا داسی ضروری اوصحیح خبره ده چې) دهغه (هود ﷺ) څخه مخکی اودهغه څخه وروسته (ددی مضمون متعلق ډیر بیرونکی (پیغمبران تراوسه پوری) تیرسوی دی (اوعجیبه نه ده چې هود ﷺ دی ددغو ټولوپه توحید باندی متفق کیدل ددوی په مخکی بیان کړی هم وی، نو دجملی د، وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ، په مینځ کی زیاتول ددی فائدی دپاره دی چې ددعوت دمضمون تاکید وسی اوهود ﷺ په بیرولوکی داوفرمایل چې) زه تاسی دیوی لویی (سختی) ورځی دعذاب څخه بیروم (که دهغه څخه ځانونه محفوظ کول غواړی نوتوحید قبول کی) هغوی وویل ایاته مونږته په دی اراده سره رالی چې مونږ زمونږ دمعبودانو څخه واړوی نو (مونږ خو واپس کیدونکی نه یوباقی) که ته رښتینی یی نودکوم (عذاب) چې ته زمونږ سره وعده کوی هغه پرمونږ واقع کړه هغوی وفرمایل چې پوره علم خودخدای سره دی (چې عذاب به کله راځی) اوماته چې کوم پیغام راکول سوی، رالیږل سوی یم زه خوتاسی ته هغه رسوم (چنانچې په هغه کی ماته داهم ویل سوی دی چې په تاسی به عذاب راځی، ماتاسی خبر کړاست ددی څخه زیات نه ماته څه علم سته اونه قدرت) لیکن زه تاسی وینم چې تاسی خلګ خالصی دجهالت خبری کوی (چې یوخو توحیدنه قبلوی بیاپه خپلو خولو سره بلا غواړی بیاماته ددی فرمائش کوی البته دخپل صدق زه مدعی یم په کوم چې می دلیل قائم کړی دی اوپه کومه واقعه کی چې ستاسی شبهه ده، دهغه وخت اوواقع کیدل ماته نه دی ښوول سوی، البته نفس وقوع چې هرکله الله ﷻ وغواړی وبه یی وینی، غرض هرکله چې په هیڅ شان سره هغوی حق قبول نه کی نو اوس دعذاب داسی سامان شروع سوچې اول یوه وریځ رالوړه سوه) نو هغوی خلګو چې هرکله وریځ دخپلو کلو طرف ته مخامخ راتلونکی ولیده نوویی ویل چې داخو وریځ ده په مونږبه باران وکی (ارشاد وسو چې) نه (باران اورونکی وریځ نه ده) بلکه داهغه (عذاب) دی کوم چې تاسی ژر غوښتی (چې هغه عذاب ژر راوله اوپه دی وریځ کی) یوه هواده په کومه کی چې دردناك عذاب دی هغه (هوا) به هرشی (دکوم چې دهلاکولو حکم وی) دخپل رب په حکم سره هلاك کړی چنانچې (هغه هوا راله اوانسانان اوحیوانان به یی پورته کول اورا ویشتل چې په دی سره) هغه داسی (تباه) سول چې بغیر د دوی دکورونو څخه نورهیڅ (انسانان اوحیوانات) لیدل کیدی نه سول مونږ مجرمانوته دغسی سزا ورکوو اومونږ دوی ته (یعنی دقوم دعاد) خلګو ته په هغو خبروکی قدرت ورکړی وو چې تاسی ته مو په هغوخبروکی قدرت نه دی درکړی (مراد دهغو خبرو څخه هغه تصرفات دی کوم چې په قوت جسمانی اومالی باندی موقوف دی) اومونږ هغوته غوږونه اوسترګی اوزړه (ټول هرڅه) ورکړی وه، نو چونکی هغو خلګو دالله ﷻ دایتونو څخه انکار کوی په دی وجه (هرکله چې په هغوی عذاب راغلی دی نو) نه دهغوی غوږونه دهغوی یوه ذره په کار ورغلی دی اونه دهغوی سترګی اونه دهغوی زړونه اوپه کوم (عذاب) پوری چې هغوی خندا ګانی کولی، هم هغه هغوی ګیر کړل (یعنی نه دهغوی حواسو هغوی دعذاب څخه محفوظ کړل او نه دهغوی تدبیر دکوم ادراك چې په زړه سره کیږی، نه دهغوی قوت، نو ستاسی څه حقیقت دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَلَوْ

اومونږ هلاک کړی دی څومره ستاسی په خوا اوشاکی دکلو څخه او په قسم قسم سره بیانوو خبری هغوی ته چی هغوی واپس سی

لَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ؕ بَلْ ضَلُّوْا

بیاولی مدد ونه رسیدی هغوی ته دهغوی دطرف څخه کوم چی یی نیولی ووماسوادالله څخه معبودان دلوی درجی

عَنْهُمْ ۚ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۸﴾

پیداکولو دپاره ، داسی نه ده بلکه ورک سول دهغوی څخه او دا دروغ وه دهغوی او څه چی یی په خپل زړه سره جوړول

لنډتفسیر: دایتونو ترون: لوړ دقوم عاد قصه په تفصیل سره ذکر وه مخ ته دنورو داسی قومونو ذکر دی ، په کومو چی دکفر اوانبیاؤ دمخالفت په وجه عذاب رالی اوهلاک سول دهغوی خراب کلی هم دمکی دخلګو دسفر کولو په وخت کی په لاره کی راتلل دهغه څخه دعبرت حاصلولو دپاره دهغوی اجمالی حال په دی ذکر سوو ایتونوکی راغلی دی .

اومونږستاسی خواؤشاته نورکلی هم (ددی کفراوشرک په سبب) هلاک کړی دی (لکه ثمودیان اوقوم دلوط ﷺ چی شام ته دتللو په وخت کی به دمکی خلګ په دغه کلو تیریدل اوچونکی دمکی څخه یو طرف ته یمن دی اوبل طرف نه شام دی نو ځکه یی مَاحَوْلَكُمْ وفرمایل) اومونږ (دهلاکولو څخه مخکی دهغوی دپوهولو دپاره) بار بار خپلی ننبنی (دوی ته ښوولی وی چی دوی (دکفر اوشرک څخه) واپس سی (مګر واپس نه سول اوهلاک سول) نو دخدای څخه ماسوا کوم کوم شیان چی دوی دخدای ﷻ دتقرب حاصلولو دپاره خپل معبودان جوړکړی وه (چی دابه په مصیبت کی زمونږ په کار راسی ، دهلاکت او عذاب په وخت کی) هغوی دهغو مدد ولی ونه کی،بلکه هغه ټول دهغوی څخه ورک سول اوهغه (معبود اوشفیع ګڼل) محضی دهغوی تراش کړی اوجوړی کړی خبری دی (اوهیڅکله به هم په واقع کی هغه شفیع یامعبود نه وو)

وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا

اوهرکله چی مونږ متوجه کړل ستاطرف ته یوڅوتنه دپیریانوڅخه چی وایی وریدی قرآن نو هرکله چی هغه ځای ته

اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ

درورسیدل وې ویل چپ سی ، بیاچی هرکله ختم سو واپس سول خپل قوم ته بیرونکی ، وی ویل ای مونږ قومه !

اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ

مونږ واوریدی یو کتاب چی نازل سوی دی دموسی ﷺ څخه وروسته رښتینی کوونکی دی دټولومخکنیو

Maktaba Tul Ishaat.com

يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۰﴾ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ

کتابونو لار ښیی رښتینی دین ته او لاری برابری ته ، ای قومه ! زمونږ ومنی بلونکی

اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ

دالله او یقین ورباندی وکړی چی وبخښی ستاسی دګناهونو څخه او محفوظ کړی تاسی دیو دردناك عذاب

اَلِيْمٍ ﴿۳۱﴾ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ وَ

څخه ، اوځوك چی ونه منی دالله بلونکی نو هغه نه سی عاجزه کولی په مځکه کی

لَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ۭ اُولٰۗىِٕكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾

او نه به وی ده لره ماسوا دهغه څخه څوك کارساز ، هغه خلق ښکاره بی لاری دی

لنډتفسیر: او (هغوی ته دهغه وخت ذکر وکړه) هرکله چی مونږ دپیریانوبوه ډله ستاطرف ته راوستله کومه چی (په اخرکی دلته راورسیدل) قرآن یی اوریدی غرض هرکله چی هغه خلګ دقرآن (ویلو موقعی ته) را ورسیدل نو (په خپل مینځ کی یی) وویل چی خاموش سی (اودا کلام واوری) بیاچی هرکله قرآن ووایل سو (یعنی څومره چی دغه وخت پیغمبر ﷺ ته په لمانځه کی ویل وو ختم سو) نو هغه خلګو (په هغه ایمان راوړی او) خپل قوم ته (ددی) خبر رسولو دپاره بیرته ولاړل (اوچی ولاړل نوهغوی ته یی) ووایل ای وړونو مونږ یو (عجیبه) کتاب واوریدی راغلوکوم چی دموسی ﷺ څخه وروسته نازل سوی دی کوم چی دخان څخه دمخکی کتابو تصدیق کوی (اودین) حق اوسیده لاری طرف ته رهنمایی کوی (دا خو ددین اسلام دحقانیت اثبات اواظهار دی ، مخ ته امر دی ددی دقبلولو اول ترغیباً بیا ترهیباً یعنی) ای وړونو تاسی دالله طرف ته دبلونکی خبره ومنی (مراد دبلونکی څخه قرآن یانبی ذیشان دی) او (خبره منل دا دی چی) په هغه ایمان راوړی (په دی کی اشاره سوه چی هغه دایمان راوړلو طرف ته بلونکی دی نه چی دبل څه دنیوی غرض طرف ته ، نو که تاسی داسی وکی نو) الله ﷻ به ستاسی ګناهونه معاف کړی اوتاسی به د درد ناك عذاب څخه محفوظ کی اوکوم سړی چی دالله طرف ته دبلونکی خبره ونه منی نوهغه په مځکه (په څه حصه) کی (په تیښته خدای) نه سی عاجزه کولی (یعنی داسی چی په لاس یی ورنه سی) او (لکه څنګه چی هغه په خپله څان نه سی محفوظ کولی دغه شان) دخدای څخه ماسوا بل څوك به دهغه مددګار هم نه وی (چی دی محفوظ کی او) داسی خلګ په ښکاره ګمراهی کی (اخته) دی (چی سره ددلیلونو قائمیدو دبلونکی په حقوالی بیاهم دهغه خبره قبوله نه کړه)

معلومات اومسئلي: دمکی کافرانو ته دا ورولو دپاره ددی څخه په مخکی ایتونوکی دکفر اوتکبرمذمت او ددی مهلك والی بیان سوی دی ، په ذکرسوو ایتونوکی مکی والاوو ته دشرم مخکی کولو دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

دپیریانو دایمان راوړلو واقعه بیان سوي ده چی پیریان خو په غرور اوتکبر کی ستاسی څخه هم زیات دی مګرچی قرآن یی واوریدی نو دهغوی زړونه هم نرم سول اومسلمانان سول ، تاسی ته خوالله ﷻ دپیریانو څخه زیات عقل اوشعور درکړی دی ، مګر ددی باوجود تاسی ایمان نه راوړی اودپیریانو واقعه دقرآن اوریدو او ایمان راوړوپه صحیحو احادیثوکی داسی راغلی ده چی دنبی کریم ﷺ دبعثت په وخت کی هرکله چی پیریان داسمانی خبرونو اوریدو څخه منع سول نو ددوی دنبوت اوبعثت څخه وروسته چی کوم پیریان داسمانی خبرونو داوریدلو دپاره لوړ ځی نو په شهاب ثاقب ویشتل کیږی او دفع کول کیږی په پیریانوکی ددی ذکر وسو چی ددی سبب معلومول په کار دی چی څه نوی واقعه په دنیا کی سوي ده چی دهغه په وجه پیران داسمانی خبرو داوریدو څخه منعه سول ، دپیریانو مختلفی ډلی ددنیا مختلفو طرفونو ته ددی دتحقیق دپاره خپری سوی ، د دوی یوه ډله دحجاز طرف ته هم ورسیده ، په دغه وخ نبی کریم ﷺ دخپلو څو اصحابو سره په مقام بطنِ نخله کی تشریف فرماوو اودسوق عکاظ طرف ته یی دتللو اراده وه «دعربو خلګو به دتجارتی اومعاشرتی کارونو دپاره په مختلفو مقاماتو باندی په خاصو خاصو ورځو کی بازارونه لګول چی دهری مځکی څخه به ورته خلګ جمع کیدل ، دکانونه به لګیدل او اجتماعات اوجلسی به کیدی ، لکه زمونږ په زمانه کی چی دغه شان نمائشونه ځای په ځای کیږی ، په هغه کی به یوبازار په مقام دعکاظ کی لګیدی نبی کریم ﷺ غالبًا داسلام ددعوت اوتبلیغ دپاره تشریف وړی» په دی مقام بطن نخله کی دوی دسهار لمونځ کوی چی هغه پیریان دلته را ورسیدل ، قرآن یی واوریدی نو وي ویل چی بس هغه نوی خبره دا ده کومه چی زمونږ او دآسمانی خبرونو په مینځ کی حائله سوی ده «رواه امام احمد والبخاری ومسلم والترمذی والنسایی وجماعة عن ابن عباس ﷺ»

او په یو روایت کی دی چی هغه پیریانو کله چی دوی دلمانځه څخه فارغ سوه نو داسلام په حقانیت یی یقین او ایمان راوړی ، خپل قوم ته واپس سول اوهغوی ته یی ددی واقعی داصلی سبب او ددی خبر ورکی چی مونږ خو مسلمانان سو ، تاسی ته هم په کار دی چی ایمان راوړی ، مګر رسول الله ﷺ ته ددی پیریانو دراتلو اوتلو او دقرآن اوریدلو او ایمان راوړلو خبرونه سو تردی چی سورة جن نازل سو چی په هغه کی دوی ته ددی واقعی خبر ورکول سو «رواه ابن المنذر عن عبد الملك»

اوپه یو روایت کی دی چی داپیریان دمقام نصیبین اوسیدونکی وه ، اوټول نه ۹ یادځینو روایتونو مطابق اووه ۷ وه، هرکله چی هغوی خپل قوم ته داخبر واوروی اودایمان راوړلو ترغیب یی ورکی نوبیا د دوی څخه دری سوه کسان داسلام راوړلو دپاره په خدمت کی حاضرسول «رواه ابونعیم والواقدی عن کعب الاحبار، او دا ټول روایتونه په روح کی دی»

او په نورو احادیثوکی دپیریانو دراتلو روایتونه بل شان هم راغلی دی مګر چونکی دا ډیر واقعات په مختلفو وختونوکی پیښ سوی دی ، په دی وجه څه تعارض نسته او ددی تائید ددی روایت څخه هم کیږی کوم چی طبرانی په اوسط کی اوابن مردویه دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل کړی دی چی پیریان دنبی کریم ﷺ په خدمت کی باربار حاضر سوی دی.

خفاجی فرمایی چی داحادیثو دروایتونو جمع کولو څخه معلومیږی چی دپیریانو دنبی کریم ﷺ په خدمت

Maktaba Tul Ishaat.com

کی دحاضریدواواستفاده کولو واقعات شپږ واره پیښ سوی دی (کذا فی الروح واخذته عن بیان القرآن) ددې واقعې تفصیل په په ذکر سوو آیتونوکی بیان سوي دی ، کِتَابًا اُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسٰی په دی کی دمِنْ بَعْدِ مُوسٰی په قید سره خُینو حضراتو داګڼلی ده چی داپیریان یهودیان وه خُکه چی دحضرت موسیٰ علیه السلام خُخه وروسته خو په حضرت عیسیٰ علیه السلام انجیل نازل سوی دی ، دهغه ذکر یی ونه کی ، لیکن ددی خُه واضح روایت خو نسته ، او د انجیل په ذکر نه کولو سره د دوی په یهودی کیدو استدلال ناکافی دی خُکه چی دانجیل دنه ذکر کولو دا وجه هم کیدی سی چی انجیل په اکثرو احکامو کی دتورات تابع دی اوقرآن په مثل دتورات مستقل کتاب دی ، ددی احکام اوشرائع دتورات خُخه ډیر مختلف دی نوداکیدی سی چې مقصود یې دا بنوولی وی چی دتورات په شان کتاب مستقل قرآن دی .

یَغْفِرْ لَکُمْ مِنْ ذُنُوبِکُمْ : حرف دَمِنْ په اصل کی دتبعیض یعنی دجزئیت دمعنی دپاره راځی که دا معنی دلته واخیستل سی نو دَمِنْ دحرف زیاتولو فائده به دا وی چی په ایمان راوړلو سره حقوق العباد معاف کیږی ، په دی وجه دا فرمایل مناسب سو چی خُینی ګناهونه یعنی حقوق الله معاف کیږي اوخُینی حضرات حرف دَمِنْ زائد ګرځوی نوبیا ددی توجیه ضرورت نه پاته کیږی .

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللّٰهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ

آیا دوی نه وینی چی هغه الله چا چی جوړ کړل آسمانونه اومځکه اوسترې نه سو د دوی په جوړولو

بِقٰدِرٍ عَلٰى أَنْ يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى ۭ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾

هغه قادر دی چی ژوندی کړی مړی ، ولی نه هغه په هرڅه کولو قادر دی ،

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ۭ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ۭ

او په کومه ورځ چی مخامخ کړل سی منکران اور ته ، آیا دا حقه نه ده ؟

قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ۭ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾

وبه وایی ولی نه قسم دی زمونږ په رب ، وبه ویل سی وڅکی عذاب په بدله دهغه چی تاسی کفر کوی ،

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ۭ

نو ته صبر کوه لکه چی صبر کړی دی همت ناکو پیغمبرانو اوتلوار مه کوه د دوی په معامله کی ،

كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍ ۭ

داخلق په کومه ورځ چی وویني هغه شی چی ددوی سره یی وعده ده ،لکه چی دوی نه وی پاته سوی مګرېوساعت دورځی خُخه

Maktaba Tul Ishaat.com

بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُونَ ﴿۳۵﴾

دا رسول دی نو اوس به هغه هلاکیږي کوم چې نافرمانه خلق دی

لنډتفسیر: آیادی خلګو دا ونه لیدل چې کوم خدای آسمانونه اومځکه پیداکړل او ددی په پیداکولو باندی یوه ذره ستړی نه سو ، هغه په دی (په درجه اولی) قدرت لری چې مړی (په قیامت کی) ژوندی کړی (اوهغه به په دی قادر) ولی نه وی ، بیشکه هغه (خو) په هرڅه قادر دي (دا خو یی امکان ثابت سو) اوپه کومه ورځ چې (دا واقع سی او) کافران خلګ دوږخ ته راوستل سی (اودهغوی ځخه پوښتنه وسی چې) ایا دا دوږخ واقعی شی نه دی (لکه چې په دنیاکی مو ددی دواقعیت نفی کوله لکه چې الله ﷻ د دوی خبره بیانوی ، وَمَانَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ) هغوی به ووایی چې زمونږ په رب قسم دی ضرور واقع کار دی ارشاد به وسی (چې ښه نو) دخپل کفر په بدله کی (چې په دی کی د دوږخ ځخه انکار هم راځی) ددی (دوږخ) عذاب وڅکی (اوس مخ ته نبی کریم ﷺ ته دتسلی ورکولو دپاره فرمایی چې کله د دوی ځخه دکفر بدل اخیستل معلوم سو) نو ته (داسی) صبرکوه لکه چې نوروهمت ناکو پیغمبرانو صبرکړی وو اودهغو خلګو دپاره (دالله ﷻ دانتقام) تلوار مه کوه (کوم چې دوی دمسلمانانو ددلجویی دپاره غوښتی او زیاته عجیبه دا ده چې دغو مستحقینو دعذاب په خپله تلواری کوله اوزیات عجیبه والی خو یی ظاهر دی چې مدعی که دمدعا علیه ژر سزا غواړی نو دا نهایتی عجیبه کار دی نو که څه هم په حکمت الهی سره عذاب فوری نه راځی ، لیکن دمشاهدی په وخت کی به په هغوی ددی اثرهغه شان وی کوم چې دفوری عذاب وی ځکه چې) په کومه ورځ داخلګ هغه شی (یعنی عذاب) ووینی دکوم چې دهغوی سره وعده کول کیږی نو (دغه وخت به دانتهایی سخت والی دعذاب ځخه داسی معلومیږی چې) گویادی خلګو (په دنیاکی) دپوره ورځی صرف یوه ګنټه وخت تیر کړی دی (یعنی ددنیا اوږد عمربه ورته لنډ معلومیږی او داسی به ورته معلومه سی چې عذاب فوراً رالی ، مخ ته کفاروته خبرداری دی چې) دا (دخدای دطرف ځخه داتمام حجت دپاره) رَسُوْل دی (کوم چې درسول الله ﷺ په معرفت وسو) نو (ددی ځخه وروسته) هغه به بربادیږی کوم چې نافرمانی کوی (ځکه چې دتبلیغ ځخه نو هیڅ عذر پاته نه سو او دنبی کریم ﷺ په دی کی هیڅ ضرر نسته ، په دی سره تاکید دتسلی هم وسو)

معلومات اومسائل: أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ : په دی کی دَمِنَ الرُّسُلِ حرف مِنْ دمحققینو په نزد بیانیه دی ، دتبعیض دپاره نه دی ، معنی دا ده چې ټول رسولان کوم چې صاحب عزم او همت دی ، معلومه سوه چې صاحب دعزم اوهمت کیدل دټولو انبیاؤ صفت دی ، البته درسولانو په مینځ کی دصفتونو په درجو کی تفاضل اوکمی زیاتی په خپله دقرآن دارشاد ځخه ثابت دی ، تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ : په دی وجه کوم انبیاء چې په صفت دعزم اوهمت کی دنورو ځخه زیات امتیازلری خاص دهغو رسولانو دپاره دا دلقب په طور مشهور سو او ددی په تعین کی هم اختلاف دی او داکثرو قول دا دی چې لقب داولو العزم چې کومو ته ورکول سوی دی ، دا هغه حضرات دی دکومو ذکر چې دسورة احزاب په دی آیت کی سوی دی ، وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ : دحضرت عائشه ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایی چی ددنیا عیش او عشرت اونعمتونه دمحمد ﷺ اوال محمد ﷺ دشان سره مناسب نه دی څکه چی الله ﷻ داولو العزمو څخه بغیر دصبر څخه په بل څه راضی نه دی او ماته دا حکم سوی دی چی ، فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ .

تمت

سورة الاحقاف بعون الله للثانی والعشرین من رجب ـــــ ۱۳۹۲ ـــــ سنه هـ یوم السبت ولله الحمد

﴿سورة محمد﴾

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ ﷺ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٍ وَثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة محمد ﷺ په مدینه کی نازل سو په دی کی اته دیرش (۳۸) آیتونه اوخلور (۴) رکوع ګانی دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ①

اوخوك چی منکر سول او منع یی کړل نور دلاری دخدای څخه ورك کړل الله دهغوی عملونه

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ

او چاچی یقین وکی اونیك کارونه یی وکړل او وی منل هغه چی نازل سوی دی په محمد ﷺ

وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ②

اوهغه دی رښتینی دین دهغوی درب دطرف څخه لیږی به کړل سی دهغوی څخه دهغوی بدعملونه اواصلاح یی وکړه دهغوی دحال

ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا

دا څکه چی څوك منکر سو هغوی تابعداری وکړه د درواغو خبرو اوخوك چی یقین وکړی هغوی ومنله

الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ③

رښتینی خبره دخپل رب دطرف څخه دارنګه بیانی الله ﷻ خلقو ته دهغوی حالات

لنډتفسیر: کوم خلګ چی (په خپله هم) کافران سول او (نور یی هم) دالله ﷻ دلاری څخه منع کړل (لکه دکافرانو دسردارانو چی عادت وو چی په ځان اومال سره به یی هرقسم کوشش داسلام دلاری په بندولو کی کوی نو ، خدای ﷻ دهغوی عملونه نیست کړل (یعنی کوم کارونه چی هغوی نیك ګڼلی دی په وجه دنیستوالی دایمان هغه مقبول نه دی ، بلکه په هغه کی څینی کارونه خو سرچپه موجب دعتاب دی لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

دالله ﷻ په لاره دچلیدو څخه په منع کولوکی خرڅ کول ، لکه چی الله ﷻ فرمایی ، فَسَيُنْفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً الخ) او (دهغوی برخلاف) کوموخلکوچی ایمان راوړی اوهغوی نیك کارونه وکړل او (دهغوی دایمان دکیفیت تفصیل دا دی چی) هغوی په هغه ټولو ایمان راوړی کوم چی په محمد ﷺ باندی نازل سوی دی اوهغه (کوم چی نازل سوی دی هغه) دهغوی درب دطرف څخه (راغلی) واقعی کار (هم) دی (چی منل یی هم ضروری دی نو) الله ﷻ به دهغوی ګناهونه دهغوی څخه لیری کړی (یعنی معاف به یی کړی) او (دواړه جهانه کی) دهغوی حالت به درست کړی (په دنیاکی خوداسی چی د دوی به دنیکو عملونو توفیق زیاتیږی اوپه اخرت کی داسی چی دوی ته به دعذاب څخه دنجات اوجنت ته داخله ورکول سی او) دا (کومه چی دمومنانو خوشحالی اودکافرانو بدحالی بیان سوه) په دی وجه ده چی کافران په غلطه لاره باندی ولاړل اومومنان په صحیح لاره ولاړل کومه چی دهغوی درب دطرف څخه (راغلی) ده (اودغلطی لاری دناکامی اودصحیح لاری دکامیابی سبب کیدل ظاهر دی ، په دی وجه هغوی ناکامه سول او دوی کامیاب سول اوکه داسلام دلاری په صحیح کیدوکی څه شبهه وی ، نو په مِنْ رَبِّهِمْ سره ددی جواب وسو چی دصحیح کیدو دلیل یی دادی چی هغه دالله دطرف څخه ده اودالله ﷻ دطرف څخه کیدل یی دمعجزات نبویه څخه خاصکر داعجاز قرانی څخه ثابت دی او) الله ﷻ دغه شان (لکه چی دا حالت یی بیان کی) دخلکودَ (نفع اوهدایت دَ) دپاره دهغوی (ذکر سوو) حالات بیانوی (چی دترغیب اوترهیب په دواړو طریقو سره هدایت وسی)

معلومات اومسئلي : دسورة محمد ﷺ دوهم نوم سورة قتال هم دی ځکه چی دجهاد اوقتال احکام په دی کی بیان سوی دی ، دمدینی دهجرت څخه فوراً وروسته دا سورة نازل سو ، تردی چی ددی دیو ایت كَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ، متعلق دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا منقول چی دامکی آیت دی ، ځکه چی ددی نزول هغه وخت سوی دی هرکله چی دوی دهجرت په نیت سره دمکی مکرمی څخه ووتل اودمکی مکرمی کلی اوبیت الله ته یی وکتل حضور ﷺ وفرمایل چی دټولی دنیاپه ښارونوکی ماته ته زیات محبوب یی که دمکی خلکو زه ددی ځای څخه نه ایستلی نو مابه په خپل اختیار مکه مکرمه نه وه پریښی او دمفسرینو داصلاح مطابق چی کوم ایتونه دمدینی دهجرت دسفرپه دوران کی نازل سوی دی ، هغه ته مکی وایی ، لنده دا چی دا سورة دمدینی دهجرت څخه فوراً وروسته نازل سوی دی او چی دلته ورسیدل نو دکفارو سره دجهاد اوقتال احکام نازل سول.

وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللهِ دسبیل الله څخه مراد اسلام دی په اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ : کی ددی کفارو هغه عملونه مراد دی کوم چی فی نفسه نیك کارونه دی لکه دمسکینانو امداد او اعانت ، دګاونډی حفاظت اوحمایت، سخاوت ، صدقه خیرات وغیره چی داعملونه که څه هم په خپل ذات کی نیك اوښه عملونه دی لیکن په اخرت کی ددی فائده په ایمان راوړلو سره مشروطه ده ، دکافرانو داسی نیك عملونه به په اخرت کی دهغوی هیڅ په کار ورنه سی ، البته په دنیا کی هغوی ته ددغو نیکو کارونو په بدله کی راحت اوارام ورکول کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَى مُحَمَّدٍ : که څه هم په اوله جمله کی دایمان اونیك عمل ذکر راغلی دی چی په دی کی دنبی کریم ﷺ رسالت اوپه دوی ﷺ نازلیدونکی وحی هم شامله ده ، مګر په دی بله جمله کی ددی په وضاحت سره په ذکر کولوکی دانبوول منظوردی چی دایمان اصلی بنیاد پردی دی چی دخاتم النَّبِيِّين ﷺ ټول تعلیمات په صدق دل سره قبول کړل سی .

وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ : لفظ بَالَ کله دشان اوحال په معنی کی راځی اوکله دزړه په معنی کی که دلته دواړی معنی اخیستل کیږی نو دایت مطلب به داولنی معنی په لحاظ سره دا وی چی الله ﷻ د دوی حال یعنی ددنیا او اخرت ټول کارونه سم کړل ، اوپه دوهم صورت کی به معنی دا وی چی الله ﷻ د دوی زړونه سم کړل ، ددی مطلب به هم دا وی چی ټول کارونه یی ورته سم کړل ، ځکه چی دکارونو سموالی دزړه دسموالی سره لازم اوملزوم دی .

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا

نوهرکله چی تاسی مقابل سی دکفارو سره نو وهی څټونه دهغوی تردی چی کله ښه قتل کړی هغوی پس بیایی

الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ۚ

مضبوط وتړی نو بیا ورسره یااحسان وکړی یا ورڅخه معاوضه واخلی تردی پوری چی جنګ ختم سی .

لنډتفسیر: (په لوړو آیتونو کی دایماندار مصلح کیدل او دکافرانو مفسد کیدل بیان سوی دی ، په دی مناسبت سره دکفر اوکافرانو دفساد رفع کولو دپاره په دی آیت کی دجهاد داحکامو ذکر دی) نو هرکله چی ستاسی دکفارو سره مقابله راسی نو دهغوی څټونه وهی تردی چی هرکله تاسی دهغوی ښه خونریزی وکی (چی حدیی دا دی چی دکفارو شوکت اوقوت مات سی اوپه جنګ بندولو سره مسلمانانو ته دضرر رسیدو یا دکفارو دغلبی بیره پاته نه سی) نو (دغه وخت کفار قیدکړی) یاخو یی بی عوضه پریښوول یامعاوضه اخیستل اوپریښوول (او دا دقید او قتل حکم ترهغه وخته پوری دی) هرکله چی جنګ کوونکی (دښمنان) خپله وسله کښیږدی (مراد دا دی چی یاخو اسلام قبول کړی یا دمسلمانانو دذمی اوسیدل قبول کړی ، نو بیا نه قتل جائز دی نه قیدول)

معلومات اومسائل: ددی آیت څخه دوی خبری ثابتی سوی اول دا چی هرکله دجنګ اوقتال په ذریعه دکفارو شوکت اوقوت مات سی نواوس پرځای دقتلولو دی دوی قید سی ، بیا ددی جنګی قیدیانو متعلق مسلمانانوته دوه اختیاره ورکول سوه یو دا چی په دوی احسان وسی بغیر دڅه فدیی اومعاوضی څخه پریښوول سی ، دوهم دا چی د دوی څخه فدیه واخیستل سی او پریښوول سی ، فدیه دا هم کیدی سی چی زمونږ څه مسلمانان دهغوی په لاس کی قید وی نو دهغوی تبادله وکړل سی ، او دا هم کیدی سی چی څه مالی فدیه ورڅخه واخیستل سی اوپریښوول سی ، دا حکم په ظاهره دهغه حکم خلاف دی کوم چی دسورة انفال په آیت کی تیرسوی دی، په کوم کی چی یی دغزوه بدر دقیدیانو څخه دمعاوضی اخیستلو اوپریښوولو په رایه باندی دالله ﷻ دطرف څخه عتاب نازل سو اونبی کریم ﷺ وفرمایل چی

Maktaba Tul Ishaat.com

زمونږ په دی عمل دالله ﷻ عذاب نژدی راغلی وو ، که دا عذاب راغلی وای نو ددی څخه به بغیر دعمربن خطاب ﷺ اوسعد بن معاذ ﷺ څخه بل هیڅوك نه وای محفوظ سوی څکه چی هغوی په فدیه باندی دپرینبوولو درایی څخه اختلاف کړی وو چی پوره تفصیل یی په سورة انفال لسمه پاره کی تیرسوی دی لنډه دا چی په سورة انفال کی یی په فدیه اخیستلو باندی دقیدیانو پرینبوول هم ممنوع کړی وه نو بغیر دمعاوضی پرینبوول خو به یی په درجه اولی ممنوع وی اودسورة محمد دی ذکرسوی آیت دادواړه شیان جائز کړی دی ، په دی وجه اکثره صحابه امامان اوفقهاء فرمایی چی دسورة محمد دی آیت دسورة انفال آیت منسوخ کی ، په تفسیر مظهری کی فرمایی چی دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ اوحسن ﷺ اوعطاء ﷺ او اکثرو اصحابو ، اوجمهورو فقهاؤ دا قول دی او په امامانو اوفقهاؤکی ثوری رحمه‌الله ، شافعی رحمه‌الله ، احمد رحمه‌الله اواسحاق رحمه‌الله هم دا مذهب دی اوابن عباس ﷺ فرمایی چی دغزوه بدرپه موقع مسلمانان لږ وه نو دغه وخت داحسان کولو اوفدیی داخیستلو ممانعت رالی اوهر کله چی دمسلمانانوشوکت اوشمیرزیات سونوپه سورة محمدکی داحسان کولو اوفدیی اخیستلو اجازت ورکول سو .

په تفسیرمظهری کی حضرت قاضی ثناء الله دانقل کوی اوفرمایی چی داقول صحیح او مختاردی څکه چی په خپله رسول الله ﷺ په دی عمل وفرمایی او د دوی څخه وروسته خلفاءِ راشدینو ﷺ په دی عمل وفرمایی په دی وجه دا آیت دسورة انفال دایت دپاره ناسخ دی وجه یی دا ده چی دسورة انفال ایت دغزوه بدرپه وخت کی نازل سوکوم چی دهجرت په دوهم کال وسو اونبی کریم ﷺ چی په سنه۶ هجری کی په غزوه حدیبیه کی کم قیدیان بغیر دمعاوضی څخه ازاد فرمایلی دی هغه دسورة محمد ددی ذکرسوی آیت مطابق دی .

په صحیح مسلم کی دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چی دمکی دخلګوڅخه اتیا کسان ناڅاپه دجبل تنعیم څخه راکښته سوه کومو چی نبی کریم ﷺ بی خبره پیدا کی او دقتلولو اراده یی کوله ، نبی کریم ﷺ دوی ژوندی ګرفتار کړل اوبیایی بی معاوضی ازاد کړل، په دی باندی دسورة فتح داایت نازل سو، هُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ : دامام ابوحنیفه رحمه‌الله مشهور مذهب د دوی دیو روایت مطابق دا دی ، چی جنګی قیدیان بلامعاوضه یامعاوضه اخیستل اوازادول جائز نه دی ، په دی وجه حنفی علماوو دسورة محمد ذکر سوی آیت دامام اعظم په نزد منسوخ اودسورة انفال آیت ناسخ ګرځولی دی ، مګرتفسیرمظهری داواضحه کړي ده چی دسورة انفال آیت مخکی اودسورة محمّد آیت وروسته نازل سوي دی ، په دی وجه هغه ناسخ او دسورة انفال آیت منسوخ دی ، او دامام اعظم مختار مذهب هم دجمهورو اصحابو اوفقهاؤ مطابق دازادولو دجواز نقل کړی دی ، هرکله چی دمسلمانانو مصلحت په دی کی وی اوفرمایی چی دامختار اوواضح دی ، په حنفی علماؤکی علامه ابن همام په فتح القدیرکی دی طرف ته مائل دی، هغوی لیکلی دی چی دقدوری اوهدایی دروایت مطابق دامام اعظم په نزد قیدیان په فدیه اخیستلو نه سی ازادولی اودا یو روایت دی دامام اعظم څخه مګر ددوی څخه بل روایت په سیرِ کبیرکی دجمهورو دقول مطابق جواز منقول دی اوداپه دی دواړو روایتونو کی اظهردی اوامام طحاوی په معانی الاثارکی دا دامام اعظم مذهب مقرر کړی دی .

لنډه دا چی دسورة محمد اوسورة انفال دواړه ایتونه دجمهورو اصحابو ﷺ او امامانو په نزد منسوخ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، دمسلمانانو دحالاتو او ضرورتونو تابع امام المسلمین ته اختیار دی چی په دی کی کوم صورت مناسب گنی اختیارکی ، قرطبی دنبی کریم ﷺ اوخلفاء راشدینو ﷺ دعمل څخه داثابته کړي ده چی جنگی قیدیان یی ئله قتل کړي دی اوکله یی غلامان جوړکړی دی اوکله یی په فدیه اخیستلو پریښی دی اوکله یی بغیر دفدیی څخه ازادکړی دی، په فدیه اخیستوکی داهم داخل دی چی ددوی په بدله کی مسلمانان قیدیان ازادکړی اودا هم چی دهغوی څخه څه مال واخلی پریږدی، دواړه قسمه صورتونه دنبی کریم ﷺ اوخلفایی راشدینو دعمل څخه ثابت دی ، داتفصیل دنقل کولوڅخه وروسته دوی فرمایی چی ددی څخه معلومه سوه چی په دی معامله کی یی کومو ایتونوته ناسخ اومنسوخ ویلی دی ، په حقیقت کی هغه ټول محکم دی ، په دوی کی هیڅ منسوخ نسته ، په دی وجه چی هرکله کافر قیدسی اوزمونږ په قبضه کی راسی نو امام المسلمین ته دڅلورو شیانو اختیار دی چی که مناسب گنی نوقتل دی کړی اوکه مصلحت دمسلمانانو گنی نوغلامان دی ورڅخه جوړکړی اوکه په فدیه اخیستلو اوپریښولوکی مصلحت وی نو دمال فدیه دی واخلی یادی دهغه په بدل کی مسلمانان قیدیان ازاد کړی اویږي دیږدی اویادی بغیر دڅه معاوضی څخه ازاد کړی ، قرطبی دا تفصیل نقل کړی دی اولیکلی یی دی ، وَهٰذَا الْقَوْلُ يُرْوٰى مِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَالشَّافِعِيِّ وَاَبُوْ عُبَيْدٍ وَحَكَاهُ الطَّحَاوِيُّ مَذْهَبًا عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رحمۃ اللہ علیہ وَالْمَشْهُوْرُ عَنْهُ مَا قَدَّمْنَاهُ : یعنی دمدینی دعالمانو دا قول دی ، او دا قول دامام شافعی او ابوعبیددی اوامام طحاوی دابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ دا مذهب نقل کړی دی ، که څه هم مشهور مذهب د دوی ددی څخه خلاف دی .

(دجنگي قیدیانو په حقله امام المسلمین ته څلور اختیاره)

دد کر سوی تقریر څخه واضحه سوه چی دجنگی قیدیانو په قتل اوغلام جوړولوچی کوم امام المسلمین ته اختیار دی ، په دی خو دټول امت اجماع ده اوپه فدیه اخیستلو یابغیر دفدیی اخیستلو څخه په ازادولو کی که څه هم څه اختلافات سته ، مگر دجمهورو په نزد دا دواړه صورتونه هم جائز دی .

(په اسلام کي دغلامي بحث)

دلته یو سوال داپیدا کیږی چی دجنگی قیدیانو په ازاد پریښودو کی خو دفقهاؤ څه اختلاف هم دی خو په قتلولو اوغلام جوړولوکی په اجازت کی هیڅ اختلاف نسته دټولو اجماع ده چی دادواړه صورتونه جائز دی ، بیاپه قرآن کی یی ددی دوو صورتونو ذکر ولی ونه سو ؟ او صرف دازاد پریښوولو د دوو صورتونو بیان ولی وسو؟ ددی سوال جواب امام رازی په تفسیرِ کبیرکی دا ورکړی دی چی دلته صرف دهغو دوو صورتونو ذکر سوی دی کوم چی هرڅای اوهروخت جائز وی ، دغلام جوړولو ذکر څکه ونه سو چی دعربو دجنگی قیدیانو دغلام جوړولو اجازت نسته اوقتل هم دشلو گوډو غیره جائز نه دی ، ددی څخه علاوه دقتل ذکر لوړ هم راغلی دی (تفسیرکبیر ص۵۰۸ ج ۷)

دوهمه خبره دا ده چی ترکومه حده پوری دغلام جوړولو اوقتلولو تعلق دی ددی جواز ډیر معروف اومشهور وو ، ټولوته معلومه وه چی دا دواړه صورتونه جائز دی ، ددی برخلاف ازاد پریښوول یی په غزوه بدر کی منع کړی وه اوس په دی موقع دازادو پریښودو اجازت ورکول مقصود وو ، په دی وجه یی ددی دوو صورتونو یعنی احسان کولو اوفدیی اخیستلو ذکر وکی اوکړم صورتونه چی د مخکی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

جائز وه دهغه په دی موقع دبیانولو څه ضرورت نه وو ، په دی وجه په دی آیتونو کی دهغه سکوت اختیار کړل سونو په دی بنا ددی ایتونو څخه دانیتجه را ایستل په هیڅ شان سره درست نه دی چی ددی ایتونو دنزول څخه وروسته دقتل یاغلام جوړولو اجازت منسوخ سوکنه نوکه دغلام جوړولو حکم منسوخ سوی وی نوپه قرآن اوحدیث کی به یوځای ددی ممانعت مذکوروای اوکه داایت دممانعت قائم مقام وی نونبی کریم ﷺ اوددوی څخه وروسته په قرآن اوحدیث دځان قربانوونکواصحابوکرامو ﷺ په بېشمیره غزاګانو کی به یی جنګی قیدیان غلامان ولی جوړول؟ په روایتونو دحدیث اوتاریخ کی دغلام جوړولو ذکر دومره په کثرت او معنوی تواتر سره راغلی دی چی انکار ورڅخه دګناه کبیره څخه ماسوانورهیڅ نسته .

پاته سو دا اشکال چی اسلام کوم چی دحقوق انسانیت دټولوڅخه زیات محافظ دی هغه دغلامی اجازت ولی ورکی؟ نو په حقیقت کی دا اشکال په دی وجه پیداکیږی چی داسلام جائز سوی غلامی یی دنورو مذهبونو اوقومونو په غلامی باندی قیاس کړي ده ، حال دادی چی اسلام غلامانوته کوم حقوق ورکړل اوپه معاشره کی یی دوی ته کوم مقام ورکی دهغه څخه وروسته هغه صرف دنوم غلامی پاته سوه ، کنه نوپه حقیقت کی دغه وروروڼی جوړه سوي ده اوکه ددی په حقیقت اوروح باندی نظر وکړل سی نو په ډیرو صورتونوکی دجنګی قیدیانو سره ددی څخه ښه صورت ممکن نه دی ، مشهور مستشرق موسیو ګستاؤ لیبان په خپل کتاب (تمدن عرب) کی لیکی .

دغلام لفظ کله چی دیو داسی یورپیین سړی په مخکی وویل سی کوم چی ددیرشو کالو په دوران کی لیکل سوی دامریکی روایتونودویلو عادی وی نودهغه په زړه کی دهغو مسکینانو تصور راځی کوم چی په زنځیرونوکی بندسوی وی دهغوی په مرو (غاړو) کی طوقونه پراته وی او دوی په کوړو وهل اوشړل کیږی ددوی خوراك ددوی دژوندی قدرپاته کیدودپاره هم کافی نه وی او دغو ته داوسیدو دپاره دتیارو کوټوڅخه ماسوابل څه نه وی زمادلته ددی سره څه بحث نسته چی داتصور ترکومه حده پوری درست دی او انګریزانو دځوکالو څخه په امریکه کی چی څه ویلی دی داخبری په هغه صادقی دی اوکه نه ؟ لیکن دابالکل یقینی خبره ده چی داهل اسلام په نزد دغلام تصور دنصاراوو په نزد دغلامانو دتصورڅخه بالکلیه مختلف دی (منقول ازدائرة معارف القرآن لفریدو جدی ص ۲۷۹ ج ۴ مادّه: استرقاق)

حقیقت دا دی چی ډیر صورتونه داسی وی په کوموکی چی دقیدیانو دغلام جوړولو څخه ښه بله لاره نه وی ، ځکه چی که غلام جوړنه سی نو دری صورتونه عقلاً ممکن وی یاقتلول یا ازاد پریښوول ، یادائمی قیدی جوړول او ډیر واره دا دری صورتونه دمصلحت خلاف وی ، قتلول ځکه مناسب نه وی چی قیدی دښو صلاحیتونو مالك وی ، په ازاد پریښوولو کی یی ځینی وخت داخطره وی چی دارالحرب ته ورسیږی ، او دمسلمانانو دپاره دوباره عظیمه خطره جوړه سی اوس دوه صورتونه پاته کیږی یاخو دائمی قیدی جوړول دنن صبا په شان یوځای په جدا جزیره کی غورځول یایی غلام جوړول چی دده دصلاحیتونو څخه کار اخیستل او دده دانسانی حقوقو پوره حفاظت وسی ، هرسړی سوچ کولی سی چی په دی کی ښه صورت کوم یودی؟ خصوصًا هرکله چی دغلامانو په باره کی داسلام نقطه نظر دغه دی کوم چی په یو معروف حدیث کی سرکار دوعالم ﷺ په لاندی الفاظو سره بیان کړی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

إِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدَيْهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا يُكَلِّفُهُ مَا يَغْلِبُهُ فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ (بخاری، مسلم ابوداود وغیره)

ستاسی غلامان ستاسی وړونه دی کوم چی الله ﷻ ستاسی دلاس لاندی کړی دی نو دچا ورور چی دده دلاس لاندی وی هغه ته په کار دی چی ده ته هم هغه خوراك ورکوی کوم چی دی په خپله خوری اوهغه ورته اغوندوی کوم چی دی په خپله اغوندی اوپه ده داسی بار نه وراچوی دکوم چی په هغه کی دبرداشت طاقت نه وی اوکه په ده دداسی کار بار ور واچوی نو په خپله دی هم دهغه مدد کوی .

دمعاشرتی اوتمدنی حقوقوپه اعتبار سره چی اسلام غلامانو ته کومه مرتبه ورکړه هغه دازادو افرادو سره قریب قریب برابره ده ، چنانچی دنورو قومونو برخلاف اسلام غلامانو ته دنکاح نه صرف چی اجازت ورکی، بلکه مالکانو ته یی دَ ، اَنْكِحُوا الاَيَامٰى مِنْكُمْ، والا ایت په ذریعه ددی تاکید وکی ، تردی چی هغه دازادو ښځو سره هم نکاح کولی سی ، په مال غنیمت کی ددوی حصه دازادو مجاهدینو سره برابره ده اودښمن ته په امان ورکولو کی دده قول داسی معتبردی، لکه څنګه چی دازادو افرادودی په قران اوحدیث کی د دوی سره دحسن سلوك دومره احکام راغلی دی چی دهغوپه جمع کولو سره یو مستقل کتاب جوړیدی سی ، تردی چی دحضرت علی ﷺ ارشاد دی چی درسول الله ﷺ په ژبه مبارکه چی کوم الفاظ په اخری وخت کی جاری وه اودکومو څخه وروسته چی دوی دخالق حقیقی سره یوځای سوه ، هغه دا الفاظ وه ، اَلصَّلٰوة اَلصَّلٰوة اِتَّقُوا اللهَ فِيْمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ: ترجمه : دلمانځه خیال ساتی دلمانځه خیال ساتی ، دخپل لاس لاندی دغلامانوپه باره کی دالله ﷻ څخه وبیریږی (ابوداود بَابٌ فِي حَقِّ الْمَمْلُوكِ)

دغلامانو دپاره دتعلیم اوتربیت چی کومی موقعی اِسلام فراهم کړی دی ، ددی اندازه ددی خبری څخه لګول کیږی چی دعبدالملك بن مروان په زمانه کی داسلامی سلطنت تقریباًپه ټولوصوبوکی دعلم اوفضل داعلی درجی هغه خلګ دکومو څخه چی به په دی باره کی خلګو فائده اخیسته او ورته به راغوندیدل هغه ټول غلامان وه، دکومو واقعات چی دتاریخ په ډیرو کتابونوکی مذکور دی ، بیا دغلامی ددی نوم ختمولو یاکمولو دپاره دغلامانو دازادولو دومره فضائل په قرآن اوحدیث کی وارد سوی دی چی شایدیوه نیکی ددی برابری نه سی کولی، په مختلفو فقهی احکاموکی دغلامانو دازادولو دپاره بهانی لټول سوی دی ، په کفاره دروژی ، کفاره دقتل، کفاره دظهار، کفاره دقسم په دی ټولو صورتونوکی دټولو څخه اول حکم دا مذکور دی چی غلام دی ازادسی ، تردی چی په حدیث کی دا هم فرمایل سوی دی چی که چاپه ناحقه غلام په څپیړه ووهی نوکفاره یی دا ده چی هغه دی ازاد سی ، (صحیح مسلم باب صحبة المماليك)

چنانچی صحابه کرامو ﷺ چی به څومره په کثرت سره غلامان ازادول دهغه اندازه ددی خبری څخه کیدی سی چی صاحب دَ، النجم الوهاج، دځینی اصحابو ﷺ دازاد کړو غلامانو داتعداد نقل کړی دی ، حضرت عائشه ﷺ (۲۹) حضرت عباس ﷺ (۷۰) ، حضرت حکیم بن حزام ﷺ (۱۰۰) حضرت عبدالله بن عمر ﷺ (۱۰۰۰) حضرت عثمان غنی ﷺ (۲۰) حضرت ذو الکلاع ﷺ حمیری (۸۰۰۰) صرف په یوه ورځ کی، حضرت عبد الرحمٰن بن عوف (۳۰۰۰۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه معلومه سوه چی صرف اوو ۷ صحابه کرامو﷢ یوکم څلویښت زره دوه سوه یوکم شپیته ۳۹۲۵۹ غلامان ازاد کړل اوظاهره ده چی دنورو زرګونو صحابه کرامو﷢ دازاد کړو غلامانو شماربه ددی څخه ډیر زیات وی، غرض داچی اسلام چی دغلامی په نظام کی کوم همه ګیر اصلاحات وکړل نوکوم سړی چی دی ته دانصاف په نظروګوری نوهغه دی نیتجی ته درسیدو څخه بغیرنه سی پاته کیدی چی دا دنورو قومونو دغلامی پر احکامو قیاس کول بالکل غلط دی او ددی اصلاحاتو څخه وروسته دجنګی قیدیانو دغلام جوړولو اجازت په دوی یو عظیم احسان جوړ سوی دی.

دلته دا هم یادساتل په کار دی چی جنګی قیدیان دغلام جوړولو حکم صرف داباحت او جواز ترحده پوری دی یعنی که اسلامی حکومت دمصلحتونو مطابق وګڼی نو دوی غلامان جوړولی سی، داسی کول مستحب یا واجب فعل نه دی، بلکه دقرآن اوحدیث دمجموعی ارشاداتو څخه دازادولو افضل والی معلومیږی اودا اجازت هم ترهغه وخته پوری دی ترڅو چی ددی خلاف ددښمن سره څه وعده نه وی اوکه ددښمن سره دا وعده وسی چی نه به هغه زمونږ قیدیان غلامان جوړ وی اونه به مونږ د دوی قیدیان نو بیابه ددی وعدی پابندی لازمی وی، زمونږپه زمانه کی ددنیا ډیرو ملکونو داسی وعده کړې ده، په دی وجه چی کوم اسلامی ملکونه په دی وعده کی شریك دی، د دوی دپاره غلام جوړول ترهغه وخته پوری جائز نه دی ترڅو پوری چی دا وعده قائمه ده.

ذٰلِكَ ؕ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا بَعْضَكُمْ

دامو واوریدل، اوکه وغواړی الله نو بدله به واخلی دهغوی څخه لیکن ازمائش کوی دځینو ستاسی

بِبَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝٤

په ځینو باندی، اوکوم خلق چی قتل سی دالله ﷻ په لاری کی نو ضائع به نه کړی دهغوی کړی عملونه

سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝٥ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝٦

هغوی ته به هدایت وکړی او درست به کړی دهغوی حال اوداخل به کړی هغوی جنت ته چی معلوم کړی دی مونږ دوی ته

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۝٧

ای ایماندارو اکه تاسی مدد وکړی دالله نو هغه به ستاسی مدد وکړی او مضبوط به کړی ستاسی قدمونه

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝٨ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا

اوکوم خلق چی منکر سول هغوی پرمخی پریوتل او ضائع سول دهغوی کړی عملونه، دا ځکه چی هغوی

Maktaba Tul Ishaat.com

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ۝۹ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا

بدو ګنل هغه چې نازل کړل الله پس عبث سول دهغوی کارونه ، آیا هغوی نه دی ګرځیدلی په مخکه کی چې وویني

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ

چې څنګه سوانجام دهغوکوم چې دهغوی څخه مخکې وه ، هلاکت وغورځوی الله په هغوی باندی او منکرانو ته

اَمْثَالُهَا ۝۱۰ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ۝۱۱

رسیږي داسی شیان، داځکه چې الله ملګری دی دهغوی چې یقین وکی اودا چې څوک منکر دی دهغوی هیڅوک ملګری نسته

لنډتفسیر: دا حکم (دجهادکوم چې ذکر سو) په ځای کړی او (کوم چې په ځینوصورتونوکی دکفاروڅخه دانتقام اخیستو دپاره دجهاد طریقه مقرره کړه دا دخاص حکمت په وجه سره ده کنه نو) که الله ﷻ غوښتلی نو دهغوی څخه به یی (په خپله دآسمانی اوزمینی عذابونو په ذریعه) انتقام اخستی وای (لکه دتیرو امتونوڅخه چې یی دغسی بدل اخیستی دی . په چایی کانې وورول په چادهوا طوفان رالی څوک یی غرق کړل ، که داسی کیدی نو ستاسی جهاد کولوته به ضرورت نه وای) لیکن (تاسی ته یی دجهاد کولو حکم څکه درکی) چې ستاسی دیوبل په ذریعه امتحان وکی (دمسلمانانو داسی امتحان چې څوک دالله ﷻ په حکم خپل ځان ته ترجیح ورکوی اودکفارو امتحان داسی چې دقتال اوجهادپه تکلیف باندی خبردارسی چې څوک به حق قبلوی) او (په جهادکی لکه څنګه چې دکفارو په قاتل کیدوکی کامیابی ده ، دغه شان مقتول کیدل هم ناکامی نه ده څکه چې) کوم خلګ دالله ﷻ په لاره (یعنی جهاد) کی مړه سی الله ﷻ به دهغوی عملونه (په کوموکی چې دا دجهاد عمل هم دا خل دی) هیڅکله ضائع نه کی (لکه چې په ظاهره ګڼل کیږی چې هرکله دوی په کافرانو غالب نه سول په خپله قتل سول نوګویا د دوی عمل بی کاره ولاړی ، مګر واقعه داسی نه ده څکه چې د دوی په دی عمل باندی بلکه نیتجه کومه چې دظاهری کامیابی څخه په ډیرو درجو زیاته ده ، دوی ته حاصله سوه ، هغه دا چې) الله ﷻ به هغوی (منزل) مقصودته (دکوم بیان چې مخ ته راځی) ورسوی او دهغوی حالت به (په قبر اوحشر اوپل صراط اوټولو مواقعو داخرت کی) درست کړی (چیری به څه خرابی اوضرر هغوی ته ونه رسیږی) او (دی منزل مقصودته درسیدو بیان دادی چې) هغوی به جنت ته داخل کړی کوم چې به دوی ته معلوم کړی (چې هریو جنتی به بغیر دتلاش اولټون څخه خپل خپل مقرره مکان بی تکلیفه پیداکی ، ددی څخه ثابته سوه چې په جهادکی ظاهری ناکامی یعنی په خپله قتل کیدل هم لویه کامیابی ده ، مخ ته دجهاد ددنیوی فائدو او فضیلتونو ذکر کوی دهغه ترغیب دی چې) ای ایماندارو که تاسی دالله ﷻ (ددین) مدد وکی نوهغه به ستاسی مدد وکی (چې نیتجه یی په دنیاکی هم په دښمنانو غالب راتلل دی برابره خبره ده که ابتداءً وی یاځه زمانه وروسته دکار په انجام کی او دځینو مومنانو مقتول کیدل یا په یوجنګ کی په وقتی طورمغلوب کیدل ددی څخه منافی نه ده) او (دغه شان ددښمنانو په مقابله کی) ستاسی قدمونه به مضبوط کړی (دغه شان

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب دا دی برابره خبره ده که ابتداء وی اوکه دوقتی پسپایی څخه وروسته په اخرت کی به یی ثابت قدم کړی په کفارو به موغالب کړی لکه چی باربار ددی مشاهده په دنیاکی سوي ده ، داخو دمسلمانانو حال بیان سو، اوکوم خلګ چی کافران دی دهغوی دپاره (په دنیاکی کله چی دمومنانو سره مقابله کوی) تباهی (اومغلوبیت) دی او (په اخرت کی) به د دوی عملونه خدای ﷻ نیستی کړی (لکه چی دسورة په شروع کی بیان وسو، غرض داچی کافران په دواړه جهانه په تاوان کی سول او) دا (دکفارو تاوان اودعملونو بربادی) په دی سبب سره وسوه چی هغو دالله ﷻ نازل کړی احکام ناخوښه کړل (عقیدتًا هم اوعملاً هم) نو الله ﷻ دهغوی عملونه (داول څخه) ضائع کړل (ځکه چی دکفرکوم چی داعلی درجی بغاوت دی دا اثر دی ، او دا خلګ کوم چی دعذاب الهی څخه نه بیریږی) ایا داخلګ په ملك کی ګرځیدلی نه دی اوهغوی نه دی لیدلی چی کوم خلګ چی دهغوی څخه مخکی تیر سوی دی ، دهغوی انجام څنګه سوچی خدای ﷻ په هغوی څنګه تباهی راغورځولی ده (کومه چی ددغودکنډوالو اوکورونو څخه ظاهره ده نوهغوی ته هم ددی څخه بی فکره کیدل نه دی په کارچی دخپل کفرڅخه واپس نه سی نو) ددی کافرانو دپاره هم داقسم معاملات کیدونکی دی (اوس مخ ته دفریقینودحال اجمالي ذکردی چې) دا (دمسلمانانو کامیابی اودکافرانو تباهی) په دی سبب سره ده چی الله ﷻ دمسلمانانو کارساز دی او دکافرانو هیڅوك (داسی) کار ساز نسته (چی دخدای په مقابله کی ددوی کار جوړ کړی په دی وجه دوی په دواړه جهانه کی ناکامه وی اومسلمانانوته که چیری په دنیاکی وقتی ناکامی هم پیښه سی ، نوانجام کاربه کامیابی وی او داخرت کامیابی خو ظاهره ده په دی وجه مسلمانان همیشه کامیاب اوکافران ناکامه وی)

معلومات اومسئلي

(دجهاد دمشروعیت پوحکمت)

په دی آیت کی الله ﷻ ارشاد وَلَوْ يَشَاءُ اللهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ فرمایی چی په دی امت کی دکفارو سره دجهاد اوقتال مشروعیت په حقیقت کی یو رحمت دی ځکه چی دا داسمانی عذابونو قائم مقام دی ، ځکه چی په کفر اوشرك اودالله ﷻ څخه په بغاوت سزاتیرو قومونوته داسمانی اوزمینی عذابونوپه ذریعه ورکول سوي ده ، په امت محمدیه کی داسی کیدی سوه ، مګر درحمت عالمین ﷺ په برکت سره دا امت ددا سی عامو عذابونو څخه وساتل سو ددی قائم مقام شرعی جهاد جوړ سو چی په دی کی په نسبت دعام عذاب ډیری اسانی اومصلحتونه دی ، اول خو دا چی په عام عذاب کی پوره قومونه سړی ، ښځی بچی تول تباه کیږی ، او په جهاد کی ښځی بچی خو په امن وی ، سړی هم صرف هغه ددی په زد کی راځی کوم چی دالله ﷻ ددین دحفاظت کوونکو په مقابله کی جنګ ته راولاړ سی ، بیاپه هغوکی هم تول نه سی قتلولی په دوی کی ډیرو خلګو ته داسلام او ایمان توفیق وسی ، دارنګه دجهاد دمشروعیت یوه فائده دا هم ده چی ددی په ذریعه دجهاد اوقتال د دواړو فریقو مومن اوکافر امتحان وسی چی څوك دالله ﷻ په حکم باندی خپل ځان او مال قربانولو ته تیاریږی اوڅوك په سرکښی اوکفر باندی ټینګ پاته کیږی ، یا داسلام روښانه دلیلونه وویني اواسلام قبلوی .

وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فَلَنْ يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ : دسورة په شروع کی ذکر وه چی کوم خلګ په کفر اوشرك

Maktaba Tul Ishaat.com

تینګ وی او نورهم داسلام څخه منع کوی ، الله ﷻ دهغوی نیك عملونه هم عبث او ضائع کړل ، یعنی صدقه خیرات او درفاه عامه نیك کارونه کوم چی هغوی کړی دی ، دکفر اوشرك په وجه دالله ﷻ په نزد په اخرت کی ددغه هیڅ ثواب نسته ، ددی په مقابله کی په دی آیت کی فرمایی چی کوم خلګ دالله ﷻ په لاره کی شهیدان کیږی ، دهغوی عملونه نه ضائع کیږی ، یعنی که دوی څه ګناه هم کړی وی نو د دوی دګناهونو په وجه د دوی په نیکو عملونو څه اثر نه لویږی ، بلکه ډیر واره دهغوی نیك عملونه دهغوی دبدو عملونو کفاره جوړیږی .

سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ : په دی کی دشهیدفی سبیل الله دپاره د دوو نعمتونو ذکر دی یو دا چی الله ﷻ به دوی ته هدایت وکی ، دوهم د دوی ټول حالت به سم کړی ، دحالاتو څخه مراد ددنیا اواخرت دواړو جهانو حالات دی ، په دنیاکی خو دا چی کوم سړی په جهاد کی شریك سو ، که څه هم دی شهید نه سو سلامت پاته سو ، هغه هم دشهید په شان دثواب مستحق سو او په اخرت کی دا چی هغه دقبر دعذاب څخه او دمحشر دپریشانی څخه نجات پیدا کی اوکه دځه خلګو حقونه دهغه په ذمه پاته سوی وی ، نو الله ﷻ به دحقونو خاوندان دهغه څخه راضی کړی او هغه به ورڅخه خلاص کړی (لکه چی په حدیث دابی نعیم او بزاز او بیهقی کی دی ، مظهری) او دنبوت څخه وروسته په هدایت کولو سره مراد دهغوی منزل مقصود یعنی جنت ته رسول دی ، لکه چی په قرآن کی دجنتیانو په حقله راغلی دی چی جنت ته ورسیږی نو وبه وایی ، اَلْحَمْدُ لله الَّذِیْ هَدَانَا لِهٰذَا.

وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ : دا یو دریم انعام دی چی دوی به صرف دا نه چی جنت ته ورسول سی ، بلکه دهغوی په زړونوکی به خود بخوده په جنت کی خپل خپل مقام او په هغه کی دورکول کیدونکو نعمتونو حورو ، قصورو (محلونو) سره داسی واقفیت پیداسی ، لکه چی دوی همیشه په دغه کی اوسیدل او ددی سره اشنا وه ، که داسی نه وی نو جنت یوه نوی دنیاوه ، په هغه کی دخپل مقام په تلاښ کولوکی به دهغه ځای دشیانو سره په مناسبت اوتعلق پیدا کولوکی به ډیر وخت لګیدی اوتر یوی مودی پوری به دنا آشنا والی په وجه زړه مطمئن نه وای .

دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی قسم دی په هغه ذات چاچی زه دحق دین سره رالیږلی یم چی لکه څنګه چی تاسی په دنیاکی دخپلو کورونو اوخپلو بیبیانو سره اشنا او واقف یاست ددی څخه به هم زیات په جنت کی دخپل مقام او دهغه ځای دبیبیانو سره اشنا او واقف یاست (رواه ابن جریر والطبرانی وابو یعلی والبیهقی، مظهری)

اوپه څینو روایتونوکی دی چی یوه ملائکه به دهریوه جنتی دپاره مقرره سی کومه چی به دوی دجنت دخپل مقام او دهغه ځای دبیبیانو سره تعارف کوی . والله تعالی اعلم

وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا : دله الْكٰفِرِيْنَ : الف لام دعهد دپاره دی اومراد ورڅخه کفاردمکی دی ، مراد د دوی بیرول دی چی لکه څنګه چی په تیرو امتونوباندی عذاب راغلی دی په تاسی هم راتلی سی ، بی فکره کیږی مه

وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَى لَهُمْ . لفظ دمولی د ډیرو معانیو دپاره راځی ، یوه معنی یی کار سازی ده کومه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته مراده ده او یوه معنی یی مالك ده په قرآن کی بل ځای کی د کفارو په باره کی راغلی دی ، وَرُدُّوْا اِلَی اللّٰهِ مَوْلٰهُمُ الْحَقِّ : په دی کی یی الله ﷻ د کفارو د پاره هم مولی ګرځولی دی ، ځکه چی د مولی معنی مالك ده او مالکیت د الله ﷻ عام دی ، مومن او کافر هیڅوك د دی ځخه خارج نه دی .

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

خامخا به داخل کړی الله هغه چې یقین راوړی او نیك کارونه وکړی

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ

باغونو ته چې بهیږي به لاندی د هغو ځخه نهرونه ، او کوم چې منکر سول نفع اخلی

وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ

او خوری لکه چې خوری حیوانان او اور ځای د دوی دی ، او ډیر کلی چې

قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ

زیات وو په زورکی ستا د دی کلی ځخه دکوم ځخه چې یی ته ویستلی ، مونږ هغوی هلاك کړل بیا هیڅوك

لَهُمْ ﴿۱۳﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ

نه وو هغوی لره مدد ګار ، آیا پس هغه څوك چې په واضح لاره وی د خپل رب ځخه برابر دی د هغه چې ښائسته سوی وی

وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ

هغه ته بدعمل د هغه او چلیږي په خپلو خواهشاتو ، حال د هغه جنت دکوم چې وعده سوه ده دبیریدونکو سره په هغه کی

مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ

نهرونه د دی داوبو چې بویی نه دی کړی اونهرونه د دی دشیدو چې خوند یی نه دی خراب سوی ، او نهرونه د

خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ؕ وَلَهُمْ فِيْهَا

دشرابو چې خوند د ی په کی د چیښونکو د پاره ، او نهرونه د ی د عسلو چې زګ ورځخه لیری سوی د ی او د هغوی د پاره په هغه کی

مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ

د هر قسم ځخه میوی د ی او معافی ده د هغوی د رب ځخه دا برابر د ی د هغه چې همیشه وی په اور کی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَسُقُوا مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴿۱۵﴾

اوچنبل کیږي ورته اوبه جوشیدلی نو پریکړی دهغوی کولمی

لنډتفسیر: بیشکه الله ﷻ به هغه خلګ کومو چی ایمان راوړی او نیك کارونه یی وکړل (دجنت) داسی باغونو ته داخل کړی چی لاندی به ورڅخه نهرونه بهیږی اوکوم خلګ چی کافران دی دوی (په دنیاکی عیش کوی او داسی (داخرت څخه بی فکره) خوری (چنبی) لکه څنګه چی حیوانان خوری (چی هغوی دا فکر نه کوی چی دا خوراك چنباك مونږ ته ولی راکول کیږی او زمونږ په ذمه ددی څه حق واجب دی؟) او جهنم دهغو خلګو داوسیدو ځای دی (اولوړ چی دکومو کفارو په دنیاکی دعیش کولو ذکر وسو، په دی سره دی ستا مخالفین نه دوکه کیږی او نه تا ته د دوی په دی غفلت څه غم اوخفګان په کار دی، کوم چی د دوی دمخالفت سبب جوړ سوی دی، تردی چی دوی تا تنګ کی، په مکه کی یی هم پری نه بنسولی ځکه چی) ډیر کلی داسی وه کوم چی په قوت (دجسم اوقوت دمال اومرتبی) کی ستا ددی کلی څخه زیات وه دکوم اوسیدونکو چی ته دکوره بی کوره کړی، چی مونږ هغوی (په عذاب سره) هلاك کړل، نو دهغوی هیڅوك مددګار نه سو (نو دا بی چاره څه دی دوی ته مغروره کیدل نه دی په کار ځکه چی هرکله الله ﷻ وغواړی، دوی دوړه کول کیږی او ته د دوی په دی څو ورځو عیش باندی مه غمجن کیږه ځکه چی الله ﷻ به په خپل مقرر وخت دوی ته هم سزا ورکی) نو کوم خلګ چی دخپل پروردګار په واضحه (په دلیل سره ثابته) لاره باندی وی آیا هغه دهغو خلګوپه شان کیدی سی، دکومو بد عملونه چی دوی ته بنه معلومیږی اوکوم چی په خپلو نفسانی خواهشونو باندی چلیږی (یعنی هرکله چی ددی دواړو فرقو په عملونو کی فرق دی نو د دوی په مال او انجام کی هم فرق ضروری دی، دحق خاوندان دثواب او دباطل خاوندان دعذاب مستحق دی چی بیان یی دا دی) دکوم جنت چی دمتقیانو سره وعده کول کیږی دهغه حال دا دی چی په دی کی ډیر نهرونه خو ددی اوبو دی په کومو کی چی ذره تغیر نه وی (نه په بوی کی نه په رنګ کی نه په خوند کی) او ډیر نهرونه دشیدو دی چی خوند به یی ذره بدل نه وی او ډیر نهرونه دی دشرابو چی چنبونکو ته به ډیر مزیدار معلومیږی او ډیر نهرونه دی دشاتوکوم چی بالکل (دخیری مری څخه پاك) صفاوی او دهغوی دپاره به هلته هر قسم میوی وی او (په دی کی ددی داخلیدو څخه مخکی) دهغوی درب دطرف څخه (دګناهونو) بخښنه وی آیا داسی خلګ دهغو په شان کیدی سی کم چی به همیشه په دوزخ کی اوسیږی او جوشیدلی اوبه به دوی ته په چنبلو ورکول کیږی نو هغه به د دوی کولمی توتی توتی کړی.

معلومات اومسائل: چونکی ددنیا او به کله په رنګ کی کله په بوی کی، کله په خوند کی متغیره کیږی، دغه شان ددنیا شیدی خرابیږی، دغه شان ددنیا شرب بدمزه اوترخیږی صرف دځینو منافعو په خاطر چنبل کیږی، لکه تمباکو دتریخوالی باوجود خوړل کیږی، بیاعادت جوړ سی دجنت د اوبو اوشیدو اوشرابو په باره کی وښوول سوه چی هغه تولږه ددغه تغیراتو اوبدمزګی دافتونو څخه خالی وی او دجنت دنورو مضرتونو او مفاسدو خالی والی دسورة صافات په آیت کی راغلی دی، لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ: دغه شان ددنیا په ګبین کی موم اوخیری وغیره وی ، دجنت په نهرکی یی دګبین پاك صاف والی ښوولی دی ، صحیح خبره دا ده چی دجنت دنهرونو څلور قسمونه دی ، اوبه ، شیدی ، شراب ، ګبین په خپله حقیقی معنی کی دی بی وجهی دمجازی معنی اخیستو ضرورت نسته ، البته دا خبره بنکاره ده چی دجنت شیان ددنیا پرشیانو نه سی قیاس کولی ، دهغه څای هرشی به په خوند اومزه کی څه بل شان وی ، چی په دنیاکی دهغوی هیڅ نظیر نسته .

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ حَتّٰۤى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ

اوځینی په هغوی کی هغه دی چی غوږ ایږدی تاته، تردی چی هرکله ووزی ستادخواڅخه وایی هغوته کوموته چی علم ورکول سوی دی څه ویلی وه ،

اٰنِفًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَاۗءَهُمْ ۝۱۶ وَالَّذِيْنَ

دغه سړی اوس ،دا هغه دی دکومو په زړونو چی مهر لګولی دی الله او روان دی په خپلو خواهشاتو،اوکومو

اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ۝۱۷ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا

چی هدایت پیداکی زیات سو دهغوی هدایت او ورکول سوه ورته تقوٰی دهغوی ، اوس هغوی انتظارکوی

السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَاۗءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَاۗءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ۝۱۸

دقیامت چی راسی دوی ته نا څاپه نو راغلی دوی ته ننبانی دهغه ، بیا به کله نصیب سی دوی ته هرکله چی ورته راسی پوه اخیستل د دوی .

لنډتفسیر: او (ای نبی ﷺ) ځینی خلک داسی دی (مراد منافقان دی) چی هغوی (ستا دتعلیم اوتبلیغ په وخت کی په ظاهره خو) ستا طرف ته غوږونه ږدی (لیکن په زړه سره بالکل متوجه نه وی) تردی چی هرکله هغه خلک ستا دخوا څخه (پاڅی دمجلس څخه) دباندی ولاړسی نو نورو اهل علمو (اصحابوﷺ) ته وایی چی حضرت اوس (هرکله چی مونږ په مجلس کی وو) څه خبره فرمایلی وه (دهغوی دا وینا هم یوقسم مسخره وه چی دا یی ښوولی چی مونږ ستا خبره داوریدو قابله نه ګنو ، دا هم یوه شعبه ده دنفاق) دا هغه خلک دی چی الله ﷻ دهغوی په زړونو مهر لګولی دی (دهدایت څخه لیری سوی دی) اوپه خپلو نفسانی خواهشونو چلیږی او (دهغوی دقوم څخه) کوم خلک چی په هدایت باندی دی (یعنی مسلمانان سوی دی) الله ﷻ هغوی ته (داحکامو داوریدو په وخت کی) نور زیات هدایت کوی (چی هغوی په دی نوو احکامو هم ایمان راوړی یعنی د دوی دایمانیاتو شمیر زیات سو یاداچی د دوی ایمان نور زیات قوی کوی اوپخوی کوم چی دنیك عمل خاصه ده چی په دی سره په ایمان کی پختګی پیداکیږی) او هغوی ته دتقوٰی توفیق ورکوی (مخ ته ددی منافقانو دپاره وعیددی چی دوی چی کوم دقرآن الهٰی احکام اوری اومتاثره کیږی نه) نو (معلومیږی چی) داخلک بس دقیامت منتظر دی چی هغه په دوی ناڅاپه راسی (دا

Maktaba Tul Ishaat.com

په طور دزجر اوتوبیخ یی وفرمایل چی اوس هم نه متاثره کیږی نو ایاپه قیامت کی به نصیحت اوهدایت حاصل کړی؟) نو (یاد ساتی چی قیامت هم نژدی دی چنانچی) دهغی (ډیری) نښانی خو راغلی دی (چنانچی دحدیث په وجه سره په خپله دخاتم النبیین بعثت اونبوت هم دقیامت دنښو څخه دی او دسپوږمی څیرل دنبی کریم ﷺ دمعجزی کیدو څخه علاوه دقیامت دنښو څخه هم ده، دا ټولی نښی دقرآن دنزول په زمانه کی موجود سوی وی ، مخ ته دهغو بیان دی چی په ایمان راوړو اوهدایت پیدا کیدو دقیامت انتظار کول محض جهالت دی ځکه چی هغه وخت به دپوهیدو اوعمل کولو نه وی ، فرمایی) نو هرکله چی قیامت دهغوی مخ ته راسی ودریږی ، هغه وخت به هغوی ته پوهیدل کله حاصل سی (یعنی مفید به نه وی)

معلومات اومسئلي : دا شراط معنی علامات (نښی) دی او دقیامت دعلاماتو ابتدا په خپله دخاتم النبیین ﷺ دبعثت څخه کیږی ځکه چی ختم نبوت هم دقیامت دنژدی کیدو علامه ده ، دغه شان دسپوږمی دوه نیمه کولو معجزه هم په قرآن کی دَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ ، فرمایلی ده او دی طرف ته یی اشاره کړې ده چی دا هم دقیامت دعلاماتو څخه ده کومه چی په خپله دقرآن دنزول په وخت کی ظاهره سوی وه ، نور نژدی علامات په صحیح احادیثو کی ثابت دی ، په هغه کی یو حدیث دحضرت انس ﷺ څخه نقل دی چی ما دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی دقیامت علامات دا دی .

(۱) علم به پورته سی (۲) جهل به زیات سی (۳) زنابه ډیره سی (۴) شراب خوری به ډیره سی (۵) سړی به کم پاته سی (۶) ښځی به ډیری سی ، دپنځو سو ۵۰ ښځو متکفل به یو سړی وی اوپه یو روایت کی دی چی علم به کم سی اوجهل به وغوړول سی (بخاری او مسلم)

او دحضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی هر کله مال غنیمت شخصی دولت وګنل سی او امانت مال غنیمت وګنل سی(چی حلال یی ګنی خوری یی) او زکوٰة تاوان وګنل سی (یعنی په ادا کولو یی په زړه کی تنګی محسوسوی) اوعلم دین ددنیوی غرضونو دپاره حاصلول شروع سی، اوسړی دخپلی ښځی فرمانبردار او دمور نافرمانی شروع کړی او دوست ځان ته نژدی کړی اوپلار لیری کړی اوپه جماتونو کی شور اوږغ شروع سی او دقوم سردار په دغو ټولوکی فاسق اوبد کردار سړی سی ، او دقوم نمائنده په دغو ټولوکی رذیل سړی سی او دشریر سړی عزت صرف په دی وجه کول شروع سی چی دازارولو څخه یی ځان وساتی، اودسندر ویونکو ښځو سندری به عامی سی او باجی ، سرنا سروزونه به زیات سی ، اوشراب چښل به شروع سی او ددی امت اخری خلګ په مخکنیو خلګو لعنت کول شروع کړی ، نوتاسی خلګ ددغه وخت انتظار کوی دیوی سری سیلی اوزلزلی اودخلګو په مخکه کی دننوتواودصورتونودمسخ کیدواودآسمان څخه دکانړواوریدواودقیامت دنورو علاماتو کوم چی به په یوبل پسی داسی راځی لکه دملغلرو هارچی وشکیږی اوملغلری په مخه یوه یوه لاندی لویږی

فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ

نو ته پوه سه چی دعبادت لائق نسته ماسوا دالله څخه او معافی غواړه دخپلی ګناه او ایماندارو سړو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿۱۹﴾

اونښځو دپاره ، او الله ﷻ ته معلوم دی بازګشت ستاسی او کور ستاسی .

لنډتفسیر: (هرکله چی تادخدای ﷻ دفرمانبردارو بندګانو او دسرکښانو دواړو حال او مآل واوریدی) نوته ددی (په کامله طریقه) یقین ساته چی بغیر دالله ﷻ څخه بل څوك قابل دعبادت نسته (په دی کی ددین تول اصل اوفروع راغلل ځکه چی دعلم څخه مرادعلم کامل اکمل دی اودعلم کامل دپاره لازمه ده چی په تولو الهی احکامو پوره عمل وی مطلب دا دی چی په تولو الهی احکامو باندی همیشه والی ساته) او (که چیری څه خطا وسی کومه چی ستا دعصمتِ نبوت په بناپه حقیقت کی ګناه نه ده ، بلکه صرف بنه والی پریښوول دی مګرستادلوی شان په اعتبارسره صورتاً خطاده په دی وجه) ته دخپلی (هغه ظاهری) خطا معافی غواړه او دتولو مسلمانانو خلګو او تولو مسلمانانو ښځو دپاره هم (دبخښش دعا غواړه) او (دا هم یاد ساته چی) الله ﷻ ستا دګرځیدو راګرځیدو او د اوسیدو (یعنی دتولو عملونو اوحالاتو) خبر لری .

معلومات اومسئلي: په دی آیت کی نبی کریم ﷺ ته خطاب فرمایی چی ته پوه سه چی دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك دعبادت لایق نسته اوظاهره ده چی داعلم خوهر مومن مسلمان ته هم حاصل دی نوسید الانبیاء ﷺ ته به ولی حاصل نه وی ، بیا ددی علم دحاصلولو حکم ورکول یا خو په دی دثابت قدم پاته کیدو په معنی کی دی یایی په مقتضیاتو عمل کول مراد دی لکه چی قرطبی نقل کړی دی چی دسفیان ابن عیینه څخه چا دعلم دفضیلت پوښتنه وکړه نو هغوی وفرمایل ایا تا دقرآن ارشاد نه دی اوریدلی ، فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ : چی په دی کی دعلم څخه وروسته دعمل حکم دی ، دغه شان بل ځای فرمایی اِعْلَمُوْا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ : او بیا فرمایی ، سَابِقُوْا إِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ : دغه شان یوبل ځای فرمایی وَاعْلَمُوْا أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ : ددی څخه وروسته فرمایی ، فَاحْذَرُوْهُمْ په دی تولو ځایونوکی اول دعلم بیا ددی په مقتضا دعمل تلقین فرمایل سوی دی ، دلته په ذکر سوی آیت کی هم که څه هم داعلم نبی کریم ﷺ ته دمخکی څخه حاصل وو ، مګر مقصود ددی څخه ددی په مقتضیٰ عمل دی په دی وجه ددی څخه وروسته دَ ، وَاسْتَغْفِرْ حکم ورکول سو ، اودنبی کریم ﷺ څخه په وجه دعصمت دنبوت ددی دخلاف کولو که څه هم احتمال نه وو مګر دانبیاء څخه دمعصوم والی باوجود ځینی وخت په اجتهادکی خطا کیږی اواجتهادی خطاء دشرع په قانون کی ګناه نه ده ، بلکه په دی هم اجر ورکول کیږی ، مګر انبیاء علیهم السلام په دی خطاء باندی ضرور خبرداروول کیږی اودهغوی دلوی شان په اعتبار سره داپه لفظ دذنب سره هم تعبیرکول کیږی لکه په سورة عبس کی چی په نبی کریم ﷺ باندی یوقسم عتاب نازل سو ، هغه هم ددی اجتهادی خطاء یو مثال وو چی تفصیل به یی په سورة عبس کی راسی چی دغه اجتهادی خطاء که څه هم څه ګناه نه بلکه دیو اجر ورکول کیدو وعده په دی هم وه ، مګر د دوی دلوی شان دپاره دا خوښه نه سوه او دناخوښتیا اظهار وسو په ذکر سوی آیت کی دغه شان ګناه مراد کیدی سی .

فائده: دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ: اواستغفار دپیړیر وایاست ځکه چی ابلیس وایی چی ماخلق په ګناهونوکی په اخته کولوسره هلاك کړل نودوی زه په کلمه دلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویلوسره

Maktaba Tul Ishaat.com

هلاك كړم هركله چې ماداولیدل نومادوی په داسی باطلو خیالاتو کی اخته کړل کوم چې دوی نیکی ګڼی اوکوی یی ، لکه چې دعامو بدعتونو دا حال دی ، ددی څخه دوی ته دتوبی توفیق هم نه نصیب کیږی .

مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ : دمتقلب لفظی معنی داوښتو را اوښتو دګرځیدو راګرځیدو ، اودمثوی معنی دقرار ځای دی ، ددی په مراد کی مختلف احتمالات کیدی سی ، په دی وجه مفسرینو حضراتو مختلفی معناوی بیان کړی دی او حقیقت دا دی چې دغه تولی مرادی دی ، ځکه چې په هرانسان باندی دوه قسمه حالات راځی ، یو هغه په کوم کی چې په وقتی اوعارضی طور مشغول وی ، دوهم هغه کوم چې دی په مستقل طور سره خپله مشغله ګڼی دغه شان په ځینو مقاماتو کی دانسان قیام عارضی وی اوپه ځینو کی مستقل نو په آیت کی یی عارضی په متقلب اومستقل دمثوی په لفظ سره تعبیرکړی دی ، دغه شان دتولو احوالو دالله ﷻ په علم کی کیدل ددی آیت مطلب دی .

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ۚ فَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ مُحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا

او وایی ایماندار ولی نه نازلیږي یوسورة ، بیا چې کله نازل سی یوسورة محکم کړل سوی او ذکر وسی په هغه کی

الْقِتَالُ ۙ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ

دجنګ نو ته وینی هغه دکومو په زړونو کی چې مرض دی ګوری تاته داسی لکه چې په چا

الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَعْرُوفٌ ۚ

بې هوښی راسی دمرګ پس خرابی ده دوی لره ، حکم منل دی اوښه خبره کول

فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ ۚ فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ

نوهرکله چې تاکید وی دکار، نوکه رښتینی وی دالله سره دا به دوی لره ښه وای ، بیا تاسی څخه دا هم امید

إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾ أُولَٰئِكَ

دی چې که درکول سی تاسی ته حکومت نو خرابی به وکړی په مځکه کی او قطع به کړی خپلوی خپلی . دا هغه

الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ

خلق دی په کوموچې لعنت کړی دی الله بیا یی کړل دوی کانه او رندی یی کړی د دوی سترګی، آیادوی فکرنه کوی

الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ

په قرآن کی یاکه په زړونو د دوی قلفونه دی ، بیشکه کوم خلق چې چپه سول په خپلو شاګانو

Maktaba Tul Ishaat.com

مِّنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الۡهُدَى ۙ الشَّيۡطٰنُ سَوَّلَ لَهُمۡ وَاَمۡلٰى لَهُمۡ ﴿۲۵﴾

پس دهغه څخه چې ښکاره سوه دوی ته سیده لار شیطان خبره جوړه کړه د دوی په زړونو کې او اوږدی وعدی یې ورکړی

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ قَالُوۡا لِلَّذِيۡنَ كَرِهُوۡا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيۡعُكُمۡ فِىۡ بَعۡضِ

دا په دی وجه چې دوی وویل هغو خلقو ته کوم چې بد ګڼی د الله نازل کړی کتاب مونږ به ستاسی خبره هم ومنو

الۡاَمۡرِ ۚ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ اِسۡرَارَهُمۡ ﴿۲۶﴾ فَكَيۡفَ اِذَا تَوَفَّتۡهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُوۡنَ

په خینو کارونو کې او الله پوه دی د دوی په مشوروبیابه څنګه وی حال کله چې ملائکې روح وباسی د دوی وهی به

وُجُوۡهَهُمۡ وَاَدۡبَارَهُمۡ ﴿۲۷﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوۡا مَاۤ اَسۡخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوۡا

مخونه د دوی اوشاګانی د دوی ، دا ځکه چې دوی په داسی لاره ولاړل چې بیرازه دی ورځخه الله او دوی نه

رِضۡوَانَهٗ فَاَحۡبَطَ اَعۡمَالَهُمۡ ﴿۲۸﴾ اَمۡ حَسِبَ الَّذِيۡنَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ

خوښوی دهغه رضامندی پس عبث سول د دوی عملونه ، آیا خیال کوی هغه خلق چې زړونو د دوی کې مرض دی

اَنۡ لَّنۡ يُّخۡرِجَ اللّٰهُ اَضۡغَانَهُمۡ ﴿۲۹﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَاَرَيۡنٰكَهُمۡ فَلَعَرَفۡتَهُمۡ

چې الله به ښکاره نه کړی د دوی کینې، او که مونږ غوښتلی نو تاته به مونږ ولی وای هغه خلق پس تاخوبه پیژندلی وای

بِسِيۡمٰهُمۡ ؕ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِىۡ لَحۡنِ الۡقَوۡلِ ؕ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ اَعۡمَالَكُمۡ ﴿۳۰﴾

په مخونو سره اومخکې به یې وپیژنی دخبری په طرز سره ، او الله ﷻ ته معلوم دی ستاسی ټول عملونه

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ حَتّٰى نَعۡلَمَ الۡمُجٰهِدِيۡنَ مِنۡكُمۡ وَالصّٰبِرِيۡنَ ۙ وَنَبۡلُوَا۟ اَخۡبَارَكُمۡ ﴿۳۱﴾

اومونږ ستاسی ازمائش کوو چې معلوم کړو په تاسی کې جهاد کوونکی اوصبر کوونکی اوتحقیق وکړو ستاسی دخبرونو

لنډتفسیر: اوکوم خلک چې مومنان دی هغوی (خوهمیشه ددی خبری شوق کوی چې کلام الٰهی نور نازل سی چې ایمان مو تازه سی اونوی احکام راسی چې دهغه ثواب هم حاصل کو اوکه دتیرو احکامو تاکید وی نوچې نوره زیاته ثابت قدمی حاصله کړو اوپه دی شوق کی) وایی چې څه (نوی) سورة ولی نازل نه سو (که نازل سی نو خواهش به پوره سی) نو څه وخت چې صفا صفا (مضمون والا) سورة نازل سی او (اتفاقًا) په هغه کی دجهاد هم (صفا صفا) ذکر وی نو دکومو خلکو په زړونو کی چې (دنفاق) مرض دی ، ته به هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

خلګ وینی چې هغوی به ستا طرف ته داسی (په حیرانه نظرونو سره) ګوری لکه پرچاچې دمرګ بې هوښی راغلی وی (دداسی کتلو سبب بیره اوبزدلی ده ، چې اوس خو دایمان دخپلی دعوی دپوره کولو دپاره به جهادته تلل وی او مصیبت جوړ سو او هغه کوم چې داسی دخدای دحکم څخه ځان ناخبره کوی نو (اصل دا ده چې دیره ژر دهغوی کم بختی راتلونکی ده (برابره خبره ده که په دنیاکی هم په څه وبال کی ګیر سی کنه نو وروسته دمرګ څخه خوضرور ده ، اوکه څه هم چې په فرصت کی خو دوی دیری خبری داطاعت او خوشامدی جوړوی لیکن) دهغوی داطاعت اوخبرو اترو (حقیقت) معلوم دی (چې اوس دنزول دحکم دجهاد په وخت کی ددوی حالت تولوته ښکاره سو) بیا (نو دنزول دحکم دجهاد څخه) هرکله چې تول کار (اوسامان دجنګ) تیارسی نو (هغه وخت هم) که داخلګ (په دعوه دایمان په الله کی) دالله سره رښتینی وی (یعنی دایمان دَدعوی په مقتضا یی عمل کولی چې په هغه کی تول شرعی احکام عموماً اوحکم دجهاد خصوصاً شامل دی او دزړه په صدق سره یی جهاد کولی) نو دهغوی دپاره به دیره ښه وه (یعنی په ابتداء کی که منافقان وه نو په اخر کی به دنفاق څخه تائب کیدل ، بیابه یی هم ایمان مقبول وای اوانتها په دی کی منحصره نه سی ګڼل کیدی ځکه چې دمرګ تروخته پوری په صدق دل سره توبه مقبوله ده مخ ته اوس دجهاد تاکید او ددی څخه وروسته پاته کیدونکو ته خطاب کوی په ترکِ جهاد باندی بیان فرمایی چې تاسی خلګ چې کوم جهاد بدګنی) نو (په دی کی یو دنیوی مضرت هم دی چنانچې) که تاسی (اودغه شان تول دجهاد څخه) کناره کش سی نوایا تاسی ته دا احتمال هم سته (یعنی په کار دی) چې تاسی (یعنی تول انسانان) په دنیاکی فساد جوړکی اوپه خپل مینځ کی خپلولی پریکړی (یعنی دجهاد لویه فائده قائمول دعدل اواصلاح اوامن دی ، که دا پریښوول سی نو دمفسدینو غلبه به سی اوهیڅ انتظام په کوم کی چې دتولو خلګو دمصلحتونو حفاظت وی ، پاته به نه سی اوچې داسی انتظام نه وی نو عام فساد او دحقوقو ضائع کیدل بیا لازم دی ، نو په جهاد کی دنیوی نفعی هم دی ، ددی څخه وروسته کیدل نور هم عجیبه دی ، مخ ته اوس ددغو ذکر سوو منافقانو دقباحت ذکر دی چې) دا هغه خلګ دی کوم چې خدای دخپل رحمت څخه لیری کړل (په دی وجه یی دهغه په احکامو دعمل کولو توفیق پاته نه سو) بیا (درحمت څخه په لیری کولو یی داکار مرتب سو چې) هغوی یی (په غوږونو دالله ﷻ داحکامو اوریدو څخه) کانه کړل او (دحقی لاری دلیدو څخه یی) دهغوی (باطنی) سترګی رندی کړی (اوس مخ ته دوی ته زورنه ده چې سره ددی چې په قرآن کی دجهاد اونورو احکامو وجوب، سره ددلیلونو دحقانیت دقرآن او ددی احکامو داخروی مصلحتونو اومنافعو لازماً او دنیویه هم کله کله او ددی احکامو په مخالفت وعیدونه مذکور دی ، بیاچې کوم داخلګ دغه طرف ته التفات نه کوی) نوایا داخلګ (د) قرآن (په اعجاز اومضامینو) کی فکر نه کوی (په دی وجه دوی ته انکشاف نه کیږی) یا (فکر کوی مګر) پر زړونو یی (غیبی قلفونه لګیدلی دی (دامنع الخلوده ، یعنی په دی دواړوکی دیوی خبری کیدل ضروری دی اوکه دواړه جمع وی نو دا هم کیدی سی ، اوپه واقع کی دلته دواړی خبری جمع دی ، اول د دوی دطرف څخه یوکار وسو ، یعنی دانکار په وجه په قرآن کی فکر نه کول ، بیاددی په وبال کی قلف ولګیدی ، کومی ته چې طَبَع اوخَتْمَ (یعنی مهر لګول) هم ویلی دی اودلیل ددی ترتیب دا ایت دی

(ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ اوپه دی مجموعه باندی فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ مرتب دی، مخ ته اوس په قرآن کی دفکر نه کولو وجه بیان فرمایی چی) کوم خلګ (حق ته) شاکړی واپس سی وروسته دهغه څخه چی سیده لار هغوی ته (په عقلی دلیلونو سره لکه اعجاز دقرآن اوپه نقلی دلیلونو سره لکه پیش ګویی دتیروکتابونو څخه) صفا معلومه سوه شیطان هغوی ته خبره جوړه کړي ده اوهغوی ته یی دلیری لیری امیدونه ورکړی دی (چی په ایمان راوړو سره، فلانی فلانی مصلحتونه موجوده یاچی اننده یی توقع ده، فوت به سی، مطلب داسو چی ددی عدم تدبر وجه عناد دی چی دهدایت دواضح ثبوت څخه وروسته دی چپه واپس کیږی ، او ددې عناد څخه وروسته دشیطان لمس وسو یعنی شیطان د دوی په نظرونو کی دا غلط او مهلك عمل ښایسته ښکاره کی اوپه دی لمس سره عدم تدبّر وسو اوپه عدم تدبّر سره، خَتَمَ او طَبَعَ یعنی په زړونو مهر ولګیدی، بیا) دا (دهدایت مخ ته دراتلو باوجود ددی څخه واپس کیدل اولیری کیدل) په دی سبب وسوه چی دی خلګو داسی خلګوته کوم چی دخدای نازل کړی احکام (دحسد څخه) ناخوښه کوی (مراد ددی څخه دیهودو سرداران دی کموچی دنبی کریم ﷺ سره به یی حسد کوی اوسره دحق دپیژندو دهغه دتابعداری څخه به یی شرم کوی ، مطلب داچی دی منافقانو سردارانو دیهودو ته) داووایه چی په څینو خبروکی به مونږ ستاسی وینا ومنو (یعنی تاسی چی کوم مونږ دمحمد ﷺ دتابعداری څخه منع کوی ددغه دوه جزئه دی یوپه ظاهره یی تابعداری نه کول دوهم په باطن کی یی تابعداری نه کول ، نو په اول جزء کی خو مونږ دمصلحت دوجهی څخه ستاسی خبره نه سومنلی لیکن په دوهم جزء کی به یی ومنو ، ځکه چی په عقیدوکی مونږ ستاسی سره یو ، لکه چی به یی ویل، اِنَّامَعَكُمْ، مطلب دا سو چی دحق څخه دواپس کیدو سبب قومی تعصب اوړوند تقلید دی ، غرض دا چی دسلسلی ابتداء ددی څخه ده اوانتهایی په خَتَمَ اوطَبَعَ ده، آو (که څه هم داقسم خبری دامنافقان پتی کوی مګر) الله ﷻ دهغوی پتی خبری کول (ښه) پیژنی (اودځینو کارونو څخه په وحی سره ته خبرول کیږی، مخ ته وعیددی کوم چی دَاَولٰی لَهُمْ) دتفسیر کیدی سی یعنی هغوی چی کوم داسی حرکتونه کوی) نو دهغوی به څه حال وی هرکله چی ملائکی دهغوی روح قبض کوی اودهغوی مخونه اوشاګانی به وهی (او) دا (سزا) په دی وجه سره (به وی) چی کومه طریقه دخدای دناراضه کولو موجب وه هغوی پرهغه تلل اودهغه درضا (یعنی دموجب درضا دکارونو) څخه به یی نفرت کوی ، په دی وجه الله ﷻ دهغوی ټول عملونه (نیك دسر څخه) کالعدم کړل (نو ددی سزا مستحق سول اودچا سره که څه مقبول عمل وی نو دهغه په برکت سره په سزاکی څه کمی خوکیدی سی ، مخ ته د، وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ مضمون دتشریح په طوردی چی) دکومو خلګو په زړونو کی مرض (دنفاق) دی او (هغوی ددی دپټولو کوشش کوی) ایا داخلګ داخیال کوی چی الله ﷻ به هیڅکله دهغوی دزړونو دښمنی ظاهری نه کړی (یعنی دا اطمینان هغوی ته څنګه وسو، هرکله چی دالله ﷻ عالم الغیب کیدل ثابت اومسلم دی) اومونږ (خو) که غوښتلی نوتاته به مو دهغوی پوره پته ښوولی وای نو تابه هغوی په حلیه سره پیژندلی (دپوره پتی مطلب دا دی چی دهر یوه پوره حلیه به مونږووللی وای) او (که څه هم په مصلحت سره مونږ داسی نه دی ښوولی لیکن) ته به هغوی په طرف دخبرو سره اوس هم خامخا پیژنی (ځکه چی ددغو خبری په صدق مبنی نه دی اوتاته په

Maktaba Tul Ishaat.com

نور دفراست سره الله ﷻ دصدق لوکذب پیژندل درکړی دی چی دصدق اثر په زړه باندی یوشان وی او د دروغو بل شان ، لکه چی په حدیث کی دی چی رښتیا اطمینان بخش وی اودروغ په زړه کی شك پیدا کوی) او (مخکی مومنانو اومنافقانو ټولوته په جمع خطاب کوی ، په طور دترغیب اوترهیب فرمایی چی) الله ﷻ ستاسی دټولو عملونه پیژنی (نو مسلمانانو ته به د دوی په اخلاص جزا اومنافقانو ته به د دوی په نفاق او دوکه باندی سزا ورکی) او (مخ ته دسختو احکامو لکه دجهاد وغیره یوحکیمانه حکمت ارشاد دی ، لکه چی لوړ په ، فَهَلْ عَسَيْتُمْ کی یوحکیمانه حکمت ارشاد فرمایل سوی وو یعنی) مونږ (دداسی سختو کارونو حکم ورکوو) خامخا ستاسی دټولو ازمائش کوو چی مونږ (په ظاهری طورهم) هغه خلګ معلوم کو (اوتمیز یی وکو) چی کوم په تاسی کی دجهاد کوونکی دی اوکوم (په جهادکی) ثابت قدم پاته کیدونکی دی اوچی ستاسی دحالتونو کره کتنه وکړه (دا یی ځکه زیاته کړه چی دجهاد دحکم څخه علاوه نور احکام ، اوعلاوه دحالت دمجاهدی اوصبر څخه نور حالات په کی هم دا خل سی)

معلومات اومسئلي : سُوْرَةٌ مُحْكَمَةٌ، دمحکم لفظی معنی مضبوط اومستحکم ده، ددی لغوی معنی په اعتبار سره خو دقرآن هرسورت محکم دی ، لیکن په اصطلاح دشرع کی محکم په مقابله دمنسوخ کی استعمالیږی ، دلته دَسُوْرَةٌ سره مُحْكَمَةٌ دقید اضافه ځکه ده چی دعمل شوق خوهله پوره کیدی سی کله چی دغه سورة منسوخ نه وی اوقتاده ﷺ فرمایی چی په څومره سورتونو کی چی دقتال اوجهاد احکام راغلی دی هغه ټول محکمة دی ، دلته چونکی اصل مقصود حکم دجهاد اوپه هغه عمل کول دی ، په دی وجه دسورة سره دمحکمة لفظ یی زیات کی اودجهاد طرف ته یی اشاره وکړه دکوم چی مخ ته وضاحت را روان دی (قرطبی) دَاَوْلٰى لَهُمْ، معنی داصمعی دقوم مطابق دا ده ، قَارَبَهُ مَايُهْلِكُهُ : یعنی دده دهلاکت اسباب نژدی راغلی دی (قرطبی)

فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ : دلفظ دَتَوَلّٰى دلغت په اعتبار سره دوی معنی دی یوه داعراض یعنی دمخ اړولو دوهم په یوقوم اوجماعت دحکومت او اقتدار، په دی آیت کی څینو مفسرینو حضراتو اوله معنی اخیستی ده کومه چی مخ ته په لنډ تفسیرکی لیکل سوي ده ابوحیان په بحر محیط کی دی ته ترجیح ورکړي ده ، ددی معنی په اعتبار سره مطلب دایت دا دی چی که تاسی دشرعی احکامو څخه روی ګردانی وکړه په کوموکی چی دجهاد حکم هم شامل دی نو اثر به یی دا وی چی تاسی به دجاهلیت په پخوانیو طریقوکی پریوزی چی لازمی نتیجه یی په محکه کی فساد اوقطع دصله رحمی ده لکه چی دجاهلیت په کار کی دا لیدل کیدی سوه چی یوه قبیله به په بله قبیله ورختله اولوټ ماری اوقتلونه به یی کول ، خپل بچی به یی په خپله ژوندی په قبرکی ښخول اسلام دا ټول جاهلی رسمونه ختم کړل او ددی دختمولو دپاره یی دجهاد حکم جاری وفرمایل ، کومه چه څه هم په ظاهره خونریزی ده ، مګر په حقیقت ددی مطلب سخا سوی اندام دجسم څخه جلا کول دی چی باقی جسم سالم پاته سی ، دجهاد په ذریعه دعدل او انصاف اوخپلولو اورشتو احترام قآئم وی ، او په روح المعانی ، قرطبی وغیره کی یې دلته دتولّی معنی حکومت اوامارت اخیستی ده نو دایت مطلب به داسی چی ستاسی حالات دکومو ذکر چی لوړ راغلی دی دهغه تقاضا دا ده چی که ستاسی مراد پوره سی یعنی په دی حالت کی تاسی ته

Maktaba Tul Ishaat.com

دملك او قوم ولايت او اقتدار حاصل سی نو نتيجه به يی ددی څخه ماسوا بله نه وی چی تاسی به په مځکه کی فساد غورځوی اوخپلی رشتی به ختموی.

دصله رحمي سخت تاکيد : اولفظ اَرْحَامْ دَرَحِمْ جمع ده کوم چی دمور په نس کی دانسان دپيدائش مقام دی چونکی دعامو رشتو اوخپلولو بنياد ددی څخه چليږی ، په دی وجه په محاوره کی رحم په معنی دخپلوی اورشتی استعماليږی ، په تفسيرِ روح المعانی کی دلته په دی تفصيلی بحث کړی دی چی د ذوی الارحام او ارحام لفظ په کومو کومو خپلولو باندی حاوی دی ، اسلام دقريبی اوخپلولی دحقونو پوره کولو يی تاکيد فرمايلی دی ، په صحيح بخاری کی دحضرت ابوهريره ﷺ اونورو دوو اصحابو ﷺ څخه يی ددی مضمون حديث نقل کړی دی چی الله ﷻ فرمايی چی کوم سړی صله رحمی ساتی الله ﷻ دی ځان ته نژدی کوی اوځوک چی صله رحمی قطع کوی الله ﷻ دی قطع کوی ، ددی څخه معلومه سوه چی دخپلوانو او قريبانو سره په خبرو کارونو اومال خرڅ کولو کی داحسان کولو تاکيدی حکم دی ، په ذکر سوی حديث کی حضرت ابوهريره ﷺ دقرآن ددی آيت حواله هم ورکړه چی که غواړی نودا ايت وواياست، او په يو حديث کی ارشاد دی چی هيڅ داسی گناه دکمی سزاچی الله ﷻ په دنيا کی هم ورکوی اوپه اخرت کی هم ددی څخه علاوه ، دظلم اوقطع رحمی برابر نسته (رواه ابوداود والترمذی ، ابن کثير)

او دحضرت ثوبان ﷺ حديث دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی کوم سړی غواړی چی دده رزق زيات سی او په عمر کی يی برکت وسی ، ده ته په کار دی چی صله رحمی کوی يعنی دقريبانو سره داحسان معامله کوی.

په صحيح احاديثو کی دا هم ده چی دخپلولی دحق په معامله کی دبل طرف څخه دبرابری خيال نه دی کول په کار ، که بل ورور قطع تعلق اوناروا سلوك هم کوی خو بيا هم تاته دښه سلوك معامله کول په کار دی په صحيح بخاری کی دی ، لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِي وَلٰكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِيْ اِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا: يعنی هغه سړی صله رحمی کوونکی نه دی کوم چی صرف دبرابری بدله ورکوی بلکه صله رحمی کوونکی هغه دی چی کله دبل طرف څخه دقطع تعلق معامله کيږی نو دی ديوځای کولو اوجوړولو کارکوی (ابن کثير)

اُولٰئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ يعنی داسی انسانان چی په مځکه کی فساد غورځوی اورشتی او خپلولی قطع کوی په هغوی الله ﷻ لعنت فرمايلی دی ، يعنی دوی يی دخپل رحمت څخه ليری کړی دی ، حضرت فاروق اعظم ﷺ په دی آيت سره دام ولدی بيع حرامه کړې ده ، يعنی هغه مينځه دکومی څخه چی اولاد پيدا سوی دی دا خرڅول ددی اولاد سره دقطع رحمی ذريعه ده ، کومه چی موجب دلعنت ده ، په دی وجه يی دام ولدی خرڅول حرام مقرر کړل (رواه الحاکم وصححه، وابن المنذر عن بريده)

(په يومعين سړی دلعنت حکم او ديزيد دلعنت بحث)

او دحضرت امام احمد صاحبزاده عبدالله دده څخه په يزيد دلعنت کولو داجازی متعلق پوښتنه وکړه نو وې فرمايل چی په هغه سړی ولی لعنت نه کول کيږی پرکوم چی الله ﷻ په خپل کتاب کی لعنت کړی دی صاحب زاده عرض وکی چی ماخو قرآن ټول ووايه ، په هغه کی يوځای په يزيد لعنت رانغی ، دوی دا ايت ووايه اووېی فرمايل چی ديزيد څخه سوابه بل څوك دقطع رحمی مرتکب وی چا چی دنبی کريم ﷺ درشتی اوخپلولی هم رعايت ونه کی ، مګر دجمهور امت په نزد په يو معين سړی لعنت کول جائز نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

تر څوچی دهغه په کفر باندی مړ کیدل په یقینی طور باندی سوی نه وی ، البته دعام صفت سره لعنت کول جائز دی لکه دخدای لعنت دی وی په درواغجنانو ، دخدای لعنت دی وی په فسادکوونکو ، دخدای لعنت دی وی په پریکوونکو دصله رحمی وغیره ، په روح المعانی کی په دی موقع په دی مسئله باندی مفصل بحث سوی دی (روح ص ۷۲ ج ۲۶)

أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا: په زړه باندی دقلف لګیدو هغه معنی ده کومه چی په نورو ایتونو کی دَخَتَمَ اوطُبِعَ یعنی دمهر په لګیدو سره تعبیر کړي ده اومراد ددی څخه دزړه سختیدل او داسی بی حسه کیدل دی چی بنه ته بد او بد ته بنه ګڼل شروع کړی ، په بی پرواهی سره مسلسل په ګناهونو کی لګیدل په عام طور سره ددی سبب وی ، نعوذ بالله تعالی منه .

اَلشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ : په دی کی دشیطان طرف ته د دوو کارونو نسبت دی یو تسویل چی معنی یی بنائسته کول دی چی بدشی یابدعمل دچاپه نظرونوکی بنه اوښائسته کړی ، دوهم املاء چی معنی یی مهلت ورکول دی ، مراد دا دی چی شیطان اول خو دده په نظرونو کی دده بدعملونه بنه اوښائسته بنکاره کړی بیا دی په داسی اوږدو ارزوګانو او امیدونو کی ومنبلوی چی پوره کیږی نه .

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَنْ لَنْ يُخْرِجَ اللهُ أَضْغَانَهُمْ، اَضْغَانٌ : جمع دضَغَنٌ ده چی معنی یی پته دښمنی اوحسد اوکینه ده منافقانوکوموچی به داسلام دعوه اوپه ظاهره دنبی کریم ﷺ سره دمحبت اظهاراوپه باطن کی دښمنی اوکینه ساتل، دهغوی په باره کی نازل سوه چی دا خلګ دالله رب العٰلمین سره ددی چی عالم الغیب ګنی ددی خبری څخه ولی بی فکره دی چی الله ﷻ به د دوی باطنی رازاوپته دښمنی خلګوته ظاهره کړی . ابن کثیر فرمایی چی الله ﷻ په سورة براءت کی د دوی دداسی عملونو، کارونو او حرکتونو پته وښوولە ، دکومو څخه چی دمنافقانو دنفاق پته ولګیږی او هغوی وپیژندل سی په دی وجه سورة براءت ته فاضحه هم وایی یعنی رسوا کوونکی ، ځکه چی ده دمنافقانو خاص خاص نښانی ظاهری کړی دی.

وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمَاهُمْ : یعنی که مونږ وغواړو نو تا ته به په تعین سره منافقان بنکاره کو او د دوی داسی حلیه به درته وښیو چی په هغه سره به ته هر یومنافق په شخصی طورسره وپیژنی ، قرآن دا مضمون په حرف دلو سره بیان کړی دی ، چی استعمال یی ددداسی شرط دپاره کیږی کوم چی واقع سوی نه وی په دی وجه معنی دایت داکیږی چی که مونږغوښتلی نوهریو منافق به موتاته په شخصی طور سره متعین ښوولی وای ، مګر مونږ دحکمت اومصلحت اوپه خپل حلم اوبردباری سره دوی داسی رسوا کول خوښ نه کړل چی قاعده داقائمه پاته سی چی د دوی ټول کارونه په ظاهره محمول سی اوباطنی حالت اودزړه پټ رازونه یی صرف علیم اوخبیرالله ﷻ ته وسپارل سی البته تاته مونږ داسی بصیرت درکړی دی ، چی ته به منافقان په خپله د دوی دخبرو څخه وپیژنی دَ، وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ هم دا مطلب دی (ابن کثیر) حضرت عثمان ابن عفان ﷺ فرمایی چی کوم سړی څه شی په خپل زړه کی پټوی الله ﷻ هغه دهغه دمخ څخه او دخبرو دانداز څخه ظاهر وی ، یعنی دخبرو په دوران کی دهغه څخه داسی کلمات ادا سی چی دهغه دزړه راز په ظاهر سی ، داسی په یو حدیث کی ارشاد دی چی کوم سړی په خپل زړه کی څه خبره پټوی ، الله ﷻ دهغه په بدن دهغه شی څادر خپروی که هغه شی څه بنه وی نوهغه ظاهرول کیږی اوکه بد

Maktaba Tul Ishaat.com

وی نو هم ظاهرول کیږی او دحدیث په څینو روایتونو کی دا هم راغلی دی چی دمنافقانو دیو جماعت دوی ﷺ ته په شخصی طور سره هم علم ورکول سوی وو ، لکه چی په مسند احمد کی دعقبه ابن عمر ﷺ په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ په یوه خطبه کی دخاصو خاصو منافقانو نومونه واخیستل او هغوی یی دمجلس څخه ولاړ کړل ، په دی کی دشپږو دیرشو سړو نومونه شمار سوی دی (ابن کثیر)

حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنْكُمْ : الله ﷻ ته خو دازل څخه دهر سړی دعملونو اوکارونو علم محیط ازلی ابدی دی ، دلته دعلم څخه مراد ظهور او وقوع ده ، یعنی کوم شی چی دالله ﷻ په علم کی دمخکی څخه وو ، دهغه وقوع او ظهور وسی او واقعاتی علم وسی . والله اعلم (ابن کثیر)

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ

بیشکه کوم خلق چی منکرسول اومنع یی کړل (خلق) دالله ﷻ دلاری څخه اومخالف سول درسول ﷺ څخه وروسته

مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ﴿٣٢﴾

دهغه چی ښکاره سوه دوی ته سیده لاز ،نه سی ورانولی دالله ﷻ هیڅ شی ، اوبی کاره به کړی د دوی ټول عملونه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٣﴾

ای ایمانداړو ! حکم منی دالله او حکم منی درسول ﷺ او مه ضائع کوی خپل عملونه

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ مَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ

کوم خلق چی منکر سول او منع یی کړل خلق دلاری دخدای څخه بیا مړه سول او هغه منکر وه

فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ﴿٣٤﴾ فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ ۖ

نوهیڅکله به ونه بخښی الله هغوی ، نو تاسی مه سستیږئ اوبلنه کوی صلح ته ، اوتاسی به غالب یاست،

وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٥﴾ إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ

اوالله ﷻ ستاسی سره دی اونقصان به درنه کړی تاسی ته ستاسی په عملونو کی،بیشکه ددنیاژوند خو لوبه اوتماشه ده

وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴿٣٦﴾ إِنْ

اوکه تاسی یقین وکړی اوخان وساتی دګناه څخه دربه کړی تاسی ته ستاسی بدله اوپوښتنه به کوی ستاسی څخه ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَسْـَٔلْكُمُوْهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾ هٰٓاَنْتُمْ

دمالونو ،اوکه وغواړی ستاسی څخه مال بیا به تاسی تنګ کړی نوتاسی به بخل کوی اوظاهربه کړی ستاسی دزړه خفګانونه

هٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ

واوری تاسی ، خلق تاسی بلل کیږي چی خرڅ وکړی په لاره دالله کی ، بیا په تاسی کی ځینی داسی دی چی بخل کوی

وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ۭ وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَاۗءُ ۚ

اوڅوک چی بخل کوی نو وبال دبخل به په هغه وی ، او الله غنی دی اوتاسی محتاج یاست

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾

اوکه چیری تاسی واپس سی نوپه بدل کی به راولی الله نورخلق ستاسی په ځای، بیا به هغه نه وی ستاسی په شان

لنډتفسیر : بیشکه کوم خلک چې کافران سول اوهغوی (نور هم) دالله ﷻ دلاری څخه (یعنی دحق دین څخه) منع کړل اودرسول (ﷺ) مخالفت یی وکی وروسته دهغه څخه چی دوی ته (ددین) لار (په عقلی دلیلونو سره دمشرکانو دپاره اوپه نقلی سره هم داهل کتابو دپاره) ښکاره سوه، داخلک دالله (ددین) هیڅ نقصان نه سی کولی (بلکه دا دین به په هرحال پوره کیږی چنانچی وسوه) اوالله ﷻ به دهغوی کوششونه (کوم چی دحق دین دورانولو دپاره یی کوی) ختم کړی ای ایمانداروا دالله ﷻ اطاعت کوی او (چونکی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ حکم بیانوی برابره خبره ده که په خاص طور سره په وحی الهی کی ددی حکم سوی وی یاپه وحی الهی کی کلی قاعده بیان سوی وی اودا خاص حکم نبی کریم ﷺ په دغه قاعده کی ددا خلیدو په بناحکم ورکړی وی په دی وجه) درسول (ﷺ هم) اطاعت کوی او (دکفارو په شان دالله ﷻ او رسول ﷺ په مخالفت کولو) خپل عملونه مه برباد وی (ددی تفصیل به په معلوماتو اومسئلوکی راسی) بیشکه کوم خلک چی کافران سول اوهغوی دالله ﷻ دلاری څخه منع کړل ، بیاهغه کافران مړه (هم) سول پس الله ﷻ به هغوی هیڅکله ونه بخښی (دعدم مغفرت دپاره دکفر سره دلاری دخدای څخه منع کول شرط نه دی بلکه صرف دکفر ترمرګه پوری دا اثر دی ، لیکن دتشنیع دزیاتوالی دپاره دا قید واقعی زیات سو چی ددغه وخت دکفارو په مشرانو کی دا کارهم متحقق وو، مخ ته دکفارو قباحتونه او دمومنانو صفتونه په طور دتفریع فرمایی چی هرکله معلومه سوه چی مسلمانان دخدای محبوب اوکفار مبغوض دی) نو (ای مسلمانانو) تاسی (دکفاروپه مقابله کی) همت مه بایلی او (په همت بایللو سره هغوی ته) دصلح طرف ته مه رابلی اوتاسی به غالب یاست اوهغوی به مغلوب وی ځکه چی تاسی محبوب یاست اوهغه مبغوض دی) اوالله ﷻ ستاسی سره دی (داخو ستاسی ددنیا کامیابی سوه) او (په اخرت کی به دا کمیابی وی چی الله ﷻ به ستاسی (د) عملونو (په ثواب) کی هیڅکله کمی ونه کړی (دا خوبی همت

Maktaba Tul Ishaat.com

افزایی سوه دجهاد ترغیب سو، مخ ته ددنیا دفانی کیدو ذکر کوی دجهاد ترغیب او دانفاق فی سبیل الله تمهید دی چی) دا ددنیا ژوند خومحض لوبی اوتماشی دی (که په دی کی ځان اومال دخپلی فائدی دپاره محفوظ کول وی نو دغه فائده دځو ورځو ده او مطلب یی هیڅ نه دی) اوکه تاسی ایمان اوتقوٰی اختیار کړی (چی په دی کی جهادپه نفس اومال سره هم رالی) نو (تاسی ته به دخپل طرف څخه نفع ورسوی داسی چی) تاسی ته به ستاسی اجر درکی او (ستاسی څخه څه نفع نه غواړی چنانچی) ستاسی څخه به ستاسی مال (هم کوم چی دنفس څخه کم دی دخپلی نفعی دپاره) نه طلب کوی (هرکله چی ستاسی څخه داسی شی نه طلب کوی دکوم ورکول چی اسان دی نونفس چی ورکول یی مشکل دی هغه به ولی طلب کوی، چنانچی ظاهره ده چی زمونږ په ځان اومال خرڅ کولو سره دالله ﷻ هیڅ نفعی نسته اونه دامکنه ده او دا په شان ددی قول دالله ﷻ دی، وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ: چنانچی) که چیری (امتحانًا) ستاسی څخه ستاسی مال طلب کی بیاتر انتهایی درجی پوری یی ستاسی څخه طلب کوی (یعنی ټول مال درڅخه طلب کړی) نو تاسی (یعنی په تاسی کی اکثره به) بخل کوی (یعنی ورکول به یی نه خوښوی) او (دغه وخت) به الله ﷻ ستاسی ناخوښی ظاهره کړی (یعنی په نه ورکولو سره چی ظاهری فعل دی باطنی ناخوښی به ښکاره سی په دی وجه دافرد ممکن هم واقع نه سو او) البته تاسی خلګ داسی یاست چی تاسی دالله ﷻ په لاره کی (چی نفع یی تاسی ته واپس کیدل یقینی دی، لږحصه دمال) خرڅ کولو دپاره بولی (اوباقی اکثره حصه ستاسی په قبضه کی پریښوول کیږی) نو (په دی هم) څینی په تاسی کی هغه دی چی بخل کوی او (مخ ته په دی فرد واقع باندی دبخل مذمت دی چی) کوم سړی (دداسی ځای دخرڅ کولو څخه) بخل کوی نوهغه (په حقیقت کی) په خپله دځان سره بخل کوی (یعنی خپل ځان ددغه دائمی نفعی څخه محرومه کوی) او (که نه وی نو) دالله ﷻ هیڅاته حاجت نسته (چی ګوندی احتمال دهغه دضرروی) او (بلکه) تاسی ټول (هغه ته) محتاج یاست (اوستاسی ددی احتیاج په رعایت سره تاسی ته دنفاق حکم وسوځکه چی په اخرت کی به تاسی ته دثواب حاجت وی اوطریقه دهغه داعملونه دی او) که تاسی (زمونږ داحکامو څخه) روی ګردانی وکی نوالله ﷻ به ستاسی پرځای بل قوم پیدا کی (او) بیابه هغه ستاسی په شان (روی ګردانی کوونکی) نه وی (بلکه نهایت فرمانبردار به وی، دا کار به دهغوی څخه واخیستل سی او دغه شان به دغه حکمت پوره سی)

معلومات اومسئلي: إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللهِ: دا آیت هم دمنافقانو اودیهودو بنی قریظه اوبنی نضیر متعلق نازل سوی دی، اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دا دهغو منافقانو متعلق دی کومو چی دغزوه بدر په موقع دقریشو دکافرانو امداد داسی وکی چی د دوی څخه دولسو سړو دهغو دپوره لښکر خوراك په خپله ذمه اخیستی وو، هره ورځ به دهغوی څخه یوسړی دکفارو دلښکر دخوراك انتظام کوی.

وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ: دلته دحبط اعمال څخه مراد داهم کیدی سی چی د دوی داسلام خلاف کوششونه کامیاب نه کړی بلکه عبث یی کی لکه چی په لنډتفسیرکی لیکل سوی دی اودا معنٰی هم کیدی سی چی ددوی دکفراونفاق په وجه د دوی نیك عملونه لکه صدقه خیرات وغیره ټول عبث کړی قابل قبول نه سی.

وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ: قرآن کریم دلته دحبط اعمال په ځای ابطال اعمال لفظ استعمال کړی دی چی مطلب

Maktaba Tul Ishaat.com

یی ډیرعام دی ، ځکه چی دابطال خو یو هغه صورت دی کوم چی دکفر په وجه سره پیښیږی کوم چی یی لوړ په آیت کی په حبطِ اعمال سره تعبیر کړی دی ، ځکه چی داصلی کافر خوهیڅ عمل په وجه دکفر دسره نه دی مقبول اوکوم چی داسلام راوړلو څخه وروسته مرتدسی نو داسلام دزمانی عملونه که څه هم دقبول لایق وه مګر دهغه کفر او ارتداد دهغه دغه ټول عملونه عبث کړل.

دریم صورت دابطالِ اعمال دا هم دی ، چی دځینو صالحانو اعمالو دپاره څه نور اعمال صالحه شرط دی نو کوم سړی چی دغه شرط ضائع کی نو دهغه دا نیك عمل هم ضائع سوکوم چی ددی شرط سره مشروط وو ، مثلاً دهر نیك عمل دپاره دا شرط دی دقبلیدو ، چی دغه خالص دالله ﷻ دپاره وی ، ریا اونمائش په دی کی نه وی ، یعنی محض دخلګو دښودنی یانمائش دپاره یی دا عمل نه وی کړی دقرآن کریم ارشاد دی ، وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ اوبل ځای فرمایی ، أَلَا لِلّٰهِ الدِّينُ الْخَالِصُ نو دکوم سړی نیك عملونه چی دریاء اونمائش دپاره وی ، هغه عمل به دالله ﷻ په نزد باطل سی ، دغه شان دصدقاتوپه بارہ کی په خپله قرآن کریم وضاحت فرمایلی دی ، لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى ، یعنی خپلی صدقی په احسان اچولو یاغریب ته په آزار رسولو سره مه باطلوی ، معلومه سوه چی که چا صدقه ورکړه اوپر غریب یی احسان واچوی یایی ورته څه ازار ورسوی دهغه صدقه باطله ده ، دامطلب کیدی سی دحضرت حسین بصری رحمۃ اللہ علیہ دقول کوم چی دوی ددی آیت په تفسیرکی فرمایلی دی چی خپلی نیکیانی دګناهونو په ذریعه مه باطلوی ، لکه چی دابن جریج قول دی ، يَعْنِي بِالرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ : اومقاتل وغیره فرمایی ، بِالْمَنِّ ځکه چی داهل سنت والجماعت په نزد دکفر اوشرك څخه علاوه هیڅ ګناه که څه هم کبیره وی ، داسی نه ده چی دمومن ټول نیك عملونه حبطه اوباطل کړی مثلاً یو سړی غلا وکړه او دی دلمانځه یا روژی پابند وی نو شرعًا ده ته دانه سی ویل کیدی چی ستا لمونځ اوروژه هم باطله سوه دهغه قضا وکړه په دی وجه په ګناهونو سره دعملونو دباطلیدو څخه مراد هغه ګناهونه دی دکومو په نه کولو چی دعمل دمقبولیت مدار دی ، لکه ریاء اونمائش چی دهرنیك عمل دمقبولیت دپاره ددی نستوالی شرط دی ، اوداهم ممکنه ده چی دحضرت حسن بصری په قول کی دعملونو دباطلیدو څخه مراد دنیکو عملونو دبرکتونو څخه محرومی وی ، دنفس عمل ضائع کیدل مراد نه وی ، نو دا دټولو ګناهونو دپاره شرط دی ، چی دکوم سړی په عملونوکی دګناهونو غلبه وی نو دهغه په لږ شان نیکو عملونو کی هغه برکت نه وی چی دعذاب څخه یی وساتی ، بلکه هغه به دخپلو عملونوسزا دقاعدیٔ مطابق ځکی ، مګر اخر دخپل ایمان په برکت سره دسزا ځکلو څخه وروسته به نجات پیداکی.

مسئله : دریم صورت دباطلولو دعمل دا هم دی چی څوك نیك کار وکی او هغه قصداً فاسد کړی ، مثلاً نفل لمونځ یاروژه شروع کړی ، بیا بغیر دځه عذر څخه هغه قصداً فاسد کړی ، دا هم ددی آیت په ذریعه ناجائز وګرځیدی دامام اعظم ابوحنیفه دامذهب دی چی کوم نیك عملونه دابتداء څخه فرض یاواجب نه وه، مګر چاهغه شروع کړل نو اوس دهغه پوره کول ددی آیت په روسره واجب سول چی دعمل باطلولو مرتکب نه سی که چاداسی عمل شروع کی اوبی عذره یی پریښووی یایی قصداً فاسدکی نوهغه ګناهګار هم سو او قضاء هم پرلازمه سوه ، دامام شافعی په نزد نه خوقضاء پرلازمه ده اونه دهغه په

Maktaba Tul Ishaat.com

فاسد کولو گناهگاردی څکه چی هرکله په اول کی داعمل فرض یاواجب نه وی نو وروسته هم فرض او واجب نه دی چی په پریښوولو یی یاپه فساد یی گناه لازم سی ، مگر دامام ابوحنیفه په نزد الفاظ دایت عام دی اودهرنیك عمل دپاره شامل دی برابره خبره ده که دمخکی څخه فرض یاواجب وی یایی په نفلی طور سره شروع کړی وی نوپه شروع کولو سره هغه نفلی عمل هم واجب سو، په تفسیر مظهری کی یی دلته په ډیرو احادیثو سره دابحث په تفصیل لیکلی دی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ مَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ ، په دی الفاظو سره یوحکم اوس مخ ته تیرسوی دی مکرر ذکر یاپه دی وجه دی چی په اول آیت کی دکفارو ددنیوی خساری ذکر سوی دی اوپه دی آیت کی دکفارو داخرت نقصان بسوول منظور دی ، لکه چی په لنډ تفسیرگی یی بیان سوی دی او دا هم کیدی سی چی په اول آیت کی دعامو کفارو ذکر وو په کومو کی چی هغه خلك هم شامل وه ، کوم چی وروسته مسلمانان سول دهغوی حکم خو دا راغی چی کوم نیك عملونه هغوی په حالت دکفرکی کړی وه ، هغه ټول بی کاره سول ، داسلام راوړلو څخه وروسته هم دهغه ثواب نه ورکول کیږی ، اوپه دی آیت کی ددواسی کفارو خاص ذکر دی کوم چی تر مرګه پوری په کفر اوشرك کی پاته سول ، دهغوی حکم دا دی چی په اخرت کی به دهغوی هیڅکله مغفرت ونه سی. والله تعالی اعلم

فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ : په دی آیت کی کفارو ته دصلح ددعوت ورکولو ممانعت سوی دی اوپه قرآن کریم کی بل ځای ارشاد دی ، وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا یعنی که کفار دصلح طرف ته مائل وی نوته هم مائل سه ، ددی څخه دصلح اجازت معلومیږی ، په دی وجه څینی حضرات فرمایی چی اجازت والا ایت ددی شرط سره دی چی دکفارو دطرف څخه دصلح ابتداء وی اوپه دی آیت کی چی یی منع کړې ده هغه دا ده چی دمسلمانانو دطرف څخه دصلح درخواست وسی، په دی وجه په دواړو ایتونوکی څه تعارض نسته، مگر صحیح داده چی دمسلمانانو دطرف څخه اول هم صلح کول جائز ده ، کله چی مصلحت دمسلمانانو په دی کی وی، محض بزدلی اوعیش کوشی ددی سبب نه وی اوددی آیت په شروع کی یی فَلَا تَهِنُوا وویل اودی طرف ته یی اشاره وکړه چی منع هغه صلح ده دکمی منشاء چی بزدلی اودالله ﷻ په لاره کی دجهاد کولو څخه فرار وی ، په دی وجه په دی کی هم څه تعارض نسته چی دَ ، وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ: ایت حکم دهغه صورت سره مقید سی په کوم کی چی دصلح جویی سبب سستی او بزدلی نه وی ، بلکه په خپله دمسلمانانو دمصلحت تقاضا وی . والله تعالی اعلم

وَلَنْ يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ : یعنی الله ﷻ به ستاسی دعملونو په جزاء کی څه کمی ونه کړی ، اشاره دی طرف ته ده چی په دنیاکی هرڅه تکلیف چی هم در ورسیږی نو دهغه لوی اجر به په اخرت کی ورکول کیږی ، په دی وجه مومن دتکلیف په حالت کی هم ناکام نه دی.

إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا: چونکی دجهاد څخه منع کوونکی شی دانسان دپاره ددنیا محبت کیدی سی چی په دی کی دخپل ځان سره محبت ، داهل اوعیال محبت ، دمال دولت محبت ټول داخل دی ، په دی آیت کی دانبسول سوي ده چی دا ټول شیان په هرحال ختم اوفنا کیدونکی دی که داوخت دابچ هم کړی نو یو بل وخت به دا هرڅه دلاس څخه وځی ، په دی وجه ددی فانی اوناپائیداره شیانو محبت داخرت ددائمی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپائیدارو نعمتونوپه محبت باندی مه غالب کوی.

وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ: ددی آیت ظاهری مطلب دا دی چی الله ﷻ ستاسی څخه ستاسی مال نه غواړی، مګر په ټول قرآن کی دزکوٰة صدقو احکامو اوالله ﷻ په لاره کی دمال خرڅ کولو بی شمیره موقعی راغلی دی او په خپله ددی څخه وروسته په دوهم آیت کی دانفاق فی سبیل الله تاکید راځی، په دی وجه په ظاهره په دی دواړو کی تعارض معلومیږی، په دی وجه ځینی حضراتود لَايَسْئَلْكُمْ، دامطلب ګرځولی دی چی الله ﷻ ستاسی مالونه څه دخپلی نفعی دپاره نه غواړی، بلکه ستاسی دفائدی دپاره یی غواړی چی ذکر یی په دی آیت کی هم د، يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ په الفاظو سره سوي دی، چی تاسی ته کوم الله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو دپاره ویل سوی دی، دا ددی دپاره دی چی په اخرت کی کوم څای چی به تاسی ته دټولو څخه زیات ضرورت وی داوخت داخرڅول به ستاسی په کاردرسی، هلته به تاسی ته ددی اجر درکول سی په ذکرسوی لنډ تفسیرکی دامطلب اختیار سوی دی، ددی نظیر دا ایت: مَا أُرِيدُ مِنْهُمْ مِنْ رِزْقٍ دی، یعنی الله ﷻ فرمایی چی مونږ ستاسی څخه دخپل ځان دپاره څه رزق نه غواړو اونه یی مونږ ته څه حاجت ستە. اوځینی حضراتو ددی آیت دامطلب مقرر کړی دی چی دَ لَايَسْئَلْكُمْ څخه مراد پوره مال طلب کول دی (اودا قول دابن عیینه دی، قرطبی) ددی قرینه راتلونکی آیت دی، په دی کی فرمایی چی، إِنْ يَسْأَلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ ځکه چی یحف داحفاء څخه مشتق دی چی معنٰی یی ده مبالغه اوپه څه کارکی اخرته رسیدل، ددی دوهم آیت مطلب دټولوپه نزد دا دی چی که الله ﷻ ستاسی څخه ستاسی مالونه پوره طلب کولی نو تاسی به بخل کولی او ددی حکم تعمیل به درته ګران وای، تردی چی دادا کولو په وخت کی به دا ناخوښی ستاسی څخه ښکاره کیده، لنډه دا چی په اول آیت کی دلَايَسْئَلْكُمْ څخه مراد هغه دی کوم چی په دوهم آیت کی دفَيُحْفِكُمْ دقید سره راغلی دی، نو مطلب ددی دواړو ایتونو داسو چی الله ﷻ څه مالی فرائض زکوٰة وغیره په تاسی عائدکړی دی اول خوداپه خپله ستاسی دفائدی دپاره دی، دالله ﷻ هیڅ خپله فائده په کی نسته، دوهم بیاپه دغه فرائضوکی الله ﷻ په خپل رحمت سره ستاسی دمال دومره لږ شان حصه فرض کړي ده چی بوج کیدل یی نه دی ګرځول په کار، په زکوٰة کی څلویښتمه حصه، دمخکی په پیداوار کی لسمه یاشلمه حصه او دڅلویښتو څخه تریوسل اوشلو پوری بزوکی یوه بزه ده، نو معلومه سوه چی الله ﷻ ستاسی څخه ټول مالونه خونه دی طلب کړی دکومو ورکول چی ګران اوبارِ خاطر وی بلکه لږحصه یی طلب کړي ده، په دی وجه پرتاسی فرض دی چی په خوشحالی سره یی اداکوی.

اوپه دی بل آیت کی چی ارشاد دی، يُخْرِجْ أَضْغَانَكُمْ په دی کی أَضْغَان جمع دضغن ده چی معنٰی یی پټه کینه اوپټ کراهت دی، دلته هم پټ کراهت اوناخوښی مراد ده، یعنی په طبعی طور انسان خپل پوره مال بخښل ناخوښ ګڼی کوم چی دی ظاهرول هم نه غواړی، نو دورکولو په وخت کی به دجنجال منجال وغیره څخه دا ناخوښی ښکاره کیده نو مطلب دارشاد دا دی چی که الله ﷻ ستاسی څخه دپوره مال مطالبه کولی نو تاسی به بخل کولی اودبخل په وجه به ناخوښی اوکراهت ستاسی په زړونوکی وای، هغه به لامحاله ښکاره کیده، په دی وجه هغه ستاسی دمالونو څخه یوه حقیره اولږ حصه پرتاسی فرض کړي ده خوتاسی په دی کی هم بخل وکی، ددی بیان یی په اخری آیت کی داسی فرمایلی دی، لْدْعَوْنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فَمِنكُمْ مَنْ يَبْخَلُ : یعنی تاسی ته ستاسی دمالونو دځه حصی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو طرف ته دعوت درکول کیږی نوستاسی ځخه ځینی په دی کی هم بخل کوی، ددی ځخه وروسته فرمایی چی ، وَمَنْ يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ یعنی کوم سړی چی په دی کی هم بخل کوی هغه دالله ﷻ څه نقصان کوی بلکه په دی بخل سره دخپل ځان نقصان کوی چی داخرت دثواب ځخه محرومی او دفرضو دپریښودلو وبال دی ، بیایی دا خبره زیاته په وضاحت سره وفرمایله، وَاللهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَاءُ یعنی الله ﷻ خوغنی دی تاسی حاجتمند یاست ، دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول په خپله ستاسی حاجت پوره کول دی .

وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ په دی آیت کی یی دالله ﷻ دغنیانو ځخه غنی کیدل داسی واضح کړي دی چی دالله ﷻ ستاسی مالونو ته څه چی ستاسی وجودته یی هم ضرورت نسته که تاسی تول په جمع زمونږ داحکامو تعمیل پریږدی نوترڅو پوری چی مونږ دنیا اوپه دی کی اسلام باقی پاته کول غواړو نومونږ به دخپل حق دین دحفاظت اودخپلو احکامو دتعمیل دپاره بل داسی قوم پیداکو کوم چی به ستاسی په شان دشرعی احکامو ځخه منع اومخ نه اړوی بلکه زمونږ مکمل اطاعت به کوی ، حضرت حسن بصری فرمایی چی مراد ددی ځخه عجمی خلک دی اوحضرت عکرمه ﷺ فرمایی چی ددی ځخه مراد فارس اوروم دی اودحضرت ابوهریره ﷺ ځخه روایت دی چی هرکله نبی کریم ﷺ ددی آیت تلاوت داصحابو کرامو ﷺ په مخکی وفرمایی نوصحابه کرامو ﷺ عرض وکی چی یارسول الله ﷺ! هغه کوم داسی قوم دی چی که مونږ (خدای مه کړه) ددین داحکامو ځخه روی گردانی وکړه نوچی هغه به زمونږ په بدله کی راوستل سی اوبیا به هغه زمونږ په شان داحکامو ځخه روی گردانی نه کوی ، نبی کریم ﷺ دسلمان فارسی ﷺ (کوم چی په مجلس کی موجود وو) پر ورانه باندی لاس کښیښووی، ویی فرمایل چی دی او دده قوم ، اوکه چیری (بالفرض) حق دین په ثریا ستوری باندی هم وی (کوم ځای ته چی دخلکو رسیدل مشکل دی) نو دفارس ځینی خلک به هلته هم رسیدلی وای اودین به یی حاصلولی اوعمل به یی په کولی (رواه الترمذی والحاکم وَصَحَّحَهُ وابن حبان ، مظهری)

شیخ جلال الدین سیوطی په خپل کتاب کی کوم چی یی دابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په مناقبو کی لیکلی دی په دی کی فرمایی چی ددی ځخه مراد ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ اودده ملګری دی ځکه چی دفارس په خلګو کی یوه ډله هم دعلم هغه مرتبی ته نه ده رسیدلی کوم ته چی ابوحنیفه اودده ملګری رسیدلی دی (حاشیه تفسیرِ مظهری)

(سورة الفتح)

سُورَةُ الْفَتْحِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ آيَةً وَأَرْبَعُ رُكُوعَاتٍ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

سورة الفتح په مدینه کی نازل سو په دی کی یو کم دیرش (۲۹) آیتونه او څلور (۴) رکوع ګانی دی .

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ۝١ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ

بیشکه مونږ فیصله وکړه ستا دپاره ښکاره فیصله ،چی عفوه و کړی تا ته الله ﷻ کوم چی مخکې سوی دی ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲﴾

گناهونه ، او څه چې وروسته دی اوپوره کړی په تا خپل احسان او ښیی تاته سیده لاره ،

وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ﴿۳﴾

او مدد وکړی ستا الله ﷻ زبردست مدد .

لنډتفسیر: بیشکه مونږ (په دی صلح حدیبیه سره) تاته یوښکاره فتح درکړه (یعنی دصلح حدیبیه څخه دافائده وسوه چې دغه سبب سو دیر مطلبی فتح یعنی دفتح مکی ، په دی لحاظ سره داصلح فتح جوړه سوه او فتح مکه ته یی فتح مبین ځکه وویل چې دفتح څخه مقصود په اسلامی شریعت کی حکمرانی نه ده بلکه ددینِ اسلام غلبه مقصود ده اودمکی دفتح څخه دامقصود ترلوی حده پوری حاصل سو، ځکه چې ټول قبائل دعربو ددی خبری منتظروه چې که دوی پرخپل قوم غالب راغلل نومونږ به یی هم اطاعت وکو، هر کله چې مکه فتح سوه نو دځلورو طرفونو څخه دعربو قبائل راتلل شروع سول او په خپله یاپه واسطه دخپلو وفدو یی اسلام راوړل شروع سو (رواه البخاری عن عمرو بن سلمه)

چونکی داسلام دغلبی لویی ننبانی دمکی دفتحی څخه رابرسیره سوی ، په دی وجه یی دی ته فتح مبین وفرمایله اوصلح حدیبیه ددی فتح مکی سبب اوذریعه داسی سوه چې دمکی والاوو سره روزانه جنګونه وو ، ددی په وجه مسلمانانو ته دخپل قوت اوسامان زیاتولو مهلت اوفرصت نه ورکول کیدی، دحدیبیه په واقعه کی چې کومه صلحه وسوه ، نو په اطمینان سره مسلمانانوکوشش وکی چې ډیر نوی خلګ مسلمانان سول او دمسلمانانو جماعت زیات سو او دفتح خیبر وغیره په وجه سامان هم برابر سو او داسی سوه چې په نورو خلګو یی دباؤ پریوتی ، بیا دقریشو دطرف څخه عهد شکنی وسوه ، نو دوی دلسو زرو صحابه کرامو ﷺ سره دمقابلی دپاره ولاړل دمکی خلګ دومره مرعوب سول چې زیات جنګ هم ونه سو او اطاعت یی هم قبول کی اوکوم جنګ چې وسو هم نو دومره کم اومعمولی چې داهل علمو په کی اختلاف رالی چې مکه مکرمه په صلح سره فتح سوه اوکه په جنګ سره، غرض دغه شان داصلح سبب دفتح سوه ، په دی وجه په مجازی طوردی صلح ته یې هم فتح وفرمایله په کومه کې چې دمکی دفتح پیش ګویی هم ده ، مخ ته ددی فتح ددینی فائدو اوبرکتونو بیان دی چې دافتح ځکه (وسوه) چې (ددین په تبلیغ اودحق دین په دعوت کی ستا دکوششونو نیتجه داسی ظاهره سی چې خلګ په کثرت سره په اسلام کی داخل سی اوپه دی سره ستا اجر ډیر زیات سی او ډډیر اجر اوقرب په برکت سره) الله ﷻ به ستا ټول مخکنی وروستنی (صوری) خطاګانی معاف کړی اوپه تا (چې الله ﷻ) خپل احسانات (کوی مثلاً تاته یی نبوت درکی، قرآن یی درکی، ډیرعلوم یی درکړل ، ډډیرو اعمالو ثواب یی درکی، ددغو احساناتو نور زیات) تکمیل وکی (داسی چې ډیر خلګ ستاپه لاس په اسلام کی داخل سی چې په دی سره ستا اجر اومقام دقرب نور لوړ سی، دادوه نعمتونه خو داخرت سره متعلق دی) او (دوه نعمتونه دنیوی دی یوداچې) تا (بغیر دخه لوړی ژوری څخه ددین) پرسیده لاره وچلوی (او که څه هم ستاپه صراط

Maktaba Tul Ishaat.com

مستقیم باندی تلل دمخکی څخه یقینی دی ، مګرپه دی کی دکفارو سره مزاحمت کیدی اوس دا مزاحمت پاته نه سو) او (نور دنیوی نعمت دادی چی) الله ﷻ تاته داسی غلبه درکړی په کومه کی چی سراسر عزت اوعزت وی (یعنی چی ددی څخه وروسته ته هیڅکله پرچا کمزوری نه سی ، چنانچی داسی وسوه چی په ټوله جزیرة العرب د دوی تسلط قائم سو)

معلومات اومسئلي : دجمهورو اصحابو﵁ تابعینو او دتفسیر دامامانو په نزد سورة فتح په سنه ۶ هجری کی هغه وخت نازل سو، هرکله چی دوی ﷺ دعمری په اراده مکی مکرمی ته سره دجماعت داصحابو﵁ تشریف یووړی اودمکی حرم ته نژدی مقام حدیبیه ته ورسیدل قیام یی وفرمایی مګر دمکی قریشو دوی مکی ته ددا خلیدو څخه منع کړل، بیاپه دی دصلح کولو دپاره تیار سول چی په دی کال باندی به تاسی واپس ولاړسی، په راتلونکی کال به ددی عمری قضاء وکی ، ډیرو صحابه کرامو ﵃ خصوصًا فاروق اعظم ﵁ داقسم صلح نه خوښوله ، مګر نبی کریم ﷺ په خدایی اشارو سره داصلح اخر دمسلمانانو دپاره ذریعه دکامیابی وګڼله اوقبوله یی کړه چی ددی تفصیل مخ ته راځی کله چی نبی کریم ﷺ خپل دعمری احرام خلاص کی او دحدیبیه څخه واپس روان سو، نو په لاره کی داټول سورة نازل سو په دی کی یی وښوله چی دنبی کریم ﷺ خوب رښتینی دی خامخابه واقع سی ، مګر دهغه دا وخت نه دی وروسته به دمکی دفتح په وخت واقع سی اودا صلح حدیبیه یی په فتح مبین سره تعبیر کړه ، ځکه چی داصلح په حقیقت کی دمکی دفتح سبب جوړه سوه ، حضرت عبدالله ابن مسعود﵁ اوځینو نورواصحابو کرامو ﵃ فرمایلی دی چی تاسی خلګ خودمکی فتح ته فتح وایاست اومونږ صلح حدیبیه فتح ګڼو اوحضرت براء بن عازب ﵁ فرمایی چی تاسی خلګ خو دمکی فتح ، فتح ګڼی ، اوپه دی کی شك نسته چی دافتح ده، لیکن مونږ خو په واقعه دحدیبیه کی بیعت رضوان اصلی فتح ګڼو، په کومه کی چی نبی کریم ﷺ دحاضرینو اصحابو﵁ څخه دکومو شمیرچی څوارلس ۱۴۰۰ سوه وو، تر یوی درختی لاندی په جهاد کولو بیعت اخیستی وو، لکه چی په دی سورة کی ددغه بیعت ذکر هم مخ ته راروان دی ، دغه شان حضرت جابر﵁ فرمایی چی مونږ صلح حدیبیه فتح ګڼو (ملخص از ابن کثیر)

اوهرکله چی دامعلومه سوه چی داسورة په واقعه دحدیبیه کی نازل سوی دی او ددی واقعی ډیر اجزاء په خپله په دی سورة کی هم مذکور دی ، په دی وجه مناسب معلومه سوه چی دا واقعه مخ ته ذکر سی ، په تفسیرِ ابن کثیرکی ددی ډیر تفصیل دی او ددی څخه زیات په تفسیرِ مظهری کی دلته په څوارلسو صفحوکی داقصه داول څخه تراخره پوری په تفصیل سره او دمستندو کتابونو دحدیثو په حواله سره بیان سوي ده کومه چی په ډیرو معجزو او نصیحتونو اوعلمی ، دینی سیاسی فائدو اواحکامو باندی مشتمله ده ، په هغه کی دلته ددی قصی صرف هغه اجزاء لیکل کیږی ، دکومو ذکر چی په خپله په دی سورة کی سوی دی یا دکومو چی ددی سره ژور تعلق دی ، چی مخ ته ددی ایتونوپه تفسیر پوهیدل اسان سی کوم چی ددی قصی سره متعلق دی ، او دا ټول بیان دتفسیرِ مظهری څخه را اخیستل سوی دی اوکوم چی دبل تفسیر څخه را اخیستل سوی دی ، دهغه حواله هلته ورسره لیکل سوي ده .

دحُدیبیه واقعه : حدیبیه یومقام دی چی دمکی مکرمی څخه دباندی حدودو دحرم ته بالکل نژدی دی کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

ته چی نن صبا شمسیه وایی دا واقعه په دغه مقام پیښه سوي ده .

(اول جزء دنبي کريم ﷺ خوب)

ددی واقعی یو جزء په روایت دعبدبن حمید او ابن جریر او بیهقی وغیره دا دی چی نبی کریم ﷺ په مدینه طیبه کی دا خوب ولیدی چی دوی مکی مکرمی ته سره دصحابه کرامو ﷺ په امن اواطمینان سره دا خل سوه او داحرام څخه فارغ سوه او څینو خلکو دقاعدی مطابق دسر حلق وکی ، څینو وریښتیان لنډ کړل او دا چی دوی بیت الله ته دا خل سول او دبیت الله چابی د دوی په لاس کی ورغله ، دا ددی واقعی یو جزء دی ، چی ذکر یی په دی سورة کی راغلی دی (دانبیاء خوب وحی وی په دی وجه ددی صورت واقع کیدل یقینی سو) مگر په خوب کی ددی واقعی دپاره څه کال یامیاشت متعین سوی نه وو اوپه حقیقت کی داخوب دمکی دفتح په وخت کی پوره کیدونکی وو ، مگر هرکله چی نبی کریم ﷺ اصحابو ﷺ ته خوب واورؤ نو هغه ټول مکی مکرمی ته دتلو او دبیت الله دطواف کولو وغیره داسی مشتاق وو چی دی حضراتو فوراً تیاری شروع کړه او هرکله چی دصحابه کرامو ﷺ یوه ډله تیاره سوه نونبی کریم ﷺ هم اراده وفرمایله څکه چی په خوب کی دځه خاص کال یا میاشتی تعین نه وو نو احتمال دا هم وو چی اوس به دا مقصد حاصل سی (بیان القرآن په حواله دروح)

(دوهم جزء د دوی ﷺ دصحابه کرامو ﷺ اودکلو دمسلمانانو دځان سره دبیولو دپاره بلل او دځینو انکار کول)

دابن سعد ﷺ وغیره څخه روایت دی چی هرکله نبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ دعمری اراده وفرمایله نودوی ته داخطره مخ ته وه چی ممکنه ده چی دمکی قریش مونږ دعمری کولو څخه منع کړی ، اوممکنه ده چی دمدافعت دپاره دجنګ صورت پیدا سی ، په دی وجه دوی دمدینی منوری دخوا اوشاپه کلوکی اعلان وکی اوخلګو ته یی دځان سره دتللو دعوت ورکی، په هغوکی ډیرو کلی والو د دوی سره دتللو څخه عذر وکی او ویی ویل چی محمد ﷺ او دده اصحاب مونږ دقریشو دمکی سره جنګول غواړی کوم چی ساز اوسامان والا طاقتور دی ، د دوی انجام خو داسی کیدونکی دی چی دوی به ددی سفر څخه ژوندی بیرته رانه سی (مظهری)

(دریم جزء مکي ته روانیدل)

دامام احمد ، بخاری، ابوداود ، نسایی وغیره دروایت مطابق دروانیدو څخه اول نبی کریم ﷺ غسل وفرمایی اونوی ځپری یی زیب تن وفرمایلی اوپه خپله اوښه قصوی باندی سپور سو ، ام المؤمنین حضرت ام سلمه ﷺ یی دځان سره کړه او د دوی سره مهاجرین اوانصار اودصحرا څخه دراغلو خلګو لویه مجمع وه چی شمیر یی په اکثرو روایتونوکی څوارلس سوه ۱۴۰۰ بیان سوی دی اودنبی کریم ﷺ دخوب په وجه په دوی کی دهیڅا شك نه وو چی مکه به دا وخت فتح سی ، حال دا دی چی بغیر دتوروځخه د دوی سره بله څه وسله نه وه ، دوی سره دصحابه کرامو ﷺ دذی القعدی میاشتی په شروع کی ددوشنبی په ورځ روان سول اوذو الحلیفی مقام ته چی ورسیدل ، احرام یی وتړی (مظهری ملخصاً)

(څلورم جزء دمکي دخلګو دمقابلي دپاره تیاری)

بل طرف ته هرکله چی دمکی خلګوته دنبی کریم ﷺ سره داصحابو کرامو ﷺ دیولوی جماعت سره دمکی

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره دروانیدو خبر ورکول سو، نو جمع سول او مشوره یی وکړه چی محمد ﷺ دخپلو اصحابو ﷺ سره دعمری دپاره راځی که مونږ دوی مکی ته راپریښوول، نو په ټولو عربوکی به دامشهوره سی چی هغه په مونږ غلبه پیداکړه، مکی ته را ورسیده حال دا دی چی زمونږ او دده په مینځ کی ډیر جنګونه سوی دی، ټولو عهد وکی چی مونږ به داسی هیڅکله ونه کړو او د دوی دمنع کولو دپاره یی دخالد بن ولید (کوم چی لامسلمان سوی نه وو) په مشری کی یوجماعت دمکی څخه دباندی مقام کُرَاع الغَمِیْم ته ولیږی او دغوا اوشا کلیو خلګ هم ورسره یوځای سول، او دطائف بنو ثقیف قبیله هم دهغوی سره یوځای سوه، دوی په مقام بَلْدَحْ باندی خپل ټیکانه واچول، دی ټولو په خپل مینځ کی دنبی کریم ﷺ مکی ته ددا خلیدو څخه دمنع کولو او د دوی په مقابله کی دجنګ کولو عهد وکی.

(دخبر رسانی یوه عجیبه ساده طریقه)

دی خلګو دنبی کریم ﷺ دحالاتو څخه دخبریدو دپاره دا انتظام وکی چی دبَلْدَح څخه واخله ترهغه مقامه پوری کوم ځای ته چی نبی کریم ﷺ رسیدلی وو، دغرونو په څوکو باندی څه سړی کښینول چی د دوی پوره حالات وینی اوخپل مخامخ غر والا ته په لوړ اواز وایی اوهغه یی بل مخامخ غر والا ته اودغه شان په یوځو منټو کی د دوی دنقل او حرکت خبر بلدح والاوو ته رسیږی.

(دنبی کریم ﷺ خبر رسان)

نبی کریم ﷺ بشر ابن سفیان مخکی مکی مکرمی ته لیږلی وو چی دی پټ ولاړ سی، دمکی والاوو حالات معلوم کړی او دوی ته اطلاع ورکی، هغه دمکی څخه بیرته راغی نو دمکی دخلګو ددغه جنګی تیارکولو اودمکمل مزاحمت دواقعاتو خبریی راوړی وو، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی افسوس دی په قریشوچی ډیرو جنګونو دوی وخوړل خو بیاهم دجنګ څخه نه قلاریږی، ددوی دپاره خوښه موقع وه چی زه اونور عرب یی ازاد پرې اینبی وای که داعرب خلګ په ماغالب راتلی نویا خوبه بیا دوی په اسلام کی داخلیدل اوکه دایی نه کولی اودجنګ کولو اراده یی وی نودوی به تازه اوقوی وای، زمامقابلی ته به بیا راتلل، معلومه نه ده چی ددی قریشو څه خیال دی؟ قسم دی په الله چی زه به په هغه حکم کوم چی الله ماته راکړی زه یی رالیږلی یم همیشه به ددوی خلاف جهاد کوم، تردی چی یوازی زما گردن پاته سی.

(پنځم جزء دنبی کریم ﷺ داوښې په لاره کې کښینستل)

ددی څخه وروسته نبی کریم ﷺ خلګوته خطبه ورکړه اومشوره یی ورڅخه واخیسته چی اوس مونږ ته ددی ځای څخه ددغوخلګو خلاف جهاد شروع کول په کار دی اوکه مونږ ته دبیت الله طرف ته مخ ته کیدل په کار دی؟ بیاچی څوک مونږ منع کوی دهغوی سره به جنګ کوو، حضرت ابوبکرِ صدیق ﷺ او نورو اصحابو ﷺ مشوره ورکړه چی تاسی دبیت الله په قصد سره راوتلی یاست، دچاسره دجنګ کولو دپاره نه یاست راوتلی په دی وجه په خپل قصد باندی اوسیږی، البته که څوک مونږ دمکی څخه منع کوی نومونږ به ورسره جنګ کوو، ددی څخه وروسته حضرت مقداد بن اسود ﷺ پورته سو اوعرض یی وکی چی یارسول الله! مونږ دبنی اسرائیلو په شان نه یوچی تاته دا ووایو، فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا (یعنی ته اوستا رب ولاړ سی جنګ وکی، مونږ به دلته ناست یو) بلکه مونږ به په هرحال ستاپه ملګرتیا کی

Maktaba Tul Ishaat.com

جنگ کوو، نبی کریم ﷺ چی دا واوریدل نو وي فرمایل ، بس اوس دالله ﷺ په نوم مکی ته ځی، هرکله چی دوی مکی مکرمی ته نژدی ورسیدل اوخالد بن ولید اوده ملګرو دوی دمکی مکرمی طرف ته په مخ ته کیدو ولیدل، نودخپل لښکرصفونه یی دقبلی طرف ته مستحکم کړل ویی درول، نبی کریم ﷺ عباد بن بشر ﷺ ته دفوج یوه دسته ورکړه ، مخ ته یی کی ، دوی دخالدبن ولید دلښکر په مقابله کی صفونه جوړ کړل ، په دی حالت کی دماپښین دلمانځه وخت سو، حضرت بلال ﷺ اذان وکی اونبی کریم ﷺ تولو صحابه کرامو ﷺ ته لمونځ ورکی ، خالدبن ولید او دده سپاهیانو ورته کتل، وروسته خالدبن ولید وویل چی مونږ ډیره ښه موقع ضائع کړه، هرکله چی دوی پرلمانځه وه اودغه وخت مونږ حمله پرکړی وای ، خو خیراوس د دوی دبل لمانځه وخت هم راتلونکی دی ، دهغه انتظار وکی، مګر جبرائیل امین دصلوة الخوف احکام راوړل اونبی کریم ﷺ یی دهغوی دارادو څخه خبردارکی ، دلمانځه په وخت کی یی دلښکر په دوو حصوکی دتقسیمولو طریقه یی ورته وښوولە اودهغوی دشر څخه محفوظ سو .

(شپږم جزء په مقام حدیبیه کي یوه معجزه)

مګر هرکله چی نبی کریم ﷺ حدیبیه ته نژدی ورسیدی نو د دوی داوښی پښه وښوئیده اوهغه کښینستله، صحابه کرامو ﷺ پورته کوله خوپورته نه سوه، خلګو وویل چی قصوی ښه نه ده، دوی ﷺ وفرمایل چی دقصوی قصور نه دی، نه ددی داعادت دی، بلکه داهغه ذات منع کړي ده کوم چی اصحابِ فیل منع کړی وه (غالبًا دغه وخت نبی کریم ﷺ ته دا اندازه وسوه چی څه واقعه په خوب کی ماته ښوول سوی وه، هغه داوخت نه دی) دوی چی داولیدل نوویی فرمایل چی قسم دی په هغه ذات دچاپه لاس کی چی دمحمد ﷺ روح دی ، چه نن ورځ قریش چی ماته هره یوه خبره داسی وکړی چی په هغه کی دشعائر الله تعظیم وی نو زه به هغه خامخامنم، بیایی په اوښه یو اوازوکی نوهغه پورته سوه، رسول الله ﷺ دخالد بن ولید دطرف څخه په څنګ سو او دحدیبیه بل جانب ته یی قیام وفرمایی، کوم ځای چی اوبه ډیری کمی وی ، داوبوپه ځای باندی خالد بن ولید اوبلدح والا قابض سوی وه، دلته دنبی کریم ﷺ دا معجزه ظاهره سوه چی یو ځاه وو چی داوبو نری غوندی زیم په کی راتلی په هغه کی دوی ﷺ دخلی اوبه ورتوف کړی اودخپل یوغشی دښخولو حکم یی په کی وکی ، ددی کارسره دهغه اوبو جوش وکی ، دځاه خولی ته راغلی او خلګو ورڅخه په خپلو لوښو اوبه را وایستلی مارِه سول .

(اووم جزء دمکي دخلګو سره په واسطه دوفود خبری اتری)

دغه شان تول اصحاب ﷺ مطمئن سول او دلته دیره سول اودمکی دخلګو سره یی په واسطه دوفودو خبری اتری شروع سوی، اول بدیل بن ورقاء (کوم چی وروسته بیا مسلمان سو) دخپلو ملګرو سره حاضر سو اونبی کریم ﷺ ته یی خیر خواهانه عرض وکی چی دمکی قریش په پوره قوت سره دمقابلی دپاره راوتلی دی او داوبو پرځایونو هغوی قبضه کړي ده هغوی هیڅکله تا نه پریږدی چی ته مکی ته داخل سی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی مونږ دچاسره جنګ کولو ته یو راغلی البته که څوک مونږ دعمری څخه منع کړی نو مونږ به جنګ کوو ، بیا دوی خپله دغه خبره دوباره وفرمایله کومه چی یی مخکی دجاسوس بشر په مخکی کړی وه چی قریش ډیرو جنګونو کمزوری کړی دی ، که هغوی غواړی نو تریوی معینی

Maktaba Tul Ishaat.com

مودی پوری دی زمونږ سره صلح وکی چی هغوی بی فکره سی خپله تیاری وکی اومونږ اوباقی عرب دی پریږدی که هغوی پرما غالب سول نو دهغوی مرادپه کور ناسته پوره سو، اوکه مونږ غالب سو او هغوی په اسلام کی داخل سول، نوهغوی ته به اختیاروی چی هغوی هم په اسلام کی داخل سی یازمونږ خلاف جنګ وکړی اوپه دغه دوران کی به هغوی خپل قوت هم زیات کړی وی، اوکه قریش ددی خبری څخه انکار کوی نو په خدای قسم دی مونږ په خپله معامله باندی به دهغوی سره جنګ کوو، ترڅو پوری چی زما ګردن یوازی باقی پاته وی، بدیل دا وویل واپس سو چی زه څم دقریشو سردارانوته به ستاسی خبره وکړم، هلته چی ولاړی نوځینو خلګو دده خبره اوریدل نه غوښتل، بلکه دجنګ په جوش کی وه، بیا ځینو وویل چی خبره خو واوری، دا ویونکی عروه بن مسعود دخپل قوم سردار وو هرکله چی یی خبره واوریده نو عروه بن مسعود دقریشو سردارانو ته وویل چی محمد ﷺ چی کومه خبره پیش کړه هغه صحیح ده، دا قبوله کړی اوماته اجازه راکی چی زه ولاړسم دهغه سره خبره وکړم، چنانچی بل وار عروه بن مسعود دخبرو اترو دپاره حاضر سو اونبی کریم ﷺ ته یی عرض وکی چی که ته خپل قوم قریش ټول ختم کړی نو آیا دا به ښه خبره وی؟ چیری په دنیا کی تا اوریدلی دی چی چا خپل قوم هلاک کړی وی؟ بیا دصحابه کرامو ﷺ سره دده نرمی ګرمی خبری کیدی، په دی حال کی عروه دصحابه کرامو ﷺ حالاتوته کتل چی که نبی کریم ﷺ به لاړی توکړی نوصحابه کرامو ﷺ به په لاسونوکی راواخیستی په خپلو مخونوبه یی ومړلی اوکله چی به دوی اودس کوی نو داودس څخه په غورزیدونکو اوبو به صحابه کرامو ﷺ غوتی وهلی اوپه خپلو مخونوبه یی پوری کولی اوکله چی به دوی خبری کولی نوټولو به خپل اوازونه چپ کړل، عروه بیرته ولاړی دقریشو سردارانو ته یی وویل چی ما دلویو لویو بادشاهانو قیصر اوکسرٰی اونجاشی دربارونه لیدلی دی، په خدای قسم دی چی ما یو بادشاه داسی نه دی لیدلی دکوم قوم چی په هغه داسی قربان وی، لکه دمحمد ﷺ اصحاب چی په هغه قربان دی اوهغه یوه صحیح خبره کوی، زما مشوره دا ده چی تاسی دده خبره ومنی، مګر خلګو وویل چی مونږ دا خبره نه سو منلی، بغیر ددی څخه چی دوی په دی کال واپس سی، بیاپه راتلونکی کال کی دی راسی، کله چی دعروه خبره ونه منل سوه نوهغه دخپل جماعت سره بیرته ولاړی، ددی څخه وروسته یوبل صاحب حلبیس بن علقمه کوم چی دکلیو سردار وو، هغه د دوی په خدمت کی حاضر سو اوصحابه کرام ﷺ یی داحرام په حالت کی دقربانی دحیوانانو سره ولیدل نو بیرته ولاړی، هغه هم خپل قوم پوه کړی چی دغه خلګ بیت الله ته دعمری دپاره راغلی دی دهغوی منع کول په هیڅ حال جائز نه دی، خلګو دده خبره وا نه وریده نو دی هم دخپلی ډلی سره بیرته ولاړی بیا یو څلورم سړی د دوی سره دخبرو کولو دپاره راغی او د دوی سره یی خبری وکړی نو دوی خپله هغه خبره پیش کړه کومه چی یی ددی څخه مخکی بدیل اوعروه ته پیش کړی وه، هغه ولاړی او خپل جواب یی قریشو ته واور وی.

(اتم جزء حضرت عثمان ﷺ دمکي خلګو ته دپیغام سره لیږل)

امام بیهقی رحمه الله دحضرت عروه څخه روایت کړی دی چی کله نبی کریم ﷺ حدیبیی ته ورسیدی اوقیام یی وفرمایی نو قریش وبیریدل، نو نبی کریم ﷺ اراده وکړه چی دوی ته خپل یوسړی ولیږی او دوی ته

Maktaba Tul Ishaat.com

ووایی چی مونږ دجنګ کولو دپاره نه بلکه دعمری کولو دپاره راغلی یو ، زمونږ لارمه بندوی ، ددی کار دپاره یی حضرت عمر ﷺ را وغوښتی دوی عرض وکی چی دا قریش زما سخت دښمنان دی ، ځکه چی دوی ته زما ددښمنی اوسختی حال معلوم دی او زما دقبیلی هیڅ یوسړی داسی په مکه کی نسته کوم چی زما حمایت وکی ، په دی وجه زه تاسی ته دیو داسی سړی نوم پیش کوم کوم چی په مکه مکرمه کی دخپلی قبیلی وغیره په وجه سره خاص قوت اوعزت لری، یعنی عثمان بن عفان ﷺ، دوی حضرت عثمان ﷺ ددی کار دپاره مامور کی وبی لیږی او دا یی ورته هم وفرمایل چی کوم کمزوری ضعیفان مسلمانان سړی اوښځی چی دمکی مکرمی ځخه هجرت نه سی کولی اوپه مشکلاتو کی ګیږدی ، دوی ته ورسه تسلی ورته ورکړه چی پریشانه کیږی مه انشاء الله مکه مکرمه به فتح سی ، ستاسی دمشکلاتو ختمیدو وخت راغلی دی حضرت عثمان غنی ﷺ اول هغو خلګوته ورلی کومو چی په مقام بلدح کی دحضور ﷺ لاره بنده کړی وه اوجمع سوی وه ، دوی ته یی دنبی کریم ﷺ هغه خبره واوروله کومه چی یی مونږ پیغام واوریدی ، ته ولاړسه اوخپل مشرته ووایه چی دا خبره به هیڅکله نه سی کیدی ، ددی خلګو جواب چی یی واوریدی نو دوی مکی مکرمی دننه ولاړل نوابان بن سعید (کوم چی وروسته مسلمان سوی وو) د دوی سره یی ملاقات وسو ، هغه دحضرت عثمان ﷺ ډیر په ګرم جوشی سره استقبال وکی اوپه خپله پناه کی یی واخستی ورته یی وویل چی په مکه کی کوم ځای ته غواړی تللی سی هیڅ فکر مه کوه ، بیایی په خپل اس حضرت عثمان ﷺ سپورکی او په مکه مکرمه کی دا خل سو ځکه چی دده قبیله بنو سعید په مکه مکرمه کی ډیره قوی اوعزتمنده وه ، تردی چی حضرت عثمان ﷺ په مکه مکرمه کی دقریشو دیوه یوه سردار خوا ته ورسیدی او دحضور ﷺ پیغام یی ورته ورسوی چی مونږ دچاسره دجنګ کولو دپاره نه یو راغلی ، عمره کوو او بیرته ځو، البته که څوك زمونږ لاره بندوی نوجنګ به ورسره کوو اوقریش په خپله دجنګونو ځخه ستړی سوی دی ، د دوی دپاره مناسبه دا ده چی مونږ اونور عرب پریږدی ، قریش دی زمونږ مقابلی ته نه راځی ، بیادی ګوری که عرب په مونږ غالب راغلل نو د دوی مراد به پوره سی اوکه مونږ غالب سو نو دوی ته به بیاهم اختیار وی ، دغه وخت جنګ کول کیږی اوپه دی موده کی به دوی ته دخپل طاقت زیاتولو اومحفوظ پاته کیدو موقع هم ورکول سی ، مګر دی ټولو د دوی خبره رد کړه ، بیاعثمان غنی ﷺ دضعیفانو مسلمانانو سره ولیده ، دوی ته یی دنبی کریم ﷺ پیغام ورسوی ، هغوی ډیر خوشحاله سول اونبی کریم ﷺ ته یی سلام ولیږی ، هرکله چی حضرت عثمان غنی ﷺ دنبی کریم ﷺ دَپیغامونو رسولو ځخه فارغ سو نو دمکی خلګو ورته وویل چی که ته غواړی نو طواف کولی سی ، حضرت عثمان غنی ﷺ وویل چی زه ترهغه وخته پوری طواف نه کوم ترڅو چی نبی کریم ﷺ طواف ونه کی ، حضرت عثمان غنی ﷺ په مکه مکرمه کی دری شپی پاته سو او دقریشو سردارانو ته یی درسول الله ﷺ دخبری منلو طرف ته دعوت ورکوی .

(نهم جزء دمکي دخلګو او دمسلمانانوپه مینځ کي اړی ګړی اودمکي دخلګوځخه داویا ۷۰ کسانو نیول)

په دی موده کی قریشو خپل پنځوس سړی په دی کار ولګول چی دوی نبی کریم ﷺ ته ځانونه ورسوی او دموقعی انتظار دی کوی اوچی موقع پیداکی (نعوذ بالله) چی دده قصه ختمه کړی ، هغه خلګ په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

تګ کی وه چی دنبی کریم ﷺ محافظ اوپه نګرانی مامور حضرت محمد بن مسلمه ﷺ دا ټول ونیول او دنبی کریم ﷺ په خدمت کی یی ترلی حاضر کړل ، بل طرف ته حضرت عثمان غنی ﷺ چی په مکه کی وو او دده سره تقریبًا لس مسلمانان نور مکی ته رسیدلی وه قریشو چی هرکله دخپلو پنځوسو کسانو ګرفتاری حال واوریدی نو دحضرت عثمان غنی ﷺ سره یی دغه ټول مسلمانان ایسار کړل او دقریشو یوه ډله دمسلمانانو دلښکر طرف ته راوړاندی سوه او په مسلمانانو یی غشی اوډبری راوویشتل ، په دی دمسلمانانو څخه یوصحابی ابن زنیم ﷺ شهید سو او مسلمانانو ددغو قریشو لس سپاره ګرفتار کړل او نبی کریم ﷺ ته چا دا خبر را وړی چی حضرت عثمان غنی ﷺ قتل سو .

(لسم جزء دبیعت رضوان واقعه)

نبی کریم ﷺ چی دا خبر واوریدی نوصحابه کرام ﷺ یی تر یوی درختی لاندی جمع کړل چی ټول جمع سی او دنبی کریم ﷺ په لاس دجهاد دپاره بیعت وکی، ټولو صحابه کرامو ﷺ د دوی په لاس بیعت وکی چی ذکر یی مخ ته په دی سورة کی راتلونکی دی ، په صحیح احادیثوکی ددغو خلګو لوی فضیلت راغلی دی ، کوم چی په دی بیعت کی شریك وه اوحضرت عثمان غنی ﷺ چونکی دحضور ﷺ په حکم سره مکی ته تللی وو ، په دی وجه دهغوی دطرف څخه نبی کریم ﷺ په خپله خپل یولاس په بل لاس کی ورکی اووي فرمایل چی دا دعثمان ﷺ بیعت دی ، داخصوصی فضیلت دحضرت عثمان ﷺ وو چی دوی ﷺ خپل لاس دحضرت عثمان ﷺ لاس مقرر کی او دهغه دطرف څخه یی بیعت وکی .

(یوولسم جزء دحدیبیي واقعه)

بل طرف ته دمکی په خلګو الله ﷻ دمسلمانانو رعب مسلط کی اوپه خپله دمصالحت دپاره تیار سوه ، دوی خپل دری سړی سهیل بن عمرو اوحویطب بن عبد العزیٰ اومکرز بن حفص دعذر اومعذرت دپاره نبی کریم ﷺ ته ولیږل په دغو کی اولنی دوه حضرات بیا وروسته مسلمانان هم سول، سهیل بن عمرو چی راغی نو عرض یی وکی چی یارسول الله ﷺ تاته چی کوم خبر رسیدلی دی چی عثمان غنی ﷺ او دده ملګری قتل سول ، دا بالکل غلطه ده ، مونږ هغوی تاسی ته رالیږو ، زمونږ قیدیان ازادکی ، نبی کریم ﷺ هغوی ازاد کړل ، په مسند احمد اومسلم کی دحضرت انس ﷺ روایت دی چی په دی سورة کی چی کوم مخ ته راتلونکی آیت دی ، وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ : دا ددی واقعی متعلق دی ، اوس سهیل او دده ملګری ولاړل ، په بیعت رضوان کی دصحابه کرامو ﷺ دجوش خروش اودجان نثاری دعجیبه منظر حال یی دقریشو په مخکی بیان کی، نو دقریشو هوښیارانو خلګو په خپل مینځ کی وویل چی ددی څخه ښه بله خبره نسته چی مونږ دمحمد ﷺ سره په دی خبره صلح وکو چی هغوی دی په دی کال خو بیرته ولاړ سی چی په ټول عرب کی دا شهرت ونه سی چی مونږ خو هغوی منع کول لیکن منع نه سول اوپه زور مکی ته دا خل سوه او په راتلونکی کال دی دعمری دپاره راسی او دری ورځی دی په مکه کی قیام وکی دغه وخت دی خپل دقربانی حیوانان ذبح کړی اواحرام دی خلاص کړی ، چنانچی هم دی سهیل بن عمرو داپیغام نبی کریم ﷺ ته ورسوی حاضرسو ، حضور ﷺ چی هغه ولیدی نووي فرمایل چی اوس معلومیږی چی دی قوم دصلحی اراده کړي ده چی سهیل یی بیا راولیږی ، نبی کریم ﷺ چهار زانو کښینستی او

Maktaba Tul Ishaat.com

دصحابه وو ﷺ څخه عباد بن بشر ﷺ اوسلمه ﷺ باوسله دنبی کریم ﷺ په خوا کی دحفاظت دپاره ودریدل، سهیل حاضر سو نو په ادب سره دحضور ﷺ په مخکی کښینستی او دقریشو پیغام یی دوی ته ورسوی، صحابه کرام ﷺ عموماً په دی راضی نه وه چی دا وخت خپل احرامونه بغیر دعمری کولو څخه خلاص کړی دوی دسهیل سره سختی خبری وکړی، اوازونه به کله پورته سول کله کښته، عبادبن بشر ﷺ سهیل وترتی چی دحضور ﷺ په مخکی اواز مه لوړه وه، داوږدو خبرو څخه وروسته دوی ﷺ دغه شرط قبول کی اوپه صلح کولو راضی سوه، سهیل وویل چی راوړی مونږ به خپل اوستاسی په مینځ کی صلح نامه ولیکو، نبی کریم ﷺ حضرت علی ﷺ راوغوښتی او ویی فرمایل لیکه، بسم الله الرحمٰن الرحیم، سهیل ددی ځای څخه بحث شروع کی، ویی ویل چی لفظ دَرَحْمٰن اورحیم زمونږ په محاوره کی نسته، ته دلته هغه لفظ ولیکه کوم چی به دی مخکی لیکی یعنی، بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ، حضور دا هم ومنله اوحضرت علی ﷺ ته یی وفرمایل، چی داسی ولیکه ددی څخه وروسته دوی حضرت علی ﷺ ته یی وفرمایل، چی داولیکه چی، دا هغه عهدنامه ده دکمی فیصله چی محمد رسول الله ﷺ کړي ده سهیل په دی هم ضد وکی چی که مونږ ته دالله ﷻ رسول منلی نو ته به مو هیڅکله دبیت الله څخه نه وای منع کړی (په صلح نامه کی داسی څه لفظ نه دی په کار کوم چی دیو فریقی دعقیدی څخه خلاف وی) ته صرف محمد بن عبدالله ولیکله، نبی کریم ﷺ داهم منظوره کړه حضرت علی ﷺ ته یی وفرمایل چی څه دی لیکلی دی، هغه خراب کړه محمد بن عبدالله ولیکه، حضرت علی ﷺ چی دسر څخه ترپښو پوری اطاعت وو عرض وکی چی زه خو دانه سم کولی چی ستانوم خراب کړم په حاضرینوکی حضرت اسیدبن حضیر ﷺ اوسعدبن عباده ﷺ، دحضرت علی ﷺ لاس ونیوی چی دابه نه خرابوی اوبغیر دمحمد رسول الله څخه به نور هیڅ نه لیکی که دا خلګ یی نه منی نو زمونږ او د دوی په مینځ کی به توره فیصله وکړی اوڅه اوازونه دهر طرف څخه لوړ سول نو نبی کریم ﷺ دصلح نامی کاغذپه خپلولاسونومبارکو کی واخیستی اوسره ددی چی دی اُمّی وو، اول یی هیڅکله لیکل نه وه کړی، مګر دغه وخت په خپل قلم سره دوی ﷺ ولیکل.

هٰذَا مَا قَاضٰى مُحَمَّد بن عَبْدُ اللهِ وَسُهَيْلُ بْنُ عَمرو وَاصْلَحَا عَلٰى وَضْعِ الْحَرْبِ عَنِ النَّاسِ عَشْرَ سِنِيْنَ يَأْمَنُ فِيْهِ النَّاسُ وَيَكُفُّ بَعْضُهُمْ عَنْ بَعْضٍ.

(یعنی دا هغه فیصله ده کومه چی محمدبن عبدالله اوسهیل بن عمرو دلسو کالو دپاره دیو بل سره دجنګ نه کولو کړی ده چی په دی کی تول خلګ په امن وی او دیوبل سره دجنګ څخه به ځان ساتی)

بیانبی کریم ﷺ وفرمایل چی زمونږ یوشرط دا دی چی دا وخت به مونږ دطواف څخه نه سی منع کولی، سهیل وویل چی په خدای قسم دی دا نه سی کیدی، دوی دا هم قبوله کړه، ددی څخه وروسته سهیل خپل یو شرط دا ولیکی چی کوم سړی دمکی والاوو څخه دخپل ولی داجازت څخه بغیر تاسی ته راسی هغه به تاسی واپس کوی که څه هم هغه ستاسی په دین وی، په دی عامو مسلمانانو اوازونه پورته کړل، سُبْحَانَ الله دا څنګه کیدی سی چی مونږ به خپل مسلمان ورور مشرکانو ته واپس کوو، مګر نبی کریم ﷺ دا هم قبوله کړه او دا یی وفرمایل چی که زمونږ څخه څوک د دوی طرف ته ولاړسی نوهغه الله ﷻ زمونږ څخه لیری کی دهغه مونږ ولی فکر کوو اوکه د دوی څخه یو سړی مونږ ته راغی اومونږ واپس هم کی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

الله ﷻ به دهغه دپاره داسانی لار راوباسی حضرت براء ﷺ ددی صلح نامی خلاصه دری شرطونه بیان کړی دی ، یو دا چی که دَهغوی څخه څوك مونږ ته راسی نو مونږ به هغه واپس کوو او دوهم دا چی که زمونږ څخه څوك د دوی طرف ته ولاړ سی نو هغه به نه واپس کوو ، دریم دا چی اوس به په راتلونکی کال دعمری دپاره راځی او دری ورځی به په مکه کی قیام کوی او زیاته وسله به دځان سره نه راوړی ، اوپه اخرکی یی ولیکل سوه چی دا عهد نامه به دمکی والاوو اونبی کریم ﷺ په مینځ کی یو محفوظ دستاویز وی چی هیڅوك به یی خلاف ورزی نه کوی اوباقی ټول عرب ازاد دی ، دچا زړه چی غواړی دقریشو په عهد کی دی دا خل سی ، چی دا یی واوریدل نو خزاعه قبیلی چیغی کړی اووې ویل چی مونږ دمحمد ﷺ په عقد کی دا خل سو او بنو بکر رامخ ته سو ، وې ویل چی مونږ دقریشو په عقد اوعهد کی داخل سو .

(دصلح په شرطونو دعامو صحابه کرامو ﷺ ناراضګي او خفګان)

هرکله چی دصلح دا شرطونه مقرر سول نو دعمربن خطاب ﷺ څخه صبر ونه سو اونبی کریم ﷺ ته یی عرض وکی ، چی یا رسول الله! ایا تاسی دالله ﷻ برحق رسول نه یاست؟ نو دوی ﷺ وفرمایل ولی نه ، بیا حضرت عمر ﷺ وویل ایا مونږ په حقه او دغه خلګ په باطله نه دی؟ دوی وفرمایل ولی نه ، په دی حضرت عمر ﷺ عرض وکی نو بیا مونږ ولی دا ذلت قبلوو چی بغیر دعمری کولوځخه واپس کیږو ، تر هغه چی په جنګ سره الله ﷻ څه فیصله ونه کړی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی زه دالله ﷻ بنده او دهغه رسول یم ، هیڅکله دهغه دحکم خلاف نه کوم اوالله ﷻ به ماضائع نه کړی ، هغه زمامددګار دی ، حضرت عمر ﷺ عرض وکی چی یارسول الله! ایا تاسی مونږ ته دا نه وه فرمایلی چی مونږ بیت الله ته څو او طواف کوو ، دوی وفرمایل چی بیشکه دامی ویلی وه ، مګر آیا ما دا ویلی وه چی دا کار به په دی کال کیږی؟ حضرت عمر ﷺ وویل چی دا خو تاسی نه وه ویلی نو دوی وفرمایل چی بس داواقعه څنګه چی ما ویلی وه کیږی به ، چی تاسی به بیت الله ته څی اوطواف به کوی .

حضرت عمربن خطاب ﷺ خاموش سوخوغم اوغصه یی ختمه نه سوه ، د دوی دخوا څخه دحضرت ابوبکر ﷺ خواته ولاړی او ددی خبرواعاده یی وکړه کوم چی یی حضور ﷺ ته کړی وه حضرت ابوبکر ﷺ وفرمایل دخدای بنده محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دی اوهغه دالله ﷻ دحکم خلاف هیڅ کارنه کوی ، اوالله ﷻ دهغوی مددګار دی ، په دی وجه ته تر مرګه پوری دهغه رکاب ونیسه ، په خدای می قسم دی ، هغه په حقه دی ، غرض دا چی حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ته په دی صلح باندی سخت خفګان ورسیدی ، په خپله دوی وفرمایل چی په خدای قسم، دکله څخه چی ما اسلام قبول کړی دی ، ماته هیڅکله شك نه دی راپیښ سوی ، بغیر ددی واقعی څخه (رواه البخاری) حضرت ابوعبیده ﷺ پوه کی او وې فرمایل چی دشیطان دَشر څخه پناه غواړه ، حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه فرمایی چی کله زه په خپله غلطی پوه سوم نو په مخه به می صدقی خیراتونه کول اوروژی به می نیولی اوغلامان به می ازادول چی زما داخطایی معاف سی .

(یوه بله حادثه او دمعاهدی په پابندی کې دنبي کریم ﷺ بې نظیره عمل)

اوس اوس دا شرطونه دصلح مقرر سول اواصحابو لا دناخوښی اظهارونه پرکول چی ناڅاپه ددغه سهیل بن عمرو چی ددی صلحنامی دقریشو دطرف څخه فریق وو زوی ابوجندل چی مسلمان سوی وو اوپلار

Maktaba Tul Ishaat.com

دی قید کړی وو اوسخت تکلیفونه یی ورته ورکول هغه په څه ډول وتښتیدی او د حضور ﷺ په خدمت کی یی ځان را ورسوی او د دوی څخه یی پناه وغوښتله ، څه مسلمانان ورمخ ته سول اودی یی په خپله پناه کی واخیستی ، مگر سهیل چیغی کړی چی دا خو اوله دعهدنامی خلاف ورزی کیږی که دی واپس نه سو نو زه دصلح شرط نه منم ، رسول الله ﷺ عهد کړی وو اوپابند سوی وو ، په دی وجه یی ابوجندل ته اواز وکی اووي فرمایل چی ای ابوجندله! ته څو ورځی نور صبر وکړه ، الله ﷻ به ستادپاره اودنورو کمزورو مسلمانانو دپاره کوم چی په مکه کی قیدی دی ، ډیر ژر دخلاصون اوفراخی څه انتظام وکی ، دمسلمانانو په زړونو دابوجندل دی واقعی نوره مالگه ودوړوله ، هغوی خویقین کړی وو راغلی وه چی په دی وخت به مکه فتح سی اودلته یی داحالات ولیدل نو د دوی غم اورنج نور زیات سو قریبه وه چی دوی په هلاکت کی پریوتلی وای ، مگر معاهده دصلح مکمل سوی وه ، په دی صلح نامه دمسلمانانو دطرف څخه حضرت ابوبکر ﷺ ، عمر ﷺ، عبدالرحمٰن بن عوف ﷺ اوعبدالله بن سهیل بن عمر ﷺ، سعد بن ابی وقاص ﷺ، محمدبن مسلمه ﷺ اوعلی بن ابی طالب ﷺ وغیره دستخطونه وکړل ، دغه شان دمشرکینو دطرف څخه دسهیل سره دځو نورو ملگرو هم دستخطونه وسول.

﴿احرام خلاصول او دقرباني حیوانان ذبح کول﴾

هرکله چی دصلح نامی دکتابت (لیکلو) څخه فارغ سو نونبی کریم ﷺ وفرمایل چی (دصلح نامی دقرارداد مطابق اوس مونږ ته واپس تلل دی) ټول خلگ دی خپل دقربانی حیوانان کوم چی یی دځان سره راوستلی دی ، قربانی کړی اوسرونه دی وخروی احرامونه دی خلاص کړی دمسلسل رنج اوغم په وجه داصحابو کرام ﷺ دا حال سوی وو چی د دوی دفرمان باوجود هیڅوک ددی کار دپاره پورته نه سول ، په دی سره نبی کریم ﷺ غمجن سو او دام المومنین حضرت سلمه ﷺ خواته نبی کریم تشریف یوړی او دخپل دی غم ذکر یی ورته وکی ، ام المومنین ډیره مناسبه اوښه مشوره ورکړه چی ته صحابه کرام ﷺ ته په دی هیڅ ونه وایی دوی ته دا وخت سخته صدمه اوغم دصلح په شرطونو اوبغیر دعمری کولو څخه په واپس کیدو سره رسیدلی دی ته دټولو په مخکی نایی راوغواړه په خپله خپل سر وخروه ، احرام وتړه او خپله قربانی وکړه ، د دوی دمشوری مطابق یی داسی وکړل ، صحابه کرام ﷺ چی هرکله دا ولیدل نو ټول پورته سول او دیو بل سر خریل یی شروع کړل اوقربانی کولو باندی شروع سول ، دوی ﷺ دټولو دپاره دعا وکړه.

نبی کریم ﷺ دحدیبیه په دی مقام کی نولس (۱۹) اودځینو روایتونو په اعتبار سره شل (۲۰) ورځی قیام فرمایلی وو، اوس ددی ځای څخه واپسی شروع سوه او دوی دصحابه کرام ﷺ دمجمعی سره اول مر ظهران بیا عسفان ته ورسیدل ، دلته چی ورسیدی نو دټولو مسلمانانو سره توښه تقریباً ختمه سوی وه ، دخوراك سامان ډیرکم پاته وو ، نبی کریم ﷺ یو دسترخوان وغوړوی اوټولو ته یی حکم وکی چی دچا سره هر څه چی وی راوړی ، دلته یی جمع کړی ، دغه شان چی دخوراك څه باقیمانده سامان وو ټول په دی دسترخوان جمع سوه ، دځوارلس سوه حضراتو مجمع وه ، نبی کریم ﷺ دعا وفرمایله ، او ټولو ته یی دخوراك کولو حکم ورکی دصحابه کرام ﷺ بیان دی چی ټولو څوارلسو سوو حضراتو ښه په مړه خیته وخوړه بیایی ورځخه خپل لوښی ډك کړل ، ددی څخه وروسته هم بیا دهغه هومره خوراك باقی پاته سو،

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی مقام دا دوهمه معجزه ظاهره سوه اونبی کریم ﷺ چی داولیدل نو ډیر خوشحاله سو.

(دصحابه کرامو ﷺ دایمان اواطاعت رسول یوبل امتحان او د دوی بې نظیر قوت ایماني)

لوړ معلومه سوه چی په صحابه کرامو ﷺ دصلح داشرطونه او بغیر دعمری کولو او بغیر دجنګ څخه واپسی سخته ګرانه اوناخوښه وه، دا د دوی ایمان وو، چی په دی تولو حالاتوکی په ایمان اواطاعت رسول باندی ټینګ پاته سول، دحدیبیه څخه چی په واپسی کی کله دوی مقام کراع غمیم ته ورسیدل نو په دوی دا سورة فتح نازل سو، دوی صحابه کرامو ﷺ ته واوروی، دصحابه کرامو ﷺ زړونه په داسی شرطونه دصلح اوبغیر دعمری کولو څخه په واپسی سره دمخکی څخه زخمی سوی وه اوس دی سورة دا وښوولە چی فتح مبین حاصله سوې ده حضرت عمربن خطاب بیا پوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ آیا دا فتح ده؟ دوی ﷺ وفرمایل قسم دی په هغه ذات دچاپه قبضه کی چی زما روح دی دا فتح مبین ده، صحابه کرامو ﷺ دی ته هم سر دتسلیم کښته کی او په دی تولو شیانو یی دفتح مبین یقین وکی.

(دصلح حدیبیه فائدو او برکتونو بیکاره کیدل)

«دتولوڅخه اوله خبره خوپه دی واقعه کی دا وسوه چی دمکی په قریشو او د دوی په ډیرو تابعداری کوونکو د دوی عناد اوبی ځایه ضد واضح سو د دوی دپاره وبال جان جوړسو، بدیل ابن ورقاء دخپلو ملګرو سره د دوی څخه جلاسوه، بیا عروه ابن مسعود دخپل ملګرو سره جلا سو، بل دصحابه کرامو ﷺ دبی مثله جان نثاری اودنبی کریم ﷺ دبی مثاله اطاعت اومحبت په لیدو دمکی قریش مرعوب سول او دصلح طرف ته مائل سو، حال دا دی چی د دوی دپاره دمسلمانانو دصفایاکولو دپاره ددی څخه ښه موقع بله نه وه، ځکه چی دوی په خپلو کورونوکی مطمئن وه، مسلمانان دمسافری په حالت کی وه، قریشو داوبو په ځایونو قبضه کړی وه، دوی په بی اوبو اوبی ګیاه ځنګل کی وه، دقریشو سره ټول قوت موجود وو، دمسلمانانو سره زیاته وسله هم نه وه، مګرالله ﷻ دهغوی په زړونوکی رعب واچوی او دهغوی د ډیروخلګو دډلی دنبی کریم ﷺ سره دملاقات اوخلط موقعی ورپیدا سی، دهغوی څخه دډیرو خلګو په زړونو کی اسلام او ایمان راسخ سو او بیا وروسته مسلمانان سول.

دریم دصلح او امان په وجه سره لاری په امن سوی، داسلام ددعوت دپاره نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ ته لاری خلاصی سوی، دعربو وفدونوته د دوی دخدمت موقع ورکول سوه، نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ کونج کونج ته داسلام دعوت ورکی، ددنیا بادشاهانو ته داسلام ددعوت ورکولو دپاره خطونه ولیږل سول، په دی سره ځینی لوی لوی بادشاهان متاثره سول، مطلب یی دا را ووتی چی دحدیبیه په واقعه کی دنبی کریم ﷺ دعام دعوت او تولو ته دعمری دپاره دوتلو دتاکید باوجود دیو نیم زرځخه زیات مسلمانان ورسره نه وه او دصلح حدیبیه څخه وروسته ډلی ډلی خلګ په اسلام کی دا خل سول، په دی موده کی په سنه ۷ هـ کی خیبر فتح سو مسلمانانوته ډیر سامان په لاس ورغی او د دوی مادی قوت مستحکم سو، او په دی صلح دوه کاله نه وه تیر سوی چی دمسلمانانو شمیر دومره زیات سوکوم چی ددی څخه مخکی په تیره توله موده کی نه وو زیات سوی، ددی نیتجه دا سوه چی هرکله دمکی قریشو ددی معاهدی خلاف ورزی وکړه معاهده یی ماته کړه اونبی کریم ﷺ پټ دمکی دفتح کولو تیاری شروع

Maktaba Tul Ishaat.com

کړه نو په دی صلح نامه صرف شل ۲۰ یوویشت ۲۱ میاشتی تیری سوی وی چی دمکی دفتح کولو دپاره دنبی کریم ﷺ سره دتلونکو جان نثاره سپایانو شمیر لس زره وو ، دمکی قریش چی خبر سول نو وبیریدل او ابو سفیان یی دعذر معذرت کولو او عهدنامی نوی کولو دپاره دنبی کریم ﷺ په خدمت کی ولیږی ، دوی معاهده نوی نه کړه او اخر دلسو زرو ددی حزب الله سره دوی مکی مکرمی طرف ته روان سوه ، دقریشو کافران داسی مغلوب اومرعوب سوی وه چی په مکه مکرمه کی دڅه زیات جنګ نوبت هم رانغی ، څه دنبی کریم ﷺ حکیمانه سیاست دجنګ نه کیدو دا انتظام وکی چی دوی په مکه مکرمه کی اعلان وکی چی کوم سړی دخپل کور دروازه بنده کړی هغه په امن دی ، څوك چی مسجد حرام ته دننه سی هغه په امن دی ، څوك چی دابوسفیان کورته دننه سی هغه په امن دی ، دغه شان دټولو خلګو سره خپل خپل فکر سو او دجنګ جګړی زیات نوبت رانه غی ، په دی وجه په فقهاء امامانوکی دا اختلاف جوړ سو چی مکه مکرمه په صلح سره فتح سوه یاپه جنګ سره ، په هرحال په ډیر سهولت سره مکه مکرمه فتح سوه ، دنبی کریم ﷺ خوب رښتیا سو خلګو ولیدی ، صحابه کرامو رضی الله عنهم بی خطره سول ، دبیت الله طواف اوبیا حلق او قصر یی وکی .

نبی کریم ﷺ اوصحابه کرام رضی الله عنهم بیت الله شریفی ته دا خل سوه ، دبیت الله شریفی کلی د دوی لاس ته ورغله ، دغه وخت نبی کریم ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته خصوصًا او ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته عمومًا خطاب وفرمایی چی دا ده هغه واقعه کومه چی ماتاسی ته ویلی وه .

بیا دحجة الوداع په موقع نبی کریم ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته خطاب وفرمایی چی دا وه هغه واقعه کومه چی ماتاته ویلی وه ، حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه وفرمایل چی بیشکه هیڅ فتح دصلح حدیبیه څخه بنه اولویه نسته ، صدیق اکبر رضی الله عنه خو دمخکی څخه فرمایل چی په اسلام کی هیڅ فتح دصلح حدیبیه سره برابره نه ده ، لیکن خلګ نه په پوهیږی ، کوم چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په مینځ کی یو مقرر سوی حقیقت وو ، دی خلګوتلواری نه کوله ، بلکه په حکمت اومصلحت سره یی هرکارپه خپل صحیح وخت انجام پیدا کی ، په دی وجه په سورة فتح کی الله ﷻ صلح حدیبیه ته فتح مبین وفرمایله ، دا دحدیبیی دواقعی اهم اجزاء وه په کوم سره چی به دراتلونکو ایتونو په پوهیدوکی اسانی راسی ، اوس دایتونوتفسیر وګوری .

لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ : په دی کی د ، لِيَغْفِرَ لام که دعلت دبیان دپاره واخیستل سی نو مطلب به یی داسی چی دا فتح مبین تاته ځکه درکول سوي ده چی تاته دا دری کمالات حاصل سی ، دکومو چی په دی آیت کی ذکر دی ، په دی کی اولنی شی دټولو مخکنیو او وروستنیو خطاګانو معافی ده ، په سورة محمد کی اول دا معلومه سوي ده چی انبیاء دګناهونو څخه معصوم وی ، د دوی طرف ته چی کوم ځای په قرآن کریم کی دَ ذَنْب یا عصیان وغیره الفاظو نسبت سوی دی هغه دهغوی دلوړ مقام دمناسبت په وجه دداسی کارونو دپاره استعمال سوی دی کوم چی خلاف اولی وو ،مګر دنبوت دلوړیدو مقام په اعتبارسره په غیر افضل عمل کول هم داسی خطاده کوم چی قرآن په طور دتهدید په ذنب اوګناه سره تعبیرکړی دی اود : مَاتَقَدَّمَ څخه مراد هغه خطاګانی دی کومی چی دنبوت څخه مخکی سوی دی او د : مَاتَاَخَّرَ څخه مراد هغه خطاګانی دی کوم چی دنبوت اورسالت څخه وروسته صادری سوی (مظهری)

Maktaba Tul Ishaat.com

او دفتح مبین ددی مغفرت دپاره دسبب کیدو وجه دا ده چی په دی فتح مبین سره به ډیرخلګ دلی دلی په اسلام کی دا خل سی ، او داسلام دعوت عام کیدل د دوی دژوند لوی مقصد او د دوی داجر اوثواب زیاتونکی دی او داجر او ثواب زیاتیدل سبب دی دګناهونو دکفاری (بیان القرآن)

وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا : دا دوهم نعمت دی کوم چی په دی فتح مبین باندی مرتب سو ، دلته دا سوال پیدا کیږی چی په صراط مستقیم باندی خو دوی داول څخه دی او نه صرف په صراط مستقیم دی ، بلکه دنیا ته ددی صراط مستقیم دعوت ورکول د دوی دشپی ورځی مشغله ده ، نو دهجرت په شپږم کال دفتح مبین په ذریعه دصراط مستقیم دهدایت څه معنی ده؟ ددی جواب دسورة فاتحی دتفسیردلفظ دهدایت په تحقیق کی تیر سوی دی ، چی دهدایت یو داسی عام مطلب دی چی درجی یی غیر متناهی دی ، وجه دا ده چی دهدایت معنی دمنزل مقصود لارښوول یادی ته رسول دی اواصل منزل مقصود دهر انسان دپاره دحق تعالی رضا او قرب حاصلول دی او ددی رضا او قرب متفاوتی درجی بی شمیره دی ، دیوی درجی دحاصلیدو څخه وروسته د دوهمی او دریمی ضرورت باقی کیږی دکومو څخه چی دلویو څخه لوی ولی بلکه نبی او رسول هم بی نیازه کیدی نه سی ، په دی وجه دَ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ دعا دلمانځه په هر رکعت کی دکولو تعلیم لکه چی امت ته دی په خپله نبی کریم ﷺ ته هم دی چی مطلب یی دصراط مستقیم هدایت یعنی دالله ﷻ دقرب او رضاپه درجوکی ترقی حاصلول دی ، په دی فتح مبین باندی حق تعالی ددی قرب او رضا یو ډیر لوی اعلی مقام دوی ته عطا وفرمایی ، کوم چی یی د: يَهْدِيَكَ په لفظ سره تعبیر فرمایلی دی، وَيَنْصُرَكَ اللهُ نَصْرًا عَزِيزًا دا دریم نعمت دی کوم چی په دی فتح مبین باندی مرتب سو ، چی دالله ﷻ امداد او اعانت کم چی تاته همیشه حاصل دی دا وخت ددی مدد لویه درجه تاته درکول سوه .

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ

(الله) هغه ذات دی چی نازل یی کی اطمنان په زړونو دایماندارو چی نور زیات سی د دوی دایمان څخه

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

اودالله ﷻ دی ټولی لښکری داسمانونواودمځکو ،اودی الله خبردار اوحکمت والا ،چی ورسوی ایماندارسړی اومؤمنانی ښځی

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ

باغونو ته چی بهیږي به لاندی دهغو څخه نهرونه همیشه به وی په هغه کی اولیری به کړی دهغو څخه

سَيِّاٰتِهِمْ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝ وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ

ګناهونه دهغوی ، او دا دی دالله په نزد لوی مراد پیداکول ، او چی په عذاب کړی منافقان سړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ

اومنافقانی ښځی او مشرکان سړی اومشرکانی ښځی اټکل ترونکی په الله بد اټکل کوونکی ،

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ

په هغوی به ولویږي مصیبت ، او غصه سو الله هغوی ته او لعنت یی وکی په هغوی اوتیار کړی یی دی دهغوی

جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝۶ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝۷

دپاره جهنم،اودیربدځای دی دورتلو ،اودالله دی ټولی لښکری داسمانونواودمځکی،اودی الله زبردست حکمت والا

لنډتفسیر: هغه خدای داسی دی چاچی دمسلمانانو په زړونوکی تحمل پیدا کی (چی ددی دوه اثره دی یو دجهاد دبیعت په وخت کی دهغه طرف ته مسابقت او عزم او همت لکه چی دبیعت رضوان په واقعه کی لوړ ذکر سوی دی او دوهم اثر دکفارو دبی ځایه ضد په وخت کی خپل جوش اوغضب په واك کی ساتل چی ذکر یی ددی واقعی په لسم جز کی په تفصیل سره راغلی دی اومخ ته هم په ، فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ کی به راسی) چی دهغوی داولنی ایمان سره دهغوی ایمان نور زیات سی (ځکه چی په اصل کی اطاعت رسول ذریعه ده په نور دایمان کی دزیاتی ، او په دی واقعه کی په هر ارخ سره داطاعت رسول مکمل امتحان وسو چی هرکله رسول دجهاد ددعوت دپاره وبلل او بیعت یی ورځخه واخیستی نو په ډیره خوشحالی اومسابقت سره ټولوبیعت وکی او دجهاد دپاره تیار سول ، او هرکله چی دحکمت او مصلحت ترمخه نبی کریم ﷺ دقتال ځخه منع کړل او ټول صحابه کرام ؓ دجهادپه جوش کی دجنګ دپاره بی قرار وه ، مګر اطاعت رسول ﷺ ته یی سرکښته کی اودجنګ ځخه منع سول) او دآسمانونو او دمځکی ټولی لښکری (لکه ملائکی اوټول مخلوقات) دالله ﷻ (لښکری) دی (په دی وجه دکفارو شکست او ددین اسلام دسر بلندی دپاره الله ﷻ ستاسی دقتال او جهاد محتاج نه دی ، هغه که وغواړی نو دخپلو ملائکو لښکر به را وغواړی لکه چی دبدر، حنین اواحزاب په غزاګانوکی ددی مشاهده وسوه اودا لښکر لیږل هم دمسلمانانو دهمت دزیاتولو دپاره دی ، کنه نو یوه ملائکه هم دټولو دپاره کافی ده ، په دی وجه تاسی خلګو ته دکفارو په ډیروالی لیدلو باندی په جهاد اوقتال کی څه تردد کول نه دی په کار، او نه په کوم وخت کی چی دالله او درسول حکم دجنګ نه کولو وی ، هغه وخت په جنګ نه کولو کی څه تردد کول په کار دی ، چی افسوس صلح وسوه اوکفار محفوظ سول ، سزا یی وانه خیستل اودجنګ یا دجنګ نه کولو په نتیجو اوانجام باندی الله ﷻ زیات پوه دی ، ځکه چی الله ﷻ (په مصلحتونو) لوی پوه اوحکمت والا دی (هرکله چی په جنګ کی حکمت وی ، دهغه حکم کوی اوکله چی په جنګ نه کولوکی مصلحت وی دهغه حکم فرمایی ، په دی وجه مسلمانانو ته په کار دی چی په دواړو حالتونوکی خپل جذبات درسول دحکم تابع ساتی ، کوم چی سبب دی دزیادت دایمان مخ ته دایمان دزیاتی دثمری بیان دی یعنی) چی الله ﷻ (ددی اطاعت په دولت) مسلمانان سړی اومسلمانانی ښځی داسی جنتونوته داخل

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی دکوم لاندی چی به نهرونه جاری وی په کوموکی چی به همیشه همشه اوسیږی اوچی (ددی اطاعت په دولت) دهغوی گناهونه لیری کړی (ځکه چی درسول په اطاعت کی دگناهونو ځخه توبه اونیك عملونه ټول داخل دی ، کوم چی دټولو گناهونو او بدیو کفاره وی) او دا (څه چی ذکرسول) دالله ﷻ په نزد لویه کامیابی ده (په دی آیت کی یی اول دمومنانو په زړونو دسکینت او تحمل نازلولو دانعام ذکر وفرمایی ، بیا دا انعام دایمان دزیاتوب په ذریعه داطاعت رسول سبب جوړ سو او اطاعت رسول دجنت دداخلیدو سبب جوړ سو ، په دی وجه دا ټول کارونه دمومنانو په زړونوکی دسکینت په نزول مرتب سو ، مخ ته یی په دی سکینت مرتب کړی او دمنافقانو ددی ځخه دمحرومی او ددی محرومی په سبب سره یی په عذاب کی گرفتار والی بیانوی ، فرمایی ، یعنی دا سکینت یی دمسلمانانو په زړونو وفرمایی او دکفارو په زړونو یی نازل ونه فرمایی) چی الله ﷻ منافقانو سړو او منافقانو ښځو ته اومشرکانو سړو اومشرکانو ښځو ته (په وجه ددوی دکفر) عذاب ورکړی کوم چی په الله ﷻ بدبدگمانونه لری (ددی بدگمان ځخه مراد په اعتبار دسیاق کلام دهغو خلگو گمان دی کومو ته چی دعمری دپاره دحدیبیی دسفر دعوت ورکول سو او هغوی انکار وکی او په خپل مینځ کی یی دا وویل چی دا خلگ دمکی والاوو سره مونږ جنگول غواړی دوی پریږدی ، دوی دهغوی دلاسه محفوظ واپس نه سی راتلی ، داسی خبری کوونکی منافقان کیدی سی او دخپل عام مطلب په اعتبار سره ټولی دکفر اوشرك عقیدی په دی بدگمان کی داخلی دی ، ددی ټولو دپاره وعید دی چی په دنیا کی) په دوی بد وخت راپریوتونکی دی (چنانچی یو څو ورځی وروسته قتل او قید سول ، او دمنافقانو ټول عمر په حسرت اوپریشانی کی تیر سو چی اسلام زیاتیدی او دوی کمیدل دا خو په دنیا کی وسوه) او (په اخرت کی) به الله ﷻ په دوی غضبناك وی او دوی به درحمت ځخه لیری کړی او د دوی دپاره هغه دوږخ تیارکړی دی اوهغه ډیر ناکاره ځای دورتلو دی او (مخ نه ددی وعید تاکید دی چی) دآسمانونو اومځکی ټولی لښکری دالله ﷻ دی اوالله ﷻ زبردست (یعنی پوره قدرت والا دی که غوښتلی یی نو په خپل څه لښکر به یی هم د دوی صفایی کړی وای چی دوی ددی مستحق دی ، لیکن چونکی هغه) حکمت والا دی (په دی وجه په مصلحت سره په سزا کی مهلت ورکوی)

معلومات اومسئلي : دسورة دشروع په درو ایتونو کی دهغو خاصو انعامانو ذکر دی کوم چی په دی فتح مبین کی په نبی کریم ﷺ باندی سوی دی ، ځینی صحابه کرام ﷺ کوم چی په سفر دحدیبیی کی د دوی سره وو ، دوی عرض وکی چی یارسول الله دا انعامونه خو ستا دپاره دی الله ﷻ دی تاسی ته مبارك کړی ، زمونږ دپاره څه دی ؟ په دی باندی دا آیتونه نازل سول ، په دی کی اصالةً په حاضرینو دحدیبیی اوبیعت رضوان دالله ﷻ دانعاماتو ذکر دی اوچونکی دغه انعامات دایمان او اطاعت رسول په سبب ورکول کیده ، په دی حیثیت سره ټولو مومنانو ته هم شامل دی چی څوك هم په ایمان اواطاعت کی کامل وی ، هغه به ددی انعاماتو مستحق وی .

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٨﴾ لِتُؤْمِنُوا

بیشکه مونږ تاته ولیږی حالات ښوونکی خوشخبری او بیره اورونکی چی تاسی یقین وکړی

Maktaba Tul Ishaat.com

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝۹ اِنَّ

په الله ﷻ او دهغه په رسول او دهغه مدد وکړی او دهغه عزت وکړی ، اودهغه پاکی بیانوی سهار اومابنام ،

الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ؕ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ

بیشکه کوم خلق چی بیعت کوی تاسره هغه بیعت کوی دالله سره ، دالله لاس دی لوړ پر لاسونو د دوی ،

فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ

بیاچی څوک قول مات کړی پس ماتوی دخپل نقصان دپاره اوڅوک چی پوره کړی هغه شی په کومه چی یی

اللّٰهَ فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝۱۰ ع

اقرار کړی دی دالله سره نو هغه به ده لره ورکړی اجر ډیر لوی .

لنډتفسیر: (ای محمد ﷺ) مونږ ته (دامت په عملونو دقیامت په ورځ) شاهدی ورکوونکی (عموماً) او (په دنیا کی خصوصاً دمسلمانانو دپاره) خوشخبری ورکوونکی او (دکافرانو دپاره) بیرونکی جوړکړی لیږلی یی (او ای مسلمانانو! مونږ دی په دی وجه رسول جوړکړی لیږلی دی) چی تاسی خلک په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان راوړی او دهغه (ددین) مدد وکی او دهغه تعظیم وکی (عقیدةً هم چی الله ﷻ په ټولو کمالاتو سره موصوف او دټولو نقصانونو اوعیبونو څخه پاک وګڼی اوعملاً هم چی دهغه اطاعت وکی) اوسهاراومابنام دهغه تسبیح (اوپاکی) بیانوی (که ددی تسبیح تفسیرپه لمانځه سره وسی نودسهارمابنام فرض لمونځونه به مرادسی کنه نومطلق ذکربه که څه هم مستحب وی مرادسی مخ ته دخپلنوخاصوحقونو متعلق ارشاد دی چی) کوم خلک ستاسره (حدیبیه په ورځ په دی خبره) بیعت کوی (یعنی بیعت یی کړی دی چی دجهادڅخه به تښتی نه) نوهغوی (په واقع کی) دالله ﷻ سره بیعت کوی (ځکه چی مقصودستاسره په دی باندی بیعت کول دی چی دالله ﷻ احکام به په ځای کوی اوهرکله چی داخبره ده نو ګویا) دخدای لاس دهغوی په لاسونو باندی دی بیا (دبیعت څخه وروسته) چی کوم سړی عهد مات کړی (یعنی په ځای داطاعت مخالفت وکی) نو دده دوعدی ماتولو وبال به په ده پریوزی اوکوم سړی چی داخبره پوره کړی ، په کومه یی چی (په بیعت کی) دخدای سره وعده کړې ده نو ډیر ژر به خدای ده ته لوی اجر ورکی .

معلومات اومسئلې: په تیرو ایتونوکی دالله ﷻ دهغو انعامونو ذکر وو ، کوم چی په نبی کریم ﷺ او د دوی په امت خصوصاً دبیعت رضوان پرشرکاو باندی سوی وه ، اوچونکی ددی انعامونو ورکوونکی الله ﷻ او واسطه دورکولو یی نبی کریم ﷺ دی په دی مناسبت سره په ذکر سوو ایتونو کی د دوی دحقونو او تعظیم اوتکریم ذکر دی ، اول نبی کریم ﷺ ته خطاب دی د دوی دری صفتونه بیانوی ، شاهد ، بشیر ، نذیر ، دشاهد معنٰی شاهدی ده مراد ددی هغه دی کوم چی دسورة نساء دایت ، فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيداً: په تفسیرکی تیرسوی دی چی هرنبی به دخپل امت په بابت کی ددی خبری شاهدی ورکوی چی ده دالله ﷻ پیغام امت ته ورسوی ، بیا چا اطاعت وکی چا نافرمانی ، دغه شان به نبی کریم ﷺ دخپل امت متعلق شاهدی ورکوی ، دسورة نسآء دایت په تفسیرکی قرطبی لیکلی دی چی دانبیاؤ دا شاهدی دخپلی زمانی دموجودو خلګو متعلق به وی چی د دوی دحق دعوت چاقبول کی ، چا نافرمانی وکړه ، دغه شان دنبی کریم ﷺ دشاهدی دخپلی زمانی دخلګو متعلق به وی ، اوځینی حضرات فرمایی چی دا شاهدی به دټول امت په عملونو طاعتونو اوګناهونو باندی وی ځکه چی دځینو روایتونو مطابق دامت عملونه سهار مابنام نبی کریم ﷺ ته ملائکی پیش کوی ، په دی وجه به دوی دټولو امت دعملونو ځخه باخبره وی (ذکر یی کړی دی قرطبی دسعیدبن مسیب ځخه)

او دبشیر معنی خوشخبری ورکوونکی ، دنذیر معنی بیرونکی دی ، مراد دا دی چی ته دامت مومنانو او اطاعت کوونکو ته دجنت خوشخبری ورکوونکی یی او دکفارو فاجرانو دعذاب ځخه بیرونکی یی ، مخ ته درسول دلیږلو مقصود دا وښوول سو ، چی تاسی خلګ په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان راوړی او دایمان سره یی دنورو زیاتو درو صفتونو ذکر فرمایلی دی ، کوم چی په مومنانوکی کیدل په کار دی ، تُعَزِّرُوهُ ، تُوَقِّرُوهُ ، تُسَبِّحُوهُ ، تُعَزِّرُوهُ ، دتعزیر ځخه مشتق دی چی معنی یی مدد کول دی اوسزا ته چی تعزیر ویل کیږی ، هغه هم ځکه چی دمجرم حقیقی مدد په دی کی دی ، چی په ده سزا جاری سی ، (مفردات القرآن للراغب)

او، تُوَقِّرُوهُ : دتوقیر ځخه مشتق دی چی معنی یی ده تعظیم، او: تُسَبِّحُوهُ : دتسبیح ځخه مشتق دی چی معنی یی پاکی بیانول دی ، په دی کی اخری لفظ خو متعین دی چی دالله ﷻ دپاره کیدی سی ، په دی وجه دتُسَبِّحُوهُ په ضمیرکی بغیر ددی ځخه بل احتمال نسته چی دالله ﷻ طرف ته راجع وی ، په دی وجه اکثرو حضراتو دمخکنیو دواړو جملو ضمیرونه هم دالله ﷻ طرف ته راجع کړی دی اومعنی یی دا مقرره کړې ده چی ایمان راوړی اودالله ﷻ یعنی دهغه ددین اورسول مدد وکی او دهغه تعظیم وکی او دهغه تسبیح کوی او ځینو حضراتو دمخکنیو دواړو جملو ضمیر درسول طرف ته راجع کړی دی ، مطلب یی دا مقرر کړی دی چی درسول مدد کوی او تعظیم یی کوی او دالله ﷻ تسبیح کوی .

مګرځینی مفسرین فرمایی چی په دی کی انتشار دضمیرونو لازمیږی کوم چی دبلاغت ځخه خلاف وی. والله اعلم

ددی ځخه وروسته ددی بیعت ذکر دی دکوم واقعه چی دحدیبیی دقصی په لسم جزء کی تیره سوې ده ، ددی بیعت متعلق الله ﷻ ارشاد فرمایی چی کومو خلګو دنبی کریم ﷺ په لاس دا بیعت وکی چونکی مقصود ددی ځخه دالله ﷻ دحکم تعمیل او رضا جویی ده ، په دی وجه ګویاپه خپله یی دالله ﷻ سره بیعت وکی ، او هرکله چی دوی درسول په لاس کی لاس ورکی نوګویا دالله ﷻ په لاس یی بیعت وکی ، دالله ﷻ لاس دمتشابهاتو ځخه دی چی کیفیت اوحقیقت یی نه چاته معلوم دی اونه یی دمعلومولو فکر کول سم او صحیح دی ، ددی بیعت فضیلت مخ ته هم راځی .

لفظ دبیعت په اصل کی دځه خاص کار دپاره دعهد اخیستلو نوم دی ، ددی پخوانی او سنت طریقه دیو بل سره دعهد کوونکو په لاس کی لاس ورکول دی ، که څه هم په لاس کی لاس ورکول شرط اوضروری

Maktaba Tul Ishaat.com

نه دی ، په هرحال دکوم کار چی دچاسره عهد کول کیږی ، دهغه پابندی شرعًا واجب او ضروری ده ، اوخلاف ورزی یی حرامه ده ، په دی وجه مخ ته فرمایی چی کوم سړی دبیعت داعهد مات کی نوخپل نقصان کوی ، الله ﷻ او رسول ﷺ ته ددی هیڅ نقصان نه رسیږی او څوك چی دا عهد پوره کړی نو هغه ته الله ﷻ لوی اجر ورکوونکی دی .

سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ

اوس به ووایی تاته وروسته پاته کیدونکی دصحرا دخلقو څخه چی مشغوله کړو مونږ خپلو مالونو اوخپلو اهلونو، پس ته مونږ ته بخښنه وغواړه ، هغوی وایی په خپلو ژبو سره ،

مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۭ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا اِنْ

هغه چی په زړونو کی یی نسته ، ته ووایه چی څوك مالك دی تاسی لره دالله څخه دڅه شی که

اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۭ بَلْ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

هغه وغواړی ستاسی نقصان یا وغواړی ستاسی فائده ، بلکه الله دی ستاسی په ټولو کارونو

خَبِيْرًا ﴿۱۱﴾ بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى

خبردار ، دا سی نه ده بلکه تاسی ګمان کړی وو چی واپس به نه سی رسول او مؤمنان

اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا وَّزُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ ۚ

خپلو کورونو ته هیڅکله ، او ښائسته سو دا خیال ستاسی په زړونو کی او ګمانونه وکړل تاسی بدګمانونه ،

وَكُنْتُمْ قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿۱۲﴾ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا

او واست تاسی قوم هلاکیدونکی ،اوڅوك چی یقین ونه کړی په الله او دهغه په رسول ، نو مونږ تیارکړی دی

لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۳﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَغْفِرُ لِمَنْ

دکافرانو دپاره ګرم اور ، او الله ﷻ لره دی حکومت داسمانونو او دمځکی ، بخښنه کوی چاڅه چی

يَّشَاۗءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۴﴾

وغواړی او عذاب ورکوی چاڅه چی وغواړی ، او دی الله ﷻ بخښونکی مهربانه .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه تفسیر: کوم دصحراء خلک چی (دحدیبیی ددی سفرځخه) وروسته پاته سوی دی (په سفرکی شریك نه سول) هغوی به ډیر ژر (هرکله چی ته مدینی ته ورسیږی) تاته (دخبری جوړولوپه طور) ووایی چی (مونږ چی ستاسره شریك نه سو دهغه وجه دا ده چی) مونږ ته زمونږ مالونو اواهل اوعیال فرصت رانه کی (یعنی دهغوپه ضرورتونو کی مشغول وو) نو زمونږ دپاره (ددی کوتاهی) دمعافی دعا وکړه (مخ ته حق تعالی د دوی تکذیب فرمایی چی) دا خلک په خپلو ژبو سره هغه خبری کوی کوم چی دهغوی په زړونوکی نه وی (مخ ته دوی ته تلقین دی چی دا خلک کله چی تاته دا عذر پیش کی نو) ته ووایه چی (اول خو داعذرکه رښتینی هم وی نو په مقابله دالله ﷻ او درسول ﷺ دقطعی حکم کی محض عذر لنګ اوباطل وو، ځکه چی مونږ پوښتنه کوو چی) هغه څوك دی کوم چی دخدای په مخکی ستاسی دپاره (په نفع اونقصان کی) دځه شی اختیار لری که الله ﷻ تاسی ته څه نقصان یاځه نفع رسول غواړی (یعنی ستاسی په ذات یاستاسی په مال اوعیال کی چی کومه نفع یانقصان په تقدیرالهی کی مقدرسوی دی ددی په خلاف کولو سره چاته اختیار نسته، البته شریعت اسلام په ډیرو مواقعو باندی دداسی خطرو عذر قبلوی، رخصت یی ورکړی دی، په دی شرط چی دغه عذر واقعی وی اوکوم ځای چی شریعت دغه عذرنه دی قبول کړی او رخصت یی نه دی ورکړی بلکه حکم یی قطعی کړی دی، لکه چی په زیربحث مسئله کی دی چی دحدیبیی دسفر دپاره الله اورسول ﷺ دکور اوکارونو مشغله قابل قبول عذرنه دی مقرر کړی، که څه هم هغه واقعی وی، دوهم دا عذرکوم چی تاسی کوی واقعی اورښتینی هم نه دی، لکه چی مخ ته راځی اوتاسی چی ګنی چی ماته ددی دروغو خبر نسته، مګر حقیقت دا دی چی) الله ﷻ (کوم چی) ستاسی په ټولو عملونو خبردار دی (ما ته په ذریعه دوحی اطلاع راکړي ده چی ستاسی دغیر حاضری وجه هغه نه ده کوم چی تاسی بیانوی) بلکه (اصل وجه دا ده چی) تاسی دا ګڼله چی رسول اومومنان به خپلو کورنو ته هیڅکله بیرته رانه سی (بلکه مشرکان به دټولو صفایی وکی) او دا خبره ستاسی په زړونوکی ښه هم معلومیده (په وجه دالله او درسول ددښمنی چی ستاسی دزړه تمناهم وه) اوتاسی بدبدګمانونه وکړل اوتاسی (ددی بدو ګمانونوپه وجه سره کوم چی کفری خیالات دی) بربادیدونکی خلګ سواست (که ددی وعیدونو په اوریدو تاسی اوس هم په زړه سره ایمان راوړی نو خیر دی کنه نو) کوم سړی چی په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان رانه وړی نومونږ دکافرانو دپاره دوزخ تیارکړی دی (اودمومن اوغیر مومن دپاره دمذکوره قانون په مقرر کولو سره دی تعجب نه کول کیږی ځکه چی) دټولو آسمانونو اومځکو حکومت دالله ﷻ دی هغه چی چاته وغواړی بخښنه کوی اوچا ته چی غواړی سزا ورکوی او (کافران که څه هم مستحق دعذاب وی لیکن) الله ﷻ لوی غفور او رحیم دی (چی که دوی هم په رښتینی زړه سره ایمان راوړی نو دوی به هم وبخښی)

معلومات اومسئلي: دا مضمون کوم چی لوړ ذکر سو دهغو کلیوالو متعلق دی کومو ته چی نبی کریم ﷺ په سفر دحدیبیه کی دځان سره دتللو حکم کړی وو، مګر هغوی دبهانه بازی ځخه کار واخیستی چی بیان یی په قصه دحدیبیه کی په اول جزء کی سوی دی، دځینو روایتونو ځخه دا معلومیږی چی په هغوی کی ځینی حضرات وروسته توبه ګار او مخلصان سوی وه.

Maktaba Tul Ishaat.com

سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيْدُوْنَ اَنْ

اوس به ووایی وروسته پاته سوی هرکله تاسی څی غنیمتونو اخیستلو ته پریږدی چی مونږ هم ولاړسو تاسی سره غواړی

يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ

چی بدله کړی دالله خبره ، ته ووایه تاسی زمونږ سره هیڅکله نه سی تللی دغسی ویلی وه الله مخکې

فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵﴾

نودوی به ووایی چی داسی نه ده بلکه تاسی حسد کوی زمونږ سره داسی نه ده بلکه دوی نه پوهیږي مګر لږ دول

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ

ووایه وروسته پاته سوه کلیوالوته آئنده به تاسی را وبلل سی یو قوم ته چی سخت جنګ

شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا

کوونکی به وی تاسی به ورسره جنګ کوی یا به هغوی مسلمانان سی، بیاکه حکم ومنی در به کړی تاسی ته الله

حَسَنًا ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶﴾

بدله ښه ، او که واپس سی لکه چی واپس سوی وی اول وار در به کړی تاسی ته یو عذاب دردناک ،

لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ

نسته په رانده باندی تکلیف ، او نه په کوږ باندی تکلیف ، اونه په مریض باندی

حَرَجٌ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

تکلیف ، اوڅوك چی حکم ومنی دالله او دهغه درسول داخل به کړی دی باغونو ته چی بهیږي به لاندی

الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۷﴾

دهغوی څخه نهرونه ، او څوك چی واپس سی عذاب به ور کړی هغه ته عذاب دردناك .

لنډتفسیر: کوم خلك چی (دحدیبیی دسفرڅخه) وروسته پاته سوه ، هغه به ډیر ژر هرکله چی (دخیبر) غنیمتونو اخیستو ته څی (مطلب دا دی چی هرکله تاسی دخیبرفتح کولوته څی کوم ځای چی غنیمت

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکول کیدونکی دی نو دغه خلګ به تاسی ته) ووایی چی مونږ ته هم اجازه راکړه چی مونږ ستاسی سره ولاړسو (وجه ددی درخواست دمالِ غنیمت طمع وه چی حاصلیدل یی په قراننو سره دوی ته معلوم اومتوقع وو، په خلاف دسفر دحدیبیی څخه چی په دی کی زحمت بلکه هلاکت زیات متوقع وو، ددی په حقله الله ﷻ فرمایی چی) هغه خلګ داغواړی چی دخدای حکم بدل کړی (یعنی حکم دالله ﷻ دا وو چی دی غزا ته به صرف هغه خلګ څی کوم چی په حدیبیه اوبیعت رضوان کی شریك سول، دهغوی څخه ماسوا نورهیڅوك به نه څی خصوصاً هغه خلګ کومو چی دحدیبیی دسفر څخه وروسته پاته کیدل اختیار کړل اوبهانه بازی یی وکړه) نو ته ووایه چی تاسی هیڅکله زمونږ سره نه سی تللی (یعنی ستاسی دا درخواست مونږ نه سو منظورولی ځکه چی په دی کی دالله ﷻ دحکم بدلولو گناه ده ځکه چی) الله ﷻ دمخکی څخه داسی فرمایلی دی.(یعنی دحدیبیی څخه په واپسی کی الله ﷻ داحکم فرمایلی وو چی دخیبر غزاته به دحدیبیی دخلګو څخه ماسوا بل څوك نه راځی او دا دخدای حکم په ظاهره په قرآن کی مذکور نه دی، ددی څخه معلومه سوه چی دا حکم دوحی غیر متلو په ذریعه دوی ته ورکول سوی وو، کوم چی دحدیث په ذریعه بیانول کیږی، او دا هم ممکنه ده چی دحدیبیی څخه په واپسی کی چی سورة فتح نازل سو او په دی کی دا آیت راغی، وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ددی نژدی فتح څخه مراد فتح دخیبرده، نو داسی دی آیت اشاره وکړه چی دا فتح خیبر به ددغوحدیبیه والاوو نصیب وی، اوهرکله چی ته دوی ته دا جواب ورکړی) نو دغه خلګ به ووایی (ظاهره ده چی د دوی ﷺ په مخکی ویل مرادنه دی، بلکه نورو ته به وایی، چی زمونږ دځان سره نه بوتللو ته چی دخدای حکم وایی، خبره دانه ده) بلکه تاسی خلګ زمونږ سره حسد کوی (په دی وجه زمونږ شریکیدل نه خوښوی حال دا دی چی په مسلمانانوکی دحسد هیڅ شائبه نسته) بلکه په خپله داخلګ ډیرکم په خبره پوهیږی (که پوره پوهیدی نو ددی حکم حکمت به یی ډیر په آسانی سره معلوم کړی وای چی په حدیبیه کی دی حضراتو ډیر دلویی خطری اولوی امتحان کار وکی، منافقانو خپل دنیوی غرضونه مقدم کړل دا وجه دهغوی دتخصیص او دهغوی دمحرومی ده تردی ځایه پوری مضمون دخیبر په حقله وو، مخ ته دیوی بلی واقعی متعلق دخبری دپاره ارشاد کیږی چی) ته دی وروسته پاته سوو کلیوالوته (دا هم) ووایه چی (که یو خیبر ته ولا نه ړی نوځه خبره ده، دثواب حاصلولو دپاره نوری موقعی هم راتلونکی دی چنانچی) ډیر ژر به تاسی دداسی خلګو (سره دجنګ) طرف ته راوبلل سی کوم چی به سخت جنګ کوونکی وی (مراد ددی څخه دفارس اوروم تربیت یافته اوسامان والاوو چی) یاخو به دهغوی سره جنګ کوی یابه هغوی تابعدار (داسلام) سی (برابره خبره ده که اسلام قبول کړی یاداسلامی حکومت اطاعت اوجزیه ورکول قبول کړی، مطلب دا دی چی تاسی به ددغه کار دپاره راوبلل سی) نو (دغه وخت) که تاسی اطاعت وکی (اودهغو سره موجهاد وکی) نوتاسی ته به الله ﷻ نیکه بدله درکړی اوکه تاسی (هغه وخت هم) روی گردانی وکړه، لکه چی ددی څخه مخ ته (په حدیبیه وغیره کی) تاسی روی گردانی کړې ده نو هغه به د دردناك عذاب سزا درکړی (البته دجهاد ددعوت څخه معذور خلګ مستثنی دی چنانچی) نه په روند څه گناه سته اونه په کور څه گناه سته او نه په ناجوړی څه گناه سته او (لور چی کومی دمجاهدینو دپاره دجنت اونعمت وعدی او دجهاد څخه دځان

Maktaba Tul Ishaat.com

پناه کوونکو دپاره وعیدونه ذکر دی په هغوی کی څه ددی خلګو تخصیص نسته ، بلکه قاعده کلیه ده چې کوم سړي دالله اورسول ﷺ خبره منی ، هغه به داسی باغونو ته دا خل کړی دکومو دلاندی چې به نهرونه بهیږی اوکوم سړی چې روی ګردانی (دحکم څخه) کوی هغه ته به ددردناك عذاب سزا ورکی .

معلومات اومسئلي : په ذکر سوو ایتونو کی دهغه واقعی ذکر دی کومه چی دحدیبیی څخه دواپسی څخه وروسته په سنه۷ هجری کی پیښه سوه ، هرکله چې نبی کریم ﷺ دخیبر دغزا اراده وفرمایله نوصرف هغه خلګ یی دځان سره واخیستل کوم چی دحدیبیی اوبیعت رضوان په سفرکی شریك وه اوالله ﷻ خپل رسول ﷺ ته دخیبر دفتح او دهغه ځای څخه دغنیمت دمالونو ورکول کیدو وعده فرمایلی وه ، دا وخت دکلیو هغه خلګ کوم چی دحدیبیی په سفرکی یی سره دبللو عذرونه وکړل او وروسته پاته سوی وه هغوی هم دخیبر جهادته دتللو اراده وکړه ، برابره خبره ده که په دی شان سره وه چی هغوی ته په قرائنو سره دخیبر فتح کیدل او دهغه ځای څخه دغنیمت دمال ورکول کیدو امید وو اویا یی دمسلمانانو سره دالله ﷻ دمعاملی او دصلح حدیبیه څه برکتونه ولیدل ، هغوی دجهاد څخه په پاته کیدو ستومانه سول او اوس یی په جهاد کی دشرکت اراده وکړه ، دهغوی په جواب کی الله ﷻ فرمایی چی داخلګ دالله ﷻ کلام یعنی دهغه حکم بدلول غواړی ، يُرِيدُونَ اَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللهِ او مراد ددی حکم څخه دخیبر غزاده او ددی دغنیمتونو صرف دحدیبی دخلګو سره مخصوص کیدل دی او ددی څخه وروسته په، كَذٰلِكُمْ قَالَ اللهُ مِنْ قَبْلُ کی هم داتخصیص داهل حدیبیه قول دی، مګر دلته داسوال پیداکیږی چی په قرآن کریم کی خو هیڅیری ددی تخصیص ذکرنسته بیاددی تخصیص وعدی ته کلام الله اوقال الله ویل څنګه صحیح سول؟

(وحي الهي صرف په قرآن کي منحصر نه ده دقرآن څخه علاوه هم په ذريعه دوحي احکام راغلي دی او درسول الله ﷺ احاديث هم دکلام الله په حکم کي دی)

علماء فرمایی چی دا تخصیص داهل حدیبیه په وعده سره کومه چی الله ﷻ فرمایلی ده ، ددی په قرآن کی هیڅیری صراحةً ذکر نسته ، بلکه دا تخصیص داهلِ حدیبیی وعده الله ﷻ دوحی غیر متلو په ذریعه رسول الله ﷺ ته په سفر دحدیبیی کی فرمایلی وه ، دغه یی دلته دَ کلام الله اوقال الله په الفاظو سره تعبیر فرمایلی ده ددی څخه معلومه سوه چی دقرآن داحکاموڅخه علاوه چی کوم احکام په صحیح احادیثو کی ذکر دی هغه هم ددی آیت دوضاحت مطابق په کلام الله اوقول الله کی دا خل دی ، کوم ملحدین چی دنبی کریم ﷺ احادیث ددین حجت نه منی ، دا آیتونه د دوی دالحاد بنکاره کولو دپاره کافی دی ، پاته سوه دا مسئله چی په دی سورة کی کوم چی دحدیبیی دسفر په شروع کی نازل سوی دی ، دا الفاظ په قرآن کی موجود دی ، اَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا: او دمفسرینو په اتفاق دلته دفتح قریب څخه فتح خیبر مراد دی ، نو داسی په قرآن کي دفتح خیبر او ددی دغنیمتونو حدیبیی والاوو ته د ورکول کیدو وعده راغله دغه ددی لفظ دکلام الله اوقال الله مراد کیدی سی ، نو حقیقت دا دی چی په دی آیت کی دغنیمت وعده خوسته ، مګر ددی ذکر نسته چی دا غنیمت دی دحدیبیی والاوو سره مخصوص وی ، دوهم په دی کی دنه شریکیدو دا تخصیص خو بیشکه په حدیث درسول سره معلوم سوی دی ، هغه دکلام الله اوقال الله مصداق کیدی سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوځینی حضرات چی کوم دسورة توبه آیت ددی مصداق ګرځوی یعنی ، فَقُلْ لَنْ تَخْرُجُوا مَعِيَ أَبَدًا وَلَنْ تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا إِنَّكُمْ رَضِيتُمْ بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ : نو په دی وجه صحیح نه ده چی داآیت دغزوه تبوك متعلق راغلی دی او دا دخیبر دغزا څخه وروسته په سنه (۹) هجری کی سوي ده (قرطبی وغیره)

قُلْ لَنْ تَتَّبِعُونَا: په دی کی یی چی کوم په تاکیدی طور باندی متخلفینو (وروسته پاته خلګو) دحدیبیی ته دا فرمایلی دی چی تاسی هیڅکله زمونږ سره نه سی تلی ، دا صرف دخیبر دغزا سره مخصوص ده ، مخ ته په بل جهاد کی نه شریکیدل دا په دی سره نه لازمیږی دا وجه ده چی ددی متخلفینو دحدیبیی دمزنیه اوجُهینه قبیلی وروسته دنبی کریم ﷺ په غزاګانو کی شریکی سوی (کما فی الروح عن البحر، بیان)

(دحدیبیي په متخلفینوکي ځینې خلک بیا وروسته توبه ګارسول اورښتینې مسلمانان سوی وه)

دخیبر دغزا په وخت کی چی څومتخلفین دحدیبیی وه ، ټولوکه څه هم ددی جهاد دشرکت څخه منع سوی وه ، حال دا دی چی په دوی کی ټول منافقان نه وه ، ځینی مسلمانان هم وه اوځینی که څه هم هغه وخت منافقان وه ، لیکن وروسته ورته درښتینی ایمان توفیق سوی وو ، په دی وجه دداسی خلګو ددلجویی دپاره راتلونکی ایتونه راغلل په کوموکی چی دوی ته تسلی ورکول سوي ده ، چی که څه هم دخیبر غزا دالله ﷻ دوعدی مطابق داهلِ حدیبیه دپاره مخصوص سوه ، مګرکوم چی مخلص مسلمانان دی اوپه زړه سره په جهادکی شرکت غواړی دهغوی دپاره نوری موقعی راتلونکی دی ، هغه موقعی قرآن کریم دیوی خاصی پیش ګویی په صورت کی بیان فرمایی چی ظهور یی دنبی کریم ﷺ څخه وروسته کیدونکی دی ، ارشاد فرمایی ، سَتُدْعَوْنَ إِلَى قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ: یعنی یو داسی وخت راتلونکی دی ، کله چی تاسی ته دجهاد دپاره دعوت درکول سی ، او دا جهاد به دیولوی سخت جنګجو قوم سره وی اوتاریخ اسلام شاهد دی چی دا واقعه دنبی کریم ﷺ په عهد مبارك کی نه ده پیښه سوی ، ځکه چی اول خو ددی څخه وروسته د دوی اعرابو ته په جهاد کی دشرکت کولو دعوت نه دی ثابت ، دوهم ددی څخه وروسته دیو داسی قوم سره مقابله هم نه ده سوی ، دکومو دبهادری اوسختوالی چی قرآن ذکر فرمایلی دی ، ځکه چی دتبوك غزا که څه هم ددداسی قوم په مقابله کی وه مګر په دغه غزا کی نه اعرابو ته ددعوت ورکولو ثبوت سته او نه په دی کی دجنګ نوبت راغلی دی ، ځکه چی په مقابلو خلګو الله ﷻ رعب واچوی او هغوی مقابلی ته رانغله ، نبی کریم ﷺ اوصحابه کرام ﷺ بغیر دجنګ کولو څخه بیرته راغلل.

اوپه غزوه حنین کی هم نه دوی ته دعوت ورکول ثابت دی او نه مقابله ددداسی قوم سره وه کوم چی سخت اوسامان والاوی ، په دی وجه دتفسیر په امامانوکی ځینو فرمایلی دی چی مراد ددی څخه دفارس او روم یعنی کسرٰی او قیصر قومونه دی ، دکومو سره چی جهاد دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه په دورکی وسو (داقول دابن عباس ﷺ ، عطاء مجاهد رحمهما الله ابن ابی لیلی اوحسن ﷺ دی (قرطبی)

او حضرت رافع بن خدیج ﷺ فرمایی چی مونږ به دقرآن دا آیت وایه اومونږته نه وه معلومه چی داکوم قوم دی ، تردی چی دنبی کریم ﷺ څخه وروسته صدیق اکبر ﷺ دخپل خلافت په زمانه کی مونږ ته دبنو حنیفه دیمامی دخلګو یعنی دمسلیمه کذاب دقوم سره دجهاد کولو دعوت راکی ، دغه وخت مونږ پوه سو چی دا قوم ددی آیت څخه مراد وو ، مګر په دی دواړو خبرو کی څه تضاد اوتعارض نه سی کیدی چی دا ټول

Maktaba Tul Ishaat.com

قومونه دی په کی دا خل وی.

امام قرطبی ددی دبیانولو څخه وروسته فرمایی چی دا آیت ددی دلیل دی چی دحضرت صدیق اکبر ﷺ اوفاروق اعظم ﷺ خلافت دحق مطابق وو، د دوی ددعوت ذکر په خپله قرآن په دی آیت کی کړی دی.

تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ: دحضرت ابی په قرآئت کی حَتّٰى يُسْلِمُوا بغیر دنون څخه راغلی دی، په دی وجه قرطبی ددی مطابق حرف دَ، أَوْ، دحتّٰی په معنٰی کی اخیستی سی، یعنی ددغه قوم سره به جنګ ترهغه وخته پوری کیږی، ترڅو پوری چی هغه مطیع فرمانبردار نه سی برابره خبره ده که اسلام قبول کړی یا داسلامی حکومت په اطاعت کی اوسیدل قبول کړی.

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ: حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی هرکله دا لوړ آیتونه نازل سول په کومو کی چی دجهاد څخه پرپاته کیدونکو وعید راغلی دی، وَإِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا: نوځینو معذورو خلګو کوم چی دصحابه کرامو ﷺ څخه وه، دهغوی سره فکر سو چی مونږ خو په جهاد کی دشرکت قابل نه یو، هسی نه چی مونږ هم په دی وعید کی شامل سو په دی باندی دا آیت نازل سو، په کوم کی چی راندې ګوډ، بیمار دجهاد دشرکت دحکم څخه مستثنٰی سول. قرطبی واللہ اعلم

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ

بیشکه الله خوشحاله سو دایماندارو څخه هرکله چی یی بیعت کوی ستاسره دهغه درختی لاندی نومعلوم سو څه

فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً

چی ددوی په زړونوکی وه، نونازل یی کی په دوی اطمینان اوانعام یی ورکی دوی ته یوه فتح نژدی، اودیرغنیمتونه

يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً

کوم چی به دوی اخلی او دی الله زبردست حکمت والا ، وعده کړی ده تاسی سره الله ددیرو غنیمتونو

تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهِ وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ وَلِتَكُونَ

چی تاسی به یی اخلی پس ژرپی ورسوی تاسی ته داغنیمت او بندیی کړل لاسونه دخلقو ستاسی څخه اوچی

آيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾ وَأُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوا

دایوه نمونه دقدرت سی دمؤمنانو دپاره، او وښیی تاسی ته لار سیده ، اویوه فتح کومه چی ستاسی په وس

عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢١﴾

کی را نغله هغه دالله په واک کی ده ، او دی الله ﷻ په هر یو شی باندی قدرت لرونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه تفسیر: بیشکه الله ﷻ دهغو مسلمانانو څخه (کوم چې ستاسره په سفرکې وه) خوشحاله سوهرکله چې دی خلګوستاسره تردرختی لاندی (په جهادکی په ثابت قدم پاته کیدو) بیعت کوی او دهغوی په زړونو کی چې څه (داخلاص اوعهد پوره کولو قصد) وو، الله ﷻ ته هغه هم معلوم وو او (دغه وخت) الله ﷻ دهغوی (په زړونو) کی اطمینان پیدا کی (په کوم سره چې دوی ته دخدای په حکم منلوکی ذره تردد یاپس اوپیش رانغی دا خو معنوی نعمتونه سول) او (ددی سره ځینی محسوس نعمتونه هم ورکول سول، په کوموکی چې معنوی نعمتونه هم شامل وه، چنانچې) دوی ته مو یوه لاس په لاس فتح ورکړه (مراد ددی فتح څخه فتح دخیبرده) او (په هغه فتح کی) ډیر نعمتونه هم (ورکړل) کوم چې دا خلګ اخلی اوالله ﷻ لوی زبردست اولوی حکمت والا دی دی (چې په خپل قدرت اوحکمت سره څه وخت چې دچا دپاره مناسب ګڼی فتح ورکوی، اوځه په دی فتح دخیبر باندی بس نه دی بلکه) الله ﷻ ستاسی سره (نور هم) ډیرو غنیمتونو وعده کړې ده، کوم چې به تاسی اخلی وروسته (دهغه څخه) فی الحال یې تاسی ته دا درکړل او(ددی ددرکولودپاره یی دخیبراوخلفاوودخیبر)دخلګولاسونه ستاسی څخه بندکړل (یعنی دټولو په زړونو کی یی رعب واچوی چې دهغوی پرتاسی دلاس برکیدو همت ونه سو، اوپه دی سره ستاسی دنیوی نفع هم مقصود وه چې تاسی ته ارام اوفراغت درکول سی) او (دینی نفع هم وه) چې دا (واقعه) دایماندارو دپاره (دنورو وعدو درښتنی کیدو) یوه نمونه سی (یعنی دخدای دوعدوپه رښتینو کیدو نور ایمان پوخ سی) اوچې (ددی دنمونی په ذریعه) تاسی (دائنده دپاره په هرکارکی) په یوه سیده لاره روان کړې (مراد ددی لاری څخه توکل اوپر الله ﷻ باندی اعتماد دی، یعنی چې دهمیشه دپاره دی واقعی ته ګوری، په الله ﷻ باندی داعتماد څخه کار اخلی، دغه دینی نفعی دوې سوی یوه علمی او اعتقادی کومه چې یی په وَلِتَكُوْنَ سره بیان کړې ده، دوهمه عملی اواخلاقی کومه چې یی په يَهْدِيَكُمْ الفاظ سره بیان کړې ده) اویوه فتح بله هم (موعوده) ده کومه چې (تر اوسه لا) ستاسی په منع کی نه ده راغلی (مراد ددی څخه دمکی فتح ده کومه چې لا تر اوسه واقع سوی نه وه مګر) خدای ﷻ هغه په احاطه (دقدرت) کی کړې ده (کله چې وغواړی تاسی ته به یی درکی) او (ددی څه تخصیص دی) الله ﷻ په هرڅه قادر دی.

معلومات اومسئلې: لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ : ددی بیعت څخه مراد بیعت حدیبیه دی، دکوم ذکر چې ددی څخه مخ ته هم په، يُبَايِعُوْنَكَ الخ کی راغلی دی، دا آیت هم ددی سره متعلق او ددی تاکید دی، په دی آیت کی الله ﷻ ددی بیعت دشرکاوو څخه دخپلی رضا اعلان کړی دی په دی وجه دی ته بیعت رضوان هم ویل کیږی اومقصود ددی څخه ددغو شریکانو دبیعت مدح او دوی ته ددی عهد دپوره کولو تاکید دی.

په صحیحینوکی دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې دحدیبیه په ورځ زمونږ شمیر څوارلس سوه وه، مونږته نبی کریم ﷺ وفرمایل اَنْتُمْ خَيْرُ اَهْلِ الْاَرْضِ : یعنی تاسی خلګ دټولی مځکی دانسانانو څخه ښه یاست اوپه صحیح مسلم کی دام بشر ﷺ څخه مرفوع روایت دی چې، لَايَدْخُلُ النَّارَ اَحَدٌ مِّمَّنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ (یعنی کومو خلګو چې ددی درختی لاندی بیعت کړی دی په هغوی کی به هیڅوک جهنم ته دا خل نه سی) مظهری په دی وجه ددی بیعت دشریکانو مثال دبدردشریکانو دغزا په شان دی لکه چې دهغوی متعلق په قرآن اوحدیث

Maktaba Tul Ishaat.com

کی دالله ﷺ درضا او دجنت زیری دی دغه شان دبیعت رضوان دشریکانو دپاره هم داخوشخبری راغلی ده دا خوشخبری په دی شاهده ده چی ددی ټولو حضراتو خاتمه به په ایمان اونیکو عملونو مرضیو باندی وی ، ځکه چی دالله ﷻ درضا دا اعلان ددی ضمانت ورکوی .

(په اصحابو کرامو ﷺ بدرد ویل او دهغوی په خطاګانو کې غور او فکر کول ددی آیت خلاف دی)

په تفسیر مظهری کی فرمایی چی دامت دکومو برګزیده وو متعلق الله ﷻ دغفران اومغفرت دا اعلان فرمایلی دی که دهغوی څخه څه خطا اوګناه سوی هم ده نو دا آیت ددغه دمعافی اعلان دی ، بیا دهغوی داسی معاملات کوم چی مستحسن نه دی ، دغور فکر او بحث مباحثی میدان جوړول بدبختی اوپه ظاهره ددی آیت مخالف دی ، دا آیت دروافضو دقول واضح تردید دی کوم چی په حضرت ابوبکر ﷺ، عمر ﷺ ، اونورو اصحابو کرامو ﷺ باندی دکفر او نفاق الزامونه لګوی .

شجره رضوان : شجره یعنی درخته دکومی ذکر چی په دی آیت کی راغلی دی دببول یعنی کیکر یوه درخته وه ، اومشهوره دا ده چی دنبی کریم ﷺ دوفات څخه وروسته به ځینی خلګ هلته تلل اوتر درختی لاندی به یی لمونځونه کول ، دحضرت فاروق اعظم ﷺ سره دا خطره پیدا سوه چی هسی نه راتلونکی جاهلان خلګ ددی درختی عبادت شروع نه کړئ ، لکه چی په تیرو امتونو کی داسی واقعات سوی دی ، په دی وجه دا درخته یی پرېکړه ، مګر په صحیحینو کی حضرت طارق بن عبد الرحمٰن فرمایی چی زه یو وار دحج دپاره ولاړم ، نوپه لاره کی زه په داسی خلګو تیر سوم کوم چی په یوه مقام جمع وه او لمونځونه یی کول ، ماپوښتنه ځینی وکړه چی داکوم مسجددی؟ هغوی وویل چی داهغه درخته ده ترکومی لاندی چی نبی کریم ﷺ بیعت رضوان اخیستی وو ، زه ددی څخه وروسته حضرت سعیدبن مسیب ته حاضر سوم او ددی واقعی خبر می هغوی ته ورکی ، هغوی وفرمایل چی زما پلار دهغو خلګو څخه وو کوم چی په دی بیعت رضوان کی شریك سوی وه ، هغوی ماته فرمایلی دی ، چی مونږ هرکله په راتلونکی کال مکی مکرمی ته حاضر سوو نو مونږ هغه درخته تلاش کړه خو زمونږ څخه هیره سوه ، دهغه پته ونه لګیده، بیا حضرت سعیدبن مسیب وفرمایل چی دنبی کریم ﷺ اصحاب ﷺ کوم چی په خپله په دغه بیعت کی شریك وه هغوی ته خو پته ونه لګیده او تاسی ته معلومه سوه ، عجیبه خبره ده ، آیا تاسی دهغوی څخه زیات واقف یاست ؟ (روح)

ددی څخه معلومه سوه چی وروسته خلګو محضی په خپل اتکل او اندازه سره یوه درخته متعینه کړه او دهغه لاندی حاضریدل اولمونځونه کول یی شروع کړل ، فاروق اعظم ﷺ ته دا هم معلومه وه چی دا هغه درخته نه ده ، بیا هم دشرك دخطری لاحق کیدو په وجه به یی هغه پرېکړی وای ، دا هیڅ بعیده نه ده .

دخیبرفتح:خیبرپه حقیقت کی دیوی صوبی نوم دی په کومه کی چی ډیرکلی باغونه شامل دی (مظهری)

وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا:ددی قریبی فتح څخه مرادپه اتفاق سره دخیبرفتح ده کومه چی دحدیبیی څخه دواپس کیدو څخه وروسته واقع سوه دځینوروایتونومطابق خودحدیبیی دواپسی څخه وروسته د دوی قیام په مدینه منوره کی صرف لس ورځی او دنورو روایتونو مطابق شل ورځی پاته سو ، ددی څخه وروسته دخیبر طرف ته روان سو او دابن اسحاق دروایت مطابق دوی په ذی الحجه کی مدینی منوری ته واپس تشریف

Maktaba Tul Ishaat.com

راوړی اوپه محرم سنه ۷ هجری کی دوی دخیبر دپاره تشریف یوړی اوپه صفر سنه ۷ هجری کی خیبرفتح سو، دواقدی په مغازی کی دالیکل سوی دی اوحافظ ابن حجر فرمایی چی دا راجح ده (مظهری)

په هرحال دا ثابته سوه چی دا واقعه دفتح خیبر دسفر دحدیبیی څخه کافی ورځی وروسته پیښه سوې ده او دسورة فتح دحدیبیی په سفر کی نازلیدل دټولو په نزد متفق علیه ده ، البته په دی کی اختلاف دی چی ټول سورة په دغه وخت نازل سوی دی یاځه آیتونه وروسته نازل سول ، که اول صورت راجح وی نو په دی آیتونو کی دخیبر دواقعی بیان په طور دپیش گویی وسو، او په صیغه دماضی دقطعی او یقینی کیدو په بنا تعبیر ورځخه وسو اوکه دوهم قول راجح وی نو دا کیدی سی چی دا آیتونه وروسته دواقع کیدو دفتح خیبر څخه نازل سوی وی (واللہ اعلم)

وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا : مراد ددی څخه دخیبر مالِ غنیمت دی ، دکومو څخه چی مسلمانانو ته سهولت او خاطرِ جمعي حاصله سوه .

وَعَدَكُمُ اللهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَذِهِ : ددی څخه مراد ټول اسلامی فتوحات او دهغه غنیمتونه دی کوم چی ترقیامته پوری حاصلیدونکی دی ، اولنی غنیمتونه یی داهل حدیبیه دپاره دالله ﷻ په حکم سره مخصوص کړی وه ، دا دټولو دپاره عام دی ، ددی څخه معلومیږی چی دتخصیص حکم یی په دی آیتونو کی ذکر ؤ نه کړل سو، بلکه هغه په جلا وحی سره نبی کریم ﷺ ته نبوول سوی دی ، دوی په هغه عمل وکی او اصحابو کرامو ﷺ ته یی دا ونبوولە .

وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ : ددی څخه مراد کفار دخیبر دی ، چی هغوی ته په جهاد کی دځه زیات زور نبوولو موقع الله ﷻ ور نه کړه ، امام بغوی فرمایی چی دغطفان قبیله دخیبر دیهودو حلیف وه ، هرکله چی دی قبیلی خبر واوریدی چی نبی کریم ﷺ دخیبر په یهودو حمله کړی ده نو دا خلګ دیهودو دمدد دپاره په ډیر ساز اوسان کی را ووتل ، مګرالله ﷻ دهغوی په زړونو باندی رعب واچوی او په دی فکر کی سول چی که مونږ دی طرف ته ولاړو نو بعیده نه ده چی دمسلمانانو څه لښکر زمونږ شاته زمونږ په کورونو حمله وکی ، په دی وجه ټول ساړه سول کښینستل (مظهری)

لِتَكُونَ آيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا : اصل هدایت دصراط مستقیم خو دی حضراتو ته دمخکی څخه حاصل وو، مګر لکه چی مخ ته لیکل سوی دی چی دهدایت درجی بی شمیره دی ، دلته هغه درجه مراده ده کومه چی دمخکی څخه حاصله نه وه یعنی په الله ﷻ باندی تکیه او دقوت ایمانی زیاتوالی .

وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ اللهُ بِهَا : یعنی الله ﷻ دمسلمانانو سره دنورو ډیرو فتوحاتو وعده کړې ده په کومو چی لا د دوی قدرت نسته په دی فتوحاتو کی چونکی اولنی دمکی مکرمی فتح ده ، په دی وجه ځینو حضراتو ددی څخه دمکی فتح مراد اخیستی ده ، مګر الفاظ عام دی ، تر قیامته پوری کیدونکی فتوحات په دی کی شامل دی (مظهری)

وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوَلَّوُا الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَ

اوکه جنګ کړی وای ستاسی سره کافرانو نو په شا به تښتیدلی وای بیابه یی نه وای پیدا کړی څوک حمایتی

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا نَصِيرًا ﴿۲۲﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ

او نه مددګار ، دا طریقه جوړه سوی ده دالله چې را روانه ده دمخکی څخه ، اوته به هیڅکله ونه وینی

اللّٰهِ تَبْدِيلًا ﴿۲۳﴾ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ

دالله طریقه بدله سوی ، او هغه دی کوم چې منع کړل دهغوی لاسونه ستاسی څخه ، اوستاسی لاسونه دهغوی

بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا

څخه دمکی ښار په مابین کی وروسته دهغه څخه چې ستاسی په لاس کی راغلل هغوی او دی الله په هغو چې

تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿۲۴﴾ هُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ

تاسی کوی لیدونکی ، دا هغه خلق دی کوم چې منکر سول او منع یی کړاست تاسی دمسجد حرام څخه

الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوفًا أَنْ يَبْلُغَ مَحِلَّهُ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُؤْمِنُونَ

او قربانی هم بندی وی ددې خبری څخه چې ورسیږي خپل ځای ته ، اوکه نه وی سړی مؤمنان

وَنِسَاءٌ مُؤْمِنَاتٌ لَمْ تَعْلَمُوهُمْ أَنْ تَطَئُوهُمْ فَتُصِيبَكُمْ مِنْهُمْ

اوښځی مؤمنانی کوم چې تاسی ته معلوم نه دی داخطره چې تاسی به یی پایمال کی بیابه لویدلی وای په تاسی د دوی په وجه

مَعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِي رَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا

خرابی په ناپوهی کی ، چې داخلوی الله په رحمت خپل کی هغه څوک چې غواړی او که هغه خلق یو

لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿۲۵﴾ إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا

طرف ته سوی وای نو عذاب به غورځولی وای مونږ په کافرانو دهغوی څخه عذاب دردناک ، هرکله چې جوړ کی کافرانو

فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ

په خپلو زړونو کی ضد ضد دجاهلیت بیا نازل کی الله دخپل طرف څخه اطمینان په

رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ وَكَانُوا أَحَقَّ

رسول خپل اوپه مؤمنانو باندی اوقائم یی کړل دوی په خبره دتقوی او هغه وو ددې لائق

Maktaba Tul Ishaat.com

بِهَا وَاَهْلَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۲۶﴾

او ددی اهل او دی الله په هرشی باندی خبر دار

لنډتفسیر: او (چونکی دهغوکفارو دمغلوبیت مقتضیات موجود وه کوم چی مخ ته راځی په دی وجه) که چیری (په تاسی کی دا صلح نه وای سوی بلکه) ستاسره دی کافرانوجنګ کړی وای نو (ددغی مقتضیاتو په وجه سره به دوی) خامخاپه شاتښتیدلی وای ، بیابه دوی ته نه یو یار پیدا کیدی نه مددګار (او) الله ﷻ (دکفارو دپاره) دا دستور جوړ کړی دی کوم چی دمخکی څخه راروان دی (چی په مقابله کی حق پرست غالب او باطل پرست مغلوب وی اویوځای په یو وخت کی په دی کی تاخیر کیدل په مصلحت سره هغه ددی منافی نه دی) اوته به دخدای په دستورکی (دیوسړی دطرف څخه) رد اوبدل نه کی پیدا (چی خدای ﷻ څه کار کول وغواړی اوځوک یی کولو ته پرینږدی) اوهغه داسی دی چی هغه دهغوی لاسونه ستاسی څخه (یعنی ستاسی دقتل څخه) اوستاسی لاسونه دهغوی دقتل) څخه عین مکی (ته په نژدی) کی (یعنی په حدیبیه کی) منع کړل وروسته ددی چی تاسی ته یی په هغوی منع درکړی وه (دا اشاره ددی واقعی طرف ته ده کومه چی دحدیبی دقصی په شپږم جزء کی په شروع کی بیان سوې ده ، چی دقریشو پنځوس سړی اصحابو ﷺ ګرفتار کړی وه او بیا ځینی نورخلګ هم ونیول سول او دمسلمانانو په قبضه کی راغلل ، دغه وخت که مسلمانانو هغوی قتل کړی وای نو بل طرف ته په مکه کی حضرت عثمان ﷺ او ده څوملګری بند سوی وه هغوی به دوی شهیدان کړی وای او ددی لازمی نتیجه په مکمل طور سره جنګ منبتل وه اوکه څه هم د ذکر سوو آیتونو په اولنی آیت کی الله ﷻ دا هم واضحه کړې ده چی که جنګ سوی هم وای نو فتح به دمسلمانانو وه ، لیکن دالله ﷻ په علم کی دمسلمانانو لوی مصلحت په دی کی وو چی دا وخت جنګ ونه سی ، په دی وجه یی دی خواته دمسلمانانو په زړونوکی دا خبره واچوله چی دهغوی قیدیان دی قتل نه سی ، دغه شان دمسلمانانو لاسونه دهغوی څخه منع سول ، بل طرف ته دقریشو په زړوکی الله ﷻ دمسلمانانو رعب واچوی چی هغوی صلح ته مائل سول سهیل یی دحضور ﷺ په خدمت کی ولیږی ، دغه شان دالله ﷻ حکمت دواړه طرف ته دجنګ انتظام کولوته جوړ نه کړل اوالله ﷻ ستاسی کارونه (هغه وخت) لیدل (او دهغو کارونو په نتیجو باندی پوه وو ، په دی وجه یی داسی کار کیدوته پری ننبودی ، په کوم سره چی جنګ جوړیدی ، مخ ته ددی بیان دی چی که جنګ سوی وای نوکفاربه څنګه او ولی مغلوب وای) دا هغه خلګ دی کومو چی کفر وکی اوتاسی یی (دعمری کولو دپاره) دمسجد حرام څخه منع کړاست (مراد مسجد حرام او دصفا مروه دمینځ میدان کوم ځای چی سعی کیږی، دواړه دی ، مګر چونکی طواف اصل او اول دی او هغه په مسجد حرام کی کیږی ، په دی وجه یی دهغه څخه دمنع کولو په ذکر بسوالی وکی) او دقربانی حیوانان کوم چی (په حدیبیه کی) منع سوی وه هغه یی دهغو موقعی ته درسیدو څخه بندکړل (دحیوانانو دقربانی موقع منی ده ، هغو خلګو حیوانان منی ته نه پرینبوول ، د دوی ددی جرمونو او په حرم محترم کی دکښینستلو دداسی ظلم کولو تقاضا دا وه چی مسلمانانو ته دجنګ حکم سوی وای چی دغه خلګ مغلوب سوی وای ، لیکن ځینی

Maktaba Tul Ishaat.com

حکمتونه ددی تقاضی پوره کولو څخه مانع سول ، په هغه حکمتونو کی یو دا دی چی دغه وخت په مکه کی ډیر مسلمانان دکفارو دلاسه محبوس اومظلوم وه لکه چی دحدیبیی دقصی په لسم جزء کی ددی ذکر راغلی دی او دهغوی څخه دابو جندل دحضور ﷺ په خدمت کی رسیدل اوفریادکول بیان سوی دی که دغه وخت جنګ سوی وای نو په غیر شعوری طور به دغومسلمانانوته هم نقصان رسیدلی وای اوممکنه وه چی د دوی دلاسه هغوی قتل سوی وای اوعامو مسلمانانو به بیا په دغه افسوس اوپښیمانی کولی ، په دی وجه الله ﷻ داسی حالات پیدا کړل چی جنګ ونه سی ، دا مضمون مخ ته فرمایی چی) که چیری (په مکه کی دغه وخت) ډیرمسلمانان سړی او ډیری مسلمانانی ښځی نه وی دکومو چی تاسی ته خبرهم نه وو ، یعنی که ددغو دپایمال کیدو احتمال نه وای په کوم چی دهغه په وجه به تاسی ته هم په بی خبری کی (دغم اوافسوس) ضرر رسیدی (که دا خبره نه وای) نو ټوله قصه به ختمه سوی وای ، لیکن داسی په دی وجه (ونه سول چی الله ﷻ په خپل رحمت کی چا ته چی غواړی دا خل کړی چنانچی په جنګ نه کیدو سره دغه مسلمانان محفوظ سول او تاسی دهغوی دقتل دګناه اوبیا په دی دغم اوافسوس څخه محفوظ سواست ، البته) که چیری دا (مذکوره مسلمانان دمکی څخه یو) بلی خواته تللی وای نو په دی (اهل مکه) کی چی کوم کافران وه مونږ به هغوی ته (دمسلمانانو په لاس) دردناکه سزا ورکړی وای (او ددی کافرانو دمغلوب اومقتول کیدو یوه مقتضی بله هم وه) کله چی دی کافرانو په خپلو زړونوکی شرم لره ځای ورکی او شرم هم دجاهلیت (ددی شرم څخه هغه ضد مراد دی کوم چی دبسم الله او رسول دلفظونو په لیکلو باندی دوی مزاحمت وکی لکه چی لوړ دحدیبیی دصلح نامی په بیان کی یی ذکر سوی دی) نو (ددی مقتضادا وه چی مسلمانان دجوش څخه په جنګ سوی وای مګر) الله ﷻ خپل رسول لره اومومنانو لره دخپل طرف څخه تحمل ورکی (چی ددی په وجه سره دوی ددی کلمی په لیکلو باندی اصرار پریښووی ، اوصلح وسوه) او (دغه وخت) الله ﷻ مسلمانان په خبره دتقوٰی ثابت قدم وساتل (دتقوٰی دخبری څخه مراد کلمه طیبه یعنی دتوحید او رسالت اقرار دی او دثابت قدم پاته کیدو مطلب دا دی چی دتوحید اورسالت دعقیدی تقاضا اطاعت دی دالله ﷻ او درسول ﷺ او دمسلمانانو داصبر اوضبط دخپلو جذباتو خلاف صرف په دی وجه وو چی نبی کریم ﷺ دضبط اوصبرحکم فرمایلی وو ، په داسی سخته مرحله کی دخپلو جذباتو خلاف درسول داطاعت نوم په کلمه دتقوٰی باندی ثابت قدم اوسیدل دی) اوهغه (مسلمانان) دهغه (کلمی دتقوٰی په دنیاکی هم) زیات مستحق دی (ځکه چی د دوی په زړونوکی دحق طلب دی او دا طلب یی ایمان ته رسوی) او (په اخرت کی هم) ددی (ثواب) اهل دی اوالله ﷻ هر شی ډیر ښه پیژنی .

معلومات اومسئلي : بِبَطْنِ مَكَّةَ : ددی لفظ معنٰی عین مکه ده ، مګر دلته ددی څخه مراد دحدیبی مقام دی دی ته یی دمکی مکرمی سره دډیر متصل کیدو په بنا بطن مکه ووییله او ددی څخه په دی خبره تائید کیږی کوم چی حنفیه وو اختیار کړي ده چی دحدیبیی څه حصه په حرم کی دا خله ده .

اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ : ددی څخه معلومیږی چی څوک داحرام ترلو څخه وروسته په څه وجه مکی ته ددا خلیدو څخه منع سو ، په هغه باندی په اتفاق سره دا خو لازمه ده چی قربانی کوی ، هلته به داحرام څخه حلال سی

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن په دی اختلاف دی چی دا قربانی به هلته کیدی سی کوم ځای چی هغه منع سوی دی ، یادنورو قربانیو په شان ددی هم په حدودو دحرم کی دا خلیدل شرط دی دحنفیه وو په نزد ددی هم دحرم په حدودو کی دا خلیدل شرط دی ، په دی آیت سره د دوی استدلال دی چی دلته ددی قربانی دپاره قرآن یو خاص عمل مقررکړی دی ، دکوم ځخه چی کفارو مسلمانان منع کړی وه ، ددی ځخه معلومه سوه چی ددی قربانی دپاره دحرم په حدودوکی کول شرط دی ، پاته سوه دا معامله چی پخپله دحنفیو دا قول هم دی چی دحدیبیی ځینی حصه په حرم کی داخله ده ، نو بیا دحرم ځخه منع کول څنګه ثابت سو؟ نو جواب دا دی چی که څه هم ددی قربانی دحرم په حدودوکی په هرځای کی کول شرعًا کافی دی ، مګر هغه خاص ځای کوم چی په منٰی کی دننه دقربان ګاه په نوم سره موسوم دی ، په هغه کی کول افضل دی ، دمکی کافرانو دغه وخت مسلمانان دغه افضل ځای ته دقربانی دحیوانانو دبوتللو ځخه منع کړی وه .

فَتُصِيبَكُمْ مِنْهُمْ مَعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ دلفظ د: مَعَرَّةٌ معنٰی ځینو حضراتو په ګناه سره کړي ده اوځینو حضراتو مطلق په مضرت سره، اودځینو دعیب بیان کړي ده ، په دی مقام ظاهره دا اخری معنٰی ده ، چی که جنګ منبتی وای او دبی خبری په حالت کی دمسلمانانو دلاسه په مکه کی دمحبوسو مسلمانانو قتل سوی وای نو دا به دیو عیب او شرم خبره هم وای ، چی کفارو به دوی ته پیغور ورکولی چی خپل دینی ورونه یی قتل کړل اومضرت هم ، دمقتولو مسلمانانو مضرت خو ظاهر دی ، قاتلان مسلمانان چی خبر سوی وای ، نو سخت افسوس او پښیمانه به وای ، دا مضرت به عامو مسلمانانو ته رسیدی .

(دصحابه کرامو ﷺ دغلطي اوعیب ځخه دمحفوظ کولو قدرتي نظام)

امام قرطبی فرمایی چی بغیر دعلم ځخه که یومسلمان دبل مسلمان دلاسه مړسی هغه ګناه خونه ده مګر دیوعیب اوشرم اوندامت اوافسوس سبب خامخادی اوپه قتلِ خطا باندی ددیت ورکولو هم احکام سته الله ﷻ دخپل رسول اصحاب ددی ځخه هم محفوظ کړل ، ددی ځخه معلومه سوه چی دصحابه کرامو ﷺ سره دحق تعالی معامله داسی ده چی دوی که دانبیاوو ﷺ په شان معصوم خو نه دی ، مګر په عام طور سره د دوی دخطاګانو او عیبونو ځخه دمحفوظ کولو قدرتی انتظام کیدی سی .

لِيُدْخِلَ اللهُ فِي رَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ : یعنی الله ﷻ په دی موقع دمسلمانانو په زړونوکی تحمل پیداکی ، دجنګ نه کیدو انتظام یی ځکه وکی چی په هغوی کی دډیرو خلګو اننده اسلام قبلول الله ﷻ ته معلوم وو ، په هغوی درحمت کولو دپاره دارنګه کوم مسلمانان چی محبوس وه ، په هغوی درحمت کولو دپاره دا ټول انتظام وسو .

لَوْ تَزَيَّلُوْا : دتزیل معنٰی په اصل کی دجلا کیدو ده ، مطلب دا دی چی په مکه کی محبوس مسلمانان دکفارو ځخه جلا اوممتاز وای چی مسلمانانو دوی پیژندی او دتکلیف ځخه یی بچ کولی نو ددغو کفارو دحالاتو تقاضا دا وه چی دغه وخت دوی ته دمسلمانانو په لاس سزا ورکول سوی وای مګر چونکی محبوس ضعیفان مسلمانان سړی اوښځی په دوی کی خلط وه که جنګ سوی وای نو دهغوی دبچ کولو صورت نه جوړیدی ، په دی وجه الله ﷻ دا جنګ موقوف کی ونه سو .

وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا: دتقوٰی دکلمی ځخه مراد داهل تقوٰی کلمه ده یعنی کلمه دتوحید اورسالت دی ته کلمه دتقوٰی ځکه وویل سوه چی داکلمه دتقوٰی بنیاد دی ، او صحابه کرامو ﷺ ته یی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کلمی حقدار اواهل وفرمایل ، الله ﷻ دهغو خلکو رسوایی ظاهره کړه کوم چی په دی حضراتو دکفر اونفاق الزام لګوی چی الله ﷻ خو دوی داسلام دکلمی حقدار اواهل ګرځوی اودا بدبختان تبرا په کوی.

لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ ۚ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ

الله ﷻ رښتینی کی دخپل رسول خوب په حقه سره ، چی تاسی به داخل سی مسجد حرام ته که الله ﷻ وغوښتله

اٰمِنِيْنَ ۙ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ ۙ لَا تَخَافُوْنَ ؕ فَعَلِمَ مَا لَمْ

په امن سره وریښته خرونکی دخپلو سرونو اولنډونکی بی خطری څخه ، نو معلومه یی کړه

تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۲۷﴾ هُوَ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ

هغه چی تاسی ته نه وه معلومه بیا یی مقرر کړه ددې څخه ماسوا یوه بله فتح نژدی ، (الله) هغه دی چی وهی لیږلی

رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

رسول خپل په سیده لاره اورښتینی دین باندی چی غالب کړی دا په ټوله دینونو او کافی دی الله

شَهِيْدًا ﴿۲۸﴾ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ

حق ثابتونکی ، محمد (ﷺ) رسول دی دالله ، اوکوم خلق چی دده سره دی زور اوردی په کافرانو باندی نرم دله دی

بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ۫ سِيْمَاهُمْ

په خپل مینځ کی ته وینی دوی په رکوع اوپه سجده کی لټوی دالله ﷻ فضل اورضامندی ننبانی د دوی

فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ ۚۛ وَمَثَلُهُمْ

په مخانوکی دی ، د اثر دسجدو څخه ، داشان دی د دوی په تورات کی ، اوشان د دوی

فِی الْاِنْجِيْلِ ۚۛ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى

په انجیل کی ، لکه فصل چی را وباسی خپل تیغ بیا یی تنه مضبوطه کړی بیا غټ سی ، بیاودریږی

عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

په خپله تنه باندی خوشحالوی کروندګران چی وسوزی په دی کافران ، وعده ده الله ﷻ دمؤمنانو سره

Maktaba Tul Ishaat.com

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾

او چی نیك عملونه وکړی دهغوی څخه دمعافی او دلوی ثواب .

لنډه تفسیر: بیشکه الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته رښتینی خوب ښوولی دی کوم چی دواقع مطابق دی ، تاسی خلك به مسجد حرام ته انشاء الله خامخا ځی په امن او امان سره چی په تاسی کی به څوك سرخریی ، څوك به وریښته لنډ وی تاسی ته به هیڅ قسم خطره نه وی (چنانچی راتلونکی کال داسی وسوه او ددی کال څخه دتاخیر وجه دا ده چی) نو الله ﷻ ته هغه خبری (اوحکمتونه) معلوم دی کوم چی تاسی ته معلوم نه دی (دهغو حکمتونو څخه یو دا هم دی) چی دهغه (خوب دواقع کیدو) څخه مخکی تاسی ته یوه نژدی فتح (دخیبر) درکړی (چی په دی سره مسلمانانو ته قوت اوسامان حاصل سی او دوی په پوره اطمینان سره عمره ادا کی لکه چی داسی واقع سوه) هغه الله ﷻ داسی دی چی هغه خپل رسول لره (د) هدایت (سامان یعنی قرآن) اورښتینی دین (اسلام) ورکړی را لیږلی دی چی هغه (دین) پرټولو دینونو باندی غالب کی (داغلبه دحجت او دلیل په اعتبار سره خو دائمی اوهمیشه به وی اودشوکت اوسلطنت په اعتبار سره به هم غلبه وی ، مګر دیو شرط سره هغه دا چی اهل دین یعنی مسلمانان باصلاحیت وی ، هرکله چی دا شرط نه وی نو دظاهری غلبی وعده نسته اوچونکی په صحابه کرامو ﷺ کی دا شرط موجود وو لکه چی په راتلونکو ایتونوکی دصحابه وو متعلق راروان دی ، په هغه کی ددی صلاحیت ذکر دی ، په دی وجه په دی آیت کی لکه چی دنبی کریم ﷺ درسالت خوشخبری ده ، دغسی دصحابه کرامو ﷺ دپاره دفتوحاتو خوشخبری ده لکه چی ولیدل سوه چی دنبی کریم ﷺ پروفات پنځویشت کاله نه وه تیرسوی چی اسلام اوقرآن په فاتحانه طور سره ددنیا ګوټ ګوټ ته ورسیدی) او (دجاهلیت ضد کوونکی که ستا دنوم سره درسول دلفظ دلیکلو څخه ګریز کوی نو ته مه غمجن کیږه ځکه چی ستاپه رسالت) الله ﷻ کافی شاهد دی (چی هغه ستا رسالت په واضحو دلیلو اوښکاره معجزو سره ثابت کی اوویی ښووی ددی څخه ثابته سوه چی) محمد ﷺ دالله رسول دی (دلته دمحمد رسول الله په پوره جملی راوړلو سره دی طرف ته اشاره ده چی دجاهلیت ضد کوونکو د دوی دنوم سره رسول الله لیکل نه خوښول نوهیڅ پروا نسته الله ﷻ دا کلمه ستا دنوم سره ولیکله کومه چی به ترقیامته پوری ویل کیږی ، مخ ته د دوی دتابعدارانو اصحابو ﷺ فضیلتونه اوخوشخبری مذکور دی چی) کومو خلګو ستاسی صحبت پیداکړی دی (دالفظ ټولو صحابه کرامو ﷺ لره شامل دی برابره خبره ده که دحضور ﷺ صحبت ورته اوږد ورکول سوی وی اوکه لږ اوکوم صحابه ﷺ چی په حدیبیه کی د دوی سره وه ، هغه اصالةً اوخصوصًا ددی مصداق دی ، مطلب دا دی چی ټول صحابه کرام ﷺ په دی صفتونو دکمال سره موصوف دی چی) هغه دکافرانو په مقابله کی تیز دی (او) په خپل مینځ کی مهربان دی (او) ای مخاطبه! ته به هغوی وینی چی کله به رکوع کوی، کله به سجده کوی (او) دالله ﷻ دفضل او رضا مندی (یعنی ثواب اوقرب) په لټون کی لګیدلی وی ، دهغوی (بندګی) نښی (دهغوی) دسجدو په تاثیر سره دهغوی پرمخونو ښکاره دی (مراد ددی نښو څخه دخشوع اوخضوع انوار دی کوم چی دمومن متقی په مخ باندی عموماً لیدل کیږی) دا دهغوی صفتونه (مذکوره)

Maktaba Tul Ishaat.com

په تورات کی دی اوپه انجیل کی دهغوی دا وصف (مذکور) دی ، لکه فصل چی هغه (اول دمخکی څخه) خپل تیغ راوباسی ، بیاهغه (دخاوری ، اوبو اوهوا څخه خپل خوراك خپل) هغه (تیغ) قوی کړی (یعنی هغه فصل قوی سی) بیا هغه فصل نور غټ سی بیاپه خپله تنه سیده ودریږی چی (په خپلو تازه سرسبز کیدو سره) زمینداړو ته ښه معلومیږی (دغه شان په صحابه کرامو ﷺ کی اول ضعف وو ، بیایی روزانه قوت زیاتیدی اوالله ﷻ دصحابه کرامو ﷺ دا نشو اونما ځکه وکړه) چی د دوی (په دی حالت) سره کافران (په حسد کی) وسیږی (اوپه اخرت کی) دهغو صاحبانو کومو چی ایمان راوړی دی او نیك کارونه کوی (دگناهونو) دمغفرت او (په طاعاتو) داجر عظیم وعده کړې ده .

معلومات اومسئلي : صلح حدیبیه مکمله سوه او دا خبره فیصله سوه چی دا وخت به بغیر دمکی دتللو څخه او دعمری کولو څخه وروسته مدینی ته تلل وی اودصحابه کرامو ﷺ دعمری دا قصد دنبی کریم ﷺ دخوب په بنا سوی وو کوم چی په قسم سره وی ، اوس په ظاهره دهغه خلاف کیدل یی ولیدل دځینو صحابه کرامو ﷺ په زړونو کی په خپله دا شکونه پیدا کیدل شروع سوه چی (نعوذ بالله) د دوی ﷺ داخوب رښتنی نه سو ، بل طرف ته کفارو اومنافقانو مسلمانانوته پیغورونه ورکړل چی ستاسی درسول خوب رښتنی نه سو ، په دی باندی دالاندی آیت نازل سو ، لَقَدْصَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ (رواه البیهقی وغیره عن مجاهد)

لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ : لفظ دصدق په مقابله دکذب په خبرو کی استعمالیږی ، کوم قول چی دواقعی مطابق وی ، هغه ته صدق اوکوم چی مطابق نه وی هغه ته کذب ویل کیږی اوځینی وخت دالفظ دافعالو دپاره هم ویل کیږی ، نو دغه وخت ددغه معنی دځه کار دمحقق اوثابت کولو وی ، لکه چی په قرآن کی دی ، رِجَالٌ صَدَقُوا مَاعَاهَدُوا اللّٰهَ یعنی هغه داسی خلګ دی کومو چی خپله معاهده پوره کړه ، دغه وخت دصدق دوه مفعوله وی لکه چی په دی آیت کی دلفظ دصدق اولنی مفعول رسوله او دوهم رؤیا دی او معنی دآیت دا ده چی الله ﷻ خپل رسول په خپل خوب کی رښتنی کی (بیضاوی) اوکه څه هم دا درښتنی کولو واقعه مخ ته راتلونکی وه مګر دا یی په لفظ دماضی تعبیرکی ، ددی قطعی اویقینی والی طرف ته یی اشاره وکړه چنانچی مخ ته په لفظ دمستقبل سره فرمایی چی، لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ : یعنی تاسی چی کوم په خوب کی لیدلی وو ، چی مونږ مسجدحرام ته داخل سو ، دابه خامخا وسی ، مګر په دی کال نه بلکه ددی کال څخه وروسته به وی ، په خوب کی ددی وخت معین نه وو صحابه کرامو ﷺ دخپل شوق په وجه سره په دی کال دسفر قصد وکی اونبی کریم ﷺ د دوی موافقت وفرمایی ، په کوم کی چی دالله ﷻ لوی حکمتونه وه ، دکومو چی ظهور دصلح حدیبیه په وخت وسو ، لکه چی صدیق اکبر ﷺ داول څخه دحضرت عمر ﷺ په جواب کی فرمایلی وه ، چی ته په شك کی مه پریوزه ، نبی کریم ﷺ په خوب کی څه وخت او کال نه وومعین کړی ، که دا وخت ونه سو نو بیابه وسی (قرطبی)

(دآئنده کیدونکو کارونو دپاره دانشاء اللّٰه ویلو تاکید)

په دی آیت کی الله ﷻ دراتلونکی داخلی دمسجدحرام سره دانشاء الله لفظ استعمال وفرمایی ، حال دا دی چی الله په خپله دخپل مشیت عالم دی ، هغه ته ددی دوینا ضرورت نه وو ، لیکن خپل رسول ﷺ اوټولو بندګانو ته دتعلیم ورکولو دپاره دلته حق تعالی هم لفظ دانشاء الله استعمال وفرمایی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ : په صحیح بخاری کی دی چی په راتلونکی کال عمره قاضاء کی حضرت معاویه ﷺ دنبی کریم ﷺ وریښته مبارك په غچی سره تراش کړی وه ، دا واقعه دعمری دقضاء ده ځکه چی په حجة الوداع کی دوی حلق فرمایلی وو (قرطبی)

فَعَلِمَ مَالَمْ تَعْلَمُوْا : یعنی دالله ﷻ په قدرت کی خو دا هم وه چی په دی کال تاسی ته مسجد حرام ته داخلیدل اوعمره نصیب سوی وای ، لیکن دراتلونکی کال پوری په تاخیر کولو کی لوی مصلحتونه وه کوم چی الله ﷻ ته معلوم وه تاسی ته نه وه معلوم من جمله دهغو مصلحتونو ځخه یو دا هم وو چی الله ﷻ غوښتل چی ددی ځخه مخ ته خیبر فتح سی ، دمسلمانانوپه قوت اوسامان کی اضافه وسی اوهغوی په فراغت اواطمینان سره عمره ادا کړی ، په دی وجه فرمایی ، فَجَعَلَ مِنْ دُونِ ذَلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا دَدُوْنِ ذٰلِكَ : ځخه مراد دُوْنَ الرُّؤْيا دی : یعنی ددی خوب دواقع کیدو ځخه مخکی به دخیبر قریبه فتح مسلمانانو ته حاصله سی اوځینی حضرات فرمایی چی ددی فتح قریبی ځخه مراد په خپله صلح حدیبیه ده چی دغه دفتح مکی اوټولو فتوحاتو مقدمه وه او وروسته خو ټولو صحابه کرامو ﷺ دا اعظم الفتوحات مقرر کړي ده نو اوس به مطلب دایت دا وی چی په دی کال کی ستاسی دسفر قصد بیا ناکامه کیدو اوپه صلح کیدو کی چی کوم حکمتونه اومصلحتونه وه هغه ستاسی په علم کی نه وه ، لیکن الله ﷻ دټولو ځخه واقف وو هغه غوښتله چی تاسی ته ددی خوب دواقعی ځخه مخکی دصلح حدیبیه په ذریعه یوه نژدی فتح نصیب کړی ، ددی نژدی فتح دا نتیجه ټولو ولیده چی صحابه کرام ﷺ دکومو شمیرچی په سفر دحدیبیه کی دیونیم زر ځخه زیات نه وو ، ددی ځخه وروسته لسو زروته ورسیدی (قرطبی)

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ : په تیرو ایتونو کی چی دکومو فتوحاتو او غنیمتونو وعدی او داهل حدیبیه خصوصًا او دټولو اصحابو عمومًا فضیلتونه او خوشخبری ذکر سوی دی ، اوس دسورة په خاتمه کی ددغو مضامینو خلاصه اوتاکید دی اوچونکی دا ټول نعمتونه اوخوشخبری دنبی کریم ﷺ داطاعت اوتصدیق په بنا وسوی ، په دی وجه ددی تصدیق او اطاعت دزیات تاکید دپاره ، دارنګه په منکرینو درسالت محمدی دردولو دپاره او دصلح حدیبیه په وخت چی دکومو ځینو مسلمانانو په زړونو کی څه شکونه پیدا سوی وه دهغه دلیری کولو دپاره په دی آیتونوکی د دوی درسالت اثبات بلکه دټولی دنیا پر دینونو ددی دین دغالب کولو خوشخبری ورکول سوي ده .

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ : په ټول قرآن کی دخاتم الانبیاء ﷺ دنوم مبارك اخیستلو په ځای عمومًا د دوی ذکر په اوصافو اوالقابو سره سوی دی خصوصًا دنداء په موقع باندی ، يٰأَيُّهَا النَّبِيُّ، يَاأَيُّهَا الرَّسُوْلُ، يٰأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ وغیره : په خلاف دنورو انبیاوو چی ددغو په نومونو سره نداء سوي ده ، یا ابراهیم ﷺ یاموسیٰ ﷺ، یاعیسیٰ ﷺ، په ټول قرآن کی صرف ځلور ځایه د دوی نوم مبارك محمد ذکر فرمایلی دی ، کوم ځای چی د دوی په نوم ذکر کولو کی څه مصلحت وو ، په دی مقام کی مصلحت دا وو چی دحدیبیی په صلحنامه کی د دوی دنوم سره هرکله حضرت علی ﷺ محمد رسول الله ولیکل نو دقریشو کافرانو دا خراب کی دمحمد بن عبد الله په لیکلو یی اصرار وکی ، رسول الله ﷺ په حکم درب دا منظورول قبول کړل

Maktaba Tul Ishaat.com

حق تعالی په دی مقام باندی په خصوصیت سره د دوی دنوم مبارك سره درسول الله لفظ په قرآن کی راوړی دائمی یی جوړ کی ، کوم چی به ترقیامته پوری دغسی لیکلی ویل کیږی .

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ : ددی ځای څخه د دوی دصحابه کرامو ﷺ دفضائلو بیان دی که څه هم ددی څخه مخکی مخاطب صحابه حضرات دی ، کوم چی په حدیبیه اوبیعت رضوان کی شریك وه ، لیکن دالفاظو په عموم کی ټول صحابه کرام ﷺ شامل دی ، ځکه چی صحبت اومعیّت ټولو ته حاصل دی .

(دصحابه کرامو ﷺ فضیلتونه اوصفتونه اوخاص علامات)

په دی مقام الله ﷻ دنبی کریم ﷺ رسالت او د دوی دین په ټولو دینونو دغالب کولو بیان وفرمایی دصحابه کرامو ﷺ دصفتونو اوفضیلتونو اوخاصو علاماتو ذکر یی په تفصیل سره فرمایلی دی ، په دی کی د دوی ددی سخت امتحان انعام هم دی کوم چی دصلح حدیبیه په نوم اخیستل سوی وه چی دهغوی دقلبی یقین اوقلبی جذباتوخلاف صلح وسوه بغیر دمکی دداخلیدو وغیره څخه دناکامه واپسی باوجود د دوی قدم متزلزل نه سو او دبی مثله اطاعت رسول اوقوت ایمانی ثبوت یی ورکی دارنګه دصحابه کرامو ﷺ په فضائلو اوعلاماتوپه تفصیل بیانولو کی داحکمت هم وی نوبعیده نه ده چی دنبی کریم ﷺ څخه وروسته یو بل نبی او رسول خو مبعوث کیدونکی نه وو، دوی دځان څخه وروسته دامت دپاره دکتاب الله سره خپل اصحاب په طور دنمونی پرینبی دی او د دوی داقتداء اواتباع احکام یی ورکړی دی ، په دی وجه قرآن هم د دوی دځه فضیلتونو اوعلاماتو بیان وفرمایی او مسلمانانو ته یی د دوی داتباع ترغیب اوتاکید فرمایلی دی ، په دی مقام داصحابو کرامو ﷺ دټولو څخه اولنی وصف خویی دا بنوولی دی چی هغوی دکفارو په مقابله کی سخت اوپه خپل مینځ کی مهربان دی ، دکفارو په مقابله کی سختیدل د دوی په هره موقع باندی ثابت سوی دی چی نسبی تعلق اوترون یی ټول په اسلام باندی قربان کړی او دحدیبیی په موقع باندی په خصوصیت سره ددی اظهار وسو او په خپل مینځ کی دمهربانیدو او ایثار پیشه کیدو ظهور په صحابه کرامو ﷺ کی هغه وخت په خاص طور سره وسو، هرکله چی په مهاجرینو اوانصارو کی مواخاة قائم سو او انصارو په خپلو ټولو شیانو کی مهاجرینو ته دشریکیدو دعوت ورکی قرآن دصحابه کرامو ﷺ دا وصف مخکی بیان کی ، ځکه په حقیقت کی ددی مطلب دا دی چی د دوی دوستی او دښمنی ، محبت یاعداوت هیڅ شی دخپل نفس دپاره نه وو ، بلکه ټول دالله ﷻ او دهغه درسول دپاره وو اودا هغه شی دی کوم چی دکامل ایمان اعلی مقام دی ، دصحیح بخاری وغیره په حدیث کی دی چی، مَنْ اَحَبَّ لِلّٰهِ وَاَبْغَضَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ اِيْمَانَهٗ : یعنی کوم سړی چی خپل محبت اوبغض او دښمنی دواړه دالله ﷻ درضا تابع کړی ، ده خپل ایمان مکمل کی ، ددی څخه دا هم ثابته سوه چی دصحابه کرامو ﷺ دکفارو په مقابله کی دسختیدو مطلب دا نه دی چی هغوی به هیڅکله په یوکافر باندی رحم نه کوی ، بلکه مطلب دا دی چی په کومه موقع به دالله او درسول حکم په کفارو باندی دسختی کولو وو ، هلته به هغوی خپلی رشتی تعلقات یا د دوستی وغیره علاقی په دی کارکی نه مانع کولی او ترڅو پوری چی د دوی سره درحم اوکرم دمعاملی تعلق دی ، هغه خو پخپله قرآن دهغه فیصله کړې ده ، چی لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ (تر) اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ، یعنی کوم کفارچی مسلمانانو ته ازار ونه رسوی

Maktaba Tul Ishaat.com

او جنګ نه کوی ، دهغوی سره داحسان اوسلوك کولوڅخه الله ﷻ منع نه کوی ، چنانچی دنبی کریم ﷺ اواصحابو کرامو ﷺ بی شمیره واقعات دی په کومو کی چی دضعیفو مجبورو یاضرورتمندو کفارو سره داحسان اوکرم معاملات سوی دی او د دوی په معامله کی عدل او انصاف بر قرار ساتل خو داسلام عام حکم دی ، په عین میدان جنګ کی هم دعدل او انصاف خلاف څه کار وایی جائز نه ده .

دوهم وصف، دصحابه کرامو ﷺ دابیان سوی دی چی ددوی عام حال دادی چی دوی په رکوع سجده اولمانځه کی مشغول وی او د دوی لیدونکی اکثر دوی په دی کار کی مشغول پیدا کی ، اولنی وصف دکمال ایمان علامه وه، دوهم وصف دکمال عمل بیان دی ، ځکه چی په اعمالو کی دټولو څخه افضل لمونځ دی سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ یعنی لمونځ دژوند داسی وظیفه جوړه سوې ده چی دلمانځه اوسجدی مخصوصی نښانی د دوی په مخونو باندی نمایانی دی ، مراد ددی نښانو څخه هغه انوار دی کوم چی دبندګی اوخشوع اوخضوع په سبب دهرمتقی عبادت ګذار په مخ باندی لیدل کیږی ، په تندی کی چی دسجدی کومه نښانه جوړیږی هغه مراد نه ده ، خصوصًا دتهجد دلمانځه دا اثر ډیر زیات واضح وی ، لکه چی په ابن ماجه کی په روایت دجابر ﷺ دنبی کریم ﷺ دا ارشاد دی ، مَنْ كَثُرَتْ صَلٰوتُهُ بِاللَّيْلِ حَسُنَ وَجْهُهُ بِالنَّهَارِ : یعنی کوم سړی چی دشپی ډیرلمونځونه کوی دورځی دهغه مخ ښایسته نورانی په نظر راځی. اوحضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی ددی څخه مراد دلمانځه کوونکو دمخونو هغه نور دی کوم چی په قیامت کی نمایان وی .

ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ : دصحابه کرامو ﷺ چی کومی نښانی لوړ بیان سوی دی چی دسجدو اولمونځونو نور د دوی دتندیو نښانه ده ، په دی آیت کی فرمایی چی د دوی دا مثال په تورات کی بیان سوی دی ، بیافرمایی چی په انجیل کی د دوی یو بل مثال دا ورکول سوی دی چی دوی داسی دی لکه یو زمیندار چی په مځکه کی تخم وکری نو اول هغه دیو ضعیف تیغ په شکل کی ښکاره سی ، بیاپه هغه کی ښاخونه راووزی بیا هغه نور قوی سی بیا دهغه مضبوطه تنه جوړه سی ، دغه شان دنبی کریم ﷺ اصحاب په شروع کی ډیرکم وه یو وخت داسی وه چی دنبی کریم ﷺ څخه ماسوا صرف دری تنه مسلمانان وه ، په سړوکی صدیق اکبر ﷺ، په ښځوکی حضرت خدیجه ﷺ په هلکانوکی حضرت علی ﷺ، بیا کرار کرار د دوی قوت زیاتیدی ، تردی چی دحجة الوداع په موقع دنبی کریم ﷺ سره په حج کی دشریکیدونکو شمیر یو نیم لك ته نژدی ښوول سوی دی .

په دی آیت کی دری احتماله دی ، یو دا چی په، فِي التَّوْرٰةِ باندی وقف وسی اوتیر مثال یعنی دمخونو نور دا نښانه دتورات په حواله سره بیان سوه مخ ته په مَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيلِ ، باندی وقف نه کوی بلکه یو ځای یی وایی نو معنی به یی داسی چی داصحابو مثال په انجیل کی دهغه فصل یا درختی په شان دی کوم چی په شروع کی نهایت کمزوری وی بیا کرار کرار قوی تنه داره درخته سی .

دوهم احتمال دا دی چی په فِي التَّوْرٰةِ : باندی وقف نه وی ، بلکه په فِي الْاِنْجِيلِ باندی وقف وسی ، نو معنی به داسی چی دغه تیره نښانه دنور دمخونو په تورات کی هم ده ، په انجیل کی هم اومخ ته دکزرع مثال یو جلا مثال مقرر سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم احتمال دا دی چی خبره دی په فی التورٰة ختمه وی ، نه په فی الانجیل اولفظ ذٰلِكَ دی دراتلونکی مثال طرف ته اشاره وی نو معنٰی به داسی چی په تورات او انجیل دواړو کی داصحابو مثال دزرع یعنی فصل سره ورکول سوی دی ، که په دی زمانه کی تورات او انجیل په خپل اصلی حالت باندی وی نودهغه دکتلو سره به دقرآن مرادمتعین کیدی سو ، لیکن په هغه کی دتحریفاتو سلسله بی حده اوبی شمیره راغلی ده ، په دی وجه څه یقینی فیصله نه سی کیدی ، مگر اکثرو مفسرینو حضراتو اول احتمال ته ترجیح ورکړي ده ، په کوم کی چی اول مثال دتورات دی او دوهم دانجیل.

امام بغوی رحمه‌الله فرمایی چی دصحابه کرامو رضی‌الله‌عنهم دامثال په انجیل کی دی چی په اول کی به لږ وی ، بیابه زیاتیږی اوقوی کیږی به ، لکه چی حضرت قتاده رضی‌الله‌عنه فرمایی چی دصحابه کرامو رضی‌الله‌عنهم دامثال په انجیل کی لیکل سوی دی چی ، یو قوم به داسی راوزی چی دفصل په شان به زیاتیږی او هغوی به دنیکو کارونو حکم او دبدو کارونو څخه به منع کوی (مظهری)

دموجوده زمانی په تورات اوانجیل کی هم دبی شمیره تحریفاتو باوجود ددی پیش گویی دالاندی الفاظ موجود دی (تورات باب استثناء ۱۲۳ ، ۱تا۳) الفاظ دا دی.

خداوند دسینا څخه راغی او دشعیر څخه په دوی ښکاره سو هغه دفاران غر څخه جلوه گر سو دلسو زرو مقدسانوسره راغی اودهغه په راسته لاس کی یوآتشین شریعت ددوی دپاره وو هغه دخپلوخلگوسره لوی محبت ساتی دهغه ټول مقدس ستاپه لاس کی دی اوهغه ستادقدمونوخواته ناست دی ستا خبره منی.

دا مخکی معلومه سوي ده چی دمکی دفتح په وخت کی دصحابه کرامو رضی‌الله‌عنهم شمیر لس زره وو ، کوم چی دفارن څخه راختونکی ددی نورانی فکر سره دخلیل ښارته دا خل سوی وو ، دده په لاس کی به اتشین شریعت وی ، ددی لفظ څخه اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ طرف ته اشاره پیداکیږی ، هغه به دخپلوخلگو سره محبت کوی ، ددی لفظ څخه رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ مضمون معلومیږی ، ددی پوره تفصیل سره دنورو حوالو په ، اظهار الحق جلد دریم شپږم باب ص۲۵۶ کی دی ، دا کتاب دعیسائیت دواضح کولو دپاره مولانا رحمت الله کیرانوی دپادری فنډر په مقابله کی لیکلی وو ، په دی کتاب کی دانجیل دتمثیل داسی ذکردی ، انجیل متی باب ۱۳ آیت ۳۱ کی دا الفاظ دی ، هغه یوبل تمثیل د دوی په مخکی پیش کی او وي ویل چی دآسمان بادشاهی داُورِی دهغه دانی په شان ده کومه چی یو سړی په خپله مخکه کی وکرله ، هغه دټولو تخمونو څخه خو وړوکی دی ، مگر کله چی لوییږی نو دټولو ترکاریانوڅخه لوی اوداسی درخته سی چی دهوا مرغی راځی دده په ښاخونو کی کښینی ، او دانجیل مرقس ۴: ۲۶ دا الفاظ دی ، کوم چی دقرآن الفاظو ته زیات نژدی دی ، هغه وویل چی دخدای بادشاهی داسی ده لکه یو سړی چی په مخکه کی تخم واچوی اودشپی بیده کیږی دورځی بیداریږی اوهغه تخم داسی زرغون سی او زیات سی چی هغه نه پوهیږی ، مخکه دځانه میوه نیسی اول پانی بیا میوه ، بیاپه میووکی تیاری دانی ، بیاچی کله دانی پخی سی نو هغه فوراً ریبل شروع کړی ځکه چی دپریکولو وخت راغی (اظهار الحق جلد ۳) باب ششم ص: ۳۱۰)، دآسمان دبادشاهی څخه مراد دنبی اخر الزمان کیدل دانجیل دډیرو مقاماتو څخه ظاهریږی ، والله تعالی اعلم

Maktaba Tul Ishaat.com

لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ: یعنی الله ﷻ صحابه کرام ﷺ په هغو کمالی صفتونو سره ښائسته کړل او دوی ته یی ضعف څخه وروسته قوت ، ذلت څخه وروسته کثرت ورکی دا ټول کارځکه وسو چی د دوی په لیدو دکافرانو زړونه وسوزی او دحسد په اور کی لمبه سی .

حضرت ابوعروه زبیری فرمایی چی مونږ دحضرت امام مالك رحمه الله په مجلس کی حاضر وو یو سړی دځینو صحابه کرامو ﷺ دنقص څه کلمی وویلی نوحضرت امام مالك دا پوره آیت تلاوت کی هرکله چی لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ : ته ورسیدی نو وي فرمایل چی دکوم سړی په زړه کی دصحابه کرامو ﷺ څخه دچا سره څه غیظ وی نو ددی آیت وعید به هغه ته ورکول کیږی (قرطبی) حضرت امام مالك رحمه الله خو دا ونه فرمایل چی هغه به کافر سی مګر دا یی وفرمایل چی دا وعید به ده ته هم ورسیږی ، مطلب دا دی چی هغه به دکافرانو په شان کار کوونکی سی .

وَعَدَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا دمِنْهُمْ حرف مِنْ : دلته په اتفاق دمفسرینو بیانیه دی او معنی دا ده چی دا خلګ کوم چی دایمان اوعمل صالح جامع دی ، الله ﷻ د دوی سره دمغفرت او اجر عظیم وعده فرمایلی ده ، ددی څخه یوه خو دا معلومه سوه چی ټول صحابه دایمان او عمل صالح جامع دی ، دوهمه دا چی ددغو ټولو سره دمغفرت او اجر عظیم وعده ده او دا من بیانیه په قرآن کی ډیر استعمال سوی دی ، لکه چی ارشاد دی ، فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ نو مِنَ الْأَوْثَانِ بیان دی ، دلفظ دَالرِّجْسَ : دغه شان دلته مِنْهُمْ بیان دی دَالَّذِينَ امَنُوْا او روافض چی دلته حرف دَمِنْ دتبعیض دپاره وایی او مطلب دا راباسی چی په دوی کی چی کوم ځینی خلګ داسی دی چی په ایمان اوعمل صالح باندی دی دهغوی دپاره دا وعده ده ، داسراسر دکلام دسیاق څخه او دلوړو ایتونو څخه منافی ده ، ځکه چی ددی آیت په مطلب کی هغه اصحاب کرام ﷺ خو بلاشبهه داخل اودایت اولنی مصداق دی کوم چی دحدیبیی په سفر اوبیعت رضوان کی شریك وه ، ددغو ټولو متعلق لوړ په ایتونوکی الله ﷻ دخپلی رضا اوخوشنودی اعلان فرمایلی دی ، لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ : او درضایی الهی دا اعلان ددی ضمانت دی چی دا ټول به تر مرګه پوری په ایمان اوعمل صالح قائم وی ، ځکه چی الله ﷻ خو علیم خبیر دی که دچا متعلق هغه ته دامعلومه وی چی دی به په څه وخت کی دایمان څخه واپس کیدونکی وی ، نودهغه څخه دخپلی رضا اعلان نه سی فرمایلی، ابن عبد البر په مقدمه استیعاب کی ددی آیت نقل کولو څخه وروسته لیکی چی، وَمَنْ رَضِيَ اللهُ مِنْهُ لَمْ يَسْخَطْ عَلَيْهِ أَبَدًا ، یعنی الله ﷻ چی دچا څخه راضی سی بیا هیڅکله ورڅخه نه ناراضه کیږی او رسول الله ﷺ ددی آیت په بنا ارشاد فرمایی چی په بیعت رضوان کی دشریکیدونکو څخه به څوك اورته نه ځی نو دا وعده چی اصالةً د دوی دپاره سوي ده په هغوکی دځینو مستثنی کول قطعًا باطل دی ، په دی وجه دامت په دی اجماع ده چی صحابه کرام ﷺ ټول عادلان او ثقه دی .

(صحابه کرام ﷺ ټول په جمع جنتیان دی ، د دوی خطاګاني مغفور دی د دوی تنقیص کول عظیمه ګناه ده)

دقرآن مجیدپه ډیرو ایتونوکی ددی وضاحتونه دی دکومو څخه چی څو ایتونه په دی سورة کی راغلی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ، وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا: ددی څخه علاوه په نورو ډیرو ایتونوکی دامضمون ذکردی ، يَوْمَ لَايُخْزِي اللهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ، وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ : اوپه سورة حدید کی الله ﷻ دصحابه کرامو﷢ په باره کی فرمایلی دی ، وَكُلًّا وَعَدَ اللهُ الْحُسْنٰى : یعنی دهغوی ټولو سره الله ﷻ دحسنٰی وعده کړي ده ، بیاپه سورة انبیاء کی دحُسْنٰی متعلق فرمایی ، إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنٰى أُولٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ، یعنی دکومو خلګو دپاره چی زمونږ دطرف څخه دحسنٰی فیصله اول سوي ده چی هغه به دجهنم د اور څخه لیری وساتل سی .

اونبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ (بخاری) یعنی په ټولو زمانوکی زما زمانه ښه ده، بیا دهغه زمانی خلګ ښه دی کوم چی زما دزمانی سره متصل دی ، بیاهغه چی د دوی سره متصل دی (بخاری)

او په یو حدیث کی ارشاد دی چی زما اصحابو ته بدمه وایاست څکه چی (د دوی دقوت ایمانی په وجه د دوی حال دا دی چی) که په تاسی کی یو سړی دالله ﷻ په لاره کی دغر برابر سره زر خرڅ کړی نو هغه د دوی دخرڅ کړی یو مُدّ برابر کیدی نه سی او نه دنیم مُدّ برابر کیدی سی ، مُدّ دعربو یوه پیمانه ده کومه چی زمونږ تقریبًا دنیم سیر برابر وی .

او دحضرت جابر﷢ په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ زما صحابه کرام ﷺ دټول جهان څخه خوښ کړی دی ، بیایی زما په صحابه ووکی زما دپاره ځلور خوښ کړی دی ، ابوبکر﷢ عمر﷢ عثمان ﷢ علی ﷢ (بزاز په صحیح سند سره)

او په یو حدیث کی ارشاد دی .

اَللهَ اَللهَ فِي أَصْحَابِي اَللهَ اَللهَ فِي أَصْحَابِي لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللهَ وَمَنْ آذَى اللهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ (ترمذی عن عبدالله بن المغفل، ازجمع الفوائد)

دالله ﷻ څخه وبیریږی ، دالله ﷻ څخه وبیریږی زما داصحابو په باره کی زما څخه وروسته دوی ته بد رد مه وایاست څکه چی کوم سړی د دوی سره محبت وکی نو زما دمحبت په وجه یی د دوی محبت وکی او چا چی دوی ته ازار ورسوی نو ماته یی ازار ورسوی اوچاچی ماته ازار ورسوی هغه الله ﷻ ته ازار ورسوی اوځوک چی الله ته دازار رسولو قصدوکی نوقریبه ده چی الله هغه په عذاب کی ونیسی .

ایتونه او احادیث ددی متعلق ډیر دی کوم چی احقر په خپل کتاب ، مقام صحابه کی جمع کړی دی ، دا کتاب شائع سوی دی ، دټولو صحابه کرامو﷢ په عدل اوثقه والی باندی دټول امت اجماع ده اودصحابه کرامو﷢ په مابین کی چی کوم اختلافات جنګ اوقتال ته ورسیدل ، دهغه متعلق دبحث تمحیص او تنقیداوتحقیق یاسکوت مسئله هم په دی کتاب کی په تفصیل سره لیکل سوي ده اودهغه څخه په قدر دضرورت تفصیل دسورة محمد ﷺ په تفسیرکی راغلی دی هغه وګوری والله المستعان وعلیه التکلان .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة الحجرات﴾

سُوْرَةُ الْحُجُرٰتِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانِيْ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة الحجرات په مدینه کی نازل سو په دی کی اتلس آیتونه (۱۸) او دوي (۲) رکوع ګانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا

ای ایماندارو ! مه مخکي کيږي دالله څخه او دهغه درسول څخه او وبيريږي

اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝۱ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ

دالله څخه ، بيشکه الله اوری پوهيږي ، ای ایماندارو! مه پورته کوی خپل اوازونه

فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ

پورته داواز څخه دنبی ﷺ او مه چيغی وهی ده ته لکه چی تاسی چيغی وهی يو بل ته

اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۝۲ اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ

چی عبث نه سی ستاسی عملونه او تاسی ورڅخه خبر نه ياست ، کوم خلق چی اوازونه کښته کوی

اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ

د رسول الله په مخکي نو هغه دی دکومو چی دزړونو امتحان اخيستی دی ،

لِلتَّقْوٰى ۭ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝۳ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ

دادب دپاره ، دهغوی دپاره بخښنه ده او ثواب لوی ، کوم خلق بولی تا د

وَّرَاۗءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝۴ وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى

ديوال دبل ارخ څخه هغوی اکثر عقل نه لری ، او که چيری هغوی صبر کولی ترڅوچی

Maktaba Tul Ishaat.com

تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾

ته را ووزی هغوی ته نو دا به دهغوی په حق کی ښه وه او الله ﷻ بخښونکی او مهربانه دی.

لنډتفسیر

(دسورة تړون اوشان نزول)

ددی څخه مخکی په دوو سورتونو کی دجهاد احکام وه په کومو سره چی اصلاح دعالم آفاق مقصود وه په دی سورة کی داصلاح نفس احکام او آداب ذکر دی خصوصاً هغه احکام کوم چی دآدابِ معاشرت سره تعلق لری اوقصه ددی آیتونو دنزول دا ده چی یو وخت دقبیله بنو تمیم خلګ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول ، دا خبره تر غور لاندی وه چی په دی قبیله به حاکم څوک جوړول کیږی ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دقعقاع ابن معبد په نسبت رایه ورکړه او حضرت عمر ﷺ داقرع بن حابس متعلق رایه ورکړه ، په دی معامله کی دحضرت ابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ په مینځ کی دحضور ﷺ په مجلس کی خبری وسوی اوخبری زیاتی سوی ، د دواړو اوازونه لوړ سول ، په دی باندی دا آیتونه نازل سول.

ای ایمانداروا دالله ﷻ اودرسول (ﷺ داجازت) څخه تاسی (په څه قول یافعل کی) مخکی والی مه کوی (یعنی ترڅو پوری چی په قوی قرائنو سره یا په وضاحت سره دخبرو اجازه نه وی ، خبری مه کوی لکه چی په ذکر سوی واقعه کی کومه چی سبب دنزول ددی آیتونو سوه ، په دی کی انتظار کول په کار وو چی یاخو ده ﷺ په خپله څه فرمایلی وای یا ده ﷺ دحاضرینو دمجلس څخه پوښتنه کړی وای ، بغیر دانتظار څخه دځانه خبری شروع کول صحیح نه وو ځکه چی دخبرو جواز په اذنِ شرعی موقوف وو ، برابره خبره ده که دا اذن قطعی وی یعنی په وضاحت سره یاظنی په قوی قرائنو سره ، غلطی دا وسوه چی انتظار ونه سو ، په دی دا آیت نازل سو) او دالله ﷻ څخه ډیره کوی بیشکه الله ﷻ (ستاسی دټولو خبرو) اوریدونکی (اوستاسی په کارونو) پوهیدونکی دی (او) ای ایمانداروا تاسی خپل اوازونه دپیغمبر ﷺ داواز څخه مه لوړ وی او مه دوی ته داسی په چغه خبری کوی لکه چی په خپل مینځ کی په چغو خبری کوی (یعنی هرکله چی د دوی په مخکی څه خبره کول وی نو په لوړ اواز سره یی مه کوی ، چی دغه خبره تاسی په خپل مینځ کی کوی اوهرکله چی دوی ته خبره کوی نو هغه هم په برابر اواز سره مه کوی) هسی نه چی ستاسی عملونه بربادسی اوتاسی ورڅخه خبرهم نه یاست (ددی مطلب دا دی چی داواز لوړل کوم چی صورةً بی باکی اوبی پرواهی ده ، اوپه لوړ اواز سره داسی خبری کول لکه په خپل مینځ کی چی دیوبل سره بی تکلفه خبری کوی ، دا یو قسم ګستاخی ده ، دخپل تابع اوخادم له ارڅه داسی خبری ناخوښه اوتکلیف رسونکی کیدی سی ، او دالله ﷻ رسول ته ازار رسول ټول نیک عملونه برباد وی ، البته ځینی وخت هرکله چی په طبیعت کی زیاته خوشحالی وی ، دا کارونه ناخوښه نه وی ، دغه وخت رسول ﷺ ته دازار نه رسولو په وجه سره دا خبری عملونه نه بربادوی ، لیکن متکلم ته دا معلومول چی دا وخت زما داسی خبری په خاطر بار او موجب ازار نه وی آسان کارنه سی کیدی چی متکلم داوګنی اوخبری وکی چی په دی سره به رسول الله ﷺ ته ازارنه وی ، مګر په واقع کی ددغو ځخه ازار ورسیږی نو خبری به دده

Maktaba Tul Ishaat.com

عملونه حبطه اوبرباد کړی ، که څه هم دده به ګمان هم نه وی چی زماپه دی خبرو زما څومره تاوان وسو ، په دی وجه اواز لوړول اوخبری په زوره کول مطلقًا منع کړل سوی ، څکه چی داسی خبری دځینو خلکو که څه هم چی سبب دازار اوحبط اعمال نه وی ، مګر ددی تعین به څنګه وسی ، په دی وجه په زوره خبری کول ټولو خلکو ته پریښوول په کار دی ، تردی ځای پوری خو داواز په پورته کولو باندی وبیرول سول اوس داواز کښته کولو ترغیب دی چی) بیشکه کوم خلک چی خپل اوازونه درسول الله ﷺ په مخکی کښته ساتی ، دا هغه خلک دی دکومو زړونه چی الله ﷻ دتقوی دپاره خالص کړی دی (یعنی دهغوی په زړونوکی دتقوی خلاف څه شی نه راځی ، مطلب دا معلومیږی چی په دی خاص معامله کی دا حضرات په کمال تقوی سره متصف دی ، څکه چی دترمذی په مرفوع حدیث کی دکمال تقوی بیان په دی الفاظو کی راغلی دی ، لَایَبْلُغُ الْعَبْدُ اَنْ یَکُونَ مِنَ الْمُتَّقِینَ حَتّٰی یَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهِ الْبَأْسُ . یعنی بنده کمال تقوی ته ترهغه وخته پوری نه سی رسیدی چی هغه څه داسی شیان هم په کومو کی چی څه ګناه نه وی ددی احتیاط په بنا پریږدی چی داجائز کار ماپه ناجائز کارکی اخته نه کړی مراد ورځخه هغه مشتبه کارونه دی په کوموکی چی دګناه خطره اوشبهه وی لکه داواز لوړولو یو فرد داسی دی په کوم کی چی ګناه نسته ، یعنی هغه چی مخاطب ته په کی ازارنه وی اویو فرد هغه دی چی ګناه ده په کی یعنی دکوم څخه چی ازار رسیږی ، نوکمال تقوی په دی کی ده چی بنده مطلقًا په زوره خبری کول پریږدی ، مخ ته د دوی دعمل داخروی فائدی بیان دی) ددی خلکو دپاره مغفرت او لوی اجر دی (او دراتلونکو ایتونو قصه دا ده چی هم دغه بنوتمیم دحضور ﷺ په خدمت کی حاضر سوه نو دوی ﷺ دباندی تشریف فرما نه وو ، بلکه دازواجو مطهراتو په حجروکی په یوه حجره کی تشریف فرماوو ، دغه دصحراء غیر مهذّب خلک وه ، ددباندی څخه یی د دوی ﷺ نوم واخیستی اوازونه یی کول چی یَا محمد اُخْرُجْ اِلَیْنَا . یعنی ای محمد ﷺ مونږ ته دباندی راووزه ، په دی باندی دا آیتونه نازل سول (لکه په درمنثور کی په روایت دابن اسحٰق دابن عباس ﷺ څخه نقل دی) کوم خلک چی دحجری څخه دباندی تا ته اوازونه کوی په هغوی کی داکثرو عقل نسته (چی که عقل یی وای نو ستا ادب به یی کوی ، داسی دنوم اخیستلو او ددباندی څخه داوازونو کولو جرات به یی نه کولی اود) اَکْثَرُهُمْ فرمایلو وجه یاخو دا ده ، چی دځینو اواز کوونکوپه ځپله داجرات نه وو خو نور یی ولیدل نو داسی یی وکړل او یا که څه هم ټول یوشانی دی خود ، اَکْثَرُهُمْ لفظ یی څکه وفرمایی چی څوک په دی سره مشتعل نه سی ، څکه چی هر سړی به دا خیال کوی چی شاید ماته یی نه دی ویلی ، دوعظ او نصیحت دا طریقه ده چی ددی کلماتو څخه احتیاط وسی ، په کومو سره چی مخاطب ته اشتعال پیدا سی) اوکه دی خلکو (لږ) صبر (اوانتظار) کولی ترهغه چی ته دوی ته راووزی نو دا به د دوی دپاره ښه وه (څکه چی دا دادب خبره وه) او (که اوس هم توبه وباسی نومعاف به سی څکه چی) الله غفور او رحیم دی .

معلومات اومسائل: ددی آیتونو دنزول متعلق دحدیث په روایتونوکی په قول دقرطبی شپږ واقعات منقول دی اوقاضی ابوبکربن عربی فرمایی چی ټول واقعات صحیح دی څکه چی دغه ټول واقعات دایت په عام مطلب کی داخل دی ، په دغوکی یوه واقعه هغه ده کومه چی په لنډ تفسیر کی په روایت دبخاری ذکر سوی ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَرَسُولِهِ : دَبَيْنَ الْيَدَيْنِ اصلی معنی د دواړو لاسونو مینځ دی ، مراد ددی څخه دمخ طرف دی یعنی درسول الله ﷺ په مخکی تقدم اوپیش قدمی مه کوی ، په کوم شی کی یی دپیش قدمی څخه منع فرمایلی ده ؟ قرآن کریم ددی ذکر نه دی کړی ، په دی کی اشاره دعموم طرف ته ده ، چی په څه قول یافعل کی درسول الله ﷺ څخه پیش قدمی مه کوی ، بلکه انتظارکوی چی نبی کریم ﷺ څه جواب درکوی البته که دوی څوك دجواب ورکولو دپاره مامورہ کړی نوهغه جواب ورکولی سی ، دغه شان چی دوی روان وی نو څوك دی د دوی څخه مخ ته کیږی نه ، که دخوراك مجلس وی نو د دوی څخه دی مخکی خوراك نه شروع کوی ، مگر دا چی د دوی په وضاحت یاقوی قرائینو سره داثابته سی چی دوی په خپله څوك مخ ته کول غواړی ، لکه په سفر اوجنگ کی چی څینی خلگ په مخ ته تلو مامورہ کیږی.

(ددیني عالمانو او دیني پیشوایانو سره هم دا ادب ملحوظ ساتل په کار دی)

څینو عالمانو فرمایلی دی چی ددینی عالمانو اومشائخوهم دا حکم دی ، څکه چی دوی وارثان دانبیاوو دی ، او دلیل ددی هغه واقعه ده چی یوه ورځ حضرت ابودرداء ﷺ نبی کریم ﷺ ولیدی چی دحضرت ابوبکر ﷺ څخه مخکی روان وو نو دوی خبردارکی او وي فرمایل چی آیا تاسی ددا سی سړی څخه مخ ته څی کوم چی په دنیا او آخرت کی ستاسی څخه ښه دی او وي فرمایل چی په دنیاکی دلمر ختل اوپریوتل په چاداسی سړی نه دی سوی کوم چی دانبیاؤ څخه وروسته دحضرت ابوبکر ﷺ څخه ښه اوافضل وی (روح البیان دکشف الاسرار څخه) په دی وجه علماء فرمایی چی دخپل استاذ اومرشد سره هم دا ادب ملحوظ ساتل په کار دی.

لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ : دا دوهم ادب دمجلس نبوی بیان سوی دی ، چی دنبی کریم ﷺ په مخکی د دوی داواز څخه زیات اواز لورول یاپه لوړ اواز سره داسی خبری کول ، لکه په خپله مینځ کی چی بی دریغه کوی ، یو قسم بی ادبی اوگستاخی ده ، چنانچی ددی آیت په نزول سره دصحابه کرامو ﷺ داحال سو چی حضرت ابوبکر ﷺ عرض وکی چی یارسول الله! قسم دی چی اوس به ترمرگه پوری ستاسی سره داسی خبری کوم لکه څوك چی دچاسره پټی خبری کوی (درمنثورعن البیهقی) اوحضرت عمر فاروق ﷺ دومره کرار کرار خبری شروع کړی چی څینی وخت به یی بیرته پوښتنه کول غوښتل (کذا فی الصحاح) او دحضرت ثابت بن قیس ﷺ په طبعی طور سره ډیر لوړ اواز یی کم کی (بیان القرآن از درمنثور)

(دروضه اقدس په وړاندی هم ډیر په لوړ اواز سره سلام اوخبری کول ممنوع دی)

قاضی ابوبکر ابن عربی فرمایی چی دنبی کریم ﷺ تعظیم او ادب د دوی دوفات څخه وروسته هم داسی واجب دی لکه چی په ژوند کی وو ، په دی وجه څینی عالمان فرمایی چی د دوی دقبر شریف په مخکی هم په زیات لوړ اواز سره سلام اوخبری دادب څخه خلاف دی ، دغه شان په کوم مجلس کی چی دنبی کریم ﷺ احادیث ویل کیږی یابیانول کیږی ، په هغه کی هم شور اوشغب کول بی ادبی ده ، څکه چی د دوی کلام به کله چی د دوی دژبی مبارکی څخه اداکیدی هغه وخت دتولو دپاره خاموش کیدل اودهغه اوریدل واجب اوضروری وه ، دغه شان دوفات څخه وروسته چی په کوم مجلس کی د دوی کلام اورول کیږی ، هلته شور او شغب کول بی ادبی ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: لکه څنګه چی دنبی څخه دمخ ته کیدو په ممانعت کی ددین عالمان په حیثیت دوارث انبیاء کیدو داخل دی ، دغه شان داواز په لوړولو کی هم دا حکم دی چی دمشرانو عالمانو په مجلس کی دی په دومره لوړ اواز سره خبری نه کوی په کوم سره چی دهغو اواز غلی سی (قرطبی)

أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ (لفظ دَأنْ تَحْبَطَ مفعول له دی دَلاَ تَرْفَعُوْا چی په دی کی دحکم علت بیرول سوی دی ، په حذف دمصدر یعنی خشیة ان تحبط معنی دایت دا سوه چی خپل اواز دنبی په اواز مه لوړوه ، په سبب ددی خطری او بیری چی هسی نه ستاسی عملونه ضائع سی اوتاسی خبر هم نه یاست دلته دشرعی کلیاتو اومسلمه اصولو په اعتبار سره څوسوالات پیداکیږی ، یو دا چی دعملونوحبطه یعنی ضائع کوونکی شی خو په اتفاق داهل سنت والجماعت صرف کفر دی ، په څه یومعصیت اوګناه سره نور نیك عملونه نه ضائع کیږی اودلته خطاب مومنانو اوصحابه کرامو ﷺ ته دی اوپه لفظ دَ، يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : سره دی ، په کوم سره چی ددی فعل اختیاری دی ، ترڅو چی یو سړی په خپل اختیار سره ایمان رانه وړی ، مومن نه وی ، دغه شان کفر هم اختیاری امر دی، تر څو چی په خپل قصد سره کفر اختیار نه کړی هغه کافر کیدی نه سی ، او دلته دآیت په اخر کی دا وضاحت دی چی اَنْتُمْ لَاتَشْعُرُوْنَ یعنی تاسی به خبر هم نه یاست نو حبط اعمال کوم چی خالص دکفر سزا ده هغه څنګه جاری سوه ؟

سیدی حضرت حکیم الامت په بیان القرآن ددی توجیه داسی بیان کړي ده په کوم سره چی دا تول اشکالات اوسوالات ختمیږی ، هغه داسی ده چی ، معنی دایت دا ده چی مسلمانانو! تاسی درسول الله داواز څخه دخپل اواز دلوړولو او دبی اختیاره جهر کولو څخه ځان وساتی ځکه چی په داسی کولوکی خطره ده چی ستاسی عملونه حبط اوضائع سی او دغه خطره ځکه ده چی درسول څخه پیش قدمی یا د دری په اواز خپل اواز لوړول اوغالب کول یو داسی کار دی ، په کوم سره چی درسول په شان کی دګستاخی او بی ادبی کیدلو هم احتمال دی کوم چی سبب دی رسول ته دازار رسولو، که څه هم دصحابه کرامو ﷺ څخه دا وهم هم نه سوکیدی چی دوی به قصداً څه داسی کار وکی کوم چی به د دوی ﷺ دازار سبب جوړ سی ، لیکن ځینی اعمال اوافعال لکه تقدم او رفع صوت که څه هم په قصد دازارنه وی بیاهم د دوی څخه دازار احتمال سته ، په دی وجه یی دامطلقًا منع اومعصیت ګرځولی دی او دځینو ګناهونو خاصه دا وی چی ددی دکوونکی څخه دتوبی اونیکو عملونو توفیق سلب سی اوهغه په ګناهونوکی بوخت سی او اخر کار کفر ته ورسیږی ، کوم چی سبب دی دحبط داعمالو، خپل چادینی پیشوا استاذ یامرشد ته ازار رسانی هم دغسی معصیت دی چی دتوفیق سلب کیدو خطره په کی وی ، په دی وجه دا افعال یعنی تقدم علی النبی او رفع الصوت داسی معصیتونه سول په کومو سره چی خطره ده چی توفیق سلب سی او دا خذلان اخر کفر ته ورسیږی چی تول نیك عملونه په ضائع سی اوکوونکی چونکی قصد دازارنه ووکړی په دی وجه دی ورڅخه خبر هم نه وی چی ددی ابتلاء دکفر اوحبط داعمالو سبب څه وو .

ځینی علماؤ فرمایلی دی چی که یو صالح بزرګ چا خپل مرشد جوړ کړی وی دهغه سره دګستاخی اوبی ادبی هم دا حال دی چی ځینی وخت دغه دتوفیق سلب کیدو اودخذلان سبب جوړیږی کوم چی اخر دایمان بانګه هم ضائع کړی ، نعوذ بالله .

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ : په دی آیت کی دنبی کریم ﷺ یو دریم ادب بیرول سوی دی چی څه وخت ته په خپل مکان اوارام ګاه کی یی نو دغه وخت تاته ددباندی څخه اوازونه کول خصوصًا بیاپه جهالت سره چی نوم اخلی او اواز کوی ، دا بی ادبی ده او دعقل دخاوندانو کار نه دی. حجرات دحجری جمع ده ، په اصل لغت کی حجره په چار دیواری کی دننه مکان ته ویل کیږی ، په کوم کی چی څه غولی (صحن) وی اوځه دچت آبادی وی ، دنبی کریم ﷺ پاکی بیبیانی په مدینه منوره کی نهه ۹ وی ، په دوی کی دهری یوی دپاره جلا جلا حجره وه چی ده ﷺ به ورته په نمبر سره تشریف وروړی.

حجرات امهات المؤمنین : ابن سعد رحمه الله په روایت دعطاء خراسانی لیکلی دی چی دا حجری دخرماؤ دښاخونو څخه جوړی وی او د دوی په دروازو پندی توری وړینی کپړی پردی وی ، امام بخاری په ادب المفرد کی اوبیهقی د داود بن قیس څخه روایت کړی دی ، هغه وایی چی ما ددی حجرو زیارت کړی دی زما ګمان دا دی چی دحجری د دروازی څخه تر چت پوری شپږ اووه لاسه وه اوکمره لس لاسه اودچت لوړوالی اووه اته لاسه وه ، دامهات المؤمنین داحجری دولید بن عبدالملك په حکومت کی دهغه په حکم سره په مسجد نبوی کی شاملی سوی ، په مدینه کی په دغه ورځ په خلګو دژړا ماتم وو.

دنزول سبب : امام بغوی رحمه الله په روایت دقتاده ﷺ ذکرکړی دی چی دبنو تمیم قبیلی خلګ کوم چی دحضور ﷺ په خدمت کی حاضر سوی وه چی ذکر یی لوړ راغلی دی ، دوی دغرمی په وخت مدینی ته را ورسیدل ، څه وخت چی دوی په حجره کی ارام فرمایی داکلیوال خلګ وه ، دمعاشرت دادابو څخه ناخبره وو ، دوی دحجرو څخه دباندی اوازونه شروع کړل ، اُخْرُجْ اِلَيْنَا يَامُحَمَّد ، په دی دا آیت نازل سو ، په دی کې یی دداسی اواز کولو ممانعت او دانتظار کولو حکم ورکی ، په مسند احمد ترمذی وغیره کی هم دا روایت په مختلفو الفاظو سره راغلی دی (مظهری)

خبرداری : اصحابو ﷺ او تابعینو هم دخپلو علماؤ اومشائخو سره ددی ادب استعمال کړی دی ، په صحیح بخاری وغیره کی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه منقول دی چی کله به ما دیوعالم صحابی څخه څه حدیث معلومول غوښتل نو دهغه کور ته به ولاړم نو هغه ته داواز کولو یادروازی ټکولو څخه به می خان ساتی او د دروازی څخه دباندی به کښېنستم چی کله دوی په خپله دباندی تشریف راوړی نو پوښتنه به ورڅخه وکړم ، هغه چی به زه ولیدم نوفرمایل به یی چی ای دنبی کریم ﷺ داکا زویه! تا دروازه ولی نه ټکوله چی زه دی خبر کړی وای ، نوابن عباس ﷺ فرمایی چی عالم په خپل قوم کی په مثل دنبی وی او الله ﷻ دنبی په شان کی داهدایت فرمایلی دی چی د دوی تر دباندی راتلو پوری دی انتظار کول کیږی ، حضرت ابو عبیده ﷺ فرمایی چی ما هیڅکله دیوعالم دروازه نه ده ټکولی ، بلکه دهغه ددباندی راتلو پوری می انتظارکړی دی چی کله هغه دباندی تشریف راوړی نوملاقات به ورسره وکړم (روح المعانی)

مسئله : په ذکر سوی آیت کی په ، حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ کی دَ ، اِلَيْهِمْ په قید زیاتولو سره داثابته سوه چی صبر اوانتظار ترهغه وخته پوری کول دی ، ترڅو پوری چی ته په خپله دخلګو سره دملاقات اوخبرو کولو دپاره دباندی تشریف راوړی ، ددی څخه معلومه سوه چی که ستا دباندی ته تشریف راوړل په څه بل ضرورت سره وی ، هغه وخت هم ستا سره دخپل مطلب خبره کول مناسب نه دی ، بلکه ددی انتظار دی

Maktaba Tul Ishaat.com

وکی چی هرکله ته دوی ته متوجه سی نو دغه وخت دی درسره بیاخپله خبره کوی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا

ای ایماندارو! که راسی تاسی ته یو گناهگار په یو خبر سره نو تحقیق کوی، هسی نه چی ولویږي

قَوْمًۢا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۝

په یو قوم باندی په ناپوهی سره نو صبا ته به سی په خپلو کړو باندی پښیمانه

لنډتفسیر: ای ایماندارو! که یو سړی شریر تاسی ته څه خبر راوړی (چی په هغه کی دچا څخه شکایت وی) نو (بغیر دتحقیق څخه په هغه عمل مه کوی بلکه که عمل کول مقصود وی نو) بنه تحقیق کوی هسی نه چی یوقوم ته په ناپوهی سره ضرر ورسوی او بیا په خپلو کړو باندی پښیمانه سی.

معلومات اومسئلي: شان نزول: ددی آیت دنزول واقعه ابن کثیرپه حواله دمسند احمد دا نقل کړي ده چی دبنی المصطلق قبیلی سردار حارث بن ضرار بن ابی ضرار (دکوم لور حضرت جویره (رض) بنت حارث چی دامهات المومنین څخه ده) دی فرمایی چی زه دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سوم نو دوی ماته داسلام دعوت راکی اودزکوٰة ادا کولو حکم یی راته وکی، ما اسلام قبول کی او دزکوٰة ادا کولو اقرار می وکی اوعرض می وکی چی اوس خپل قوم ته ځم او هغوی ته هم داسلام اوزکوٰة ادا کولو دعوت ورکوم، کوم خلګ چی زما خبره ومنی اوزکوٰة اداکی، زه به هغه زکوٰة جمع کړم، ته په فلانی میاشت کی په فلانی تاریخ خپل یوقاصد ماته راولیږی چی کوم دزکوٰة رقم زما سره جمع سوی وی، هغه ورته حواله کړم، بیاچی هرکله حارث دوعدی مطابق دایمان راوړونکو څخه زکوٰة جمع کی او هغه میاشت اوتاریخ کوم چی دقاصد لیږلو دپاره مقرر سوی وو تیرسو او دحضور ﷺ یوقاصد رانغی نو دحضرت حارث ؓ سره دا خطره پیدا سوه چی شاید نبی کریم ﷺ زمونږ څخه په څه خبره ناراضه دی کنه نودا ممکنه نه وه چی دوی دوعدی مطابق خپل سړی نه رالیږلی، حضرت حارث ؓ ددی خطری ذکر داسلام قبلوونکو دسردارانو سره وکی او اراده یی وکړه چی دوی تول دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سی، اخواته واقعه داسی وسوه چی نبی کریم ﷺ په مقرر تاریخ ولید بن عقبه ﷺ خپل قاصد جوړکی اودزکوٰة وصولولو دپاره یی لیږلی وو مګر ولید بن عقبه ته په لاره کی داخیال راغی چی ددی قبیلی دخلګوسره زماپخوانی دښمنی ده هسی نه چی دوی ماقتل کړی، ددی بیری په سبب دی دلاری څخه واپس سو، اونبی کریم ﷺ ته ولاړی او دا یی وویل چی دوی دزکوٰة ورکولو څخه انکار وکی او زمادقتل اراده یی وکړه، په دی نبی کریم ﷺ ته غصه ورغله اودحضرت خالدبن ولید ؓ په مشری کی یی یوه ډله دمجاهدینو روانه کړه، دی خوا ته دا ډله دمجاهدینو روا نه سوه، دا خوا څخه حضرت حارث ؓ سره دخپلو ملګرو دنبی کریم ﷺ په خدمت کی دحاضری دپاره را ووتی، مدینی منوری ته نژدی د دواړو ملاقات وسو، حضرت حارث ؓ ددغو خلګو څخه پوښتنه وکړه چی تاسی دکومو خلګو طرف ته لیږل سوی یاست؟ دوی وویل چی مونږ خوستا طرف ته رالیږل سوی یو، حضرت حارث ؓ ورځخه دسبب پوښتنه وکړه، نو دوی دحضرت ولید

Maktaba Tul Ishaat.com

بن عقبه ﷺ دلیږلو اوبیا دواپس کیدلو واقعه یی بیان کړه اوچی حضرت ولیدبن عقبه ﷺ دنبی کریم ﷺ په مخکی دا بیان کړی دی چی بنی المصطلق دزکوٰة ورکولو څخه انکار وکی او زما دقتل منصوبه یی جوړه کړي ده ، حضرت حارث ﷺ چی دا واوریدل نو وي ویل، قسم دی په هغه ذات چاچی محمد ﷺ برحق رسول رالیږلی دی ، ماخو ولیدبن عقبله لیدلی هم نه دی ، اونه هغه ماته راغلی دی ، ددی څخه وروسته چی حضرت حارث ﷺ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو نو دوی وفرمایل چی آیا تاسی دزکوٰة ورکولو څخه انکار وکی او زما دقاصد دقتلولو اراده مو وکړه ؟ حضرت حارث ﷺ وویل چی هیڅکله نه ، قسم دی په هغه ذات چاچی ته دحق دپیغام سره رالیږلی یی ، هغه نه ماته راغلی دی اونه مالیدلی دی ، بیاچی هرکله په مقرره وخت ستا قاصد راونه رسیدی نو زما سره بیره سوه چی شاید زما څخه څه قصور وسو په کوم چی حضور ﷺ ناراضه سو ، په دی وجه زه په خدمت کی حاضر سوم ، حضرت حارث ﷺ فرمایی چی په دی باندی دسورة حجرات دا آیت نازل سو (ابن کثیر)

اوپه څینو روایتونوکی دی چی ولیدبن عقبه ﷺ دحکم مطابق بنی المصطلق ته ورسیدی ددی قبیلی خلګوته چونکه دا معلومه وه چی په دی تاریخ به دحضور ﷺ قاصد راځی نو دوی تعظیماً دکلی څخه دباندی را ووتل چی دهغه استقبال وکی ، ولید بن عقبه ﷺ ته داشبهه پیدا سوه چی شاید دپخوانی دښمنی په وجه زما دقتل کولو دپاره راغلی دی ، ددغه ځای څخه واپس سو اوولاړی نبی کریم ﷺ ته یی دخپل ګمان مطابق دا عرض وکی چی هغه خلګ زکوٰة ورکولو ته تیارنه دی بلکه زماپه قتل پسی سول. په دی نبی کریم ﷺ حضرت خالد بن ولید ﷺ ولیږی او دا هدایت یی ورته وکی ، چی ښه تحقیق وکړه دهغه څخه وروسته څه اقدام وکړه ، حضرت خالد بن ولید ﷺ دشپی دغه کلی ته دباندی ورسیدی ، قیام یی وکی او دحال دتحقیق دپاره یی یوڅوکسان په طور دجاسوسانو پټ ولیږل ، دغه خلګ بیرته راغلل خبر یی ورکی چی دغه ټول خلګ په اسلام اوپه ایمان قائم دلمانځه اوزکوٰة پابند دی اوڅه خبره داسلام خلاف په کی نه سوه پیدا ، خالد بن ولید ﷺ بیرته راغی اونبی کریم ﷺ ته یی دا ټوله واقعه وښوولە ، په دی دا آیت نازل سو (دا دبن کثیر دډیرو روایتونو خلاصه ده)

ددی آیت څخه داثابته ښوه، چی څوك شریر فاسق سړی که دیو قوم څخه شکایت وکی او په دوی څه الزام ولګوی نو په هغه خبر یاشهادت باندی بغیر دمکمل تحقیق څخه عمل کول جائز نه دی.

﴿ دآیت سره متعلق احکام او مسئلې ﴾

امام جصاص رحمه الله په احکام القرآن کی فرمایی چی ددی آیت څخه ثابته سوه چی دیوفاسق خبره قبلول اوعمل په کول ترهغه پوری جائز نه دی ترڅو چې په نورو ذریعو سره تحقیق ونه کړی اودهغه صدق ثابت نه سی ، ځکه چی په دی آیت کی یوقرآنت خو فَتَبَيَّنُوْا دی چی معنٰی یی ده ، په دی په عمل کولو اواقدام کولوکی تلواری مه کوی ، بلکه ثابت قدم اوسیږی ترڅوچی په نورو ذریعو سره دهغه صدق ثابت نه سی اوهرکله چی دفاسق دخبر قبلول جائز نه سی نو دهغه شهادت قبلول په درجه اولی ناجائز دی، ځکه چی هرشهادت یو خبر وی کوم چی په قسم سره موکد کیدی سی ، په دی وجه دجمهورو عالمانو په نزد دفاسق خبر یا شهادت شرعاً مقبول نه دی ، البته په څینو معاملو اوحالاتوکی دفاسق خبر اوشهادت هم

Maktaba Tul Ishaat.com

قبول کیږی ، هغه ددی حکم څخه مستثنیٰ دی ، ځکه چی دقرآن په آیت کی ددی حکم یوخاص علت منصوص دی یعنی، أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ نوپه کومو معاملاتوکی چی داعلت موجود نه وی، هغه دایت په حکم کی داخل نه دی ، یامستثنیٰ دی ، مثلاً داچی یوفاسق بلکه کافرهم څه شی راوړی اودا ووایی چی فلانی سړی تاته داهدیه رالیږلی ده نودده په خبرعمل جائز دی ، ددی زیات تفصیل دفقهی په کتابونو معین الحکام وغیره کی دی اواحقر په احکام القرآن عربی حزب سادس کی ددی تفصیل لیکلی دی ، اهل علم یی هلته لیدی سی .

(یواهم سوال اوجواب دصحابه وو دعدالت متعلق)

ددی آیت دحضرت ولیدبن عقبه ﷺ متعلق نازلیدل په صحیح روایتونو سره ثابت دی اوپه آیت کی ده ته فاسق ویل سوی دی ، ددی څخه په ظاهره دا معلومیږی چی په صحابه وو کی یو فاسق هم کیدی سی او دا دهغه مسلمه اومتفق علیه ضابطی خلاف ده چی، اَلصَّحَابَةُ كُلُّهُمْ عُدُوْلٌ : یعنی صحابه کرام ﷺ ټول په جمع ثقه دی . د دوی په هیڅ خبر اوشهادت څه نیول نه سی کیدی .

علامه الوسی رحمه الله په روح المعانی کی فرمایی چی په دی معامله کی حقه خبره هغه ده ، دکوم طرف ته چی جمهور علماء تللی دی چی صحابه کرام ﷺ معصوم نه دی د دوی څخه کبیره گناه هم کیدی سی کوم چی فسق دی او ددغه گناه په وخت به د دوی سره هغه معامله کول کیږی دکوم چی هغه مستحق وی یعنی شرعی سزا به جاری کیږی اوکه کذب ثابت سی نو د دوی خبر اوشهادت به ردکول کیږی ، لیکن عقیده داهل سنت والجماعت دقرآن اوسنت دنصوصو په بنا دا ده چی دصحابی څخه گناه خوکیدی سی مگریوصحابی داسی نسته چی دگناه څخه توبه گار سوی اوپاك سوی نه وی، قرآن کریم عَلَى الْاِطْلَاقِ ددوی په باره کی دالله ﷻ درضا فیصله صادره فرمایلی ده، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ، الآیة، اورضاء الهی بغیر دمعافی دگناهونو څخه نه سی کیدی لکه چی قاضی ابویعلی فرمایی چی رضا دالله ﷻ یوقدیمی صفت دی، هغه دخپلی رضا اعلان صرف دهغو دپاره فرمایی دکومو متعلق چی هغه پوهیږی چی دهغوی وفات به درضا په موجباتو باندی وی (لکه په فی الصارم المسلول دابن تیمیه، کی داسی دی)

لنډه دا چی دصحابه کرامو ﷺ دعظیم الشان جماعت څخه که دشمیر دیو څو کسانو څخه چیری څه گناه صادره سوی هم ده نو دوی ته فوراً توبه نصیب سوي ده حق تعالی دوی دنبی کریم ﷺ دصحبت په برکت سره داسی جوړ کړی وه چی شریعت د دوی طبیعت جوړ سوی وو ، دشریعت څخه خلاف څه کار یاگناه کیدل ورڅخه ډیر کم وه ، د دوی نیك عملونه په نبی کریم ﷺ او اسلام باندی خپل ځانونه قربانول اوپه هر کار کی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ تابعداری دژوند وظیفه جوړول او ددی دپاره داسی مجاهدات کول چی نظیر یی په تیرو امتونو کی نه پیدا کیږی ، ددی بی شمیره نیکوعملونو او فضیلتونو اوکمالاتو په مقابله کی په ټول عمرکی دڅه گناه کیدل ، دا په خپله کالعدم کوی .

دوهم دالله ﷻ او دهغه درسول الله ﷺ محبت اوعظمت او دادنی شان گناه په وخت کی ددوی بیره او خوف او فوراً توبه کول بلکه خپل ځان دسزا دپاره په خپله پیش کول ، یوځای ځانونه دجماعت دستنوسره ترل وغیره په روایتونو دحدیث کی معروف اومشهوردی اوپه حکم دحدیث دگناه څخه توبه کوونکی داسی

Maktaba Tul Ishaat.com

سی لکه چی گناه یی کړی نه وی .

دریم دقرآن دارشاد مطابق نیك عملونه اونیکی په خپله هم دګناهونو کفاره کیږی ، إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ : خصوصًا هرکله چی د دوی نیکی دعامو خلګو په شان نه وی ، بلکه د دوی حال هغه دی کوم چی ابوداود اوترمذی دحضرت سعید بن زید ﷺ څخه نقل کړی دی چی ، وَاللهِ لَمَشْهَدُ رَجُلٍ مِنْهُمْ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ يُغْبَرُ فِيهِ وَجْهُهُ خَيْرٌ مِنْ عَمَلِ أَحَدِكُمْ عُمُرَهُ وَلَوْ عُمِّرَ عُمُرَ نُوحٍ : یعنی په خدای قسم دی ، په دوی کی دیوه سړی دنبی کریم ﷺ سره په یو جهاد کی شریکیدل چی په هغه کی دهغه پرمخ ګرد پریوځی ، ستاسی دټول عمر دطاعت اوعبادت څخه افضل دی که څه هم ده ته دحضرت نوح ﷺ هومره عمر ورکول سوی وی ، په دی وجه د دوی سره دګناه دصادریدو په وخت کی که څه هم په سزا وغیره کی معامله هغه وسوه کومه چی ددی جرم دپاره مقرروه ، مګر ددی باوجود وروسته دچا دپاره جائزنه دی چی په دوی کی یو فاسق مقرر کړی ، په دی وجه که دنبی کریم ﷺ په عهد کی دیو صحابی ﷺ څخه څه ګناه دفسق موجب سوی وی او دغه وخت ده ته فاسق هم وویل سی نوپه دی سره دانه جائز کیږی چی دغه وخت ده ته فاسق ددده دپاره همیشه وګڼی ، معاذ الله فاسق ورته وایی (کذا فی الروح)

اوپه ذکر سوی آیت کی خوقطعًا داضروری نه ده چی ولید بن عقبه ته فاسق ویل سوی وی ، سبب دنزول که څه هم ددده معامله وی مګر لفظ دفاسق ددده دپاره استعمالیدل دا ضروری نه ده، وجه دا ده چی ددی واقعی څخه مخکی خو دولید بن عقبه څخه څه داسی کار نه وو سوی دکوم په سبب چی ده ته فاسق وویل سی اوپه دی واقعه کی هم کوم چی دوی دبنی المصطلق دخلګو طرف ته یوه خبره غلطه منسوبه کړه ، دغه هم دخپل خیال مطابق یی صحیح وګڼله ویی کړله که څه هم په واقع کی غلطه وه ، په دی وجه دذکر سوی آیت مطلب بی تکلیفه هغه جوړیدی سی کوم چی په لنډ تفسیر کی لوړ تیر سوی دی ، چی دی آیت قاعده کلیه دفاسق دخبر دنامقبول کیدو متعلق بیان کړي ده اوپه واقعه مذکوره باندی ددی آیت دنزول څخه ددی زیات تاکید داسی وسوچی ولید بن عقبه ﷺ که څه هم فاسق نه وو ، مګ د دوی خبر دقوی قرینوپه اعتبار ناقابل قبول په نظر راغی نونبی کریم ﷺ محض ددده په خبره دځه اقدام کولو څخه ګریز وکی ، حضرت خالد بن ولید ﷺ یی په تحقیقاتو مامور کی ، نو هرکله چی دیو ثقه اوصالح سړی په خبره کی دقرینو په بنا دشبهی کیدو معامله دا ده چی په دی مخکی دتحقیق څخه عمل ونه سو نو دفاسق خبر نه قبلول او عمل نه په کول نور زیات واضح دی .

دعدالت صحابه مکمل بحث احقر په خپل کتاب مقام صحابه ، کی بیان کړی دی کوم چی شائع سوی دی او ددی څه حصه به دراتلونکی آیت ، وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ : الایة ، لاندی هم راسی .

وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ

اوپوه سی چی په تاسی کی رسول دی دالله ، که هغه ستاسی خبره ومنی په دیروکارونو کی نوپه تاسی به مشکله سی لیکن الله محبت واچوی ستاسی په زړونو کی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

الْإِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ

دایمان اوښائسته یی کی ستاسی په زړونو کی ، او نفرت یی واچوی ستاسی په زړونو کی دکفر اودګناه

وَالْعِصْيَانَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۝ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

اودنافرمانی ،هغه خلق په نیکه لاره باندی دی، دالله په فضل اواحسان سره اوالله په هرڅه پوه حکمتونووالادی

لږتفسیر اوپوه سی چی په تاسی کی رسول الله ﷺ تشریف فرما، دی (کوم چی دخدای لوی نعمت دی لکه چی الله ﷻ فرمایی لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ الخ ددی نعمت شکر دا دی چی په څه خبره کی تاسی د دوی خلاف مه کوی که څه هم دنیوی ولی نه وی ، اوپه دی فکر کی مه لویږی چی په دنیوی کارونوکی دی حضور ﷺ په خپله زمونږ درایی موافقت کوی ځکه چی) ډیری خبری داسی دی چی که په هغه کی دوی ستاسی خبره منل شروع کړی نوتاسی ته به ډیر ضرر ورسیږی (ځکه چی که دغه دمصلحت څخه خلاف وی نو خامخابه ددغه موافق په عمل کولوکی مضرت وی ، په خلاف ددی څخه چی د دوی په رایه باندی عمل وسی ځکه چی په دنیوی کارکی دخلاف مصلحت کیدو احتمال که څه هم فی نفسه مستبعد اوخلاف دشان دنبوت څخه دی لیکن اول خو داسی کارونه په کومو کی چی داسی احتمال وی کم به وی بیاکه وی هم اوپه هغه کی مصلحت فوت هم سی نو داځومره لویه خبره ده ، چی ددی مصلحت نعم البدل یعنی اجر اوثواب داطاعت رسول به خامخا حاصل وی ، په خلاف دهغه چی ستاسی په رایه عمل وی که څه هم کله کله به داسی کارونه هم را وځی ، په کومو کی چی مصلحت ستاسی درایی موافق وی لیکن متعین خو نه دی اوبیا ډیرکم به وی ، زیات احتمال دمضرت دی، بیا ددی مضرت هیڅ تدارك نسته او ددی تقریر څخه فائده ډیروالی دقیدهم معلومه سوه ، په هرحال که دوی ستاسی موافقت کولی نوتاسی به په لوی مصیبت کی پریوتلی) لیکن الله ﷻ (تاسی دمصیبت څخه محفوظ کړاست داسی چی) تاسی ته یی د (کامل) ایمان محبت درکړی او (دَ) دی (حصول) یی ستاسی په زړونوکی مرغوب کړی اوکفر اوفسق (یعنی ګناه کبیره) او (دمطلق) نا فرمانی (یعنی صغیره ګناه) څخه یی تاسی ته نفرت درکی (په کوم سره چی تاسی هر وخت دالله او درسول درضاپه لټون کی یاست اوپه کوم سره چی تاسی دغه حکمونه منی کوم چی درسول درضا دموجباتوڅخه دی ، چنانچی هرکله تاسی ته دامعلومه سوه چی په دنیوی کارونو کی هم اطاعت درسول واجب دی اوبغیر داطاعت مطلقه څخه ایمان نه کامل کیږی اودکامل ایمان دحاصلولو رغبت دمخکی څخه موجود دی ، نو تاسی فوراً دغه حکم هم قبول کی اوپه قبلولو مو دایمان نور تکمیل وکی) داسی خلګ (کوم چی دایمان دتکمیل مُحِبّان دی) دخدای ﷻ په فضل اوانعام سره په سیده لاره باندی دی اوالله ﷻ (چی کوم دا احکام فرمایلی دی نو هغه ددی په مصلحتونو) پوه (دی اوچونکی) حکمت والا دی (په دی وجه یی دا احکام واجب کړی دی)

معلومات اومسئلي ددی څخه په مخکی آیتونوکی واقعه دحضرت ولیدبن عقبه ؓ اوبنی المصطلق (قبیلی ذکر وه چی په هغه کی ولید بن عقبه ؓ دبنی المصطلق داخبر ورکړی وو چی هغه مرتد سوی دی

او دزکوة ورکولو څخه یی انکارکړی دی په دی سره په اصحابو کرامو ﷺ کی هم اشتعال پیدا سو د دوی دا رایه وه چی په دغو خلګو د جهاد د پاره مجاهدین ولیږل سی مګرنبی کریم ﷺ دولید بن عقبه ﷺ خبره د قوی قرینو څخه خلاف وګڼله او قبوله یی نه کړه او د تحقیقاتو د پاره یی حضرت خالد بن ولید ماموره کی په تیرو آیتونو کی قرآن کریم دا قانون جوړ کی چی د کوم سړی په خبر کی په قوی قرینو سره څه شبهه پیدا سی نو د تحقیق څخه مخکی په هغه عمل جائز نه دی ، په دی آیت کی صحابه کرامو ﷺ ته یو بل هدایت سوی دی چی که څه هم دبنی المصطلق په حقله دارتداد په خبر اوریدو سره ستاسی جوش د دینی غیرت په سبب سره وو ، مګر ستاسی رایه صحیح نه وه ، دالله رسول چی کوم صورت اختیارکی هغه نبه وو (مظهری) مقصد دا دی چی په مشوره طلب کارونو کی څه رایه ورکول خو درست دی ، لیکن دا کوشش کول چی رسول الله ﷺ ستاسی درایی مطابق عمل وکی ، دا درست نه دی ، ځکه چی په دنیوی کارونو کی که هم د پیر کم درسول ﷺ درایی خلاف د مصلحت کیدو امکان خامخا سته کوم چی دشان نبوت څخه خلاز نه دی ، لیکن الله ﷻ چی کوم فراست اوپوه خپل رسول ته ورکړي ده ، هغه تاسی ته حاصله نه ده ، په دی وجه که رسول الله ﷺ ستاسی په رایه باندی تلل شروع کړی نو په ډیرو معاملو کی به په نقصان او مصیبت کی راسی اوکه چیری کله کله ستاسی په رایی کی مصلحت وی اوتاسی درسول داطاعت د پاره خپله رایه پریږدی په کومه کی چی تاسی ته څه دنیوی نقصان هم ورسیږی نو په دی کی دومره مضرت نسته څومره چی ستاسی درایی په تابع چلیدو کی ده ځکه چی په دی صورت کی که څه دنیوی نقصان وسی هم نو داطاعت درسول داجر اوثواب نبه بدله یی موجوده ده .

او لفظ د: عَنِتُّمْ دَعَنَت څخه مشتق دی چی معنی یی دګناه هم راځی او په څه مصیبت کی د مبتلا کیدو هم دلته دواړی معنی مراد کیدی سی . قرطبی

وَإِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا

او که دوې ډلی د مسلمانانو په خپل مابین کی په جنګ سی

فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۚ فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي

نو په دوی کی صلح کوی ، نو که زیاتوب کوی یوه ډله د دغو څخه په هغه بله باندی نو تاسی تول جنګ کوی

تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا

د هغه فرقی سره چی زیاتی کوی تردی چی واپس سی دالله ﷻ حکم ته ، نو که واپس سوه نو بیا صلح وکی د هغوی

بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ۝ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ

په مینځ کی په برابر سره او انصاف کوی ، بیشکه الله ﷻ خوښوی انصاف کوونکی ، بیشکه مسلمانان

Maktaba Tul Ishaat.com

إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿۱۰﴾ ع

ورونه دی نو تاسی روغه را ولی په مینځ د ورونو خپلو کی او وبیریږي دالله څخه چی په تاسی رحم وسی.

لنډتفسیر: اوکه په مسلمانانو کی دوی ډلی په خپل مینځ کی په جنګ سی نو دهغوی په مینځ کی اصلاح کوی (یعنی دجګړی بنیاد رفع کوی جنګ ختموی) بیاکه چیری (داصلاح دکوشش څخه وروسته هم) په دوی کی یوه ډله پربلی زیاتوب کوی (اوجنګ نه بندوی) نو دهغه ډلی سره جنګ کوی کومه چی زیاتی کوی تردی چی هغه دخدای حکم ته رجوع وکی (دخدای دحکم څخه مراد جنګ بندول دی) بیاکه هغه (زیاتی کوونکی ډله دخدای حکم ته) رجوع وکی (یعنی جنګ بندکی) نو دهغه دواړو په مینځ کی په عدل سره اصلاح وکی (یعنی دشرعی حدونو موافق د دوی معاملی فیصله کړی محض په جنګ بندولو باندی بسوالی مه کوی که صلح مصالحت ونه سی نو بیابه هم دجنګ احتمال وی) او دانصاف خیال ساتی (یعنی څه نفسانی غرض مه غالب کوی) بیشکه الله ﷻ انصاف کوونکی خو ښوی (اوپه خپل مینځ کی داصلاح کولو حکم څکه درکول سوی دی چی) مسلمانان خوټول (ددینی اشتراك کومه چی روحانی اومعنوی تعلق دی ، په دی تعلق سره دیو بل) ورونه دی په دی وجه دخپلو دوو ورونو په مینځ کی اصلاح کوی (چی دا اسلامی برادری قائمه سی) او (داصلاح په وخت کی) دالله ﷻ څخه بیره کوی (یعنی دشرعی حدودو رعایت ساتی) چی په تاسی رحمت وسی.

معلومات اومسئلي: ترون: په تیرو آیتونو کی دنبی کریم ﷺ دحقوقو او ادابو او دداسی عملونو څخه دځان ساتلو بیان وو په کومو سره چی نبی کریم ﷺ ته ازار رسیږی ، مخ ته دعام معاشرت اداب اواحکام دی په کومو کی چی اجتماعی او انفرادی دواړه قسمه اداب اوپه خپل مینځ کی دحقونو بیان دی اوپه ټولو کی قدرِ مشترك دازار رسولو څخه ځان ساتل دی.

سبب دنزول: ددی آیتونو په سبب دنزول کی مفسرینو ډیر واقعات بیان کړی دی ، په کوموکی چی په خپله دمسلمانانو د دوو ډلو په مینځ کی جګړه وسوه اوځه بعیده نه ده چی دا ټول واقعات په جمع دنزول سبب سوی وی یانزول په یوه واقعه سوی وی نور واقعات یی ددی مطابق موندلی وی هغه یی هم په سبب دنزول کی شریك کړی وی ، ددی آیت مخاطب په اصل کی هغه اولو الامر اوحاکمان دی کومو ته چی دقتال اوجهاد وسائل حاصل وی (لکه داسی ابوحیان په بحرکی ویلی دی اوپه روح المعانی کی یی دامختاره کړي ده) اوبالواسطه ټول مسلمانان ددی مخاطب دی چی هغوی په دی معامله کی داولوالامر اعانت وکی اوکوم ځای چی امام اوامیر یابادشاه اوسردار نه وی ، هلته حکم دا دی چی ترځوپوری ممکنه وی دواړه دی په پوهولو سره جنګ نه کولو ته تیارکی اوکه دواړه یی نه منی نو د دواړو جنګ کوونکو فرقو څخه دی جلاسی ، نه دی دچا خلاف کوی نه موافقت (کذافی بیان القرآن)

متعلقه مسئلي: دمسلمانانو د دوو ډلو په خپل مینځ کی دجنګ څو صورتونه وی ، یو دا چی دواړی ډلی دامام المسلمین دولایت لاندی وی یادواړه نه وی یایوه وی یوه نه وی ، په اول صورت کی په عامو مسلمانانو لازمه ده چی پوه یی کړی او دجنګ څخه یی منع کړی که په پوهولو ونه سی نو په امام

Maktaba Tul Ishaat.com

المسلیمن یی اصلاح کول واجب دی که داسلامی حکومت په مداخلت سره دواړی فریقی دجنګ څخه منع سی نو دقصاص او دیت احکام به جاری سی او که منع نه سی نو د دواړوفرقوسره به دباغیانو په شان معامله وسی او که یوه منع سوه او بله منع نه سوه او په ظلم اوزیاتی کولو باندی تینګ سوه نو دغه فرقه باغی ده ، دهغوی سره به دباغیانوپه شان معامله کیږی اوکومی چی اطاعت قبول کی ، هغه فرقی ته به عادله ویل کیږی ، اودباغیانو داحکامو تفصیل دفقه په کتابونوکی دی ، هلته یی کتلی سی اولدې جامع حکم یی دا دی چی دجنګ څخه مخکی به ورځخه وسله واخیستل سی او دوی به ونیول سی اوتر توبی ایستلو پوری به بندیان سی او دعینی جنګ په وخت کی او دجنګ څخه وروسته به د دوی اولاد غلامان یامینځی نه جوړ وی او د دوی مالونه به مالِ غنیمت نه وی ، البته دتوبی ایستلو پوری به د دوی مالونه محبوس ساتل کیږی ، دتوبی څخه وروسته به بیرته ورکول کیږی ، په ذکر سوی آیت کی چی کوم دا ارشاد سوی دی ، فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا : یعنی که بغاوت کوونکی فرقه دبغاوت اوقتال څخه واپس سی نو صرف دجنګ په بندولوبه بسوالی نه کوی ، بلکه دجنګ په اسبابو او په خپل مینځ کی دشکایتونو دلیری کولو فکردی وکی چی دزړونو څخه بغض اودښمنی لیری سی اودهمیشه دپاره دوروولی فضاقائمه سی اوچونکی دی خلګودامام المسلمین خلاف هم جنګ کړی دی، په دی وجه کیدی سوه چی د دوی په باره کی پوره انصاف ونه سی ، په دی وجه قرآن کریم تاکید وفرمایی چی د دواړو ډلو په حقونو کی دی دعدل او انصاف پابندی وسی «دا ټول تفصیل دبیان القرآن څخه را اخیستل سوی دی او په هغه کی یی دهدایی حواله ورکړي ده»

مسئله که دمسلمانانو یو لوی طاقتور جماعت دامام المسلمین داطاعت څخه ووزی نو په امام المسلمین باندی لازمه ده چی اول دهغوی شکایتونه واوری چی که څه شبهه یاغلط فهمی پیداسوی وی نو چی هغه لیری سی اوکه هغوی دخپل مخالفت څه داسی وجهی پیش کړی دکومو په بناچی دیو امام او امیر مخالفت شرعًا جائز وی ، یعنی په کومو سره چی په خپله دامام المسلمین ظلم اوزیاتی ثابت وی ، نو په عامو مسلمانانو باندی لازمه ده چی هغوی ددغه جماعت مدد وکی چی امام دخپل ظلم څخه منع سی ، په دی شرط چی دهغه دظلم ثبوت یقینی بغیر دځه اشتباه څخه ثابت سی «لکه چی داسی ابن الهمام «دفتح القدیر شرح هدایه مصنف» ویلی دی . مظهری

اوکه څه داسی واضحی وجهی دخپل بغاوت اوعدم اطاعت بیان نه کړل سی او دامام المسلمین خلاف دجنګ دپاره تیارسی نو مسلمانانو ته د دوی سره جنګ کول حلال دی اوامام شافعی فرمایی چی ترڅو پوری هغوی په خپله جنګ شروع نه کړی ، ترهغه پوری مسلمانانو ته دجنګ ابتداء کول جائز نه دی ، «مظهری» داحکم هغه وخت دی کله چی ددغه جماعت باغی والی اوظالموالی بالکل یقینی اوواضح وی اوکه صورت داسی وی چی دواړی فریقی څه شرعی حجت لری اودا متعین کول مشکل وی چی په دوی کی کوم باغی اوکوم عادل دی ، هلته چی کوم سړی ته دکوم یوه دعادل والی ګمان غالب وی هغه دهغه مدد کولی سی اوچاته چی دیوه جانب رجحان نه وی هغه دی د دواړو جانبو څخه جلا اوسیږی ، لکه چی دصحابه کرامو ﷺ دمشاجراتو په وخت کی په جنګ جمل اوصفین کی پیښ سو .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دصحابه کرامو مشاجرات)

امام ابوبکربن عربی فرمایی چی دا آیت دقتال بین المسلمین تولو صورتونو ته حاوی اوشامل دی په دی کی هغه صورت هم دا خل دی په کوم کی چی دواړی فرقی دځه شرعی حجت لاندی دجنګ دپاره تیارسی دصحابه کرامو مشاجرات په دی قسم کی دا خل دی ، قرطبی دابن عربی ددی قول دنقل کولو څخه وروسته دلته دصحابه کرامو دجنګ جمل اوصفین وغیره اصل حقیقت بیان کړی دی اودصحابه کرامو دمشاجراتو په باره کی یی دوروسته راتلونکو مسلمانانو دعمل په حقله هدایات ورکړی دی ، احقر دا ټول مضامین په احکام القرآن کی په عربی ژبه او داردو په خپله رساله، مقام صحابه، کی په تفصیل سره لیکلی دی، دلته دهغه خلاصه کم چی دتفسیر قرطبی ص۳۲۲ ج ۱۶ په حواله سره په دی رساله کی ورکول سوی دی ، په نقل کولو بس والی کول کیږی.

دا جائز نه ده چی دیوصحابی طرف ته په قطعی اویقینی طور باندی دغلطی نسبت وسی ځکه چی دغو ټولو حضراتو په خپل خپل طرزِ عمل کی داجتهاد څخه کار اخیستی وو او دټولو مقصد دالله ﷻ خوشنودی وه دغه ټول حضرات زمونږ پیشوایان دی اومونږ ته حکم دی چی د دوی په مینځ کی داختلافاتو څخه ژبه بنده کړو او د دوی ذکر په بهترینه طریقه سره وکو ، ځکه چی صحابیت دلوی حرمت شی دی اونبی کریم ﷺ دوی ته دبدو ویلو څخه منع فرمایلی ده اودا خبر یی ورکړی دی چی الله ﷻ دوی معاف کړی دی او د دوی څخه راضی دی ، ددی څخه علاوه په ډیرو سندونو سره دا حدیث ثابت دی چی نبی کریم ﷺ دحضرت طلحه په باره کی فرمایلی دی ، اِنَّ طَلْحَةَ شَهِيْدٌ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الْاَرْضِ : یعنی طلحه په مځکه گرځیدونکی شهید دی.

اوس که دحضرت علی خلاف دحضرت طلحه دجنګ دپاره وتل ښکاره گناه او عصیان وه نو په دی جنګ کی په مقتول کیدو به هغه هیڅکله دشهادت مرتبه نه وه حاصله کړی ، دغه شان که دحضرت طلحه دا عمل دغلط تاویل اوپه ادا دواجباتوکی کوتاهی مقرر کیدی سوای نو هم به ده ته دشهادت مقام حاصل نه وای ، ځکه چی شهادت خوصرف هغه وخت حاصلیږی، کله چی یوسړی دالله ﷻ په اطاعت کی قتل سوی وی ، په دی وجه ددغو حضراتو معاملی په دی عقیده محمول کول ضروری دی دکوم چی لوړ ذکر وسو.

ددی خبری دوهم دلیل هغه صحیح اومعروف اومشهور احادیث دی کوم چی په خپله دحضرت علی څخه روایت سوی دی او په کومو کی چی نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی چی ، دزبیر قاتل په جهنم کی دی دارنګه حضرت علی فرمایی چی ما دنبی کریم ﷺ څخه دا فرمایلی او ریدلی دی چی ، دصفیی (رض) دزوی قاتل ته دجهنم خبر ورکړی.

هرکله چی دا خبره ثابته سوه چی حضرت طلحه او حضرت زبیر ددی جنګ په وجه عاصی اوګنهګار نه سول ، که داسی نه وی نوحضور ﷺ به حضرت طلحه ته شهید نه فرمایی او حضرت زبیر دقاتل په باره کی به یی دجهنم پیش ګویی نه کوله ، دارنګه د دوی شمیر په عشره مبشره کی دی ، دکومو دجنتی کیدو شهادت چی تقریبًا متواتر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان کوم حضرات صحابه ﷺ چی ددی جنګو څخه کناره کش سول ، دغو ته هم په تاویل سره خطا کار نه سی ویل کیدی، بلکه ددغو طرزِ عمل هم په دی لحاظ سره درست وو چی الله ﷻ دوی په اجتهاد کی په دی رایی باندی قائم وساتل ، هرکله چی دا خبره ده نو په دی وجه په دی حضراتو لعن طعن کول د دوی څخه دبراءت اظهار کول او دوی ته فاسق مقرر کول ، د دوی فضیلتونه اومجاهدات او د دوی عظیم دینی مقامات کالعدم کول په هیڅ شان درست نه دی.

دځینو عالمانو څخه پوښتنه وسوه چی دهغه خون په باره کی ستاسی څه رایه ده کومه چی دصحابه کرامو ﷺ په مینځ کی په مشاجراتوکی توی سوه نو دوی په جواب کی دا آیت ووایه چی ، تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ : دغه یو امت وو چی تیر سو ، د دوی عملونه دهغوی دپاره دی اوستاسی عملونه ستاسی دپاره اوستاسی څخه به دهغوی دعملونو په باره کی پوښتنه نه کول کیږی.

او دیو بزرګ څخه دا پوښتنه وسوه نو هغه وویل ، داسی وینه ده چی الله ﷻ زمونږ لاسونه ددغو (درنګ کیدو) څخه محفوظ کړل اوس مونږ خپله ژبه په دغه نه سو ککړ ولی ، مطلب یی دا وو چی زه یوه فریق ته په یوه معامله کی په یقینی طور سره په خطا کار ویلو سره په غلطی کی ځان نه سم مبتلا کولی.

علامه ابن فورک رحمه الله فرمایی ، زمونږ ځینی اصحابو ویلی دی چی دصحابه کرامو ﷺ په مینځ کی کوم مشاجرات سوی دی دهغه مثال داسی دی ، لکه دحضرت یوسف ﷺ او دهغه دوړونو په مینځ کی دواقعاتو ، دغه حضرات په خپل مینځ کی ددی اختلافاتو باوجود دنبوت او ولایت دحدودو څخه نه دی خارج سوی ، او حضرت محاسبی فرمایی چی ، ترکومه حده پوری چی ددی خونریزی معامله ده نو ددی په باره کی زمونږ څه ویل مشکل دی ځکه چی په دی کی په خپله دصحابه ؤ ﷺ په مینځ کی اختلاف وو.

اودحضرت حسن بصری رحمه الله څخه دصحابه ؤ ﷺ په مینځ کی دجنګونو په باره کی پوښتنه وسوه نو دوی وفرمایل چی، داسی جنګونه وه چی صحابه ﷺ په کی موجودوه او مونږ غائب ، دوی ته پوره حالات معلوم وه اومونږ ته نه دی معلوم ، پرکومه معامله چی دټولو اصحابو ﷺ اتفاق دی ، مونږ په هغه کی دهغوی پیروی کوو اوپه کومه معامله کی چی دهغوی اختلاف دی په هغه کی مونږ خاموش پاته کیږو.

حضرت محاسبی رحمه الله فرمایی چی مونږ هم هغه خبره کوو کومه چی حسن بصری فرمایلی ده ، مونږ پوهیږو چی صحابه کرامو ﷺ په کومو شیانوکی چی دخل ورکړی دی په هغه هغوی زمونږ څخه زیات واقف اوخبر وه ، په دی وجه زمونږ کار دا دی چی په کوم کارهغه ټول متفق وی ، دهغه پیروی کوو اوپه کومو کی چی دهغوی اختلاف وی ، په هغه چپ پاته سو ، او دخپل طرف څخه څه نوی رایه قائمه نه کړو ، زمونږ یقین دی چی دغو ټولو داجتهاد څخه کار اخیستی وو او دالله ﷻ رضایی غوښتله ، ځکه چی ددنیا په معامله کی هغه ټول دشك او شبهی څخه بالاتر دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰ أَن يَكُونُوا

ای ایماندارو ! مسخری دی نه کوی یو قوم په بل قوم پوری نژدی ده چی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ

غوره د دوی څخه او نه ښځې په ښځو پوری نژدی ده چی وی غوره د دوی څخه ،

وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ۭ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ

او عیب مه لګوی په یو بل او مه یو بل په بدو لقبونو سره یادوی ، ناکاره دی نوم دګناه

بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۱۱

وروسته دایمان څخه ، او چا چی توبه ونه کښل نو هغه دی بی انصافه .

لنډتفسیر: ای ایمانداروا ستاسی سړو ته په نورو سړو پوری مسخری کول نه دی په کار څه عجیبه ده چی (په کومو پوری مسخری کوی) هغه د دوی (مسخرو کوونکو) څخه (دخدای په نزد) ښه وی (نوبیا دوی ته سپك ولی ګوری) اونه ښځو ته په ښځو پوری مسخری کول په کار دی ، څه عجیبه ده چی (په کومو پوری مسخری کوی) هغه دهغو (مسخری کوونکو) څخه (دخدای په نزد) ښه وی (نوبیا هغوته سپك ولی ګوری) او مه یو بل په بدو لقبونو سره بولی (څکه چی دا ټولی خبری دګناه دی او) دایمان راوړلو څخه وروسته (په مسلمان باندی) دګناه نوم اینبوول بده خبره ده (یعنی داګناه کول ستاسی په شان کی دا ویل چی فلانی مسلمان دکوم څخه چی ته مراد یی ګناه یعنی دخدای نافرمانی کوی دنفرت خبره ده نو ددی څخه څان وساتی) اوکوم چی (ددی حرکتونو څخه) منع نه سی نو دغه ظلم کوونکی (او دحقوق العباد تلف کوونکی) دی (کومه سزا چی ظالمانو ته ورکول کیږی ، هغه به ده ته هم ورکول کیږی)

معلومات اومسئلې: دسورة حجرات په شروع کی دنبی کریم ﷺ دحقوقو او ادابو بیان راغی ، بیا دعامو مسلمانانو دیو بل په مینځ کی دحقونو او ادابو دمعاشرت بیان شروع سو، په تیرو دوو ایتونوکی د دوی داجتماعی اوجماعتی اصلاح احکام بیان سول ، په دی ذکر سوو آیتونوکی دسړو اوافرادو په څیل مینځ کی دحقونو اودمعاشرت دادابو ذکر دی ، په دی کی ددی شیانو دممانعت ذکر دی ، اول په یو مسلمان پوری مسخری اوتوکی کول دوهم په چا طعن کول ، دریم په داسی لقب سره یی ذکر کول په کوم سره چی دهغه سپکاوی وی یاهغه دغه بدګنی .

اول شی تمسخر یامسخره ده ، قرطبی فرمایی چی دیو سړی دسپکوالی او توهین دپاره دهغه څه عیب داسی ذکر کول په کوم سره چی خلګ وخاندی دی ته مسخره یاتمسخر وایی او دا لکه څنګه چی په ژبه کیږی دغسی په لاسونو پښو وغیره سره ددی نقل کول یا اشارو کولوسره هم کیږی او داسی هم چی دهغه خبری واوری او دسپکاوی په طور ورپوری خندا وکی ، او څینی حضرات فرمایی چی مسخره یاتمسخر دیوسړی په داسی طورسره ذکرکول دی چی خلګ ورپوری وخاندی اوداټول شیان په نص دقرآن حرام دی دمسخری دممانعت قرآن کریم دومره اهتمام فرمایی چی په دی کی یی سړوته جلاخطاب وفرمایی

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځوته جلا، سړی یی په لفظ دقوم سره تعبیرکړل، ځکه چی په اصل کی دالفظ دسړو دپاره وضع سوی دی که څه هم مجازًا اوتوسعًا ښځو ته هم اکثر شاملیږی اوقرآن کریم عمومًا لفظ دقوم دښځو اوسړو دواړو دپاره استعمال کړی دی، مگر دلته لفظ دقوم خاص دسړو دپاره یی استعمال وفرمایی، ددی په مقابله کی یی دښځو ذکر په لفظ دنساء سره وفرمایی اوپه دواړوکی یی چی کوم سړی په بل سړی پوری مسخری کوی ده ته څه معلومه ده چی شاید هغه دالله ﷻ په نزد ددی مسخره کوونکی څخه ښه وی، دغه شان کومه ښځه چی په بلی ښځی پوری مسخری کوی، دی ته څه معلومه ده چی شاید هغه دالله ﷻ په نزد ددی څخه ښه وی، په قرآن کی یی دسړو دسړو سره او دښځو دښځو سره دمسخرو او ددی دحرمت ذکر فرمایلی دی، حال دا دی چی که یو سړی په ښځی پوری یا ښځی په سړی پوری مسخری کولی، هغه هم په دی کی دا خل دی، مگر ددی په ذکر نه کولو سره اشاره دی طرف ته ده چی دښځو اوسړو اختلاط دسره ممنوع او مذموم دی کله چی اختلاط نه وی نو مسخری به دکومه وسی.

مطلب دایت دا دی چی که دیوه سړی په بدن یاصورت یاقد اوقامت وغیره کی څه عیب په نظر راسی نوچا ته په هغه پوری خندل یامسخری کول نه دی په کار، ځکه چی ده ته معلومه نه ده چی شاید هغه دخپل صدق او اخلاص وغیره په سبب دالله ﷻ په نزد دده څخه ښه وی، ددی آیت په اوریدو سره دسلف صالحینو حال داسی جوړ سوی وو چی عمرو بن شرحبیل رحمه الله فرمایی چی که مابه یو سړی په داسی حال کی ولیدی چی دبزی په تیو یی خوله لګولی ده او دتی څخه یی شیدی چینبی اوپه ده پوری ماته خندا راسی نو زه وبیریږم چی هسی نه زه داسی سم، حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی زه که په سپی پوری هم مسخری وکړم نو زه بیریږم چی هسی نه زه په خپله سپی سم (قرطبی)

په صحیح مسلم کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دمسلمانانو صورتونو او د دوی مال او دولت ته نه ګوری، بلکه د دوی زړونو اوعملونوته ګوری، قرطبی فرمایی چی ددی حدیث څخه یوه قاعده اواصل دا معلوم سو چی دیوه سړی په معامله کی دده ظاهری حال ته کتل اوځه قطعی حکم لګول درست نه دی، ځکه چی کیدی سی چی دکوم سړی ظاهری عملونه اوکارونه مونږ درست اوښه ګڼو اوالله ﷻ چی دده دباطنی حالاتو څخه خبر دی دغه دهغه په نزد باندی مذموم وی اودکوم سړی ظاهری حالات اوعملونه چی بددی، کیدی سی چی دهغه باطنی حالات اوکیفیات دهغه دبدو عملونو کفاره جوړه سی، په دی وجه چی کوم سړی په بدو حالاتو یابدو عملونو کی ووینی نو دهغه دا حالت خو بد ګڼی، مگر ددی سړی دسپک اوذلیل ګڼلو اجازت نسته.

بل شی دکوم چی ممانعت په دی آیت کی سوی دی هغه لَمز دی، دلَمز معنٰی په چا کی دعیب را ایستو اوعیب ظاهرولو یاپه عیب دطعن کولو ده په آیت کی ارشاد فرمایی، وَلَاتَلْمِزُوا اَنْفُسَكُمْ: یعنی تاسی خپل عیب مه راباسی، دا ارشاد داسی دی لکه په قرآن کریم کی چی دی، وَلَاتَقْتُلُوا اَنْفُسَكُمْ: چی معنٰی یی دا ده، تاسی خپل ځانونه مه قتلوی، دواړه ځایه دخپلو ځانونو دقتلولو او یا دخپل عیب را ایستو څخه مراد دی چی تاسی په خپل مینځ کی یو بل مه قتلوی، په یو بل باندی طعن مه لګوی او په دی عنوان سره په تعبیر کولو کی دا حکمت ښوولی دی چی څوک بل قتل کول په یوحیثیت سره خپل ځان قتل کول

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، خکه چی اکثره داسی خامخا واقع کیږی چی یو بل قتل کړی نو دمقتول حمایتی دی قتل کړی اوکه دا هم نه وی نو اصل خبره دا ده چی مسلمانان تول وړونه وړونه دی خپل ورور قتل کول گویا خپل ځان قتل کول اوبی لاسو پښو کول دی ، دغه معنی دلته په وَلَا تَلْمِزُوا اَنْفُسَكُمْ کی هم ده ، چی تاسی په نورو کی عیبونه راباسی اوطعن پرکوی نویادساتی چی دعیب ځخه خوهیڅ انسان عادتًا خالی نه وی چی تاسی دهغه عیب راباسی ، هغه به ستاسی عیب راباسی ، لکه چی ځینی علماء فرمایی، وَفِيْكَ عُيُوْبٌ وَلِلنَّاسِ اَعْيُنٌ : یعنی په تاکی هم څه عیبونه دی او دخلگو سترگی دی چی هغوی یی وینی که ته دچا عیبونه راباسی اوطعن ولگوی نو هغه به ستاسره دا عمل وکی اوبالفرض که هغه صبر هم وکی نو خبره دا ده چی دخپل یو ورور بدنامی اوتذلیل دخپل ځان بدنامی اوتحقیر دی .

علماء فرمایی چی دانسان سعادت اوخوش نصیبی په دی کی ده چی په خپلو عیبونو نظر واچوی او دهغه داصلاح فکر وکی اوځوك چی داسی کوی ، هغه ته دنورو عیبونو درا ایستلو اوبیانولو فرصت نه پیداکیږی ، دهندوستان اخری مسلمان بادشاه ظفر څه ښه فرمایلی دی .

ترجمه : دځان ځخه ناخبره وو چی کله مونږ دخلگو عیبونو اوهنرونو ته کتل خو چی هرکله مونږ خپلو عیبونو ته وکتل نو دجهان تول مخلوق راته ښه ښکاره سو .

دریم شی دکوم ځخه چی په آیت کی منع سوې ده ، هغه بل په بد لقب سره یادول دی ، په کوم سره چی هغه ناراضه کیږی ، لکه چاته گوډ شل یاړوند ویل ، یاپه داسی لفظ سره دده ذکر کول داسی چی کوم نوم دچا دَسپکوالی دپاره استعمالیږی په هغه نوم سره دی رابلل ، حضرت ابوجبیره انصاری ﷺ فرمایی چی دا آیت زمونږ په باره کی نازل سوی دی هرکله چی نبی کریم ﷺ مدینی منوری ته تشریف راوړی نو په مونږکی اکثره خلگ داسی وه دکومو چی دوه یادری نومونه مشهوره وه اوپه دی کی اکثره نومونه داسی وه ، کوم چی خلگو د دوی دشرمولو دپاره اوسپکوالی دپاره مشهور کړی وه ، حضور ﷺ ته دا معلومه نه وه ، ځینی وخت به یی په هم دغه بد نوم اخیستلو سره بلی ، نواصحابو ﷺ به عرض کوی چی یا رسول الله ﷺ هغه خو په دی نوم بللو سره ناراضه کیږی په دی باندی دا آیت نازل سو .

اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی په آیت کی دَ تَنَابَزُ بالالقَاب ځخه مراد دا دی چی یو سړی څه گناه یابد عمل وکی او بیا هغه توبه گار سی ، ددی ځخه وروسته دی ددغه بدعمل په نوم سره بلل کیږی ، مثلاً غل یازنا کار یاشرابی وغیره چا چی دغلا ، زنا او شرابو ځخه توبه کړی وی ، ده ته په دغه تیرعمل باندی عار ورکول اوسپکول یی حرام دی ، په حدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی یو مسلمان ته په داسی گناه پیغور ورکی ، دکوم ځخه چی هغه توبه کړی وی ، نو الله ﷻ په خپله ذمه دا اخیستی ده چی دی په دغه گناه کی مبتلا کی اوپه دنیا او اخرت کی یی رسوا کی (قرطبی)

(دځینو القابو ددی ځخه استثنا)

دځینو خلگو څه داسی نومونه مشهورسی چی هغه فی نفسه بد وی ، مگر هغه بغیر ددغه لفظ ځخه نه سی پیژندل کیدی ، نو دا دهغه دنوم سره په ذکر کولو باندی علماؤ اتفاق دی په دی شرط چی د ذکر کوونکی اراده دده تحقیر اوتذلیل نه وی لکه دځینو محدثینو دنوم سره اعرج یا احدب مشهور دی او په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله نبی کریم ﷺ یوصحابی ته دکوم چی لاسونه نسبتاً زیات اوږده وه د ، ذوالیدین په نوم سره یادیږی دی. دحضرت عبدالله بن مبارك څخه پوښتنه وسوه چی داحادیثو په سندونوکی دځینو دنومونو سره څه داسی القاب راځی مثلاً حمید الطویل ، سلیمان الاعمش مروان الاصفر وغیره ، نو آیا ددی القابو سره ذکر کول یی جائز دی ؟ دوی وفرمایل چی کله ستاسی قصد دهغه دعیب بیانولو نه وی بلکه دپوره پیژندلو وی ، نو بیا جائز دی (قرطبی)

(سنت دا دی چې خلك په نبو القابو سره یادسي)

په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دمومن حق په بل مومن دا دی چی دهغه په داسی نوم اولقب سره ذکر وکی کوم چی دهغه زیات خوښ وی ، په دی وجه په عربو کی دکنیت رواج عام وو او نبی کریم ﷺ هم دا خوښ کړی وو ، په خپله نبی کریم ﷺ خاصو خاصو صحابه وو ته څه لقبونه ورکړی دی ، حضرت صدیق اکبر ﷺ ته عتیق ، حضرت عمر ﷺ ته فاروق اوحضرت حمزه ﷺ ته اسد الله اوحضرت خالد بن ولید ﷺ ته یی سیف الله فرمایلی دی . دتفصیل دپاره وګوری مجمع الزوائد ص ۳۹۴ ج ۲، محمود اشرف عثمانی رحمه الله .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ

ای ایماندارو ! ځان وساتی د ډیرو تهمتونو لګولوڅخه په تحقیق سره ځینی تهمت ګناه ده

وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ۭ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ

او دراز لټول مه کوی دچا او غیبت مه کوی ځینی دځینو آیا خوښوی یو تن تاسی څخه چی

يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ۝۱۲

وخوری غوښی دمړه ورور خپل ؟ نو ددی څخه خوکرکه کوی او بیره کوی دالله څخه ، بیشکه الله معاف کوونکی دی مهربانه

لنډتفسیر: ای ایماندارو! ډډیرو ګمانونو څخه ځان ساتی ځکه چی ځینی ګمان ګناه وی (په دی وجه دظن اوګمان چی څومره قسمونه دی دهغو ټولو داحکامو تحقیق کوی چی کوم ګمان جائز دی کوم ناجائز، بیا دجائز په حد کی دننه اوسیږی) او (دچاپه عیب پسی) لټون مه کوی اوځوك دی دچاغیبت هم نه کوی (مخ ته دغیبت مذمت دی چی) آیاپه تاسی کی څوك دا خبر خوښوی چی دخپل مړ ورور غوښی وخوری، دا خو تاسی (خامخا) بدګنی (نو پوه سی چی دیو ورور غیبت هم ددی مشابه دی) او دالله ﷻ څخه بیره کوی (غیبت پریږدی توبه وکاږی) بیشکه الله ﷻ لوی توبه قبلوونکی مهربانه دی .

معلومات اومسئلي : دا آیت هم په خپل مینځ کی دحقونو اوادابو دمعاشرت متعلق پراحکامو باندی مشتمل دی ، په دی کی یی هم دری شیان حرام مقرر کړی دی ، اول ګمان ، دکوم تفصیل چی مخ ته راځی دوهم تَجَسُّس یعنی دیو پټ عیب درك لګول دریم غیبت یعنی دیوغیر حاضر سړی متعلق څه داسی خبره کول کومه چی که هغه واوری نوبده به پر ولګیږی اولنی شی یعنی ظن ، ددی معنی غالب ګمان دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی متعلق قرآن کریم اول خو دا ارشاد وفرمایی چی ، ددیرو گمانونو څخه ځان ساتی ، بیایی ددی وجه دا بیان کړه چی ، ځینی گمان گناه وی ، ددی څخه معلومه سوه چی هرگمان گناه نه وی ، نو ددی ارشاد په او ریدو باندی ددی تحقیق واجب سو چی کوم گمان گناه ده چی دهغه څخه ځان وساتل سی اوترڅو پوری چی دیوگمان جائزوالی معلوم نه وی ، هغه ته نژدی کیدل نه دی په کار. عالمانو اوفقهاؤ ددی تفصیلات بیان کړی دی ، قرطبی فرمایی چی دظن څخه مراد دلته تهمت لگول دی . یعنی په یو سړی بغیر دڅه قوی دلیل څخه څه الزام عیب یاگناه لگول .

امام ابوبکر جصاص په احکام القرآن کی یو جامع تفصیل داسی لیکلی دی چی دظن څلور قسمونه دی یو حرام دی ، دوهم مامور به او واجب دی ، دریم مستحب او مندوب دی ، څلورم مباح او جائز دی ، حرام ظن دا دی چی په الله ﷻ بدگمانی ساتی چی هغه به ما ته عذاب راکړی یابه می په مصیبت کی ساتی ، داسی چی دالله ﷻ درحمت او مغفرت څخه گویا مایوسه دی .

دحضرت جابر ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، لاَ یَمُوْتَنَّ اَحَدُکُمْ اِلاَّ وَهُوَ یُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللهِ : ستاسی څخه دی چاته ددی څخه بغیر مرگ رانه سی چی دده په الله ښه گمان وی .

اوپه یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ دا ارشاد راغلی دی چی الله ﷻ فرمایی ، اَنَاعِنْدَظَنِّ عَبْدِیْ بِیْ : یعنی دخپل بنده سره هغه سلوك کوم دکوم چی هغه پرماگمان لری، اوس ده ته اختیاردی چی پرماڅنگه گمان غواړی ساتی دی ، ددی څخه معلومه سوه چی په الله ﷻ حُسْنِ ظَنْ فرض دی اوبدگمانی حرامه ده ، دغه شان یو مسلمان چی په ظاهره نیك ښکاری دهغه په حقله بغیر دڅه قوی دلیل څخه بدگمانی کول حرام دی ، دحضرت ابو هریره ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اِیَّاکُمْ وَالظَّنَّ فَاِنَّ الظَّنَّ اَکْذَبُ الْحَدِیْثِ یعنی دگمان څخه ځان ساتی ځکه چی گمان درواغجنه خبره ده، دلته دظن څخه مراد په اتفاق سره په یو مسلمان بغیر دڅه قوی دلیل څخه بدگمانی کول دی ، اوکوم کار چی داسی وی چی په هغه کی په یو جانب باندی عمل کول شرعًا ضروری وی او دهغه متعلق په قرآن اوحدیث کی څه واضح دلیل موجود نه وی هلته په ظن غالب عمل کول واجب دی ، لکه په خپل مینځ کی دجگړو اومقدمو په فیصله کی دثقه شاهدانو دشاهدی مطابق فیصله کول ، ځکه چی حاکم اوقاضی دچاپه عدالت کی چی مقدمه دائره ده ، په هغه ددغه فیصله کول واجب او ضروری دی او ددی خاص معاملی دپاره څه نص په قرآن اوحدیث کی موجود نه دی نو دثقه سړیانو په شاهدی عمل کول ددی دپاره واجب دی ، که څه هم دا امکان اواحتمال هلته هم دی چی شاید یو ثقه سړی دا وخت دروغ ویلی وی ، په دی وجه دهغه ربښتینوالی صرف ظن غالب دی او عمل په واجب دی .

دغه شان کوم ځای چی دقبلی طرف معلوم نه وی او څوك وی هم نه چی ورڅخه معلوم یی کړی ، هلته په خپل ظن غالب عمل کول ضروری دی ، دغه شان دچاپه ذمه چی دچا دڅه شی ضمان (تاوان) ورکول واجب وی نو ددغه ضائع سوی شی په قیمت کی په ظن غالب عمل کول واجب دی .

او ظن مباح داسی دی لکه دلمانځه په رکعتونو کی شك راسی چی دری می وکړل اوکه څلور نوپه خپل غالب ظن باندی عمل کول جائز دی اوکه هغه ظن غالب پریږدی ، په یقینی کار عمل وکی یعنی رکعتونه

Maktaba Tul Ishaat.com

دری مقرر کړی څلورم پسی بل وکی نو دا هم جائز دی.
اوظن مستحب او مندوب دا دی چی په هرمسلمان نیك ګمان ساتی چی په دی ثواب ورکول کیږی، (خصاص ملخصاً)
قرطبی فرمایی چی دقرآن کریم ارشاد دی، لَوْلا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا: په دی کی په مومنانو دحسن ظن تاکید راغلی دی او دا چی کومه مشهوره ده چی، إِنَّ مِنَ الْحَزْمِ سُوءَ الظَّنِّ، یعنی داحتیاط خبره دا ده چی په هرسړی بدګمانی ساتی، ددی مطلب دا دی چی معامله داسی کوی لکه دبدګمانی په صورت کی چی کول کیږی، چی بغیر دقوی اعتماد څخه خپل شی چاته نه حواله کوی، داسی نه چی غل یی ګنی او سپکاوی یی کوی، لنډه دا چی دیوه سړی دغل یاغدار ګنلو څخه بغیر په خپله معامله کی احتیاط کوی، دشیخ سعدی ﷺ ددی قول هم دا مطلب دی.

نگه دارد آن شوخ در کیسه دُر — که داند همه خلق را کیسه بر

ترجمه: هغه سړی خپل مال په کیسی کی محفوظ ساتلی سی چی په هر چا باندی دکیسی تښتولو ګمان کوی یعنی دخپل مال په خپله حفاظت کوی.

دوهم شی دکوم څخه چی په دی آیت کی منع سوې ده تجسس یعنی دچادعیب لټون او درک لګول دی، په دی کی دوه قرائتونه دی یو، لاَ تَجَسَّسُوْا په جیم سره، بل لاَ تَحَسَّسُوْ په حاء سره او دصحیحینو په حدیث کی کوم چی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه منقول دی، دا دواړه لفظونه راغلی دی، ارشاد دی، لاَتَجَسَّسُوْ وَلاَ تَحَسَّسُوْا او د دواړو لفظونو معنٰی نژدی ده، اخفش په دواړو کی دافرق بیان کړی دی چی تجسسوا په جیم سره دداسی کار لټون اوتلاش ته ویل کیږی کوم چی خلګو دده څخه پټ کړی وی اوتحسس په حاء سره مطلق دتلاښ اولټون په معنٰی کی راځی، په سورة یوسف ﷺ کی، تَحَسَّسُوا مِنْ يُوسُفَ وَأَخِيهِ: په دی معنٰی کی راغلی دی اومعنٰی دایت دا ده چی کوم شی ستاسی په مخکی راسی هغه نیول کیږی او دیومسلمان عیب کوم چی ظاهر نه وی دهغه لټون اوتلاش کول جائز نه دی، په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی.

لاَتَقَاطَعُوا الْمُسْلِمِيْنَ وَلاَتَتَّبِعُوْا عَوْرَاتِهِمْ، فَإِنَّ مَنِ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعُ اللهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبِعِ اللهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِي بَيْتِهِ (قرطبی) دمسمانانو غیبت مه کوی او د دوی دعیبونو لټون مه کوی ځکه چی کوم سړی دمسلمانانو دعیبونو تلاښ کوی الله ﷻ دده دعیبونو تلاښ کوی او دچا دعیبونو تلاښ چی الله ﷻ وکی هغه دده په کور کی دننه هم رسوا کوی.

په بیان القرآن کی دی چی دچاخبرو اوریدو ته پټ دریدل یاځان قصداً بیده جوړول او خبری اوریدل هم په تجسس کی دا خل دی البته که دځه ضرر رسیدو احتمال وی او دخپل یادبل مسلمان دحفاظت په غرض سره دضرر رسوونکی خبری واوری او دهغه دارادو څخه ځان په پټه خبر کړی نو جائز دی.

دریم شی دکوم څخه چی په دی آیت کی منع فرمایل سوې ده هغه دچاغیبت کول دی، یعنی دهغه په غیر موجودګی کی دهغه متعلق څه داسی خبره کول چی که هغه یی واوری نوخفه کیږی په، که څه هم هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

رښتینی خبره وی ، څکه چی کوم غلط الزام ولګوی هغه تهمت دی ، دکوم حرامواليی چی ځانته دقرآن څخه ثابت دی او دغیبت په تعریف کی ددغه سړی دغیر موجودګی په قید سره دی دا نه سی ګڼل کیدی چی دموجودګی په حالت کی داسی خفګان راوستونکی خبره کول جائز دی ، څکه چی دغه غیبت خو نه دی مګر په لمز کی دا خل دی چی حرمت یی ددی څخه په سخکی آیت کی راغلی دی .

أَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيهِ مَيْتًا : دی آیت دیو مسلمان ابرو ریزی اوتوهین اوتحقیر دهغه دغوښو خوړلو په مثل اومشابه ګرځولی دی ، که دغه سړی ده ته مخامخ وی نو داسی ده لکه دژوندی انسان غوښی چی شکوی اوخوری یی ، دا قرآن دلمز په لفظ سره تعبیر کړی دی او فرمایلی یی دی چی دا حرام دی لکه چی اوس تیرسول ، وَلَاتَلْمِزُوا اَنْفُسَكُمْ : او مخ ته به راسی ، وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ اوچی هغه سړی غائب وی دهغه وروسته په شا دهغه پسی دهغه متعلق داسی خبره کول چی دهغه په ابرو کی خلل راسی او دهغه تحقیر وسی دا داسی ده لکه دمړ انسان غوښی چی وخوړل سی، لکه دمړی په غوښو خوړلو سره چی مړی ته څه تکلیف نه رسیږی داسی دی غائب ته ترڅو پوری چی ددی غیبت څخه خبرنه وی، ده ته هم څه تکلیف نه وی، لیکن لکه څنګه چی دمړ مسلمان غوښه خوړل حرام اودډیر رذالت اوخساست کاردی، دغه شان غیبت حرام هم دی اوخساست اورذالت هم په کی دی چی وروسته په شا دچا پسی بَدْ ویل څه دبهادری کار خو نه دی .

په دی آیت کی دظن ، تجسس او غیبت دری شیانو دحرامواليی بیان دی ، مګر دغنیمت دحرامواليی یی زیات اهتمام وفرمایی چی دی ته یی دیوه مړ مسلمان دغوښی دخوړلو سره تشبیه ورکړه ، ددی حرمت ارخساست او رذالت یی نور زیات واضح کی ، حکمت په دی کی دا دی چی دچاپه مخکی دده عیبونه ظاهرول هم که څه هم دازار رسیدو په بنا حرام دی ، مګر ددی مدافعت دغه سړی په خپله هم کولی سی او دمدافعت دخطری په وجه دهر چاهمت هم نه وی او دغه عادتًا زیات هم نه سی پاته کیدی ، په خلاف دغیبت څخه چی هلته څوك مدافعت کوونکی نه وی ، هر کمتر سړی دلوی څخه دلوی سړی غیبت کولی سی او چونکی څوك مدافعت کوونکی هم نه وی ، په دی وجه سلسله یی هم عمومًا اوږده وی اوپه دی کی ابتلاء هم زیاته ده ، په دی وجه دغیبت حرمت زیات مؤکد سو او په عامو مسلمانانو باندی لازمه سوه چی څوك یی اوری نو هغه دی دخپل غائب ورور دطرف څخه په شرط دقدرت مدافعت کوی اوکه په مدافعت یی قدرت نه وی ، نوکم ازکم داوریدو څخه دی ځان ساتی ، څکه چی دغیبت په قصد اواختیار اوریدل هم داسی دی لکه په خپله غیبت کول .

دغیبت متعلق مسئلې : حضرت میمون رحمه‌الله فرمایی چی یوه ورځ په خوب کی ماولیدل چی دیو زنګی مړ لاش دی اویو ویونکی راته وایی چی دا وخوره ، ماوویل چی ای دخدای بنده زه دا څنګه وخورم نو هغه سړی وویل څکه چی تا دفلانی سړی دزنګی غلام غیبت کړی دی ، ما وویل چی په خدای قسم دی ماخو دهغه متعلق څه نښه بده خبره دسره کړی نه ده نو هغه سړی وویل چی ها ، لیکن تادهغه غیبت اوریدلی خو دی او ته په هغه راضی سوی یی ، دحضرت میمون حال دهغه خوب دلیدو څخه وروسته داسی سوچی نه به یی په خپله دچا غیبت کوی اونه به یی څوك په خپل مجلس کی دچا غیبت کولو ته پرینښووی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په حدیث کی دحضرت انس بن مالك ﷺ څخه روایت دی چی دشب معراج په حدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی زه روان سوم نو زه په یو داسی قوم تیر سوم دکومو نوکان چی داوسپنی وو او هغوی خپل مخان او دبدن غوښی په را کشولی ، ما دجبرائیل امین ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی دا کوم خلك دی؟ دوی وفرمایل چی دا هغه خلك دی کومو چی دخپلو ورونوغیبت کړی دی او دهغوی ابرو ریزی به یی کوله (رواه البغوی ، مظهری)

او دحضرت ابوسعید ﷺ او جابر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اَلْغِيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا، یعنی غیبت دزناڅخه هم زیاته سخته ګناه ده ، صحابه کرامو ﷺ عرض وکی چی دا څنګه؟ نو دوی وفرمایل چی یوسړی زناکوی ، بیاتوبه وکاږی نو دهغه ګناه معاف سی او دغیبت کوونکی ګناه ترهغه وخته پوری نه معاف کیږی ترڅو پوری چی هغه سړی یی معاف نه کړی ، دکوم چی غیبت سوی وی ، (ترمذی ، ابوداود ، مظهری)

ددی حدیث څخه ثابته سوه چی غیبت یو داسی ګناه ده په کوم کی چی دالله ﷻ هم مخالفت دی اوحق العبد هم په کی ضائع کیږی ، په دی وجه دچاچی غیبت سوی دی دهغه څخه معاف کول ضروری دی اوځینی علماء فرمایی چی دغیبت خبر ترڅو صاحب غیبت ته نه وی رسیدلی ، ترهغه وخته پوری دا حق العبد نه وی ، په دی وجه دهغه څخه دمعاف ګولو ضرورت نسته (نقل کړی دی ، دا روایت په روح کی دحسن اوخیاطی اوابن الصباغ اونووی دابن الصلاح او زرکشی او ابن عبدالرحمان اوخیاطی اوابن المبارك څخه) مګر بیان القرآن ددی دنقل کولوڅخه وروسته فرمایی چی په دی صورت کی که څه هم ددغه سړی څخه معافی غوښتل ضروری نه دی ، مګر دکوم سړی په مخکی چی یی دده غیبت کړی دی دهغه په مخکی خپل ځان درواغجن کول یادخپلوګناهونو اقرارکول ضروردی دی، اوکه هغه سړی مړ وی یادهغه پته نه وی نودهغه کفاره دحضرت انس ﷺ په حدیث کی دا ده چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيْبَةِ أَنْ يَّسْتَغْفِرَ لِمَنْ اغْتَابَهُ وَتَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُ (رواه البیهقی، مظهری) یعنی کفاره دغیبت دا ده چی دچاغیبت سوی دی دهغه دپاره دالله ﷻ څخه دمغفرت دعا وکی او داسی ووایی چی یاالله زما او دهغه ګناهونه معاف کړی.

مسئله : دبچی، لیونی اوذمّی کافر غیبت هم حرام دی ځکه چی دوی ته آزار رسول هم حرام دی اوکوم کافرچی حربی وی که څه هم چی هغه ته آزار رسول حرام نه دی ، مګر دخپل وخت ضائع کولو په وجه بیا هم غیبت مکروه دی.

مسئله : غیبت لکه څنګه چی په قول اوخبرو سره کیږی ، دغسی په فعل یا اشاره سره هم کیږی ، لکه دیو چا ګوډ په شان ګوډ ګوډ تلل چی هغه سپك په ښکاره کړی.

مسئله : دځینو روایتونوڅخه ثابته ده چی په آیت کی دکوم عام غیبت دحرمت حکم دی ، دا مخصوص البعض دی یعنی په ځینو صورتونو کی ددی اجازت سوی دی ، مثلاً دچابدی دځه ضرورت یامصلحت په وجه بیان کړی نو دابه غیبت کی داخله نه ده ، په دی شرط چی دا مصلحت اوضرورت شرعاً معتبر دی لکه دیوظالم شکایت دیوداسی سړی په مخکی کول کوم چی د دوی اصلاح وکړل سی یا دیوی واقعی

Maktaba Tul Ishaat.com

متعلق دفتوی حاصلولو دپاره دواقعی دصورت اظهار یا نورو مسلمانانو ته دیو سړی ددینی یادنیوی شر څخه دمحفوظ کولو دپاره دچا حال ښوول ، یا دیوې معاملې متعلق دمشورې اخستلو دپاره دهغه حال ذکرکول یا کوم سړی چی دتولو په وړاندی په ښکاره ګناه کوی اوخپل فسق په خپله ظاهروی ، ددې دپدو عملونو ذکر هم په غیبت کی دا خل نه دی ، مګر بی ضرورته دخپل وخت ضآنع کولو پرېنا مکروه دی (دا تولی مسئلی په بیان القرآن کی په حواله دروح المعانی بیان سوې دی) او په دی تولوکی قدرِ مشترک دا دی چی دچا دبدی او عیب ذکر کولو څخه مقصود دهغه سپکوالی نه وی ، بلکه دهغه ضرورت او مجبوری په وجه وی .

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ

ای خلقو ! مونږ تاسی جوړ کړی یاست دیو سړی اویوې ښځی څخه اوجوړ کړی مو دی ستاسی

شُعُوْبًا وَّقَبَآىِٕلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ اِنَّ

ډانونه اوقبیلی چی یو بل وپیژنی ، بیشکه عزتمند په تاسی کی دالله په نزد زیات پرهیزګار ستاسی څخه

اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۳﴾

دی ، بیشکه الله په هرڅه پوه خبردار دی

لغوی تفسیر : ای خلقو ! مونږ تاسی (تول) دیو سړی او یوې ښځی (یعنی آدم ﷺ اوحوا ﷺ) څخه پیدا کړی یاست (په دی وجه په دی کی خو تول انسانان برابر دی) او (بیا په کومه خبره کی چی فرق اینښول سوې دی چی) تاسی یی مختلف قومونه او (بیا په دی قومونوکی) مختلف خاندانونه جوړ کړل (دامحضی ددی (پاره) چی دیوبل شناخت وکړل سی (چی په دی کی دیرمصلحتونه دی ، نه په دی وجه چی په یوبل فخر وکړئ ځکه چی) دالله ﷻ په نزد په تاسی تولوکی لوی شریف هغه دی کوم چی دتولوڅخه زیات پرهیزګار دی (اوپرهیزګاری داسی شی دی چی پوره حال یی چاته معلوم نه دی بلکه ددی حال محضی) الله ﷻ نه پیژندونکی اوپوره خبردار دی (په دی وجه په څه نسب او قومیّت فخرمه کوئ)

معلومات او مسئلې : په لوړو آیتونوکی دانسانی اواسلامی حقوقو او آداب معاشرت دتعلیم په سلسله کی شپږ شیان حرام کړل سوی او ممنوع کړل سوی دی کوم چی په خپل مینځ کی دنفرت اوعداوت سبب کیږی ، په دې آیت کی یوجامع تعلیم دانسانی مساوات دی چی یوانسان دبل څخه کمتر یا رذیل مه ګڼی او دخپل خاندان اونسب یامال اودولت وغیره پرېناباندی فخرمه کوی ځکه چی داشیان په حقیقت کی خودفخر دپاره دسره نه دی ، بیا ددی تفاخرڅخه په خپل مینځ کی دنفرت اوعداوت بنیادونه پیدا کیږی په دی وجه فرمایی چی تول انسانان دیوه مور اوپلار داولاد کیدو په حیثیت سره ورونه ورونه دی او دخاندانونو اوقبیلو یامال اودولت په اعتبار سره چی کوم فرق الله ﷻ اینبی دی هغه دفخر دپاره نه دی بلکه دتعارف دپاره دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

شانِ نزول: دا آیت دمکی دفتح په موقع هغه وخت نازل سو کله چی نبی کریم ﷺ حضرت بلال حبشی ﷺ ته داذان حکم وکی نو دمکی قریشوکله چی لامسلمانان سوی نه وه په هغوی کی یوه وویل چی دالله ﷻ شکر دی چی زماپلار وړاندی وفات سوي دی چی دا بده ورځ یی ونه لیده اوحارث بن هشام وویل چی آیانبی کریم ﷺ ته ددی تورکارغه څخه ماسوا بل څوك نه پیداکیدی چی په مسجدِ حرام کی یی اذان کړی وای ، ابوسفیان وویل چی ماهیڅ ونه ویل ځکه چی زه بیریدم چی که څه ووایم نودآسمانونو مالك به دی خبرکړی ، چنانچه جبرآئیل امین تشریف راوړی اونبی کریم ﷺ یی ددی خبروڅخه خبردارکړی ، حضور ﷺ هغه خلګ را وغوښتل او پوښتنه یی ورڅخه وکړه چی تاسی څه ویلی وه ؟ هغوی اقرار وکی ، په دی دا آیت نازل سو په کوم کی چی یی وښوولە چی دفخر اوباعث شی په حقیقت کی ایمان اوتقوی ده ، دکومو څخه چی تاسی خالی اوحضرت بلال ﷺ په ښایسته دی ، په دی وجه هغه ترتاسی افضله او اشرف دی ، (مظهری عن البغوی)

دحضرت عبد الله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چی دمکی دفتح په ورځ نبی کریم ﷺ په خپله اوښه سپور سو او طواف یی وفرمایی (چی خلق یی تول وویني) دطواف څخه چی فارغ سو نو دوی ﷺ دا خطبه ورکړه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّیَّةَ الْجَاهِلِیَّةِ وَتَكَبُّرَهَا اَلنَّاسُ رَجُلَانِ بَرٌّ تَقِیٌّ كَرِیْمٌ عَلَى اللّٰهِ وَفَاجِرٌ شَقِیٌّ هَیِّنٌ عَلَى اللّٰهِ ثُمَّ تَلَا: یٰاَیُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ، الایة

شکر دی دالله ﷻ کوم چی دجاهلیّت فخر او تکبّر ستاسی څخه لیری کی اوس دتولو انسانانو صرف دوه قسمونه دی یو نیك او متقی دغه دالله ﷻ په نزد شریف او محترم دی ، دوهم فاجر شقی هغه دالله ﷻ په نزد ذلیل او حقیر دی ددی څخه وروسته یی دا لوړ ذکر سوی آیت تلاوت وفرمایی .

حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی ددنیادخلګو په نزدعزّت دمال اودولت نوم دی او دالله ﷻ په نزد دتقوی شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ: شُعُوب دشعب جمع ده، دیرلوی جماعت ته شعب وایی کوم چی پریو اصل باندی مجتمع وی ، بیاپه دوی کی مختلفی قبیلی اوخاندانونه وی ، بیاپه خاندانونوکی هم دلوی خاندان اودهغه دمختلفو حصو په عربی ژبه کی جلاجلا نومونه دی ، دتولو څخه لویه حصه شعب اودتولو څخه کوچنی حصه عشیره ده ، او دابو رواق قول دی چی شعب اوشعوب عجمی قومونوته ویل کیږی دکومو چی نسبونه محفوظ نه وی ، او قبآئل دعربو خلګو دپاره دکومو چی نسبونه محفوظ راروان وی او اسباط بنی اسرآئیلو ته ویل کیږی .

(په نسبي او وطني يا لساني امتياز کي حکمت او مصلحت دتعارف دی)

قرآن کریم په دی آیت کی واضحه کړي ده چی الله ﷻ که څه هم چی تول انسانان دیوه پلار اومورڅخه پیداکړل تول یی ورونه ورونه جوړ کړي دی ، مګر بیا د دوی تقسیم په مختلفو قومونو او قبیلو کی کوم چی الله ﷻ فرمایلی دی ، په دی کی حکمت دا دی چی دخلګو تعارف اوشناخت آسان سی ، مثلاً په یوه نوم دوه سړیان دی نو دخاندان په تفاوت سره په دوی کی فرق کیدی سی او په دی سره دلیری او نژدی قرابتونو علم کیدی سی او دنسبی لیری والی او نژدی والی په مقدار د دوی شرعی حقوق اداکیږی ، دعصباتو لیری اونژدی والی معلومیږی ، چی ضرورت یی دمیراث په تقسیم کی پیښیږی ، لنډه دا چی

Maktaba Tul Ishaat.com

نسبی تفاوت دتعارف دپارہ استعمالوئ دتفاخر دپارہ نہ .

قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ؕ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا

وایی دکلیو خلق چی مونږ ایمان راوړی دی ، ته ووایه تاسی ایمان نه دی راوړی لیکن وایاست چی

اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوا

مونږ مسلمانان یُو اوس لا نه دی ننوتلی ایمان ستاسی په زړونو کی ، او که حکم ومنی

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

دالله او دهغه درسول پری به نه کړی ستاسی دکارونو څخه هیڅ شی ، بیشکه الله ﷻ بخښونکی

رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا

مهربانه دی ، ایماندار هغه خلق دی کوم چی ایمان راوړی په الله او دهغه په رسول بیا په کی شك

وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

نه کوی اوجهاد وکړی په مالونو خپلو او ځانونو خپلو په لاره دخدای کی ، هم دغه خلق دی

الصّٰدِقُوْنَ ﴿۱۵﴾ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

رښتینی ، ته ووایه آیا تاسی ضباطوی په الله خپله دینداری ، او الله پیژنی هغه څه چی په آسمانونو کی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۶﴾ يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ

او په مځکه کی دی ، او الله په هر شی باندی پوه دی ، ضباطوی په تاباندی چی دوی

اَسْلَمُوْا ؕ قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ

مسلمانان سول ، ته ورته ووایه په ما مه ضباطوی خپل اسلام ، بلکه دالله ﷻ په تاسی احسان وسو ،

هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ

چی هدایت یی وکړی تاسی ته دایمان که تاسی رښتینی یاست ، بیشکه الله پوه دی په غیبو باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾

دآسمانونو او دمځکی او الله ﷻ وینی هغه کوم چی تاسی کوی

لنډتفسیر: دا (بعضی) دصحرا خلګ (بنی اسد وغیره چی تاته راسی کوم چی دایمان راوړلو دعوه کوی، دوی په دی کی په څوګناهونوکی اخته کیږی یوخو دروغ چی بغیر دزړه دتصدیق څخه محضی په ژبه سره، وایی چی مونږ ایمان راوړو ته ووایه چی تاسی ایمان خو نه دی راوړی (ځکه چی هغه موقوف دی په تصدیق دزړه اوهغه موجودنه دی لکه چی نژدی راروان دی ، وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ) لیکن (هاں) داسی وایاست چی (مونږ مخالفت پرېښووی) تابعدارسو (او اطاعت په معنٰی دترک مخالفت محضی په ظاهری موافقت سره هم متحقق کیدی سی) او (باقی) تر اوسه ایمان ستاسی په زړونوکی نه دی داخل سوی (په دی وجه دایمان دعوه مه کوی) او ګویا (تراوسه تاسی ایمان نه دی راوړی لیکن اوس هم) که چیری تاسی دالله او رسول (په ټولو خبروکی) خبره ومنئ (په کومو کی چی دا هم داخله ده چی په زړه سره ایمان راوړئ نو الله تعالی به ستاسی دعملونو څخه (کوم چی وروسته دایمان څخه وی محضی دهغه وخت دکفر اوکذب په وجه سره کوم چی به ددی وخت په اعتبار سره تیر سوی وی) ذره هم کم نه کړی (بلکه دټولو به پوره پوره ثواب درکړی ځکه چی) بیشکه الله تعالی غفور اورحیم دی (اوس زمونږ څخه واورئ چی کامل مؤمن څوك دی چی که تاسی مؤمن جوړیدل غواړئ نو داسی جوړ سی نو) پوره مؤمن هغه دی کوم چی په الله تعالی او دهغه په رسول ایمان راوړی بیا (په ایمان قآئم پاته سی یعنی په ټول عمرکی هیڅکله شك ونه کړی اوپه خپل مال او ځان سره دخدای په لاره کی (یعنی ددین دپاره) محنت وکی (چی په دی کی جهاد وغیره ټول راغلل ، نو) دا خلګ دی رښتینی (یعنی پوره رښتینی او دغسی که صرف تصدیق وی بیا هم نفس صدق به وی ، په خلاف ستاسی چی ادنٰی درجه دایمان تصدیق دی هغه هم نه دی حاصل او دعوه کوئ دایمانِ کامل، نو یو امرقبیح خو دهغوی څخه دا صادر سو یعنی کذب لکه چی الله تعالی فرمایی ، وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا، تر: وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ، پوری او دوهم امر قبیح دا دی چی دوی دوکه ورکوی ، لکه چی الله تعالی فرمایی ، يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ الخ نو) ته (دوی) ته وفرمایه چی آیا خدای تعالی نه دخپل دین (قبلولو) خبر ورکوی (یعنی الله ﷻ خو پوه دی چی تاسی ایمان نه دی قبول کړی سره ددی چی تاسی کومه دعوه دقبلولو کوی نو په دی سره لازمیږی چی خلاف دعلم خداوندی څخه خدای تعالی نه یوه خبره ښیاست) حال دا دی چی (دا محاله ده ځکه چی) الله تعالی ته خو دټولو آسمانونو او مځکی دټولو شیانو (پوره) خبر دی او (علاوه دآسمانونو اومځکی څخه) الله (نور هم) ټول شیان پیژنی (نو دا ته به څوك څه وښیی ، په دی سره معلومه سوه چی الله تعالی ته چی کوم ستاسی په حقله علم دی چی تاسی ایمان نه دی راوړی هغه صحیح دی او دریم کار قبیح کوم چی دوی وکی دا دی چی) داخلګ دخپل اسلام راوړلو په تا احسان ایږدی (کوم چی نهایتی درجه ګستاخی ده چی ګوری مونږ بغیر دجنګ اوجګړی څخه مسلمانان سو او نورو خلګو ډیر پرېشانه کړاست نو مسلمانان سول نو) ته ووایه چی پرما دخپل اسلام راوړلو احسان مه ایږدئ (ځکه چی قطع نظر دګستاخئ څخه ستاسی اسلام ما ته څه نفع راکړه) او

Maktaba Tul Ishaat.com

(په اسلام نه راوړلو زمانقصان وسو که تاسی رښتینی واست نوستاسی دآخرت نفع وه اوپه دروغجن کیدوکی هم ستاسی ددنیانفع ده چی دقتل اوقیدځخه خلاص سواست ، نو په ما احسان اینبوول محضی جهل دی) بلکه الله تعالی په تاسی احسان ایږدی چی هغه تاسی ته دایمان هدایت وکی په دی شرط چی که تاسی (په دی دعوه دایمان کی) رښتینی یاست (ځکه چی ایمان لوی نعمت دی اوبغیر دتعلیم او توفیق ځخه دحق تعالی نه نصیب کیږی نو دالله ﷻ عنایت دی چې داسې لوی نعمت یې درکې نو د دو کی او احسان ضباطولو ځخه منع سی او دا یادساتئ چی) الله تعالی دآسمانونو اومځکی ټوله پټی خبری پیژنی او (ددی علم محیط په وجه) ستاسی ټول عملونه هم پیژنی (او دهغه موافق تاسی ته جزا درکوی ، بیا دهغه په مخکی دخبرو جوړلو ځخه څه فائده ده)

معلومات او مسئلې : په تیرو آیتونوکی ښوول سوی وه چی دالله ﷻ په نزد دعزت اوشرافت مدار په تقوی دی کوم چی یو باطنی شی دی ، الله ﷻ دا پیژنی ، دیو سړی دپاره دخپل تقدس دعوه کول جآئز نه دی ، په دی ذکرسوو آیتونو کی دیوی خاصی واقعی په بنا دا ښوول سوي ده چی دایمان اصلی مدار دزړه په تصدیق باندی دی ، ددی ځخه بغیر محضی په ژبه سره ځان ته مؤمن ویل صحیح نه دی ، په دی ټول سورة کی اول دنبی کریم ﷺ دحقونو دتعظیم اوتکریم بیا په خپل مینځ کی دحقونو او دمعاشرت دآدابو ذکر راغلی دی ، دسورة په ختمیدو یی دا وښوولە چی په آخرت کی دټولو عملونو دمقبولیت مدار پر ایمان او تصدیقِ قلبی او دالله ﷻ او رسول ﷺ په اطاعت دی .

شانِ نزول : واقعه ددی آیت دنزول دامام بغوی رحمه الله دروایت مطابق دا ده چی دبنی اسد دقبیلی یوځو کسان په مدینه طیّبه کی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی دیوسختی قحطی په زمانه کی حاضر سول، داخلګ په زړه سره مؤمنان خو نه وه ، محضی دصدقوحاصلولو دپاره یی دخپل اسلام راوړلو اظهار وکی اوچونکه په واقع کی خو مؤمنان نه وه او داسلامی احکامو او آدابو ځخه بی خبره اوغافله وه ، دوی دمدینی منوری په لاروکی غلاظت اوپلیتی خپره کړه اوپه بازارونوکی یی دضرورت دشیانو قیمتونه زیات کړل اودحضور ﷺ په مخکی یوځو یی دایمان راوړلو د درواغو وعده وکړه ، دوهم یی ده ﷺ ته دوکه ورکول غوښتل ، دریم په دوی ﷺ یی احسان اینبووی چی نور خلګ خو ترڅه وخته پوری ستاسی سره په جنګ وه اوستاسی خلاف یی ډیر جنګونه وکړل او بیا مسلمانان سول ، مونږ بغیر دڅه جنګ ځخه په خپله تاته حاضر سوو او مسلمانان سوو ، په دی وجه زمونږ قدر په کار دی کومه چی په شان درسالت کی یو قسم ګستاخی هم وه چی دخپل مسلمانیدو پر دوی ﷺ احسان ایږدی اومقصود یی ددې ځخه ماسوا نور هیڅ نه وو چی دمسلمانانو په صدقو سره خپله مفلسی لیری کړی اوکه دوی واقعی او رښتینی مسلمانان وای نوپه نبی کریم ﷺ د دوی څه احسان وو په خپله یی خپله نفع وه ، په دی دا ذکرسوی آیتونه نازل سول په کومو کې چی د دوی د درواغو ددعوی تکذیب او داحسان خیژولو مذمت سوي دی .

وَلٰكِنْ قُولُوا اَسْلَمْنَا : چونکه د دوی په زړونوکی ایمان نه وو ، او ددرواغو دعوه وه کومه چی یی دظاهری کارونو په بناکوله ، په دی وجه قرآن د دوی دایمان نفی او دایمان دعوه یی غلطه بیان کړه او دا یی وفرمایل چی ستاسی اٰمَنَّا ویل خو دروغ دی ، تاسی زیات تر زیات اَسْلَمْنَا ویلی سوای ، ځکه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

داسلام لفظی معنٰی په ظاهری افعالو کی اطاعت کول دی او دی خلګو دایمان دخپلی دعوی دثابتولو دپاره څه اعمال دمسلمانانو په شان شروع کړی وه ، په دی وجه په لفظی اعتبار سره یوه درجه داطاعت وسوه ، په دی وجه دلغوی معنٰی په اعتبار سره اَسْلَمْنَا ویل صحیح کیدی سی .

(اسلام او ایمان یودی که څه فرق په کې ستة ؟)

دلوړ تقریر څخه معلومه سوه چی په دی آیت کی داسلام لغوی معنٰی مراد ده اصطلاحی معنٰی مراده نه ده په دی وجه په دی آیت سره په اسلام اوایمان کی په اصطلاحی فرق باندی څه استدلال نه سی کیدی او اصطلاحی ایمان اواصطلاحی اسلام که څه هم چی دمفهوم اومعنٰی په اعتبارسره جلاجلادی ، چی ایمان په اصطلاح دشرع کی دتصدیقِ قلبی نوم دی یعنی په خپل زړه سره دالله ﷻ توحید اودرسول رسالت رښتینی منل ، اواسلام نوم دی په ظاهری عملونوکی دالله ﷻ اودهغه درسول داطاعت کولو، لیکن په شریعت کی تصدیق قلبی ترهغه وخته پوری قابلِ اعتبار نه دی ترڅو چی دهغه اثر اندامونو، اعمالو او افعالو ته ونه رسیږی چی دهغه ادنٰی درجه دا ده چی په ژبه داسلام دکلمی اقرار وکړی ، دغسی اسلام که څه هم چی دظاهری عملونو نوم دی ، لیکن په شریعت کی دا ترهغه وخته پوری معتبر نه دی ترڅو چی په زړه کی تصدیق رانه سی کنه نو نفاق دی .

دغه ډول اسلام اوایمان دمبداء اومنتهٰی په اعتبارسره خوجلاجلادی چی ایمان دباطن اوزړه څخه شروع کیږی اوظاهری اعمالوته رسیږی اواسلام دظاهری افعالوڅخه شروع کیږی اودباطن تصدیق ته رسیږی مګر دمصداق په اعتبار سره په دی دواړو کی تلازم دی چی ایمان داسلام څخه بغیرمعتبرنه دی اواسلام دایمان څخه بغیر شرعًامعتبرنه دی په شریعت کی داسی نه سی کیدی چی یوسړی مسلمان وی اومؤمن نه وی یامؤمن وی اومسلم نه وی ، مګر داکلام په اصطلاحی ایمان اواسلام کی دی ، دلغوی معنٰی په اعتبارسره کیدی سی چی یوسړی مسلمان وی مؤمن نه وی ، لکه چی دټولومنافقانو داحال دی ، دظاهری احکامو منلو په بنا مسلمانان به ورته ویل کیدل ، مګر په زړه کی دایمان نه کیدو په سبب مؤمنان نه وه ، والله تعالی اعلم

تـــمّـــت

بحمدالله تعالی وعونه سورة الحجرات للثامن من شعبان ـــــ ۱۳۹۲ هـ یوم الاحد ولله الحمدوالمنة

﴿ سورة قٓ ﴾

سُوْرَةُ قٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة ق په مکه کی نازل سو په دی کی پنځه څلویښت (۴۵) آیتونه او دری (۳) رکوع ګانی دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دالله ﷻ چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ۝١ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ

قسم دی په دی قرآن لوی شان والا ، بلکه دوی ته عجیبه ښکاره سوه چی راغی دوی ته ییرونکی د دوی څخه

فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ۝٢ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ

نو رویل منکرانو چی دا خو دتعجب شی دی ، آیا عجیبه ده کله چی مونږ مړه سو او سو خاوری

ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ۝٣ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ

دا بیا ییرته راګرځیدل ډیره لیری خبره ده ، مونږ ته معلومه ده څومره چی کمیږي مځکه د دوی څخه

وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۝٤ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ

اوزمونږ سره کتاب دی چی هرڅه په کی محفوظ دی، داسی نه ده بلکه درواغجن یی کی حق کله چی راغی دوی ته

فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝٥ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا

نو هغوی راغلی په یو جنجال کی ، آیا نه ګوری آسمان ته ترخپل خان لوړ چی څنګه جوړ کړی دی مونږ

وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝٦ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا

اوښائسته کړی دی او نسته په دی کی سوری ، او مځکه خپره کړی ده مونږ او غورځولی دی مونږ په دی

رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝٧ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى

غرونه او شنه کړی دی په دی کی دهر قسمه ښائسته شیان ، دپاره دعبرت او نصیحت

لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝٨ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ

دهر بنده چی رجوع کوی ، او نازلوو داسمان څخه اوبه دبرکت پس زرغونو په دی سره

جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ۝٩ وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۝١٠ رِّزْقًا

باغونه او دانی چی ریبل کیږي ، او خرماوی چی اوږدی وی د دوی غونچی پر یوبل سربیره ، رزق

لِّلْعِبَادِ ۙ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۭ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ۝١١ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ

دپاره دبندګانو اوژوندی کوو په دی سره مځکه مړه ، چی دارنګه به وی را وتل (د دوی دقبرونو څخه)

Maktaba Tul Ishaat.com

دروغجن کړی دی مخکې د دوی څخه ،

قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ﴿۱۲﴾ وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ

قوم دنوح ﷺ او څاه والا وو اوثمودیانو ، اوعادیانو اوفرعون او وروند

لُوْطٍ ﴿۱۳﴾ وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ؕ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ

دلوط ﷺ ، او دګنو اوسیدونکو او قوم دتبع ټولو درواغجن کړل پیغمبران پس ثابت سو وربانده

وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ اَفَعَيِيْنَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ؕ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۵﴾

بیرول زما ،آیانومونږ سترې سوپه اول وارپیدا کولوداسی نه ده بلکه دوی په دوکه کی دی دنوو پیدا کیدو څخه

لنډتفسیر: قٓ (ددی معنٰی خو الله ﷻ ته معلومه ده) قسم دی په قرآنِ مجید (یعنی کوم لره چی پرنورو کتابونو شرف اوفضیلت حاصل دی چی مونږ تاته دقیامت دعذاب څخه دبیرولو دپاره درلیږلی دی ، مګر دی خلګو ونه منی) بلکه په دی خبره یی تعجب وکی چی دوی ته د دوی (دجنس) څخه (یعنی دانسانانو څخه) یوبیرونکی (پیغمبر) راغی (کوم چی دوی دقیامت دورځی څخه وبیرول) نو (په دی کافرانو وویل چی (اول خو په خپله) دا (یوه) عجیبه خبره ده (چی بشر پیغمبر وی ، دوهم بیا دعوه هم دعجیبه خبری کوی چی دوباره به ژوندی کیږی آیا) کله چی مونږ مړه سو او خاوری سو نوآیا دوباره به ژوندی سو دا دوباره ژوندی کیدل (دامکان څخه) ډیر لیری دی (لنډه دا چی اول خو هغه زمونږ په شان انسان دی ، ده ته دپیغمبری ددعوی کولو حق نسته ، بیاهغه په خپله دعوه کی دیو محال شی دعوه کوی چی دمړګ اوخاوری کیدو څخه وروسته به دوباره ژوندی سئ، ددې په جواب کی حق تعالی دمړګ څخه وروسته دبیا ژوندی کیدو امکان ثابتوی، د دوی ورته محال ویل ردفرمایی چی مطلب یی دا دی چی دوباره ژوندی کیدل تاسی غیرممکن ګڼی ددی دوی وجهی کیدی سی ، یا خوداچی کومو شیانو ته ژوندی ویل سوي دی ، په هغوکی دژوند صلاحیت نه وی ، دا خو په مشاهدی سره غلطه ده ، ځکه چی هغه دا وخت ستاسی په مخکی ژوندی موجود دی که دژوند صلاحیّت په کی نه وای نو دا وخت به څنګه ژوندی وای ، دوهمه وجه دا کیدی سی چی فاعل یعنی الله تعالی ددوباره ژوندی کولو قدرت څکه نه وی چی کوم اجزآء دمړی خاوری سوی خپاره سوی دی ، هغه ده ته معلوم نه وی چی کوم ځای خپاره سوی دی ، نو ددی په جواب کی فرمایی چی زمونږ دعلم خو داشان دی چی) مونږ د دوی اجزاء پیژنو کوم چی خاوری (خوری او) کموی (او داسی نه ده چی دنن څخه یی پیژنی ، بلکه زمونږ علم خو قدیم دی ، تردی چی مونږ مخکی دوقوع څخه دټولوشیانو ټول حالات په خپل قدیم علم سره په یوکتاب یعنی لوح محفوظ کی لیکلی دی اوتر اوسه پوری) زمونږ سره (په دغه) کتاب (یعنی لوح محفوظ (کی موجود) دی (چی په دی کی ددغو خپاره سوو اجزاوو مکان وضع او مقدار او وصف هرڅه معلوم دی، نو که په علم قدیم باندی څوک نه پوهیږی نو داسی دی وګڼی چی دغه دفتر په کوم کی چی هرڅه دی دحق تعالی په

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکی حاضر دی ، مگر دا خلګ بیا هم بی وجهی په تعجب کی دی اوصرف تعجب نه، بلکه ربښتینی خبری ته (په کومه کی چی مسئله دنبوّت او دآخرت ددوباره ژوندون هم شامله ده) کله چی هغه دوی ته ورسیږی درواغجن کوی یی، غرض دا چی هغوی په یو متزلزل حالت کی دی (چی کله تعجب دی کله تکذیب دی ، دا په مینځ کی په طور دجملی معترضی وه ، مخ ته بیان دی دقدرت یعنی) آیا دی خلګو (ته زمونږ دقدرت علم نسته او آیا دوی) ترخپل څان لوړ آسمان ته نه دی کتلی چی مونږ داځنګه (لوړ اولوی) جوړ کړي دی او (په ستورو سره مو) دا ښایسته کړي دی او په دی کی (په وجه دمکمل استحکام) څه سوری قدرهم نسته (لکه چی په اکثرو آبادیوکی دزمانی په تیریدو سره اکثره سوری کیږی دا خو په آسمان کی زمونږ قدرت ښکاره دی) او په مځکه (کی دا قدرت ظاهر دی چی دا) مونږ خپره کړي ده او په دی کی مو غرونه ټینګ کړي دی اوپه دی کی مو هر قسم ښایسته شیان شنه کړي دی کوم چی ذریعه ده (پوهی او عبرت (یعنی زمونږ دقدرت دمعرفت) دهر رجوع کیدونکی بنده دپاره (یعنی دداسی سړی دپاره کوم چی مصنوعاتوته په داسی نظر سره ګوری چې دوی چا جوړ کړي دی) او (زمونږ قدرت په دی سره ظاهر دی چې) مونږ دآسمان څخه برکت والا اوبه وُورولی ، بیا په دی سره باغونه زرغونه کړل او دفصل غله او داوږدو اوږدو خرماوو درختی دکومو غونچی چی ګنی دی ، بندګانو ته درزق ورکولو دپاره او (دنورو بوټو لکه وانښه اونورو دراخیژولو دپاره هم) مونږ ددی (باران) په ذریعه سره مړه مځکه ژوندی کړه (نو) دغه شان (پوه سئ چی دمړی) به دمځکی څخه راوتل وی (څکه چی دقدرت ذاتیه په اعتبار سره ټول مقدورات برابر دی ، بلکه کوم ذات چی په لویو شیانو قادر دی دهغه په کوچنیو شیانو قادریدل نور زیات ظاهر دی ، په دی وجه دلته دآسمان او دمځکی ذکر وسو چی ددی پیداکول دیو مړی دپیدا کولو څخه ډیره لویه خبره ده ، لکه چی اللہ ﷻ فرمایی ، لَخَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ نوکله چی په دی لویو لویو شیانو دالله ﷻ قدرت ثابت سو ، نو دمړو په ژوندی کیدلو به ولی نه وی ، نو معلومه سوه چی دمړو ژوندی کول محال نه دی ، ممکن دی ، اوژوندی کوونکی فاعلِ مختار لوی قدرت والا دی، بیاپه دی کی دتعجّب یا تکذیب څه خبره ده ، اوس مخ ته یی دتکذیب کوونکو دبیرولو دپاره دتیرو اُمّتونو واقعات وښوول او دعذاب خبر یی ورکی چی په څه ډول سره دی خلګو دقیامت څخه انکار او درسول تکذیب کړي دی داسی) د دوی څخه مخکی قوم دنوح ﷺ اوخاندانو دځاه اوثمودیانو اوعادیانو اوفرعونیانو اوقوم دلوط ﷺ اوخاوندانو دګنو درختو اوقوم دتُبّع تکذیب کړي دی (یعنی) تولوپیغمبران (یعنی خپل خپل پیغمبر یی دتوحید اورسالت اوقیامت په معامله کی) درواغجن کړل نو زماوعید (په هغوی) ثابت سو (چی په دغو تولو عذاب نازل سو دغه ډول په دی درواغجن کوونکو به عذاب راځی ، برابره خبره ده که په دنیا کی هم وی یا یوازی په آخرت کی، دوعید څخه وروسته بیا داولنی مضمون طرف ته په بل طور سره واپسی ده چی) آیا مونږ په اول وار پیداکولو باندی ستړی سو (چی دوباره به ژوندی کول نه سو کولی ، یعنی یومانع داهم کیدی سی چی کارهم ممکن وی او دکوونکی قدرت هم پوره وی ، مګرځه عارضی مانع راپیښ سی لکه کوونکی ستړی سوی وی ، په دی وجه داکار نه سی کولی ، په دی آیت کی یی ددی هم نفی وفرمایله چی الله تعالی دداسی

Maktaba Tul Ishaat.com

عیبونو څخه پاک دی هغه دځه شی څخه نه متاثره کیږی ، نه ده ته دستړی والی څه امکان سته ، په دی وجه په قیامت کی دوباره ژوندی کیدل په دلائلو سره ثابت سول ، او دا خلک چی کوم انکار کوی ، د دوی سره هیڅ دلیل نسته، بلکه دا خلک دنوو پیدا کیدو څخه (محضی بی دلیله) په شبهه کی لویدلی دی (کوم چی ددلیلونو په وړاندی په هیڅ ډول قابلِ التفات نه دی)

معلومات اومسئلي : دسورة قَ خصوصیات : په سورة قَ کی ډیرمضامین دآخرت اوقیامت او دمړو دژوندی کیدو اودحساب اوکتاب په اړوند دی او دا مناسبت دی دده دسورة حجرات سره چی دهغه په آخرکی ددی مضامینو ذکر وو .

دسورة قَ یوخاص اهمیت ددی حدیث څخه معلومیږی چی اُمّ هشام بنت حارثه بن النعمان ﷺ وایی چی ، نبی کریم ﷺ ته زما کور ډیر نژدی وو تقریبًا تر دوو کالو پوری زمونږ اودنبی کریم ﷺ تنور (د ډوډی پخولو) یو وو ، ماته سورة قَ ټول داسی یاد سو چی نبی کریم ﷺ به دا سورة هره جمعه پرمنبر باندی په خطبه کی تلاوت فرمایي (رواه مسلم ، ماخوذ از قرطبی)

اوحضرت عمر بن الخطاب ﷺ دابو واقد لیثی ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی نبی کریم ﷺ به داخترونو په لمونځونو کی کوم سورة وایه ؟ نو دوی وفرمایل ، قَ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ، او اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ.

او دحضرت جابر ﷺ څخه نقل دی چی نبی کریم ﷺ به دسهار په لمانځه کی ډیر دسورة قَ تلاوت فرمایی (داسورة څه لوی دی) مګر ددی باوجود به لمونځ ډیرآسانه وو (قرطبی) دا دنبی کریم ﷺ او د دوی دتلاوت خاص اثروو چی دلوی څخه لوی سورة او داوږد څخه اوږد لمونځ به کوونکوته اسان معلومیدی .

آیا آسمان په نظر راځي؟ أَفَلَمْ يَنظُرُوا إِلَى السَّمَاءِ : څخه په ظاهره دا معلومیږی چی آسمان په نظر راځی او مشهوره دا ده چی دا شین رنګ چی کوم په نظر راځی دا دهوا رنګ دی ، مګر ددی دنفی هم څه دلیل نسته چی دارنګه دآسمان هم وی ، ددی څخه علاوه په آیت کی دنظر څخه مراد نظرِ عقلی په معنی دغور اوفکر هم مراد کیدی سی (بیان القرآن)

(نو دمرګ څخه په ژوندون دمشهورې شبهې جواب)

قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ کفارو اومشرکانو کومو چی په قیامت کی وروسته دمرګ څخه دژوندون انکار کوی ، د دوی دټولوڅخه لوی دلیل داتعجب دی چی دمرګ څخه وروسته دانسان اکثره اجزاء دجسم خاوری سی ، بیادغه خاوری په دنیاکی وغورول سی ، اوبه اوهوا دده ذری دکوم ځای څخه کوم ځای ته ورسوی ، په قیامت کی د دوباره ژوندی کولو دپاره په دنیاکی دخپرو سوو اجزاوو معلوم ساتل چی داجز دفلانی دی دا دفلانی اوبیا دهر یوه اجزاء جلا جلا جمع کول دچا دوس خبره ده؟ قرآن کریم ددی جواب ورکی چی انسان په خپل محدود علم اوبصیرت دالله ﷻ غیرِمحدود اولامتناهی علم قیاس کوی په دی ګمراهی کی راځی ، قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنقُصُ الْأَرْضُ دالله ﷻ علم دومره وسیع اومحیط دی چی دمرګ څخه وروسته دانسان یو یو جزء دده په نظرکی دی هغه پوه دی چی دمرده کومه کومه حصه مخکی خوړلی ده ، څکه چی دده څه هډوکی خوالله ﷻ داسی جوړکړی دی چی هغه مخکه نه خوری اوکوم چی مخکه وخوری خاوری کړی ، بیادغه خاوری ددنیا کونج کونج ته ورسیږی دغه هرڅه دالله ﷻ په نظرکی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، هرکله چی الله ﷻ وغواړی نوټول به یوځای ته جمع کړی ، اوکه لږفکر وکی نو دا وخت دهرانسان جسم چی دکومو اجزاوو څخه مرکب ګرځیدونکی را ګرځیدونکی په نظر راځی په دی کی هم دټولی دنیا دمختلفو کونجونو اجزاء جمع دی ، څه دخوراك په صورت کی څه ددوا په صورت کی ، دټولی دنیا دمختلفو ښارونو او ځنګلونو اجزاء دی چی داموجوده جسم ورځخه مرکب دی ، بیا دهغه دپاره څه ګرانه ده چی دوباره دا اجزاء په دنیاکی دخپریدو څخه وروسته بیا یوځای راجمع کړی او صرف دا نه ده چی اوس دمرګ اوخاوری کیدو څخه وروسته دانسان دا اجزاء دده په علم کی راغلی وی ، بلکه دانسان دپیدا کولو څخه مخکی دده دژوند هره هره لمحه اوپه ده کی دپیدا کیدونکو تغیراتو اوبیا دمرګ څخه وروسته ده ته څه حالات پیښیږی ، هغه ټول دالله ﷻ سره اول لیکل سوی په لوح محفوظ کی موجود دی بیا چی کوم ذات داسی علیم اوبصیر دی او دکوم قدرت چې دومره کامل اوپه ټولو شیانو حاوی دی دهغه په حقله دا تعجب کول په خپله دتعجب قابل دی ، دَمَاتَنْقُصُ الْاَرْضُ : داتفسیردحضرت ابن عباس ﷺ او مجاهد او جمهورو مفسرینو څخه منقول دی (بحرمحیط)

فِي اَمْرٍ مَرِيجٍ دمریج دلفظ معناوی په لغت کی مختلفی دی چی په دی کی دمختلفو شیانو خلط اوالتباس وی او داسی شی عموماً فاسد وی په دی وجه حضرت ابوهریره ﷺ دمریج معنی فاسد کړي ده اوقتاده ﷺ اوضحاك اوحسن بصری وغیره مختلط اوملتبس کړي ده ، مراد دا دی چی داکفار اومنکرین درسالت په خپل انکار کی هم په یوه خبره ولاړ نه دی کله ورته ساحر جادوګر وایی ، کله شاعر وایی ، کله کاهن اونجومی وایی ، د دوی کلام په خپله ملتبس اوفاسد دی ، جواب دځه ورکول سی .

مخ ته دالله ﷻ دقدرت مطلقه کامله بیان دی کوم چی دآسمان او دمځکی او ددی په مینځ کی دپیدا کیدونکو لویو لویو شیانو دتخلیق په حوالہ سره سوی دی ، په دی کی دآسمان متعلق فرمایی ، مَا لَهَا مِنْ فُرُوجٍ : فروج دفرج جمع ده چی معنی یی چاك دی ، مراد دا دی چی الله ﷻ آسمان دومره عظیم الشانه کُرَه جوړه کړي ده که دانسان جوړ سوی شی وای نو په دی کی به په زرګونو بندونه پیوندونه اوچاکونه وای ، مګر تاسی آسمان ته ګوری په دی کی نه څه پیوند لګیدلی دی ، نه په کی یوځای دجوړ اوګندونی نخښه په نظر راځی ، په دی سره ددی نفی نه کیږی چی په آسمان کی الله ﷻ دروازی جوړی کړی دی ، څکه چې دروازوته شق نه سی ویل کیدی .

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ : په تیرو آیتونوکی دکفارو دتکذیبِ رسالت او آخرت ذکر وو په کوم سره چی نبی کریم ﷺ ته ازار رسیدل ظاهر دی ، په دی آیت کی الله ﷻ د دوی دتسلی دپاره دتیرو انبیاوو علیهم السلام او د دوی دامتونو حالات ښوولی دی چی هر پیغمبرته دمنکرینو اوکفارو دطرف څخه داسی ازارونه پیښ سوی دی ، دا دانبیاء سنت دی ، په دی ته زړه مه ماتوه ، دحضرت نوح علیه السلام دقوم قصه په قرآن کی بار بار راغلی ده چی نه نیم سوه کاله حضرت نوح علیه السلام د دوی داصلاح کوشش کوی ، مګر د دوی دطرف څخه صرف انکار بلکه قسم قسم تکلیفونه یی ورته رسول .

اصحاب الرس کوم خلق دی؟ اصحاب الرس ، د ، رَس لفظ په عربی ژبه کی دمختلفو معانیو دپاره راځی مشهوره معنی یی دا ده چی کچه څاه ته رَس ویل کیږی کوم چی په خښتو اوډبرو وغیره سره پوخ سوی نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وی دَاَصْحَابُ الرَّس څخه مراد دقوم ثمود باقی خلګ دی کوم چی دعذاب څخه وروسته باقی پاته سول ضحاك وغیره مفسرینو د دوی قصه داسی لیکلی ده چی هرکله دحضرت صالح ﷺ په قوم (ثمود) عذاب راغی نوپه دوی کی څلور زره کسان کومو چی په حضرت صالح ﷺ باندی ایمان راوړی وو دوی دعذاب څخه محفوظ پاته سول دا خلګ دخپل مقام څخه منتقل سول اوحضرموت ته ولاړل مقیم سول ، حضرت صالح ﷺ هم د دوی سره وو ، دا خلګ ولاړل ، دیو څاه په خواکی مقیم سول اوحضرت صالح ﷺ وفات سوپه دی وجه ددغه ځای نوم حضرموت (یعنی مرګ حاضر سوی) دی داخلګ دلته پاته سول ، بیا د دوی په نسل کی بت پرستی شروع سوه د دوی داصلاح دپاره الله ﷻ یونبی ولیږی کوم چی دوی قتل کی په هغوخلګودخدای ﷻ عذاب راغی ددوی څاه په کوم چی ددوی دژوندانحصاروویی کاره سو اوعمارتونه یی خراب سول ، قرآن کریم ددی ذکر په دی آیت کی کړی دی ، وَبِئْرٍ مُعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَشِيدٍ یعنی دعبرت اخیستونکو دپاره د دوی بی کاره پروت څاه اوپاخه جوړ سوی محلونه خراب پراته کافی دی .

ثَمُوْد : دحضرت صالح ﷺ امت دی ، د دوی واقعه په قرآن کی باربار تیره سوی ده .

عَاد : قوم عادپه خپل ډیل ا ډول اوقوت اوشجاعت کی ضرب المثل دی، حضرت هود ﷺ دوی ته مبعوث سوی وو ، هغه یی ازار کی او نا فرمانی یی وکړه ، اخر دهوا دطوفان عذاب په راغی اوټول فنا سول .

فِرْعَوْن : دمصر دیو ډیر معروف اومشهور بادشاه نوم دی .

اِخْوَانُ لُوْط : دحضرت لوط ﷺ امت دی چی قصه یی ډیر واره تیره سوي ده .

اَصْحٰبُ الْاَيْكَة : اَيْكَة ګڼ څنګل او درختو ته وایی ، دا خلګ په داسی مقام اباده وه، حضرت شعیب ﷺ دوی ته نبی لیږل سوی وو هغوی نافرمانی وکړه ، اخر په عذابِ الهی سره تباه برباد سول .

وَقَوْمُ تُبَّع : تُبَّع دَیمن دیو بادشاه لقب دی ، دده ضروری تحقیق په سورۃ دخان کی تیر سوی دی ، وګورئ .

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۚ

او خامخا مونږ جوړ کړی دی انسان اومونږ پوهه یُو په هغو خبر چی راځی ددده په زړه کی ،

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾ اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ

اومونږ ده ته نژدی یُو دمری دشاه رګ څخه زیات ، هرکله چی اخلی هغه دوه اخیستونکی

الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ

رسته طرف ته او چپه طرف ته ناستی ، نه ادا کوی دی یوه خبره مګر دده په خواکی

رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ۭ ذٰلِكَ مَا كُنْتَ

یو انتظار کوونکی وی تیار ، اورابه سی بی هوښی دمرګ ربښتیا سره چی دا هغه شی دی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْهُ تَحِيْدُ ﴿۱۹﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿۲۰﴾ وَجَآءَتْ كُلُّ

وروسته کوی ، او پوه کول به وسی په شپلی کی دا ورځ ده ډبیرولو ، او رابه سی هریو

نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿۲۱﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا

نفس چی یو به ورسره شړونکی وی او یو شاهد ، ته بی خبره وی ددې ورځی څخه

فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿۲۲﴾ وَقَالَ قَرِيْنُهٗ

نو مالیری کړی ستا څخه پردی ستا نو نن ورځ ستا سترګی تیزی دی ، او وبه وایی ملګری دده

هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿۲۳﴾ اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۲۴﴾ مَّنَّاعٍ

دا هغه عملنامه ده زما سره تیاره ، وغورځوی جهنم ته تاسی دواړه هریو ناشکره عنادګر، منع کوونکی

لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيْبِ ﴿۲۵﴾ الَّذِيْ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِي

دنیکی دحد څخه تجاوزکوونکی په شك کی غورځوونکی ، چاچی جوړ کړی دی دالله سره معبود بل نو وغورځوی

الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿۲۶﴾ قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ فِيْ

دی په سخت عذاب کی ، وویل (شیطان) دده ملګری ای ربه زمونږ مادی نه دی بی لاری کړی اولیکن وو دی

ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿۲۷﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ

په ګمراهی کی لیری لویدلی ، وویل جګړه مه کوی زما په مخکې اوما دمخکې څخه بیرولی وو ستاسی سره

بِالْوَعِيْدِ ﴿۲۸﴾ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۲۹﴾

په عذاب سره ، نه بدلیږي زما په نزد خبره او زه ظلم نه کوم په خپلو بندګانو .

لغت تفسیر: (لور په قیامت کی دمړو دژوندی کیدو امکان ثابت سوی دی ، مخ ته ددی دوقوع بیان دی اووقوع موقوف ده په علم کامل اوقدرت کامل باندی ، پـ دی وجه اول دا ښیی چی) اومونږ انسان پیدا کړی دی (کوم چی داعلی درجی دلیل دی په قدرت) او دده په زړه کی چی کوم خیالات راځی مونږ هغه (هم) پیژنو (نوکوم کارونه چی د دوی په لاسو پښو اوژبو سره صادروی دهغو پیژندل خو په درجه اولی دی) او (بلکه مونږ ته خو د دوی دحالاتو داسی علم دی چی دوی ته په خپله هم دخپلو حالاتو داسی علم نسته

Maktaba Tul Ishaat.com

نو په اعتبار دعلم) مونږ انسان ته دومره قدر نژدی یو چی د دوی دغاړی درگ څخه هم زیات (دکوم په قطع کیدو چی انسان مری اوچونکی دخلگو په عام عادت کی دحیوانانو دروح ایستلو دپاره دمری پریکولو طریقه رائج ده ، په دی وجه دا تعبیر اختیار سو او دا دمری رگونو ورید اوشریان دواړو ته مشتمل دی ، مگر شریان ورڅخه مراد اخیستل زیات مناسب دی ځکه چی په دی روح غالب او وینه مغلوبه وی او په ورید کی په عکس وی اودلته چی په کوم کی دروح زیات دخل وی دهغه مراد اخیستل مناسب دی اوپه سورۃ حاقه کی لفظ دوتین په معنٰی درگ دزړه سره تعبیر کول ، ددی تائید کوونکی دی ځکه چی کوم رگونه دزړه څخه راوزی هغه شریانونه دی اوکه څه هم په قرآن کی کی لفظ دورید دی ، مگر لغوی معنٰی ددی عامه ده چی دزړه څخه راوتونکی رگونه شریانونه په کی هم دا خل دی اودجگر څخه راوتونکی رگونه ورید په کی هم دا خل دی ، نو مطلب دا سو چی مونږ په اعتبار دعلم ده ته دده دروح اونفس څخه هم زیات نژدی یو ، یعنی څنگه علم چی انسان ته دخپلو حالاتو دی مونږ ته دده علم په خپله دده څخه هم زیات دی ، چنانچی انسان ته دخپلو ډیرو حالتونو علم نه وی او دکومو علم چی وی په هغه کی هم ځینی وخت دنسیان یا دهیرو حال راځی اوپه الله ﷻ کی ددی احتمالاتو گنجائش دسره نسته اوظاهره ده چی کوم علم په هرحالت کی وی ، ددی تعلق په نسبت دهغه چی په یوحالت کی وی ، زیات وی ، غرض دا چی دعلم الٰهی دانسان دټولو حالاتو سره متعلق کیدل هم ثابت سول ، مخ ته ددی دزیات تاکید دپاره دا بیان فرمایی چی دانسان عملونه اوحالتونه صرف دا نه چی دالله ﷻ په علم کی محفوظ دی ، بلکه دظاهری حجت تمامولو دپاره دغه عملونه دملائکو په ذریعه لیکی هم اومحفوظ کوی یی ارشاد دی، کله چی دوه اخذ کوونکی ملائکی (دانسان عملونه کله چی دده څخه صادریږی) اخذکوی کوم چی راسته اوچپه طرف ته ناستی دی اوپه مخه عملونه لیکی لکه دا قول دالله ﷻ دی ، إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ : او دا قول دالله ﷻ : إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ، تردی چی په ټولو عملونو کی خفیف دانسان خبری اتری اوکلام دی ، مگر ددی داکیفیت دی چی) هغه څه لفظ دخلی څخه نه باسی ، مگر دده سره یو انتظارکوونکی تیار په انتظار کی (موجود) دی (که هغه نیکه خبره وی نو دراسته طرف والا یی لیکی که بده خبره وی نو دچپه طرف والا اوهرکله چی دژبی څخه وتونکی یوه یوه کلمه محفوظه اولیکلی ده نو نور عملونه به ولی نه وی) او (چونکی داخرت دژوند او دعملونو دجزا اوسزا دټولو مقدمه مرگ دی ، په دی وجه دانسان دخبردارولو دپاره مخ ته ددی ذکر دی ، ځکه چی دقیامت څخه انکار په حقیقت کی دمرگ څخه دغفلت نتیجه ده ، ارشاد دی چی ته هوښیار سه) دمرگ سختی په حقیقت کی (نژدی) را رسیدلی ده (یعنی هر سړی ته مرگ نژدی دی چنانچی ظاهره ده) دا (مرگ) هغه شی دی دکوم څخه چی په ته وروسته کیدی (اوتښتیدی، دمرگ څخه تیښته په طبعی طور خوپه هرنیک اوبد کی یوشان ده اودکافر فاجر دمرگ څخه تیښته په وجه دمحبت ددنیا نوره هم زیاته واضحه ده ، په یوچا خاص بنده دالله ﷻ سره دیو ځای کیدو دشوق غلبه راتلل دمرگ خوندناکه کیدل اومطلوبه کیدل ددی څخه منافی نه ده ، ځکه هغه دعام انسانی عادت څخه مافوق حالت دی) او (ددی مقدمی یعنی دمرگ دذکر څخه وروسته اوس دوقوع دقیامت بیان دی کوم چی مقصود وو یعنی دقیامت په ورځ به دوباره) شپیلی ووهل سی (چی ټول

Maktaba Tul Ishaat.com

به په ژوندی سی) دا ورځ به وی دوعید (دکوم څخه چی خلګ بیرول کیدل) او (مخ ته دقیامت میدان ته) راځی چی دده سره (دوی ملائکی به وی په کوموکی چی) یوه (خو دقیامت میدان ته) دی دځان سره راولی اویوه (دده دعملونو) شاهدی کوونکی به وی (په حدیث مرفوع کی دی چی دسائق اوشهید هغه دوی ملائکی به وی کومی چی په ژوندکی دانسان راسته اوچپه طرف ته وی او دده عملونه به یی لیکل (رواه فی الدر) اوکه داحدیث موافق دشرطونو دمحدثینو قوی نه وی نو احتمال دی چی دوی ملائکی نوری به وی ، لکه چی ځینی یی قائل سوی دی ، که څه هم په دی صورت کی هم په وجه دموافقت دحدیث راجح احتمال به اول وی اوهرکله چی هغوی په میدان دقیامت کی حاضر سی نو په هغوی کی چی کوم کافران وی خطاب به ورته وسی چی) ته ددی ورځی څخه بی خبره وی (یعنی ددی قائل نه وی) نو اوس مونږ ستا څخه ستا پرده (دغفلت اوانکار) پورته کړه (اوقیامت درته ښیو) نو نن (خو) ستا نظر ډیر تیز دی (چی هیڅ امر مانع دادراك نسته ، کاشکی تاپه دنیاکی هم دا مانع دغفلت لیری کړی وای نوستا ورځی به ښی وای) او (ددی څخه وروسته) فرښته (لیکونکی دعملونو) کومه چی به دده سره وه (او اوس هم په یوقول سائق یاشاهد جوړه سوه راغله عملنامه به حاضره کړی) عرض به وکی چی داهغه (عملنامه) ده کومه چی زما سره تیاره ده (کذا فسرهذا القرین بالملك ابن جریج والقرین الذی یلیه بالشیطان (رواه فی الدر) چنانچی ددی روزنامچی موافق دکافرانوپه باره کی دوو ملائکوته برابره خبره ده که هغه مذکور شاهد اوسائق وی اوکه نوری دوی ملائکی وی حکم به وسی چی) هر داسی سړی جهنم ته وغورځوی کوم چی کفر کوونکی وی او (دحق سره) ضدکوی اودنیك کار څخه منع کول کوی اودحد (دبندګی) څخه دباندی وتونکی وی او(په دین کی) شبهه پیداکوونکی وی کوم چی دخدای سره بل معبود جوړکړی وی نو داسی سړی په سخت عذاب کی واچوی (هرکله چی کفاروته معلومه سی چی اوس په همیشه خساره کی پریوتونکی دی هغه وخت به دخپل نجات دپاره دګمراه کوونکوپه ذمه الزام لګوی چی زمونږقصورنه دی مونږخونورو ګمراه کړی یو ، اوچونکی په هغه ګمراه کوونکوکی شیطانان هم دا خل دی ، په دی وجه فرمایی چی) هغه (شیطان کوم چی) به دده سره اوسیدی وبه وایی، چی ای زما پروردګاره! ماخودی (جبراً) نه وو ګمراه کړی (لکه چی ددی الزام لګوونکی څخه معلومیږی چی دده دخپل اختیاردخل په کی بالکل نه وی) لیکن (خبره دا ده چی) دی په خپله په لیری ګمراهی کی (په خپل اختیار) وو (که څه هم لمس زماهم وو خوځه جبرپه کی نه وو ، په دی وجه دده دګمراهی اثر پرمانه دی کیدل په کار) ارشاد به وسی چی زماپه مخ کی دجګړی خبری مه کوی (ځکه چی بی سوده دی) اوما خو دمخکی څخه تاسی ته دعذاب بیره درلیږلی وه (چی څوك کفروکی په خپله یادچاپه لمس سره، اوځوك چی دکفر حکم کوی برابره خبره ده که په خپله مرضی سره یادچاپه جبرسره تولو لره به دجهنم سزا دمرتبو په تفاوت سره ورکوم نو) زماپه نزد (هغه) خبره (ذکر سوی وعید) نه بدلیږی (بلکه تاسی به ټول دوږخ ته ورواچول سی) اوزه (په دی تجویزکی) پربندګانو ظلم کوونکی نه یم (بلکه بندګانوپه خپله داسی نابنائسته کارونه وکړل چی سزایی نن تیروی)

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکی دمنکرینو دحشر اونشر او دمړو ژوندی کیدو بعید دعقل اوقیاس څخه دګنونکو دشبهاتو ازاله داسی سوی وه ، چی تاسی دالله ﷻ علم په خپل علم اوبصیرت قیاس کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، په دی وجه دلته دا اشکال دی چی دمړی اجزاء خاوری سی، په دنیاکی وغورول سی نوهغه بیاځنګ جمع کیدی سی؟ مګرالله ﷻ ورته وښوولہ چی دکائناتو ذره ذره زماپه علم کی ده ، مونږ ته ددی تولو جمع کول هرکله چی غواړوځه مشکل دی ، په ذکرسوو آیتونوکی هم دعلم الٰهی دوسعت اوهمه گیری بیان دی ، چی دانسان دخپرو سوو اجزاوو دعلم کیدو څخه زیاته لویه خبره خو دا ده چی مونږ دهر انسان په زړه کی راتلونکی خیالات هم هروخت په هرحال کی پیژنو او ددی وجه یی په نورو ایتونوکی دابیان کړه چی مونږ انسان ته دومره نژدی یوچی دده دمړی رګونه په کومو کی چی دده دژوند مداردی ، هغه هم دومره نژدی نه دی ، په دی وجه مونږ دده حالات په خپله دده څخه هم زیات پیژنو .

(الله ﷻ انسان ته دده دشاه رګ څخه هم زیات نژدی دی ددی تحقیق)

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ، جمهورو مفسرینو ددی دا مطلب مقرر کړی دی چی دقریب څخه مراد قرب علمی دی ، قرب مسافت مراد نه دی ، لفظ دورید په عربی ژبه کی دهرجاندار هغه رګونه دی کوم چی تول بدن ته وینه رسوی ، په طبی اصطلاح کی دا دوه قسمه رګونه دی یو قسم هغه کوم چی دځیګرڅخه وزی اوخالص وینه تول بدن ته رسوی ، په طبی اصطلاح کی دغه رګونو ته ورید اوجمع ته یی اورده وایی ، دوهم قسم هغه رګونه دی کوم چی دحیوان دزړه څخه وزی او دوینی هغه لطیف تپ (بړاس) کوم ته چی په طبی اصطلاح کی روح وایی ، هغه دغه شان تول انسانی بدن ته رسوی اوخور وی دغه ته شریان اوشرائن وایی ، داول قسم رګونه غټ او دوهم قسم باریك وی .

په ذکر سوی آیت کی دا ضروری نه ده چی دورید لفظ دطبی اصطلاح مطابق دغه رګ ته ویل سوی وی کوم چی دځیګر څخه وزی ، بلکه دزړه څخه وتونکی رګ ته هم دلغت په اعتبار سره ورید ویل کیږی څکه چی په دی کی هم یوقسم وینه دوران کوی اودلته چونکی مقصود دایت دانسان دزړه دخیالاتو اوحالاتو څخه خبریدل دی ، په دی وجه دغه زیاته مناسبه ده اوپه هرحال برابره خبره ده که ورید په اصطلاح دطب دځیګر څخه دوتونکی رګ په معنی کی وی یادزړه څخه دوتونکی شریان په معنی کی، په هرو دواړو صورتونوکی دجاندار ژوند په دی موقوف دی دا رګونه چی پرې سی نودجاندار روح وزی نولنډه دا سوه چی په کوم شی دانسان ژوند موقوف دی ، مونږ ددغه شی څخه هم زیات ده ته نژدی یو، یعنی دده دهرشی علم لرو .

اودصوفیاءِ کراموپه نزد دلته مراد دقرب څخه قرب علمی اواحاطه علمی یوازی نه ده بلکه یوخاص قسم اتصال دی چی کیفیت اوحقیقت یی خوچاته نه سی معلومیدی ، مګر داقرب اواتصال بلاکیف موجود ضرور دی دقرآن کریم ایتونه اوصحیح احادیث پردی شاهد دی، دحق تعالی ارشاد دی ، وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ یعنی سجده کوه اومونږ ته نژدی سه، اودهجرت په واقعه کی نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکرِ صدیق ﷺ ته وفرمایل ، اَللّٰهَ مَعَنَا : یعنی الله ﷻ زمونږ سره دی ، اوحضرت موسیٰ ﷺ بنی اسرائیلوته وفرمایل، اِنَّ مَعِیَ رَبِّیْ : یعنی زمارب زماسره دی ، اوپه حدیث کی دی چی انسان الله ﷻ ته دتولوڅخه زیات هغه وخت نژدی وی ، کله چی دی په سجده کی وی ، دغه شان په حدیث کی دی چی حق تعالی فرمایلی دی چی زما بنده زماسره تقرب (نژدیکت) په نفلی عبادت باندی حاصلوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دا قرب اوتقرب کوم چی دعبادتونو په ذریعه حاصلول کیږی او دانسان دخپل کسب اوعمل نتیجه وی داصرف دمومن دپاره مخصوص ده اوداسی مومنانوته اولیاء الله وایی ، کومو ته چی دحق تعالی سره دا تقرب حاصل وی دا اتصال او قرب دهغه قرب څخه علاوه دی کوم چی دحق تعالی دهرانسان مومن اوکافر دروح سره یوشان دی ، غرض ذکر سوی ایتونه او روایتونه پردی شاهد دی چی انسان ته دخپل خالق اومالك سره یوخاص قسم اتصال حاصل دی که څه هم مونږ ددی حقیقت اوکیفیت ادراك نه سو کولی مولانای روم رحمه الله دا فرمایی .

اتصال بی مثال وبی قیاس هست رب الناس را باجانِ ناس

بی مثله او بی قیاسه اتصال دالله رب العٰلمین دخلګو دروح سره دی .

دا قرب اواتصال په سترګو سره نه سی لیدل کیدی بلکه په ایمان فراست سره معلومیږی .

په تفسیرِ مظهری کی یی دا قرب او اتصال ددی آیت مطلب مقرر کړی دی ، او دجمهورو مفسرینو قول اول معلوم سوی دی چی داتصال څخه مراد اتصالِ علمی اواحاطهٔ علمی ده اوابن کثیر ددی دواړو معناوو څخه جلا یو دریم تفسیر دا اختیار کړی دی ، چی په آیت کی دلفظ دنحن څخه په خپله دحق تعالی ذات مراد نه دی ، بلکه دده ملائکی مراد دی کومی چی دانسان سره هروخت وی ، دغه دانسان دڅان څخه دومره باخبره وی چی په خپله انسان هم دخپل څان څخه دومره باخبره نه وی، والله تعالی اعلم

(دهر انسان سره دوی ملائکي)

إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ : د: تَلَقّی لغوی معنٰی اخذ کول اخیستل او حاصلول دی ، فَتَلَقّٰی اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمَاتٍ: یعنی واخیستی اوحاصلی کړی ، حضرت ادم علیه السلام دخپل رب څخه څوکلمی ، په دی آیت کی دمُتَلَقِّيَانِ څخه مراد دده ملائکی دی کوم چی دهر انسان سره دده دعملونو دلیکلو دپاره هر وخت دده سره وی او دده عملونه په خپلو صحیفو کی لیکی.

عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ : یعنی په دغو کی یوه دده راسته طرف ته وی (کومه چی دده نیك عملونه لیکی) بله دده چپه طرف ته وی (چی دده بدعملونه لیکی) قَعِيْد په معنٰی دقاعد دی ، دمفرد اوجمع دواړو دپاره لفظ دقعید استعمالیږی ، که څه هم قعید په معنٰی دقاعد دی لکه جلیس په معنٰی دجالس ، مګر یو فرق دا دی چی قاعد اوجالس عام دی کوم چی دچاسره وی برابره خبره ده که ناست وی اوکه ولاړ وی اوکه ګرځی راګرځی ، ده ته قعید اوجلیس ویل کیږی ، ددی دواړو ملائکو دا حال دی چی هغه هر وخت په هرحال کی دانسان سره وی که ناست وی که ولاړ وی اوکه ګرځی راګرځی اوکه خوب کوی ، صرف په داسی حالت کی چی کله دی دتشو یادکو بولو یادجماع په حالت کی څان بربند اولځ کړی ، نو هغه ورڅخه لیری سی ، مګر الله ﷻ دوی ته ددی ملکه ورکړی ده چی په دی حالت کی هم که دده څخه څه ګناه وسی نو هغوی ته معلومیږی .

ابن کثیر رحمه الله دا حنف بن قیس رحمه الله په روایت سره لیکی چی په دی دواړو ملائکو کی دراسته لاس والا ملائکه نیك عملونه لیکی او دغه دچپه لاس دملائکی هم نګرانه او امینه ده که انسان څه ګناه وکی نو دراسته لاس ملائکه دچپه لاس ملائکی ته وایی چی اوس لا دا په خپله صحیفه کی مه لیکه ، ده ته

Maktaba Tul Ishaat.com

مهلت ورکړه که توبه وکاړی نوپاته یی کړه ، کنه نوبیا یی په عملنامه کی ولیکه (رواه ابن ابی حاتم)

عملنامه لیکونکي ملائکي : حضرت حسن بصری رحمه الله دا آیت ، عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ : تلاوت کی ، وي فرمایل ای انسانانو! ستادپاره عملنامه غوړول سوی ده اوپه تادومره معززی ملائکی مقرری سوی دی یوه ستارسته طرف ته بله چپه طرف ته درسته طرف والا ستا نیکی لیکی اوچپه طرف والا ستا بدی اوګناهونه اوس داحقیقت ځان ته وړاندی کړه، ستا زړه چی کوم عمل غواړی کوه یی اوکم یی کړه یازیات ، تردی چی کله ته مړ سی نو دا عملنامه به ستا را ونغښتل سی اوستا مری ته به درپه غاړه سی کومه چی به ستا سره قبرته ځی او وی به درسره تردی چی هرکله ته دقیامت په ورځ دقبر څخه راپورته سی نو دغه وخت به حق تعالی وفرمایی . وَكُلَّ إِنسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَائِرَهُ فِي عُنُقِهِ وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنْشُورًا، اِقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا: یعنی مونږ دهرانسان عملنامه دده په غاړه کی خړولی ده او دقیامت په ورځ به دی هغه لیری سوی پیدا کی اوس خپله عملنامه په خپله وایی ، ته په خپل دخپل حساب کولو دپاره کافی یی .

بیاحضرت حسن بصری رحمه الله وفرمایل چی په خدای قسم ! هغه ذات لوی عدل اوانصاف وکی کوم چی ته په خپله دخپلی عملنامی حساب کوونکی جوړ کړی (ابن کثیر)

دا ظاهره ده چی عملنامه څه دنیوی کاغذ خو نه دی چی قبرته په تلو اوتر قیامته پوری په پاته کیدوکی یی شك وسی یو معنوی شی دی چی حقیقت یی الله ﷻ ته معلوم دی ، په دی وجه ددی دهرانسان دغاړی هار جوړیدل اوترقیامته پوری یی باقی پاته کیدل څه دتعجب شی نه دی .

(دانسان هر قول ریکاړ کیږی)

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلاَّ لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ : یعنی دانسان هیڅ کلمه دژبی څخه نه وزی ، کومه چی دانګرانی ملائکی نه محفوظوی ، حضرت حسن بصری رحمه الله اوقتاده ﷺ فرمایی چی داملائکی دده یو یولفظ لیکی ، برابره خبره ده که په دی کی څه ګناه یاثواب وی اوکه نه ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی صرف هغه کلمی لیکل کیږی په کومو چی څه ثواب یاعذاب وی ، ابن کثیر ددی دواړو قولونو دنقل کولوڅخه وروسته فرمایی چی دقرآن دایت دعموم څخه داولنی خبری ترجیح معلومیږی ، چی هرلفظ لیکل کیږی ، بیادعلی بن ابی طلحه ﷺ یو روایت دابن عباس ﷺ څخه داسی نقل فرمایی په کوم کی چی دا دواړه قولونه جمع کیږی ، په دی روایت کی داسی دی چی اول خوهره کلمه لیکل کیږی برابره خبره ده که ګناه یاثواب په دی وی اوکه نه وی ، مګر په هفته کی دپنځشنبی په ورځ ملائکه په دی نظرثانی کوی صرف هغه ساتلی پریږدی په کومو کی چی ثواب یاعذاب وی یعنی خیر یاشروی باقی نظراندازکوی د قرآن کریم دایت ، يَمْحُوا اللهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ، په مفهوم کی دامحو اواثبات هم داخل دی .

امام احمد رحمه الله دحضرت بلال بن حارث ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، انسان ځینی وخت څه کلمه دخیر وایی په کومه چی الله ﷻ راضی کیږی مګر دی هغه معمولی خبره ګڼی وایی یی ، ده ته پته هم نه وی چی ددی ثواب دکوم ځای څخه کوم ځای ته ورسیدی ، الله ﷻ دده دپاره خپله دائمی رضا ترقیامته پوری ولیکی ، دغه شان انسان یوکلمه دالله ﷻ دناراضتیا (معمولی ګڼی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وایی یی ، دده گمان نه وی چی ددی گناه او وبال کوم څای ته رسیږی ، الله ﷻ ددی په وجه ددی سړی څخه خپله ناراضتیا ترقیامته پوری ولیکی (ازابن کثیر)

حضرت علقمه رحمه الله دحضرت بلال بن حارث ددی حدیث نقل کولو څخه وروسته فرمایی چی دی حدیث زه دډیرو خبرو دڅبی څخه دایستلو څخه منع کړی یم (ابن کثیر)

سکرات الموت : وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيدُ : دسکرة الموت معنٰی دمرګ سختی اوبی هوښی کومه چی دمرګ په وخت کی وی ، ابوبکر الانباری رحمه الله په خپل سند سره دحضرت مسروق څخه روایت کړی دی چی کله چی په صدیق اکبر رضی الله عنه باندی دمرګ اثارشروع سول نوعائشه صدیقه رضی الله عنها یی را وغوښتله ، هغه چی را ورسیده او دا حالت یی ولیدی نو بی اختیاره یی یو شعر دخلی څخه ووتی .

إِذَا حَشْرَجَتْ يَوْمًا وَضَاقَ بِهَا الصَّدْرُ

یعنی هر کله چی روح یوه ورځ مضطرب سی اوسینه په دی تنګه سی

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه چی دا واوریدل نوویی فرمایل چی تا فضول دا شعر ووایه، داسی دی ولی ونه ویل ، جَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيدُ : نبی کریم ﷺ ته چی کله داحالت پیښ سو نو دوی به په اوبو کی لاس کښته کوی او په مخ مبارك به یی مړی اوفرمایل به یی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ : یعنی کلمه طیبه به یی ویله دا به یی فرمایل چی دمرګ ډیری سختئ وی .

بِالْحَقِّ :په دی کی حرف باء دتعدیت دپاره دی معنٰی یی داده چی راوړی شدت دمرګ حق کاریعنی دمرګ سختئ هغه شیان مخ ته کړل کوم چی حق اوثابت دی اوچاته ورځخه دتیښتی گنجائش نسته (مظهری)

ذَلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيدُ ، تَحِيْد دحید څخه مشتق دی چی معنٰی یی مائل کیدل ، دځای څخه لیری کیدل اوتیښته کول دی ، معنٰی دایت دا ده چی مرګ هغه شی دی دکوم څخه چی ته ترهیدی او تښتیدی .

ظاهره دا ده چی دا خطاب عامو انسانانوته دی ، دمرګ څخه ترهیدل اوتیښته کول په طبعی طورپه ټوله نوع انسانی کی پیدا کیږی ، هر سړی ژوند مرغوب اومرګ افت او مصیبت ګڼی او ددی څخه دمحفوظ کیدو تدبیرونه کوی کوم چی شرعاً څه ګناه هم نه ده ، لیکن په آیت کی بنسول دا منظور دی چی دانسان فطری اوطبعی خواهش په مکمل طور هیڅکله نه سی پوره کیدی دیوی څخه یوه ورځ خو په هرحال مرګ راتلونکی دی برابره خبره ده که تاسی ددی څخه هرڅومره تیښته کوی .

(دانسان میدان حشر ته راوستونکي دوی ملائکي)

وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ : ددی آیت څخه پورته دقیامت قائمیدو ذکر دی ، په دی آیت کی په میدان دحشرکی دټولو انسانانو دحاضریدو دیوخاص کیفیت بیان سوی دی چی دهرانسان سره به یو سائق وی ، سائق هغه سړی ته وایی کوم چی دحیوانانو یا دیوی ډلی دخلګو څخه وروسته ځی ، دوی څه خاص څای ته رسول غواړی او دشهید معنٰی دشاهد ده .

دسائق خو فرښته کیدل په اتفاق دروایتونو ثابت دی ، دشهید په باره کی دتفسیردعالمانو اقوال مختلف دی ، دځینو په نزد به دغه هم یوه فرښته وی ، دغه شان سائق اوشهید دواړی ملائکی سوی ، دیوی کار دی میدان دحشرته رسول دی ، د دوهمی کار دا دی چی کله دده عملونه پیش سی ، نو هغه به

Maktaba Tul Ishaat.com

په ده شاهدی ادا کوی ، دا دواړی ملائکی هغه هم کیدی سی ، کوم چې دانسان راسته اوچپه طرف ته دعملونو دلیکلو دپاره هر وخت به په دنیاکی دده سره وی ، یعنی کرام کاتبین او دا هم ممکنه ده چې دغه نوری دوی وی .

اودشهید متعلق څینی حضرات فرمایی چی دا به دانسان عمل وی اوځینو په خپله دی انسان ته شهید فرمایلی دی ، ابن کثیر فرمایی چی دایت څخه ظاهره دا ده چی هغه به هم یوه ملائکه وی کومه چې به دده په عملونو شهادت ورکوی ، حضرت عثمان غنی ﷺ په خطبه کی دا ایت تلاوت وفرمایی او دا تفسیر یی ورته وفرمایی او دحضرت مجاهد ، قتاده، ابن زید مفسرینو څخه هم داتفسیر منقول دی ابن جریر دی ته ترجیح ورکړی ده .

(دمرګ څخه وروسته به سترګې هغه هرڅه ووینې کوم چې یې په ژوندګي نه سوای لیدلي)

فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ : یعنی مونږستادستر ګوڅخه پرده پورته کړه نن ستانظرډیرتیزدی ، ددی مخاطب څوك دی ، په دی کی هم دمفسرینو اقوال مختلف دی ، مګر راجح دا ده چی عام انسانان مخاطب دی ، په کوموکی چی مومن کافر، متقی، فاسق، ټول دا خل دی ، دا تفسیر ابن جریر، ابن کثیر وغیره اختیار فرمایلی دی او معنٰی دایت دا ده چی ددنیا مثال دخوب دژوندپه شان دی او داخرت مثال دویښتیا دی ، لکه په خوب کی چی دسړی سترګی بندی وی اوڅه نه وینی ، دغه شان انسان هغه حقائق دکومو تعلق چی دعالم اخرت سره دی ، په دنیاکی په سترګو نه سی لیدی مګر دا ظاهری سترګی بندی وی ، دغه دخوب عالم ختم سی دویښتیا عالم راسی ، په کوم کی چی ټول حقیقتونه رامخ ته سی ، په دی وجه څینی عالمان فرمایی، اَلنَّاسُ نِيَامٌ فَاِذَا مَاتُوْا اِنْتَبَهُوْا : یعنی نن په دنیاکی ټول انسانان بیده دی کله چی مړه سی دغه وخت به ویښ سی .

وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَالَدَيَّ عَتِيْدٌ : دلته دقرین څخه مراد هغه ملائکه ده کومه چی دانسان سره دده دعملونو دلیکلو دپاره اوسیده او اول معلومه سوي ده چی دعملونو لیکونکی ملائکی دوي دی ، مګر په قیامت کی یی دانسان دحاضری په وخت کی یوی ته سائق اویوی ته شهید ددی څخه په مخکی آیت کی فرمایلی دی په دی وجه دنسق کلام څخه دا معلومیږی چی دعملونو لیکونکو دوو ملائکوته په میدان دحشرکی دده دحاضری په وخت دوه کارونه سپارل سوی دی ، دیوی په ذمه په ده ورپسی کیدل او دده دحشرمیدان ته رسول کوم ته چی په دی آیت کی دسائق نوم ورکول سوی دی ، بلی ته دده عملنامه سپارل سوي ده ، کوم ته چی یی دشهید نوم ورکړی دی ، نومیدان دحشر ته درسیدو څخه وروسته به عمل نامی والا فرښته یعنی شهید دا عرض وکی ، هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ : یعنی دده عملونه زماسره لیکلی موجود دی او ابن جریر په خپل تفسیرکی فرمایی چی دلته لفظ دقرین سائق او شهید دواړو ته شامل دی .

اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ لفظ اَلْقِيَا دتثنیی صیغه ده کومه چی دوو کسانو ته ویل کیږی، په دی آیت کی چی کومو دوو ملائکوته خطاب دی هغه کومی دی؟ ظاهره دا ده چی هغه دوی ملائکی دی کومو ته چی اول سائق اوشهیدویل سوی دی ددی مخاطب دی څینومفسرینوحضراتونوری توجیهاتی هم لیکلی دی .

قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَا اَطْغَيْتُهٗ دلفظ دقرین اصلی معنٰی په خوا کی اوسیدونکی او یو ځای کیدونکی ده ، ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

معنی په اعتبار سره په تیر آیت کی دقرین څخه مراد هغه هغه ملائکه یا ملائکی اخیستل سوی دی کوم چی دانسان عملونه لیکی او دانسان سره چی څنګه دوی ملائکی قرینی جوړی سوی دی ، دغه شان یو شیطان هم دهر انسان سره قرین وی کوم چی دی دګمراهی اوګناهونو طرف ته بولی ، په دی آیت کی دقرین څخه داشیطان مراد دی ، کله چی ددی سړی جهنم ته دغورځولوحکم وسی نو دا شیطان به دده څخه دخپل برائت اظهار وکی چی دی مانه دی ګمراه کړی ، بلکه دی په خپله ګمراه وو ، چی دګمراهی خبره یی قبلوله اونیکی خبری ته یی غوږ نه ایښووی ، دظاهر کلام څخه داسی معلومیږی چی جهنم ته تلونکی به هغه وخت داعذروکی چی زه خودی شیطان لمسولی وم کنه نومانیك کارکوی ، ددی په جواب کی به شیطان دخپل برامت اظهار وکی ، ددی دواړو دجګړی په وخت کی به دحق تعالی ارشاد وسی .

لَا تَخْتَصِمُوا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُمْ بِالْوَعِيدِ : یعنی زماپه مخکی جګړه مه کوی ماخودمخکی څخه دانبیاؤ په ذریعه ستاسی دفضول عذر جواب درکړی دی او دآسمانی کتابونو په ذریعه می دلیلونه واضح کړی دی ، دا فضول عذر تراشی اوجګړه نن نه چلیږی .

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ : زماسره خبره بدلیږی نه کومه فیصله چی سوي ده هغه به نافذه وی اومونږ په هیڅ چا ظلم نه دی کړی ، عین دانصاف فیصله ده .

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾ وَأُزْلِفَتِ

په کومه ورځ چی مونږ ووایو دوږخ ته چی ته ډك سوی او هغه ووایی چی څه نورهم سته؟ اونږدی را وستل سی

الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ

جنت بیرونکو ته چی لیری به نه وی ، دا دی دکوم چی وعده سوی وه ستاسره هر یو رجوع کونکی

حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَّنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾

یادساتونکی دپاره ، کوم چی وبیریدی درحمن څخه په پته او رایی وړی زړه رجوع کوونکی ،

ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ﴿٣٤﴾ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴿٣٥﴾

داخل سی دی ته په سلامتیا ، دا ورځ ده دهمیشه پاته کیدو ، د دوی دپاره به وی هلته څه چی دوی غواړی او مونږ سره دی څه زیات هم .

لنډتفسیر: دلته دمحشر دباقی واقعاتو بیان دی چی هغه ورځ خلګو ته وریاده سی، په کومه ورځ چی مونږ دوږخ ته (دکفارو دی ته ددا خلولو څخه وروسته) ووایو چی ته ډك هم سوی؟ اوهغه به ووایی چی آیا څه نور هم سته ؟ (دا پوښتنه شاید دکفارو دنورو زیاتو بیرولو دپاره وی چی اواز واوری او د دوی په زړونو کی د دوږخ نور زیات هیبت پیدا سی چی مونږ څنګه دغضب ځای ته راورسیدوکوم چی دټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

خورل غواړی اودجهنم دطرف څخه دَ، هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ جواب هم غالبًا ددی غصی اوغضب مظاهره ده کومه چی دجهنم دخدای ددښمنانو کفارو سره ده چی ذکر یی په سورة ملك کی په دی الفاظو سره راغلی دی، وَهِيَ تَفُوْرُ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ :جهنم په جواب کی داونه ویل چی زما نس نه دی ډك، بلکه دزیاتو فرمائش یی دغصی اوغضب څخه وکی، په دی وجه په قرآن کریم کی بل ځای چې کوم حق تعالی فرمایلی دی، لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ : یعنی زه به ډك کړم جهنم دپیریانو اوانسانانو څخه، دا ددی منافی نه ده او معنٰی دایت دا ده چی الله ﷻ دخپلی تیری وعدی، لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ، مطابق به پیریان اوانسانان جهنم ته وغورځوی اوهغه به داوایی چی څه نورهم سته (ابن کثیر) او (دجنت بیان دا دی چی) جنت به متقیانوته نژدی سی چی څه لیری به نه وی (اومتقیانو ته به وویل سی چی) دا هغه شی دی دکوم چی ستاسی سره (په دی عنوان) وعده کول کیده چی هغه دهر داسی سړی دپاره دی کوم چی (دخدای طرف ته په زړه سره) رجوع کوونکی (او درجوع کولوڅخه وروسته دعملونو اوطاعتونو) پابندی کوونکی وی (غرض دا چی کوم دخدای څخه په پټه بیرېږی او (الله ﷻ ته) په رجوع کوونکی زړه سره راسی (دوی ته به هم حکم وسی) چی دی جنت ته په سلامتیا سره دا خل سی، دا ورځ ده دهمیشه اوسیدو (دپاره دحکم کیدو) هغوی ته به په جنت کی هرڅه ورکول کیږی چی څه غواړی او زمونږ سره (د دوی دغوښتل سووشیانو څخه) نورهم زیات (نعمتونه) دی (چی هغه ته به دجنتی ذهن هم نه رسیږی، لکه چی په حدیث کی نبی کریم ﷺ دجنت دنعمتونومتعلق فرمایی چی هغه داسی دی کومو چی نه دچاسترګولیدلی دی، نه دچاغوږونواوریدلی دی اونه دچابشرپه زړه کی ددی خیال راغلی دی ددغونعمتونو څخه یونعمت دحق تعالی دیدار دی)

معلومات اومسئلي : اوّاب کوم خلق دی : لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيْظٍ یعنی دجنت وعده دهرهغه سړی دپاره ده کوم چی اواب اوحفیظ وی، داواب معنٰی رجوع کوونکی دی، مراد هغه سړی دی کوم چی دګناهونو څخه دالله ﷻ طرف ته رجوع کوونکی وی.

حضرت عبدالله ابن مسعود ؓ، شعبی اومجاهد فرمایی چی اواب هغه سړی دی کوم چی په خلوت کی خپل ګناهونه یادوی اواستغفارکوی اوحضرت عبیدبن عمیرؓ فرمایی چی اواب هغه سړی دی کوم چی په خپل هرمجلس اوهرنشست کی دالله ﷻ څخه دخپلو ګناهونو مغفرت غواړی اوفرمایی چی مونږ ته دا ښوول سوی دی چی اواب اوحفیظ هغه سړی دی کوم چی په خپل هرمجلس کی دولاړیدو په وخت کی دا دعا کوی، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَغْفِرُكَ مِمَّا اَصَبْتُ فِیْ مَجْلِسِیْ هٰذَا : پاك دی الله اودهغه ثناء ده یا الله زه بخښنه غواړم دهغه ګناه څخه کومه چی ماپه دی مجلس کی کړی وی.

اوپه حدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی کوم سړی دخپل مجلس څخه دپورته کیدو په وخت کی دا دعا وکی نو الله ﷻ به دده هغه ټول ګناهونه معاف کړی کوم چی ورڅخه په هغه مجلس کی سوی وی، دعا دا ده، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ (یعنی یاالله ته پاك یی اوستا حمد اوثناده ستا څخه ماسوا بل معبود نسته زه ستا څخه مغفرت غواړم اوتوبه کاړم.

اودحفیظ معنٰی حضرت ابن عباس ؓ دا ښوولی ده چی کوم سړی خپل ګناهونه یا د وی چی ددی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

رجوع وکی اوتلافی یی وکړی او دده څخه په یو روایت کی دحفیظ معنی هُوَ الْحَافِظُ لِاَمْرِ اللهِ هم منقول ده یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ احکام یاد ساتی.

او دحضرت ابوهریره ؓ په یو روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دورځی په شروع کی څلور رکعتونه داشراق وکی هغه اواب اوحفیظ دی (قرطبی)

وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ ابوبکر وراق ؒ فرمایی چی دمنیب علامه دا ده چی هغه دحق تعالی ﷻ ادب هر وخت څان ته حاضر ساتی او دده په مخکی په تواضع اوعاجزی سره وی او دخپل نفس خواهشات پریږدی.

لَهُمْ مَا يَشَاءُونَ فِيهَا (یعنی جنتیانوته به په جنت کی هرهغه شی ورکول کیږی دکوم چی هغه خواهش کوی) یعنی جنتیان چی دکوم شی خواهش کوی هغه به فوراً حاضر تیار ورکول کیږی، دوخت اوانتظار زحمت به په کی نه وی، په مسند احمد کی دحضرت ابوسعید خدری ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په جنت کی که دیوه سړی داولاد خواهش وسی نو حمل او وضع اوبیا دبچی لوئیدل دا ټول به په یوه ساعت کی وسی. ابن کثیر

وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ (یعنی زمونږ سره داسی نعمتونه هم دی دکومو طرف ته چی دانسان وهم اوخیال هم نه سی تلی، په دی وجه به هغه ددغو خواهش هم نه سی کولی، حضرت انس ؓ اوجابر ؓ فرمایی چی دا مزید نعمت دالله ﷻ زیارت بلا کیف دی کوم چی به جنتیانو ته حاصل وی ددی مضمون احادیث په خپله دنبی کریم ﷺ څخه هم دایت، لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ: په تفسیرکی روایت سوی دی اوپه څینو روایتونو کی دی چی جنتیانو ته به دحق تعالی ﷻ زیارت (ملاقات) دجمعی په ورځ حاصلیږی (قرطبی)

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا

اوځومره هلاك کړی دی مونږ د دوی څخه مخکی جماعتونه چی په قوت کی زبردست وو د دوی څخه،

فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَادِ هَلْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ

نو وګرځیدل په ښارونو کی، چیری سته خای دتیښتی، په دی کی نصیحت دی

لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ

هغه چاته چی دهغه زړه وی یا غوږ ایږدی دزړه په حضور سره، اومونږ جوړ کړی دی اسمانونه

وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُغُوبٍ ﴿٣٨﴾

اومځکه اوڅه چی ددې په مینځ کی دی په شپږو ورځو کی اومونږ ته نه دی راغلی ستړی والی

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

نو ته صبر کوه په هغه څه چې دوی وایي اوپاکي وایه په ثنا د رب خپل سره مخکې دختلو دلمر څخه

وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿۳۹﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾

او مخکې دلویدلو څخه یې ، او په یو شپه کې وایه دهغه پاکي او دسجدې څخه وروسته

لنډتفسیر: اومونږ د دوی (مکي والاوو) څخه مخکې ډیر امتونه (د دوی دکفر په شامت سره) هلاک کړي دي کوم چې په قوت کې د دوی څخه (ډیر) زیات وه او (ددنیا دسامان زیاتولو دپاره) ټول ښارونه به یې چاڼ کول ګرځیدل (یعنې دقوت سره یې دمعیشت په سامان کې هم ډیره ترقي کړې وه ، لیکن هرکله چې زمونږ عذاب نازل سو نو دوی ته) هیڅ چیرې دتیښتې ځای هم پیدا نه سو (یعنې په هیڅ شان محفوظ نه سول) په دې (واقعه دهلاکت) کې دهغه سړي دپاره لوی عبرت دی دکوم سره چې (پوه) زړه وي یا (که پوه یې نه وي نوکم ازکم داسې وي چې) هغه (په زړه سره) متوجه وي (خبرې ته) غوږ ږدي (اوداوریدو څخه وروسته اجمالاً دحقانیت معتقد سي دا خبره قبلوي) او (که دقیامت څخه انکار په دې بنا وي چې تاسي دالله ﷻ قدرت ددې څخه قاصره ګڼئ ، نو هغه په دې وجه باطل دي چې زمونږ قدرت داسې دی چې) مونږ آسمانونه اومځکې اوڅه چې د دوی په مینځ کې دي دا ټوله په شپږو ورځو (مقدار زمانه) کې پیدا کړل اومونږ ته ستومانی قدرهم رانغله (بیادبنده دوباره پیداکول څه ګران دي، اودالکه قول دالله ﷻ دی په سورة احقاف کې ، أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى : اوسره ددې قاطعو شبهاتو جوابونو داخلګ بیاهم پرانکار باندې تینګ دی) نو د دوی په خبرو صبر کوه (یعنې غم مه کوه) او (چونکې بغیر ددې چې یوطرف ته زړه مشغول سي دغه دغم خبره دزړه څخه نه وزي اوچې بار بار یادیږي، زړه غمجن کوي ، په دې وجه ارشاد فرمایي چې) دخپل رب تسبیح اوثنا وایه (په دې کې لمونځ هم دا خل دي) دلمرختو څخه مخکې (مثلاً دسهار لمونځ) او (ددې) دپریوتو څخه مخ ته (مثلاً دماپښین اوماښیګر) اودشپې هم دده تسبیح (اوثنا) کوه (په دې کې مابنام اوماخستن راغلل) او (دفرض) لمنځو څخه وروسته هم (په دې کې نفلونه وردونه راغلل ، مطب دا سو چې دالله ﷻ په ذکر او فکر کې اوسیږه چې د دوی دکفر خبروته دې خیال نه ځي)

معلومات اومسائل: فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَادِ هَلْ مِنْ مَحِيصٍ، نَقَّبُوْا: دتنقیب څخه مشتق دی ددې معنی سایه کول اوخیرول دی ، په محاوروکې په مځکه کې دلیرې لیرې ملکونو ته دګرځیدو اوتللو په معنی کې استعمالیږي (قاموس)

او مَحِيْصٍ معنی دپناه ځای دی، معنی دایت دا ده چې الله ﷻ ستاسي څخه مخ ته څومره قومونه اوجماعتونه هلاک کړي دي کوم چې په قوت اوطاقت کې ستاسي څخه ډیر زیات وه اوکوم چې به مختلفو ملکونو اوځایونو ته دتجارت دپاره تلل ، مګر وګورې چې هرکله په اخرکې د دوی مرګ راغې او هلاک سول ، دمځکې یوې حصې یامکان دوی ته دمرګ څخه پناه ورنه کړل سوه .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دعلم دحصول دوی طریقي)

لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ : حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دلته دقلب څخه مراد عقل دی ، چونکی دعقل مرکز قلب دی ، په دی وجه یی ددی څخه په قلب سره تعبیر وکی ، ځینی مفسرین فرمایی چی دلته دقلب څخه مراد حیات دی ، هغه هم څکه چی دحیات مدار قلب دی ، معنٰی دایت دا سوه چی دقرآن په دی سورة کی چی څه بیان سوی دی ، ددی څخه دنصیحت اوعبرت فائده هغه سړی ته رسیدی سی په کوم کی چی عقل وی یاژوندوی ، بی عقله یامړ ته به څه فائده ورسیږی .

أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ : دالقاء السمع معنٰی خبری ته غوږ ایښول دی ، شهید په معنٰی دحاضر، معنٰی دا ده چی دذکر سوو آیتونو فائده دوو سړوته رسیږی، یوهغه چی په خپله عقل لری، په خپل عقل سره ددی تولو مضامینو تصدیق کوی یابیا هغه سړی کوم چی دالله ﷻ ایتونوته غوږ ایږدی اواوری یی او داسی یی اوری چی هغه په خپله حاضر هم وی ، یعنی داسی نه وی چی غوږونه خویی اوری ، لیکن زړه یی حاضر نه وی ، په تفسیرِ مظهری کی فرمایی چی اول قسم دکاملینو دامت دی او دوهم قسم د دوی متبعین او مخلص مریدان دی کوم چی د دوی په اعتقاد سره ددین خبری منی .

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، سَبِّح دتسبیح څخه مشتق دی،ددی حقیقی معنٰی دالله ﷻ تسبیح کول یعنی پاکی بیانول دی اوزبانی تسبیح ته هم شامل دی اودلمانځه عبادت ته هم په دی وجه ځینی حضرات فرمایی چی دتسبیح قبل طلوع الشمس څخه مراد دسهار لمونځ دی اودقبل الغروب څخه مراد دماځیګر لمونځ دی ، دحضرت جریربن عبدالله څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ په یواوږد حدیث کی فرمایی .

إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا يَعْنِي الْعَصْرَ وَالْفَجْرَ ثُمَّ قَرَأَ جَرِيرٌ (وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا) (بخاری اومسلم واللفظ لمسلم)

کوشش کوی چی ستاسی څخه دلمر ختو او دلمر لویدو څخه اولنی لمونځونه پاته نه سی ، یعنی دسهار اوماځیګر لمونځونه اوپه دی یی داستدلال دپاره ذکر سوی آیت تلاوت وفرمایی .

او دایت په مطلب کی هغه عام تسبیحات هم دا خل دی دکومو چی سهار او مابنام دویلو ترغیب په احادیثو کی راغلی دی .

په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت ابوهریره ﷺ په حدیث کی دی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دسهارپه وخت کی اودمابنام په وخت کی سل سل واره سُبْحانَ الله ووایی دقیامت په ورځ به یو سړی دده څخه نبه عمل رانه وړی بغیر ددی چی هغه هم تسبیح دومره یاددی څخه زیات ویلی وی اوپه صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت ابو هریره ﷺ څخه یوروایت دا هم دی چی کوم سړی په ورځ کی سل واره سُبْحَانَ الله وبحَمْدِه ووایه دهغه ګناهونه به معاف سی که څه هم هغه دسمندر دچپو څخه هم زیات وی (مظهری)

وَأَدْبَارَ السُّجُودِ دحضرت مجاهد رحمه الله فرمایی چی دسجود څخه مراد فرض لمونځونه اود أَدْبَارَ السُّجُودِ څخه مراد هغه تسبیحات ویل دی دکومو فضیلت چی دهرلمانځه څخه وروسته په حدیث مرفوع کی راغلی دی ، دحضرت ابوهریره ﷺ روایت چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دهرلمانځه څخه وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۳ سُبْحَانَ اللهِ، ۳۳ واره اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او ۳۴ واره اللهُ اَكْبَرُ اویو وار: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، ووایی نو دده ګناهونه به معاف سی که څه هم هغه ددریاب دخپو سره برابر وی (بخاری اومسلم) اودَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ څخه مراد هغه سنتونه هم کیدی سی کوم چی دفرض لمونځونو څخه وروسته په احادیثو کی راغلی دی (مظهری)

وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ يَّوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذٰلِكَ

اوغوږ کښیږدی په کومه ورځ چی اوازوکړی اواز کوونکی دځای نژدی څخه ، په کومه ورځ چی واوری چغه په حقه

يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ اِنَّا نَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَاِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿۴۳﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ

سره ، دا ورځ ده د راتلو ،بیشکه مونږ ژوندی کوو اومړه کوو اومونږته واپسی ده ، په کومه ورځ چی ځمکه

الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيْرٌ ﴿۴۴﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ

مخکه او دوی به ورڅخه راووزی منډی به وهی،داجمع کول مونږته آسانه دی ، مونږ ښه پیژنو هغه چی دوی وایی

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿۴۵﴾ ع

اونه یی ته په دوی زورکوونکی ، نو ته نصیحت کوه په قرآن سره هغه چا ته چی بیریږي زما دپروردګار څخه.

لنډتفسیر: او (ای مخاطبه! ته داراتلونکی خبره په توجه سره) واوره (چی) په کومه ورځ یو اوازکوونکی (ملائکه اسرافیل علیه السلام په ذریعه دشپیلی دمړو دقبروڅخه دپورته کولو دپاره) دنژدی څخه اواز وکی (دنژدی مطلب دا دی چی دغه اواز به ټولو ته بی تکلفه رسیږی ، داسی چی ګویا دنژدی څخه اواز کوی اولکه چی دلیری اواز چاته رسیږی اوچاته نه رسیږی ، داسی به نه وی) په کومه ورځ چی هغه چیغه به یقین سره ټول واوری دا ورځ به وی (دقبرونو څخه) دراوتلو مونږ یو (اوس هم) ژوندی کوونکی اوهم مونږ یو مړه کوونکی او زمونږ طرف ته بیاواپسی ده (په دی کی دمړوپه ژوندی کولو باندی دقدرت طرف ته اشاره ده) په کومه ورځ چی مخکه په دوی (مړو) باندی خلاصه سی کله چی به هغوی (را وزی دقیامت دمیدان طرف ته) منډی وهونکی وی دا (جمع کول) زمونږ په نزد ډیر آسان جمع کول دی (غرض داچی بیا اوبیا پرلپسی دقیامت امکان او وقوع ټول ثابت سو، مګر بیاهم چی کوم خلګ یی نه منی نوته غم مه کوه څکه چی) څه چی داخلګ (دقیامت وغیره په باره کی) وایی، مونږ یی ښه پیژنو (مونږ به ورسره په خپله پوه سو) او ته په دوی (دالله ﷻ دطرف څخه) جبرکوونکی نه یی (لیږل سوی ، بلکه صرف مبلغ اوبیرونکی یی ، هرکله چی خبره دا ده) نو ته دقرآن په ذریعه سره (په عام نصیحت سره ټولو ته اوپه خاص نفع مندنصیحت سره صرف) داسی سړی ته نصیحت کوه کوم چی زما دعذاب څخه بیریږی (ددی مفعول دتقیید څخه اشاره سوه چی ته که څه هم نصیحت اوتبلیغ عام کوی لکه چی لیدل کیږی، لیکن بیاهم مَنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

يَخَافُ وَعِيدِ، يعنى دالله ﷻ دعذاب څخه بيريدونكى څينى وى، نو دا ثابته سوه چى داستاپه اختيار كى نه ده نو هركله چى دچاپه اختيار كى نه ده، بيا دبى اختياره خبرى فكر څه دى؟)

معلومات او مسئلې: يَوْمَ يُنَادِالْمُنَادِ مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ (يعنى په كومه ورځ چى يوه اوازكوونكى ملائكه دهاخوا څخه اواز وكى) ابن عساكر ﷺ دزيدبن جابر شافعى څخه روايت كرى دى چى دا ملائكه به حضرت اسرافيل ﷺ وى كومه چى به دبيت المقدس په صخره ودريږى اودتولى دنيا مړوته به خطاب كوى چى، اى رژيدلو سخا سوو هډوكو اوريزه ريزه سوو څرمنو! اوخپرو سوو وريښتانو، واورى! تاسى ته الله ﷻ دا حكم كوى چى دحساب دپاره جمع سى (مظهرى)

دا دقيامت د دوهمى شپيلى بيان دى په كوم سره چى به دوباره عالم ژوندى كول كيږى اودمكان قريب مراد دا دى چى دغه وخت به ددغه ملائكى اواز نژدى اوليرى تولو خلكو ته داسى رسيږى چى گويا د دوى دخوا څخه اواز كوى.

حضرت عكرمه ﷺ فرمايى چې دا اواز به داسى او ريدل كيږى لكه څوك چى زمونږ په غوږ كى اواز كوى اوځينى حضرات فرمايى چى دنژدى څخه مراد صخره دبيت المقدس ده، څكه چى هغه دمځكى مينځ دي، دهر طرف څخه ددي مسافت يو شان دى.

يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا (يعنى كله چى مځكه وچاودى دا تول مړى به راووزى اومندې به وهى) دحديث څخه معلوميږى چى دا منده به دملك شام طرف ته وى كوم څاى چى په صخره دبيت المقدس به حضرت اسرافيل ﷺ اوازكړى وى، په جامع ترمذى كى دحضرت معاويه بن حيده څخه روايت دى چى نبى كريم ﷺ په لاس مبارك سره دشام طرف ته اشاره وكړه اووي فرمايل.

مِنْ هَاهُنَا إِلَىٰ هَاهُنَا تُحْشَرُوْنَ رُكْبَانًا وَمُشَاةً وَتُجَرُّوْنَ عَلَى وُجُوْهِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الحديث (قرطبى)

ددى څاى څخه تر هغه (شام طرف ته) پورى به تاسى تول پورته سى څه خلك به سپاره، څه پياده اوځينى په مخونو راكشيږى، دقيامت په ورځ به دى ميدان ته را وستل سى.

فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَخَافُ وَعِيدِ (يعنى ته نصيحت وكړه په قرآن سره هغه چاته كوم چى زما دعذاب څخه بيريږى) مطلب دا دى چى ستا تبليغ اووعظ نصيحت كه څه هم عام دى تول مخلوق ددى مخاطب اومكلف دى، مگر اثر به يې هغه قبلوى، كوم چى دالله ﷻ دعذاب او وعيد څخه بيريږى.

حضرت قتاده ﷺ به دا آيت ووايه نو دا دعابه يې غوښتله.

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَامِمَّنْ يَّخَافُ وَعِيْدَكَ وَيَرْجُوْا مَوْعُوْدَكَ يَا بَارُّ يَارَحِيْمُ.

يعنى يا الله! مونږ په هغوخلكوكى داخل كړى چى ستادعذاب دوعيدڅخه بيريږى اوستادوعدى اميدوار دى اى وعده پوره كوونكى اى رحمت والا!

سُوْرَةُ ق بِعَوْنِ اللهِ سُبْحَانَهُ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ مِنْ لَّيَالِيْ عَشَرَ رَبِيْعُ الْاَوَّلِ اِلٰى سَابِعِ عَشَرَ رَبِيْعُ الْاَوَّلِ يَوْمَ الْخَمِيْسِ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَهُوَ الْمُسْتَعَانُ فِيْ تَكْمِيْلِ الْبَاقِيْ وَمَاذٰلِكَ عَلَى اللهِ بِعَزِيْزٍ.

.....

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ سورة الذاريات ﴾

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتُّوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة الذاريات په مکه کی نازل سو په دی کی شپیته (٦٠) ایتونه او دری (٣) رکوع ګانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ﴿٣﴾ فَالْمُقَسِّمٰتِ

قسم دی په الوتونکو خپریدونکو هوا ګانو، بیا په پورته کوونکو دبار، بیا په تلونکو په نرمی سره، بیا په تقسیموونکو

اَمْرًا ﴿٤﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ﴿٥﴾ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءِ

دحکم ، بیشکه کومه وعده چی سوی ده تاسی سره رښتیا ده ، اوبیشکه انصاف کیدونکی دی ، قسم دی په

ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿٧﴾ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ

جالدار آسمان باندی ، یقیناً تاسی په یوه جګړه کونکی خبره کې یاست ، واپس کیږي ددې انصاف څخه هغه

اُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿١١﴾

څوک چی واپس سو دحق څخه ، لعنت دی په اټکل کوونکو باندی ، کوم چی په غفلت کی بی هوښه دی ،

يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ﴿١٣﴾

پوښتنه کوی چی کله ده ورځ دانصاف ، په کومه ورځ چی به هغوی په اور کی سم او چپه لویږي ،

ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿١٤﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ

وڅکی دخپل شرارت خوند ، دا دی هغه دکوم چی تاسی تلوارکوی ، خامخا بیریدونکی به

فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٥﴾ اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ

په باغونو اوچینوکی وی ، اخلی به هغه چی ورکړی وی دوی ته رب د دوی هغوی وه ددې څخه مخکې

Maktaba Tul Ishaat.com

ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶﴾ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾

نیکی کونکی ، وه دوی چی شپی به لږ بیده کیدل ،

وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۱۹﴾

او دسهار په وختونو کی به یی استغفار غوښتی ، د دوی په مالونو کی حصه وه دغوښتونکی اونه غوښتونکو

وَفِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۲۱﴾

اوپه مځکه کی ښښی دی دپاره دیقین کوونکو ، او په خپله ستاسی په خانونو کی پس آیا تاسی نه وینی ؟

وَفِي السَّمَاۗءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ فَوَرَبِّ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ

اوپه آسمان کی دی رزق ستاسی اوهغه چی تاسی سره یی وعده کیږي ، نو قسم دی په رب داسمانونو اودمځکی

لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿۲۳﴾

چی دا خبره داسی حقه ده لکه چی تاسی خبری کوی .

لنډتفسیر: قسم دی په هغو هواګانو چی ګرد اوغبار وغیره الوزوی بیاپه هغو وریځو چی بار (یعنی باران) پورته کوی بیادهغوکښتیو چی په نرمی سره چلیږی ، بیا دهغو ملائکوکوم چی (دحکم مطابق دمځکی په مخلوق) شیان تقسیموی (مثلاً کوم ځای چی دځومره باران حکم وی کومه چی ماده ده درزق هلته دوریځو په ذریعه دغومره قدر رسوی ، دغه شان دحدیث موافق دمور په رحم کی دبچی صورت دمذکر او مونث پوښتنه وکړی اوجوړوی یی ، اوسکینه او رعب هم تقسیموی ، مخ ته ددغو قسمونو جواب دی چې) ستاسی سره چی دکوم (قیامت) وعده کول کیږی هغه بالکل رښتینی دی او (داعمالو) جزا (اوسزا) خامخا کیدونکی ده (په دی قسمونوکی اشاره ده استدلال طرف ته یعنی داتول تصرفات عجیبه دقدرت الهی څخه کیدل دلیل دی دقدرت دعظمت ، بیاداسی عظیم القدرت ذات ته دقیامت واقع کول څه مشکل دی اوتفسیر ددی کلموکوم چی په آیتونوکی ذکر دی ، قسم په اخیستل سوی دی ، په درمنثورکی مرفوعًا داسی نقل دی کوم چی مخ ته راځی اوتخصیص ددی شیانو شاید ځکه وی چی په دی کی اشاره سوه دمخلوق مختلفو اقسامو ته ، چنانچی ملائکی دآسمانونو څخه دی اوهواګانی او کښتی دمځکی څخه او وریځ دکائناتو دفضاء څخه، یعنی دفضایی مخلوقاتو څخه اودمځکی څخه دوه شیان په کومو کی چی یو په سترګو په نظر راځی ، بل په نظرنه راځی ، شایدځکه راغلی وی چی دقیامت متعلق په یوه مضمون کی په خپله دآسمان قسم دی لکه چی لوړ په آسمانی شیانو وو یعنی قسم په آسمان په کوم کی چی (دملائکو دتللو) لاری دی (لکه داقول دالله ﷻ، وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ

Maktaba Tul Ishaat.com

طَرَائِقَ : مخ ته جواب دقسم دی، چی تاسی (یعنی ټول) خلک (دقیامت په باره کی) په مختلفو خبروکی یاست (څوك یی تصدیق کوی ، څوك یی تکذیب کوی اولکه چی دا قول دالله ﷻ دی ، عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ : لکه چی تفسیر یی کړی دی قتاده ﷺ او په درکی دی په دی قرل سره، مُصَدِّقٌ بِهِ وَمُكَذِّبٌ، اودآسمان په قسم سره شایددی طرف ته اشاره وی چی جنت په آسمان کی دی اوپه آسمان کی لاری هم دی ، مگر کوم چی په حق کی اختلاف کوی دهغه دپاره لاربندیږی او په دی اختلاف کوونکو کی، ددی (وقوع دقیامت او دجزا داعتقاد) څخه هغه واپس کیږی کوم ته چی (بالکلیه دخیر اوسعادت څخه) واپس کیدل وی (لکه چی په حدیث کی دی ، مَنْ حُرِمَهُ فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ (ابن ماجه) یعنی کوم سړی چی محروم سو ، هغه دهرخیر څخه محروم سو ، اوداختلاف کوونکو دبل فریق یعنی تصدیق کوونکو حال ددی دمقابلی څخه معلوم سو چی هغه دخیر اوسعادت څخه واپس سوی نه دی ، اوس مخ ته ددی واپس کیدونکو مذمت دی چی، هلاك دی سی بی سنده خبری کوونکی (یعنی کوم چی دقیامت څخه انکار کوی بغیر ددی څخه چی د دوی سره ددی څه دلیل وی) کوم چی په جهالت کی بی هوښه سوی دی (دبی هوښه کیدو څخه مراد اختیاری غفلت دی او دغه خلک په طور دمسخرو او ژر غوښتو) پوښتنه کوی چی ورځ دجزا به کله وی؟ (مخ ته جواب دی چی هغه به داسی ورځ وی) په کومه ورځ (چی) به هغه خلک په اورگرمول کیږی (او ورته ویل کیږی به چی) دخپلی دی سزا خوند وڅکی دا دی دکوم چی تاسی تلواری کوله (دا جواب د ، يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُونَ : په دی طرز دی لکه دچا مجرم دپاره چی دپانسی حکم وسی ، مگر دغه احمق سره ددلیلونو دقائمیدو څخه محض په دی وجه چی ده ته تاریخ نه وی ښوول سوی درواغجن کوی یی اووایی چی نبه نو هغه ورځ به کله راځی چونکی دا سوال محض دکجروی په بنا دی ، په دی وجه په څای دتاریخ ښوولو، په جواب کی داویل زیات مناسب وی چی هغه ورځ به هغه وخت راسی کله چی ته په پانسی څوړند سی ، مخ ته دبل فریق یعنی مومنانو تصدیق کوونکو ثواب ذکر دی چی) بیشکه متقیان خلک به په جنتونو اوچینوکی وی (او) دهغوی رب چی هغوی ته کوم (ثواب) ورکړی وی هغوی به هغه (په خوشحالی خوشحالی) اخلی (اوولی به نه وی؟) هغه خلک ددی څخه مخکی (یعنی په دنیاکی) نیکو کاره وه (نو مطابق دوعدی د ، هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ : د دوی سره دا معامله وسوه مخ ته د دوی دنیکو کاری څه تفصیل دی چی) هغه خلک (په فرائضو او واجباتوکی ترقی وکړی او دنوافلو داسی التزام کوونکی وی چی) دشپی به ډیرکم بیده کیدل (یعنی زیاته حصه دشپی به یی په عبادت کی تیروله) او (باوجود ددی به یی خپل عبادت ته نه کتل بلکه) دشپی په اخرکی (به یی خپل ځان په عبادت کوی کوتاهی کوونکی ګڼل) استغفار به یی کوی (داخوپه بدنی عبادت کی د دوی حالت وو) او (دمالی عبادت یی دا حال وو چی) دهغوی په مالونوکی دسوال کوونکی اوغیر سوال کوونکی (دټولو) حق وو (یعنی په داسی التزام سره به یی ورکوی لکه چی د دوی په ذمه دهغوی څه حق وی ، مراد ددی څخه غیر زکوٰة دی ، داسی په درکی دابن عباس ﷺ ، مجاهد رحمه الله اوابراهیم ﷺ څخه دی اودامطلب نه دی چی دجنتونو اودچینو ورکول کیدل په نوافلو باندی موقوف دی ، بلکه دلته دلوړی درجی دخاوندانو ذکر فرمایل سوی دی) او (چونکی کفارو دقیامت دصحت څخه انکارکوی په دی وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

مخ ته ددی ددلیل طرف ته اشاره ده چی، دیقین کوونکو «دکوشش اوطلب کوونکو» دپاره «دقیامت په ممکن او واقع کیدو باندی» په مځکه «کائناتو» کی ډیری نبنی «اودلیلونه» دی اوپه خپله ستاسی په ذات کی هم «یعنی ستاسی ظاهری او باطنی مختلف احوال هم دلیلونه دی دقیامت دممکن کیدو ځکه چی افاقی اوانفسی کارونه په یقین سره دقدرت ماتحت دی اودذاتی قدرت نسبت دټولو ممکناتوسره یوشان دی اوهرکله چی دقیامت دناممکن کیدو هیڅ دلیل نسته نوقیامت هم دممکناتو څخه دی ، نو دا هم دالله ﷻ په قدرت کی دی اوچونکی ددی دلیلونو دلالت ډیر واضح وو، په دی وجه توبیخًا فرمایی چی هرکله داسی دلائل موجود دی، نو آیا تاسی ته «مطلوب بیاهم» په نظر نه درځی او «پاته سو تعین دوخت دوقوع چی په عدم سره یی استدلال په عدم وقوع کولو کوی ، نو دهغه نسبت دا دی چی» ستاسی رزق او دکوم «قیامت متعلق» چی ستاسی سره وعده کول کیږی «ددی» دټولو «معین وخت» په آسمان کی «چی کوم لوح محفوظ دی په هغه کی لیکلی» دی «مځکی ته ددی یقینی علم په یو مصلحت سره نه دی نازل سوی چنانچی په وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ کی هم نه دی ښوول سوی اومشاهده هم ده چی یقینی تعین یی هیڅاته معلوم نه دی ، لیکن کله چی سره ددی چی دوخت دتعین دعلم نه کیدو باوجود درزق وجود یقینی دی ، بیاپه دی عدم تعین دتاریخ دقیامت سره عدم والی څنګه لازمیږی؟ او ددی استدلال طرف ته داشاری کولو دپاره یې د: مَاتُوْعَدُوْنَ سره رِزْقُكُمْ زیات کی : مخ ته پردی تفریع فرمایی چی هرکله دنفی هیڅ دلیل نسته او داثبات دلیل سته» نوقسم دی دآسمانونو اومځکی په پروردګار چی هغه «ورځ دجزا» برحق ده «اوداسی یقینی ده» لکه چی تاسی خبری کوی «نوپه دغوکی خو هیڅکله شك نه وی دغه شان دا هم یقینی وګنی»

معلومات اومسائل: په سورة ذاریات کی هم ددی څخه دمخکی سورة ق په شان زیات تره مضامین داخرت اوقیامت اوپه دی کی دمړو دژوندی کیدو اوحساب کتاب اوثواب اوعذاب په حقله دی.

په اولنیو څو ایتونوکی الله ﷻ په څو شیانو قسم اخیستی دی اوفرمایی چی دقیامت په حقله دکومو شیانو وعده سوې ده ، هغه ربښتینی وعده ده ، په کومو شیانو چی یی قسم اخیستی دی هغه څلور دی ، اَلذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا، اَلْحٰمِلٰتِ وِقْرًا، اَلْجٰرِيٰتِ يُسْرًا، اَلْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا.

په یومرفوع حدیث کی کوم ته چی ابن کثیر ضعیف ویلی دی اودحضرت فاروق اعظم ﷺ اوعلی مرتضیٰ ﷺ څخه موقوفًا ددی څلورو شیانو معنی او مطلب دا ښوول سوی دی چی دذاریات څخه مراد هغه هواګانی دی دکومو سره چی ګرد وی اودَ ، حَامِلَات وِقْرًا لفظی معنی بار پورته کوونکی دی ددی څخه مراد وریځی دی کوم چی داوبو بار پورته کوی او د ، جَارِيَات يُسْرًا څخه مراد کښتی دی کومی چی په اوبو باندی په اسانی سره چلیږی اود: مُقَسِّمَات امْرًا څخه مراد هغه ملائکی دی کومی چی دالله ﷻ دطرف څخه په عام مخلوقات کی درزق اوباران داوبو اودتکلیف اوراحت مختلف اقسام دتقدیرِ الٰهی مطابق تقسیم کوی ، په تفسیر ابن کثیر، قرطبی اودرمنثورکی داموقوف اومرفوع روایتونه مذکوردی

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُخْتَلِفٍ حُبُكَ دَحَبِيكه جمع ده ، دکپړی په جوړښت کی چی کومی کرښی اوخطونه جوړ سی هغه ته حُبُك ویل کیږی ، هغه چونکی دلارو اوسړك مشابه وی نوپه دی وجه لاروته هم

Maktaba Tul Ishaat.com

حُبُك ویل کیږی ، ډیرو حضراتو مفسرینو دلته دامعنٰی مراد اخیستی ده چی قسم دی په اسمان کوم چی لارو والا دی ، دلارو څخه هغه لاری هم مراد کیدی سی په کومو سره چی ملائکی څی راځی او ددی څخه مراد دستورو اوسیارولاری اوددی مدارونه هم کیدی سی کوم چی لیدونکوته په آسمان کی په نظرراځی اوچونکی دا دجوړښت پتی اوکرښی دکپړی زینت اوحسن هم وی په دی وجه څینو مفسرینو حضراتو دلته دَحُبُك معنٰی زینت اوحسن کړي ده ، چې قسم دی په آسمان کوم چی حسن اوزینت والادی ، دا قسم چی دکوم مضمون دپاره راځی هغه په، إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُخْتَلِفٍ کی ذکر دی په ظاهره ددی مخاطب دمکی مشرکان دی کوم چی به درسول الله ﷺ متعلق مختلفی اوګډی وډی خبری کولی ، کله دمجنون ، کله دجادو ګر ، کله دشاعر وغیره خطابونه به یی ورکول اویو احتمال دا هم دی چی ددی مخاطب عام خلګ دامت مسلمانان اوکافران ټول وی او دقول مختلف څخه مراد دا وی چی څینی خو په نبی کریم ﷺ ایمان راوړی او تصدیق یی کوی اوځینی انکار او مخالفت کوی (مظهری)

يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أَفِكَ دَأُفِكَ لفظی معنٰی واپس کیدل، منحرف کیدل دی اودَعَنْهُ په ضمیرکی دوه احتماله دی د دواړو معانیوی جلاجلادی یواحتمال خو دا دی چی ضمیر دقرآن اورسول طرف ته راجع دی اومعنٰی دا وی چی دقرآن اورسول څخه هغه بد نصیبه اوړی ، دکوم دپاره چی محرومی مقدر سوي ده .

اودوهم احتمال دادی چی ضمیردقول مختلف طرف ته راجع وی اومعنٰی دی داوی چی ستاسی دمختلفو اومتضادوخبرو په وجه هغه سړی دقرآن اورسول څخه منکرکیږی کوم چی بدنصیبه اومحرومه وی .

قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ : دَخَرَّاصٌ لفظی معنٰی اندازه لګوونکی اوپه ګمان او په اندازه سره خبری کوونکی دی ، مراد ددی څخه هغه قول مختلف والا کفار اومنکرین دی کوم چی بغیردځه دلیل اووجهی څخه دنبی کریم ﷺ په باره کی متضادی خبری کوی ، په دی وجه دلته دَخَرَّاصُوْنَ ترجمه په کَذَّابُوْن سره که وسی نو بعیده نه ده دهغوی دپاره په دی جمله کی ښرا وی دی کومی چی په حقیقت کی دلعنت په معنٰی کی دی ، (مظهری) دکفارو دذکر څخه وروسته دمومنانو متقیانو ذکر په څو آیتونو کی راځی .

(په عبادت کې شب بیداری او ددی تفصیل)

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ: يَهْجَعُوْنَ : دَهَجُوْعٌ څخه مشتق دی چی معنٰی یی دشپی دخوب راځی په دی کی دمومنانو متقیانو دا صفت بیان سوی دی چی هغوی شپی دالله ﷻ په عبادت کی تیر وی ، او بیدیږی کم او بیدار زیات وی او وخت په لمانځه او عبادت کی تیروی دا تفسیر ابن جریر اختیار کړی دی او دحضرت حسن بصری ؒ څخه دا منقول دی چی متقین حضرات دشپی دوینښ اوسیدو اوعبادت کولومشقت تیروی او ډیرکم بیدیږی ، اوحضرت ابن عباس ؓ، قتاده ؒ ، مجاهد وغیره امامانو دتفسیر ددی جملی مطلب حرف ما په دی کی دنفی دپاره مقررکړی دی او دا یی ښوولی دی چی دشپی لږ حصه په دوی داسی هم راځی چی دوی په کی بیدیږی نه ، بلکه په عبادت لمونځ وغیره کی مشغول وی ددی مطلب په اعتبار سره هغه ټول خلګ ددی مصداق کیږی کوم چی دشپی په څه حصه کی هم عبادت وکی ، برابره خبره ده که په شروع کی یاپه اخره کی یاپه مینځ کی ، په دی وجه حضرت انس ؓ اوابو العالیه ددی مصداق هغه خلګ مقررکړی دی کوم چی دمانښام اوماخستن په مینځ کی لمونځ کوی اوامام جعفر باقر فرمایی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم خلګ دماخستن دلمانځه څخه مخکی نه بیدیږی هغه هم په دی کی دا خل دی (ابن کثیر)
حضرت حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ داحنف بن قیس څخه نقل کړی دی چی هغه به فرمایل چی مادخپل عمل دجنتیانو دعمل سره موازنه وکړه نوومی لیدل چی هغه یو داسی قوم دی کوم چی زمونږ څخه ډیرلوړ اوممتاز دی ، هغه یو داسی قوم دی چی زمونږ عملونه دهغوی درجی ته نه رسیږی ، ځکه چی هغه خلګ دشپی خوب کم کوی اوعبادت زیات ، بیا مادخپلو عملونو د دوږخیانو دعملونو سره موازنه وکړه نوومی لیدل چی هغوی دالله ﷻ او رسول ﷺ تکذیب کوونکی دقیامت څخه انکار کوونکی دی (دکومو څخه چی الله ﷻ مونږ محفوظ وساتلو) په دی وجه زمونږ عملونه دموازنی په وخت کی نه په اصل کی دجنتیانو درجی ته رسیږی اونه (الحمد لله) ددوږخیانو سره یوشان کیږی، نومعلومه سوه چی زمونږ درجه دعمل په اعتبارسره هغه ده دکومی چی الله ﷻ په قرآن کی په دی الفاظوسره ذکر فرمایلی دی ، وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا:سورة التوبة : ۱۰۲ : یعنی نورخلګ هغه دی کوموچی نښه اوبدعملونه خلط ملط کړی دی، نوپه مونږکی نښه سړی هغه دی چی کم ازکم ددی طبقی په حدونوکی وی اوعبدالرحمٰن بن زیدبن اسلم ﷺ فرمایی چی دښی تمیمو یوه سړی زماپلارته وویل چی ای ابو اسامه! مونږ په خپل ځان کی هغه صفت نه کړی پیدا کوم چی الله ﷻ دمتقیانو دپاره ذکرفرمایلی دی یعنی ، قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ : ځکه چی زمونږ حال خو دا دی چی ، قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا لَقُوْمُ : په شپه کی ډیرکم ویښیږو اوعبادت کوو ، زما پلار دده په جواب کی وفرمایل .
طُوبٰى لِمَنْ رَقَدَ إِذَا نَعَسَ، وَاتَّقَى اللهَ إِذَا اسْتَيْقَظَ، (ابن کثیر) خوشخبری ده دهغه سړی دپاره چاته چی خوب ورسی نوبیده سی ، مګرچی بیدارسی نو تقوٰی اختیار کړی یعنی خلاف شرع هیڅ کارنه کوی .
مطلب دا دی چی مقبولیت عندالله صرف دشپی په ډیر ویښ پاته کیدوکی منحصر نه دی ، کوم سړی چی دخوب څخه مجبوروی او دشپی ډیر ویښ نه وی ، مګر په ویښتیا کی دګناه او معصیت څخه ځان ساتی هغه هم دمبارکباد قابل دی .
په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد په روایت دعبدالله بن سلام ﷺ دا منقول دی .

يَاأَيُّهَاالنَّاسُ أَطْعِمُوْا الطَّعَامَ، وَصِلُوا الْأَرْحَامَ، وَأَفْشُوْاالسَّلَامَ،وَصَلُّوابِاللَّيْلِ وَالنَّاس نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ (ابن کثیر)
ای خلګو! تاسی خلګو ته طعام ورکوی دقریبانو سره وصله رحمی ساتی اوهر مسلمان ته سلام کوی او دشپی هغه وخت لمونځ کوی کله چی خلګ بیده وی نو په سلامتیا سره جنت ته دا خل سی .

(دپښلمي داستغفار برکتونه اوفضیلتونه)

وَبِالْأَسْحَارِهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ:یعنی مومنان متقیان دسهارپه وخت کی دخپلوګناهوڅخه استغفارکوی) اسحار دسحرجمع ده،دشپی اخری شپږمی حصی ته سحروایی دشپی په دی اخری حصه کی داستغفارکولوفضیلت په دی آیت کی هم دی اوپه نوروآیتونوکی هم دی لکه وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْأَسْحَارِ،دصحیح حدیثونوپه ټولو کتابونو کی داحدیث ذکر دی چی الله ﷻ دهری شپی په اخری دریمه حصه کی ددنیا آسمان ته نزول اجلالی فرمایی (کوم چی دده دشان مناسب وی ، ددی حقیقت چاته معلوم نه دی) اواعلان فرمایی چی سته یو توبه کوونکی چی زه یی توبه قبوله کړم ، سته یو استغفار کوونکی چی زه ورته مغفرت وکړم (ابن کثیر)

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته دا خبره دنظر قابله ده چی په دی سحری استغفارکی دهغو متقیانو بیان کیږی دکومو حال چی ددی څخه مخکی په آیت کی ښوول سوی دی چی دشپی دالله ﷻ په عبادت کی مشغول وی او ډیر کم بیدیږی په دی حالاتوکی داستغفار کولو په ظاهره څه مطابقت نه معلومیږی ځکه چی طلب دمغفرت خو دګناه څخه کیدی سی ، کومو خلګو چی ټوله شپه په عبادت کی تیره کړی وی هغوی په اخر کی استغفار دکومی ګناه څخه کوی ؟

جواب دا دی چی دی حضراتوته چونکی دالله ﷻ معرفت حاصل دی دالله ﷻ عظمت شان پیژنی اوخپل ټول عبادت دهغه شایانِ شان نه ګڼی ، په دی وجه په خپل دی تقصیر اوکوتاهی استغفار کوی (مظهری)

(صدقه اوخیرات کوونکوته خاص هدایت)

وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ : دسائل څخه مرادهغه غریب حاجتمند دی کوم چی خپل حاجت دخلګو په مخکی ظاهر وی اوخلګ دده مددکوی اودمحروم څخه مرادهغه سړی دی چی دفقیراومفلس اوحاجتمند کیدو باوجود دشرافت نفس په سبب خپل حاجت چاته نه ښکاره کوی ، په دی وجه دخلګو دامداد څخه محروم وی ، په دی آیت کی دمومنانو متقیانو دا صفت وښوول سوچی هغوی دالله ﷻ په لاره کی دمال خرڅ کولو په وخت کی هی صرف سوال کوونکوته نه ورکوی بلکه په داسی خلګوباندی هم نظر ساتی اودحالاتو دتحقیق څخه باخبره وی کوم چی خپل حاجت چاته نه وایی ، اوظاهره ده چی مقصد دایت دا دی چی دامومنان متقیان صرف په بدنی عبادت لمونځ اوشب بیداری باندی بسوالی نه کوی بلکه په مالی عبادت کی هم ددوی لویه حصه وی چی دسوال کوونکو څخه علاوه په داسی خلګوهم نظر ساتی کوم چی دشرافت په سبب خپل حاجت چاته نه ښکاره کوی مګر ددی مالی عبادت ذکرقرآن کریم په دی عنوان سره وفرمایی ، وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ : یعنی داخلګ چی په فقیرانو اومسکینانو کوم خرڅ کوی په هغوی څه احسان نه وراړوی ، بلکه داسی ګڼی او ورکوی یی چی زمونږ په دی خدای راکړی مال کی دهغوی هم حق دی اودحقدار حق هغه ته رسول څه احسان کول نه دی ، بلکه دیو حق او ذمه واری څخه خپله غاړه ازادول دی .

(په افاق او انفس دواړوکي دقدرت نښانې)

وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ (یعنی په مځکه کی ډیری نښانی دقدرت دی دیقین کوونکو دپاره) په تیرو ایتونو کی اول دکفارو اومنکرانو حال اوبد انجام ښوول سوی دی ، بیادمومنانومتقیانوحالات اوصفتونه او د دوی دلوړی درجی ذکر سوی دی ، اوس بیا دکفارو اومنکرانو دقیامت دحال طرف ته غور او دالله ﷻ دکامل قدرت نښانی دوی ته وړاندی کوی او دانکار څخه دواپس کیدو هدایت دی ، نو ددی جملی تعلق دتیری سوی جملی ، إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُخْتَلِفٍ سره سو ، په کومه کی چی دقرآن او رسول څخه دانکار ذکر دی .

او په تفسیرمظهری کی یی دا هم دمومنانو متقیانوپه صفتونوکی داخله کړي ده اودموقنین څخه مراد هم دغه متقین دی ، او په دی کی دهغوی داحال ښوول سوی دی چی هغه ی دالله ﷻ دقدرت په نښوکی کوم چی په اسمان اومځکه کی غورول سوی دی په هغه کی دغور اوفکر اوتدبر څخه کار اخلی چی په

Maktaba Tul Ishaat.com

نتیجه کی یی د دوی ایمان اویقین زیاتیږی لکه چی په یوبل آیت کی د دوی په باره کی ارشاد دی وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ : اوپه مخکه کی چی یی دکومو ننبو دقدرت ذکر فرمایلی دی ، هغه بی شمیره دی ، په مخکه کی درختو ، بوټو اوباغونوته وګوری ، ددی قسمونه، ددی رنګ، بوی، دیوی بوی پانی په پیدائش کی کمالِ حسن، بیاپه دی کی دهریو په خواصو اواثاروکی داختلاف زرګونه قسمونه ، دغه شان په مخکه کی نهرونه ، څاهان اوداوبو نور مرکزونه او ددی څخه تیاریدونکی په لکونو قسمونه مخلوقات ، دمخکی غرونه اوغارونه ، په مخکه کی پیدا کیدونکی حیوانات او د دوی بی شمیره قسمونه ، دهر یو حالت اونفع مختلفی ، په مخکه کی دپیداکیدونکو انسانانو حالات ، مختلفی قبیلی او دمختلفو حصو په انسانانو کی درنګ او ژبی امتیاز، داخلاقو اوعاداتو اختلاف وغیره ، په کومو کی چی انسانان فکر کوی نو په یو یو شی کی دالله ﷻ دقدرت اوحکمت دومره مظاهر پیدا کولی سی چی شمیرل یی هم ګران دی .

وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ : دلته یی دقدرت په ننبو بیانولوکی دآسمان اوفضایی مخلوقاتو ذکر پریښودی صرف دمخکی ذکریی فرمایلی دی کوم چی انسان ته ډیره نژدی ده، په کومه چی انسان اوسیږی اوګرځی راګرځی په دی آیت کی ددی څخه هم زیات نژدی یعنی په خپله دانسان دذات طرف ته یی توجه راوګرځوله چی مخکه اودمخکی مخلوقات هم پریږده په خپله په خپل وجوداوجسم اوپه اندامونوبندونوکی فکروکړه نو یو یو اندام به دالله ﷻ یو دفتر پیدا کی اوپوه سه چی په ټول عالم کی چی کوم دحق تعالی دقدرت نښانی دی ، دانسان په وجودکی موجودی دی ، انسان که دخپل ابتدایی پیدائش څخه تر مرګه پوری په راپیښیدونکو حالاتوکی نظر، غور اوفکر وکی نوده ته به حق تعالی ګویا په خپل مخ ته په نظر ورسی .

چی څنګه یوانسانی نطفه ددنیادمختلفوحصودخوراکونواوپه دنیاکی دخپرو ورولطیفواجزاوویوه خلاصه جوړه سوی دمورپه رحم کی قرارپیداکی بیاددغه نطفی څخه څنګه یوه توته دکچه سوی وینی جوړه سوه بیاورڅخه دژوولی غوښی ټکړه جوړه سوه بیاڅه رنګه په کی هډوکی جوړسول بیاغوښه پرراغلل بیاڅنګه په دغه بی روحه بوټی کی روح واچول سو اودده تخلیق مکمل سو اودی دنیاته راوستل سو، بیایی څنګه کرار کرار ترقی کوله ، دیو بی علمه بی شعوره بچی څخه یو هوښیار عقلمند کار کوونکی انسان جوړ سو اوڅنګه د دوی شکلونه اوصورتونه مختلف جوړ سول چی په اربونو پدمونو انسانانوکی دیو مخ دبل څخه بالکل په فرق سره په نظر راځی ، په دی څو انچه رقبه کی دومره فرقونه اینبوول دچادوس خبره ده؟ بیا د دوی په طبیعتونو اومزاجونو کی اختلاف او ددی اختلاف باوجود یو وحدت دا ټول دهغه دکامل قدرت کرشمه سازی ده ، کوم چی بی مثله اوبی مثاله دی ، فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ .

داهغه شیان دی کوم چی هرانسان دباندی اولیری نه بلکه په خپل بدن کی شپه اوورځ لیدلی سی ددی باوجود هم که هغه دالله ﷻ او دهغه دکامل قدرت اعتراف نه کوی نودا بیا یوڅوک ړوند کیدی سی چی هیڅ نه وینی ، په دی وجه په اخرکی فرمایی ، أَفَلَا تُبْصِرُونَ یعنی آیا تاسی نه وینی ، اشاره دی طرف ته ده چی په دی کی دڅه زیاتی پوهی اوعقل کارنه دی چی نظر صحیح وی نودی نتیجی ته رسیدی سی .

وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ (یعنی په آسمان کی دی ستاسی رزق اوڅه چی ستاسره وعده کول کیږی) ددی بی

Maktaba Tul Ishaat.com

غباره اوبی تکلفه تفسیرهغه دی کوم چی په لنډ تفسیرکی اختیارسوی دی یعنی په آسمان کی دکیدو څخه مراد دادی چی په آسمان کی په لوحِ محفوظ کی لیکل سوی دی اوداظاهره ده چی دهرانسان رزق او څه چی دده سره وعده سوی دی اودده چی څه انجام کیدل دی هغه ټول په لوح محفوظ کی لیکل سوی دی په حدیث کی دحضرت ابوسعید خدری ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی که په تاسی کی یوسړی دخپل مقرره رزق څخه دمحفوظ کیدو اوتښتیدو هم کوشش کوی ،نو رزق به په ده پسی وروسته وروسته منډی وهی ، لکه چی دمرګ څخه څوك نه سی تښتیدی دغسی درزق څخه هم تښتیدل ممکنه نه ده (قرطبی)

اوځینی مفسرین فرمایی چی درزق څخه مراد باران دی ، په دی صورت کی دده په آسمان کی کیدل په دی صورت به وی چی دآسمان څخه مراد جرم سمٰوٰت نه وی بلکه مافوق ورڅخه مراد وی چی آسمانی فضاء په کی داخله ده نوباران کوم چی دوریځو څخه بیریږی ، دی ته هم فی السماء ویل کیږی اودَمَا تُوْعَدُوْنَ څخه مراد جنت اودهغه نعمتونه دی ، واللہ سبحانه وتعالی اعلم

إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ (یعنی لکه څنګه چی تاسی په خپلو خپلو خبروکولوکی څه شبهه نه کوی ،دغه شان دقیامت راتلل هم داسی واضح دی په دی کی دڅه شك اوشبهی ګنجائش نسته دانسان محسوسات کوم چی دلیدو ، اوریدو ، چنبلو ، مسه کولو ، بویولوسره تعلق لری، په دی ټولوکی یی دلته په خاص طور سره دخبرو انتخاب شایدڅکه وکی چی په دی ذکر سؤ ټولو محسوساتوکی کله کله دڅه مرض وغیره په سبب سره التباس راڅی ، په لیدلو اوریدلوکی فرق راتلل معلوم دی ، په بیماری کی ذائقه ځینی وخت خرابه سی ، خوږ شی تریخ ښکاره کیږي مګر خبری داسی شی دی چی په دی کی شك اوچم اوچل نه سی کیدی (مظهری)

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَٰمًا

آیا راغلی ده تا ته خبره دابراهیم ﷺ دمیلمنو چی عزتمند وو ، هرکله چی دننه سو ده ته نو وې ویل سلام ،

قَالَ سَلَٰمٌ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا

هغه وویل سلام دی داخلق دی نا آشنا ، بیا ولاړل خپل اهل ته نورایی وړی په غوړوکی ، بیایی دوی ته مخکې کړو

تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾ فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ

وې ویل چی تاسی ولی نه خوری،بیاوبیریدی دهغوی په زړه کی ، وې ویل مه بیریږه اوخوشخبری ورکړه ده ته دیو

عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُۥ فِى صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ

هلك پوه ، بیا مخ ته راغله دده بی بی خبری کوونکی نو تیك یی ورکی تندی خپل ته او ویی ویل چیری

Maktaba Tul Ishaat.com

عَقِيْمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۰﴾

بوډی او شنده ، هغوی وویل هم داسی ویلی دی رب ستا ، بیشکه هغه دی حکمت والا خبردار .

لنډه تفسیر: (ای محمد ﷺ آیا دابراهیم ﷺ دعزتمندو میلمنو قصه تاته رسیدلی ده (معزز یی ورته یاخو په دی وجه وویل چی ملائکی وی دکومو په شان کی چی دی ، بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ : اویایی څکه وویل چی حضرت ابراهیم ﷺ دخپل عادت مطابق دهغو اکرام کړی وو اومیلمانه ویل ورته بنا په ظاهری حالت دی چی په انسانی شکل کی راغلی وو او دا قصه هغه وخت سوی وه) کله چی هغه (میلمانه) دوی ته راغلل بیا یی دوی ته سلام وکی ، ابراهیم ﷺ هم (په جواب کی) وویل سلام (اووي ویل) چی ناولده خلک (معلومیږی چی) دی (ظاهره خو دا ده چی په زړه کی یی فکر وکی ، قرینه ددی دا ده چی مخ ته جواب دملائکو مذکور نه دی اواحتمال بعید دا هم دی چی په طور دپوښتنی یی دوی ته ویلی وی چی تاسی خو مونږ نه پیژنو او دوی جواب نه وی ورکړی اوحضرت ابراهیم ﷺ دجواب انتظار نه وی کړی ، غرض داسلام اوکلام وسو) بیا خپل کورته ولاړی اویو چاغ ګیلکی (کباب سوی لکه چی دا قول دالله ﷻ دی ، بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ) یی راوړی اوهغه یی دوی ته (یعنی مخ ته) کښیښووی (چونکی هغه خوملائکی وی خوراك یی نه کوی ، دغه وخت حضرت ابراهیم ﷺ ته شك پیدا سو او) وي ویل چی تاسی خوری ولی نه؟ (کله چی یی په دی وینا سره هم خوراك شروع نه کی) نو د دوی څخه په زړه کی وبیریدی (چی داخلګ هسی نه مخالفین اودښمنان نه وی لکه په سورة هودکی تیرسوی دی) هغوی وویل چی ته بیریږه مه (مونږ انسانان نه یو ملائکی یو) او (دا یی وویل) دوی ته یی دیو زوی خوشخبری ورکړه چی لوی عالم (یعنی نبی) به وی (څکه چی په مخلوق کی دټولو څخه زیات علم انبیاؤ ته وی اومراد ددی څخه حضرت اسحٰق ﷺ دی ، دا خبری د دوی سره کیدی) چی په دی کی دده بی بی (حضرت ساره ﷺ چی یوځای ولاړه وه اوریدل یی لقوله تعالی: وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ، داولاد خبریی واوریدی) په چغو اوخبرو راغله بیا (چی کله ملائکو دی ته هم دا خبر واوروی لکه دا قول دالله ﷻ ، فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ : نو په تعجب سره) یی تندی ته تك ورکی اووي ویل چی (اول خو زه) بوډی (بیا) شنده (په دی وخت کی دبچی پیدا کیدل هم عجیبه خبره ده) ملائکو وویل چی (تعجب مه کوه دا قول دالله ﷻ ، اَتَعْجَبِيْنَ ستا پروردګار داسی فرمایلی دی (او) بیشکه هغه لوی حکمت والا لوی پوه دی (یعنی که څه هم فی نفسه دا دتعجب خبره ده، مګر تاسی خاندان دنبوت یاست علم اوپوه درسره ده، ددی معلومیدو سره چی دخدای ارشاد دی نوبیا تعجب نه دی پر په کار)

معلومات اومسئلې: ددی څای څخه دنبی کریم ﷺ دتسلی دپاره په تیروامتونوکی دځوانبیاؤ واقعات بیان سوی دی فَقَالُوْا سَلٰمًا، قَالَ سَلٰمٌ ملائکوسلامًا ویلی وُ خلیل الله په جواب کی سَلٰمٌ په رفع سره وویل څکه چی دمرفوع والی په صورت کی داجمله اسمیه جوړه سوه چی په دی کی دوام اواستمراراوقوت زیات دی نولکه چی په قرآن کی حکم دی چی دسلام جواب دسلام کوونکی دالفاظوڅخه په ښه الفاظوکی دی وی ددی تعمیل یی وفرمایی قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ مُنْكَر په پیښ دمیم اوزبر دکاف نااشنا اواجنبی ته ویل کیږی ، چونکی دګناه کارهم په اسلام کی نا اشنا اواجنبی وی ، په دی وجه ګناه ته هم منکر ویل کیږی ، مراد دجملی دا دی چی داحضرات

Maktaba Tul Ishaat.com

ملایکی په شکل دبشر راغلی وی ، حضرت ابراهیم ﷺ دوی ونه پیژندل ، په دی وجه په خپل زړه کی یی دا وویل چی دا اجنبی خلګ دی کوم چی مونږ نه پیژنو اوممکنه ده چی په خپله یی دمیلمنو په مخکی ددی ذکر په طور داستفهام کړی وی او مقصد یی د دوی تعارف معلومول وی .

فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ، رَاغَ دَرَوْغَ څخه مشتق دی چی معنٰی یی دیو ځای څخه کرار کرار وتل اوپه پټه باندی تلل دی ، مطلب دا دی چی حضرت ابراهیم ﷺ دمیلمنو دپاره دخوراك دانتظام کولو دپاره کورته داسی ولاړی چی میلمانه په پوه هم نه سول ، کنه نو دوی به دخوراك او دمیلمستیا انکار کړی وای .

(دمیلمستیا اداب) ابن کثیر فرمایی چی په دی آیت کی دمیلمه دپاره څو اداب دمیلمستیا بنسول سوی دی ، اوله خبره خو دا ده چی دمخکی څخه یی دمیلمنو څخه پوښتنه ونه کړه چی زه ستاسی دپاره خوراك راوړم ، بلکه په پټه سره ولاړی او د دوی دمیلمستیا دپاره چی ورسره دخوراك دپاره دټولو څخه څه ښه شی وو یعنی ګیلګی ذبح سوی هغه یی کباب کی او رایی وړی او دوهمه دا چی دراوړلو څخه وروسته یی میلمنو ته ددی تکلیف ورنه کی چی دوی خوراك ته راوبلی ، بلکه کوم ځای چی دوی ناست وه ، هلته یی وروړی اوپیش یی کی ورته دریم دا چې دمیلمستیا پیش کولو په وخت کی یی دخبرو په انداز کی په خوراك اصرار نه وو ، بلکه وي فرمایل ، أَلَا تَأْكُلُونَ (آیا تاسی نه خوری؟) اشاره دی طرف ته وسوه چی که څه هم ستاسی حاجت خوراك ته نه وی ، مګر زمونږ دخاطره څه وخوری .

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ : یعنی حضرت ابراهیم ﷺ د دوی دخوراك نه کولو په وجه د دوی څخه خطره محسوسه کړه چی وجه یی دا وه چی دغه وخت دشرفاوو عمل دا وو چی میلمه به څه ناڅه میلمستیاقبلوله اوخوړله به یی کوم چی به میلمستیا دومره هم نه قبلوله دهغه څخه به بیره وه چی دی شاید څوك دښمن نه وی کوم چی دتکلیف رسولو دپاره راغلی وی دغه وخت په غلوظالمانوکی هم داشرافت وو چی دچابه یی څه وخوړل نو بیابه یی هغه ته نقصان نه رسوی ، په دی وجه خوراك نه کول سبب دخطری جوړیدل .

فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ : دَصَرَّةٍ معنٰی غیر عادی اوازدی ، صَرِيْر دقلم څخه وتونکی اوازته وایی ، مراد دا دی چی حضرت ساره ﷺ هرکله چی واوریدل چی ملائکی حضرت ابراهیم ﷺ ته دبچی دپیدائش خوشخبری ورکوی او دا ظاهره وه چی بچی دښځی څخه پیداکیږی اوبی بی حضرت ساره ﷺ وه نو پوه سوه چی دا خوشخبری زمونږ د دواړو دپاره ده نو په غیر اختیاری طور ددی دخلی څخه څه الفاظ دحیرانتیا او تعجب ووتل اووې ویل ، عَجُوْزٌ عَقِيْمٌ : چی اول خو زه بوډی بیاشنډه یعنی په ځوانی کی هم داولاد قابله نه وم اوس په زوړوالی کی به دا څنګه وسی .

ددی په جواب کی ملائکو وفرمایل ، كَذٰلِكَ، یعنی الله ﷻ ته هرڅنګه قدرت دی ، داکار به هم دغسی وسی ، چنانچی څه وخت چی ددی خوشخبری مطابق حضرت اسحٰق ﷺ پیداسو نو دحضرت ساره ﷺ عمر یوکم (۹۹) سل کاله او دحضرت ابراهیم ﷺ عمر سل (۱۰۰) کاله وو (قرطبی)

شپږ (۲۶) ویشتمه پاره ختمه سوه

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

پہ قندھاری پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۲۷)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ، آیت ۳۱ څخه تر ۳۲ پوری	۵
معلومات او مسئلی	۶
آیت ۴۷ څخه تر ۵۵ پوری	۷
معلومات او مسئلی	۸
ایت ۵۶ څخه تر ۶۰ پوری	۹
دپیریانو اوانسانانو دپیدا کولو مقصد	۱۰
﴿ سورة الطور ﴾	۱۲
آیت ۱ څخه تر ۲۸	۱۲
آسمانی کعبه بیت المعمور	۱۷
دفاروق اعظم ﷺ واقعه	۱۷
په شرط دایمان سره دبزرگانو سره نسبی تعلق به په اخرت کی هم نفع ورکی	۱۸
آیت ۲۹ څخه تر ۴۹ پوری	۱۹
معلومات او مسئلی	۲۴
دمجلس کفاره	۲۴
﴿ سورة النجم ﴾	۲۵
آیت ۱ څخه تر ۱۸	۲۵
دسورة خصوصیات	۳۰
دنبی کریم ﷺ څخه په لفظ دَصَاحِبُكُمْ سره دتعبیر کولو حکمت	۳۰
دایتونو دنجم په تفسیر کی دامامانو دتفسیر اختلاف	۳۲
دابن کثیر تحقیق	۳۳
یو علمی اشکال او دهغه جواب	۳۴
دجنت او دوزخ موجوده مقام	۳۶
دذکر سوو آیتونو په تفسیر کی یوبل مفید تحقیق	۳۸
درؤیت باری تعالی مسئله	۴۰
آیت ۱۹ څخه تر ۲۸ پوری	۴۱
دظن مختلف اقسام او ددی احکام	۴۴
آیت ۲۹ څخه تر ۳۲ پوری	۴۴
ضروری خبرداری	۴۷
دصغیره او کبیره گناه تعریف	۴۸
آیت ۳۳ څخه تر ۶۲ پوری	۴۸
شان نزول لند تفسیر	۵۰

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت ابراهیم ﷺ دخاص صفت ایفاء عهد تفصیل	۵۲
دحضرت موسی او ابراهیم ﷺ خاص هدایتونه او تعلیمات	۵۳
دیوه په گناه کی به بل نه سی نیول کیدی	۵۴
دثواب رسولو مسئله	۵۴
﴿ سورة القمر ﴾	**۵۷**
آیت ۱ څخه تر ۸ پوری	۵۸
دسپورمی دوی توتی کیدو معجزه	۵۹
دشق القمر په واقعه څه شبهات او جواب	۶۱
آیت ۹ څخه تر ۱۷ پوری	۶۲
معلومات او مسئلی	۶۳
دحفظ کولو او نصیحت حاصلولو دپاره یی قرآن اسان کړی دی نه چی داجتهاد او استنباط داحکامو دپاره	۶۴
آیت ۱۸ څخه تر ۴۲ پوری او لنډ تفسیر	۶۴
معلومات او مسئلی	۶۸
آیت ۴۳ څخه تر ۵۵ پوری	۶۹
معلومات او مسئلی: دځینو لغاتو تشریح	۷۱
﴿ سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ ﴾	**۷۲**
آیت ۱ څخه تر ۲۵ پوری	۷۲
دسورة ربط او دجملی فَبِاَیِّ آلَاءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبَانِ دتکرار حکمت	۷۳
معلومات او مسئلی	۷۵
آیت ۲۶ څخه تر ۴۵ پوری	۸۰
معلومات او مسئلی	۸۴
فضایی سفرکوم چی نن صبا په مصنوعی سیارو او راکټونو باندی کیږی ددی آیت سره یی هیڅ مطابقت نسته	۸۷
آیت ۴۶ څخه تر ۷۸ پوری	۸۸
معلومات او مسئلی	۹۲
﴿ سورة الواقعة ﴾	**۹۴**
آیت ۱ څخه تر ۵۶	۹۵
معلومات او مسئلی	۱۰۰
دسورة واقعه خصوصی فضیلت او په مرض دوفات کی دعبد الله ابن مسعود ﷺ سبق اموز هدایتونه	۱۰۰
دحشر په میدان کی دحاضرینو دری قسمونه	۱۰۱
داولین او اخرین څخه څه مراد دی؟	۱۰۲
آیت ۵۷ څخه تر ۷۴ پوری	۱۰۸
معلومات او مسئلی	۱۱۰

Maktaba Tul Ishaat.com

آیت ۷۵ څخه تر ۹۲ پورې	۱۱۳
معلومات اومسئلې	۱۱۷
(سورة الحديد)	۱۲۰
آیت ۱ څخه تر ۶	۱۲۰
دسورة حدید ځینې خصوصیات	۱۲۲
دشیطانی وسوسو علاج	۱۲۲
آیت ۷ څخه تر ۱۱ پورې	۱۲۳
دمکی فتح دصحابه کرامو ﷺ ددرجو متعین کولو دپاره دحد فاصل مقررولو حکمت	۱۲۷
دتولو اصحابو ﷺ دپاره دمغفرت اورحمت خوشخبری او دصحابه کرامو ﷺ دباقی امت څخه امتیاز	۱۲۸
دصحابه کرامو ﷺ مقام دقرآن او حدیث څخه پیژندل کیږي دتاریخی روایتونو څخه نه سی پیژندل کیدی	۱۲۹
دصحابه کرامو ﷺ په باره کې دپوره امت اجماعی عقیده	۱۲۹
آیت ۱۲ څخه تر ۱۹ پورې	۱۳۶
په میدان دحشر کې دنور اوتیاری اسباب	۱۳۷
آیا هر مومن صدیق اوشهید دی؟	۱۴۰
آیت ۲۰ تر ۲۱	۱۴۱
معلومات اومسئلې	۱۴۳
آیت ۲۲ څخه تر ۲۴ پورې	۱۴۵
معلومات اومسئلې	۱۴۶
آیت ۲۵	۱۴۷
معلومات اومسئلې	۱۴۸
دآسمانی کتابونو اوپیغمبرانو ﷺ دلیم اصل مقصد دخلګو په عدل او انصاف قائم ساتل دی	۱۴۸
آیت ۲۶ څخه تر ۲۹ پورې	۱۵۰
معلومات اومسئلې	۱۵۳
درهبانیت مطلب اوضروری هدایت	۱۵۴
آیا رهبانیت مطلقا مذموم اوناجائز دی او که څه تفصیل په کې ستة؟	۱۵۲

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

تفسير معارف القرآن د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ

ویی ویل بیا څه مطلب دی ستاسی ای را لیږل سوو ؟ وې ویل مونږ را لیږل سوی یو

اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِيْنٍ ﴿۳۳﴾ مُّسَوَّمَةً

یو ګناهګار قوم ته ، چې را وغورځوو په هغوی باندی کانی دختو څخه ، چې نښانه سوی وی

عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۴﴾ فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۵﴾

ستا درب دطرف څخه دحد څخه دوتونکو دپاره ، بیا وساتل مونږ چې څوک وو هلته ایماندار

فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۶﴾ وَتَرَكْنَا فِيْهَآ اٰيَةً

بیاپیدا نه کی مونږ هلته ما سوا دیو کور دمسلمانانو څخه ، اوباقی پریښوه مونږ په دی کی نښانه

لِّلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۳۷﴾ وَفِيْ مُوْسٰٓى اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى

دهغه چا دپاره چې بیریږي دعذاب دردناك څخه ، اونښانه ده په (حال) دموسی علیه السلام کی هرکله

فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۳۹﴾

چې ولیږي مونږ فرعون ته دښکاره دلیل سره ، بیاهغه مخ واړوی په خپل زورسره اووې ویل چې جادوګردی یالیونی

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۴۰﴾ وَفِيْ عَادٍ اِذْ

نو ونیوی مونږ دی او ددده لښکر بیا مو وویشتی دی په دریاب کی او په ده الزام وو ، اونښه ده په عادیانوکی

اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ﴿۴۱﴾ مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ اِلَّا

هرکله چې ولیږله مونږ په هغوی باندی هوا دخیر څخه خالی ، نه به یی پریښووی یوشی په کوم چې به تیریده چې

جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ﴿۴۲﴾ وَفِيْ ثَمُوْدَ اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۴۳﴾

ذره ذره کړی به یی نه وای ، اونښه ده په ثمودیانو کی هرکله چې وویل سوه هغوی ته نفع واخلی تریو وخت پوری

فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَمَا

بیا مخ واړوی هغوی دخپل رب دحکم څخه بیاونیول هغوی یوی چیغی او هغوی کتل پس

Maktaba Tul Ishaat.com

اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ

طاقت یی ونه درلودی دپورته کیدو او نه دبدلی اخیستو ، اوهلاك سو قوم دنوح ﷺ

قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۴۶﴾

د دوی څخه مخکې دوی وه یو قوم نافرمانه

لنډتفسیر: ابراهیم (ﷺ) ته دنبوت په فراست سره دا هم معلومه سوه چې علاوه دخوشخبری څخه د دوی هم څه مقصود سته نودوی ته یې) وویل (چې) ښه نو (دا ووایاست چې) ستاسی لوی کارځه په مخکی دی؟ ای ملائکو! ملائکو وویل چې مونږ دیو مجرم قوم (یعنی قوم دلوط ﷺ) طرف ته رالږل سوی یو چې مونږ په دوی کلك سوی کانې وورو په کومو چې ستادرب دطرف څخه (یعنی په عالم غیب کی) خاص نښانی هم دی (چې بیان یی په سورة هودکی سوی دی او هغه) دحد څخه دتیریدونکو دپاره (دی ، مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چې هرکله په دی کلو دعذاب وخت نژدی سو) نو مونږځومره چې ایماندارو ته وله مودهغه خای څخه جلاکړل ، نو بغیردمسلمانانو دیوکورڅخه بل یوکور (دمسلمانانو) مونږ هلته نه کی پیدا (داکنایه ده چې هلته بل هیڅ کور دمسلمانانو دسره نه وو ، ځکه چې دکوم شی وجود دالله ﷻ په علم کی نه وی هغه موجود کیدی هم نه سی) او مونږ په دی واقعه کی (دهمیشه دپاره) ددداسی خلګو دپاره یوعبرت پریښووی کوم چې دَدردناك عذاب څخه بیریږی او (مخ ته دحضرت موسیٰ ﷺ اوفرعون قصه واوری چې) دموسیٰ ﷺ په قصه کی هم عبرت دی ، هرکله چې مونږ دی فرعون ته دیوښکاره دلیل (یعنی معجزی) سره ولیږی ، نو ده سره دخپلو ارکانو دسلطنت مخ واړوی اوویی ویل چې داساحر یامجنون دی نو مونږ دی او دده لښکر ونیول او دریاب ته مو ورواچول (یعنی غرق موکړل) او ده کاردملامتیاکړی وو او (مخ ته دعادیانو قصه واوری چې) دعادیانو په قصه کی هم عبرت دی ، کله چې مونږ په دوی نامبارکه هوا ولیږله په کوم شی چې به تیریده (یعنی دهغو شیانو څخه دکوموچې دهلاکیدو حکم وو په کوم شی چې به تیریدله) هغه به یی داسی کوی لکه یوشی چې ذره ذره سی (اومخ ته دثمودیانو قصه واوری) دثمودیانو په قصه کی هم عبرت دی ، کله چې دوی ته وویل سوه (یعنی حضرت صالح ﷺ ورته وفرمایل چې) نور لږ ورځی ارام وکی (یعنی که دکفر څخه ونه ګرځیداست نو لږ ورځی وروسته به هلاك سی) نو (په دی بیرولو هم) هغو خلګو دخپل رب دحکم څخه سرکښی وکړه ، نو دوی عذاب ونیول او دوی (ددی عذاب نښانی) لیدلی (یعنی هغه عذاب په داګه راغلی) نو نه ودریدای سول (بلکه پرمخی پریوتل لکه داقول دالله ﷻ دی جَاثِمِيْنَ) اونه یی (زمونږ څخه) بدله واخیستل سوه او د دوی څخه مخ ته دقوم دنوح ﷺ داحال سوی وو (یعنی په دی سبب سره چې) هغه لوی نافرمانه خلګ وه (هغوی مو هم هلاك کړی وه)

معلومات اومسئلې: په دی خبرو اترو کی چې کله ابراهیم ﷺ ته دا معلومه سوه چې دا میلمانه دالله ﷻ ملائکی دی نو پوښتنه یی وکړه چې تاسی په څه کار پسی تشریف راوړی دی ، دوی دحضرت لوط ﷺ په قوم دعذاب نازلولو ذکر وکی چې دده په قوم به دکانو باران کول کیږی ، اورول به هم دغه څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

ډبرو څخه نه وی ، بلکه دخاوری څخه جوړ سوی کلك کانی به وی .

مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ : یعنی په دغو ډبرو به دالله ﷻ دطرف څخه خاصی نښانی لګیدلی وی ، څینی مفسرین وایی چی په هره ډبره دهغه سړی نوم لیکلی وو ، دکوم دهلاکولو دپاره چی دغه رالیږل سوی وه اوهغه چی به کوم طرف ته تښتیدی هغه ډبره به ورپسی وه او په نورو ایتونوکی چی کوم ددی قوم دعذاب دا ذکر کړی دی چی جبرائیل ﷺ دا ټول ښار پورته کی اونسکور یی کی ، نو هغه ددی منافی نه ده چی اول یی ډبری پر اورولی وی او دهغه څخه وروسته یی ټوله مځکه سرچپه کړی وی .

دحضرت لوط ﷺ دقوم څخه وروسته دحضرت موسی ﷺ او فرعون ذکر فرمایی ، په دی کی فرعون ته چی کله حضرت موسی ﷺ دحق پیغام ورکی نو دفرعون عمل یی دا ذکر وفرمایی ، فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ یعنی فرعون دحضرت موسی ﷺ دطرف څخه مخ واړوی اوخپل قوت یعنی خپلو فوجونو اوامیرانو د دولت طرف ته متوجه سو دَرُكْنٌ لفظی معنی قوت دی دحضرت لوط ﷺ په کلام کی ، أَوْ آوِي إِلٰى رُكْنٍ شَدِيدٍ، ددی معنی دپاره راغلی دی .

ددی څخه وروسته دقوم عاد اوثمود او په اخر کی دقوم نوح واقعه یی بیان فرمایلی ده ، دا واقعات ددی څخه مخ ته څو واړه تیری سوي دی .

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْىدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ

اوجوړ کړی دی مونږ آسمان په لاسو اوزمونږ دهرڅه قدرت سته ، اومځکه خوره کړی ده مونږ نوڅه ښه خوروونکی مونږ کړاو په هرشی

خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ

کی پیدا کړی دی مونږ جوړی چی تاسی فکروکی ، پس تښتی الله طرف ته زه تاسی ته دهغه دطرف څخه بیرونکی

مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۱﴾

ښکاره یم ، او مه جوړوی دالله سره بل معبود ، زه تاسی ته دهغه دطرف څخه بیرونکی ښکاره یم ،

كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ

دغه شان چی د دوی څخه مخکې خلقو ته کوم رسول راغی ، نو هغه ته یی دا وویل چی جادوګردی

مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ

یالیونی ، آیا دا وصیت یی کړی دی اومړه سوی دی یوبل ته داسی نه ده بلکه داخلق سرکښه دی ، نوته واپس سه د

بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ وَّذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾

دوی څخه نو په تاڅه الزام نسته ، او نصیحت کوه څکه چی نصیحت نفع ورکوی ایماندارو ته .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: اومونږ آسمان په (خپل) قدرت سره جوړکی او زمونږ وسیع قدرت دی او مونږ مځکه دفرش (په طور) جوړکړه نو مونږ (څنګه) ښه خپرونکی یو (یعنی په دی کی موځنګه څنګه نفعی اینبی دی) اومونږ هرشی دوه دوه قسمه جوړکی (ددی قسم څخه مراد مقابل دی اوظاهره ده چی په هرشی کی څه ناڅه صفت ذاتیه یاعرضیه داسی معتبروی په کوم سره چی په بل شی کی ددغه صفت نقیض یاضد ملحوظ وی ددی مقابل شمیرل کیږی لکه آسمان مځکه جوهرعرض، ګرمی یخ، خوږ تریخ، کوچنی لوی، خوشنمابدنما، ړنا تیاره اودغسی نور) چی تاسی (په دی مصنوعاتو سره په توحید باندی) پوه سی (اوای پیغمبره ﷺ دوی ته ووایه چی کله دا مصنوعات په یووالی دصانع دلالت کوی) نوتاسی (ته په کار دی چی په دی دلیل ونیسی) دالله (دتوحید) طرف ته منډی وهی (اوول خو په وجه دذکر سوو دلیلونو په خپل عقل دتوحید عقیده ضروری وګنی، بیاپه دی سربیره) زه (هم) ستاسی (دپوهولو) دپاره دالله ﷻ دطرف څخه په ښکاره طور سره بیرونکی (جوړ سوی راغلی) یم (چی دتوحید څخه منکر ته به عذاب وی نو دعذاب څخه ډبیری په اعتبار سره عقیده دتوحید نوره هم ضروری سوه) او (بیاپه نور زیات وضاحت سره وایم چی دخدای سره بل هیڅ معبودمه مقرروی (دعنوان په تغیر سره دتوحید دمضمون په وجه سره ډبیرولو بیا تاکید دی چی) زه ستاسی (دپوهولو) دپاره دالله ﷻ دطرف څخه ښکاره بیرونکی (راغلی) یم (مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چی ته بیشکه په واقع کی نذیر مبین یی لکه چی اوس ذکر سوه لیکن داستا مخالفین داسی جاهلان دی چی نعوذ بالله تاته کله ساحر کله مجنون وایی، نو ته صبرکوه څکه چی څنګه دوی تاته وایی) دغه شان کوم (کافران) خلګ چی د دوی څخه مخ ته تیرسوی دی هغوی ته یو پیغمبر هم داسی نه دی راغلی کوم ته چی هغوی (یعنی ټولو یاځینو) ساحر یا مجنون نه وی ویلی (مخ ته دکفارو په دی قول سَاحِرٌ اَوْمَجْنُوْنٌ باندی په متفق کیدوتعجب وریادوی چی) ایاپه دی خبره یی یوبل ته وصیت کړی راروان دی (یعنی دا اجماع داسی سوه لکه چی یوبل ته وایی اوپه مخه رواروان وی چی ګوری که یو رسول راسی نو تاسی هم زمونږ په شان وایاست، مخ ته دواقعی حقیقت بیان فرمایی چی یوبل ته وصیت خونه وو واقع سوی، څکه چی ځینی قومونه خو دځینو سره یوځای سوی نه دی) بلکه (وجه ددی اجماع او اتفاق دا سوه چی) دا ټول په جمع سرکښه خلګ دی (یعنی سبب ددی وینا سرکښی ده چونکی دا په دی ټولوکی مشترکه ده، په دی وجه وینایی هم مشترکه سوه) نو (کله چی مخ ته خلګ هم داسی تیر سوی دی او سبب ددی معلوم سو چی سرکښی ده نو) ته د دوی طرف ته خیال مه کوه (یعنی د دوی دتکذیب پروا اوغم مه کوه) څکه چی پرتا هیڅ قسم الزام نسته (لکه دا قول دالله ﷻ دی چی، وَلَا تُسْاَلُ عَنْ اَصْحَابِ الْجَحِيْمِ) او (په اطمینان سره خپل منصبی کارکوه فقط) نصیحت کوه څکه چی نصیحت کول (دکومو په قسمت کی چی ایمان نسته په هغوی خو به اتمام حجت وسی او دکومو په قسمت کی چی ایمان دی هغو) ایمان راوړونکو ته (هم اوکوم چی مخ ته مومنان دی، دوی ته هم) نفع ورکړی (البته په نصیحت کی عامی فائدی اوحکمتونه دټولوپه اعتبار سره دی، ته دا کوه او دچا په ایمان نه راوړلو غم مه کوه)

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکی دقیامت اواخرت بیان او ددی په نه منونکو باندی دعذاب ذکر وو په دی آیتونوکی هم دحق تعالی دکامل قدرت بیان دی چی په دی سره دقیامت او په دی کی دمړو په

Maktaba Tul Ishaat.com

دوباره ژوندی کیدو چی کوم تعجب دمنکرانو دطرف څخه کیدی ، دهغه ازاله ده ، دارنګه دتوحید دائبات اوپه رسالت دایمان تاکید دی .

بَنَيْنَاهَا بِاَيْدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ : لفظ دَآيْدٍ دقوت او قدرت په معنی کی راځی ، دلته حضرت ابن عباس ﷺ دَآيْد دا تفسیر فرمایلی دی .

فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ : یعنی منډی وهی دالله ﷻ طرف ته ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی مراد دا دی چی دخپلو ګناهونو څخه تښتی دالله ﷻ طرف ته دتوبی په ذریعه ، ابوبکر وراق او جنید بغدادی ﷺ فرمایی چی نفس اوشیطان دګناهونو طرف ته دعوت ورکوونکی او لمَسَوُونکی دی ، تاسی د دوی څخه وتښتی دالله ﷻ طرف ته پناه واخلی نو هغه به تاسی د دوی دشر څخه محفوظ کړی (قرطبی)

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ اُرِيْدُ اَنْ

اوما پیریان او انسانان خالص دخپلی بندګی دپاره پیداکړی دی ، زه نه غواړم د دوی څخه رزق اونه غواړم چی

يُّطْعِمُوْنِ ﴿۵۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ﴿۵۸﴾ فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ

ما ته خوراك راکړی ، بیشکه الله چی دی هغه رزق ورکوونکی زوآور مضبوط دی ، نو ددغو ګناهګارو

ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۵۹﴾ فَوَيْلٌ

هم بوکه ډکه سوي ده لکه چی بوکه ډکه سوه د دوی دملګرو نو زما څخه تلوار مه کوی ، پس خرابی ده

لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۶۰﴾

منکرانو لره دورځی د دوی هغه څخه چی د دوی سره یی وعده سوی ده .

لنډتفسیر: اوما پیریان اوانسانان (په اصل کی) ددی دپاره پیداکړی دی چی زماعبادت کوی (اوتبعاً اوتکمیلاً للعبادة دپیریانو اوانسانانو په پیدائش نوری نفعی مرتب کیدل ددی منافی نه دی او دغه شان دځینو پیریانو اوانسانانو څخه دعبادت نه صادریدل هم ددی مضمون منافی نه دی ، ځکه چی مطلب ددی ، لِيَعْبُدُوْنِ : اراده تشریعی ده ، یعنی دوی ته دعبادت حکم ورکول ، نه دا چی اراده تکوینیه ده یعنی په عبادت مجبور کول ، اوتخصیص دپیریانو او انسانانو په دی وجه دی چی دعبادت څخه مراد عبادت بالاختیار اوابتلاء دی او په ملائکوکی که څه هم عبادت سته ، ابتلاء نسته او په نورو مخلوقاتو ، حیواناتو او نباتاتو وغیره کی اختیار نسته ، مطلب دارشاد دا دی چی ماته مطلوب شرعی د دوی څخه عبادت کول دی ، باقی (زه دهغوی څخه (دمخلوق) درزق رسولو درخواست نه کوم اونه دا درخواست کوم چی دوی ماته خوراك راکړی الله ﷻ په خپله دی ټولوته رزق رسوونکی دی (نو مونږ ته ددی ضرورت څه وو چی مونږ دمخلوقاتو رزق رسانی د دوی متعلق کوو او هغه) قوت والا نهایت قوت والا دی (چی په ده کی دعجز ضعف اوځه قسم احتیاج عقلی احتمال هم نسته نو د دوی څخه دخوراك غوښتلو هیڅ امکان

Maktaba Tul Ishaat.com

هم نسته ، دا ترغیب سو مخ ته ترهیب دی چی کله دعبادت وجوب ثابت سو او دعبادت اهم رکن ایمان دی نو که داخلګ اوس هم په شرك اوکفر باندی مصر وی، نو (واوری چی) ددی ظالمانو (دسزا) هم نمبر (په علم الهی کی مقرر دی) لکه د دوی (دتیرو) هم خیالو نمبر چی (مقرر) وو (یعنی دهرمجرم ظالم دپاره دالله ﷻ په علم کی خاص خاص وخت مقرر دی ، دغه شان لمبر په لمبر دهر مجرم واری راځی نو هغه په عذاب کی نیول کیږی ، کله په دنیا او په اخرت دواړوکی اوکله صرف په اخرت کی) نو زما څخه دی (دعذاب) ژر طلب نه کوی (لکه چی د دوی عادت دی چی دعذاب واوری نو درواغجن یی ګنی ځکه بیا تلوار کوی) غرض (دا چی هغه دلمبر ورځی راسی په کومو کی چی دټولو څخه زیاته سخته ورځ دقیامت ده نو) ددی کافرانو دپاره به دهغه ورځی په راتللو لویه خرابی وی دکومی چی د دوی سره وعده کول کیږی (چنانچی په خپله سورة هم ددغه وعدی څخه شروع کیږی ، إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ، وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ او په دی سره دسورة دشروع او اخر حُسن ښکاره دی)

معلومات اومسئلي

﴿ دپیریانو اوانسانانو دپیدا کولو مقصد ﴾

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ : یعنی مونږ پیریان او انسانان دعبادت څخه ماسوا دبل کار دپاره نه دی پیداکړی په دی کی دوه اشکاله په ظاهری نظرکی پیداکیږی اول دا چی کوم مخلوق الله ﷻ دځه خاص کار دپاره پیداکړی دی او دا اراده یی هم ده چی دغه مخلوق دغه کارکوی نو په عقلی طور به دانا ممکنه او محاله وی چی بیادغه مخلوق ددغه کارڅخه انحراف وکی څکه چی دالله ﷻ دمشیت اوارادی څخه خلاف هر یوکار محال دی ، دوهم اشکال دا دی چی په دی آیت کی دانسان اوپیری پیدائش صرف په عبادت کی منحصر سوی دی حال دا دی چی د دوی په پیدائش کی علاوه دعبادت څخه نوری فائدی اوحکمتونه هم موجود دی ، داولنی اشکال په جواب کی څینو مفسرینو حضراتو دامضمون صرف په مومنانو پوری مخصوص کړی دی ، یعنی مونږ مومنان پیریان اومومنان انسانان بغیر دعبادت څخه دبل کار دپاره نه دی پیدا کړی اومومنان خوظاهره ده چی کم اوبیش دعبادت پابندوی داقول دضحاك اوسفیان وغیره دی اوپه دی ذکر سوی آیت کی دحضرت ابن عباس ﷺ په یوقرآئت کی لفظ دمومنین هم ذکر دی اوقرائت داسی دی ، وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْا : په دی قرائت سره هم ددی تائیدکیږی چی دا مضمون صرف دمومنانو په حق کی راغلی دی اوپه لنډتفسیرکی ددی اشکال درفع کولو دپاره دا ویل سوی دی چی په دی آیت کی دالهی ارادی څخه مراد اراده تکوینی نه ده چی خلاف واقع کیدل یی محال دی ، بلکه اراده تشریعی ده یعنی داچی مونږ دوی صرف ددی دپاره پیداکړی دی چی مونږ دوی دعبادت دپاره مامورہ کړو ، امرِ الهی چونکی دانسانی اختیارسره مشروط سوی دی ، ددی خلاف واقع کیدل محال نه دی یعنی الله ﷻ خو حکم دعبادت ټولوته ورکړی دی ، مګر ددی سره یی اختیار هم ورکړی دی ، په دی وجه چی چاخپل خدای ورکړی اختیار صحیح خرڅ کی ، په عبادت کی شروع سو اوچا دا اختیار غلط استعمال کی او دعبادت څخه منحرف سو ، دا قول دحضرت علی کرم الله وجهه څخه بغوی نقل کړی دی او زیاته ښه اوبی غباره توجیه هغه ده کومه چی په تفسیرِ مظهری کی

Maktaba Tul Ishaat.com

سوي ده چې مراد دايت دا دی چې مونږ د دوی پيدائش په داسی انداز سره کړی دی چې په دوی کی استعداد اوقابليت دعبادت کولو وی چنانچې دهر يوه پيری او انسان په فطرت کی دا استعداد قدرتی موجود دی ، بيا څوك دا استعداد په صحيح مصرف کی خرڅ کړی او کامياب سی ، څوك دا استعداد په خپلو ګناهونو اوشهواتو کی ضائع کوی .

او ددی مضمون مثال هغه حديث دی په کوم کی چې نبی کريم ﷺ فرمايی ، كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَاَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ اَوْ يُمَجِّسَانِهِ : يعنی هر پيداکيدونکی بچی په فطرت پيداکيږی ، بيا دده موراوپلاردی (ددی فطرت څخه واړوی) څوك يی يهودی جوړوی څوك مجوسی) په فطرت دپيداکيدوڅخه مراد داکثرو عالمانو په نزد په دين اسلام باندی پيدا کيدل دی .

نو لکه څنګه چې په دی حديث کی دا ښوول سوي ده چې په هر انسان کی په فطری اوخلقی طور دايمان اواسلام استعداد اوصلاحيت اينبی دی بيا کله دده مور اوپلار داصلاحيت ضائع کړی اودکفر په طريقو يی وغورځوی دغه شان په دی آيت کی وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ : دا مطلب کيدی سی چې دپيريانو اوانسانانو په هر فردکی الله ﷻ استعداد اوصلاحيت دعبادت اينبی دی . والله تعالی اعلم

او د دوهم اشکال جواب په لنډ تفسير کی دا راغلی دی چې ديومخلوق دعبادت دپاره پيداکول دده څخه دنورو فائدو او نفعو نفی نه کوی . مَا اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ الاية : يعنی ماپيريان اوانسانان ددی دپاره نه دی پيداکړی چې ګويا دعامو انسانانو دعادت مطابق ورڅخه زه څه خپله فائده اخلم چې دوی رزق پيداکړی زما دپاره يازما دنورمخلوق دپاره يا دا چې دوی يی وګټی او په مايی وخوری ، دا ټول کلام دانسان دعام عادت مطابق وسو ځکه چې دلوی څخه لوی انسان چې کوم غلام اخلی اوخرڅ په کوی نومقصد يی ددغو غلامانو څخه خپل کار اخيستل، په خپلو ضرورتونو اوکارونوکی ورڅخه مدد اخيستل اوڅه ګټل اومالك ته ورکول وی، حق تعالی ددی ټولو شيانو څخه پاك اوبالا او برتردی ، په دی وجه فرمايي چې د دوی دپيدا کولو څخه زما خپله څه نفع مقصودنه ده .

ذَنُوْبًا ، لفظ دَذَنُوْبَ په زور دذال سره په اصل کی غټی بوکی ته ويل کيږی اودکلو په عاموڅاهانو باندی داوبو ډکولو دپاره په غرض دسهولت دډکولو لمبر او وار مقررکول کيږی ، هر يو اوبه ډکوونکی په خپل وار اوبه ډکوی په دی وجه دلفظ دَذَنُوْب معنی دلته دوار او حصی دپاره سوي ده ، مراد دا دی چې څنګه امتونو ته په خپل خپل وخت کی دعمل کولو موقع او وار ورکول سو، کومو خلګو چې په خپل وارکی کار ونه کی ، هغه هلاك او برباد اوپه عذاب کی ونيول سوه ، دغه شان دموجوده مشرکانو هم وار او وخت مقرر دی ، که تر دغه وخته پوری دوی دخپل کفر څخه منع نه سول نو دخدای عذاب به دوی يو وخت هم په دی دنيا کی اوکه نه وی نو په آخرت کی به يی خامخا نيسی ، په دی وجه دوی ته ووايه چې خپله تلواری پريږدی ، يعنی دا کفار چې کوم په طور د درواغجن کولو دا وايی چې که مونږ واقعی مجرمان يو او په مجرمانو عذاب راتلل ستا په قول سره ثابت وی نو بيا په مونږ عذاب ولی نه راځی ؟ د دوی جواب دا دی چې عذاب په خپل مقرره وخت باندی او په خپل وار راځی ، ستاسی وارهم راتلونکی دی نو تلواری مه کوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن

سُورة الذاريات نن دوشنبه (۲۱) ربيع الاول ـــــ ۱۳۹۱ ـــــ نه هـ باندی پوره سو .

﴿ سورة الطور ﴾

سُوْرَةُ الطُّوْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلْمَعُوْنَةُ فِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة الطور په مکه کی نازل سو او په دی کی یو کم پنځوس (۴۹) آیتونه او دوي (۲) رکوع ګانی دی .

شروع کوم په نوم سره دالله ﷻ چی بی حده مهربانه اونهایت رحم والا دی .

وَالطُّوْرِ ﴿۱﴾ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ﴿۲﴾ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ﴿۳﴾ وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ﴿۴﴾

قسم دی په طور ، او په لیکلی سوی کتاب ، په خپور سوو پانو کی ، او په آباد کور

وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ﴿۵﴾ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ﴿۶﴾ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾

او په لوړ چت ، او په جوشیدونکی دریاب ، بیشکه عذاب درب ستا واقع کیدونکی دی ،

مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ﴿۸﴾ يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ﴿۹﴾ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ﴿۱۰﴾

نسته څوک ددی دفع کوونکی ، په کومه ورځ چی وښوری اسمان په ښوریدو ، او روان سی غرونه په روانیدو

فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ﴿۱۲﴾

نو خرابی ده په دغه ورځ درواغجن کوونکو لره ، کوم چی خبری جوړوی لوبی کوونکی

يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿۱۳﴾ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا

په کومه ورځ چی ډکه کړل سی جهنم ته په ډکه کولو ، دا دی هغه اور کوم چی تاسی

تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا

درواغجن ګڼی ، اوس آیا دا جادو دی یا تاسی وینی نه ؟ ور دا خل سی دی ته نو که صبر کوی

اَوْ لَا تَصْبِرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾

او که صبر نه کوی ، برابر ده تاسی لره تاسی ته هغه بدله درکول کیږي کوم چی تاسی کول ،

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ

کوم چې ویریدونکی دی هغه په باغونو کی دی اونعمتونو کی ، میوی خوړونکی کوم چې دوی ته ورکړل د دوی رب

وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ

او وساتل دوی رب د دوی دعذاب د دوزخ څخه ، خوری اوچښی په خوند سره بدله دهغو کارونو

تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَصْفُوفَةٍ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾

چې تاسی کول ، تکیه وهونکی په تختونو خپرو سوو په قطار ، او واده به کړو دوی ته حوری غټ سترګی ،

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ

اوکوم خلق چې ایمان راوړی اود دوی په لار ولاړ سی ، اولاد د دوی په ایمان وبه رسوو مونږ دوی ته اولاد د دوی

وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾

اوکم به نه کړو مونږ د دوی څخه عمل د دوی یوه ذره ، هر سړی په خپله کتنه کی منبتی دی ،

وَأَمْدَدْنَاهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا

اوپرله پسی ورکړی مونږ دوی ته میوی اوغوښی دکوم شی چې دوی غواړی تښتوی به دیوبل څخه په دی کی پیالی ،

لَا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ

چې نه به په دغو شرابو کی بې هوښی وی او نه په ګناه کې اچول او ګرځی به په دوی باندی هلکان د دوی ګویاملغلری دی

مَكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوا إِنَّا كُنَّا

په غلاف کی دننه ، او مخامخ به وی څینی څینو ته دیو بل څخه به پوښتنه کوی ، وایی به مونږ وو ددی

قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾

مخکی په خپلو کورونو کی بیریدونکی ، پس احسان وکی الله په مونږ او وی ساتلو دعذاب ګرم څخه

إِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾

مونږ وو مخکې په بللی به مو هغه ، بیشکه هغه دی نیک سلوک والا مهربانه .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: قسم دی په طور (غر) او په هغه کتاب چې په ښکاره کاغذکی لیکلی دی (مراد ددی څخه اعمال نامه ده دکوم په نسبت چې په نورو آیتونوکی راغلی دی ، كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنْشُورًا: او په کوم شی کی چې دغه لیکل سوي ده ، هغه ته يې ځښيها کاغذ وويل) او (قسم دی) په بيت المعمور (چې په اووم آسمان کی عبادت خانه ده دملائکو لکه په درکی دی مرفوعًا) او (قسم دی) په لوړ چت (مراد آسمان دی الله فرمایی وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا : او فرمایی الله ﷻ ، اَللّٰهُ الَّذِی رَفَعَ السَّمٰوَاتِ : او دا تفسیر دحضرت علی ﷺ په صحیح سند سره په کنزالعمال کی دمستدرك اوحاکم څخه روایت دی) او (قسم دی) په دریاء شورکوم چې (داوبو څخه) ډك دی (مخ ته جواب دقسم دی) چې بیشکه ستا درب عذاب به خامخا واقع کیږی څوك یی منع کولی نه سی (او دا به په هغه ورځ واقع کیږی) په کومه ورځ چې به آسمان وښوریږی اوغرونه به (دخپل ځای څخه) لیږی سی (مراد دقیامت ورځ ده اوخپرول په اعتبار دمعنی متبادر وی یامراد ددی څخه څیریدل دی کوم چې په نورو آیتونوکی دی ، فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَاءُ : په روح المعانی کی دابن عباس ﷺ څخه دواړه تفسیرونه نقل دی او په دواړوکی څه تعارض نسته ، مخ ته وروسته د دواړو تحقق کیدی سی ، او دلته دغرونو په څنګ کیدل ذکر دی اوپه نورو آیتونوکی ذره ذره کیدل بیا الوتل ذکردی، لکه دا قول ، يَنْسِفُهَا رَبِّیْ او دا قول ، وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا فَكَانَتْ هَبَاءً : او په دی قسمونوکی دا مقصد ذهن ته نژدی کول دی ، دکوم دپاره چې قسم اخیستل سوی دی اوهغه دا چې دقیامت دوقوع اصل وجه جزاء اوسزاء ده او په مجازات کی مدار دکار شرعی احکام دی ، نو دطُور په قسم اخیستوکی اشاره وسوه چې الله ﷻ صاحب کلام اواحکام دی ، بیا ددی احکامو مخالفت یاموافقت مبنی ده دمجازات، په عمل نامه باندی په قسم اخیستلوکی اشاره وسوه ، ددی مخالفت یاموافقت محفوظ کیدو یامنضبط کیدوته مجازات په دی هم موقوف دی چې داحکام الهی اطاعت ضروری وی ، دبیت المعمور په قسم کی اشاره وسوه چې عبادت داسی ضروری امر دی چې ملائکو ته هم باوجود ددی چې د دوی دپاره جزا اوسزا نسته ، ددی څخه نه دی خلاص سوی ، بیا نتیجه دمجازات دوه شیان دی جنت او دوږخ ، دآسمان په قسم کی اشاره وسوه چې دجنت مکان داسی لوړ دی لکه آسمان ، او دبحرِمسجورپه قسم کی اشاره وسوه چې دوږخ هم داسی خوفناك شی دی لکه سمندر ، دتخصیص دا وجه داقسامو دتقسیم کیدی سی او دنفسِ قسم توجیه دسورة حجر دایت لَعَمْرُكَ لاندی اوغرض اوغایت یی دسورة صافات په شروع کی تیرسوی دی ، مخ ته ددغه ورځی ځینی واقعات ارشاد فرمایی چې کله داثابته سوه چې دمستحقینو دعذاب دپاره به عذاب ضرور واقع کیږی) نوکوم خلګ چې (دقیامت اونورروحق کارونو اوتوحید او رسالت) درواغجن کوونکی دی (او) کوم چې (دتکذیب) په مشغله کی په بی هوښی سره لګیدلی دی (چې په دی سره دغه مستحق دعذاب سوی دی) دهغوی به په دغه ورځ لویه کم بختی راسی، په کومه ورځ چې به دوی د دوږخ داور طرف ته وردیکه سی (څکه چې په خوشحالی هغه ته څوك نه ورځی ، بیاچې کله د دوی دغورځولو وخت سی نو په داسی حالت سره به یی نیسی ورغورځوی به یی، يُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِی وَالْأَقْدَامِ : او دوی ته به دوږخ وښوول سی او زَجْرًا به ورته وویل سی چې دا هغه دوږخ دی کوم چې به

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسی دروغجن کوی (یعنی په کومو آیتونوکی چی ددی خبر وو هغه به مو دروغجن کوله اودارنګه دغو ایتونو ته به سحر وایه ، خیر دغه خوستاسي په نزد سحروو) نوایا دا (هم) سحردی (وګوری او ووایاست) یاداچی تاسی ته (اوس هم) په نظر نه راځی (لکه چی په دنیاکی دنظر نه راتلو په وجه سره منکر سوی واست نبه نو اوس) په دی کی دا خل سی بیا برابره خبره ده که (په دی کی) صبرکوی اوکه صبرنه کوی ستاسی په حق کی دواړی خبری برابری دی (نه داسی کیدی سی چی ستاسی په واویلا سره تاسی ته نجات حاصل سی، اونه داسی کیدی سی چی ستاسی په تسلیم او انقیاد اوسکوت باندی رحم وسی او ویستل سی ، بلکه همیشه به په دی کی پاته کیدل وی) اوځنګه چی تاسی کول هم هغسی بدله به تاسی ته درکول سی (تاسی کفر کوی کوم چی دټولوځخه لویه نافرمانی اوداللہ ﷻ دحقوقو اوغیرمتناهی کمالاتو ناشکری ده ، نو په بدله کی به د دوزخ پاته کیدل دهمیشه دپاره نصیب وی کوم چی سخت اوغیرمتناهی عذاب دی (مخ ته ددی داضدادو بیان دی یعنی) پرهیزګاره خلګ به بیشکه (دجنت) په باغونو اوسامان دعیش کی وی (او) هغوی ته چی کوم شیان (دعیش اوارام) دهغوی پروردګار ورکړی وی په هغه سره به یی زړونه خوشحاله وی او دهغوی پروردګار به هغوی دعذاب د دوزخ څخه محفوظ کړی (او په جنت کی به یی داخل کی ، وبه فرمایی ورته چی) نبه خوری چښی یی په خوند سره دخپلو (هغو نیکو) عملونو په بدله کی (کوم چی په دنیاکی تاسی کول) تکیه لګوونکی پرتختونو کوم چی برابر غورول سوی دی او مونږ به دهغوی دښائسته غټو سترګو والاوو سره (یعنی دحورو سره) ودونه وکړو (داحال خو دټولو ایماندارو سو) او (مخ ته دهغو خاصو مومنانو ذکردی دکومو اولاد چی هم ایماندار وو ، نو ارشاد دی چی) کوم خلګ چی ایمان راوړی او د دوی اولاد هم په ایمان کی د دوی ملګری سول (یعنی هغو هم ایمان راوړی ، که څه هم په عملونوکی هغوی دخپلو پلارانو مرتبی ته ونه رسیدل لکه چی عدم ذکر داعمالو ددی قرینه ده اودارنګه په حدیث کی وضاحت دی ، كَانُوْا دُوْنَهُ فِي الْعَمَلِ وَكَانَتْ مَنَازِلُ آبَائِهِمْ أَرْفَعَ وَلَمْ يَبْلُغُوْا دَرَجَتَكَ وَعَمَلَكَ، رَوَاهَا فِي الدُّرِّ الْمَنْثُوْرِ: نوګویا چی د دوی په عمل کی دکمی مقتضا دا وه چی د دوی درجه هم کمه وی لیکن ددغو مومنانو پلارانو داکرام او خوشحالولو دپاره) مونږ به دهغوی اولاد هم (په درجه کی) دهغوی سره شامل کو او (ددی شاملولو دپاره) به مونږ دهغوی (یعنی متبوعینو جنتیانو) دعمل څخه څه شی کم نه کو (یعنی داسی به نه کوو ، چی ددی متبوعینو ځینی عملونه واخلو او د دوی اولاد ته یی ورکو او دواړه برابر کو ، مثلاً دیوه سړی سره شپږ سوه روپی اودیوه سره څلور سره او د دواړو برابرول مقصود وی نو ددی یوصورت خودا کیدی چی دچاسره شپږ سوه روپی وی دده څخه سل واخلی اوځلورو سوو والا ته ورکول سی چی د دواړو سره پنځه پنځه سوه سی اوبل صورت کوم چی دکریمانو دشان لائق دی دا دی چی دشپږو سوو والا څخه هیڅ وانخلی بلکه دی څلور سوو والا ته دوه سوه دخپل طرف څخه ورکړی اودواړه برابر کړی ، نو مطلب دا دی چی هلته به اول صورت نه واقع کیږی چی اثر یی دا وی چی دمتبوع څخه دعملونو دکمیدوپه وجه سره دی لاندی درجی ته را وستل سی او تابع لږ پورته پسی بوتلل سی او دواړه په یوه متوسطه درجه کی پاته کړی ، داسی به نه وی بلکه بل صورت به واقع سی متبوع به په خپله لوړه درجه کی وی اوتابع به ورپسی هلته ورسول

Maktaba Tul Ishaat.com

سی او په متبوع او اولاد کی دایمان شرط ځکه دی چی که دغه اولاد مومنان نه وی نو دمومنانو پلارانو سره نه سی یوځای کیدی ځکه چی دکافرانو ځخه، هر سړی په خپلوعملونو (دکفر) کی به محبوس (په اور کی او نیول سوی) وی (لکه دا قول دالله ﷻ، كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِينِ : په درکی دا تفسیردحضرت ابن عباس ﷺ ځخه دی یعنی دنجات هیڅ صورت یی نسته ، په دی وجه د دوی یوځای کیدل دمومنانو پلارانو سره نه سی متصور کیدی ، په دی وجه په یوځای کیدوکی ایمان داولاد شرط دی) او (مخ ته بیا دمطلق ایماندارو اوجنتیانو بیان دی چی) مونږ به دوی ته میوی اوغوښی دځه قسم ځخه چی د دوی خوښی وی روزانه زیاتی ورکوو (او) هلته به په خپل مینځ کی (په طور دخوش طبعی دشرابو) جامونه دیوبل تښتوی را تښتوی چی په دغو (شرابو) کی به نه بی ځایه کیدل وی (ځکه چی نشه به په کی نه وی) اونه به ځه عبثی خبری (دعقل اوپوهی ځخه خلاف) وی اود دوی خواته به (دمیوو وغیره راوړلو دپاره) داسی هلکان ځی راځی (دا هلکان به ځوك وی ددی تحقیق به په تفسیر دسورة واقعه کی راسی) کوم چی به خاص د دوی (دخدمت) دپاره وی (او د ډیر حسن اوجمال ځخه به داسی وی چی) گویا په حفاظت سره اینبوول سوی مغلری دی (چی ذره گرد اوغبار نه وی پر ، اوشان وشوکت یی داعلی درجی وی) او (دوی ته به روحانی خوشحالي هم حاصله وی ، چنانچی په دی کی دیوی بیان دا دی چی) دوی به یو بل ته مخامخ سی ، خبری به کوی (اوپه خبروکی) به دا هم وایی چی (کرار کرار) مونږ خو ددی ځخه مخکی په خپلو کورونو (یعنی په دنیا) کی (دکار دانجام ځخه) ډیر بیریدلو نو خدای ﷻ په مونږ لوی احسان وکی اومونږ یی د دوږخ دعذاب ځخه خلاص کړو (او) مونږ ددی ځخه مخ ته (یعنی په دنیاکی) دده ځ ه دعاګانی غوښتلی (چی مونږ د دوږخ ځخه محفوظ کړی اوجنت ته مو بوزی نو الله ﷻ زمونږ دعا قبوله کړه) هغه واقعی لوی احسان کوونکی مهربان دی (اوپه دی مضمون سره خوشحالی کیدل ظاهر دی اوچونکی دا کار په دوه حیثیته سره نعمت وو یوفی نفسه دعذاب ځخه محفوظ کیدل ، دوهم زمونږ دناکارو بندګانو غرض قبلول ، په دی وجه په دوو عنواناتو سره یی تعبیر وسو)

معلومات اومسائل: وَالطُّوْر: دطور معنی په عبرانی ژبه کی دغر ده چی درختی په راختلی وی ، دلته دطور ځخه مراد هغه طورِ سینین دی کوم چی دمدین په مځکه کی واقع دی ، په کوم چی حضرت موسی ﷺ دالله ﷻ سره خبری کړی وی .

په ځینو روایتونو دحدیث کی دی چی په دنیاکی ځلور غرونه دجنت دی په دغوکی یو طور دی (قرطبی) په طور باندی په قسم اخیستو سره دده خاص تعظیم اوتشریف طرف ته هم اشاره ده او دی طرف ته هم چی دالله ﷻ دطرف ځخه دبندګانودپاره څه کلام اواحکام راغلی دی دکوموپابندی چی په دوی فرض ده وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ فِي رَقٍّ مَنْشُورٍ : رَقّ په اصل کی نری باریکی ځرمنی ته ویل کیږی کومه چی به دلیکلو دپاره دکاغذ په ځای جوړیده ، مراد ددی ځخه هغه شی دی په کوم چی لیکل سوی وی ، په دی وجه ددی ترجمه په کاغذ سره کول کیږی او دکتاب مسطور ځخه مراد یاخو دانسان عمل نامه ده ، لکه چی په لنډ تفسیرکی لیکل سوی دی اوځینو مفسرینو ددی ځخه مراد قرآن کریم اخیستی دی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

(آسماني کعبه بيت المعمور)

وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ : بيت معمور په آسمان کی دملائکو کعبه ده ، ددنيا دکعبی بالمقابل ده ، دصحيحينو داحاديثو څخه ثابته ده چی دمعراج په شپه کله چی نبی کريم ﷺ اووم آسمان ته ورسيدی نودوی دبيت المعمور طرف ته بوتلل سو کوم ته چی روزانه اويا زره ملائکی دعبادت دپاره داخليږی ، بيا هيڅکله دوی ته دوباره دلته دراتلو نوبت نه راڅی (ځکه چی روزانه دنورو نوو ملائکو لمبر وی) ابن کثير

بيت معمور داووم آسمان داوسيدونکو ملائکو کعبه ده ، په دی وجه دمعراج په شپه کی کله چی نبی کريم ﷺ بيت معمور ته ورسيدی نوو ليدل چی حضرت ابراهيم ﷺ ددی ديوال ته تکيه لګولی ناست دی چونکی هغه ددنيا دکعبی بانی وو ، الله ﷻ ددی په جزا کی دآسمان دکعبی سره هم دده خاص تعلق قائم کی (ابن کثير)

وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ : دبحر څخه مراد سمندر دی ، اومَسْجُوْر دَسَجَرَ څخه مشتق دی چی دډيرو معانيو دپاره استعماليږی ، يوه معنٰی يی داور بليدل هم دی ، ځينو مفسرينو حضراتو دلته دامعنٰی اخيستی ده چی قسم دی په سمندر چی اوربه جوړ سی ، په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی دقيامت په ورځ به ټول سمندر اورجوړ سی ، لکه چی په نورو آيتونوکی دی ، وَاِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ : يعنی چار چاپيره سمندر به ټول يو اور جوړ سی په ميدان دحشرکی جمع سوی انسانان به راګير کړی ، دا معنٰی حضرت سعيدبن مسيب ﷺ دحضرت علی ﷺ څخه نقل کړي ده ، حضرت ابن عباس ﷺ اوسعيد بن مسيب رحمه الله، مجاهد رحمه الله، عبيد الله بن عمير ﷺ هم دا تفسير کړی دی (ابن کثير)

دحضرت علی ﷺ څخه يو يهودی پوښتنه وکړه چی جهنم کوم ځای دی؟ نو دوی وفرمايل سمندر دی ، يهودی هم چی دتيرو کتابونو عالم وو ، ددی تصديق وکی (قرطبی)

اوحضرت قتاده ﷺ وغيره دَمَسْجُور معنٰی، مَمْلُوْ کړی ده ، يعنی داوبو څخه ډک ابن جرير دامعنٰی اختيار کړي ده (ابن کثير) دا معنٰی په لنډ تفسيرکی لوړه بيان سوي ده .

إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ :مَالَهُ مِنْ دَافِعٍ (بيشکه ستادرب عذاب به واقع کيږی هغه ته څوك دفع کوونکی نسته) دا جواب دقسم دی لوړپه طور، دصحيفو دعملونو ، بيت المعمور ، آسمان، سمندر چی دکوم مضمون دپاره قسمونه اخيستل سوی دی ، دهغه دا بيان دی چی په کفارو باندی به دالله ﷻ عذاب ضرور واقع کيږی .

دفاروق اعظم ﷺ واقعه : حضرت فاروق اعظم ﷺ يوه ورځ سورة طور ووايه چی دی آيت ته راورسيدی نو يو سوړ اسويلی يی وکی چی بيا ددی څخه وروسته شل ورځی بيمار وو ، خلګ به يی پوښتنی ته راتلل مګر چا ته دا معلومه نه سوه چی دابيماری څه ده (ابن کثير)

حضرت جبيربن مطعم ﷺ فرمايی چی زه دمسلمانيدو څخه مخکی يووارمدينی طيبی ته ددی دپاره راغلم چی دنبی کريم ﷺ سره دبدر دقيديانو متعلق خبری وکړم زه چی راورسيدم نونبی کريم ﷺ دمانښام په لمانځه کی سورة طور وايه اواوازيی دمسجد څخه دباندی رارسيدی کله چی يی دا آيت ووايه، إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ مَالَهُ مِنْ دَافِعٍ :ناڅاپه زمادا حالت سوچی ګويازما زړه دبيری څخه څيری سو ، مافوراً اسلام قبول کی ماته دغه وخت داسی محسوسيده چی زه به ددی ځای څخه اخواته نه سم چی عذاب به په ما راسی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

يَوْمَ تَمُورُ السَّمَاءُ مَوْرًا : په لغت کی رپیدونکی حرکت ته مَوْر ویل کیږی د آسمان رپیدونکی حرکت کوم چی به د قیامت په ورځ وی دا دهغه بیان دی .

(په شرط دایمان سره دبزرګانو سره نسبي تعلق به په اخرت کي هم نفع ورکي)

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ (یعنی هغه خلک کوم چی ایمان راوړی او دهغوی اولاد هم په ایمان کی د دوی تابع سی یعنی ایمان راوړی نو مونږ به د دوی اولاد هم په جنت کی د دوی سره یوځای کو) دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ به دمومنانو صالحانو اولاد هم د دوی دبزرګانو پلارانو درجی ته ورسوی ، که څه هم هغوی دعمل په اعتبار سره ددغه درجی مستحق نه وی ، ددی دپاره چی ددغو بزرګانو سترګی یخی سی (رواه الحاکم والبیهقی فی سننه والبزاز وابو نعیم فی الحلیة وابن المنذر وابن جریر وابن ابی حاتم ، ازمظهری)

اوطبرانی دحضرت سعید بن جبیر ﷺ څخه روایت کړی دی ، هغه وایی چی حضرت ابن عباس ﷺ فرمایلی دی او زماګمان دا دی چی هغوی دا دنبی کریم ﷺ څخه روایت کړی دی چی کله یوسړی جنت ته داخل سی نو دخپل مور اوپلار اوښځی اواولادپه حقله به پوښتنه وکی (چی هغه کوم ځای دی؟) ده ته به وویل سی چی هغه ستا درجی ته نه دی را رسیدلی (په دی وجه دهغوی په جنت کی جلا مقام دی) داسړی به عرض وکی چی ای زما پروردګاره! ماچی کوم عمل کړی وو ، هغه مادځان او ددی ټولو دپاره کړی وو ، نو دالله ﷻ دطرف څخه به حکم وسی چی هغوی هم دی درجی ته په جنت کی دده سره راورسوی (ابن کثیر)

حافظ ابن کثیر ددی ذکر سوو روایتونو دنقل کولوڅخه وروسته فرمایی چی په اخرت کی ددی روایتونو څخه دا ثابته سوه چی دصالحانو پلرونو په برکت سره به د دوی اولادته فائده ورسیږی اوپه عمل کی د دوی ددرجی دکمیدو باوجود به دخپلو صالحانو پلارانو درجی ته ورسول سی ، ددی بل مخ چی دصالح اولاد په وجه به والدینو ته نفع رسیږی ، دا هم په حدیث سره ثابت دی ، په مسند احمد کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ به په جنت کی دخپلو ځینو نیکوبندګانودرجه د دوی دعمل دمناسبت څخه ډیره لوړه کړی نو دوی به پوښتنه وکړی چی زما پروردګاره ماته دامقام اودرجه دکوم ځای څخه حاصله سوه (زماعمل خو ددی قابل نه وو) نو جواب به ورکول سی چی ستاسی اولاد ستاسی دپاره دعا اواستغفار وکی ، دا دهغه اثردی (رواه احمد وقال ابن کثیر اسناده صحیح ولم یخرجوه ولکن له شاهد فی صحیح مسلم عن ابی هریرة ﷺ)

وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ : دَأَلَتْ او اِیْلَات لفظی معنی کمول دی (قرطبی) معنی دایت دا ده چی دصالحینو اولاد به د دوی دعمل د درجی څخه لوړ کړی دَصالحانو سره به یی دیو ځای کولو دپاره داسی ونه کړی چی دصالحانو دعمل څخه به څه کم کړی او د دوی داولاد عمل به په پوره کړی، بلکه دخپل فضل څخه به یی دهغوی سره برابر کړی .

كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ : یعنی هرانسان به په خپل عمل کی بندوی داسی به نه وی چی دبل ګناه به پرده وروارووی ، یعنی لکه څنګه چی په تیر ایت کی دصالحانو داولاد څخه به دصالحانوپه خاطرسره درجه زیاته کړی ، داعمل به په نیکیو کی خو وی ، په ګناهونوکی به دیو دګناه اثر پربل نه لویږي (ابن کثیر)

Maktaba Tul Ishaat.com

فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿۲۹﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ

نو ته نصیحت کوه چی ته دخپل رب په فضل سره نه دپیریانو څخه خبر اخیستونکی یی او نه لیونی یی ، آیا وایی چی دا شاعر دی مونږ انتظار کوو په ده دگردش ،

الْمَنُوْنِ ﴿۳۰﴾ قُلْ تَرَبَّصُوْا فَاِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ﴿۳۱﴾ اَمْ تَاْمُرُهُمْ

دزمانې ، ته ووایه تاسی انتظار کوی زه هم تاسی سره انتظار کوونکی یم ، آیا د دوی عقلونه

اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ اَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۳۲﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ۚ بَلْ

دوی ته دا ښیی یا دا خلق په شرار کی دی ، یا وایی چی دا قرآن ده پخپله جوړی کړی دی داسی نه ده

لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۳﴾ فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖٓ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ

بلکه دوی یقین نه کوی ، پس په کار ده چی راوړی یوه خبره ددی په شان که دوی رښتینی وی ، آیا

خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ اَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ

دوی پیدا سوی دی دځانه ، یا دوی دی پیدا کوونکی ، یا دوی جوړ کړی دی اسمانونه

وَالْاَرْضَ ۚ بَلْ لَّا يُوْقِنُوْنَ ﴿۳۶﴾ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ اَمْ هُمُ

او مځکه داسی نه ده بلکه دوی یقین نه کوی ، یا د دوی سره دی خزانی د رب ستا یا دوی یی

الْمُصَيْطِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ اَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ فَلْيَاْتِ مُسْتَمِعُهُمْ

دا روغه دی، یا د دوی سره څینه ده چی په هغه سره اوری پس په کار دی چی راوړی کوم چی یی اوریدلی وی

بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ اَمْ لَهُ الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۳۹﴾ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا

سند ښکاره دهغه څخه ، آیا دهغه دپاره لونی دی اوتاسی دپاره زامن ، یا ته غواړی د دوی څخه څه

فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۰﴾ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۴۱﴾

اجر پس دغه تاوان په دوی بار دی ، آیا دوی سره خبر دی دغیبو پس دوی هغه لیکی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ

یا غواړی څه تدبیر کول ، پس کافران راځی په تدبیر کی ، آیا دوی لره

إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾ وَإِنْ يَرَوْا كِسْفًا مِنَ

بل معبود دی دالله څخه ماسوا ، هغه الله پاك دی ، د دوی دشرك جوړولو څخه ، او که ووینی یوه تخته

السَّمَاءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَرْكُومٌ ﴿٤٤﴾ فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ

داسمان څخه راغورځیدونکی وبه وایی چی دا وریځ ده کلکه سوی ، پس پریږده دوی تردی چی وویني خپله هغه ورځ

الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَلَا هُمْ

چی په هغه کی ولویږي په دوی کړپ دبربښنا ، په کومه ورځ چی به په کار ور نه سی دوی لره د دوی تدبیر هیڅ

يُنْصَرُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ

اونه به د دوی مدد وکړل سی ، او ددې ظالمانو دپاره یو عذاب دی ددې څخه ماسوا او لیکن ډیر په دوی کی

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٧﴾ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

نه پوهیږي ، اوته صبر کوه حکم د رب خپل ته پس ته زمونږ دسترګو په مخکې یی اوپاکی بیانوه دخپل رب

حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿٤٩﴾

په ثناء سره څه وخت چی پورته کیږي ، او په څه وخت دشپه کی پاکی بیانوه او دستورو په واپس کیدو کی

لنډتفسیر: (هرکله چی په تامضامین دتبلیغ کولو دپاره وحی کیږی لکه چی لوړدجنت اودوزخ دمستحقینو تفصیل سوی دی) نوته (په دی مضامینو سره خلګ) پوهوه څکه چی ته دالله ﷻ په فضل سره نه کاهن یی اونه مجنون یی (لکه چی دمشرکانو داقول دسورة والضحیٰ په شان نزول کی نقل دی، قَدْ تَرَكَكَ شَيْطَانُكَ، رواه البخاری، ددی مطلب دا دی چی ته کاهن نه سی کیدی ، څکه چی کاهن دشیطانانو څخه خبرونه حاصلوی اوستا دشیطان سره څه واسطه نسته اوپه یوایت کی دی، وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ، په دی کی ستا څخه دجنون نفی سوی ده، مطلب داچی ته نبی یی اودنبی کارهمیشه نصیحت کول دی ، که څه هم خلګ هرڅه وایی) ها ایا داخلګ (علاوه دکاهن اومجنون ویلو څخه ستاپه نسبت) داسی (هم) وایی چی داشاعر دی (او) مونږ دده په باره کی دحادثی دمرګ انتظار کوو (لکه چی په درمنثورکی دی چی قریش

Maktaba Tul Ishaat.com

په دارالندوة کی جمع سول او دده په باره کی یی دا مشوره وکړه چی لکه څنګه چی نورشاعران مړه سول اوختم سول ، دوی هم په هغوی کی یو دی ، دغه شان به دی هم هلاك سی نو داسلام قصه به ختمه سی) ته روایه چی (ښه نو) تاسی انتظارکوی زه هم ستاسی سره منتظر یم (یعنی تاسی زماانجام ته گورۍ ، زه ستاسی انجام ته گورم ، په دی کی اشارةً پیش گویی ده چی زما انجام فلاح اوکامیابی ده اوستاسی انجام خساره اوناکامی ده ، او دا مقصود نه دی چی تاسی به مړه سی اوزه نه مړکیږم ، بلکه ددغو خلګو چی ددی څخه کوم مقصدوو چی دده دین به ونه چلیږی او دی به مړسی نو دین به یی ختم سی ، په جواب کی ددی رد مقصود دی ، چنانچی هم دغسی وسوه او دغه خلګ چی داسی داسی خبری کوی نو) آیا د دوی عقلونه (دکوم چی دوی پیر مدعیان دی) دوی ته ددی خبرو تعلیم کوی یا داده چی داشریر خلګ دی (د دوی دعقل اوپوهی دعوی کول د دوی ددی قول څخه ثابته ده، لَوْكَانَ خَيْرًامَاسَبَقُونَاإِلَيْهِ : الاحقاف ، ۱۱ ، او دمعالم دنقل څخه ددی نور تائیدکیږی چی دقریشو غټان لوی مشهور عقلمندان وه ، نو په دی آیت کی د دوی دعقل حالت ښوول سوی دی چی بس صاحبه صرف دا عقل دی کوم چی داسی تعلیم درکوی او که دا دعقل تعلیم نه دی نو خالص شرارت اوضد دی) البته آیا هغوی دا (هم) وایی چی د دوی دا (قرآن) په خپله جورِ کړی دی (نو تحقیقی جواب خو ددی دا دی چی دا خبره نه ده) بلکه (دا خبره صرف په دی وجه وایی چی) داخلګ (په وجه دعناد ددی) تصدیق نه کوی (اوقاعده دا ده چی دکوم شی بنده تصدیق نه کوی که په زر واره هغه حق وی مګرهمیشه یی نفی کوی او دوهم الزامی جواب دا دی چی ښه ده نوکه دا ده جورکړی وی) نو دا خلګ (هم عربیان اولوی فصیح اوبلیغ اوقادرالکلام دی) داسی څه کلام دی (جورکړی) رادی وړی که دوی (په دی دعوه کی) ربښتینی وی (دا ټول مضامین درسالت متعلق دی ، مخ ته دتوحید متعلق خبری دی ، چی داخلګ کوم چی دتوحید څخه منکردی نو) آیا داخلګ بغیر دځه خالق څخه خود بخوده پیداسوی دی یادوی په خپله دځان خالقان دی ؟یا(داچی نه په خپله خالقان دی اونه بغیردخالق پیداسوی دی لیکن) هغوی آسمانونه اومځکه پیداکړی دی (اودالله ﷻ سره دخالقیت په صفت کی شریك دی ، لنډه دا چی کوم سړی صفت دخالقیت خاص دالله ﷻ سره مخصوص کیدل اوپه خپله دځان هم دخالق دمحتاج کیدو عقیده لری نوعقلاً پرده لازمه ده چی دتوحید هم قائل سی دالله ﷻ سره څوك نه شریکوی او دتوحید څخه انکار هغه څوك کولی سی کوم چی دخالقیت صفت دالله ﷻ سره مخصوص نه ګڼی ، یا دخپل مخلوقیت څخه منکر وی اوچونکی داخلګ دخپل غور اوفکر دنیست والی په وجه په دی نه پوهیږی ، چی کله خالق یودی نو معبودهم لازمی یوپه کار دی ، په دی وجه مخ ته د دوی ددی جهل طرف ته اشاره ده چی په واقع کی داسی نه ده) بلکه داخلګ (په وجه دجهل په توحید) یقین نه کوی (دغه جهل دا دی چی په دی کی فکر نه کوی چی په خالقیت اومعبودیت کی تلازم دی ، دا خبری دتوحید متعلق بیان سوی ، مخ ته درسالت متعلق د دوی دنوروګمانونو رد دی ، چنانچی هغوی به دا هم ویل چی که نبوت حاصلیدی ، نو فلانی فلانی سردارډمکی یاطائف ته به حاصل سوی وای ، حق تعالی ددی جواب ورکوی چی) ایا ددی خلګو سره ستاسی درب (دنعمتونو اورحمتونو چی نبوت هم په کی داخل دی) خزانی دی (چی چا ته غواړی نبوت ورکی ، لکه داقول دالله ﷻ دی ، أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَةَ

Maktaba Tul Ishaat.com

رَبِّكَ) یاداخلگ (ددی محکمی دنبوت) حاکمان دی (چی چا ته غواړی نبوت ورکوی ، یعنی دورکولو دوه صورتونه دی ، یوخوداچی مثلاً خزانه په خپله قبضه کی وی ، دوهم دا چی په قبضه کی نه وی خوقابضان دخزانی دده محکوم وی چی دده دستخط وویني نو ورکوی یی ، دلته یی ددواړونفی وفرمایله مطلب یی دا دی چی داخلگ کوم چی درسالت محمدیه څخه منکردی اودمکی اوطائف سرداران درسالت مستحق گرځوی ، د دوی سره ددی څه عقلی دلیل خوسته نه، بلکه په خپله ددی په عکس عقلی دلیلونه قائم دی اوپه دی وجه یی صرف په استفهام انکاری سره بسوالی وفرمایی ، اوس مخ ته ددلیل نقلی نفی فرمایی یعنی) ایا ددی خلگو سره څه څینه ده چی په هغه سره (آسمان ته خیژی) خبری اوری (یعنی دلیل نقلی وحی آسمانی ده او ددی دعلم دوی طریقی دی یاخو وحی په چا دآسمان څخه نازله سی یاصاحب وحی آسمان ته وخیژی او ددی دواړو نفی کیدل ددی خلگو څخه ښکاره دی ، مخ ته ددی په حقله دیوعقلی احتمال ابطال فرمایی چی که فرض کړه داخلگ دا دعوی کوی چی مونږ آسمان ته خیژو او دهغه ځای خبری اورو) نو په دوی کی چی کوم (دهغه ځای) خبری اوریدلی وی (په دی دعوه دی) څه صفا دلیل پیش کی (چی په هغه سره ثابته سی چی دا سړی په وحی مشرف سوی دی ، لکه چی زمونږ نبی په خپله وحی باندی دلیلونه خارقه یقینیه لری ، مخ ته بیا دتوحیدپه باره کی دیوخاص مضمون په حقله خبره ده یعنی دتوحید منکران چی کوم ملائکوته دخدای لونې وایی اوشرک کوی نومونږ د دوی څخه پوښتنه کوو چی) آیا دخدای دپاره لونې (منتخب سوی) اوستاسی دپاره زامن (منتخب سول ، یعنی دځان دپاره خو هغه شی خوښوی کوم چی داعلی درجی ګڼی اودخدای دپاره هغه شی منتخب کوی کوم چی دادنی درجی ګڼی چی بیان یی دسورة صافات په اخرکی په تفصیل سره اومدلل تیر سوی دی ، مخ ته بیا درسالت متعلق خبره ده چی ستا درسالت دحقانیت ثابتیدو باوجود که داخلگ ستا تابعداری کول دومره بدګڼی نو) ایاته د دوی څخه څه معاوضه (دتبلیغ داحکامو) غواړی چی هغه تاوان یی پردی خلگو بوج دی (اودا ددی قول دالله ﷻ په شان دی ، أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا الخ ، مخ ته دقیامت اوجزا په حقله خبره ده چی هغه خلگ چی کوم دا وایی چی اول خوقیامت سته نه اوکه بالفرض وی هم نومونږ به هلته هم په ښه حالت کی یو لکه دا قول دالله ﷻ دی ، وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُجِعْتُ إِلَى رَبِّي إِنَّ لِي عِنْدَهُ لَلْحُسْنَى : نو مونږ ددی په حقله د دوی څخه پوښتنه کوو چی) آیا د دوی سره (علم د) غیب دی چی دوی (دهغه دمحفوظ کولو دپاره) لیکی (دا داحقر په نزد کنایه ده د ، يَحْفَظُوْنَ، څخه، څکه چی کتابت طریقه ده دحفظ، نو لنډه دا سوه چی په کوم کار اثباتاً یانفیاً څه عقلی دلیل قائم نه وی ، هغه محض غیب دی ، ددی دعوی اثباتاً یانفیاً کوی څوك چی په څه واسطه سره په دغو غیبو مطلع سی اوبیا دمطلع کیدو څخه وروسته هغه دامحفوظ هم ساتی ، په دی وجه که دمعلومیدو څخه وروسته محفوظ نه وی ، بیاهم حکم او دعوی به بغیر دعلمه وی ، نو تاسی چی کوم دقیامت دنفی او دځان دپاره دَحُسْنٰى قائل یاست ، نوآیا تاسی ته په غیبو باندی په څه واسطه سره اطلاع درکول سوي ده ، لکه چی زمونږ نبی ﷺ ته دقیامت داثبات اوستاسی څخه دښه حالت دنفی خبر (غیبی) په واسطه دوحی ورکول سوی دی اوهغه دامحفوظ ساتی اونورو ته یی رسوی مخ ته درسالت په حقله یوه بله خبره ده هغه داچی) ایا داخلگ (دصاحب رسالت سره)

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه بدي کولو اراده لري (چې بيان يې په نورو ايتونوکې دی، وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ اَوْ يَقْتُلُوكَ اَوْ يُخْرِجُوكَ : نو داکافران په خپله به (ددی) بدی (په ګناه کې) ونيول سی (چنانچې په دی قصدکې ناکامه سول اوپه بدرکې قتل سول ، مخ ته بيا دتوحيد په حقله خبره ده چې) آيا د دوی دالله ﷻ څخه ماسوا بل معبود دی ، الله ﷻ د دوی دشرک څخه پاک دی او (مخ ته بيا درسالت په حقله يوه خبره ده هغه دا چې دا خلګ درسالت دنفی دپاره يوه خبره دا هم کوی چې مونږ خو ستا رسالت به هلته ومنوچې ته په مونږ دآسمان يوه ټکړه راوغورځوی ، لکه چې الله ﷻ فرمايی ، وَقَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ، څخه تر، اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا: پوری ، نو ددی جواب دا دی چې اول خو په دعوٰی باندی برابره خبره ده که دغه دعوٰی دسالت وی يابل څه مطلق دليل په دی شرط چې صحيح وی ، قائمول کافی دی کوم چې درسالت ددعوی په وخت کی بغير دځه قدح اوجرح قائم دی او دځه خاص دليل قائمول ضروری نه دی او نه په دی سره په دعوٰی دنبوت کی څه قدح لازميږی، تبرعًا که څه فرمائشی دليل قائم سی نو دا هغه وخت کله چې په دی کی څه مصلحت وی ، مثلاً درخواست کوونکی طالبِ حق وی نو دا وګڼل سی چې خير په دی ذريعه به ده ته هدايت وسی اوکه بل څه معتدبه حکمت وی او دلته دامصلحت هم نسته، ځکه چې د دوی دا فرمائش دحق دپاره نه دی ، بلکه محض دتعنا اوعنادپه وجه دی اودغه داسی ضديان دی چې) که چيری (د دوی دافرمائشی معجزه ظاهره هم سی او) هغوی دآسمان ټکړی ووينی (هم) چې رارواته ده رالويږی نو (هغه ته هم) داسی به ووايی چې داخو قط په قط وريځ ده (لکه داقول دالله ﷻ دی ، وَلَوْ اَنَّا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ، نو کله چې مصلحت هم نه دی او دنورو مصلحتونو نفی هم مونږ ته معلومه ده ، بلکه د دوی فرمائشی معجزی واقع کيدل خلافت حکمت دی نو کله چې ضرورت نسته ، مصلحت نه دی بلکه خلاف مصلحت دی بياولی واقع سی او نه ددی دوقوع په نيست باندی دنبوت نفی کيږی ، مخ ته د دوی په غلو فی الکفر باندی کوم چې دلورو آيتونو څخه اوپه شدت عناد باندی کوم چې داخری آيت څخه معلوميږی ، په طور دتفريح حضور ﷺ ته تسلی ورکول سوی ده ، فرمايی چې کله داخلګ داسی طاغيان اوباغيان اوغاليان دی) نو د دوی څخه (دايمان په توقع کولو غم مه کوه ، بلکه) دوی (د دوی په حالت باندی) پريږده ، تردی چې د دوی دخپلی هغی ورځی سره واسطه راسی، په کومه کی چې به دوی بی هوښه سی (مراد دقيامت ورځ ده او ددی صَعِقَ تفصيل دسورة زمر په اخری آيت ، وَنُفِخَ الخ ، په تفسيرکی تيرسوی دی اودَحَتّٰی دمعنٰی تحقيق دسورة زخرف په اخرکی کوم ځای چې حَتّٰی يُلٰقُوْا، راغلی دی ، تير سوی دی ، مخ ته ددغی ورځی بيان دی يعنی) په کومه ورځ چې د دوی تدبيرونه (کوم چې يی په دنياکی داسلام دمخالفت اودخپلی کاميابی په باره کی کول) د دوی هيڅ په کار ورنه سی اونه (ديو ځای څخه به) دوی ته مدد حاصل سی (نه دمخلوق دطرف څخه چې ددی خو امکان نسته او نه دخالق دطرف څخه چې ددی خو وقوع نسته يعنی په دغه ورځ به دوی ته حقيقت معلوم سی ، باقی ددی څخه ديخوا ته ايمان راوړونکی نه دی) او (په اخرت کی خو دا مصيبت به پر دوی راځی ليکن) ددی ظالمانو دپاره مخ ته ددی (عذاب) څخه هم عذاب کيدونکی دی (يعنی په دنياکی لکه قحطی اوپه غزوه بدرکی قتل کيدل) ليکن په دوی کی اکثروته معلومه نه ده (اکثر يی شايد په دی وجه وفرمايل چې دځينو دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

ایمان مقدر وو او د دوی دعدم علم ، په وجه ددی چی په علم سره بدلیدونکی وو ، په دی وجه یی دغه عدم علم مقرر نه کی) او (کله چی تاته معلومه سوه مونږ د دوی دسزا دپاره یووخت معین کړی دی نو) ته دخپل رب په (دی) انتخاب په صبر سره کښینه (او ددی خلګو دپاره دالله ﷻ دانتقام تلوار مه کوه کوم چی ته دمسلمانانو دخواهش او د دوی دامداد په حیثیت سره غواړی اومه په دی خیال سره په انتقام کی تلوار کوه چی دا خلګ به دمهلت په موده کی تاته څه ضرر ورسوی ، نو ددی هم څه اندیښنه مه کوه ځکه چی) ته زمونږ په حفاظت کی یی (بیا بیره دچاده چنانچی هم داسی وسوه) او (که د دوی دکفر غم پرزړه راځی نو علاج یی دا دی چی دالله ﷻ طرف ته توجه کوه مثلاً داچی) دپورته کیدوپه وخت کی (مثلاً دمجلس څخه یادخوب څخه دپورته کیدوپه وخت،مثلاًپه تهجد کی) دخپل رب تسبیح اوثناوایه او دشپی (په څه حصه) کی هم دهغه تسبیح وایه (مثلاًدماخستن په وخت کی) او دستورو (دپریوتو) څخه وروسته هم (مثلاًدسهارلمونځ اومطلق ذکرهم په دی کی راغی ، اوتخصیص ددی وختونو په خاصو خاصو وجهو سره داهتتمام دپاره دی ، مطلب دا چی خپل زړه دی خوا ته مشغول ساته بیابه دفکر اوغم غلبه نه وی)

معلومات اومسائل : فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا : ددښمنانو ددښمنی اومخالفت اوتکذیب څخه نبی کریم ﷺ ته دتسلی ورکولو دپاره دسورة په اخرکی اول خو یی دا وفرمایل چی ، زمونږ په نظرونوکی یی ، یعنی زمونږ په حفاظت کی یی ، مونږ به تا د دوی دهر شرڅخه محفوظ کوو ، ته د دوی دځه خبری پروامه کوه لکه چی په بل یو آیت کی ارشاد دی ، وَاللهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ الله ﷻ به دخلګو څخه ستا حفاظت فرمایی .

ددی څخه وروسته یی دالله ﷻ په تسبیح اوثناکی دمشغول کیدوحکم وفرمایی کوم چی اصل مقصد دژوند هم دی او دهر مصیبت څخه دساتلو اصلی علاج هم دی ، فرمایی ، وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ یعنی دالله ﷻ حمداوثناکوه ، کله چی ته ودریږی ، ددریدو څخه مراد دخوب څخه ولاړیدل هم کیدی سی ابن جریر دا اختیار کړي ده ، ددی تائید ددی حدیث څخه هم کیږی کوم چی امام احمد دحضرت عباده بن صامت ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی کوم سړی چی دشپی بیدار سو او ده داکلمات وویل نوچی څه دعاکوی قبلیږی ، هغه کلمات دا دی ، لَاإِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَلَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، بیا که ده دلمانځه کولو اراده وکړه او اودس یی وکی ، لمونځ یی وکی نو دده لمونځ به قبول سی (ابن کثیر)

دمجلس کفاره : اوحضرت مجاهد اوابو الاحوص وغیره دتفسیر امامان فرمایی چی دَحِيْنَ تَقُوْمُ څخه مراد دا دی چی کله بنده دخپل مجلس څخه پورته کیږی نو دا دی وایی چی ، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ : حضرت عطاء ابن ابی رباح ددی آیت په تفسیر کی فرمایی چی کله تاسی دخپل مجلس څخه پورته سی نوتسبیح اوثناء وایاست ، که تاسی په دی مجلس کی څه نیك کارکړی وی نو په نیکی کی زیاتی اوبرکت به حاصل سی اوکه څه غلط کار موکړی وی نو دا کلمی به دهغه کفاره سی .

دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی په یومجلس کی کښینی او په هغه مجلس کی ښی بدی خبری وی نو دهغه مجلس څخه دپورته کیدو څخه مخکی که دغه کلمی ووایی نوالله ﷻ به دده تولی خطاګانی کوم چی په هغه مجلس کی سوی وی ، معاف کړی ، هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

کلمی دا دی ، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوبُ اِلَيْكَ (رواه الترمذی وهذا لفظه، اودنسایی الفاظ، فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، وَقَالَ الترمذی حدیث حسن صحیح، ابن کثیر)

وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ : یعنی په شپه کی تسبیح کوه ، په دی کی دمانبام اوماخستن لمونځ هم دا خل دی ، اوعام تسبیحات هم .

وَاِدْبَارَ النُّجُومِ : یعنی دستورو دغائبیدو څخه وروسته ، مراد ددی څخه لمونځ دسهار او ددغه وخت تسبیحات دی (ابن کثیر)

سُورَةُ الطُّوْرِ بِحَمْدِ اللّٰهِ سُبْحَانَهُ عَصْرَ يَوْمِ الْاَرْبِعَاءِ لِثَلٰثٍ وَّعِشْرِيْنَ مِنْ رَبِيْعِ الْاَوَّلِ سنہ ۱۳۹۱ هـ وَاللّٰهُ الْمَسْئُوْلُ لِاِلْمَامِ الْبَاقِي بِعَوْنِهِ وَحُسْنِ تَوْفِيْقِهِ .

﴿سورة النجم﴾

سُوْرَةُ النَّجْمِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى وَسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة النجم په مکه کی نازل سو په دی کی دو شپیته (۶۲) ایتونه اودری (۳) رکوع گانی دی .

شروع کوم په نوم سره دالله ﷻ چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۝٢ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ

قسم دی په ستوری کله چی وغورزیږي ، نه گمراه سو ستاسی ملگری او نه بی لاری سو ، او دی نه کوی خبری

الْهَوٰى ۝٣ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ۝٤ عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى ۝٥ ذُوْ مِرَّةٍ

دخپل خان څخه ، دا خو حکم دی لیږل سوی ، بنوولی دی ده ته سخت قوتونو والا ، زور اور

فَاسْتَوٰى ۝٦ وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ۝٨ فَكَانَ قَابَ

بیا برابر سو ، او هغه وو په لوړه کناره کی د اسمان ، بیا نژدی سو نو ډیر نژدی سو ، بیا پاته سو فرق د دوو

قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۝٩ فَاَوْحٰى اِلٰى عَبْدِهٖ مَا اَوْحٰى ۝١٠ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ

لیندو برابر بلکه زیات نژدی ، پس حکم را ولیږي الله خپل بنده ته څه چی یی را ولیږي ، دروغ ونه گڼل

مَا رَاٰى ۝١١ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ۝١٢ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ۝١٣ عِنْدَ

درسول زړه څه چی یی ولیدل ، اوس آیا تاسی جگړه کوی دهغه سره په هغه کی چی هغه ولیدل ، اوهغه ده لیدلی دی په را کښته کیدو کی یو وار بل ،

Maktaba Tul Ishaat.com

سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ﴿۱۵﴾ اِذْ يَغْشَى

دسدرة المنتهی په خوا کی ، چی ددی په خوا کی دی جنت د دارام ، هرکله چی پته کړه سدری

السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ﴿۱۶﴾ مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَاٰى مِنْ

هغه څه چی پته یی کړه ، نه اوښتی سترګی او نه دحد څخه زیاتیدی ، بیشکه ولیدی ده

اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿۱۸﴾

دخپل رب ډیری (غټی) نښانی .

لنډتفسیر: قسم دی په ستوری کله چی هغه لویږی (یعنی هر یو ستوری چی وی اوپه دی قسم کی دمضمون دجواب قسم ، مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَاغَوٰى : سره یوخاص مناسبت دی یعنی لکه څنګه چی ستوری دختلوڅخه ترپریوتلو پوری په دی ټول مسافت کی دخپل باقاعده رفتارڅخه اخواته دیخوا نه سوه ، دغه شان ستا څخه هم په وجه دنه ګمراه کیدو اونه بی لاری کیدو هدایت کیدی سی اوچونکی کله چی ستوری دآسمان په مینځ کی وی نوطرف ورڅخه نه معلومیږی، په دی وجه دغه وخت دستوری څخه لاره نه معلومیږی، په دی وجه یی قید ولګوی په دی کی دغروب دوخت اوکه څه هم دطلوع په وخت کی هم دی افق ته نژدی وی ، لیکن دا خبره دغروب په وخت کی زیاته ده ، چی دغه وخت دهدایت طالبان دا غنیمت ګڼی ، په دی خیال سره چی که په استدلال کی لږڅه توقف وسو نوغائب به سی ، په خلاف دطلوع څخه چی په دی کی بی فکره وی ، نو په دی کی دی طرف ته هم اشاره وسوه چی دنبی کریم ﷺ څخه هدایت حاصلول غنیمت وګڼی اوپه شوق سره ورمنده کړی ، مخ ته جواب دقسم دی چی) داستاسی (هروخت) درسره (اوستاسی په مخکی) پاته کیدونکی (پیغمبر چی عام احوال اوافعال یی تاسی ته معلوم دی دکوموڅخه چی په شرط دانصاف د دوی په راستی اوحقانیت استدلال کول کیږی داپیغمبر) نه دَ (حقی) لاری څخه اوښتی اونه په غلطه لاره دی (ضلال دا چی بالکل لاره هیره کړی حیران ودریږی اوغوایت داچی بله لار لار وګڼی په غلط طرف روان سی ، لکه چی په خازن کی دی یعنی تاسی چی دوی په دعویٰ دنبوت او دعوت الی الاسلام کی بی لاری ګڼی دا خبره نه ده بلکه دی نبی برحق دی) اونه دوی په خپل نفسانی خواهش سره خبری جوړوی (لکه چی تاسی وایاست، اِفْتَرَاهُ بلکه) د دوی ارشاد خالص وحی ده کومه چی دوی ته لیږل کیږی ، برابره خبره ده که دالفاظو وحی هم وی ، لکه چی قرآن ورته وایی اوکه صرف دمعانیو وی لکه چی حدیث ورته وایی اوبرابره خبره ده که وحی جزیی وی یادڅه قاعدی کلیی وحی وی چی اجتهاد په کی فرمایی ، نو په دی سره نفی داجتهادنه کیږی اواصل مقصود مقام دنفی دی ، دکفارو ددی خیال چی دوی دخدای طرف ته دغلطی خبری نسبت فرمایی ، مخ ته دوحی راتللو واسطه ښیی چی) دوی ته یوه ملائکه (ددی وحی دالله ﷻ دطرف څخه) تعلیم کوی چی لوی

Maktaba Tul Ishaat.com

طاقتور دی (او هغه په خپل کوشش اومحنت سره طاقتورنه سو) بلکه پیدائشی طاقتور دی (لکه چی په یو روایت کی په خپله حضرت جبرائیل ﷺ دخپل طاقت بیان فرمایی چی مادقوم لوط ﷺ کلی دبیخ څخه لورکړل ، آسمان ته می یورل اوبیامی را ایله کړل ، په درکی دسورة تکویر په تفسیرکی دا روایت دی ، مطلب دا دی چی دا کلام دیو شیطان په ذریعه دوی ته نه دی رسیدلی چی دکاهن کیدو احتمال وی بلکه دملائکی په ذریعه راغلی دی اوشایدچی دشدیدالقوٰی په فرمایلوکی دا مقصود وی چی ددی احتمال هم نه سی کیدی چی شایدپه اصل کی ملائکی راوړی وی ، مګر په مینځ کی څه شیطانی تصرف سوی وی ، په دی کی اشاره وسوه دجواب طرف ته چی هغه نهایت شدید القوٰی دی دشیطان مجال نسته چی ورنژدی سی ، بیا دوحی ختمیدو څخه وروسته په خپله حق تعالی ددی دبعینه ادا کولو وعده فرمایلی ده ، إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ : مخ ته ددی شبهی جواب دی چی ددی وحی راوړونکی ملائکه اوجبرائیل کیدل خو هغه وخت معلومیدی سی ، کله چی دوی ﷺ دا پیژنی اوپوره صحیح پیژندل موقوف دی په اصلی صورت کی په لیدو باندی ، نوآیا دوی جبرائیل ﷺ په خل اصلی صورت کی لیدلی دی؟ ددی په نسبت فرمایی چی هاؤ داسی هم سوي ده چی کیفیت یی دا دی چی څو واری خو یی په نورو صورتونوکی لیدلی دی) بیا (یو وار داسی هم وسوه چی) هغه ملائکه (په خپل) اصلی صورت باندی (دوی ته مخامخ) ښکاره سوه په داسی حالت کی چی هغه (دآسمان) په لوړه کناره باندی وه (په یو روایت کی په شرقی افق سره ددی تفسیر راغلی دی ، لکه چی په دُرِّمنثورکی دی اوپه افق باندی په ښکاره کیدوکی غالبًا داحکمت دی چی دآسمان په مینځ کی کتل دمشقت اوتکلیف څخه خالی نه وی اوپه لوړ (اعلی) کی غالبًا داحکمت وو ، چی بالکل لاندی پرافق باندی پوره سی په نظر نه راځی، په دی وجه لوړ لوړ په نظر راځی او ددی لیدو قصه داسی سوی وه چی یو وار نبی کریم ﷺ جبرائیل ﷺ ته خواهش ښکاره کی چی ماته خپل اصلی صورت وښیه، هغه ﷺ ورته دحراء په خواکی دترمذی دروایت مطابق په محله جیادکی دځان ښوولو وعده وکړه، دوی هلته تشریف یووړی نو دی یی په مشرقی افق کی ولیدی چی شپږ سوه وزرونه یی دی او دومره خپاره سوی وه چی ترمغربی افق پوری ځای یی نیولی وو دی ﷺ بی هوښه پریوتی ، دغه وخت جبرائیل ﷺ دښده په شکل سو اوده ﷺ ته دتسلی ورکولو دپاره راکښته سوچی مخ ته یی ذکر دی (لکه داسی په جلالین کی دی) لنډه داچی دغه ملائکه اول په اصلی صورت کی په افق اعلی باندی ښکاره سوه) بیا (چی کله دی ﷺ بی هوښه سونو) هغه ملائکه (دوی ته) نژدی راغله بیا نوره نژدی سوه (نو دنژدی والی په وجه) د دوو لیندیو برابر فاصله پاته سوه بلکه (دډیر نژدیکت په وجه) نوره هم کمه (فاصله پاته سوه ، د دوو لیندیو مطلب دا دی چی دعربو عادت وو چی کله به دوو کسانو دیو بل سره انتهایی درجه اتفاق اواتحاد کول غوښتل نو دواړو به خپلی خپلی لیندی را واخیستی ، تارونه به یی ورته دیو بل سره پیوست کړل او په دی صفت کی هم دځینو اجزاوو په اعتبار سره څه فاصله ضرور پاته کیږی نو ددی محاوری په وجه داکنایه سوه دقرب اواتحاد څخه او چونکی دامحض داتفاق صوری علامه وه ، نوکه روحانی اوقلبی اتفاق هم وی نوهلته، أَوْ أَدْنٰى، هم صادق راځی نو د ، أَوْأَدْنٰى، په زیاتولوسره اشاره وسوه چی دصوری مجاورت څخه علاوه د دوی اوجبرائیل ﷺ په

Maktaba Tul Ishaat.com

مینځ کی روحانی مناسبت هم وو ، کوم چی مدار اعظم دی دمعرفت تامه اوحفظ صورت غرض دا چی د دوی په تسکین ورکولو سره دحضور ﷺ تسکین وسو اوښه سو) بیا (دښه کیدو څخه وروسته) الله ﷻ (ددی ملائکی په ذریعه) په خپل بنده (محمد ﷺ) باندی وحی نازله کړه څه چی یی نازلول (چی تعین یی په تخصیص سره معلوم نه دی اونه یی دمعلومولو حاجت سته ، اوسره ددی چی اصل مقصود دا وخت وحی نازلول نه دی ، بلکه حضرت جبرائیل ﷺ په خپل اصل صورت کی ښوول، د دوی ورسره پوره معرفت کول وو ، مگر دا وخت نوره هم وحی نازلول شاید څکه وی چی داپه معرفت کیدوکی زیاته مددگاره سی ، څکه چی ددی وخت وحی دالله ﷻ دطرف څخه کیدل دحضرت جبرائیل ﷺ په اصلی صورت کی دکیدو په وجه قطعی اویقینی ده او دنورو وختونو وحی کومه چی په صورت بشریه کی ده ، کله چی دا دواړه نبی کریم ﷺ په یو شان سره وویني نو دزیات څخه په زیات یقین کی به قوت پیداسی چی په دواړو حالتونوکی وحی راوړونکی واسطه یعنی ملائکه یوه ده ، لکه چی دیوه سړی داواز لب او لهجی څخه ښه خبر وی نوکه هغه صورت بدل هم کړی اوخبری کوی نوصفا یی پیژندی سی ، مخ ته ددی دلیدو په حقله دیوی شبهی جواب دی ، هغه شبهه دا ده چی په اصلی صورت کی دلیدو باوجود دا احتمال خوهم کیدی سی چی دزړه په ادراك اواحساس کی غلطی وسی ، لکه چی په احساساتوکی غلطی کیدل اکثره مشاهده کیدی سی ، مجنون باوجود دسلامتیا دحس څینی اشنا خلګوته دنورو خلګو نومونه اخلی نو دا لیدل صحیح لیدل وه اوکه نه ؟ مخ ته ددی شبهی جواب دی یعنی دغه لیدل صحیح وه چی ددغو لیدو په وخت کی) زړه په لیدل سوی شی کی غلطی ونه کړه (پاته سوه دا چی ددی څه دلیل دی چی زړه غلطی ونه کړه ، نوخبره دا ده چی که مطلقًا داسی احتمالات قابل التفات سی نوپه محسوساتو به هیڅ اعتبار پاته نه سی ، بیاخوبه دټولی دنیا معاملات ګډوډ سی ، ها! که دچا سره څه منشاء دشبهی معتد به موجوده وی نو په دی غورکول کیږی اواحتمال دخطآء قلبی منشاء داکیدی سی چی ادراك کوونکی مختل العقل وی ، اوحضور ﷺ صحیح العقل وو فطین اوذهین، صاحب فراست کیدل ظاهر اومشاهد دی ، چونکی باوجود ددی بلیغ اثبات څخه بیاهم معاندین دجګړی اوخلاف څخه نه واپس کیدل ، په دی وجه مخ ته په طور دتوبیخ اوتعجب ارشاد فرمایی چی کله تاسی ددا سی شافی بیان څخه دمعرفت اورؤیت ثبوت واوریدی) نوایا دده (پیغمبر) سره دده په لیدلی (کتل) سوی شی کی جګړه کوی (یعنی دکومو شیانو علم اوادراك چی انسان ته کیږی په هغوکی دمحسوساتو په شان شیان دشك شبهی څخه ته بالاتر وی ، دغضب خبره ده چی تاسی په محسوساتوکی هم اختلاف کوی ، بیاخو دغسی ستاسی په محسوساتوکی هم په زرګونو خدشی راوتلی سی) او (که چیری دامهمله خدشه وی چی یوشی یی یو وار لیدلی وی ، نو ددی پیژندل څنګه کیدی سی؟ نوجواب دا دی چی اول خو دا ضروری نه ده چی په یو وار لیدو سره یی نه سی پیژندی اوکه علی سبیل التنزل دشناخت دپاره بیادوباره لیدل ضروری وی نو) هغوی (یعنی پیغمبر ﷺ) دا ملائکه بل وارهم (په صورت اصلی کی) لیدلی ده (نو اوس خودغه وهم هم دفع سو، څکه چی په تطابق دصورتینو سره پوره تعین وسو چی ها! جبرائیل ﷺ دا دَی ، مخ ته ددی دوباره لیدو ځای ښیی چی کوم ځای یی ولیدی؟ یعنی په شپه دمعراج کی یی لیدلی دی) دسدرة

Maktaba Tul Ishaat.com

المنتهٰی په خواکی (سدره وایی دبیری درختی ته ، او دمنتهٰی معنٰی ده دانتهایی ځای ، په حدیث کی راغلی دی چی دا یوه درخته ده دبیری په اووم آسمان کی دعالم بالا څخه چی کوم احکام اورزقونه وغیره راځی ، هغه اول سدرة المنتهٰی ته رسیږی ، بیا دهغه ځای څخه یی ملائکی مخکی ته راوړی ، دغه شان ددی ځای څخه چی کوم اعمال لوړ خیژی هغه هم سدرة المنتهٰی ته رسیږی بیا دهغه ځای څخه لوړ پورته کیږی ، په دنیاکی ددغه مثال داکخانه ده چی راتلل اوتلل دخطونو ددی څخه کیږی اوپه، عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰی، کی خوځای دلیدو ښوول سوی وو، مخ ته ددی مکان شرافت ښیی چی) ددی (سدرة المنتهٰی) په خواکی جنت المأوٰی دی (دَمَأوٰی معنٰی داوسیدو ځای، چونکی جنت دنیکو بندګانو داوسیدو ځای دی ، په دی وجه ورته جنت المَأوٰی وایی، لنډه داچی دغه سدرة المنتهٰی په یوممتاز موقع باندی دی، اوس وروسته دتعین دځای دلیدوځخه زمانه ښیی چی دغه لیدل کله وسوه ؟ نوفرمایی چی) کله دا سدرة المنتهٰی پټول کومو شیانوچی پټول (په یو روایت کی دی چی دسرو زرو پتنګان وه ، یعنی صورتونه یی دپتنګانوپه شان وه اوپه یو روایت کی دی چی ملائکو دحق تعالی څخه اجازت غوښتلی وو چی مونږ هم دحضور ﷺ زیارت وکو، دوی ته اجازت وسو هغوی په دی سدره جمع سوی وی (دا ټول روایتونه په در منثورکی دی) په دی کی هم اشاره کیدی سی دحضور ﷺ دمعزز اومکرم کیدو طرف ته اوباقی هغه تقریر دی کوم چی په تقییدِ سابق کی بیان سوی دی ، اوس یواحتمال دا هم کیدی سی چی دداسی حیرت انګیز شیانو په لیدو سره سترګی چکر وخوری په ښه شان سره قدرت په ادراك باندی نه پاته کیږی ، په دی صورت کی به دجبرائیل ﷺ دصورت څه ادراك وسی ، کله چی دا ادراكِ ثانی معتبر نه سو نوبیا ددی ذکر سوی خدشی چی کوم جواب په، لَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرٰی : سره ورکول سوی دی ، هغه کافی نه سو، ددی احتمال درفع دپاره فرمایی چی دوی داعجائبات ولیدل نویوه ذره یی هم سترګی چکر ونه خوړی اوبالکل حیرانه نه سو، چنانچی دکومو شیانو دلیدو حکم وو، دهغه طرف ته په نظر کولو سره د دوی نظر نه واپس سو (بلکه دغه شیان یی ښه ولیدل) او (دکومو شیانو دلیدوحکم چی ترځوپوری نه وو سوی) نه (دهغو طرف ته دلیدودپاره د دوی نظر) واوښتی (یعنی داجازت څخه مخکی یی ونه کتل ، لکه چی په مدارك کی دی په مینځ دفرق دزاغ اودطغٰی کی ، دا دلیل دی د دوی دغایت استقلال ځکه چی په عجیبه شیانوکی راسی نو بنده دا دوه حرکتونه کوی ، کومو شیانو ته چی ورته دکتو وویل سی هغه ته ګوری نه ، اودکومو چی ورته نه وی ویل سوی هغه ته ګوری ، غرض انضباط په دی کی نه پاته کیږی ، مخ ته د دوی دقوت استقلال بیانولو دپاره فرمایی چی) دوی (یعنی پیغمبر ﷺ) دخپل پروردګار (دقدرت) لوی لوی عجائبات ولیدل (مګر دهرشی په لیدوکی ددوی داشان وو، مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰی : دغه عجائبات په احادیثو دمعراج کی راغلی دی ، دانبیاء لیدل دارواحانولیدل، جنت وغیره لیدل، نو ثابته سوه چی په دوی کی غایت استقلال دی ، نو دحیرانیدو احتمال نسته نو دخدشی چی کوم جواب په، لَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرٰی : کی ذکر وو ، هغه سالم پاته سو ، غرض دا چی دټول تقریر څخه درؤیت اومعرفت دحضرت جبرائیل ﷺ متعلق شبهه دفع سوه ، امرِ رسالت ثابت اومتحقق سو کوم چی مقصود وو دمقام .

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلې

(سورة خصوصيات) سورة نجم اولنی سورة دی دکوم چی نبی کریم ﷺ په مکه مکرمه کی اعلان وفرمایی (رواه عبدالله ابن مسعود ؓ، قرطبی) او دا دټولو څخه اولنی سورة دی په کوم کی چی آیت دسجدی نازل سو اونبی کریم ﷺ دتلاوت سجده وکړه اوپه دی سجده کی یو عجیبه صورت داپیښ سو چی نبی کریم ﷺ دا سورة په عامه مجمع کی تلاوت وفرمایی ، په کومه کی چی مسلمانان اوکفار ټول شریك وه کله چی دوی دسجدی پرآیت باندی سجده وکړه نومسلمانانو خو د دوی په اتباع کی سجده کوله ، ټولو دحضور ﷺ سره سجده وکړه ، دتعجب خبره دا پیښه سوه چی څومره کفار اومشرکین موجود وه ، هغه هم ټول په سجده پریوتل ، صرف یو متکبر سړی چی په نوم کی یی اختلاف دی ، داسی پاته سو چی سجده یی ونه کړه ، مګر دمخکی څخه یی یو موټی خاوری لوړی کړی دتندی سره یی ولګولی اوویی ویل چی بس دا کافی ده ، حضرت عبد الله ابن مسعود ؓ راوی دحدیث فرمایی چی ما دغه سړی دکفر په حالت کی مړ لیدلی دی (بخاری ومسلم واصحاب السنن، ابن کثیر ملخصاً)

ددی سورة په شروع کی دنبی کریم ﷺ دبرحق رسول کیدو اوپه دوی په نازل سوی وحی کی دشك اوشبهی دګنجائش نه کیدو بیان دی .

وَالنَّجْمِ إِذَاهَوٰی: لفظ دنجم دستوری په معنٰی کی راځی ، هر یو ستوری ته نجم اوجمع یی نجوم ویل کیږی اوکله دالفظ په خاص طورسره دثریادستوری دپاره هم ویل کیږی، کوم چی دځوستورو مجموعه ده، په دی آیت کی هم ځینی حضراتودنجم تفسیرپه ثریاسره کړی دی فراء اوحضرت حسن بصری ؒ داولنی تفسیرمعنٰی مطلق ستوری ته ترجیح ورکړي ده (قرطبی) هم دا لوړ په لنډ تفسیرکی اختیار سوي ده .

اِذَا هَوٰی : هَوٰی دساقطیدو اولویدو په معنٰی کی راځی ، دستوری لویدل ، ددی غروب کیدل دی ، په دی آیت کی الله ﷻ په ستورو قسم اخیستی دی ، دنبی کریم ﷺ دوحی حقوالی اوصحیح والی اودشکونو اوشبهو څخه بالاترکیدل یی بیان کړی دی ، په سورة صافات کی په تفصیل سره تیر سوی دی چی الله ﷻ ته اختیار دی چی هغه دخاصو مصلحتونو اوحکمتونو دپاره په خپل خاص خاص مخلوقاتو قسم اخلی ، نورچاته ددی اجازه نسته چی دالله ﷻ څخه ماسوا په چاقسم واخلی ، دلته الله ﷻ په ستورو قسم واخیستی ، په دی کی یو حکمت دا هم دی چی ستوری په تیاره شپه کی دطرفونو او لارو نبوولو دپاره استعمالیږی او په دی سره دمقصود طرف ته هدایت کیږی ، دغه شان دنبی کریم ﷺ څخه دالله ﷻ دلاری طرف ته هدایت کیږی .

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰی : دا جواب دقسم دی یعنی هغه مضمون دی دکوم دپاره چی قسم اخیستل سوی دی ، ددی معنٰی دا ده چی نبی کریم ﷺ چی دکومی لاری طرف ته خلګوته دعوت ورکوی هغه صراط مستقیم اومنزل مقصود یعنی دالله ﷻ درضا صحیح لار ده ، نه دوی لار هیره کړي ده اونه په غلطه لاره ده

(دنبي کریم ﷺ څخه په لفظ دَصَاحِبُكُم سره دتعبیر کولو حکمت)

دلته دنبی کریم ﷺ دنوم مبارك یا دلفظ درسول اونبی ذکر کولو په ځای یی د دوی ذات په لفظ دَصَاحِبُكُم سره په تعبیر کولوکی دی طرف ته اشاره ده چی محمد مصطفٰی ﷺ ددباندی څخه نه دی راغلی اوځوك

Maktaba Tul Ishaat.com

اجنبی نه دی چی په صدق اوکذب کی یی تاسی ته اشتباه وی بلکه دوی یی کوچنیوالی تیرکی ، دلته ځوان سو ، د دوی دژوند یواړخ ستاسی ځخه پټ نه دی اوتاسی تجربه کړې ده چی ده هیڅکله دروغ نه دی ویلی ، په څه غلط اوبدکار کی تاسی دوی په کوچنیوالی کی هم نه دی لیدلی ، د دوی په اخلاقو اوعاداتو او د دوی په امانت اودیانت ستاسی دټولو دومره اعتماد وو چی دپوره مکی خلګو به دوی ته امین وایه ، اوس چی دنبوت دعوٰی یی وکړه نوتاسی دوی ته د درواغونسبت شروع کی چاچی دانسانانو په معامله کی هیڅکله دروغ نه وی ویلی ، غضب دی چی په دوی دا الزام ولګول سی چی دوی دخدای په معامله کی درواغ ویلی دی ، په دی وجه مخ ته فرمایی .

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوٰى، إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحٰى : یعنی نبی کریم ﷺ دخپل طرف ځخه خبری جوړوی او دالله ﷻ طرف ته یی نسبت کوی ، ددی قطعاً څه امکان نسته ، بلکه دوی چی هرڅه فرمایی هغه ټول دالله ﷻ دطرف څخه وحی سوی وی ، دوحی دیرقسمونه دبخاری داحادیثو ځخه ثابت دی ، په دی کی یوقسم هغه دی دکوم چی معنٰی اوالفاظ ټول دالله ﷻ دطرف ځخه نازل سوی وی، چی نوم یی قرآن دی، دوهمه هغه چی صرف معنی دالله ﷻ دطرف ځخه نازل سوی وی ، نبی کریم ﷺ دغه معنی په خپلو الفاظوکی ادا فرمایی ، ددی نوم حدیث اوسنت دی، بیاپه حدیث کی چی کم مضمون دحق تعالی دطرف ځخه راځی کله هغه دڅه معاملی صفا او واضحه فیصله وی اوحکم وی کله څه قاعده کلیه ښیی چی احکام ورڅخه نبی کریم ﷺ په خپل اجتهاد سره راباسی اوبیانوی یی په دی اجتهادکی ددی امکان وی چی څه غلطی وسی ، مګر دنبی کریم ﷺ اودټولو انبیاوو داخصوصیت دی چی کوم احکام هغوی په خپل اجتهاد سره بیانوی په هغه کی که څه غلطی وسی نود الله ﷻ دطرف ځخه په ذریعه دوحی ددغه اصلاح کول کیږی ، هغه په خپل غلط اجتهادقائم نه سی پاته کیدی ، په خلاف دنورو علماوو مجتهدینو ځخه چی که د دوی ځخه په اجتهادکی څه غلطی وسی ، نو دوی قائم پرپاته کیدی سی او د دوی دا خطا هم دالله ﷻ په نزد نه صرف معاف ده ، بلکه ددین په پوهه کی چی کوم خپل پوره توان خرڅ کوی ، په دی هم دوی ته یو ثواب حاصلیږی (لکه چی داسی په صحیح اومعروفو احادیثوکی دی)

په دی تقریرسره په ذکرسوی آیت دهغه شبهی جواب هم وسو چی کله نبی کریم ﷺ څه فرمایی هغه ټول وحی من الله وی نو په دی سره لازمیږی چی دوی په خپله رایه اواجتهاد سره هیڅ نه فرمایی حال دا دی چی په صحیح احادیثوکی دیر واقعات داسی ذکر سوی دی چی په شروع کی به دوی یوحکم وکی ، بیابه دوحی په ذریعه هغه بدل سوکوم چی علامه ددی ده چی داحکم دخدای دطرف ځخه نه وو بلکه د دوی په رایه او اجتهاد وو خولورتیرسوی دی چی ځینی وخت وحی دڅه قاعدی کلیی په شکل کی راځی په کوم سره چی داحکامو په استخراج کی پیغمبرته په خپله رایه سره اجتهاد کول راځی، چونکی دا قاعده کلیه دالله ﷻ دطرف ځخه راغلی ده ، په دی وجه دی ټولو احکامو ته هم وحی من الله وویل سوه، والله تعالی اعلم

عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوٰى:ددی څای ځخه تراوولسم ۱۷ آیت، لَقَدْ رَأٰى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى:پوری په ټولو ایتونوکی ددی بیان دی چی دنبی کریم ﷺ په وحی کی دڅه شك اوشبهی ګنجائش نسته دادالله ﷻ کلام دی کوم چی دوی ته داسی ورکول سوی دی چی په دی کی دڅه التباس اوتلبیس یاخطااوغلطی هیڅ امکان نه دی پاته

Maktaba Tul Ishaat.com

(دایتونو دنجم په تفسیر کې دامامانو دتفسیر اختلاف)

ددی آیتونوپه باره کی دامامانو دتفسیر څخه دوه تفسیرونه منقول دی ، دیوه خلاصه دا ده چی دا ټول ایتونه یی دمعراج دواقعی بیان مقررکړی دی ، دالله ﷻ څخه یی بغیر دواسطی تعلیم اورُؤیت اوقرب دحق تعالی په ذکر محمول فرمایلی دی ، شَدِيدُ الْقُوٰى : ذُو مِرَّةٍ، فَاسْتَوٰى او: دَلٰى فَتَدَلّٰى ټول یی دالله ﷻ صفتونه اوافعال مقررکړی دی اومخ ته چی دکوم رؤیت اومشاهدی ذکر دی ، دهغه څخه هم دالله ﷻ رؤیت اوزیارت مراد اخلی ، په صحابه کرامو ﷺ کی دحضرت انس ﷺ اوحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا تفسیر منقول دی ، په تفسیرِ مظهری کی یی دا اختیار کړی دی او ډیرو حضراتو صحابه وو ﷺ اوتابعینو او امامانو دتفسیر دا آیتونه دحضرت جبرائیل ﷺ په اصلی صورت کی دلیدو بیان مقررکړی دی ، او شَدِيدُ الْقُوٰى، وغیره یی دحضرت جبرائیل امین صفتونه ښوولی دی ، ددی ډیری وجهی دی، په تاریخی حیثیت سره هم سورة نجم بالکل دابتدایی سورتونو څخه دی ، اودحضرت ابن مسعود ﷺ دوضاحت مطابق دټولو څخه اولنی سورة کم چی نبی کریم ﷺ په مکه مکرمه اعلانًا ویلی دی، دا سورة دی اوظاهره دا ده چی واقعه دمعراج ددی څخه وروسته ده، لیکن په دی کی کلام کیدی سی ، اصل وجه دا ده چی په حدیث مرفوع کی په خپله دنبی کریم ﷺ څخه ددی ایتونو تفسیرپه رؤیت جبرائیل ﷺ سره منقول دی دکوم الفاظ چی په مسند احمد کی دا دی .

عَنِ الشَّعْبِي، عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ عَائِشَةَ ﷺ فَقُلْتُ : أَلَيْسَ اللهُ يَقُوْلُ (وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِيْنِ) التكوير:٢٣(وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرٰى) فَقَالَتْ: أَنَا أَوَّلُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهَا، فَقَالَ: إِنَّمَا ذَاكَ جِبْرِيْلُ لَمْ يَرَهُ فِيْ صُوْرَتِهِ الَّتِيْ خُلِقَ عَلَيْهَا إِلاَّ مَرَّتَيْنِ، رَآهُ مُنْهَبِطًا مِّنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، سَادًّا عِظَمُ خَلْقِهِ مَا بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ، (أَخْرَجَاهُ فِي الصَّحِيْحَيْنِ، مِنْ حَدِيْثِ الشَّعْبِيِّ) (ابن كثير)

شعبی دمسروق ﷺ څخه نقل کوی چی دی یوه ورځ دحضرت عائشی ﷺ سره وو ، (دالله ﷻ دلیدلوپه باره کی خبری اتری وی) مسروق وایی چی ماوویل الله ﷻ فرمایی وَلَقَدْ رَاٰهُ الخ حضرت عائشی ﷺ وفرمایل چی په ټول امت کی دټولوڅخه اول مادنبی کریم ﷺ څخه ددی آیت دمطلب پوښتنه وکړه دوی وفرمایل دچادلیدوچی په آیت کی ذکردی هغه جبرائیل ﷺ دی کوم چی نبی کریم ﷺ صرف دوه واره دده په اصلی صورت کی لیدلی دی ، په آیت کی چی دکم رؤیت ذکردی دهغه مطلب دا دی چی دوی جبرائیل ﷺ دآسمان څخه مخکی ته راکښته کیدونکی ولیدی چی دده بدن دمخکی اوآسمان درمیانی فضاډکه کړی وه په صحیح مسلم کی هم داروایت تقریبًا په دی الفاظوسره منقول دی اوپه فتح الباری کتاب التفسیرکی د حافظ ابن مردویه څخه داروایت په دی سندسره نقل کړی دی په کوم کی چی دحضرت عائشه ﷺ الفاظ دا دی .

أَنَا أَوَّلُ مَنْ سَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هٰذَا فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ ؟ فَقَالَ: لَا إِنَّمَا رَأَيْتُ جِبْرِيْلَ مُنْهَبِطًا(فتح الباری ص ۴۹۳ ج ۸)

یعنی حضرت صدیقه ﷺ فرمایی چی ددی آیت دټولوڅخه اول ماپه خپله دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی تاخپل رب لیدلی دی ؟ نو دوی وفرمایل چی نه! بلکه ماجبرائیل ﷺ په راکښته کیدو لیدلی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه صحیح بخاری کی دشیبانی رحمۃ اللہ علیہ څخه روایت دی چی دوی دحضرت زرّ څخه ددی آیت دمطلب پوښتنه وکړه (فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰى فَأَوْحٰى إِلٰى عَبْدِهٖ مَا أَوْحٰى) نودوی جواب ورکی چی مونږته حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ حدیث بیان کی چی محمد ﷺ جبرائیل امین په داسی حالت کی ولیدی چی دده شپږ سوه وزرونه وه اوابن جریرپه خپل سندسره دحضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ څخه دایت (مَاكَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأٰى) په تفسیرکی دانقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ جبرائیل امین ولیدی ، په داسی حالت کی چی هغه د ، رَفْرَفْ په لباس کی وه او دمخکی اوآسمان درمیانی فضاء دهغه بدن ډکه کړی وه .

دابن کثیر تحقیق : دا ټول روایتونه دحدیث ابن کثیر په خپل تفسیرکی دنقل کولوڅخه وروسته فرمایی چی دسورة نجم په ذکر سوو ایتونو کی درڼیت اوقرب څخه مراد دجبرائیل ﷺ رویت اوقرب دی دا قول په صحابه کرامو رضی اللہ عنہم کی دحضرت عائشه صدیقه رضی اللہ عنہا، عبدالله ابن مسعود رضی اللہ عنہ ابوذرِ غفاری رضی اللہ عنہ، اوابی هریره رضی اللہ عنہ دی ، په دی وجه ابن کثیر دذکر سوو ایتونو په تفسیر کی فرمایی .

په دی آیتونوکی چی دکوم رویت اوقرب ذکر دی ، هغه رویت اوقرب دجبرائیل امین مراد دی ، کله چی دی نبی کریم ﷺ په اول وار دده په اصلی صورت کی لیدلی وو ، بیا دوهم وار په شب معراج کی سدرة المنتهٰی ته نژدی یی ولیدی اودا اولنی رڼیت دنبوت په بالکل ابتدایی زمانه کی وسو ، کله چی جبرائیل ﷺ اول واردسورة اقرأ دابتدایی ایتونو وحی راوړه راغی، ددی څخه وروسته په وحی کی فترت یعنی وقفه پیښه سوه په کوم سره چی نبی کریم ﷺ ته سخت غم اوتکلیف وو ، ډیر واره یی داخیالات په زړه کی راغلل چی دغرڅخه ځان را وغورځوی اوځان مړکی ، مګر کله چی به داسی صورت جوړسو نوجبرائیل امین به غائبانه دهوا څخه اواز ورکی چی ای محمد! ﷺ ته دالله ﷻ رسول یی برحق یی اوزه جبرائیل یم، دده په اواز سره به د دوی ﷺ زړه لږ مطمئن سو اوسکون به ورته راغی چی کله به داسی وخت راتلی نوجبرائیل امین به په داسی اواز سره تسلی ورکوله مګر دا تسلی غائبانه وه، تردی چی یوه ورځ جبرائیل امین دبطحا په ډاګه میدان کی په خپل اصل صورت داسی ظاهرسو چی دده شپږ سوه وزرونه وه اوټول افق یی ډک کړی وو ، بیا جبرائیل امین ده ﷺ ته نژدی راغلی اوده ﷺ ته یی وحی الٰهی راوړه، دا وخت په رسول کریم ﷺ باندی دجبرائیل امین دعظمت اودالله ﷻ په نزد دلوی قدر حقیقت ښکاره سو (ابن کثیر)

لنډه دا چی امام ابن کثیر دخپل مرفوع تفسیر اودصحابه کرامو رضی اللہ عنہم داقوالو په بنا دسورة نجم دذکر سوو آیتونو تفسیر دا مقررکړی دی چی په دی کی رؤیت اوقرب دجبرائیل امین مراد دی او دا اولنی رؤیت دی کوم چی په دی عالم کی دمکی مکرمی په افق وسو .

په ځینو روایتونوکی ددی رؤیت دا تفصیل راغلی دی چی جبرائیل امین په اول وار دده په اصلی صورت کی چی ولیدی په نبی کریم ﷺ باندی بی هوښی راغله ، نو بیا جبرائیل امین دسړی په صورت کی دوی ته نژدی راغی او ورته ډیر نژدی سو .

د دوهم وار لیدو ذکرمخ ته دسورة نجم په آیت کی داسی راځی ، وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرٰى : کوم چی په شپه دمعراج کی وسو ، دذکر سوو وجهو په بناباندی عامومفسرینو حضراتو دا تفسیر اختیار کړی دی ، دابن کثیر رحمۃ اللہ علیہ مضمون خو اوس لوړتیرسوی دی ، قرطبی رحمۃ اللہ علیہ، ابوحیان رحمۃ اللہ علیہ، امام رازی رحمۃ اللہ علیہ وغیره

Maktaba Tul Ishaat.com

عموماً داتفسیر ته ترجیح ورکوی ، حضرت حکیم الامت رحمه الله هم دا اختیارکړی دی کوم چی لوړ په لنډ تفسیرکی بیان سوی دی چی خلاصه یی دا ده چی دسورة نجم په ابتدایی ایتونوکی دحق تعالی دلیدو ذکر نسته ، بلکه دجبرائیل علیه السلام دلیدلو ذکر دی په کښی ، نووی رحمه الله په شرح دمسلم کی اوحافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کی هم دا تفسیر اختیار کړی دی .

ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوٰى وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَى : دمرة معنی قوت ده دا هم دجبرائیل امین دوهم صفت دقوت اوطاقت دزیات بیانولو دی چی چاته دا وهم نه وی چی دوحی راوړونکی ملائکی په کار کی څوک شیطان دخیل کیدی سی ، ځکه چی جبرائیل امین دومره قوی دی چی شیطان دده خواته ورنژدی کیدی هم نه سی اودَ.

فَاسْتَوٰى : معنی ده برابر سو ، مراد دا دی چی اول یی کله جبرائیل امین ولیدی نوهغه دآسمان څخه راکښته کیدی ، دراکښته کیدو څخه وروسته په لوړ افق باندی برابر سو کښېنستی ، دافق سره داعلی په قیدکی دا حکمت دی چی دافق هغه حصه کومه چی دمخکی سره یوځای په نظر راځی دغه عموماً دنظرونو څخه پټه وی ، په دی وجه په لوړ افق باندی جبرائیل امین وښووی .

ثُمَّ دَنٰى فَتَدَلّٰى ددنٰی معنی نژدی سو ، او دتَدَلّٰی لفظی معنی راوځړیدل سو ، مراد ورڅخه کښته کیدل ، نژدی کیدل دی .

فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰى : دلیندی لرگی کوم ځای چی دنیولو دسته وی او ددی په مقابل کی دلیندی سری وی ، ددی دواړو درمیانی فاصلی ته قاب ویل کیږی چی اندازه یی تقریباً دیولاس په مقدار وی ، قاب قوسین یعنی د دوو لیندیو دقاب دفرمایلو وجه دعربو یو خاص عادت دی چی دوو کسانوکه به په خپله میینځ کی دصلح او دوستی وعده کول غوښتل نولکه څنګه چی ددی یوه نښانه په لاس کی دلاس ورکولو معروفه اومشهوره ده ، دغه شان بله نښانه دکومی څخه چی ددوستی مظاهره کیدی سوه ، دا وه چی دواړو سړوبه دخپلی خپلی لیندی لرگی خپل طرف ته کړل اوتارونه به یی بل طرف ته ، دغه شان چی به د دواړو سری دیوبل سره یوځای سوه نو دباهمی قرب او دوستی اعلان به ګڼل کیدی ، ددی قرب په وخت کی به د دواړو سره په مینځ کی د دواړو لیندیو دقابونو فاصله پاته کیده یعنی تقریباً دوه لاسه (یایو ګز) ددی څخه وروسته أَوْ أَدْنٰى یی وویل دایی وښوولو چی دا قرب او اتصال دعام رسمی اتصال په شان نه وو ، بلکه ددی څخه هم زیات وو .

په ذکر سوی آیت کی دحضرت جبرائیل علیه السلام انتهایی قریب راتلل په دی وجه بیان سول چی داثابته سی چی کومه وحی یی ده ﷺ ته رسولی ده ، په دی کی دځه شك اوشبهی ګنجائش نسته او دا چی ددی قرب او اتصال په وجه دا احتمال هم پاته نه سو چی نبی کریم ﷺ جبرائیل امین ونه پیژنی او څوك شیطان مداخلت وکړل سی .

فَأَوْحٰى إِلٰى عَبْدِهِ مَا أَوْحٰى: دأَوْحٰی ضمیرِ فاعل دحق تعالی طرف ته راجع دی اودعبدهٖ ضمیر هم ، معنی دا ده چی جبرائیل امین یی دمعلم په حیثیت سره نبی کریم ﷺ ته بالکل نژدی ولیږی ، حق تعالی دخپل طرف څخه وحی نازله وفرمایله .

یوعلمي اشکال او دهغه جواب : دلته چی کوم په ظاهری شکل کی یوعلمی اشکال دا محسوس کیږی چی په لوړو آیتونوکی ضمیرونه جمهورو مفسرینو اومحدثینو دجبرائیل امین طرف ته راجع کړی دی ، د،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاسْتَوٰی څخه واخله تر، قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰی: پوری ټول ضمیرونه حضرت دجبرائیل امین طرف ته راجع دی اوپه راتلونکو ایتونوکی هم په قول دجمهورو مفسرینو دجبرائیل علیه السلام ذکر دی نوصرف په دی آیت کی د أَوْحٰی اوعبدهٖ ضمیر دالله ﷻ طرف ته راجع کول دنظم اونسق دعبارت څخه خلاف اودضمائرو دانتشار موجب دی ، ددی جواب استاذ محترم حضرت مولانا سید محمد انور شاه الکشمیری رحمه الله دا ورکړی دی چی نه دی دلته په نظم دکلام کی څه اختلال دی نه انتشار دضمائرو ، بلکه حقیقت دا دی چی دسورة نجم دشروع په آیت کی یی د ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحٰی ذکر وفرمایی ، دکوم مضمون چی ابتداء سوي ده ، ددی نهایت منضبط بیان داسی وسو چی وحی لیږونکی خو ظاهره ده چی دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوک نسته ، مګر ددی وحی په رسولوکی یوه واسطه دحضرت جبرائیل وه ، په څو آیتونوکی ددی واسطی دتوثیق په پوره شان سره دکولو څخه وروسته بیا ، أَوْحٰی إِلٰی عَبْدِهٖ مَا أَوْحٰی یی وفرمایل نودا دابتدایی کلام تکمله ده او په دی کی انتشار دضمائرو څکه نسته چی د ، أَوْحٰی إِلٰی عَبْدِهٖ مَا أَوْحٰی په ضمیرکی ددی څخه ماسوا بل احتمال کیدی نه سی چی دغه دی دحق تعالی طرف ته راجع وی ، په دی وجه دامرجع دمخکی څخه متعینه ده او ، مَآ أَوْحٰی، یعنی څه چی دوحی فرمایل وو، دا یی مبهمه پریښوله ، ددی دعظمت شان طرف ته یی اشاره فرمایلی ده ، دصحیح بخاری باب بدء الوحی ، دحدیث څخه معلومیږی چی دغه وخت چی کومه وحی وسوه هغه دسورة مدثر ابتدایی ایتونه دی . والله تعالی اعلم

ددی پوره نظم دکلام څخه دقرآن کریم حقانیت او ددی تیك کلام حق کیدل ثابتیږی ، چی لکه څنګه محدثین حضرات دنبی کریم ﷺ دحدیثونو سند دڅان څخه واخله ترنبی کریم ﷺ پوری مکمل بیانوی په دی آیتونوکی حق تعالی دقرآن سند داسی بیان وفرمایی چی وحی کوونکی په خپله حق تعالی دی اومعلم اومبلغ کوم چی دالله ﷻ او درسول ﷺ په مینځ کی واسطه دسند ده ، دغه جبرائیل امین دی ، په ذکرسوآیتونوکی دجبرائیل امین لوی شان والا اوشدیدالقوٰی کیدل ګویاددی واسطی دسند تعدیل دی مَاكَذَبَ الْفُؤَادُمَارَاٰی: دَفواد معنٰی ده زړه اومطلب دایت دادی چی سترګوڅه لیدلی دی زړه هم دهغه په ادراك کی څه غلطی نه ده کړی داغلطی اوخطاء یی په آیت کی په لفظ د کذب سره تعبیرکړي ده چی دلیدل سوی شی ، په ادراك کی زړه دروغ نه دی ویلی یعنی غلطی اوخطاء یی نه ده کړی اودلفظ دَ، مَارَاٰی ، معنٰی ، څه چی یی ولیدل ، دقرآن الفاظو دا نه ده متعین کړی چی څه یی ولیدل ، ددی په تفسیر کی داصحابو رضی الله عنهم تابعینو اودتفسیر امامانو هغه دوه قولونه دی کوم چی لوړ په تفصیل سره تیرسوی دی چی دځینو په نزد په خپله دالله ﷻ لیدل مراد دی (اودا قول دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما دی) اودځینو په نزد دجبرائیل امین په اصلی صورت کی لیدل مراد دی (او دا قول دحضرت عائشه، ابن مسعود، اوابوهریره، اوابی ذرغفاری رضی الله عنهم دی) ددی تفسیر مطابق لفظ درَاٰی په خپله حقیقی معنٰی کی په سترګو سره لیدو ته وایی او دلیدوڅخه وروسته ادراك اوفهم کوم چی دزړه کاردی ددغه زړه طرف ته نسبت سوی دی ، درؤیت په مجازی طور درؤیت قلبی په معنٰی کی داخیستو ضرورت پیښ نه سو (لکه چی داسی قرطبی کړی دی) پاته سو داسوال چی په آیت کی دادراك نسبت دزړه طرف ته دی ، حال دادی چی دحکماء مشهور قول دی چی دادراك تعلق دعقل یانفس ناطقه سره دی ، ددی جواب دا دی چی دقرآن کریم دډیرو آیتونو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومیږی چی دادراك اوفهم اصل مرکز زړه دی ، په دی وجه یی کله عقل هم په لفظ دقلب سره تعبیر کړی دی ، لکه په آیت ﴿لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ﴾ کی دقلب څخه مراد عقل اخیستل سوی دی ، ځکه چی قلب مرکز دعقل دی ، دقرآن ایتونه : ﴿لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا﴾ وغیره په دی شاهد دی .

وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرٰى، عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى : دلته هم دَرَآهُ په ضمیرکی هغه دوه قوله دی چی الله ﷻ مراد دی یاجبرائیل امین دنَزْلَةً أُخْرٰى ، څخه مراد دوهم وار نزول دی ، دراجح تفسیر مطابق دانزول هم دجبرائیل امین دی اولکه چی مخ ته درڼیت مقام قرآن کریم په دی عالم دنیاکی دمکی مکرمی افق اعلی ښوولی وو ، دغه شان یی ددی دوهم رڼیت مقام په اووم آسمان کی سدرة المنتهٰی وښوولە او دا ظاهره ده چی اووم آسمان ته دنبی کریم ﷺ تشریف وړل په شپه دمعراج کی سوی دی ، په دی سره د دوهم رڼیت وخت هم فی الجمله متعین کیږی ، سدره په لغت کی دبیری درختی ته وایی اودمنتهٰی معنٰی دانتهاء ځای ، په اووم آسمان باندی دعرش رحمان لاندی دادبیری درخته ده ، دمسلم په روایت کی یی دا په شپږم آسمان کی ښوولی ده ، او د دواړو روایتونو تطبیق داسی کیدی سی چی رښتی یی په شپږم آسمان اوښاخونه یی په اووم آسمان کی وی (قرطبی) او دعامو ملائکو درسیدو دا اخری حد دی ، په دی وجه دی ته منتهٰی وایی .

په ځینو روایتونوکی دی چی دالله ﷻ احکام دعرش رحمٰن څخه اول سدرة المنتهٰی ته نازلیږی ، ددی ځای څخه متعلقه ملائکوته سپارل کیږی او دمځکی څخه آسمان ته تلونکی عملنامی وغیره هم ملائکی تردی ځای پوری رسوی ، ددغه ځای څخه یی دالله ﷻ په مخکی دپیښی څه بل صورت وی ، په مسند احمد کی دا مضمون دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه منقول دی (ابن کثیر)

عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَأْوٰى، دَمَأْوٰى معنٰی ټیکانه او داوسیدو ځای او دارام ځای دی ، جنت ته مَأْوٰى په دی وجه فرمایی چی دانسان اصل ځای اومقام دغه دی دلته ادم ﷺ اوحوا ﷺ پیدا سول ، ددی ځای څخه مځکی ته راکښته سول او بیا به هم دغه دجنتیانو مقام وی .

(دجنت او دوږخ موجوده مقام)

دی آیت دا هم ښوولە چی جنت دا وخت هم موجود دی لکه چی دجمهور امت عقیده دا ده چی جنت او دوږخ به دقیامت څخه وروسته نه پیدا کیږی ، دا دواړه مقامات دا وخت هم موجود دی ، دی آیت دجنت محل وقوع هم ښوولە چی دا تر اووم آسمان لوړ ترعرشِ رحمٰن لاندی دی، ګویا اووم آسمان ددی جنت فرش اوعرش رحمان یی چت دی ، د دوږخ محل وقوع دقرآن په یوایت یاپه روایتونو دحدیث کی په وضاحت سره نه دی ښوول سوی ، دسورة طور دایت، وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ: څخه ځینی مفسرینو دا مطلب را ایستلی دی چی دوږخ ترسمندر لاندی دمځکی په بیخ کی دی پرکم چی داوخت یودروند اوسخت غلاف غوړول سوی دی کوم چی به په قیامت کی ځیری سی اواوربه یی خپورسی اوټول سمندربه په اوربدل سی په دی وخت کی دیورپ ډیرو ماهرینو کومو چی مځکه برمه کوله دیو طرف څخه بل طرف ته دتللو دلاری جوړولو کوشش یی ډیرکلونه جاری وساتی اودلویو څخه لوی مشینان یی ددی کار دپاره ایجاد کړل ، مختلفو جماعتونوپه دی محنت خرڅ کی ، دټولوڅخه زیات چی کوم جماعت کامیاب سو، هغوی

Maktaba Tul Ishaat.com

دمشینانو په ذریعه دمخکی بیخ ته ترشپرو میلو پوری ورسیدل ، مگر دشپرو میلو څخه وروسته سختو ډبرو دوی عاجزه کړل نو بیا یی نوی په بل ځای کی کیندل شروع کړل ، مگر هم هغه دشپر میله څخه وروسته دسختی ډبری سره مخامخ سول په ډیرو ځایونو کی ددی تجربی کولوڅخه وروسته د دوی تحقیق دا مقررکړه چی دشپرو میلوڅخه وروسته ډډبری څه غلاف پرتوله مخکه خپوردی چی په هغه کی هیڅ مشین کار نه سی کولی ، دمخکی قطرکوم چی په زرګونو میله دی ، په دی کی دسائنس په دی ترقی یافته زمانه کی دسائنس رسایی صرف ترشپرو میلو پوری وسوه، مخ ته یی ډډبری دغلاف اقرار وکی اوخپل کوشش یی پرینبسوی، ددی واقعی څخه هم ددی تائید کیږی چی پوره مخکه ډډبری په څه غلاف باندی بنده سوي ده ، که په څه صحیح روایت سره دجهنم محلِ وقوع ددی غلاف څخه دننه ثابت سی نو څه بعیده نه ده ، واللہ سبحانه تعالی اعلم

إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى : یعنی کله چی پتوله سدرة پتوونکی شی ، په صحیح مسلم کی دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه دا روایت دی چی دغه وخت په سدرة المنتهٰی باندی دسرو زرو څخه جوړ سوی پتنګان دهرطرف څخه رالویدل ، داسی معلومیږی چی په دغه ورځ سدرة المنتهٰی په خاص طور سره ښائسته سوی وه ، چی په دی کی دراتلونکی میلمه حضرت نبی کریم ﷺ اعزاز وو .

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى زاغ، دَزَيْغ څخه مشتق دی چی معنٰی یی کږیدل اوبی لاری کیدل دی اوطغٰی دَطُغْيَانْ څخه مشتق دی چی معنٰی یی دحد څخه تجاوز کول دی ، مراد ددی دواړو لفظونو څخه دابیان کول دی چی نبی کریم ﷺ چی څه ولیدل په هغه کی نظرځه خطا یاغلطی نه ده کړی ، دا ددی شبهی جواب دی چی ځینی وخت دانسان نظرهم خطاکوی ، خصوصًا کله چی هغه څه عجیبه غیرمعمولی واقعه وویني ، ددی شبهی په جواب کی قرآن کریم دوه لفظونه استعمال کړل ، څکه چی دنظر غلطی په دوو وجهو سره کیدی سی یو دا چی کوم شی یی لیدل غوښتل نظر دهغه څخه کوږ سو بل طرف ته ولاړی ، په لفظ دَمَا زَاغَ سره ددواقسم غلطی نفی وسوه چی د دوی نظر بل طرف ته نه سو، بلکه څه شی چی یی لیدل غوښتل خاص په هغه شی یی نظر ولویدی ، دوهمه وجه دنظر دغلطی داکیدی سی چی نظر خو ولویږی په هغه شی دکوم چی لیدل مقصود وو، مگر ددی سره هغه اخواته دیخواته نورو شیانو ته هم کتل، په دی کی هم ځینی وخت دالتباس کیدو خطره وی ، ددی قسم غلطی دلیری کولو دپاره یی وَمَا طَغٰى وفرمایل .

کومو حضراتو چی دتیرو آیتونو تفسیر په رؤیت جبرائیل ﷺ سره کړی دی ، هغه ددی آیت هم دا مطلب مقررکړی دی چی دجبرائیل ﷺ په لیدو کی سترګو څه غلطی نه ده کړی ، ددی بیان ضرورت په دی وجه وسو چی جبرائیل ﷺ واسطه دوحی ده که دی په ښه شان سره ونه وینی اووي نه پیژنی ، نو وحی دشبهی څخه خالی نه پاته کیږی .

اوکومو حضراتو چی دتیروآیتونو تفسیرپه رویت حق سبحانه وتعالی سره کړی دی هغوی دلته هم دا فرمایی چی دحق تعالی سبحانه په دیدارکی دنبی کریم ﷺ سترګوڅه غلطی ونه کړه بلکه صحیح یی ولیدی ، البته دی آیت داخبره نوره زیاته واضحه کړه چی دا رؤیت په سترګو دسر وسو ، صرف دزړه رؤیت نه وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دذکر سوو آیتونو په تفسیر کې یوبل مفید تحقیق)

داسلافو محدثینو یوه نمونه حضرت استاذ مولانا سید محمد انورشاه کشمیری رحمه الله کوم چې بیشکه په دی زمانه کې آیة من ایت الله اوحجة الله فی الارض وو ، د دوی علوم بلا شبهه دحافظ ابن حجر رحمه الله او ذهبی رحمه الله په شان امامانو داحادیثو دعلومو نمونه وه اوپه مشکلات القرآن باندی ددوی یو مستقل تصنیف دډیرو ژورو علومو اومعلوماتو خزانه ده ، دسورة نجم په آیتونوکی چونکی دصحابه وو رضی الله عنهم اوتابعینو څخه واخله ترامامانو مجتهدینو اومحدثینو اومفسرینو رحمهم الله پوری مختلف اقوال دی او علمی اشکالات په کی معروف اومشهور دی ، په (مشکلات القرآن) کی دوی ددی آیتونو تفسیر داسی فرمایی چې په ډیرو روایتونوکی تطبیق راسی .

بیا داحقر بل استاذ شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله چې کله دصحیح مسلم شرح فتح الملهم تحریر وفرمایله اوداسراء اومعراج په بیان کی دسورة نجم ددی ایتونو حواله راغله نو دمسئلی داهمیت ترمخه ددی ایتونو تفسیر په خپله دحضرت انور الاساتذة قدس سره په قلم سره ولیکله ، دایی دخپل کتاب فتح الملهم جزء جوړکی اوپه خپل فوائد القرآن کی یی هم دا اختیارکی ، دغه ډول داحقر دا تحقیق د دوو بزرګانو استاذانو متفقه تحقیق سو ددی دکتلو څخه اول څوخبری پیش نظر ساتل په کار دی کوم چې تقریبًا دټولو عالمانو امامانو په نزد مسلم دی ، اول دا چې نبی کریم ﷺ جبرائیل امین دده په اصلی صورت کی دوه واره لیدلی دی او ددی دواړو وارو دلیدلو ذکر دسورة نجم په ذکر سوو ایتونو کی موجود دی ، دوهم وار په کوم ځای اوپه کومه زمانه کی یی ولیدی ، دا خو یی په دی ایتونوکی متعین نسوولی دی چې دارڼویت په اووم آسمان دسدرة المنتهٰی په خوا کی سوی دی اودا ظاهره ده چې اووم آسمان ته دنبی کریم ﷺ تشریف وړل صرف په لیلة المعراج کی سوی دی ، په دی سره ددی رڼویت ځای هم معلوم سو اووخت هم چې دغه په شپه دمعراج کی سوی دی، داولنی رڼویت دمحل وقوع او وخت تعین په دی ایتونوکی نسته ، مګر په صحیح بخاری باب بدء الوحی کی دحضرت جابر بن عبدالله ددی لاندی حدیث څخه دا دواړه شیان متعین کیږی .

قَالَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ فَقَالَ فِي حَدِيثِهِ بَيْنَا أَنَا أَمْشِي إِذْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِي فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَرُعِبْتُ مِنْهُ فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ إِلَى قَوْلِهِ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ) فَحَمِيَ الْوَحْيُ وَتَتَابَعَ .

نبی کریم ﷺ په وحی کی دفترت یعنی دوقفی ذکر کوی ، ویی فرمایل چې (یوه ورځ) کله چې زه روان وم، ناڅاپه می دآسمان دطرف څخه یو اواز واوریدی ماسترګی لوړی کړی نو ومی لیدل چې هغه ملائکه کومه چې په حراء کی ماته راغلی وه دآسمان اومځکی په مینځ کی (معلق) پرېوه کرسی ناسته ده ، زه دده څخه مرعوب سوم کورته راغلم اوومی ویل چې ماپټ کی دغه وخت الله ﷻ دسورة مدثر ایتونه تر، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ پوری نازل کړل او ددی څخه وروسته وحی مسلسل راتلل شروع سو .

ددی حدیث څخه معلومه سوه چې دجبرائیل امین په اصلی صورت کی دلیدو اوله واقعه دفترت وحی په زمانه کی په مکه مکرمه کی دننه هغه وخت پیښه سوه ، کله چې دوی ﷺ دمکی په ښارکی یوځای تلل ،

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه معلومه سوه چی اوله واقعه دمعراج څخه مخکی په مځکه باندی او دوهمه واقعه په اووم آسمان په شپه دمعراج کی پیښه سوه .

دوهمه خبره دا هم دتولو په نزد مسلمه ده چی دسورة نجم په ابتدایی ایتونوکی کم از کم دایت ، وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرٰى : څخه تر ، لَقَدْ رَأٰى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى : پوری تول آیتونه دمعراج دواقعی متعلق دی .

دذکر سوو امورو ترمخه استاد محترم حجة الاسلام حضرت مولانا سید محمد انور شاه کشمیری رحمه الله دسورة نجم دابتدایی آیتونو تفسیر داسی فرمایلی دی چی .

قرآن کریم دخپل عام اسلوب مطابق دسورة نجم په ابتدایی آیتونوکی دوه واقعات ذکر فرمایلی دی ، یوه واقعه دحضرت جبرائیل ﷺ د دوی په اصلی صورت کی دهغه وخت دلیدو ده کله چی دوی دفترت وحی په زمانه کی په مکه مکرمه کی یوځای تلل او دا واقعه داسراء اومعراج څخه مخکی ده .

دوهمه واقعه دشب معراج ده په کومه کی چی دجبرائیل امین په اصلی صورت کی د دوباره لیدو څخه وروسته دنور عجائبات او دالله ﷻ لوی آیتونه لیدل ذکر دی ، په دی آیت کبرٰی کی په خپله دحق سبحانه تعالی زیارت او رؤیت شامیلدل هم محتمل دی .

دسورة نجم دابتدایی آیتونو اصل مضمون دنبی کریم ﷺ په رسالت او د دوی په وحی کی دشبهاتو را ایستلو جواب دی چی په ستورو قسم اخلی ، الله ﷻ دا فرمایی چی نبی کریم ﷺ څه ارشادات امت ته ورکوی ، نه په دی کی دځه غیراختیاری غلطی امکان سته نه داختیاری غلطی ، او دا دوی چی څه فرمایی ، په خپل څه نفسانی غرض سره یی نه فرمایی ، بلکه دغه تول دالله ﷻ دطرف څخه رالیږل سوی وحی وی ، بیا چونکی دا وحی دحضرت جبرائیل ﷺ په واسطه سره رالیږل کیږی ، هغه په حیثیت دمعلم او مبلغ وحی رسوی ، په دی وجه دحضرت جبرائیل ﷺ دمخصوصو صفتونو او عظمت شان بیان په څو آیتونوکی یی ذکر وفرمایی ، په دی کی دزیات تفصیل وجه شاید دا هم وی چی دمکی مشرکان خو دحضرت اسرافیل ﷺ اومیکائل ﷺ څخه واقف وه ، دحضرت جبرائیل ﷺ څخه واقف نه وه ، په هرحال دحضرت جبرائیل ﷺ دصفتونو بیانولو څخه وروسته بیا اصل مضمون دوحی بیان فرمایی ، فَأَوْحٰى إِلٰى عَبْدِهِ مَا أَوْحٰى : تردی پوری دا تول یولس آیتونه دی په کوموکی چی دوحی او رسالت دتوثیق په ضمن کی دحضرت جبرائیل ﷺ دصفتونو ذکر دی او چی فکر وسی نو دا تول صفتونه په حضرت جبرائیل ﷺ بی تکلفه صادق راځی ، داکه دالله ﷻ صفتونه مقرر سی ، لکه چی څینو مفسرینو ویلی دی نودتکلف او تاویل څخه خالی نه دی ، مثلاً ، شَدِيدُ الْقُوٰى : ذُومِرَّةٍ : ذَا فَتَدَلّٰى : فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰى : دا کلمات دتاویل سره خو دالله ﷻ دپاره ویل کیږی ، مګر بی تاویله اوبی تکلفه دی مصداق جبرائیل امین کیدی سی ، په دی وجه په دی ابتدایی ایتونو کی چی دکوم رؤیت اوقرب اواتصال ذکر دی هغه تول دحضرت جبرائیل ﷺ د رؤیت سره متعلق ګرځول اقرب او اسلم معلومیږی .

البته ددی څخه وروسته ددولسم آیت ، مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأٰى : څخه تر : لَقَدْ رَأٰى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى : پوری په کومو کی چی واقعه داسراء اومعراج بیانیږی په دی کی هم دجبرائیل امین دوباره په اصلی صورت

Maktaba Tul Ishaat.com

کی لیدل که څه هم ذکر دی ، مګر دنورو دایات کبرٰی په ضمن کی دی په کومو کی چی رؤیت دباری تعالی دشاملیدلو احتمال هم لری ،کوم چی لوړیی تائیدسوی دی ، په صحیح احادیثواواقوالو داصحابو اوتابعینو سره ، دا نه سی نظر انداز کولی ځکه د ، مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى : تفسیر دا دی چی څه نبی کریم ﷺ په سترګو سره ولیدل ، د دوی زړه مبارك یی تصدیق وکی چی صحیح یی ولیدل ، په دی تصدیق کی یی زړه مبارك څه غلطی ونه کړه ، دا یی په مَاكَذَبَ لفظ سره تعبیر کړي ده او په دی کی دَ، څه چی یی ولیدل ، الفاظ عام دی ، دجبرائیل امین لیدل هم په کی شامل دی اوڅه چی دمعراج په شپه کی دوی لیدلی دی هغه ټول په کی شامل دی او په دی کی دټولوڅخه اهم په خپله دحق تعالی رؤیت او زیارت دی ، ددی تائید ددی ځخه هم کیږی چی په راتلونکی آیت کی ارشاد دی ، أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى په دی کی دمکی مشرکانو ته خطاب دی چی تاچی څه ولیدل یا اننده به یی وینی ، هغه دجګړی اواختلاف کولو یاشك اوشبهی شی نه دی ، عین حق اوحقیقت دی ، په دی آیت کی یی دا ونه فرمایل چی ، أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَاقَدْ رَأَى بلکه عَلَى مَايَرَى په صیغه دمستقبل یی وفرمایل چی په دی کی راتلونکی رؤیت کوم چی په شپه دمعراج کی کیدونکی وو ، دی طرف ته یی اشاره وکړه ، اوپه دی پسی په وروستی آیت کی، وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى کی ددی وضاحت دی او په دی آیت کی هم د دواړو رؤیتونو احتمال دی ، یعنی رؤیت دجبرائیل ﷺ او رؤیت دحق تعالی ، دحضرت جبرائیل ﷺ رؤیت خو ظاهر دی او دالله ﷻ درؤیت طرف ته اشاره داسی پیدا کیدی سی چی درؤیت دپاره قرب عادتًا ضروری دی ، لکه چی په حدیث کی دحق تعالی نزول ددنیا آسمان طرف ته په اخره شپه کی ذکر دی ، دَعِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى مطلب دا دی چی څه وخت دوی دسدرة المنتهٰی په خوا کی وه کوم چی مقام دقرب دی دالله ﷻ سره ، دغه وخت یی ولیدل، په دی کی دالله ﷻ په زیارت مراد کیدو باندی دا حدیث شاهد دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

وَأُتِيتُ سِدْرَةَ الْمُنْتَهٰى فَغَشِيَتْنِي ضَبَابَةٌ خَرَرْتُ لَهَاسَاجِدًاوَهٰذِهِ الضَّبَابَةُ هِيَ الظُّلَلُ مِنَ الْغَمَامِ الَّتِي يَأْتِي فِيهَااللّٰهُ وَيَتَجَلّٰى زه سدرة المنتهٰی ته ورسیدم نو زه دوریځی په شان یو شی پټ کړم زه ددی دپاره په سجده پریوتم ، دقیامت په ورځ دحق تعالی ظهور دقرآن کریم په یو آیت کی داسی ذکر دی چی دوریځی دسایی په شان څه شی به وی په هغه کی به الله ﷻ نزول اجلالی وفرمایی .

دغه شان دراتلونکی آیت ، مَازَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى په مطلب کی هم دواړه رؤیتونه شامل دی اوپه دی سره دازیاته ثابته سوه چی دا رؤیت په حالت دبیداری کی په سترګو سره سوی دی ، لنډه دا چی په کومو آیتونوکی دمعراج دشپی ذکر دی ، په هغوکی درؤیت په باره کی چی څومره الفاظ راغلی دی په هغه ټولوکی درؤیت جبرائیل ﷺ او رؤیت حق تعالی سبحانه دواړو احتمال دی ، نورو حضراتو هم ددی تفسیر په رؤیت حق تعالی سره کړی دی ، ددی ګنجائش په الفاظو دقرآن کی موجود دی .

(درؤیت باری تعالي مسئله)

ټول صحابه اوتابعین اوجمهور امت په دی باندی متفق دی چی په اخرت کی به جنتیان اوعام مومنان دالله ﷻ دیدارکوی لکه چی صحیح احادیث په دی شاهد دی ، ددی ځخه دومره معلومه سوه چی دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

رؤیت او زیارت څه محال یاناممکن امر نه دی البته په عالم دنیا کی په انسانی نظرکی دومره قوت نسته کوم چی ددی برداشت وکی ، په دی وجه په دنیاکی چاته رؤیت اوزیارت دحق تعالی نه سی کیدی ، داخرت په معامله کی په خپله دقرآن کریم ارشاد دی ، فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ : یعنی په اخرت کی به دانسان نظر تیز او قوی سی اوپه دی به ورځخه لیری کړل سی .

حضرت امام مالك رحمه الله فرمایی چی په دنیاکی یو انسان الله ﷻ نه سی لیدی ، ځکه چی دده نظر فانی اوالله ﷻ باقی دی ، بیاچی کله په اخرت کی انسان ته غیر فانی نظر ورکول کیږی نو دحق تعالی په رؤیت کی به هیڅ مانع پاته نه سی ، تقریبًا دا مضمون دقاضی عیاض ځخه هم منقول دی اودصحیح مسلم په یوحدیث کی ددی تقریبًا وضاحت دی چی الفاظ یی دا دی ، وَاعْلَمُوْا اَنَّكُمْ لَنْ تَرَوْا رَبَّكُمْ حَتّٰى تَمُوْتُوْا (فتح الباری ص ۴۹۳ ج ۸) ددی ځخه امکان خو ددی هم را ووتی چی په عالم دنیاکی هم څه وخت په خصوصی طور دنبی کریم ﷺ په نظر کی هغه قوت ورکول سی ، په کوم سره چی دی دحق تعالی زیارت وسی ، لیکن ددی عالم ځخه دباندی کله چی په شپه دمعراج کی دوی ﷺ دآسمانونو اوجنت او دوزخ اوالله ﷻ دخاصو آیتونو دقدرت دمشاهدی کولو دپاره په امتیازی حیثیت سره وبلی ، دغه وخت خو دحق تعالی زیارت ددی عامی قاعدی ځخه هم مستثنی دی چی دا وخت دوی په دی عالم دنیاکی نه دی دثبوت دامکان ځخه وروسته مسئله دا پاته کیږی چی ایا رؤیت واقع سو اوکه نه ؟ په دی معامله کی روایتونه داحادیثو مختلف او ایتونه دقرآن محتمل دی ، په دی وجه په اصحابو ﷺ، تابعینو او امامانو ددین کی دا مسئله همیشه په اختلاف کی پاته سوه .

ابن کثیر ددی آیتونوپه تفسیرکی فرمایی چی حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ دنبی کریم ﷺ دپاره رؤیت حق سبحانه وتعالی ثابت فرمایی اودسلفوصالحینو یوجماعت د دوی اتباع کړي ده اوداصحابو ﷺ اوتابعینو ډیرو جماعتونو ددی ځخه اختلاف کړی دی ، مخ ته یی ددواړو جماعتونو دلیلونه وغیره بیان کړی دی .

دغه شان حافظ په فتح الباری کی په تفسیر دسورة نجم کی داصحابو ﷺ اوتابعینو ددی اختلاف ذکر کولوځخه وروسته داسی ځینی اقوال هم نقل کړی دی ، په کوموسره چی په دی دواړو مختلفو اقوالوکی تطبیق وسی اوفرمایی چی قرطبی په المُفْهِم کی دی خبری ته ترجیح ورکړي ده چی مونږدی په دی معامله کی هیڅ فیصله ونه کو ، بلکه توقف اوسکوت دی اختیارکو ، ځکه چی دامسئله څه عملی مسئله نه ده چی په یوه طرف باندی یی عمل کول ناګزیر وی ، بلکه دا دعقیدی مسئله ده په کومه کی چی ترڅو پوری قطعی الثبوت دلیلونه نه وی ، هیڅ فیصله نه سی کیدی اوترڅو چی په یوکارکی قطعی الثبوت دلیلونه نه وی ، هیڅ فیصله نه سی کیدی اوترڅو چی په یوکارکی قطعی خبره معلومه نه وی حکم یی دتوقف دی (فتح الباری ص ۴۹۴ ج ۸) داحقر په نزد دا اسلم اواحوط ده ، په دی وجه ددی مسئلی دواړه طرف ته دلیلونه او وجوهات ذکر نه سول . والله سبحانه وتعالی اعلم

أَفَرَءَيْتُمُ اللَّٰتَ وَالْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٢٠﴾ أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ ﴿٢١﴾

ښه ده تاسی وګورئ لات اوعزّیٰ ته ، او منات دریم بل دی ، آیا تاسی لره زامن اوهغه لره لونی ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ ﴿٢٢﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ

داخو ډیر بې مناسبه تقسیم دی، داتول نومونه دی کوم چې ایښوولی دی تاسی اوستاسی پلارنیکه نه دی نازل کړی

بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ ۚ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنْفُسُ ۖ

الله په دی څه دلیل ، دوی محض په اټکل چلیږي او دخپل زړه په خواهش

وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مِنْ رَبِّهِمُ الْهُدَىٰ ﴿٢٣﴾ أَمْ لِلْإِنْسَانِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾

او رسیدلی دی دوی ته د دوی د رب څخه هدایت ، آیا بنده ته رسیږي څه چې غواړي؟

فَلِلَّهِ الْآخِرَةُ وَالْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾ وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي

پس دالله په لاس کې دی خیر وروسته او اول ، او ډیری ملائکی دی په اسمانونو کې چې هیڅ په کار

شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِنْ بَعْدِ أَنْ يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَرْضَىٰ ﴿٢٦﴾

نه ورځی دهغوی سفارش مګر هر کله چې حکم وکړی الله دچا دپاره چې غواړی او خوښ کړی ،

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثَىٰ ﴿٢٧﴾

کوم خلق چې یقین نه لری ، په آخرة هغوی نوم ایږدی ملائکولره نومونه زنانه ،

وَمَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ ۚ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ ۖ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ﴿٢٨﴾

اودوی ته په دی هیڅ خبر نسته محض په اټکل چلیږي، اواټکل په کارنه ورځی دحق په باره کې هیڅ قدری .

لنډتفسیر: (ای مشرکانو! وروسته ددی څخه چې نبی کریم ﷺ حق ویونکی او دوحی تابعداری کوونکی ثابت سو او دوی په دی وحی تابعداری کوونکی ثابت سوه او دوی په دی وحی سره دتوحید حکم فرمایی کوم چې په عقلی دلیلونو سره هم ثابت دی اوتاسی بیا هم دبتانو عبادت کوی نو) ایاتاسی (یووخت ددی بتانو مثلاً) لات اوعزّی اودیو دریم منات په حال فکرهم کړی دی (چې تاسی ته معلومه سوی وای چې دغه قابل دعبادت دی اوکه نه دی، نو په کلمی دفاء سره دافائده وسوه چې ستادخبردارکولوڅخه وروسته خبردار کیدل په کار وه او دتوحید متعلق یوه بله خبره قابل غورده چې تاسی کوملائکوته دخدای لونې وایاست اومعبودان یی جوړوی نو) ایا ستاسی دپاره خو زامن (انتخاب) دی اودخدای دپاره لونې (منتخب دی یعنی کومو انجلیانی چې تاسی عار اوشرم اودنفرت قابلی ګڼی دهغوی دی دخدای طرف ته نسبت وسی) په دی حالت کی خو دا ډیر ناجائز تقسیم سو (چې ښه شی ستاسی په حصه

Maktaba Tul Ishaat.com

کی اوبدشی دخدای په حصه کی نعوذ بالله منه دایی بنا علی العرف وفرمایل کنه نو دخدای ﷻ دپاره خو زامن منتخب کول هم ناجائزه خبره ده، دا (ذکر سوی معبودان بتان اوملائکی په ذکر سوی عقیده، خالص نومونه دی (یعنی دامسمیات دخدای کیدوپه حیثیت سره هیڅ موجود شی نسته ، بلکه مثل دهغو اسماوو دی دکومو چی یوڅای مصداق نه وی) کوم چی تاسی اوستاسی پلرونو نیکه ګانو (دڅانه) مقرر کړی دی ، خدای ﷻ خو د دوی (دمعبودکیدو) هیڅ دلیل (عقلی یانقلی) نه دی رالیږلی (بلکه) داخلګ (په دی عقیده دالوهیت دغیرالله کی) صرف په بی اصله خیالاتو اودخپل نفس په خواهش (کوم چی د دوی دبی اصله خیالاتوڅخه پیداکیږی) چلیږی (په دواړوکی فرق داسو چی دهرعمل څخه مخ ته یوه عقیده وی اویوعزم اوارادہ کومه چی دعمل دپاره محرکه وی ، نو په دواړو سره د دواړو طرف ته اشاره ده) حال دا دی چی دوی ته د دوی درب دطرف څخه (په واسطه دنبی کریم ﷺ کوم چی حق ګو او دوحی الهی تابع دی په دوی سره) هدایت (دواقعی امر) راغلی دی (یعنی په خپله خوپه خپله دعوی څه دلیل نه لری اوددی دعوی په تفصیل باندی درسول ﷺ په ذریعه سره دلیل اوری اوبیاهم نه منی ، داخو خبری وی دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چادمعبودکیدوپه ابطال کی مخ ته ددی بیان دی چی تاسی کوم بتان په دی غرض سره معبود منی چی دوی به دالله ﷻ سره ستاسی سفارش وکی دا غرض هم محض دوکه اوباطل دی فکر وکی چی) آیا انسان ته دده هره یوه تمنا حاصلیږی (واقعه داسی نه ده څکه چی هره تمنا) هم دخدای په اختیارکی ده ، داخرت (هم) او ددنیا (هم نو هغه چاته چی غواړی پوره کوی اوپه قطعی نص کی دا نبوول سوي ده چی الله ﷻ د دوی داباطله تمنابه پوره کول نه غواړی ، نه په دنیا کی به د دوی په حاجتونوکی شفاعت وکی ، نه په اخرت کی چی هلته دعذاب څخه دنجات شفاعت وکی ، په دی وجه یقیناًهغه به پوره نه سی) او (بی چاره بتان به څه شفاعت وکی چی په هغوی کی په خپله اهلیت دشفاعت نسته په هغه دربارکی خوچی کوم خلګ اهل دی دهغوی هم بی داجازت دحق څخه څه نه چلیږی چنانچی) ډیری ملائکی په آسمانونوکی موجود دی (شایدپه دی کی اشاره وی دلوی شان طرف ته ، مګر سره ددی لوی شان د دوی سفارش ذره هم په کارنه سی راتلی (بلکه په خپله شفاعت نه سی پیداکوی) مګر وروسته ددی چی الله ﷻ دچادپاره چی غواړی اجازت ورکی او (دده دپاره په شفاعت کولوسره) راضی سی (یَرْضٰی یی څکه زیات کی چی یوڅای دمخلوق اذن بی درضا څخه هم په څه دباؤ یامصلحت سره کیدی سی دالله ﷻ په معامله کی ددی هم څه لیری احتمال نسته، چی هغه په څه دباؤ سره مجبوره سی راضی سی ، مخ ته ددی بیان دی چی دملائکو داولاد مقررکول کفر دی چی) کوم خلګ په اخرت ایمان نه لری (بلکه ددی څخه دانکار په وجه کافر دی) هغوی ملائکی (دخدای) دلونو په نوم سره یادوی (د دوی په اخرت باندی دکفر دتعبیرپه تخصیص سره شاید دی طرف ته اشاره وی چی داتولی ګمراهی داخرت څخه په بی فکری سره پیداسوی دی کنه نوداخرت معتقدته دخپل نجات خامخا فکروی اودلته انثٰی په معنٰی دلور لکه په دی قول دالله ﷻ کی ، وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰی : اوکله چی ملائکی دخدای سره دشریکولو کفرکیدل واضح سو ، نو بتانو ته دشریك جوړولوکفرکیدل خوپه درجه اولی ثابت سوه په دی وجه صرف پردی باندی بسوالی وسو ، مخ ته ددی بیان دی چی ملائکی دالله ﷻ لونی مقررول باطله عقیده ده، حال

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دی چی د دوی سره په دی باندی څه دلیل نسته ، صرف په بی اصله خیالاتو باندی روان دی او یقیناً بی اصله خیالات په حق امر کی (په ثابتولو کی) ذره هم مفید کیدی نه سی .

معلومات اومسئلي : په تیرو آیتونوکی دنبی کریم ﷺ دنبوت او رسالت د دوی دوحی دمحفوظ کیدو ددلیلونو تفصیلی ذکر وو په دی آیتونو کی ددی بالمقابل دعربو دمشرکانو ددی فعل مذمت دی چی دوی بغیر دځه دلیل څخه مختلفو بتان خپل معبود کارساز جوړ کړی دی اوملائکو ته دخدای لونی وایی اوپه څینو روایتونوکی دی چی دغو بتانوته به هم دوی دخدای ﷻ لونی ویلی .

دعربو دمشرکانو بتان دکومو چی دوی عبادت کوی بی شمیره دی ، مگر په هغه کی دری زیات مشهور دی او د دغو په عبادت باندی دعربو لوی لوی قبیلی لگیدلی وی ، لات، عزّی ، منات، لات دثقیف قبیلی (طائف والاوو) بت وو ، عزٰی دقریشو اومنات دبنی هلال، ددی بتانوپه څایونو مشرکانو لوی لوی شاندار مکانات جوړ کړی وه کومو ته چی به یی دکعبی حیثیت ورکوی ، دمکی دفتح څخه وروسته نبی کریم ﷺ دا ټوله ونړول (قرطبی)

قِسْمَةٌ ضِيْزٰى : دضیزٰی معنٰی ظالمانه تقسیم دی ، دَضَوْز څخه مشتق دی ، چی معنٰی یی ظلم کول اوحق تلفی کول دی ، په دی وجه حضرت ابن عباس ﷺ دَقِسْمَةٌ ضِيْزٰى معنٰی ظالمانه تقسیم کړي ده .

(دظن مختلف اقسام اوددی احکام)

وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا : لفظ دظن په عربی ژبه کی دمختلفو معانیو دپاره ویل سوی دی ، یوه معنٰی یی دا هم ده چی بی بنیاد خیالاتوته ظن ویل کیږی ، په آیت کی دامراد دی ، اودادمکی دمشرکانو دبت پرستی سبب وو ،په دی وجه دلیری کولودپاره یی دا فرمایلی دی او دوهمه معنٰی دظن هغه ده کومه چی دیقین په مقابله کی راځی، یقین ویل کیږی، هغه علم قطعی مطابق دواقعی ته په کوم کی چی څه شك اوشبهه نه وی ، لکه دقرآن کریم یادمتواترو احادیثو څخه حاصل سوی علم ، ددی په مقابله کی ظن هغه علم ته ویل کیږی کوم چی بی بنیاده خیالات خو نه وی ددلیل په بنیاد باندی قائم وی ، مگر دا دلیل په داسی قطعی درجه کی نه وی چی بل احتمال په کی نه وی ، لکه داحادیثو په عامو روایتونو باندی ثابت سوی احکام ، په دی وجه اول قسم مسئلو ته قطعی اویقینی وایی اودوهم قسم ته ظنیات، اوداظن په شریعت کی معتبردی ، په قرآن اوحدیث کی ددی دمعتبر کیدو شواهد موجود دی او دټول امت په نزد واجب العمل دی، په ذکرسوی آیت کی یی چی کوم ظن ناقابل اعتبار فرمایلی دهغه څخه مراد ظن په معنٰی دبی بنیاد اوبی دلیله خیالات دی ، په دی وجه څه اشکال نسته .

فَأَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ

نو ته منع کوه دهغه چا څخه چی مخ یی واړوی زمونږ دیادو څخه او نه غواړی

إِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝٢٩ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ

مگر ددنیا ژوند ، نو تردی پوری رسیږي د دوی پوهه ، بیشکه ستا رب دی ښه

Maktaba Tul Ishaat.com

بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ﴿۳۰﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

پوهه په هغه چاچی غلط سو دهغه دلاری څخه، اوهغه ښه پوهه دی په هغه چاچی په لاری سو ، اوخاص الله لره دی څه

وَمَا فِي الْاَرْضِ ۙ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَيَجْزِيَ الَّذِيْنَ

چی په اسمانونوکی دی اوپه مځکه کی چی بدله ورکړی بدی کوونکو ته ، د دوی دعمل او بدله ورکړی

اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰى ﴿۳۱﴾ الَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا

نیکی کوونکو ته په نیکی سره ، کوم چی څان ساتی دلویو ګناهونو څخه او دبی حیایی دکارونو څخه مګر

اللَّمَمَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ۭ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ

کوچنی ګناهونه، بیشکه ستاربډیرفراخه بخشش کوونکی دی، هغه ښه پوهه دی په تاسی باندی کله چی یی پیدا کړی تاسی

الْاَرْضِ وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۭ

دمځکی څخه او کله چی تاسی بچی واست په نس کی دمیندو ، پس پاک مه وایاست ځانونو ته ،

هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿۳۲﴾

هغه ښه پیژنی هغه چاله چې څان ساتي ګناهونو څخه .

لنډتفسیر: (هرکله چی په ، إِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ : او ، جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى : سره دعربو دمشرکانو عناد کول معلوم سوچی سره دنزول دقرآن او دهدایت څخه دوی په خپل ګمان اوخواهش چلیږی اودعنادکوونکی څخه دحق قبلولوامیدنه وی) نوددا سی سړی څخه خپل خیال واړوه کوم چی زمونږ دنصحیت خیال نه ساتی اوبغیر ددنیوی ژوند څخه دده بل مقصودنه وی (چی ددی وجه په اخرت باندی دایمان نستوالی دی کوم چی دَ، لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ : څخه لوړمعلوم سوی دی او) ددی خلګو دپوهی درسیدوحدبس دغه (ددنیا ژوند) دَی (کله چی ددوی دناپوهی اوبی فکری حددی ځای ته رسیدلی دی نو د دوی فکر مه کوه ، د دوی معامله الله ﷻ ته حواله کړه بس) ستا پروردګار ښه پوه دی چی څوک دهغه دلاری څخه اوښتی دی او هم هغه ، هغه څوک هم ښه پیژنی کوم چی په سیده لاره دی (په دی سره خو دهغه علم ثابت سو) او (په دی سره یی قدرت ثابت دی چی) څه چی په آسمانونو اوپه مځکه کی دی هغه ټول دالله ﷻ په اختیارکی دی (کله چی هغه په علم اوقدرت دواړوکی کامل دی او دده په احکامو اوقانون باندی په عمل کولو سره دخلګو دوه قسمونه دی ګمراه اوپه هدایت عمل کوونکی نو) انجام کار دا دی چی بدکارکوونکوته به دهغوی دَ (بد) کار په عوض کی (په خاص طور) جزاء ورکړی اونیک کارکوونکوته به دهغوی دنیک کار

Maktaba Tul Ishaat.com

کولوپه عوض (په خاص طور) جزاء ورکی (ددی مقتضا دا ده چی هغه ته یی حواله کړی مخ ته دهغو خلکو بیان دی کوم چی نیکو کار محسنین دی) هغه خلګ داسی دی چی دکبیره ګناهونو څخه او (په دی کی) دبی حیایی دخبرو څخه (بالخصوص زیات) ځانونه ساتی مګر کوچنی کوچنی ګناهونه (کله کله ورڅخه وسی نو دکومی نیکوکاری چی دلته ذکر دی په هغه کی د دوی خلل نه راځی ، مطلب داستثناء دا دی چی دکومو نیکو کارو چی په دی آیت کی مدح سوي ده او د دوی دالله ﷻ په نزد دمحبوب کیدو اظهار سوی دی ، ددی دمصداق جوړیدو دپاره دکبیره ګناهونو څخه ځان ساتل څوشرط دی ، لیکن دکوچنیوګناهونوکله کله صدور ددی منافی نه دی یعنی دمحبوبیت منافی نه دی ، البته په صغیره ګناهونوکی هم دا شرط دی چی عادت یی جوړ نه کی او اصرارنه پرکوی ، یوځای په اتفاقی طور سره وسی ، کنه نو په عادت اواصرار سره صغیره ګناه هم کبیره سی او داستثناء دا مطلب نه دی چی دصغائرو اجازت دی ، او دکبائرو څخه دځان ساتلو دشرط دا مطلب دی چی نیکو کارو ته د دوی دنیک عمل ښه جزا حاصلیدل دکبائرو څخه په اجتناب موقوف دی ، ځکه چی مرتکب دکبائروهم چی کله نیکی کوی جزا به پیدا کی ، لکه دا قول دالله ﷻ دی ، فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ، نو دا شرط دجزا ورکولو په اعتبار سره نه دی ، بلکه ده ته دمحسن اومحبوب عندالله دلقب ورکولوپه اعتبار سره دی په کوم چی عنوان د اَحْسَنُوا دلالت کوی ښه پوه سی اولوړ چی دکومو بدکاریو دسزا ورکولو بیان راغی ، په دی سره دګناهګارو دنا امیده کیدو هم کیدی سو چی اثر به یی دا وو چی دایمان اوتوبی څخه به نا امیده کیدل او محسنینو ته به دنیکی جزا په وعده ورکولو سره د دوی په عجب اوغرورکی دمبتلاکیدو وهم او خطره وه ، مخ ته ددی وهمونو رد سوی دی) بیشکه ستا درب مغفرت ډیرلوی وسیع دی (ګناهګارو ته دګناه په تدارك سره بی همته کیدل نه دی په کار ، هغه که وغواړی نو بغیر دکفر اوشرك څخه نوری بدی محض په فضل سره معاف کوی نو په تدارك سره به یی ولی نه معاف کوی اودغه شان نیکی کوونکو ته عجب اوغرورکول نه دی کول په کار ، ځکه چی په نیکیوکی ځینی وخت داسی پټ نقصانونه حاصلیږی ، دکومو په سبب چی هغه قابل قبول پاته نه سی او دعامل دغه طرف ته په نه فکرکیدوسره دهغه څخه خبر هم نه وی اوالله ﷻ ته خوعلم دی کله چی دغه نیکی مقبولی نه وی ، نوکوونکی یی محسن اومحبوب نه دی ، بیا عجب اوغرور دځه دی ، او دا خبره چی ستاسی دهیڅ حالت په خپله تاسی ته اطلاع نه وی او الله ﷻ ته اطلاع وی ، دا څه دتعجب خبره نه ده بلکه دابتداء څخه ددی وقوع کیږی چنانچی) هغه تاسی (اوستاسی حالات دهغه وخت څخه) ښه پیژنی کله چی تاسی یی (یعنی ستاسی نیکه حضرت ادم ﷺ یی) دمخکی (دخاوری) څخه پیداکی (دکوم په ضمن کی چی په واسطه سره تاسی هم دخاوری څخه پیدا سواست) اوکله چی تاسی دخپلو میندوپه نس کی بچیان واست (اوپه دی دواړو حالتونوکی تاسی ته په خپله خپل څه علم نه وو ، اومونږ ته علم وو ، نو دغه شان اوس هم ستاسی په خپله دځان څخه ناواقفه کیدل او زمونږ عالم او واقف کیدل څه دتعجب خبره نه ده ، کله چی دا خبره ده) نو تاسی خپل ځانونه پاك مه ګڼی (ځکه چی) تقوی دار هغه ښه پیژنی (چی فلانی متقی دی فلانی نه دی که څه هم صورتًا افعال دتقوی د دواړو څخه صادریږی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: فَأَعْرِضْ عَنْ مَنْ تَوَلّٰى عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِنَ الْعِلْمِ : یعنی ته دداسی خلګو څخه خپل خیال واړوه کوم چې زمونږ دیاد څخه مخ اړوی او ددنیا دژوند څخه ماسوا د دوی بل مقصد نه وی ، دا د دوی انتهایی علم او هنر دی .

ضروری خبردارې : قرآن کریم دا دهغو کفارو حال بیان کړی دی کوم چې داخرت اوقیامت څخه منکر دی افسوس دی چې انګریزی تعلیم اوددنیا خواهشاتو نن صبا زمونږ دمسلمانانو داحال کړی دی چې زمونږ ټول علوم اوفنون اودعلمی ترقی ټول کوششونه صرف دمعاشیاتو پرشا اوخوا ګردش کوی معادیات (داخرت معاملی) مودداسی هیرکړی دی چې خیال قدر یی هم نه ورته کیږی ، مونږ دنبی کریم ﷺ نوم اخلو او دده دشفاعت امید کوو ، مګر حالت داسی سوی دی چې الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته ددداسی حالت والاوو څخه دمخ اړولو هدایت کوی ، نعوذ بالله منه .

اَلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ : په دی آیت کی یی دالله ﷻ دپیروی کوونکو نیکو کوونکو خلګو ذکر په مقام دمدح کی وفرمایی ، د دوی پیژندګلوی یی دا ښوولی ده ، چې دوی دکبیره ګناهونو څخه عموماً اودفحش اوبی حیایی دکارونو څخه خصوصاً لیری اوسی ، په دی کی یوه استثناء په لفظ دلَمَمْ فرمایلی ده (چې تشریح یی مخ ته راځی او داستثناء مطلب هغه دی کوم چې لوړ په لنډ تفسیرکی ولیکل سو ، چې هغه خلګو ته کومو ته چې دنیکو کارو خطاب ورکول سوی دی ، په لَمَمْ کی اخته کیدل دوی ددی خطاب څخه نه محرومه کوی .

دلَمَمْ، په تفسیرکی داصحابو ﷺ اوتابعینو څخه دوه قوله منقول دی ، یو دا چې ددی څخه مراد صغیره ګناهونه دی کوم چې یی دسورة نساء په آیت کی په سیئات سره تعبیر کړی دی ، إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ : دا قول دحضرت ابن عباس ﷺ او ابوهریره ﷺ څخه ابن کثیر نقل کړی دی ، دوهم قول دا دی چې ددی څخه مراد هغه ګناه ده کومه چې دانسان څخه اتفاقی طور کله وسی ، بیاورځخه توبه وباسی او دتوبی څخه وروسته بیاهغه ته ورنږدی نه سی ، دا قول هم ابن کثیر په روایت دابن جریر اول دحضرت مجاهد څخه نقل کړی دی اوبیایی دابن جریر په دوهم روایت کی دا قول په واسطه دعطاء دحضرت ابن عباس ﷺ څخه اوپه روایت دحضرت حسن بصری دحضرت ابوهریره ﷺ څخه هم نقل کړی دی ، ددی هم مطلب دا دی چې دنیك سړی څخه که کله اتفاقاً ګناه کبیره هم وسی اودی توبه وکاږی ، نو داسړی هم دصالحینو اومتقیانو دټهرست څخه نه خارجیږی، دسورة ال عمران په یوایت کی دامضمون بالکل واضح اوښکاره راغلی دی ، هغه دا دی چې دمتقیانو دصفتونو بیانولو په ذیل کی فرمایی ، وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ : یعنی دغه خلګ هم په متقیانو کی دا خل دی دکومو څخه چې څه فحش کبیره ګناه وسی یاهغوی دګناه په کولو سره په خپل ځان ظلم وکړی نو فوراً دوی ته الله یادسی او دخپلو ګناهونو مغفرت وغواړی اودالله ﷻ څخه ماسوا دګناهونو معاف کوونکی څوك کیدی سی اوکومه ګناه چې ورڅخه سوی وی په هغه اصرار کوونکی پاته نه سی ، او دا هم دجمهورو عالمانو په نزد متفق علیه

Maktaba Tul Ishaat.com

ده چی په کومه صغیره گناه باندی اصرار وسی اوعادت جوړسی هغه هم کبیره گناه سی ، په دی وجه په ذکرسوی لنډ تفسیرکی دلَمَمْ تفسیر په هغه صغیره گناهونو سره سوی دی په کومو چی اصرارنه وی سوی

﴿ دصغیره اوکبیره گناه تعریف ﴾

دا مضمون په پوره تفصیل سره دسورة نسآء دایت ، إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ : په تفسیرکی په (۵، ۲۹ کی تیر سوی دی هلته یی وگوری .

هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ، أَجِنَّةٌ دَجَنِين : جمع ده ، بچی کله چی دمور په نس کی وی ده ته جنین وایی ، په دی آیت کی الله ﷻ انسان ته په دی باندی خبرداری فرمایلی دی چی دی په خپله دخپل ځان هم دومره علم نه لری څومره چی دده خالق سبحانه ته دی ، ځکه چی دمورپه نس کی چی کوم دتخلیق مختلف دورونه پرده باندی تیریدل هغه وخت ده هیڅ علم اوشعورنه درلودی ، مگر دده جوړونکی ښه پوهیدی دکوم حکیمانه تخلیق چی دی جوړوی ، په دی کی یی انسان دده پرعجز اوکوم علمی خبردارکړی داهدایت ورته سوی دی چی دغه انسان چی کوم هم ښه اونیك کارکوی ، دغه دده ذاتی کمال نه دی ، دخدای ﷻ ورکول سوی انعام دی چی دکار کولو دپاره ورته اعضاء اواندامونه هغه جوړ کړل ، په دی کی دحرکت قوت هغه کښیښووی، بیاپه زړه کی داعیه اوبیاپه دی عزم اوعمل دهغه په توفیق سره وسو، نو یوچا دلوی ځخه لوی نیك صالح اومتقی اوپرهیزگار انسان ته هم داحق نه رسیږی چی په خپل عمل فخر وکی او دا عمل خپل کمال مقرر کړی او په غرورکی مبتلاسی ، ددی ځخه علاوه دټولوشیانومدارپه خاتمه اوانجام باندی دی اوس ددی حال معلوم نه دی چی خاتمه په څه حال کیږی نوفخر،وغرورکول په کومه خبره باندی دی دا هدایت یی په راتلونکی آیت کی داسی بیان وفرمایی .

فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى: یعنی تاسی دخپل نفس دپاکی دعوی مه کوی ځکه چی په دی صرف الله ﷻ پوه دی چی څوك څنگه دی اودکومی درجی دی ، ځکه دفضیلت مدار په تقوی باندی دی ، په ظاهری اعمالونه دی اوتقوی هم هغه معتبره ده کومه چی ترمرگه پوری قائمه پاته سی ، دحضرت زینب بنت ابی سلمه ﷺ نوم ددی مور اوپلار ،برّه، اینبی وو چی معنی یی ده، نیکو کاره ، نبی کریم ﷺ ذکر سوی آیت، فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ : تلاوت وفرمایی ، ددی نوم ځخه یی منع وکړه ځکه چی په دی کی دخپل نیك کیدو دعوی ده ، او نوم یی ورته بدل کی ، زینب یی ورته کښیښووی (رواه مسلم فی صحیحه) ابن کثیر .

امام احمد رحمه الله دعبدالرحمن بن ابی بکره ﷺ ځخه روایت کړی دی چی یوسړی دنبی کریم ﷺ په مخکی دیو بل سړی مدح اوتعریف وکی ؛ دوی منع کی او وی فرمایل چی که دچامدح اوثناکوی نو په دی الفاظو سره یی کوه چی زماپه علم کی داسړی نیك متقی دی ، وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللهِ أَحَدًا : یعنی زه دا نه سم ویلی چی دالله ﷻ په نزد هم هغه داسی پاك صفا دی ، لکه چی زه یی گنم .

أَفَرَءَيْتَ الَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُۥ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰ ﴿٣٥﴾

آیا تا ولیدی هغه چی مخ یی واړوی ، اولږیی ورکی بیایی بند کی ، آیا دده سره خبر دی دغیبو پس هغه وینی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ﴿٣٧﴾ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ

آیا ده ته خبرنه دی رسیدلی هغه چی په پاڼو د موسی علیه السلام کی دی ، او د ابراهیم چی په خپل قول کی پوره وخته ،
چی نه سی پورته کولی پورته کوونکی بار ،

أُخْرَىٰ ﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ

دبل ، او دا چی رسیږي انسان ته څه چی ده کتلی وی ، او دا چی دی به خپله کتلی

يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الْمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾

خامخا وویني ، بیا به ده ته بدله رسیږي پوره بدله ، او دا چی ستا رب ته دتولو رسیدل دی ،

وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُ خَلَقَ

اوداچی هغه خندول کوی او ژړول کوی، اودا چی هغه مړه کول کوی او ژوندی کول کوی، اوداچی هغه جوړه کړی

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيْهِ

ده جوړه نر او ښځه ، دیو خاڅکی څخه کله چی څڅول کیږي ، او دا چی دهغه په

النَّشْأَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ

ذمه دی بیا پورته کول ، او دا چی هغه دولت ورکی او خزانه ، او دا چی هغه رب

الشِّعْرَىٰ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا الْأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَ فَمَا أَبْقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوْمَ

دشعرٰی دی ، او داچی هغه هلاك کړل عادیان اولنی ، اوثمودیان نو څوك یی باقی پرې نه ښوول اوقوم

نُوحٍ مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا هُمْ أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴿٥٢﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ

دنوح علیه السلام د دوی څخه مخکې ، دغه خو وو نور هم ظالمان او شرارتیان ، او چپه کړی کلی یی

أَهْوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّاهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا

را وویشتل ، بیا را پریوتل په دغو چی څه را پریوتل ، نو اوس کوم کوم نعمتونه دخپل رب درواغجن کوی ، دا

Maktaba Tul Ishaat.com

نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْأُولَىٰ ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ

یوه ډیره اورول دی دمخکنیو ډیرو اورولو سوځخه ، را ورسیدی را ورسیدونکی ، نسته دغه لره دالله څخه ماسوا

اللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ

څوك ښکاره کوونکی ، آیا تاسی ته په دی خبره تعجب دی ؟ او خاندی

وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ سَامِدُونَ ﴿٦١﴾ فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا ﴿٦٢﴾ السجدة

اوژاړی نه ؟ او تاسی تکبر کوی ، نو سجده کوی دالله په مخکې اوبندګی.

شان نزول : په دُرِّ منثورکی په روایت دابن جریر دا نقل سوی دی چی یوسړی اسلام راوړی وو ، دده یو ملګری ده ته ملامتیا وویل چی تادخپل پلارنیکه دین ولی پریښووی؟ ده وویل چی زه دالله ﷻ دعذاب څخه بیریږم ، هغه ورته وویل چی ته ما ته څه را کړه نو زه به ستا داخرت عذاب په خپل سر واخلم نو دعذاب څخه به وساتل سی ، چنانچی ده څه ورکړل ، هغه نور وغوښتل نو دځه دعوی اوجنجال څخه وروسته یی نور ورکړل او دباقی یی دشاهدانو په مخکی لیکلی ورکړل ، په روح المعانی کی یی ددی سړی نوم ولید بن مغیره لیکلی دی چی داسلام طرف ته یی میلان سوی وو ، ددده دوست ملامت کی او دعذاب ـمه واری یی په خپل سر واخیسته .

لنډتفسیر: (تاخو دنیکانو صفتونه واوریدل) نو آیا تاسی دا سړی هم لیدلی دی کوم چی (دحق دین د) مخ اړولو (یعنی داسلام څخه واپس سو) اولږ مال یی ورکی او (بیایی) بندکی (یعنی دکوم سړی سره چی یی دمال ورکولو وعده دخپل مطلب دپاره کړی وه هغه یی هم پوره ورنه کړه او ددی څخه دامعلومه سوه چی داسی سړی به دنورو دنفعی دپاره څه خرچ کړی ، کله چی دخپل مطلب دپاره پوره خرڅ نه سی کولی چی مطلب یی دده بخیل کیدل دی) آیا ددی سړی سره (په څه صحیح ذریعه سره) علم غیب دی چی هغه وینی (دکوم په ذریعه چی ورته معلومه سوه چی فلانی سړی به زمادطرف څخه زما دګناهونو عذاب په خپل سر واخلی مابه دعذاب څخه وساتی) آیاده ته ددی مضمون خبرنه دی رسیدلی کوم چی دموسی ﷺ په صحیفوکی دی (او ددُرِّ منثور دروایت مطابق دسورة اعلی په تفسیرکی دموسی ﷺ دالس صحیفی دتورات څخه علاوه دی) اودارنګه دابراهیم (ﷺ په صحیفوکی اودابه په سورة اعلی کی راسی) کومو چی احکام پوره په ځای کړل (اوهغه مضمون) دا (دی) چی هیڅوك دچاګناه په خپل ځان (په داسی طور سره) نه سی اخیستی (چی ګناه کوونکی بری سی ، بیا دا سړی څنګه پوهه سوچی زماتول ګناهونه به دا سړی په خپل سر واخلی) او دا (ذمه ده) چی انسان ته (دایمان په باره کی) به صرف خپله ګټه حاصلیږی (یعنی دبل ایمان به دده په کار ورنه سی ، نو که ددی ملامت کوونکی سړی سره ایمان وی نوبیابه هم ددی سړی په کار نه ورتلی نو بیا لاځه کوی چی هغه هم ایمان نه لری) او دا (مضمون دی) چی دانسان

Maktaba Tul Ishaat.com

کوشش به ډیر ژر وکتل سی بیابه ده ته پوره بدله ورکول سی (سره ددی بیا داسې دخپلی فلاح دکوشش څخه څنګه غافله سو) اودا (مضمون دی) چې (ټولوته) ستا دپروردګار خواته رسیدل دی (بیا هغه سړی څنګه زړه ورسو) او دا (مضمون دی) چې هغه خندل کوی او هغه ژړول کوی او دا چې هغه وژل کوی او هغه ژوندی کول کوی او دا چې هغه دواړه قسمه یعنی نر اومادی دنطفی څخه جوړوی کله چې (هغه په رحم کی) وغورځول سی (یعنی مالك دتمامو تصرفاتو هغه خدای دی ، بل نه دی ، بیادغه سړی څنګه پوه سو چې دقیامت په ورځ به دا تصرف چې مابه دعذاب څخه وساتی، دبل چا په قبضه کی به سی) اودا (مضمون دی) چې دوباره پیداکول (حسب وعده) دهغه ذمه ده (یعنی داسی ضروری کیدونکی ده لکه چې دچاپه ذمه وی نو ددی سړی دزړه ورکیدو وجه دا هم نه وه په کار چې قیامت به نه راځی) او دا (مضمون دی) چې هغه غنی کول کوی (یعنی سرمایه ورکوی) اوسرمایه ورکړی محفوظه (او) باقی یی ساتی او دا چې هغه مالك دی دستوری شعرٰی هم (دکوم چې به په جاهلیت کی ځینو خلګو عبادت کوی یعنی ددی تصرفاتو او اشیاوو مالك هم هغه دی لکه داولنیو تصرفاتو مالك چې هغه دی اولوړ ذکر سوی تصرفات په خپله دانسان په بدن کی دی او وروستنی تصرفات دانسان په متعلقاتوکی دی چنانچې مال اوستوری دواړه خارج دی اوشاید ددی دواړو په ذکرکی اشاره وی چې کوم تاسی خپل مددګار ګڼی ددغو رب هم مونږ یو ، بیابل ته په قیامت کی ددی سړی دګمان موافق څه تصرف رسیدی سی) او دا (مضمون دی) چې (د دوی څخه یی) څوك باقی پرې نه ښووی او د دوی څخه مخکی قوم دنوح (ﷺ یی هم هلاك کړل) بیشکه هغه دټولوځخه زیات ظالمان اوشرارتیان وه (چې په نهه نیم سوه کاله دعوت باندی هم پرلار نه سوه) او (دلوط ﷺ دقوم) چپه کړی کلی یی هم را وویشتل وه بیایی هغه کلی ونیول کوم شی چې ګیرول (یعنی دلوړ څخه کانی اوریدل پرشروع سو ، نودی سړی که په دی قصوکی غورکولی نودکفر دعذاب څخه به بیریدلی وای اوبی فکره کیدای به نه مخ ته په دی ټولو مضامینو باندی تفریع فرمایی چې ای انسانه ! کله چې په داسی داسی مضامینو باندی ته اګاه کول کیږی چې په وجه دهدایت کیدو هرمضمون په خپل ځای یونعمت ربانی دی) نوته دخپل رب په کوموکومونعمتونوکی به شك (اوانکار) کوی (او ددی مضامینوپه اوریدونفع نه اخلی) دا(پیغمبر) هم مخکنیو پیغمبرانو په شان یو پیغمبر دی (دی ومنی څکه چې) هغه ژر راتلونکی شی نژدی راغلی دی (مرادیی قیامت دی اوکله چې هغه راسی نو) څوك غیرالله دهغه واپس کوونکی نسته (نودچا په بروسه دبی فکری ګنجائش نسته) نوآیا(داسی دبیری په خبرو او ریدو هم) تاسی خلګ په دی کلام (الهی) سره تعجب کوی او (په مسخرو سره) خاندی او (دبیری دعذاب څخه) ژاړی نه اوتاسی (داطاعت څخه) تکبر کوی نو (ددی تکبر او غفلت څخه منع سی او ددی پیغمبر دتعلیم مطابق) دالله ﷻ اطاعت کوی او دده بغیر دشرکت څخه) عبادت کوی (چې تاسی نجات پیداکی)

معلومات اومسئلي : أَفَرَأَيْتَ الَّذِي تَوَلَّى وَتَوَلَّى : لفظی معنٰی مخ ګرځول دی ، مراد دا دی چې دالله ﷻ داطاعت څخه یی مخ واړوی .

وَأَعْطَى قَلِيلًا وَأَكْدَى أَكْدَى وَكُدْيَه څخه مشتق دی کُدْیه هغه سختی ډبری ته ویل کیږی کوم چې دڅاه کیندلو یابنیاد کیندلو په وخت کی په مخکه کی راووزی اودکیندلو دپاره بندیز جوړ سی ، په دی وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

دَاکذی معنی دا سوه چی اول یی څه ورکړل بیا دورکولو څخه منع سو ، دایت په شان نزول کی چی کومه واقعه لوړ بیان سوې ده ، دهغه مطابق خومعنی ظاهره ده او ددی څخه که قطع نظر وسی نو معنی به دا وی چی هغه سړی کوم چی دالله ﷻ په لاره کی څه خرڅ وکی بیایی پربښووی یاپه شروع کی دالله ﷻ داطاعت طرف ته څه مائله سو څه یی وکړل بیایی پربښوول ، ددی لفظ دا تفسیر دحضرت مجاهد رحمه الله سعید بن جبیر ﷺ عکرمه ﷺ قتاده ﷺ وغیره څخه منقول دی (ابن کثیر)

أَعِندَهُ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰ : په شانِ نزول کی چی کومه قصه لوړ بیان سوې ده ، دهغه مطابق خو دایت مطلب دا دی چی کوم سړی اسلام څکه پربښووی چی دده یوملګری ده ته ویلی وه چی ستا داخرت عذاب به زه په خپل سر واخلم تابه خلاص کړم ، دغه احمق په دی یقین څنګه وکی ایاده ته علم غیب حاصل دی ؟ په کوم سره چی هغه وینی چی بیشکه دکفر په صورت کی چی هغه دکوم عذاب مستحق سی ، هغه عذاب به دا ملګری په خپل سرواخلی اوما به خلاص کړی ، کوم چی ظاهره ده چی سراسر دوکه ده ، نه ده ته علم غیب سته ، نه یو بل سړی دچا داخرت عذاب پرخپل سراخیستی سی ، دی خلاصیږی اوکه ددی قصی څخه قطع نظروسی نو معنی دایت به داسی چی هغه سړی کوم چی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی منع سی اوخرڅ کول پریږدی ، نو ددی وجه دا کیدی سی چی ده ته به داخیال سوی وی چی مال که خرڅ کړم نو بیابه دکومه راسی ، ددی خیال په تردید کی فرمایی چی ایاده ته دغیبو علم دی دکوم په ذریعه چی گویا هغه داوینی چی دامال به ختم سی او ددی په ځای به نور مال ده ته حاصل نه سی داغلطه ده څکه چی نه ده ته دغیبو علم دی اونه داخبره صحیح ده، څکه چی په قرآن کریم کی دحق تعالی ارشاد دی ، وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ : یعنی تاسی چی څه خرڅ کوی الله ﷻ دهغه بدل تاسی ته درکوی اوهغه دتولوڅخه ښه رزق ورکوونکی دی ، انسان چی فکر وکی نودالله ﷻ دقرآن دارشاد صرف دمال اودپیسی په معامله کی نه دی ، بلکه هرقوت اوتوانایی چی هغه په دنیاکی خرڅ کوی الله ﷻ دهغه په بدن کی دهغه بدل ما یتحلل پیدا کوی کنه نو دانسان دبدن یو اندام که دفولادو هم جوړ وی نو په شپیته اویا کاله کار اخیستو سره به سولیدی اوهواریدی به، څنګه چی الله ﷻ دانسان په تولو اندامونو کی چی څه په محنت سره تحلیل سی نو دخودکار مشین په شان ددی بدل ددننه نه پیدا کوی ، دغه شان دمال هم داسی معامله ده چی انسان یی خرڅ کوی او دهغه بدل راځی .

په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ حضرت بلال ﷺ ته وفرمایل ، أَنْفِقْ يَا بِلَالُ وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا: یعنی ای بلاله ﷺ دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوه او دعرش والا الله ﷻ دطرف څخه ددی خطره مه کوه چی هغه به تا مفلسه کړی (ابن کثیر)

أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ، وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ : په دی آیت کی دحضرت ابراهیم ﷺ یو خاص صفت وفی بیان سوی دی ، دوفا معنی دوعدی یا معاهدی پوره کول دی ،

(دحضرت ابراهیم ﷺ دخاص صفت ایفاء عهد تفصیل)

مراد دا دی چی حضرت ابراهیم ﷺ چی دالله ﷻ سره کوم عهد کړی وو چی هغه به دالله ﷻ اطاعت کوی او دهغه پیغام به مخلوق ته رسوی ، دوی دامعاهده په هرحیثیت سره پوره کړه ویی ښوولە په کومه کی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی دی دسختو ازمائشونو څخه هم تیرسو ، دَوَفّی دا تفسیر ابن جریر ، ابن کثیر وغیره اختیار کړی دی ، دحدیث په څیښو روایتونوکی یی دحضرت ابراهیم ﷺ خاص خاص اعمال دلفظ دَوَفّی سبب ښوولی دی هغه ددی منافی نه دی ، څکه چی اصل وفاءِ عهد عامه ده ، دټولو الهی احکامو تعمیل اواطاعت چی په کی خپل اعمال هم دا خل دی او دنبوت او رسالت دفرائضو په ذریعه دعام مخلوق اصلاح هم ، په دی اعمالوکی دا عمل هم دی دکومو ذکر چی دحدیث په دی روایتونوکی دی .

مثلاً ابن ابی حاتم دحضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ دا آیت تلاوت وفرمایی ، وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفّى : او بیایی دوی ته وفرمایل چی تاسی پوهیږی چی دَوَفّی مطلب څه دی؟ ابوامامه ﷺ دوی ته وفرمایل چی تاسی پوهیږی چی دَوَفّیٰ مطلب څه دی؟ ابو امامه ﷺ عرض وکی چی الله ﷻ او دهغه رسول ښه پیژنی نو دوی وفرمایل چی مراد دا دی چی .

وَفّى عَمَلَ يَوْمِهِ بِأَرْبَعَ رَكْعَاتٍ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ (ابن کثیر)

یعنی دوی دخپلی ورځی دعملونوتکمیل داسی وکی چی دورځی په شروع کی څلورر کعتونه(داشراق) لمونځ وکی ددی تائید ددی حدیث څخه هم کیږی کوم چی ترمذی دحضرت ابوذر ﷺ څخه روایت کړی آیت چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

ابْنَ اٰدَمَ اِرْكَعْ لِيْ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ مِّنْ اَوَّلِ النَّهَارِ اَكْفِكَ اٰخِرَهُ (ابن کثیر)

یعنی الله ﷻ فرمایی چی ای دادم زویه ! ته دورځی په شروع کی ماته څلور رکعتونه ادا کړه نوزه به تراخر دورځی پوری ستا ټول کارونه پوره کړم .

او دابن ابی حاتم څخه یو روایت دحضرت معاذ بن انس ﷺ څخه دا نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی زه تاسی ته وښیم چی الله ﷻ حضرت ابراهیم ﷺ ته د ، اَلَّذِيْ وَفّى خطاب ولی ورکی؟ بیایی وفرمایل چی وجه دا وه چی هغه به روزانه سهار اومابنام کیدو په وخت کی دا ویل ، فَسُبْحَانَ اللهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ، وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ (ابن کثیر)

(دحضرت موسي اوابراهیم علیهما السلام خاص هدایتونه اوتعلیمات)

دتیرو پیغمبرانو علیهم السلام څخه چی هرکله دچا قول یاڅه تعلیم په قرآن کریم کی ذکر کول کیږی نو ددی مطلب دا وی چی ددی امت دپاره هم دغه واجب العمل دی ، ترڅو چی ددی خلاف څه شرعی نص نه وی ، په راتلونکو اتلسو ایتونوکی ددغو خاصو تعلیماتو ذکر دی کوم چی دحضرت موسیٰ اوابراهیم ﷺ په صحیفوکی وو ، په دغو کی عملی احکام دکومو تعلق چی دتیرو آیتونو سره دی هغه صرف دوه دی ، باقی تعلیمات دعبرت اونصیحت او دالله ﷻ دآیتونو دقدرت متعلق دی ، هغه دوه دا دی .

اَلْاَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى او: وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى .دَوِزْرَمعنٰی په اصل کی باردی او داول معنٰی دا ده چی څوك بارپورته کوونکی دځان څخه ماسوا دبل بار نه سی پورته کولی ، دبارڅخه مراد دګناه بار اوددی عذاب دی مطلب دادی چی دقیامت په ورځ دیوه سړی عذاب په بل نه سی غورځول کیدی نه به چاته ددی اختیاروی چی هغه دبل عذاب په خپل سرواخلی دقرآن کریم په یوبل آیت کی ددی بیان داسی راغلی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، وَإِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ : یعنی که څوك ډګناهونو دبار پیټی پرسر خلګو ته درخواست وکی چی زماڅه بار تاسی پورته کی نو دچا مجال به نه وی چی دده دبار څه حصه پورته کړی.

(دیوه په ګناه ګي به بل نه سي نیول ګیدی)

په دی آیت کی دهغه سړی دخیال هم تردید وسو دکوم ذکر چی په شان نزول کی راغلی دی چی هغه مسلمان سوی وو یا مسلمانیدونکی وو دده ملګری ملامت کی او ددی ضمانت یی واخیستی چی که په قیامت کی په تاڅه عذاب وو نو هغه به زه په خپل سر واخلم اوتابه خلاص کړم ، ددی آیت څخه معلومه سوه چی دداسی معاملی دالله ﷻ په نزد هیڅ امکان نسته چی دیوه په ګناه کی بل ونیول سی.

اوپه یوحدیث کی دا راغلی دی چی په کوم مړی باندی دده کوروالا ناجائز ژړا اوفریاد کوی نو د دوی په دی کار سره مړی ته عذاب وی (لکه چی په صحیحینوکی دابن عمر ﷺ څخه روایت دی) نو دا دهغه سړی په باره کی ده کوم چی په خپله هم په مړی دچغو او ژړا عادی وی ، یاکوم چی خپلو وارثانو ته ددی وصیت کړی وی چی په ما به چیغی ژړا اوانګولا کوی (مظهری) په دی صورت کی په ده عذاب په خپله دده دخپل عمل سو دنورو دعمل نه دی.

دوهم حکم دی ، وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَاسَعٰى ددی خلاصه دا ده چی لکه څنګه څوك دبل عذاب په خپل سرنه سی اخیستی ، دغه شان چاته دا حق هم نسته ، چی دبل دعمل په بدله کی په خپله عمل وکی او دهغه غاړه ددی عمل څخه خلاصه سی ، مثلاً یو سړی دبل دطرف څخه فرض لمونځ ادا کی ، یادبل دطرف څخه فرض روژه ونیسی او ددغه بل دخپل فرض لمانځه او روژی څخه غاړه خلاصه سی یا دا چی یو سړی دبل دپاره ایمان قبول کړی او په دی سره هغه مومن مقرر کړل سی.

دذکر سوی آیت په دی تفسیر باندی څه فقهی اشکال اوشبهه نه عائد کیږی ځکه چی دزیاتو څخه زیاته شبهه دحج اوزکوٰة په مسئله کی داکیدی سی چی دضرورت په وقت شرعًا یو سړی دبل دطرف څخه حج بدل کولی سی یادبل زکوٰة دهغه په اجازه سره ادا کولی سی ، مګرکه فکر وسی نودا اشکال ځکه صحیح نه دی چی څوك دخپل ځان دطرف څخه حج بدل ته لیږل اودهغه خرڅ په خپله ادا کول یا څوك دخپل طرف څخه دزکوٰة ادا کولو دپاره ماموره کول هم په حقیقت کی ددی سړی دخپل عمل اوکوشش جزء دی ، په دی وجه د ، وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَاسَعٰى . منافی نه ده.

(دثواب رسولو مسئله)

هرکله چی لور دا معلومه سوه چی دذکر سوی آیت مطلب دا دی چی یو سړی دبل په فرض، ایمان، لمونځ روژه اداکولو باندی دهغه غاړه نه سی خلاصولی نو په دی سره دا نه لازمیږی چی دیوه سړی دڅه نفلی عمل فائده اوثواب بل ته نه سی رسیدی دیوه سړی ددعا اوصدقی ثواب بل ته رسیدل په شرعی نصوصو سره ثابت او دټول امت په نزد اجماعی مسئله ده (ابن کثیر)

صرف په دی مسئله کی دامام شافعی اختلاف دی چی دقرآن دتلاوت ثواب بل ته بخښلی او رسولی سی یانه سی ، امام شافعی رحمه الله ددی څخه انکارکوی اودذکر سوی آیت مطلب عام اخلی او په دی سره دلیل نیسی . جمهور امامان رحمهم الله او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایی چی لکه څنګه چی ددعا اودصدقی

Maktaba Tul Ishaat.com

ثواب بل ته رسولی سی ، دغه شان دقرآن دتلاوت اوهرنفلی عبادت ثواب بل ته بخښلی سی اوهغه ته ورکول کیږی قرطبی په خپل تفسیرکی فرمایی چی دیر احادیث په دی شاهد دی چی مومن ته دبل سړی دطرف څخه دنیك عمل ثواب رسیږی، په تفسیرِ قرطبی کی یی دلته هغه احادیث جمع کړی دی په کومو سره چی دثواب فائده نوروته رسول ثابتیږی .

لور چی دحضرت موسیٰ اوابراهیم علیهما السلام دصحیفو په حواله سره کومی دوی مسئلی بیان سوی دی ، یوه دا چی دیوه سړی دګناه عذاب بل ته نه رسیږی او دیوه په ګناه کی بل نه سی نیول کیدی ، دوهمه دا چی په هرسړی باندی چی دکومو شرعی عملونو ذمه واری ده ددی څخه به دده غاړه دده په خپل عمل سره خلاصیږی ، دبل په عمل سره دده غاړه نه سی خلاصیدی .

دا دواړه حکمونه که څه هم دنورو انبیاؤ په شریعتونو کی هم وه ، مګر دحضرت موسیٰ علیه السلام اوابراهیم علیه السلام خصوصیت شاید په دی بنا وسو چی د دوی په زمانه کی دا جاهلانه رسم جاری سوی وو چی دپلار په بدله کی به زوی او د زوی په بدله کی به پلار یا ورور، خور وغیره قتل کیدل ، ددی دواړو بزرګانو شریعتونو دا دجاهلیت رسم ختم کړی وو .

وَأَنْ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرٰى : یعنی صرف دهر سړی ظاهری کوشش کافی نه دی ، دالله ﷻ په دربارکی به دسعی (کوشش) اصل حقیقت ته هم کتل کیږی چی ده په اخلاص سره دالله ﷻ دپاره کړی دی یانور دنیوی غرضونه په کی شامل دی ، لکه چی په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ : یعنی صرف دعمل صورت کافی نه دی په عمل کی خالص نیت دالله ﷻ درضا او حکم منلو ضروری دی .

وَأَنَّ إِلَى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى:مراددادی چی اخردتولو دالله ﷻ طرف ته واپسی ده اودعملونوحساب به ورکول وی څینو مفسرینو حضراتو ددی جملی دا مطلب مقررکړی دی چی دانسانی غوراوفکرسلسله چی دالله ﷻ ذات ته ورسیږی ختمه سی دده دذات اوصفاتوحقیقت په څه غوراوفکرسره نه حاصلیدی سی اونه په دی کی دغوراوفکر اجازه سته ، لکه چی په څینو روایتونوکی دی چی دالله ﷻ په نعمتونوکی غور اوفکر کوی ، دده په ذات کی غور او فکرمه کوی ، بلکه دا علم الهی ته سپاری دا ستاسی دوس کار نه دی .

وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكٰى : یعنی په انسانی نوع کی خوشحالی اوغم او ددی په نتیجه کی دخندا اوژړا سلسله هر سړی وینی او دا دواړه شیان ددی دظاهری راپیښیدونکو اسبابو طرف ته نسبت کوی او معامله ختمیږی ، دلته دغور اوفکر ځای دی ، په ژور نظر سره چی وکتل سی چی څه خوشحالی یاغم اوخندول یاژړول په خپله دده یادبل په قبضه کی نه دی ، دا دواړه شیان دالله ﷻ دطرف څخه دی ، هغه اسباب پیدا کوی ، په دغو اسبابوکی تاثیر اچوی هغه چی کله وغواړی نو ژړیدونکی په یوه سکینډ کی خندولی سی او خندیدونکی په یوه سکینډ کی ژړولی سی اولکه چی چا څه ښه ویلی دی .

بګوش ګل چی سخن ګفته که خندان ست به عندلیب چی فرموده که نالان ست

الله ﷻ ته عرض کوی فرمایی چی نه پوهیږم چی دګل په غوږ کی دی څه فرمایلی دی چی خاندی اوبلبل ته دی څه فرمایلی دی چی ژاړی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰی وَاَقْنٰی دغنا معنٰی مالداری ده ، دَاَغْنَا معنٰی بل مالدار کول دی ، اواَقْنٰی دقنیه څخه مشتق دی ، چی معنٰی یی محفوظه اوپټه سرمایه ده ، مراد دایت دا دی ، چی الله ﷻ خلګ مالدار اوغنی جوړ وی هغه چا ته چی وغواړی دومره سرمایه ورکوی چی محفوظه یی وساتلی سی .

وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰی شِعْرٰی : په زیر دشین سره دیو ستوری نوم دی کوم چی دجوزا څخه شاته دی ، دعربو څینو قومونو ددی ستوری عبادت کوی په دی وجه په خصوصیت سره یی دده نوم واخیستی او وې نبوولە چی ددی ستوری مالك اوپروردګار هم الله ﷻ دی ، که څه هم هغه دټولو ستورو آسمانونو مخکو، خالق اومالك او پروردګار دی .

وَاَنَّهٗ اَهْلَكَ عَادَنِ الْاُوْلٰی * وَثَمُوْدَ فَمَا اَبْقٰی قوم عاد ددنیا قوی اوسخت ترین قوم دی ، د دوی دوی طبقی په یو بل پسی دَاُولی اواُخْرٰی په نوم سره یادیږی دوی ته حضرت هود ﷺ رسول لیږل سوی وو ، په نافرمانی کولوسره دهوادطوفان عذاب په راغلی اوټول قوم هلاك سو ، دحضرت نوح ﷺ دقوم څخه وروسته په عذاب هلاکیدونکی دا اولنی قوم دی (مظهری) اوثمود هم د دوی په مثل بل بناخ دی دکومو طرف ته چی حضرت صالح ﷺ لیږل سوی وو ، د دوی په نافرمانی کولو باندی په دوی دسخت اواز عذاب راغی چی په دی سره د دوی زړونه وچاودل اوهلاك سول .

وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰی دَمؤتفكة لفظی معنٰی مؤتلفه ده ، دامتصل څوکلی اوښارونه وه حضرت لوط ﷺ د دوی طرف ته لیږل سوی وودنافرمانی اوبی حیایی دعملونوپه سزاکی د دوی کلی حضرت جبرائیل ﷺ سرچپه کړل .

فَغَشّٰهَا مَا غَشّٰی : یعنی پټ کړه دغه کلی کوم شی چی پټول ، مراد ورڅخه هغه دکانو باران دی کوم چی ددی کلو دچپه کیدو څخه وروسته پردوی وسو تردی ځایه پوری په حواله دصحیفو دحضرت موسٰی اوابراهیم علیهما السلام سره چی کوم تعلیمات بیانول وو هغه ختم سو .

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰی دَتَتَمَارٰی : معنٰی جګړه اومخالفت کول دی ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دا خطاب هر انسان ته دی چی تیرو آیتونو او دحضرت موسٰی اوابراهیم علیهما السلام په صحیفوکی په راغلو ربانی آیتونوکی که څوك ذره هم غور اوفکر وکی ، نو هغه ته به دنبی کریم ﷺ او د دوی دوحی او تعلیماتو په حق کیدو کی دڅه شك اوشبهی ګنجائش پاته نه سی او چی دتیرو قومونو دهلاکت اوعذاب واقعات واوری نو دمخالفت څخه دمنع کیدو به ښه موقع په لاس ورته ورسی ، کوم چی دحق تعالی یو نعمت دی ، ددی باوجود تاسی دالله ﷻ په کوم کوم نعمت کی جګړه اوخلاف کوی .

هٰذَا نَذِیْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰی : دهٰذَا اشاره دنبی کریم ﷺ یاقرآن طرف ته ده چی دا هم دتیرو رسولانو اوتیرد کتابونو په شان دالله ﷻ دطرف څخه یو نذیر رالیږل سوی دی کوم چی دصراط مستقیم او ددین دنیا په کامیابیو مشتمل هدایتونه راوړی دی او ددی مخالفت کوونکی دالله ﷻ دعذاب څخه بیروی .

اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ لَیْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ اَزِفَ په معنٰی دقرب راځی معنٰی دا ده چی قریب راتلونکی شی قریب راغی دکوم چی دخدای ﷻ څخه ماسواڅوك منع کوونکی نسته مراد ددی څخه قیامت دی، ددی قریب راتلل دټولی دنیادعمرپه اعتبارسره دی چی امت محمدیه ددی بالکل په اخرکی قیامت ته نژدی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ دهٰذَا الحديث څخه مراد قرآن کریم دی ، معنی دایت دا ده چی دقرآن کریم په شان کلام الهی کوم چی په خپله یوه معجزه ده ، ستاسی په مخکی راغی آیاپه دی هم ناسی تعجب کوی او په طور دمسخرو خاندی او دخپلو ګناهونو یاعمل په کوتاهی ژاړی نه .

وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ دسمود لغوی معنی غفلت اوبی فکری ده سَامِدُوْنَ په معنی دَغٰفِلُوْنَ دی اویوه معنی دسَمُود سندری ویل هم راځی ، هغه هم دلته مراد کیدی سی (لکه چی څینو امامانو یی دا تفسیر کړی دی)

فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا : یعنی تیر آیتونه چی فکر کوونکی انسان ته دعبرت اونصیحت سبق ورکوی ، ددی مقتضی دا ده چی تاسی تول دالله ﷻ په مخکی په خشوع او تواضع سره کښته سی اوسجده وکی اوصرف دهغه عبادت کوی .

په صحیح بخاری کی دحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چی دسورة نجم په دی آیت نبی کریم ﷺ سجده وکړه او د دوی ﷺ سره تولو مسلمانانو مشرکانو او تولو پیریانو او انسانانو سجده وکړه او دبخاری اومسلم په بل حدیث کی دحضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ دا آیت تلاوت کی اودتلاوت سجده یی وفرمایله او د دوی سره تولو حاضرینو دمجلس (مومنانو اومشرکانو ، سجده وکړه ، بغیر دیو قریشی بودا څخه چی هغه دمخکی څخه یو موتی خاوری رالوړی کړی اوپه تندی پوری یی ومړلی او وي ویل ما ته دا کافی ده ، حضرت ابن مسعود ؓ فرمایی چی دغه سړی ما په حالت دکفر قتل سوی لیدلی دی ، په دی کی دی طرف ته اشاره ده چی دغه وخت دنبی کریم ﷺ په اتباع کی مسلمانانو ته خوسجده کول په کار وه خو په مشرکانو هم داسی حالت غالب سو چی تول په سجده کولو مجبوره سوه که څه هم دکفرپه وجه دغه وخت د دوی سجدی هیڅ ثواب نه درلودی مګردغه هم دااثر وکی چی وروسته دغو تولو ته داسلام او ایمان توفیق وسو ، صرف هغه په کفر مړه سوه چاچی سجده ونه کړه اودصحیحینو په یوحدیث کی چی دحضرت زیدبن ثابت ؓ په روایت دی دا مذکور دی چی دوی دنبی کریم ﷺ په مخکی تول سورة نجم ووایه اوهغوی سجده ونه کړه ، دا نه لازمیږی چی سجده واجب یا لازم نه ده ، ځکه چی په دی کی دا احتمال دی چی دغه وخت به هغوی په اوداسه کی نه وو یابل څه عذر به دسجدی کولو څخه مانع وو ، په داسی حال کی فوری سجده کول ضروری نه دی ، وروسته دی کړی وی والله سبحانه وتعالی اعلم .

سُوْرَةُ النَّجْمِ بِعَوْنِهٖ وَحَمْدِهٖ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ لِغُرَّةِ الرَّبِيْعِ الثَّانِيْ سنه (۱۳۹۱) هـ فِيْ اَسبوعٍ وَّاحِدٍ وَيَتْلُوْهُ تَفْسِيْرُ سُوْرَةِ الْقَمَرِ اِنْشَاءَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَهُوَ وَلِيُّ التَّوْفِيْقِ .

﴿سورة القمر﴾

سُوْرَةُ الْقَمَرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة القمر په مکه کی نازل سو په دی کی پنځه پنځوس (۵۵) آیتونه او دری (۳) رکوع ګانی دی .

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿۱﴾ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا

نژدی راغی قیامت او وچاوده سپوږمی ، او که هغوی وویني یوه نښه نومخ اړوی او وایی

سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿۲﴾ وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳﴾

چی داجادو دی دمخکی څخه راروان،اودرواغجن کوی اوتابعداری کوی دخپلوخواهشونواوهریوکارمقرردی په

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ﴿۴﴾ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ فَمَا

یو وخت ، اوراغلی دی دوی ته حالات هغه چی په هغوکی زورنه ده ، دپوره عقل خبره ده بیا کار نه

تُغْنِ النُّذُرُ ﴿۵﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ﴿۶﴾

ورکوی دوی لره بیرول ، نومخ واړوه د دوی څخه په کومه ورځ چی وبولی یو بلونکی شی نا آشنا ته ،

خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ كَاَنَّهُمْ جَرَادٌ

سترګی به کښته وی راوزی به دقبرونو څخه داسی لکه چی ملخان دی

مُّنْتَشِرٌ ﴿۷﴾ مُّهْطِعِيْنَ اِلَى الدَّاعِ ؕ يَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿۸﴾

خپاره سوی ، منډی به وهی اوازکوونکی ته ، وایی به ، کافران دا ورځ مشکله راغله.

لنډتفسیر: (ددی کفارو دپاره زاجر یعنی په غلطی خبردارکوونکی خبره خو داعلی درجی ثابته ده چنانچې) قیامت نژدی راغی (په کوم کی چی به په تکذیب کوونکو لوی مصیبت راسی) او (ددی قیامت نژدی کیدو مصداق هم واقع سو چنانچې) سپوږمی نیمه سوه (او په دی سره دقیامت نژدی کیدو تصدیق داسی کیږی چی شق قمرمعجزه ده دنبی کریم ﷺ چی په دی سره د دوی نبوت ثابتیږی اودنبی هر قول صادق وی ، په دی وجه ضروری ده چی دقیامت دنژدی کیدو خبر کوم چی دوی ورکړی دی هغه هم صادق دی په دی سره تحقیق دزاجر متعین سو) او (ددی مقتضی دا وه چې) دا خلک (په دی سره منزجر اومتاثر سوی وای ، لیکن د دوی دا حالت دی چې) که څه معجزه وویني نو وروسته کوی یی او وایی چی دا جادو دی چی اوس به ختم سی (داکنایی ده ددی دباطل کیدو څخه چی دباطل اثر تردیره پوری قائم نه پاته کیږی ، لکه چی دالله ﷻ ارشاد دی ، وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ : مطلب دا دی چی دقیامت په نژدی کیدو سره نصیحت حاصلول خو دنبوت محمدیه په اعتقاد باندې موقوف دی دا خلک په خپله خو ددی دلیل ته په نظر دتامل سره نه گوری او دا باطل گنی نوبیاپه دی سره په دوی څه اثرکیږی) او (په دی اعراض اوپه باطلولو ددعوی دمعجزی کی په خپله) داخلک (په باطل اصرارکوونکی سول اوحق یی)

Maktaba Tul Ishaat.com

درواغجن کی او دخپل نفسانی خواهشاتو پیروی یی وکړه (یعنی ددوی اعراض دځه صحیح دلیل په وجه سره نه دی ، بلکه سبب ددی اعراض خواهش نفسانی دی او دعناد په وجه دحق تکذیب دی) او (دا چی دوی معجزو ته جادو وایی چی اثر یی ژر زائلیږی ، نوقاعده دا ده چی) هره خبره (وروسته دځه وخت ځځه چی په خپل اصلی حالت راسی) قرار ورته راسی (یعنی دحق حق کیدل اودباطل باطل کیدل داسبابو اواثارو ځځه په عام طورسره متعین سی، مطلب دا دی چی که ځه هم په واقع کی خوفی الحال هم حق متعین اوواضح دی ، مګرکوم فهمه که اوس هم نه په پوهیږی نو وروسته دځه وخت ځځه به دوی ته هم ظاهره سی په دی شرط سره چی دغورځځه کار واخلی نو دځو ورځو ځځه وروسته به تاسی ته معلومه سی چی دا فانی سحر دی یاباقی حق دی) او (ددی ذکر سوی زاجر ځځه علاوه) ددی خلګو سره (خو دتیرو امتونوهم) خبرونه دومره رسیدلی دی چی په هغه کی (کافی) عبرت یعنی داعلی درجی پوهه (حاصلیدونکی) ده نو (د دوی دا کیفیت دی چی) بیروونکی شیان دوی ته فائده نه ورکوی (اوکله چی حال دا دی) نو ته د دوی طرف ته خیال مه کوه (کله چی دغه وخت دقیامت اوعذاب دکوم ځځه چی دوی بیرول کیږی راسی نو په خپله به معلومه سی ، مخ ته ددغه ورځی بیان دی یعنی) په کومه ورځ چی یوبلونکی ملائکه (دوی) دیو ناخوښه شی طرف ته راوبولی ، د دوی سترګی به (دذلت اوهیبت ځځه) کښته سوی وی (او) دقبرونو ځځه به داسی راوزی لکه ملخان چی غورول سوی وی (او بیاچی راوزی) دبلونکی طرف (یعنی دحساب موقف ته کوم ځای ته چی دجمع کیدو دپاره بلونکی اواز کړی دی) په منډه به روان وی (او دهغه ځای سختی چی ووینی) کافران به وایی چی دا ورځ ډیره سخته ده .

معلومات اومسئلي : تیر سورة (النجم) په اَزِفَتِ الازِفَةُ الخ باندی ختم سوی دی چی په کی دقیامت نژدی راتلو ذکردی ، ددی سورة شروع ددی مضمون ځځه سوي ده ، اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ : مخ ته دقیامت دنژدی کیدو یو دلیل ، دسپورمی د دوو توتو کیدو دمعجزی ذکر سوی دی ، ځکه چی دقیامت دعلامو دکومو چی لوی تفصیل دی ، په هغه کی یوه لویه علامه په خپله خو دخاتم الانبیاء ﷺ بعثت اونبوت دی ، لکه چی په حدیث کی د دوی ارشاد دی ، چی زما را تلل اوقیامت داسی یوځای دی لکه دلاس دوې ګوتی اونور یی هم ځو روایتونه په حدیث کی د دوی قیامت ته دنژدی کیدو بیان فرمایلی دی ، دغه شان یوه لویه علامه داقیامت دا هم ده چی د دوی دمعجزی په طور به سپورمی دوی توتی سی ، جلا جلابه سی ، بیابه دیوبل سره یوځای سی ، دارنګه دسپورمی دوی توتی کیدل په دی حیثیت سره هم دقیامت علامه ده چی څنګه دغه وخت دالله ﷻ په قدرت سره سپورمی دوی توتی سوه دغه شان په قیامت کی تولی سیاری اوستوری توتی کیدل ځه مستبعد کار نه دی .

(دسپورمي دوی توتي کیدو معجزه)

دمکی کفارودنبی کریم ﷺ ځځه دهغه دنبوّت اورسالت دپاره ځه نښانه دمعجزی طلب کړه ، الله ﷻ د دوی دحقانیت دثبوت دپاره دامعجزه دشق القمر ظاهره کړه ، ددی معجزی ثبوت دقرآن کریم په دی آیت کی هم موجود دی ، وَانْشَقَّ الْقَمَرُ، اوپه صحیح احادیثو کی کوم چی دصحابه کرامو ﷺ دیوجماعت ځځه روایت سوی راغلی دی ، په کومو کی چی حضرت ابن مسعود ﷺ ، ابن عمر ﷺ، جبیربن مطعم ﷺ ، ابن

Maktaba Tul Ishaat.com

عباس ﷺ انس بن مالك ﷺ وغیره شامل دی او حضرت ابن مسعود ﷺ په خپله دخپل ځان په دغه وخت کی موجود کیدل او د معجزی لیدل بیان کړی دی امام طحاوی رحمه الله او ابن کثیر رحمه الله د شق القمر دواقعی روایتونه متواتر مقرر کړی دی ، په دی وجه د دی نبوی معجزی واقع کیدل په قطعی دلیلونو سره ثابت دی .

دواقعی خلاصه دا ده چی نبی کریم ﷺ دمکی مکرمی په مقام دمنٰی کی تشریف فرماوو ، دمکی مشرکانو د دوی څخه دنبوت نښانه طلب کړه ، دا واقعه دسپوږمی دیوی شپی ده ، الله ﷻ دا ښکاره معجزه وښوولـه چی سپوږمی دوی توتی سوه ، یوه مشرق طرف ته بله مغرب طرف ته ولاړه او د دواړو توتوپه مینځ کی غر حائل ولیدل سو ، نبی کریم ﷺ تولو حاضرینوته وفرمایل چی وګورئ اوشهادت ورکی ، کله چی تولو خلګو په صفا طور سره دا معجزه ولیده ، نو دا دواړی توتی بیا دیو بل سره یو ځای سوی ، د دی ښکاره معجزی څخه انکار خو دسترګو والاوو څخه ممکن نه وو ، مګرمشرکانو وویل چی محمد ﷺ په ټول جهان جادو نه سی کولی ، دملك داطرافو څخه دراتلونکو خلګو انتظار وکی چی دوی څه وایی ، دبیهقی او ابوداود طیالسی روایت دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه دي چی وروسته دتولو اطرافو څخه دراتلونکومسافرانو څخه دغو خلګو تحقیق وکی نو تولو دسپوږمی د دوو توتـه کیدو دلیدلو اعتراف وکی په ځینو روایتونوکی دی چی دامعجزه دشق القمر په مکه مکرمه کی دوه وار پیښه سوه ، مګردصحیح روایتونو څخه یو وار ثبوت حاصلیږی (بیان القرآن) ددی معاملی متعلق څو روایتونه دحدیث دا دی (کوم چی دابن کثیر څخه را اخیستل سوی دی)

(۱) په صحیح بخاری کی دحضرت انس بن مالك ﷺ څخه روایت دی چی .

اِنَّ اَهْلَ مَكَّةَ سَاَلُوْارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَاَرَاهُمُ الْقَمَرَشِقَّيْنِ حَتّٰى رَاَوْاحِرَاءَ بَيْنَهُمَا(بخاری اومسلم) یعنی دمکی خلګودنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی دخپل نبوت دپاره څه نښانه (معجزه) وښیه نو الله ﷻ دوی ته سپوږمی دوی توتی کړه وي ښوولـه تردی چی دوی دحراءغرددواړو توتوپه مینځ کی حائل ولیدی

(۲) په صحیح بخاری اومسلم کی اومسند احمد کی دابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چی .

اِنْشَقَّ الْقَمَرُعَلٰى عَهْدِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شِقَّتَيْنِ حَتّٰى نَظَرُوْااِلَيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِشْهَدُوْا.

دنبی کریم ﷺ په زمانه مبارکه کی سپوږمی دوی توتی سوه کومه چی تولو په ډاګه ولیده اونبی کریم ﷺ خلګو ته وفرمایل چی وی وینی اوشهادت ورکی .

اوابن جریرهم په خپل سند سره داحدیث نقل کړی دی ، په دی کی دا هم ذکرسوی دی چی ، كُنَّامَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى، فَانْشَقَّ الْقَمَرُ، فَاَخَذَتْ فِرْقَةٌ خَلْفَ الْجَبَلِ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:اِشْهَدُوْا اِشْهَدُوْا (عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی مونږ په منٰی کی دنبی کریم ﷺ سره وو ناڅاپه سپوږمی دوی توتی سوه اویوه توته دغره شاته ولاړه نونبی کریم ﷺ وفرمایل چی شاهدی ورکی شاهدی ورکی .

(۳) دحضرت ابن مسعود ﷺ په روایت سره ابوداود طیالسی اوبیهقی دا هم نقل کړی دی .

اِنْشَقَّ الْقَمَرُ بِمَكَّةَ حَتّٰى صَارَ فِرْقَتَيْنِ فَقَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ اَهْلِ مَكَّةَ هٰذَا سِحْرٌ سَحَرَكُمْ بِهِ ابْنُ اَبِيْ كَبْشَةَ اُنْظُرُوْا السُّفَّارَ فَاِنْ كَانُوْا رَاَوْا مَا رَاَيْتُمْ فَقَدْ صَدَقَ وَاِنْ كَانُوْا لَمْ يَرَوْا مِثْلَ مَا رَاَيْتُمْ فَهُوَ سِحْرٌ سَحَرَكُمْ بِهِ فَسُئِلَ السُّفَّارَ قَالَ وَقَدِمُوْا

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ كُلِّ جِهَةٍ فَقَالُوْا رَأَيْنَا (ابن كثير)

په مکه مکرمه کی سپوږمی دوی توتی سوه، دقریشو کفارو وویل چی داجادو دی ابن ابی کبشه (یعنی محمد ﷺ) په تاسی جادو کړی دی ، په دی وجه تاسی انتظارکوی دباندی څخه راتلونکو مسافروته که دوی هم دوی توتی کیدل لیدلی وای نو دی به رښتیا وایی اوکه دباندی راتلونکو خلګو داسی نه وای لیدلی نو بیا دا بیشکه چی جادو دی ، نوبیا دباندی دراتلونکو مسافرو څخه یی تحقیق وکی کوم چی دهر طرف څخه راغلی وو اقرار وکی چی مونږ هم دوی توتی کیدل لیدلی دی .

(دشق القمر په واقعه څه شبهات او جواب)

په دی یوه شبهه خو دیونانی فلسفی داصولو په بناء سوي ده ، مطلب یی دا دی چی په آسمان اوسیاراتو کی ماتیدل اوپیوست کیدل ممکن نه دی ، مګر دا محض د دوی دعوی ده ، په دی چی څومره دلیلونه پیش سوی دی ، هغه ټول بی کاره اوبی بنیاده دی ، دهغه لغویت اوباطلوالی متکلمینو داسلام ډیر واضح کړی دی او تر ننه پوری په څه عقلی دلیل سره دشق قمر محال والی اوناممکن والی ثابت نه سو ، البته ناواقفه عوام هرمستبعد شی ته ناممکن وایی. مګر داظاهره ده چی معجزه خونوم دی دهغه فعل کوم چی دعام عادتْ څخه خلاف او دعامو خلګو دقدرت څخه خارج حیرت انګیز اومستبعد وی که نه وی نو معمولی کار خو هر وخت چی وسی هغه ته څوك معجزه ویلی سی ؟

دوهمه عامیانه شبهه دا کول کیږی چی که داسی عظیم الشانه واقعه راپیښه سوی وای نو دټولی دنیاپه تاریخونو کی به یی ذکر وای ، مګر دفکر خبره دا ده چی دا واقعه په مکه معظمه کی دشپی په وخت کی پیښه سوي ده ، دغه وخت په ډیرو ملکونوکی خوبه ورځ وه، هلته ددی واقعی دښکاره کیدو اوظاهریدو خوګرسره سوال نه پیدا کیږی اوپه ځینو ملکونوکی به نیمه شپه اواخری شپه وه، څه وخت چی عامه دنیا بیده وی اوکه څوك ویښ هم وی نوهغوی خوهروخت سپوږمی ته نه ګوری ، په مخکې باندی په غوږول سوی ړنا ددی د دوو توتو کیدو څخه څه اثر نه لویږی ، چی ددی په وجه ورته څوك وګوری ، بیا دا خو دلږ وخت قصه وه ، روزانه لیدل کیږی چی په یوملك کی سپوږمی تندر نیولی وی او نن صبا خو دمخکی څخه ددی اعلانات هم کیږی ، ددی باوجود په زرګونو لکونو خلګ ددی څخه ناخبره وی هغوی ته هیڅ پته ونه لګیږی ، نو آیا ددی دا دلیل جوړیدی سی چی سپوږمی دسره تندر نیولی نه ده ، په دی وجه ددنیا په عامو تاریخونو کی ددی په ذکر نه کیدو سره ددی واقعی تکذیب نه سی کیدی .

ددی څخه علاوه دهندوستان مشهور اومستند تاریخ ، تاریخ فرشته ، کی ددی ذکرهم موجود دی ، چی په هندوستان کی مهاراجه مالیبار دا واقعه په خپلو سترګو ولیده او په خپله روزنامچه کی یی ولیکله او دا واقعه دده دمسلمانیدو سبب جوړ سو، اولوړ دابوداؤد طیالسی اوبیهقی دروایتونو څخه هم دا ثابته سوي ده چی په خپله دمکی مشرکانو هم دباندی دخلګو څخه ددی تحقیق کړی وو او دمختلفو طرفونو څخه راتلونکو ددی واقعی تصدیق کړی وو. والله تعالی اعلم

وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ دَمُسْتَمِرٌّ : مشهوره معنی کومه چی په فارسی اوپښتو کی هم معروفه ده هغه تر ډیره وخته پوری اوهمیشه پاته کیدونکی ده ، مګر په عربی ژبه کی دالفظ دَمَرٌ او

Maktaba Tul Ishaat.com

اِستَمَرَّ دتیریدو اوختمیدو په معنٰی کی هم راځی ، دتفسیر په امامانو کی مجاهد اوقتاده دلته دا معنٰی بیان کړي ده ، په دی به دایت مطلب داسی چی دا دجادو اثر دی کوم چی تر ډیر وخته پوری نه سی چلیدی ، په خپله به تیرسي او ختم به سی .

اویوه معنٰی دمُستَمِرٌ قوی اوسخت هم راځی ابوالعالیه اوضحاك په دی آیت کی دمُستَمِر دا تفسیر کړی دی او مراد به دا وی چی دا ډیر قوی جادو دی .

دمکی خلګو چی ددی مشاهدی تکذیب ونه کی نو دی ته یی جادو یاسخت جادو وویل اوخپلو زړونوته یی تسلی ورکړه .

وَكُلُّ اَمرٍ مُستَقِرٌ : دا ستقرار لغوی معنٰی قرار نیول دی ، دایت مطلب دا دی چی هرکار اوهر شی خپلی انتها ته رسیږی اخرکه چیری صفاسی په څه جعل سازی سره چی که پرده په حقیقت واچول سی ، هغه اخر ښکاره کیږی او دحق حق کیدل او دباطل کیدل واضح سی .

مُهطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ : دمهطعین لفظی معنٰی سر پورته کول دی ، دآیت معنٰی دا ده چی دبلونکی داواز طرف ته به ګوری دمحشر په لور به منډی وهی او ددی څخه مخ ته په آیت کی چی ، خُشَّعًا أَبصَارُهُم راغلی دی چی معنٰی یی سترګی اوسرکښته کول دی ، په دی دواړو کی تطبیق دا دی چی دمحشر مواقف به مختلف وی ، په ځینی مواقفو کی به داسی هم وی چی دتولو سرونه به کښته وی .

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ﴿٩﴾

درواغجن کړی دی د دوی څخه مخکې قوم دنوح علیه السلام نو درواغجن یی کی بنده زمونږ او ویی ویل ، لیونی دی او

فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ ﴿١٠﴾ فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ

زورنه یی ورکړه ، نو ده وبلی رب خپل چی زه عاجزه سوم ته بدله واخله ، بیامونږ خلاصی کړی دروازی داسمان

مُنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ

په اوبو وربدونکو ، او را وبیولی مونږ دمځکی څخه چینی نو یوځای سوی اوبه په کار چی مقرر سوی وو

قُدِرَ ﴿١٢﴾ وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً

، او مونږ سپاره کړل دوی په یو تختو او میخونو والا باندی ، چی بهیده زمونږ په مخکی بدله

لِمَنْ كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ تَرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ

اخستل دهغه چاچی قدر یی ورلره ونه پیژندی ، اودوی مونږپریښوول دنبنی دپاره بیا څوك سته فکر کوونکی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿۳۱﴾

څنګه وو زماعذاب او زما بیرول ، او مونږ آسانه کی قرآن دپاره دپوهیدو نو سته یو فکر کوونکی ؟

لنډتفسیر: ددی خلګو څخه مخکی قوم دنوح ﷺ تکذیب وکی ، یعنی زمونږ دبنده (خاص نوح ﷺ) تکذیب یی وکی او وې ویل چی دالیونی دی او (محض په دی بی هوده خبره یی بسوالی ونه کی ، بلکه د دوی څخه یوعبث کارهم وسو یعنی) نوح ﷺ ته (د دوی دطرف څخه) اخطار (هم) ورکول سو (چی ذکر یی په سورة شعراء کی دی ، لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ) نونوح ﷺ خپل رب ته دعا وکړه چی زه (بالکل) عاجزه سوم (دَدی خلګو مقابله نه سم کولی) نو ته (د دوی څخه) بدل واخلی (یعنی دوی هلاك کړی ، لکه دا قول دالله ﷻ دی ، رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا) نو مونږ په ډیرو اوریدونکو اوبو سره دآسمان دروازی خلاصی کړی او دمځکی څخه مو اوبه جاری کړی بیا (دآسمان اومځکی) اوبه ددی کار (پوره کیدو) دپاره یوځای سوی کوم چی (په علم الهی کی) مقدر سوی وو (مراد ددی څخه هلاکت دی دکفارو ، یعنی دواړه اوبه یوځای سوی طوفان زیات سوپه کوم کی چی ټول غرق سول) اومونږ دنوح (ﷺ) دطوفان څخه دمحفوظ ساتلو دپاره) په تختو اومیخونو والا کښتی باندی کومه چی زمونږ په نګرانی کی (داوبو په سطح) روانه وه (سره دمومنانو) سپورکی دا ټول دهغه سړی دبدلی اخیستو دپاره وسو دکوم چی بی قدری سوی وه (مراد نوح ﷺ دی اوچونکی دالله ﷻ او درسول په حکم کی تلازم دی ، په دی کی کفر بالله هم راغی ، نو دا شبهه پاته نه سوه چی دا غرق دکفر بالله په سبب نه وو سوی) او مونږ دا واقعه دعبرت دپاره (په قصو اوتذکرو کی) پریښوولە نو ایاڅوك نصیحت حاصلوونکی سته؟ (مقصود ددی څخه نصیحت حاصلولوته ترغیب دی) بیا (وګوره) زماعذاب اوزما بیرول څنګه سو؟ (یعنی دکوم شی څخه چی بیرول واقع سوی وو ، هغه څنګه پوره سو؟ نو ددی بیرولوحاصل هم عذاب سو غرض دعذاب الهی دوه عنوانونه سول، یو په خپله عذاب او دوهم دوعده الهی پوره کیدل) اومونږ قرآن (کوم چی مشتمل دی په داسی ذکر سوو قصو) دنصیحت حاصلولو دپاره اسان کی (دټولو دپاره عموماً په وجه دواضح کیدو دبیان اودعربو دپاره خصوصاً په وجه دعربی ژبی) نو آیا (په دی قرآن کی داسی مضامین دنصیحت په لیدو) څوك نصیحت حاصلوونکی سته ؟ (یعنی دمکی کفارو ته بالخصوص په دی قصو سره بیریدل په کار دی)

معلومات اومسائل: مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ د ، وازدُجر لفظی معنی ده وترتی (ددی عطف په لفظ دقالو باندی دی، په دی وجه) مراد دا دی چی دی خلګو حضرت نوح ﷺ ته مجنون هم وویل اوبیایی دی وترتی، اخطاریی ورکی ، درسالت دتبلیغ څخه یی منع کول هم وغوښتل لکه چی په یوبل آیت کی دی چی دی خلګو حضرت نوح ﷺ ته دا اخطار ورکی چی که ته دخپل تبلیغ ددعوت څخه منع نه سوی نو مونږ به تاپه کانو وولو اومړ به دی کو .

عبد بن حمید رحمه الله دمجاهد رحمه الله څخه نقل کړی دی چی دحضرت نوح ﷺ دقوم څینو خلګو چی به کله حضرت نوح ﷺ یوځای پیدا کی نوځینی وخت به یی دده مری خپه کوله ، تردی پوری چی دی ﷺ به بی

Maktaba Tul Ishaat.com

هوښه سو، بیاچې به په هوښ کې راغې نو دالله ﷻ څخه به یې داسوال کوی چې یا الله! زما قوم معاف کې ، دوی دحقیقت څخه ناخبره دی ، نهه نیم سوه کاله یې دقوم ددی ازارونو جواب په دعاګانو سره ورکولو کې تیر کړل ، اخر عاجزه سو او ښراوی یې وکړی چې ذکر یې په راتلونکی آیت کې دی ، دکوم په نتیجه کې چې ټول غرق سو .

فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ : یعنی دمخکې څخه را خوټکیدونکی اوبه او دآسمان څخه اوریدونکی اوبه دواړه داسې یوځای سوی ، په کوم سره چې دالله ﷻ مقرره سوی فیصله چې ټول قوم غرق سی ، نافذه سوه چې دغرونو ترسرونو پوری هم چاته پناه حاصله نه سوه .

ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ : الواح دلوح جمع ده په معنی دتختی ، اودُسُر ددسار جمع ده چې معنی یې میخ هم دی اوهغه مزی یاتارته هم ویل کیږی په کوم سره چې دکښتی تختی ترڼ کیږی .

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ : د ذکرمعنی یادول اوحفظ کول هم راځی او دځه خبری څخه عبرت اونصیحت حاصلول هم، دا دواړی معانیوی دلته مرادکیدی سی ، چې الله ﷻ قرآن کریم دحفظ دپاره اسانه کړی دی ، دا خبره دده څخه مخکې یوکتاب ته هم حاصله نه سوه چې ټول کتاب تورات ، انجیل یا زبور خلګو ته زبانی یادوی او دا دالله ﷻ دآسانولو اثردی چې دمسلمانانو کوچنی کوچنی بچی قرآن کریم پوره داسی یادوی چې دیوه زبر زیر فرق نه په کې راځی ، څه دپاسه څوارلس سوه کالونه په هره زمانه هره طبقه اوهره خطه کې په زرګونو لکونو حافظانو په سینوکې دالله ﷻ دا کتاب محفوظ دی .

او دا معنی هم کیدی سی چې قرآن کریم دعبرت اونصیحت خپل مضامین داسی اسان کړی دی چې لکه څنګه چې دلوی څخه لوی عالم ، ماهر ، فلسفی اوحکیم ددی څخه فائده اخستی سی ، دغه شان هرعامی اوجاهل دکوم چې دعلومو سره څه مناسبت نه وی هغه هم دعبرت اونصیحت دقرانی مضامینوڅخه فائده اخلی او ورڅخه متاثره کیږی .

(دحفظ کولو اونصیحت حاصلولو دپاره یې قرآن اسان کړی دی ، نه چې داجتهاد او استنباط داحکامو دپاره)

په دی آیت کې یې د يَسَّرْنَا سره دلِلذِّكْرِ قید ولګوی او دایې هم ښوولی ده چې قرآن دحفظ کولو او ددی دمضامینو څخه دعبرت او نصیحت حاصلولو ترحده پوری دا اسان کړی دی چې هرعالم اوجاهل لوی اوکوچنی ورڅخه یوشان فائده اخیستی سی ، په دی سره دا نه لازمیږی چې دقرآن کریم څخه دمسائلو او احکامو استنباط هم دی داسی اسانه وی ، هغه په خپل ځای یومستقل اومشکل فن دی په کوم کې چې عمرونه صرف کوونکی عالمانو راسخانو ته څه حصه حاصلیږی ، دهر یوه دپاره دغه میدان نه دی .

په دی سره دهغو خلګو غلطی واضحه سوه کوم چې دقرآن کریم ددی جملی پناه اخلی ، دقرآن مکمل تعلیم ددی داصولو اوقواعدو سره دحاصلولو څخه بغیر مجتهد جوړیدل او په خپله رایه سره داحکامو اومسائلو استخراج کول غواړی چې دغه دښکاره ګمراهی لار ده .

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا

دروا غجن کړل عادیانو نو څنګه سو زما عذاب او بیرول ، مونږ ولیږله په

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْ يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿۱۹﴾ تَنْزِعُ النَّاسَ

دوی هوا تنده په یو سپیره ورځ چې تیره سوه ، ویستل یې خلق

كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ﴿۲۰﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۲۱﴾

ګویا وه دوی تنې دخماؤ ایستل سوو ، نو څنګه سو عذاب زما او بیروول زما

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۲۲﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِالنُّذُرِ ﴿۲۳﴾

او مونږ آسانه کې قرآن دپوهیدو دپاره نو آیا سته یو فکر کوونکی ؟ درواغجن کړل ثمودیانو بیرونکی

فَقَالُوْٓا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗٓ ۙ اِنَّآ اِذًا لَّفِيْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۲۴﴾ ءَاُلْقِيَ

نو دوی وویل آیا دیو سړی زمونږ څخه مونږ تابعداری وکړو یقینا مونږ به دغه وخت په غلطی او سودا کې یُو

الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾ سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا مَّنِ

ایا په مونږ تولو کې په ده نازل سوی دی نصیحت بلکه دی درواغجن اومتکبردی، پوهه به سی صبا چې څوك دی

الْكَذَّابُ الْاَشِرُ ﴿۲۶﴾ اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ

درواغجن لاپو ، مونږ رالیږو اوښه دپاره دامتحان د دوی نو ته انتظار کوه دوی ته

وَاصْطَبِرْ ﴿۲۷﴾ وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ ۚ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿۲۸﴾

اوصبر کوه ، اوخبر کړه دوی چې اوبه ویشلی دی په مینځ د دوی کې هر وار ته رسیدل په کار دی

فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾

نو دوی اوازوکی ملګری خپل ته نو هغه لاس وچلوی اوپرې یې کړه ، نو څنګه سو زماعذاب اوزمابیرول ،

اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾

نو مونږ ولیږله په دوی یوه چغه نو سوه دوی په شان دهغه غنمو چوره کړل سوو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍ

او مونږ آسانه کی قرآن دپوهیدو دپاره نو آیا څوک ستە فکر کوونکی ، درواغجن کړل قوم دلوط علیه السلام

بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾

بیرونکی ، مونږ ولیږل په دوی باندی کانی مگر خاندان دلوط علیه السلام مونږ محفوظ کړل دوی په سهار کی

نِّعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ شَكَرَ ﴿۳۵﴾ وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ

په فضل سره دخپل طرف څخه ، مونږ درانګه بدله ورکوو هغو ته چی حق منی ، یقیناً هغه بیرول هغوی

بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ

زمونږ دحملی څخه بیا دوی جګړه وکړه په حق دبیروونکی کی ، او مطالبه یی وکړه دهغه څخه دمیلمنو دهغه نو

اَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ

مونږ خړئ کړی سترګی د دوی نو ویی څکی عذاب زما او بیرول زما ، اوراغی پر دوی په سهار کی وختی عذاب

مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ

همیشه پاته کیدونکی ، نو وڅکی زما عذاب او زما بیرول ، اومونږ آسانه کړی دی قرآن دپوهیدو دپاره

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾ وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿۴۱﴾ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا

نو آیا څوک ستە فکر کوونکی ، او راغلل فرعونیانو ته بیرونکی ، درواغجن کړل هغوی زمونږ آیتونه ټول

فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۴۲﴾

نو ونیول مونږ دوی په نیولو دډیر غالب قادر سره

لنډتفسیر: دعاد قوم (هم دخپلو پیغمبرانو) تکذیب وکی (د دوی قصه واوری چی) زما عذاب اوبیرول څنګه سو؟ (اوهغه قصه دا ده چی) مونږ په دوی یوه سخته هوا دمسلسل نحوست په ورځ کی (یعنی دغه زمانه دهغوی په حق کی دهمیشه دپاره څکه منحوسه سوه چی په دغه ورځ کوم عذاب راغی هغه عذاب دبرزخ سره متصل سو ، بیاعذاب داخرت ددی سره متصل سوکوم چی به د دوی څخه هیڅکله منقطع نه سی او) هغه هوابه خلک داسی (د دوی دځای څخه) پورته کول راویشتل چی گویا هغه دویشتلو سود

Maktaba Tul Ishaat.com

خرماؤ تنی دی (په دی تشبیه کی علاوه د دوی دراویشتلو څخه اشاره د دوی دقامت داوږدوالی طرف ته هم ده) نو (وګوره) زماعذاب اوبیرول څنګه (هیبتناك) سوه اومونږ قرآن دنصیحت حاصلولو دپاره آسانه کړی دی ، آیا څوك نصیحت حاصلوونکی سته؟ ثمودیانو (هم) دپیغمبرانو تکذیب وکی (څکه چی دیو پیغمبر تکذیب مستلزم دی دټولو پیغمبرانو تکذیب لره) اوویی ویل ایا مونږ دداسی سړی تابعداری وکړه کوم چی زمونږ دجنس انسانان دی او (دبدبه اوخادمان یی نسته) یوازی دی (یعنی یا خودی ملائکه وای نو مونږ به یی اتباع کړی وای په دین کی یاصاحب خادمان ودبدبه وی ، نو په دنیوی کارونوکی به یی مونږ تابعداری کوله کله چی بشردی اوهغه هم یوازی دی نونه یی په دنیوی کارونوکی دتابعداری څه امر مقتضی سته نه په دین کی اوکه مونږ په دی حالت کی دده تابعداری وکو) نوپه دی صورت کی به مونږ په لویه غلطی (بلکه) جنون کی راسو آیاپه مونږټولوکی (دی منتخب سو) وحی پرنازله سوه (هیڅکله داسی نه ده) بلکه دی لوی درواغجن او تکبر کوونکی دی (دامتکبره دلویی داسی خبری کوی چی خلګ ما سردار وګنی ، الله ﷻ حضرت صالح ﷺ ته وفرمایل چی ته د دوی په دی فضولوخبرومه غمجن کیږه) هغوی ته به ډیر ژر (دمرګ سره) معلومه سی چی په دروغو تکبر کوونکی څوك وو (یعنی داخلګ وه کوم چی په انکار درسالت کی درواغجن وه اودنبی دتابعداری څخه یی په وجه دتکبر شرم کوی او داخلګ کومو چی داوښی معجزه یی طلب کوله نو) مونږ (د دوی ددرخواست موافق دډبری څخه) اوښه را ایستونکی یو دهغوی دازمائش (دایمان) دپاره نو دوی (حرکتونو ته یی) ګوره اوپه صبر سره ناست اوسه او دی خلګو ته (کله چی اوښه پیداسی نو) دا وښیه چی اوبه (دڅاه) تقسیم سوی دی (یعنی ستاسی دحیوانانو اواوښی نمبر مقرر سوی دی) هریودی په خپل خپل وارحاضری کوی (یعنی اوښه دی په خپل نمبر اوبه چښی اوحیوانان دی په خپل لمبر ، چنانچی اوښه پیداسوه اوحضرت صالح ﷺ دغسی وفرمایل) نو(ددی لمبر داوبوڅخه هغوی تنګ سول او) هغوی ددی (دقتلولو دپاره) خپل ملګری (قدار) راوبلی نو هغه (په اوښه) وار وکی او (دایی) مړه کړه نو (وګوره) زماعذاب اوبیرول څنګه سو (چی بیان یی مخ ته راځی هغه داچی) مونږ په دوی یوه نعره (دملائکی) مسلطه کړه نو دوی (په دی سره) داسی سول لکه دغنمو شپول لګوونکی (دشپول) ماتی سوی غنی (یعنی دفصل یاحیوانانو وغیره دحفاظت دپاره چی دغنمووغیره شپول کوی اوڅو ورځی وروسته ټول ذره ذره سی ، دغه شان دوی تباه اوهلاك سول ، دعربو خلګو دا مشبه به یعنی دفصل پرشا اوخوا شپول شپه او ورځ لیدی نوهغوی په دی تشبیه ښه پوهیدل) اومونږ قرآن کریم دنصیحت حاصلولو دپاره اسانه کړی دی ، نو آیاڅوك نصیحت حاصلوونکی سته؟ قوم دلوط (ﷺ هم) دپیغمبرانو تکذیب وکی (څکه چی دیو پیغمبر تکذیب مستلزم دی دټولو تکذیب لره) مونږ په هغوی دکانړو باران وکی بغیر دمتعلقینو دلوط ﷺ څخه (یعنی بغیر دمومنانو څخه) چی دوی یی دشپی په اخر کی (دکلی څخه وایستل اودعذاب څخه یی) خلاص کړل دخپل طرف څخه په فضل کولو سره کوم چی شکر کوی (یعنی ایمان راوړی) مونږ هغوی ته داسی بدله ورکوو (چی دقهرڅخه یی خلاصوو) او (مخکی دعذاب راتلوڅخه) لوط ﷺ دوی زمونږ دحملی څخه بیرولی وه ، نوهغوی په بیرولوکی جګړی پیداکړی (یعنی یقین یی ونه کی) او (کله چی لوط ﷺ ته زمونږ ملائکی په شکل

Maktaba Tul Ishaat.com

دمیلمنو راغلی او دغو خلګو ته دښائسته هلکانو راتلل معلوم سوه نودلته راغلل) دغوخلګو دلوط ﷺ ځخه دده میلمانه په بدنیت سره اخیستل غوښتل (په کوم سره چې اول لوط ﷺ ښیریدی مګرهغه ملائکی وی) نو مونږ (هغو ملائکوته حکم ورکی) دهغوی سترګی یی خړی کړی (یعنی جبرائیل ﷺ خپل وزرونه دهغوی پرسترګو ووهل په کوم سره چې دهغوی سترګی پټی سوی، لکه چې داسی په دُرّ کی دقتاده ځخه دی اوپه ژبه دقال یادحال هغوی ته وویل سوه چې) واخلی زمادعذاب خوند وځکی (اول خودا واقعه دسترګو بیکاره کیدو ورپیښه سوه) او (بیا) سهار وختی پردوی دائمی عذاب راغی (اوارشاد وسو) چې واخلی زما دبیرولو اوعذاب خوند وځکی (داجمله اول درندیدو په عذاب ویل سوی وه، دلته دهلاکت په عذاب باندی ده ، په دی وجه څه تکرار نسته) اومونږ قرآن دنصیحت حاصلولو دپاره اسانه کړی دی ، نو آیاڅوک نصیحت حاصلوونکی سته او (فرعون او) فرعونیانو ته هم دبیرولو ډیرشیان ورسیدل (مراد دموسیٰ ﷺ ارشادات اومعجزی دی چې په ارشاداتو سره په تشریعی طور او په معجزاتو سره په تکوینی طور دوی وبیرول سول مګر) دی خلګو زمونږ ټولی (ننبانی کومی چې دوی ته راغلی وی هغه نه (۹) معجزی کومی چې مشهوری دی) درواغجنی کړی (یعنی ددغو مدلول اومقتضا توحید الهی اونبوت دموسیٰ ﷺ یی درواغجن کی که نه وی نو دواقعاتو دوقوع تکذیب خوکیدی نه سی) نو مونږ دوی دزبردست صاحب قدرت په نیولو باندی ونیول (یعنی کله چې مونږ دوی په قهر اوغلبی سره ونیول نو د دوی یی هیڅ دفعه ونه کړل سوه ، نو دعزیز مقتدر ځخه مراد الله ﷻ دی)

معلومات اومسئلي

دځینو لغاتو تشریح: سُعُر، دالفظ په ذکر سوو آیتونوکی دوه واره راغلی دی ، اول دقوم ثمود په ذکر کی د دوی خپل قول دی ، په دی کی دَسُعُر لفظ دجنون په معنیٰ کی راغلی دی ، بل ځای دالفظ په مخکی راتلونکو آیتونوکی دالله ﷻ دطرف ځخه دمجرمانو دعذاب په ذکرکی راغلی دی ، فِیْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ: دلته دَسُعُر معنیٰ دجهنم اور دی ، داهل لغت دوضاحت مطابق لفظ دسعر په دواړو معناووکی استعمالیږی.

رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَیْفِهٖ : دمراودت معنیٰ ځوک دخپل نفسانی شهوت پوره کولو دپاره لمسول او غولول دی ، مراد دا دی چې دلوط ﷺ قوم چونکه په خپل خباثت سره دهلکانو سره دبد فعلی عادت وو اوالله ﷻ د دوی دامتحان دپاره ملائکی دښائسته بې ږیروهلکانوپه صورت کی رالیږلی وی دا شیطانان د دوی دخپل خواهش ننبانه کولو دپاره دحضرت لوط ﷺ په کور را وختل ، حضرت لوط ﷺ دروازه بنده کړه نو دوی د دروازی په ماتولو یاپه دیوال باندی په را اوښتلوشروع سول ، حضرت لوط ﷺ پریشانه سو نو دغه وخت ملائکو خپل راز ښکاره کی ، چې ته فکرمه کوه، دوی زمونږ هیڅ نه سی کولی مونږ دالله ﷻ ملائکی دوی ته دعذاب ورکولو دپاره راغلی یو .

سورة القمریی دقیامت نژدی کیدوپه ذکرسره شروع کی چې کفاراومشرکان کوم چې ددنیاپه هواواوهوس کی مبتلاداخرت ځخه غافله دی ، هغوی په هوښ کی راسی ، اول دقیامت دعذاب بیان وسو، ددی ځخه وروسته په دنیا کی هم د دوی دبد انجام ښوولو دپاره دپنځو مشهورو قومونو ددنیا حالات او دانبیاء علیهم السلام په مخالفت د دوی بد انجام اوپه دنیاکی هم دقسم قسم عذابونو په مبتلا کیدو، بیان سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دټولو څخه اول یې د حضرت نوح ﷺ دقوم ذکر وکی ، ځکه چې دا په دنیاکی کی دټولوڅخه اولنی قوم دی کوم چې په عذاب سره ونیول سو ، دا قصه په تیرو آیتونوکی راغلی ده ، په دی ذکر سوو آیتونوکی دځلورو قومونو ذکر دی ، عادیان ثمودیان ، قوم دلوط ﷺ اوقوم دفرعون ، د دوی واقعات اومفصلی قصی په قرآن کریم کی په ډیرو ځایونوکی بیان سوی دی ، دلته یې اجمالی ذکر سوی دی .

دا پنځه سره قومونه ددنیا قوی ترین اوواک یافته قومونه وه ، داسی چې د دوی آرام کول دچاپه وس کی نه وه ، په ذکر سوی آیتونوکی په هغوی دالله ﷻ عذاب راتلل ښوول سوی دی او دهریوه قوم په انجام باندی قرآن کریم یوه جمله ارشاد فرمایی، فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ یعنی په دومره لوی قوی اوډیر تعداد والا قوم باندی چې کله دالله ﷻ عذاب راغی نو وګوری چې هغوی څنګه دغوماشو اومچانو په شان مړه سول او ددی سره یې دمومنانو او کفارو دعام نصیحت دپاره دا جمله بار بار بیان کړې ده ، وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ الخ یعنی دالله ﷻ ددی عظیم عذاب څخه دمحفوظ کیدو لار قرآن ده اوقرآن دنصیحت اوعبرت ترحده پوری مونږ ډیر آسانه کړی دی ، لوی بدنصیبه اومحرومه دی کوم چې ددی څخه فائده وا نه خلی ، په ورپسی راتلونکو آیتونوکی دنبوت دزمانی موجودینو ته خطاب کوی اودایی ښوولی ده چې ددی زمانی منکرین اوکفارپه دولت اوثروت تعداد اوقوت طاقت کی دعادیانو او ثمودیانو اودقوم فرعون وغیره څخه څه زیات خونه دی بیادوی څنګه بی فکره ناست دی .

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ

آیا اوس په تاسی کی چې کوم منکران دی آیاغوره دی ددې ټولو څخه یا ستاسی دپاره فارغه خطی لیکل سوی ده په پانو کی ، او که یا وایی چې مونږ ډله یُو بدله اخستونکی ، اوس به شکست وخوری ،

الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ

دا ډله او په شا به وتښتی ، بلکه قیامت دی د دوی دوعدی وخت او هغه وخت دی ډیر دآفت

وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي

او ډیر تریخ ، کوم خلق چې ګناهګار دی په غلطی کی دی او په سودا کی ، په کومه ورځ چې را کشیږي

النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ

اورته ، پر مخی وځکی خوند د اور ، مونږ هر شی پیدا کړی دی

بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا

د اول څخه مقرر کړی ، او زمونږ کار خو دیو دم خبره ده لکه دسترګو رپ ، او مونږ هلاک کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۵۱﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿۵۲﴾ وَ

ستاسی ملګری نو آیا څوك فکرکوونکی سته؟ اوځه شی چی دوی کړی دی ولیکل سو په پانو کی،

كُلُّ صَغِيرٍ وَّكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿۵۳﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَّنَهَرٍ ﴿۵۴﴾

او هر یو کوچنی او لوی لیکل سوی دی ، بیشکه کوم چی بیریدونکی دی په باغونو او نهرونو کی به وی

فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۵۵﴾ ع

ناست به وی په ربښتینو کښینستو په نزد دباچا چی په تولو یی قبضه ده .

لنډتفسیر: (دا دکفارو قصی او دکفر په وجه په دوی دعذاب راتلو واقعات خوتاسی واوریدل ، اوس کله چی تاسی هم ددی جرم دکفر مرتکب یاست نوستاسی دعذاب څخه دخلاصیدو هیڅ وجه نسته) آیا په تاسی کی چی کوم کافران دی په دوی کی ددغو (ذکرسوو تیرو) خلګو څخه څه فضیلت دی (دکوم په وجه چی به تاسی سره دجرم کولو سزا نه کی پیدا) یاستاسی دپاره (په آسمانی) کتابونوکی څه معافی (نامه لیکل سوی) ده (که څه هم څه خاص فضیلت نه وی) یا (په دوی کی څه داسی قوت دی کوم چی به دوی دعذاب څخه خلاص کړی لکه چی) داخلګ وایی چی زمونږ داسی جماعت دی کوم چی به غالب وی (اوکله چی د دوی دمغلوب کیدو واضح دلیلونه موجود دی اوپه خپله هم د دوی دمغلوبیت یقین دی نو بیا دا خبره ددی مستلزمه ده چی په دوی کی څه داسی قوت سته کوم چی دعذاب څخه منع کول کولی سی ، دا دری احتماله دی دعذاب څخه دخلاصیدو او وایاست چی په دوی کی یوصورت په واقع کی سته ، داولو دوو احتمالونو بطلان خو ظاهر باهر دی ، پاته یو دریم احتمال نو داسبابو عادیو په اعتبار سره که څه هم فی نفسه ممکنه ده ، مګر په دلالت ددلیلونو سره ددی وقوع به نه وی ، بلکه ددی دعکس وقوع به وی چی په دی سره به د دوی کذب ظاهر سی او دغه دعکس وقوع به داسی وی چی) ډیر ژر به (د دوی) داجماعت شکست وخوری اوپر شابه وتښتی (او داپیش ګویی په بدر او احزاب وغیره کی واقع سوه او دا نه چی د دوی په دنیوی عذاب باندی بس سوه پاته سوه) بلکه (دلوی عذاب) په قیامت (کی چی به وی چی) ددوی (اصل) وعده (هغه) ده اوقیامت (څه کوچنی شی مه ګڼی، بلکه دغه) لوی سخت اوناخوښه شی دی (اودا موعود اَدْهٰی وَاَمَرّ خامخا واقع کیدونکی دی اوددی دوقوع څخه په انکارکی) دامجرمان (یعنی کفار) په لویه غلطی اوبی عقلی کی (پراته) دی (اودغه غلطی به ډیره ژر دوی ته کله چی علم الیقین په عین الیقین سره بدل سی ، ظاهر سی اوهغه به داسی وی چی) په کومه ورځ چی به داخلګ پرمخی دجهنم اورته راکش کړل سی نو دوی ته به وویل سی چی د دوزخ (داور) لګیدو خوند وڅکی (اوکه چیری دوی ته ددی څخه شبهه وی چی قیامت اوس ولی نه واقع کیږی نو ددی وجه دا ده چی) مونږ هر شی (په اعتبار دزمانی وغیره په یوخاص) انداز سره پیداکړی دی (کوم چی زمونږ په علم کی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی زمانه وغیره یی ددی په خپل علم کی معینه اومقدره کړي ده ، دغه شان دقیامت دوقوع دپاره هم یو وخت معین دی ، نو ددی عدم وقوع فی الحال ددی دوخت دنه راتللو په وجه دی ، ددی څخه دوکه خوړل نه دی په کار چی دقیامت وقوع به نه وی، او (کله چی دده وخت راسی نو دغه وخت به) زمونږ حکم (ددی دوقوع متعلق) بس داسی دیو وار څخه وی لکه دسترګو رپ (غرض داچی دوقوع نفی خوباطله سوه) او (که تاسی ته داشبهه وی چی زمونږ طریقه دالله ﷻ په نزد ناخوښه او مبغوضه نه ده که قیامت واقع هم سی بیاهم زمونږ څه فکر نسته ، نو په دی باره کی واوری چی) مونږ ستاسی هم طریقه خلګ (په خپل عذاب سره) هلاك کړی دی (کوم چی دلیل دی ددی طریقی دمبغوض کیدو اودغه ستاسی طریقه ده، په دی وجه مبغوضه ده ، او دا دلیل نهایت واضح دی) نو آیا (په دی دلیل سره) څوك نصیحت حاصلوونکی سته او (دا هم نه ده چی د دوی عملونه دعلم الهی څخه به غائب پاته سی ، دکوم په وجه چی به دالله ﷻ په نزد د دوی دطریقی دمبغوض کیدو باوجود دسزا څخه دخلاصیدو احتمال وی بلکه) څه چی داخلګ کوی ټول (حق تعالی ته معلوم دی) په عملنامو کی (هم لیکلی) دی او (دانه ده چی څه به یې لیکلی وی اوڅه به پاته سوی وی بلکه) هره کوچینکه لویه خبره (په دی کی) لیکل سوي ده (نوپه وقوع دعذاب کی څه شبهه پاته نه سوه ، داخو دکفارو حال سو) او (کوم چې) پرهیزګاره خلګ (دی هغه به دجنت) په باغونو کی اوپه نهرونو کی به وی په یو عمده مقام کی دقدرت والا بادشاه په خواکی (یعنی دجنت سره به دالله ﷻ قرب هم وی)

معلومات اومسئلي : دځینو لغاتو تشریح: زُبُر، دزبور جمع ده، په لغت کی هرلیکل سوی کتاب ته زبور وایی او دهغه خاص کتاب نوم هم زبور دی کوم چې په حضرت داود ﷺ نازل سوی وو .

اَدْهٰی وَاَمَرُّ دَاَدْهٰی : معنٰی زیات هیبتناك اواَمَرُّ دَمُرُّ څخه ماخوذ دی چی معنٰی یی تریخ دی ، او هرسخت اوتکلیف ورکوونکی شی ته هم مُرّ او اَمَرّ وایی .

فِي ضَلٰلٍ وَسُعُرٍ : دَضَلٰل معنٰی معلومه ده چی ګمراهی ده اود: سُعُرٍ معنٰی دلته دجهنم اور دی، اَشْیَاعَکُمْ اشیاع دَشِیْعه جمع ده چی معنٰی یی متبع اوپیروکار دی ، مراد هغه خلګ دی کوم چی په عمل کی د دوی متبع یامثل دی ، مَقْعَدِ صِدْقٍ، دمقعد معنٰی مجلس اومقام دی اوصدق په معنٰی دحق دی مراد دا دی چې دا مجلس به حق وی ، په دی کی به څه خطا اوبی هوده خبره نه وی .

اِنَّا کُلَّ شَیْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ : دَقَدَرلغوی معنٰی اندازه کول اوڅه شی دحکمت اومصلحت مطابق په اندازه سره جوړول دی ، په دی آیت کی دالغوی معنٰی هم مراد کیدی سی چی حق تعالی ﷻ دعالم ټول مخلوقات او د دوی هره نوع اوصنف په یوحکیمانه اندازی سره لوی کوچنی اوپه مختلف هیئت اوصورت کی جوړ کړی دی ، بیا دهرنوع اوصنف دهر فرد په تخلیق کی هم حکیمانه انداز په لوی حکمت سره ایښی دی ، ګوتی یی ټولی یوشان نه دی جوړی کړی په اوږدوالی کی یی فرق ساتلی دی ، دلاسونو پښوپه اوږدوالی پلنوالی اوپه غزیدو راټولولو اوخپرولوکی یی اسپرنګان لګولی دی ، دیوه یوه اندام، یو یو جزء ته چی ګوری نو دقدرت اوحکمت خداوندی عجیبه اونادری دروازی به خلاصی په نظر درته راځی .

اوپه اصطلاح دشرع کی لفظ دقدر په معنٰی دتقدیر الهی هم استعمالیږی او اکثرو امامانو دتفسیر

Maktaba Tul Ishaat.com

دځینو روایتونو دحدیث په بناپه دی آیت کی دقدر څخه تقدیرِ الهی مراد اخیستی دی .
په مسند احمد ، مسلم، ترمذی کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی دقریشو مشرکینو یو وخت دنبی کریم ﷺ سره دتقدیر دمسئلی په حقله جګړه جوړه کړه نو په دی دا قرآنی آیت نازل سو ، ددی معنی په اعتبار سره مطلب دایت به دا وی چی مونږ دټول عالم یو یو شی دخپل تقدیرِ ازلی مطابق جوړ کړی دی یعنی په ازل کی پیدا کیدونکی شی اوددی مقدارزمانه اومکان اوددی دکمیدوزیاتیدو پیمانه یی دعالم دپیدا کیدو څخه مخکی لیکلی وه ، څه چی په عالم کی پیدا کیږی ، هغه ددی ازلی تقدیر مطابق کیږی .
دتقدیر دا مسئله داسلام قطعی عقیده ده ، ددی منکر کافر، اوکومی فرقی چی په تاویل سره انکار کوی هغوی فاسقان دی ، امام احمد ابوداود طبرانی دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په هرامت کی څه خلګ مجوسیان وی ، ددی امت محمدیه مجوسیان هغه خلګ دی کوم چی دتقدیر څخه انکار کوی ، که داسی خلګ ناجوړه سی نو دمریض پوښتنه یی مه کوی اوکه مړه سی نو په کفن دفن کی یی مه شریکیږی (از روح المعانی) والله تعالی اعلم

بِعَوْنِ اللهِ سُبْحَانَهُ وَبِحَمْدِهِ سُوْرَةُ الْقَمَرِ يَوْمَ الثَّلَاثَاءِ لِسِتَّةٍ مِنَ الرَّبِيْعِ الثَّانِي سنه (۱۳۹۱) هـ وَيَتْلُوْهَا اِنْشَآءَ اللهُ تَعَالٰى سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ .

﴿ سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ ﴾

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً ثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة الرحمٰن په مدینه کی نازل سو په دی کی اته اویا (۷۸) آیتونه او دری (۳) رکوع ګانی دی .

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

اَلرَّحْمٰنُ ۙ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ؕ﴿۲﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۙ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾

رحمٰن ښوولی دی قرآن ، پیدا یی کی انسان ، بیا یی وښولی ده ته خبری ،

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۙ﴿۵﴾ وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ﴿۶﴾ وَالسَّمَآءَ

دلمر اوسپوږمی دپاره یو حساب دی ، او بوټی او درختی مشغول دی په سجده کی ، اواسمان

رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۙ﴿۷﴾ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ﴿۸﴾ وَاَقِيْمُوا

یی لوړ کی او کښیښوولهیی تله ، چی زیاتوب مه کوی په تله کی ، او برابر تول کوی

الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ﴿۹﴾ وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ۙ﴿۱۰﴾

په انصاف سره او مه کموی (تله) تول ، او مخکه یی خپره کړه دپاره دمخلوق

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ﴿۱۱﴾ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ

په دی کی میوی دی اوخرماوی چی غلاف یی دی په میوو ، او په دی کی دانی دی چی ددغو سره بوس دی

وَالرَّيْحَانُ ﴿۱۲﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ

او خوشبویه ګلونه ، بیا کوم کوم نعمتونه دخپل رب دروا غجن کوی تاسی دواړه ، پیدا کړی یی دی انسان

صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿۱۴﴾ وَخَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ﴿۱۵﴾ فَبِاَيِّ

دوچی خټی څخه په شان دکو دری ، اوپیدا کړی یی دی پیری دلمبی د اور څخه ، نو کوم کوم

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿۱۷﴾ فَبِاَيِّ

نعمتونه دخپل رب دروا غجن کوی تاسی دواړه ، مالك دی د دوو مشرقونو او د دوو مغربونو ، بیا کوم کوم

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۸﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ﴿۱۹﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا

نعمتونه دخپل رب دروا غجن کوی تاسی دواړه ، روان کړی یی دی دوه دریابونه پیوست ، ددواړو په مینځ کی پرده ده چی په یو

يَبْغِيٰنِ ﴿۲۰﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۱﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ

یوبل زیاتوب نه کوی ، بیا کوم کوم نعمتونه دخپل رب دروا غجن کوی تاسی دواړه ، راوزی ددې دواړو څخه ملغلری

وَالْمَرْجَانُ ﴿۲۲﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۳﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَـَٔاتُ

اومرجان ، بیا کوم کوم نعمتونه درب خپل تاسی دروا غجن کوی ، او هغه لره دی جهازونه او چت

فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۲۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۵﴾

په دریاب کی لکه غرونه ، بیا کوم کوم نعمتونه درب خپل تاسی دروا غجن کوی .

(دسورة ربط اودجملي فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ دتکرارحکمت)

ددی څخه مخکی په سورة قمر کی زیات ترمضامین په سرکښو قومونو دعذاب الهی دراتلو متعلق وه ، په دی وجه دهر یوه عذاب څخه وروسته دخلګو دخبردارکولو دپاره یوه خاصه جمله بار بار فرمایل سوي ده ، فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ : او په دی پسی متصل دایمان اواطاعت دترغیب دپاره بله جمله ، وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ : بار بار راوړل سوي ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

په سورة رحمٰن کی ددی په مقابل کی ډیرمضامین دحق تعالی ددنیوی او اخروی نعمتونو په بیان کی دی ، په دی وجه کله چی دځه خاص نعمت ذکر فرمایی نو یوه جمله دخلکو دخبردارکولو اودنعمت دشکر دترغیب ورکولو دپاره فرمایی ، فَبِاَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ : اوپه ټول سورة کی داجمله یو دیرش ۳۱ واره راوړل سوي ده ، کومه چی په ظاهره تکرار معلومیږی اودیوه لفظ یاجملی تکرارهم دتاکیدفائده ورکوی په دی وجه دا هم دفصاحت اوبلاغت خلاف نه ده ، خصوصاً دقرآن کریم په دی دواړو سورتونوکی چی دکومی جملی تکرار سوی دی ، هغه خو دصورت په اعتبار سره تکرار دی ، دحقیقت په اعتبار سره هره یوه جمله دیو نوی مضمون سره دمتعلق کیدو په وجه محض مکرره نه ده ، ځکه چی په سورة قمرکی دهر نوی عذاب ځخه وروسته ددی متعلق ، فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي راغلی دی دغه شان په سورة رحمٰن کی دهر نوی نعمت دبیان ځخه وروسته د ، فَبِاَيِّ آلَاءِ تکرار سوی دی کوم چی دیو نوی مضمون سره دمتعلق کیدو په سبب تکرار محض نه دی .

علامه سیوطی رحمه الله ددی قسم تکرار نوم ، تردید ، ښوولی دی ، دغه دعربو دفصحاء اوبلغاء په کلام کی مستحسن اوشیرین ګڼل سوی دی ، په نثر اونظم دواړوکی استعمالیږی ، او صرف په عربی کی نه بلکه په فارسی پښتو وغیره ژبوکی دمسلمو شاعرانو په کلام کی هم ددی نظیرونه پیداکیږی ، داموقع ددی دجمع کولو نه ده ، په تفسیرِ روح المعانی وغیره کی یی دلته ډیر داسی مثالونه نقل کړی دی .

لنډتفسیر: (دَ) رحمٰن (بی شمیره نعمتونه دی په هغه کی یو روحانی نعمت دا دی چی هغه احکام دَ) قرآن وښوول (یعنی قرآن یی نازل کی چی دهغه بندګان ایمان په راوړی او ددی علم حاصل کړی په دی عمل وکی چی ددائمی عیش او راحت سامان ورته حاصل سی ، او دهغه یو نعمت جسمانی دی هغه دا چی) هغه انسان پیدا کی (بیایی) ده ته خبری وښوولی (چی په زرګونو فائدی په مرتب کیږی منجمله په دی کی دقرآن دبل په ژبه کی رسیدل اونوروته رسول دی اویونعمت جسمانی افاقی دا دی چی دده په حکم سره) لمر اوسپوږمی په حساب سره چلیږی اوبوټی اوتنه داری درختی دواړی (دالله ﷻ) مطیع دی (دلمر او سپوږمی چلیدل خو په دی وجه نعمت دی چی په دی سره دشپی او ورځی ، یخی ګرمی میاشتی کال حساب مرتب وی او ددی فائدی ظاهری دی او د درختو سجده په دی وجه نعمت دی چی الله ﷻ په دی کی دانسان دپاره بی شمیره فائدی پیدا کړی دی) او (یو نعمت دا دی چی) ده آسمان لوړکی (چی په دی سره علاوه دنورو فائدو کومی چی دآسمان سره متعلق دی لویه فائده داده چی ده ته وګوری نوانسان ده دجوړونکی په عظمت شان باندی استدلال وکی ، لکه چی الله ﷻ فرمایی ، يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ الخ اویونعمت دا دی چی) هغه (په دنیاکی) تله کښیښوله چی تاسی په ټول کی کموالی زیاتوالی مه کوی او (کله چی ددی داسی لویی فائدی دپاره جوړه ده چی دا آله ده دحقوقو دلین دین دپوره کولو ، په کوم سره چی په زرګونو ظاهری اوباطنی مفاسدلیری کیږی نوتاسی ددی نعمت په خصوصیت سره شکرکوی اوپه دی شکرکی دا هم ده چی) په انصاف (اوحق رسانی) سره تول صحیح کوی اوتول کموی مه او (یونعمت دا دی چی) هغه دمخلوق (دفائدی) دپاره مځکه (ددی په ځای) کښیښوله چی په دی کی میوی دی او دخرماوی درختی دی دکومو چی (په میوو باندی) غلافونه دی او (په دی کی) غله ده په کومه کی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

بوس (هم) دی او (په دی کی) نور دخوراك شیان (هم) دی (لکه ډیری ترکاریانی وغیره) نو ای پیریانو او انسانانو (سره دنعمتونو ددی دومره کثرت اوعظمت) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟(یعنی منکرکیدل لویه ناشکری اودبدبهیاتوبلکه دمحسوساتو څخه انکاردی اویونعمت دا دی چی) ده انسان (اول اصل یعنی ادم ﷺ) ددا سی خاوری څخه کومه چی دکودری په شان کړنگیده پیدا کی (چی اجمالاً یی په ځو آیتونو کی لوړ ذکر راغلی دی) اودپیریانو (اول اصل یې) خاص داور څخه (په کوم کی چی دود نه وو) پیدا کړل (اوبیاپه دواړو نوعوکی دتوالد اوتناسل په ذریعه نسل وچلیدی ، ددی تشریح دسورة حجرپه دوهمه رکوع کی راغلی ده) نو ای پیریانو اوانسانانو (سره دنعمتونو ددی دومره کثرت اوعظمت څخه) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟ (مراد ددی لوړتیرسوی دی او) هغه د دواړو مشرقونو او د دواړو مغربونو (حقیقی) مالك دی (مراد ددی څخه دلمرسپوږمی دختلو او پریوتلو افق دی ، په دی کی هم وجه دنعمت ظاهره ده چی دشپی او ورځی دشروع اوختمیدو سره ډیر غرضونه متعلق دی) پس ای پیریانو اوانسانانو (سره دنعمتونو ددومره کثرت اوعظمت څخه) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (اویونعمت دا دی چی) هغه دوه دریابونه (صورتًا) یوځای کړل (په ظاهرکی) دیوبل سره یوځای دی او (حقیقتًا) د دواړوپه مینځ کی یوه (قدرتی) پرده ده چی (ددی په وجه) دواړه (دخپلی خپلی موقعی څخه) تجاوزنه سی کولی (چی تشریح یی په سورة فرقان کی تیره سوې ده اودخوږو اوترخو اوبونفعی هم ظاهری دی او د دواړو په یوځای کیدوکی داستدلال نعمت هم دی) نو ای پیریانو اوانسانانو! سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟ (او ددریابونو متعلق یونعمت دادی چی) ددواړوڅخه ملغلری اومرجانونه په لاس راځی (دملغلرو اومرجانونونفعی اووجهی دنعمت خوظاهری دی) نوای پیریانو اوانسانانو (ددی دومره نعمتونودکثرت اوعظمت باوجود) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونو څخه منکرکیږی؟(اویونعمت دادی چی) دهغه (په اختیاراوملکیت کی) دی جهازونه کوم چی په سمندرکی دغرونو په شان لوړ ولاړ لیدل کیږی (ددی فائدی هم ظاهری دی بلکه اظهری دی) نو ای پیریانو او انسانانو! (سره دنعمتونو د دومره کثرت اوعظمت) تاسی دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږی ؟

معلومات اومسائل : دسورة رحمٰن په مکی یامدنی کیدوکی اختلاف دی ، امام قرطبی دحدیث دځو روایتونو په وجه مکی کیدو ته ترجیح ورکړی ده ، په ترمذی کی دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ دڅه خلګوپه مخکی تول سورة رحمٰن تلاوت وفرمایی دی خلقو واوریدی او خاموش پاته سول نونبی کریم ﷺ وفرمایل چی ماپه لیلة الجن کی دپیریانو په مخکې دا سورة تلاوت کی نو داثر قبلولو په اعتبارسره هغوی ترتاسی ښه سوه ، ځکه چی کله به زه دقرآن دی آیت ته رسیدم (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) نوپیریانو به تولوپه جمع وویل (لَا بِشَيْءٍ مِّنْ نِّعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ) یعنی ای زمونږ پروردګاره! مونږ ستا دهیڅ نعمت تکذیب او ناشکری نه کوو ، تاته ثناده ، ددی حدیث څخه معلومه سوه چی دا سورة مکی دی ، ځکه چی دلیلة الجن هغه شپه په کومه کی چی نبی کریم ﷺ جناتوته تبلیغ اوتعلیم وفرمایی ، په مکه مکرمه کی سوې ده ، دغه شان ځو روایتونه نور هم قرطبی نقل کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دکومو څخه چی ددی سورة مکی کیدل معلومیږی.

دا سورة یی دلفظ دَ، رحمٰن، څخه شروع کړی دی، په دی کی یو مصلحت دا هم دی چی دمکی کافران دالله ﷻ په نومونوکی کی درحمٰن څخه واقف نه وه، په دی وجه یی ویل، وَمَا الرَّحْمٰنُ چی رحمٰن څه شی دی؟ ددی خلګو دواقف کولو دپاره دالله ﷻ په نومونوکی دلته درحمٰن انتخاب وسو.

دوهمه وجه دا هم ده چی مخ ته کوم کار درحمٰن ذکرسوی دی، یعنی دقرآن تعلیم، په دی کی هم دا وښوول سوه چی ددی تعلیم قرآن مقتضی اوسبب داعی صرف دالله ﷻ رحمت دی، کنی دده په ذمه څه واجب اوضروری نه ده چی دده څخه یی پوښتنه وسی اونه هغه چاته محتاج دی.

مخکې په ټول سورة کی دحق تعالی ددنیوی اودینی نعمتونو ذکر مسلسل سوی دی، په عَلَّمَ الْقُرآن کی دالله ﷻ په نعمتونوکی چی کوم لوی نعمت دی دهغه دذکر څخه ابتداء وسوه، اودټولو څخه لوی نعمت قرآن دی، څکه چی قرآن کریم دانسان دمعاش اومعاد، دین اودنیا دواړو دخیرونو اوبرکتونو جامع دی کوموچی قرآن واخیستی اوددی حق یی اداکی، لکه صحابه کرام ﷺ، حق تعالی دوی داخرت په درجو او نعمتونو خو سرفراز فرمایلی دی، په دنیاکی یی هم هغه درجه اومقام ورته ورکی کوم چی لویو لویو بادشاهانو ته هم حاصل نه دی.

دقاعدی مطابق دلفظ دَعَلَّمَ دوه مفعوله وی، یو هغه علم کوم چی ښوول کیږی، دوهم هغه سړی چاته چی ښوول کیږی، دلته په آیت کی هغه شی خو وښوول سودکوم چی تعلیم سوی، یعنی قرآن دوهم مفعول یعنی قرآن چاته وښوول سو؟ ددی ذکر یی ونه کی، څینی مفسرین حضرات فرمایی چی بلا واسطه چی حق تعالی چاته تعلیم کړی دی یعنی نبی کریم ﷺ هغه ورڅخه مراد دی، بیا د دوی په واسطه سره ټول مخلوقات په دی کی داخل دی اوداهم کیدی سی چی دقرآن نازلولو مقصد دخدای ټول مخلوق ته دهدایت لارښوول وی او ټولو ته ښه اخلاق اونیك عملونه ښوول وی، په دی وجه دڅه خاص مفعول تخصیص یی ونه سو، د دوهم مفعول په نه ذکر کولو سره اشاره ددی دعموم طرف ته ده.

خَلَقَ الْإِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ: دانسان پیداکول په خپله دحق تعالی یولوی نعمت دی اودطبعی ترتیب په اعتبار سره دا دټولوڅخه مقدم دی، تردی چی دقرآن تعلیم کوم چی یی اول ذکرکړی دی، هغه هم ظاهره ده چی دپیداکولوڅخه وروسته کیدی سی، مګرقرآن حکیم دقرآن دتعلیم نعمت مخکی اودانسان تخلیق وروسته کی او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دانسان دتخلیق اصل مقصد دقرآن تعلیم اودده په ښوول سوی لاره باندی تلل دی، لکه چی په نورو ایتونوکی ارشاد دی، وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ: یعنی ماپیریان اوانسانان صرف ددی دپاره پیداکړی دی چی زماعبادت کوی، اوظاهره ده چی عبادت بغیر دتعلیم الهی څخه نه سی کیدی، ددی ذریعه قرآن دی، په دی وجه په دی حیثیت سره دقرآن تعلیم دانسان دتخلیق څخه مخکی سو.

دانسان دتخلیق څخه وروسته چی کوم نعمتونه انسان ته ورکول سول هغه بی شمیره دی، په هغه کی په خاص طور سره دتعلیم بیان دلته دذکر کولو حکمت دا معلومیږی، چې دکومو نعمتونو تعلق دانسان دنشو اونما، وجود اوبقاء سره دی مثلاً خوړل چښل، دیخ او ګرمی څخه دخلاصیدو سامان، داوسیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

انتظام وغیره، په دی نعمتونوکی خو هرجاندار انسان اوحیوان شریك دی هغه نعمتونه کوم چی دانسان سره مخصوص دی ، په هغوکی یی اول خو دقرآن تعلیم ذکر وفرمایی ، ددی څخه وروسته یی دتعلیم بیان وکی ، څکه چی دتعلیم قرآن څخه فائده اخیستل اورسول پربیان باندی موقوفه ده .

اوپه بیان کی زبانی بیان هم داخل دی تحریر،خط،دافهام اوتفهیم چی څومره ذریعی الله ﷻ پیداکړی دی ، هغه دبیان په مفهوم کی شاملی دی اوبیادمختلفوملکونواوقومونومختلفی ژبی اوددوی محاورات ټول ددی تعلیم بیان اجزاء دی ، کوم چی د ، عَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا عملی تفسیردی ، فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ .

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ دانسان دپاره الله ﷻ چی کوم نعمتونه په مخکه اوآسمان کی پیداکړی دی، په دی آیت کی دعلویاتوڅخه دلمر اوسپوږمی ذکر په خصوصیت سره شایدڅکه کړی دی چی دعالم دنیا ټول نظام کار ددی ددواړو سیارو دحرکتونو اوپلوشو سره تړلی دی اولفظ دحسبان په پیښ دحاء څینی حضرات فرمایی چی مصدر دی په معنٰی دحساب کی لکه غفران ، سبحان، قرآن اوڅینی فرمایی چی دحساب جمع ده اومراددایت دادی چی دلمراوسپوږمی حرکتونه په کومو چی دانسان دژوندټول کاروبار موقوف دی، دشپی ورځی اختلاف، دموسمونو تبدیلی، دکلونو اودمیاشتو تعین ددی ټولو حرکتونو او دورونو محکم نظام دیوخاص حساب اواندازی مطابق چلیږی اوکه حسبان دحساب جمع مقررسی نو معنٰی به دا وی چی د دوی څخه دهر یوه د دوری جلاجلا حساب دی ، په مختلف قسم حسابونو باندی دانظام شمسی اوقمری چلیږی اوحساب هم داسی محکم اومضبوط چی دلکونو کلونو څخه په دی کی دیوه منټ یوه سیکنډ فرق نه راځی .

دی زمانی ته دسائنس دمعراج زمانه ویل کیږی او ددی حیرانوونکی نوو نوو ایجادونو عاقلان حیران کړی دی ، لیکن دانسانی جوړو سوو شیانو اودالله ﷻ دپیدا سوو واضح فرق هرلیدونکی وینی چی په انسانی جوړو سوو شیانوکی دورانیدو اوجوړیدو سلسله یولازمی امر دی ، مشین که هرڅومره مضبوط اومستحکم وی خو څه زمانه وروسته ده ته دمرمت اوکم ازکم ورته دګریسو وغیره ضرورت وی ، او تر دغه وخته پوری دغه مشین معطل وی ، دالله ﷻ دجاری سوی دی عظیم الشان مخلوقات ته نه کله دمرمت حاجت سته ، نه هیڅکله د دوی په رفتارکی څه فرق راځی .

وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ : نجم هغه درختی ته ویل کیږی دکومی چی بوټی خپریږی تنه یی نه وی اوشجر تنه داری درختی ته ویل کیږی ، یعنی هرقسم درخته برابره خبره ده که تنه داره اوښاخونو والاوی اوکه بی تنی بوټی داره وی، ټولی دالله ﷻ په مخکی سجده کوی ، سجده کول چونکی دانتهایی تعظیم او اطاعت علامه ده ، ددی څخه مراد دلته دا دی چی هره یوه درخته بوټی او ددی ګلونه میوی پانی چی حق تعالی دکومو خاصوخاصو کارونو او دانسان دفائدو دپاره جوړکړی دی اوګویادهریوه یی یوه وظیفه مقرره کړي ده چی هغه به فلانی کار داسی کوی په دی کی هریوپه خپله خپله وظیفه لګیدلی دی اودحکم ربانی تابع په ده کی دایښوول سوو فائدو اوخواصوسره خلګوته فائدی رسوی داتکوینی اوجبری اطاعت حق یي په دی آیت کی په سجده سره تعبیر کړی دی (روح ، مظهری)

وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ : رفع او وضع دوه متقابل لفظونه دی درفع معنٰی پورته لوړول دی او دوضع

Maktaba Tul Ishaat.com

معنٰی لاندی اینبوول اوکښته کول دی ، په دی آیت کی اول دآسمان دپورته کولو اولوړولو ذکر دی چی په دی کی ظاهری لوړوالی هم دا خل دی اومعنوی یعنی ددرجی اومرتبی لوړوالی هم، چی دآسمان درجه دمځکی په نسبت لوړه ده ، دآسمان مقابل مځکه ګڼل کیږی اوپه ټول قرآن کریم کی یی ددی تقابل سره دآسمان اومځکی ذکرکړی دی ، په دی آیت کی درفع سماء دذکر کولو څخه وروسته د وضع میزان ذکر سوی دی ، کوم چی دآسمان په تقابل کی نه راځی ، په فکر کولو سره معلومیږی چی دلته هم په تقابل کی په حقیقت کی مځکه راوړل سوي ده لکه چی دری ایتونه وروسته ﴿وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ﴾ راغلی دی ، نو په اصل کی تقابل درفع سماء اووضع ارض دی ، مګر ددی دواړو په مینځ کی یو دریم شی ، یعنی وضع میزان ذکر په څه خاص حکمت سوی دی ، داسی معلومیږی چی حکمت په دی کی دادی چی دوضع میزان اوبیا ددی څخه وروسته دمیزان دصحیح استعمال حکم کوم چی په وروسته درو آیتونو کی راغلی دی ، ددی ټولوخلاصه عدل او انصاف قائمول دی ، او دچا دحق وهلو او دظلم اوزیاتی څخه دځان خلاصول دی دلته درفع سماء او وضع ارض په مینځ کی دایتونه دمیزان په ذکر کولوکی دی طرف ته اشاره راځی چی دآسمان اومځکی دپیدا کولو اصلی غایت اومقصود هم په عالم کی دعدل اوانصاف قیام دی اوپه مځکه کی امن اوامان هم په عدل اوانصاف تیام دی اوپه مځکه کی امن او امان هم په عدل اوانصاف سره قائمیدی سی کنی فساد اوفساد به وی . واللہ سبحانه تعالٰی اعلم

دمیزان دلفظ تفسیر په دی آیت کی حضرت قتاده، مجاهد ، سدی وغیره په عدل سره کړی دی، ځکه چی دمیزان اصل مقصد عدل دی اوځینو مفسرینو حضراتو دلته میزان په خپله معروفه معنٰی کی اخیستی دی اومطلب ددی هم هغه دی چی په حقونوکی دعدل او انصاف څخه کار واخیستل سی اودمیزان په معنٰی کی هره هغه آله دا خله ده ، په کومه چی دځه شی مقدار معین کول کیږی ، برابره خبره ده که هغه دوه پلو والا تله وی یا دپیمائش او اندازی بله څه جدیده آله وی .

أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ: په اول آیت کی چی کوم دمیزان پیداکولو ذکر وو ، په دی جمله کی ددی مقصد واضح سوی دی تَطْغَوْا دطغیان څخه مشتق دی چی معنٰی یی بی انصافی اوظلم دی ، مراد دا دی چی میزان الله ﷻ ددی دپاره جوړکړی دی چی تاسی په وزن کی په کمی اوزیاتی کولوسره په زور ظلم کی اخته نه سی .

وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ دقسط لفظی معنٰی انصاف دی مرادظاهردی چی وزن په انصاف سره سم سم قائم کړی وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ دخُسر معنٰی په وزن کی کمی کول دی ، کومه خبره چی په اوله جمله کی په، أَقِيمُوا الْوَزْنَ کی په مثبت انداز سره بیان سوي ده دا دهغه منفی پهلودی چی په وزن کی کم تول کول حرام دی .

وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ : آنام په زور سره په وزن دسحاب هرجاندار ته ویل کیږی کوم چی په مځکه اوسیږی ګرځی (قاموس) بیضاوی ددی ترجمه هرذی روح کړی ده ، اوظاهره دا ده چی په دی آیت کی دآنام څخه مراد انسانان اوپیریان دی، ځکه چی په ټولو ذی روحو کی دادواړه دشرعی احکامو مکلف اومامور دی اوپه دی سورة کی بار بار دوی دواړو ته خطاب هم سوی دی ، لکه چی په ، فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ : کی دا دواړه جن او انس مخاطب دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيهَا فَاكِهَةٌ : فاکهه هری داسی میوی ته وایی کومه چی عادتًا دخوراك څخه وروسته تفریحًا خوړل کیږی .
وَالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ : اَكْمَامِ دکم په زور سره جمع ده چی معنٰی یی هغه غلاف دی کوم چی دخرماوغیره پرمیوو باندی په اول کی هوار وی .
وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ : حَبْ په زور دحاء سره اوپه شَدْ دباء سره دانی یعنی غلی ته وایی ، لکه غنم، نخود، وربجه، متر، لوبیا وغیره اوعصف هغه بوسوته ویل کیږی په کوموکی چی دانه په مینځ کی دخدای په قدرت اوبالغ حکمت سره پیدا کیږی ، ددغه بوسوپه غلاف کی دننه بنده سوی دخرابو هوا گانو غوماشو مچیانو څخه محفوظ وی پاك صفا ساتل کیږی ، ددانی دپیدائش سره یی دَ ذُو الْعَصْفِ لفظ زیات کی ، غافل انسان یی دی طرف ته هم متوجه کړی دی چی دا ډوډی دال وغیره کوم چی دی په ورځ کی څوځو واره خوری ، ددی یوه یوه دانه مالك اوخالق په څنگه څنگه عجیبه صنعت سره دخاورو اواوبو څخه پیدا کړه اوبیا موځنگه دا دحشرات الارض څخه محفوظه وساتله چی په یوه یوه دانه یی غلاف خپورکی، نودغه ستاسی لقمه جوړه سوه، ددی سره دعصف په ذکر کولوکی شاید دیوبل نعمت طرف ته هم اشاره وی چی دابوس (پرور) ستاسی دحیوانانوخوراك جوړیږی ، دکوموځخه چی تاسی شیدی خوری او دسپرلی او بار برداری کار هم ورځخه اخلی اوخپل خدمت په کوی .
وَالرَّيْحَانُ : دریحان مشهوره معنٰی خو شبوده او ابن زید دا معنٰی په آیت کی مراد کړي ده چی هغه په مځکه کی دپیداکیدونکو درختوځخه قسم قسم خوشبویانی اوخوشبوی داره ګلونه پیداکړی دی اوکله لفظ دریحان په معنٰی دمغز او رزق هم استعمالیږی، خَرَجْتُ اَطْلُبُ رَيْحَانَ اللهِ : یعنی زه راووتم دالله ﷻ درزق دتلاش کولو دپاره ، حضرت ابن عباس ؓ په دی آیت کی دریحان تفسیر په رزق سره کړی دی .
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ : لفظ دَآلَآءِ جمع ده ، دنعمتونو په معنٰی کی اومخاطب ددی انسانان او پیریان دی چی قرینه یی دسورة رحمٰن په دیرو آیتونو کی دجناتو ذکر دی .
خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ : دانسان څخه مراد دلته په اتفاق سره حضرت ادم ؑ دی چی تخلیق یی دختی څخه سوی دی ، صَلْصَالْ په اوبوکی اغږل سوی ختې کله چی هغه وچه سی اوفخار هغه په اوبوکی اغږل سوی ختې کومه چی په اور پخه سی .
وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ : جَانّ په شَدْ دنون سره جنس دپیریانو ته وایی اومارج داور څخه پورته سوی شعله ده، دجناتو دتخلیق لوی عنصر داور شعله ده، لکه چی دانسان په تخلیق کی لوی جزء دخاوری دی
رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ : په یخ اوګرمی کی دلمر دختو ځایونه بدلیږی، په دی وجه دیخنی په زمانه کی دلمر دختو ځای یووی اوپه ګرمی کی، دی دواړو ته یی په آیت کی مشرقین ویلی دی ، دغه شان یی ددی په مقابله کی مغربین وفرمایل چی په یخنی کی دلمر پریوتلو ځای یو دی اوپه ګرمی کی بل .
مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ : دَمَرَجَ لغوی معنٰی ازاد پریښوول دی او دبحرین څخه دوه دریابونه خوږ او تریخ مراد دی ، په مځکه باندی حق تعالی دواړه قسمه دریابونه پیدا کړی دی اوپه ځینو ځایونوکی دادواړه حاصلیږی ، دکومو نظیرونه چی ددنیاپه هره خطه کی پیداکیږی ، لیکن کوم ځای چی دوه دریابونه خوږ اونمکین

Maktaba Tul Ishaat.com

یوځای بهیږی ، هلته ترکافی لیری پوری دد واړو اوبو جلا جلا په فرق وی یوطرف ته خوږوی اوبل طرف ته تریو وی اوځینی ځای داصورت لاندی باندی هم وی ، کوم ځای چی تر یو دریاب پرخوږ سربیره راغلی وی ، هلته هم لاندی اوبه په خپل ځای خوږی وی اوسربیره تروی اوترخی وی ، اوبه باوجود ددی چی نرمی اولطیفی وی ، تر یومسافت پوری په یوبل کی نه خلط ملط کیږی، جلاجلا سره دخپل خوند او ذائقه سره چلیږی ، دحق تعالی ددی قدرت دبیانولو دپاره فرمایی، مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ۙ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ یعنی دواړه دریاپونه یوځای کیږی ، مگر د دوی په مینځ کی دقدرت خداوندی یوه پرده حائله ده کومه چی دوی ترلیری پوری یوځای کیدو ته نه پریږدی .

يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ : دلُؤلُؤ معنی ملغلری اودمرجان معنی کوچنی ملغلری دی ، دا هم قیمتی جواهرات دی ، په دی کی ددرختی په شان ښاخونه وی ، دا دواړه شیان ددریابونو څخه راوزی ، مگر معروفه دا ده چی دا دتریخ دریاب څخه راوزی دخوږ څخه نه ، په دی آیت کی یی د دواړو څخه راوتل بیان فرمایلی دی ، ددی توجیه دا هم کیدی سی چی ملغلری په دواړو دریابونو کی پیدا کیږی خوشیرین دریاب روان وی ، ددی څخه ملغلری را ایستل اسان نه وی اودا خواږه دریابونه ټول څی په تریخ کی لویږی ، دهغه ځای څخه را ایستل کیږی ، په دی وجه دملغلرو منبع تریخ دریاب ته ویل کیږی .

وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَآتُ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ : جَوَارِی دجاریه جمع ده ، ددی معنی کښتی هم راځی ، هغه دلته مراد دی منشئت دنشاء څخه مشتق دی چی معنی یی لوړیدل اوبلندکیدل دی مراد ورځخه دکښتیو بادبانونه دی کوم چی دبیرغوپه شان لوړجوړیږی په دی کی دکښتی دصنعت اوددی داوبو پرسر دتللو دحکمت بیان دی

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَّيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِأَيِّ

څوك چی په مخکه دی ټول فنا کیدونکی دی ، اوباقی به پاته کیږی ذات درب ستابزرګی اوعظمت والا ،

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٨﴾ يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ كُلَّ

نو کوم کوم نعمتونه درب خپل درواغجن کوی ؟ ددې څخه غواړی څوك چی په اسمانونو کی دی اوپه مخکه کی ،

يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٠﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ

هره ورځ هغه په څه ناڅه کارکی وی ، نو تاسی دکومو کومو نعمتونو دخپل رب څخه منکرکیږي ؟ مونږ ژرفارغ کیدونکی یو

الثَّقَلَانِ ﴿٣١﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٢﴾ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ

ستاسی طرف ته ای دوو ډلو ، نو تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږي ؟ ای ډلی دپیریانو او انسانانو !

إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا ۚ

که ستاسی طاقت وی نو ووزی دکنارو داسمانونو اودمخکی څخه نو وزی وتښتی

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۵﴾ یُرْسَلُ

نه سی وتلی بغیر د زور څخه ، نو تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږي ، را وبه لیږي

عَلَیْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿۳۶﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

په تاسی شغلی داور او دود والا نو بدله به وانه خستل سی ، نو تاسی به دخپل رب

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۷﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿۳۸﴾

دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږي ؟ بیا چی هرکله څیری سی اسمان نوسی به ګلابی په شان دسری څرمن

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۹﴾ فَیَوْمَئِذٍ لَّا یُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ

نو تاسی به دخپل رب کومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږي ؟ نو په دغه ورځ به پوښتنه نه کیږي دده څخه دګناه

وَّلَا جَآنٌّ ﴿۴۰﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۱﴾ یُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ

دده دانسان څخه او نه دپیری څخه ، نوتاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږي ؟ پیژندل کیږي به مجرمان

بِسِیْمٰهُمْ فَیُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ وَالْاَقْدَامِ ﴿۴۲﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

په خپلومخونو سره نو نیول کیږي به دتندی د وریښتیانو او قدمونو څخه ، نو تاسی به دخپل رب دکومو کومو

تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۳﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ یُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۴۴﴾ یَطُوْفُوْنَ

نعمتونو څخه منکر کیږي ؟ دا دوزخ دی کوم چی درواغجن کوی دا مجرمان ، ګرځی به په

بَیْنَهَا وَبَیْنَ حَمِیْمٍ اٰنٍ ﴿۴۵﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۶﴾

مینځ ددې او دګرمو جوشیدلو اوبو کی ، نو تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږي ؟

لنډتفسیر: (څومره نعمتونه چی تاسی خلګو اوریدلی دی تاسی ته دتوحید او اطاعت سره ددغو شکر ادا کول په کار دی اوپه کفر اومعصیت سره ناشکری نه دی کول په کار ، څکه چی ددی عالم دفنا کیدو څخه وروسته یوبل عالم راتلونکی دی کوم څای چی به په ایمان اوکفرباندی جزاء اوسزا واقع کیږی دکومو بیان چی په راتلونکو ایتونوکی دی ، نو ارشاد دی چی) څومره پیریان اوانسانان په مخ دمخکی باندی موجود دی ټول به فناسی او (صرف) ستا دپروردګار ذات کوم چی عظمت (والا) او (باوجود دعظمت)

Maktaba Tul Ishaat.com

احسان والادی باقی به پاته سی (چونکی مقصود خبردارکول دثقلینو یعنی پیریانو او انسانانو دی او دغه ټول په مځکه دی ، په دی وجه په فنا کیدوکی داهل ارض ذکر وسو، په دی ذکری تخصیص سره دنورو شیانو دفنا کیدو نفی نه لازمیږی اودلته دالله ﷻ دوه صفتونه دعظمت اواحسان په دی وجه ذکر سوه چی یوصفت ذاتی دوهم اضافی دی ، مطلب ددی دا دی چی اکثره اهل عظمت دنورو پرحال توجه نه کوی مګر الله ﷻ سره ددی عظمته هغه په خپلو بندګانو رحمت اوفضل فرمایی اوچونکه دعالم دافنا او ددی څخه وروسته دجزا اوسزا خبر ورکول انسان ته دایمان دولت بخښی په دی وجه دامجموعه هم یولوی نعمت دی ، په دی وجه فرمایی) نو ای پیریانو اوانسانانو (سره ددی کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږی ؟ (مخ ته په یوخاص طور سره ددی عظمت او اکرام متعلق مضمون دی یعنی هغه داسی باعظمته دی چی) دده څخه (خپل خپل حاجتونه) ټول آسمان اومځکی والا غواړی (دمځکی والاوو حاجتونه خوظاهر دی اومحتاج دی ، مخ ته دحق تعالی فضل او احسان په یوبل عنوان سره بیان سوی دی) هغه هر وخت په څه ناڅه کارکی وی (دا مطلب نه دی چی دافعالو صدور دده دذات دلوازمو څخه دی ، کنه نو قدیم والی به دحادث لازم سی ، بلکه مطلب دا دی چی څومره تصرفات په عالم کی واقع کیږی، هغه دهغه تصرفات دی، په کوموکی چی دهغه انعامات او احسانات هم داخل دی لکه ایجاد اوابقاء کوم چی عام رحمت دی اورزق او اولاد ورکول کوم چی ټول دنیوی رحمتونه دی ، اوهدایت اوعلم ورکول اوتوفیق دعمل کوم چی دینی رحمتونه دی ، نو سره دعظمته داسی اکرام اواحسان فرمایل دا هم یوعظیم نعمت دی) نو ای پیریانو اوانسانانو (سره ددی دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟ (دا مضمون دجلال اواکرام یی دخالق دبقاء متعلق وفرمایی مخ ته بیا دمخلوق دفنا متعلق ارشاد دی چی تاسی خلګ دامه ګڼی چی بیابه دغه فنا همیشه اوعذاب اوثواب به نه وی، بلکه مونږ به تاسی دوباره ژوندی کړو اوجزا اوسزابه درکو ، داداسی فرمایی چی) ای پیریانو اوانسانانو! مونږ به ډیر ژر ستاسی (دحساب کتاب) دپاره فارغه سو (یعنی حساب کتاب اخیستونکی یو مجازاً اومبالغتاً یی دایه خالی کیدو سره تعبیر وفرمایی اومبالغه داسی ده چی انسان کله دټولو کارونو څخه فارغه سی اویوطرف ته متوجه سی نو دغه پوره توجه ګڼل کیږی ، دانسانی فهم مطابق داعنوان اختیار سو ، کنه نودحق تعالی اصل شان دا دی ، چی هغه ته یو مشغولیت دبل مشغولیت مانع نه وی اودهغه چی کوم طرف ته څه وخت توجه وی تامه اوکامله وی هلته دناقصی توجه دسره احتمال نسته اودتیر په شان مخ ته ارشاد دی چی دادحساب کتاب خبر درکول هم یوعظیم نعمت دی) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددی کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟ (مخ ته دحساب دتاکید دپاره فرمایی چی دغه وخت داهم احتمال نسته چی څوك یوڅای خلاص سی ولاړسی چنانچی ارشاد دی چی) ای دلی دپیریانانو اوانسانانو! که تاسی ته دا قدرت وای چی دآسمان اومځکی دحدودو څخه یوڅای دباندی ولاړ سی نو (مونږ هم ګورو چی) وزی (مګر) بغیر دزور څخه نه سی وتلی (او زور سته نه، نو دوتلو وقوع هم ممکنه نه دی اودا حالت به بعینه په قیامت کی وی ، بلکه هلته خوبه ددی څخه هم زیات عجزوی

Maktaba Tul Ishaat.com

غرض دا چی یوځای ته دتښتیدو احتمال پاته نه سو او دا خبره ښوول هم موجب دهدایت او لوی نعمت دی، نو ای پیریانو او انسانانو! (سره ددی دومره کثرت او عظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږی؟ (مخ ته په وخت دعذاب کی دانسان دعجز ذکر فرمایی لکه چی لوړ دحساب په وخت کی دده دعاجزه کیدو ذکروو، یعنی ای دپیریانو اوانسانانو مجرمانو، پرتاسی دواړو به (دقیامت په ورځ) داور شعله اودود رایله کړل سی بیابه تاسی (دغه) دځان څخه لیری نه کړی (دا شعله اودود غالبًاهغه دی دکوم ذکر چی په سورة والمرسلت کی دی، اِنْطَلِقُوا إِلَى ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ، الی قوله إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ: نوسایه دود دی اوشرر لمبه ده، والله اعلم، او ددی ښوول هم دهدایت دذریعه کیدو په وجه یولوی نعمت دی، نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددی دومره ډیروالی اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (غرض داچی کله چی زمونږ حساب اخیستل اوستاسی دحساب اوعذاب په وخت کی عاجزه کیدل معلوم سوه، نوپه دی سره دقیامت په ورځ دحساب اوعذاب واقع کیدل ثابت سوه چی بیان یی دا دی چی) کله (قیامت راسی په کوم کی چی) به آسمان څیری سی اوداسی به سور سی لکه سره چمړه (یعنی څرمن شاید دارنګه به ځکه وی چی داعلامه دغضب ده چی په غضب کی مخ سورکیږی اودا دآسمان څیریدل هغه دی کوم چی دوَقَالَ الَّذِيْنَ لَايَرْجُوْنَ: دپاری په شروع کی په دی قول دالله ﷻ کی وَيَوْمَ تَشَقَّقُ الخ سره راغلی دی او دا خبر ورکول هم یونعمت دی، نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددی دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (داخو دحساب وقوع او ددی وخت وښوول سو، مخ ته دحساب اوطریق فیصله ارشاد فرمایی په کومه ورځ چی به داواقعات ارسال شواظ، نحاس، انشقاق سماء وغیره کیږی) نوپه دغه ورځ به (دالله ﷻ دمعلومولو دپاره) دیو انسان اوپیری څخه دده دجرم متعلق پوښتنه نه کیږی (ولی چی الله ﷻ ته ټول معلوم دی یعنی حساب به په دی غرض نه وی بلکه په خپله هغوی ته به دمعلومولو اوخبرولو دپاره سوال اوحساب وی لقوله تعالی، فوربك لنسئلنهم اجمعین، اوداخبر ورکول هم یونعمت دی) نو ای پیریانو او انسانانو! (سره ددی دومره ډیروالی اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (داخودحساب کیفیت سوچی په طوردتحقیق به نه وی، بلکه په طور دتوبیخ به وی مخ ته دانبیی چی الله ﷻ ته خوتعیین دجرمونواومجرمانو معلوم دی په دی وجه دتحقیق ضرورت به نه وی لیکن ملائکوته به مجرمان څنګه معلومیږی نوارشاد فرمایی چی) مجرمان خلق به په خپله حلیه سره (چی دمخونو توروالی اودسترګو ژړوالی دی لکه چی داقول دالله ﷻ دی تَسْوَدُّ وُجُوْهٌ، او وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا) پیژندل کیږی نو (دوی) دسر دوړینښتانو اودپښو څخه به نیول کیږی (اوپه راکشولو به جهنم ته وغورځول سی، یعنی دچا سر دچاپښه دعملونو مطابق یاکله سر کله پښه په غرض داجتماع داقسامو دعذاب اوداخبر ورکول هم یونعمت دی) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددی دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (مخ ته زیات عذاب ښیی) دا دی هغه جهنم کوم چی مجرمانو (یعنی تاسی) درواغجن کوی، هغه خلګ به د دوزخ اوګرمو جوشیدلو اوبو

Maktaba Tul Ishaat.com

په مینځ کی ګرځی (یعنی کله به داور عذاب وی ، کله به دګرمو اوبو ، دکومو تحقیق چی دسورة مومن په اتمه رکوع کی تیر سوی دی او دا خبر ورکول هم یو نعمت دی) نو ای پیریانواوانسانانو! (سره ددی دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږی ؟ .

معلومات اومسئلي: كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ، وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، د: عَلَيْهَاضمير دمخکی طرف ته راجع دی چی ذکر یی مخ ته راغلی دی ، وَالْأَرْضَ وَضَعَهَالِلْأَنَامِ : ددی څخه علاوه مخکه دهغوعامو اشیاؤ څخه ده دکومو طرف ته چی دضمیر راجع کولو دپاره اول دمرجع ذکر لازم نه دی ، معنٰی ددی دا سوه چی کوم پیریان او انسانان په مخکه دی ، ټول فنا کیدونکی دی ، په دی کی دجن او انس تخصیص څکه وسو چی په دی سورة کی مخاطب دا دواړه دی ددی څخه دا نه لازمیږی چی آسمان او دآسمان مخلوقات فانی نه دی څکه چی په بل آیت کی الله ﷻ په عامو لفظونو کی دټولو مخلوقاتو فانی کیدل هم واضح کړی دی ، كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ .

وَجْهُ رَبِّكَ : دَوَجْهُ څخه مراد دجمهورو مفسرینو په نزد ذات حق سبحانه وتعالی دی او په رَبِّكَ کی ضمیر دخطاب درسول الله ﷺ ته راجع دی ، دادحضرت سید الانبیاء علیه الصلوٰة والسلام خاص اعزاز اواکرام دی چی دوی ته په خاص مقام دمدح کی یوځای دعبده خطاب سوی دی او یو ځای رب الارباب دخپل ذات نسبت دحضور ﷺ طرف ته کړی دی او په رَبِّكَ سره یی خطاب فرمایلی دی .

دمشهور تفسیر مطابق معنٰی دایت دا سوه چی په مخکه او آسمان کی چی څه دی په کومو کی چی پیریان او انسانان هم دا خل دی ټول فانی دی ، باقی پاته کیدونکی یوذات دحق ﷻ وعلا شانه دی .

دفانی کیدو څخه مراد دا هم کیدی سی چی دا ټول شیان دا وخت هم په خپل ذات کی فانی دی ، په دوی کی د دوام اوبقا صلاحیت نسته او دا معنٰی هم کیدی سی چی دقیامت په ورځ به دا ټول شیان فناسی .

اوځینو مفسرینو دَوَجْهُ رَبِّكَ تفسیر په جهت اوطرف سره کړی دی ، په دی صورت کی به معنٰی دایت داسی چی په ټولو موجوداتو کی بقاء صرف په هغه شی کی ده کوم چی دالله ﷻ په جانب دی ، په دی کی دهغه ذات اوصفات هم دا خل دی او دمخلوقاتو په عملونو او حالاتوکی چی دکوم شی تعلق دحق تعالی سره دی هغه هم شامل دی چی مطلب به یی دا وی چی انسانان اوپیریان اوملائکی چی کوم کار دالله ﷻ دپاره کوی ، هغه کار هم باقی دی فناکیږی نه (لکه چی په مظهری اوقرطبی اوروح کی دی) اوددی مطلب تائید دقرآن ددی آیت څخه هم کیږی ، مَاعِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللهِ بَاقٍ : یعنی ستاسی سره چی څه مال او دولت وی یاقوت اوطاقت یاراحت اوتکلیف یادچا سره محبت اودښمنی دا ټول شیان فنا کیدونکی دی اوخه چی دالله ﷻ سره دی هغه باقی پاته کیدونکی دی ، دالله ﷻ سره چی څه دی هغه لره فنا نسته . والله سبحانه وتعالی اعلم

ذُوالْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ : یعنی هغه رب صاحب عظمت اوجلال هم دی اوصاحب اکرام هم دصاحب اکرام کیدو دامطلب هم کیدی سی چی په حقیقت کی دهراکرام اواعزاز مستحق یوازی هغه دی اودامعنٰی هم کیدی سی چی هغه په خپله دصاحب عظمت اوجلال کیدو باوجود دعامی دنیادبادشاهانو اوعظمت والاؤ په شان نه دی چی دده نوروته اودغریبانوطرف ته التفات نه وی بلکه هغه دعظمت اوجلال سره دخپل مخلوقاتو هم

Maktaba Tul Ishaat.com

اکرام کوی چی دوی ته دوجودورکولوځخه وروسته قسم قسم بی شمیره نعمتونه ورکوی اود دوی درخواستونه او دعاګانی اوری راتلونکی آیت ددی دوهمی معنی شهادت ورکوی، اودا لفظ د: ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام دحق تعالی دهغو خاصو صفتونو څخه دی چی ددی په ذکر کولوسره انسان کومه دعا وغواړی قبلیږی.

په ترمذی نسایی اومسند احمد کی دربیعه ابن عامر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی اَلِظُّوْا بِيَاذَاالْجَلَالِ وَالْإِكْرَام، اَلِظُّوْا دالظاظ څخه مشتق دی چی معنی یی لازم نیول دی ، مراددحدیث دادی چی په خپلو دعاګانوکی يَاذَاالْجَلَالِ وَالْإِكْرَام یادساتی اوددی سره دعاکوی (څکه چی دااقرب الی القبول ده) مظهری

يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ : یعنی دمخکی اوآسمان ټول مخلوقات حق تعالی ته محتاج دی ، او دهغه څخه خپل حاجتونه غواړی دمخکی مخلوق خپل مناسب حاجتونه رزق ، صحت، عافیت ارام اوراحت بیا داخرت مغفرت اورحمت اوجنت غواړی، دآسمان مخلوق که څه هم څه خوری چښی نه، مګر دالله ﷻ درحمت اوعنایت هروخت محتاج دی ، هغوی هم درحمت اومغفرت وغیره دخپلو حاجتونو طلب ګاروی ، مخ ته كُلَّ يَوْمٍ ددی يَسْئَلُ ظرف دی، یعنی د دوی داسوالونه او درخواستونه حق تعالی ته هره ورځ وی اودیوم اوورځی څخه مرادهم عرفی ورځ نه ده بلکه مطلقاًوخت ورځخه مراد دی ، مطلب یی دا دی چی ټول مخلوقات په مختلفو ملکونو اومختلفو ژبوکی دده څخه خپل خپل حاجتونه هر وخت غواړی ، او دا ظاهره ده چی ټول دمخکی اوآسمانونو مخلوقات او د دوی دیوه یوه فرد بی شمیره حاجتونه اوهغه هم هرګړی اوهر وخت ماسوا ددی عظمت والا اوجلال والا قادر مطلق څخه څوك اوریدی سی اوځوك یی پوره کولی سی ، په دی وجه دكُلَّ يَوْمٍ سره یی داهم وفرمایل هُوَ فِي شَأْنٍ یعنی هروخت هره لحظه دحق تعالی یو خاص شان وی، هغه څوك ژوندی کوی څوك وژنی، چاته عزت ورکوی، چاته ذلت ورکوی ، څوك روغ ناجوړه کوی څوك ناجوړه روغوی ، یو مصیبت زپلی ته دمصیبت څخه نجات ورکوی ، یو غمجن ژړیدونکی خند وی یو سوال کوونکی ته دهغه غوښتی شی ورکوی ، دیوچا ګناه معاف کوی جنت ته یی ددا خلولو مستحق جوړ وی ، یوقوم لوړ وی عزت اواقتدار ورکوی ، څوك لاندی او ذلیل کوی ، غرض هر وخت هره لمحه دالله ﷻ یوخاص شان وی.

سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَا الثَّقَلَانِ، ثقلان دثقل تثنیه ده چی معنی یی وزن اوبار دی ثقلان دوه بارونه ، مراد ددی څخه پیریان اوانسانان دی ، لفظ دثقل په عربی ژبه کی هر هغه شی ته ویل کیږی ، دکوم وزن اوقدر اوقیمت چی معروف وی ، په دی وجه په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، اِنِّیْ تَارِكٌ فِيْكُمُ الثَّقَلَيْنِ یعنی زه دخپل ځان څخه وروسته دوه وزندار قابل قدر شیان پریږدم کوم چی به تاسی ته دهدایت اواصلاح کار درکوی . ددی دواړو شیانو بیان په څینو روایتونوکی ، كِتَابُ اللهِ وَعِتْرَتِی، راغلی دی ، په څینوکی كِتَابُ اللهِ وَسُنَّتِیْ او خلاصه ددواړو یوه ده ، څکه چی دعترت څخه مرادخپل اولاد دی چی نسبی او روحانی دواړه قسمه اولادو لره شامل دی ، په دی وجه مراد ټول صحابه کرام ﷺ سول او دحدیث معنی دا سوه چی دنبی کریم ﷺ څخه وروسته دوه شیان دمسلمانانو دهدایت اواصلاح ذریعه ده ، یودالله ﷻ کتاب ، دوهم د دوی ﷺ صحابه کرام ﷺ او په معاملاتو اواحکامو کی دهغوی کردار، اوپه کوم روایت کی چی دعترت په ځای سنت راغلی دی ، ددی مطلب دا دی چی دنبی کریم ﷺ تعلیمات کوم چی دصحابه کرامو ﷺ په

Maktaba Tul Ishaat.com

واسطه مسلمانانوته رسیدلی دی .

په هرحال په دی حدیث کی دثقلین څخه مراد دوه وزندار قابل قدرشیان دی ، په ذکرسوی آیت کی جن او انس دواړو نوعوته ثقلین ددی مفهوم په اعتبار سره ویل سوی دی چی په مخکه باندی په اوسیدونکو ټولو ذی روحو شیانوکی جن اوانس دټولو څخه زیات وزندار اوقابل قدر دی ، اوسَنَفْرُغُ دَفَرَاغُ څخه مشتق دی چی معنٰی یی دیوکارڅخه فارغیدل او وزګارکیدل دی ، دفراغ مقابل په لغت کی شغل دی او لفظ دفراغ د دوو شیانو خبر ورکوی ، اول دا چی په څه بل شغل کی مشغول وو ، دوهم دا چی اوس دغه شغل ختم سو اوفارغه سو ، دا دواړی خبری په مخلوقاتوکی خومعروفی اومشهوری دی انسان کله په یوه شغل کی وی ، بیادهغه څخه فارغ سی ، مګرحق تعالی ددی دواړوڅخه بری دی ، نه ده ته یوشغل دبل شغل څخه مانع کیدی سی ، نه هغه کله داسی فارغ کیدی څنګه چی انسان فارغه کیدی سی .

په دی وجه په ذکر سوی آیت کی د ، سَنَفْرُغُ لفظ دیو تشبیه اواستعاری په طور راوړل سوی دی کوم چی په عامو انسانانوکی رائج دی چی دیوکار داهمیت ښوولو دپاره ویل کیږی چی مونږ ددی کاردپاره فارغه سو ، یعنی اوس پوره توجه ددی کار طرف ته ده اوکوم سړی چی په یوکارخپله پوره توجه خرڅ کوی ، ددې دپاره په محاوره کی ویل کیږی ، چی ده ته ددی څخه ماسوا بل کار نسته .

ددی څخه په مخکی آیت کی چی دامذکور وه چی دآسمان اومځکی ټول مخلوقات او د دوی یو یو فرد دحق تعالی څخه خپل حاجتونه غواړی اوالله ﷻ هر وخت په هرحال کی د دوی ددرخواست دپوره کولو په لحاظ سره په یوخاص شان کی وی ، په آیت سَنَفْرُغُ لَكُمْ الخ کی دا وښوولو چی دقیامت په ورځ به ددرخواستونو او ددی دقبول اوعمل سلسله بنده سی ، دغه وخت به کار صرف یوپاته سی او دمختلفو شانونو څخه به صرف یوشان وی ، یعنی حساب کتاب او په عدل او انصاف سره فیصله (روح)

يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا لَا تَنْفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ : په تیر ایت کی یی جن اوانس ته په لفظ دثقلین خطاب کړی وو اوښوولی یی وه چی دقیامت په ورځ به یوکار وی چی دټولو پیریانو او انسانانو دعملونو جائزه به اخیستل کیږی اوددی په ذره ذره به جزا اوسزا وی، په دی آیت کی دا ښوول منظور دی چی دورځی دجزا دحاضری اودعملونو دحساب څخه یوسړی هم تښتیدی نه سی ، دهیچا مجال نسته چی دمرګ څخه یادورځی دقیامت اوحساب څخه یوځای وتښتی خلاص سی ، په دی آیت کی دَثَقَلَانِ په ځای د ، يَمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ واضح نوم یی ذکرکی اوجن یی په انس باندی مخکی کی ، شاید په دی کی اشاره دی طرف ته وی چی دآسمان اومځکی داطرافو څخه دباندی وتل لوی قوت اوقدرت غواړی ، جناتوته الله ﷻ په داسی کارونوکی قوت دانسان څخه زیات ورکړی دی ، په دی وجه دجناتو ذکر یی مخ ته وکی ، مطلب دایت دا دی چی ای جناتو اوانسانانو که ستاسی داګمان وی چی مونږ به یوځای وتښتو او دحساب کتاب څخه به خلاص سو ، نوځی خپل قوت وازمایی وګورې که ستاسی په دی قدرت وی چی دآسمان اومځکی ددائرو څخه دباندی وتلی سی نو ووزی وښیاست داڅه اسانه کارنه دی ، ددی دپاره خو ډیر لوی قوت اوقدرت په کار دی کوم چی جن او انس دواړو قومونو ته حاصل نه دی ، ددی مطلب دا نه دی چی ګوندی د دوی دآسمان اومځکی داطرافو

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه ددباندی وتلو امکان او احتمال نسوول دی ، بلکه په طور دفرض محال د دوی عاجزوالی نسوول دی .
په آیت کی مراد که دمرګ څخه تینبسته ده نو دا دنیا ددی مصداق دی چی دهیڅا په امکان کی نسته چی دمخکی څخه ترآسمانونو پوری حدونه قطع کړی دباندی ووزی او دمرګ څخه خلاص سی، ددی حدونو پریکولو ذکر هم دانسانی خیال مطابق سوی دی ، کنی نوکه څوك دآسمانونو دحدونو څخه دباندی ووزی نوبیاهم دالله ﷻ دقدرت داحاطی څخه دباندی نه دی اوکه مراد دمحشر دحساب کتاب اوجواب ورکولو څخه دتینبستی ناممکن والی نسوول وی ، نو ددی عملی صورت دقرآن کریم په نورو ایتونو او روایتونودحدیث کی دا دی چی دقیامت په ورځ به آسمان څیری سی ، تولی ملائکی به دمخکی کناروته راسی اودهرطرف څخه به محاصره وی ، پیریان اوانسانان به دقیامت هیبتناك شیان وینی، مختلفو طرفونوته به تښتی اوپه هرطرف به دملائکو محاصره وینی ، بیابه خپل طرف ته بیرته راګرځی (روح)

(فضایي سفر کوم چي فن صناعه مصنوعي سیارو او راکټونو باندی کیږی ددی آیت سره یې هیڅ مطابقت نسته)

په دی زمانه کی چی کوم دمخکی دکشش څخه ددباندی وتلو اوپه خلا کی سیاروته درسیدو تجربی کیږی ظاهره ده چی دا تولی دآسمان دحدودو څخه دباندی نه دی بلکه دآسمان دسطح څخه ډیرلاندی کیږی دآسمانونو داطرافو څخه ددباندی وتلو ددی سره هیڅ تعلق نسته، دوی خو دآسمانونو اطرافوته هم نه دی رسیدلی دباندی وتل خولاڅه کوی ، په دی وجه ددی آیت دمطلب سره ددی خلایی سفرونو او سیارو ته درسیدو دواقعاتوهیڅ تعلق نسته ځینی ساده خلګ دا ایت دخلایی سفرونو دامکان اوجواز دپاره پیش کوی ، کوم چی دمُعَنْوَنَه څخه بالکل دناواقفیت اونا خبرتیا دلیل دی .

يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ : حضرت ابن عباس ﷺ او دتفسیر نور امامان فرمایی چی ، شُواظ په پیښ دشین سره داور هغه شعلی ته وایی په کومه کی چی دود نه وی اونحاس هغه دود ته ویل کیږی په کوم کی چی داور رنا نه وی ، په دی آیت کی هم جن اوانس ته خطاب کوی ، پردوی داور دشعلو اودود را استولو بیان دی، ددی مطلب داهم کیدی سی، چی دحساب کتاب څخه وروسته چی کوم مجرمان جهنم ته وراچول کیږی ، په هغه جهنم کی به دا دوه قسمه عذاب وی ، یوڅای به اور او اور وی چی د دود به په کښی نوم اونښانه هم نه وی اویوڅای به سراسر دود او دود وی چی داور هیڅ رنا به په کښی نه وی او ځینی مفسرین دا ایت دتیر ایت تکمله مقرروی اودا معنٰی یی کوی چی ای پیریانو او انسانانو! دآسمانونو دحدودو څخه وتل ستاسی دوس خبره نه ده که تاسی داسی اراده وکی هم نو کوم طرف ته چی تښتی داور شعلی اودود به تاسی راګیروی (ابن کثیر)

فَلَا تَنْتَصِرَانِ : دَانْتِصَار څخه مشتق دی چی معنٰی یی دچا مدد کول اودمصیبت څخه خلاصول دی مطلب دا دی چی دعذاب الٰهی څخه دخلاصیدو دپاره په تاسی تولو پیریانو او انسانانو کی به هیڅوك دچا مدد ونه کړل سی چی ګویا دهغه په ذریعه به دعذاب څخه خلاص سی .

فَيَوْمَئِذٍ لَا يُسْأَلُ عَنْ ذَنْبِهِ إِنْسٌ وَلَا جَانٌّ : یعنی په دغه ورځ به دیو انسان باپیری څخه دهغه دګناه پوښتنه ونه سی ، ددی یو مطلب خو هغه دی کوم چی په لنډتفسیر کی اخیستل سوی دی ، چی ددی خلګو څخه به په قیامت کی دا پوښتنه ونه سی چی تاسی فلانی جرم کړی دی او که نه دی ، دغه خو دملائکو په لیکل

Maktaba Tul Ishaat.com

سوو عملنامو کی محفوظ او دالله ﷻ په علم ازلی کی ددی څخه مخکی موجود دی ، بلکه پوښتنه به دا وی چی فلانی جرم تاولی کړی دی ، دا تفسیر حضرت ابن عباس ﷺ کړی دی او مجاهد فرمایی چی کومی ملائکی دمجرمانو په عذاب ماموره دی ، هغوی ته به دمجرمانو څخه دپوښتنی ضرورت نه وی چی تاسی داجرم کړی دی اوکه نه، بلکه دهر جرم یوخاص نښانه به دمجرمانو په مخکی ظاهره وی ، ملائکی به هغه نښانه گوری او دوی به جهنم نه وراچوی ، په ورپسی آیت کی دامضمون راغلی دی .

يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ ددی دواړوتفسیرونوخلاصه داده چی دا واقعه دهغه وخت ده کله چی په محشر کی دحساب کتاب وروسته دمجرمانو جهنم ته دغورځولو فیصله وسی نواوس به دوی څخه د دوی دگناهونو په باره کی څه پوښتنه نه وی په نښانو سره به پیژندل کیږی او جهنم ته به ورغورځول کیږی .

اوحضرت قتاده ﷺ فرمایی چی دادهغه وخت حال دی ، کله چی یو وار د دوی څخه د دوی دجرمونو پوښتنه وسی او دوی انکار وکی اوقسمونه واخلی نو د دوی په خلو اوژبو به مهر ولگول سی اولاسونه اوپښی به یی شاهدی ورکړی ، دا دری سره تفسیرونه ابن کثیر نقل کړی دی ، دری سره نژدی نژدی دی څه اختلاف په کی نسته .

يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ د: سِيْمَا معنٰی نښانه ده ، حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی په دغه ورځ به مجرمان دکومو چی جهنم ته دغورځولو فیصله وسی ، د دوی نښانه به دا وی چی مخونه به یی تور اوسترگی به یی ژړی وی ، رنځ اوغم به یی پرمخونو راخپور وی ، ملائکی به ددی نښانی په ذریعه دوی نیسی .

نَوَاصِيْ دَ نَاصِيَةٌ جمع ده دتندی وریښتانو ته ویل کیږی دتندیو اوقدمونو دنیولو څخه دا مطلب هم کیدی سی چی څوك به دسر دوریښتو څخه نیول کیږی اوراکش به سی اوځوك به دپښو څخه نیول کیږی او راکش به سی ، یابه کله دسر دوریښتو څخه اوکله به دپښو څخه نیول کیږی او راکشیږی به او دا معنٰی هم کیدی سی چی دسرونو وریښته اوپښی به یی یوځای وترل سی (روح) والله اعلم

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٤٦﴾ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ ﴿٤٧﴾

اوځوك چی دخپل رب په مخکې د اوریدو څخه وبیریږي ده لره دوه باغونه دی ، نو تاسی به کوم کوم نعمتونه درب خپل درواغجن کوی ؟ چی ډیر ښاخونه دی په کی ،

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

نو تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ په دی دواړو کی دوې چینی بهیږي ، نو تاسی به کوم

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

کوم نعمتونه درب خپل درواغجن کوی ؟ په دی دواړو کی به هره یوه میوه په قسم قسم وی ، نو تاسی به کوم کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۳﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى فُرُشٍۭ بَطَآىِٕنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ؕ

نعمتونه درب خپل درواغجن کوی ، تکیه لګولی به ناست وی په فرشونو چی استرونه به یی دغتو وریښمووی

وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿۵۴﴾ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۵﴾ فِيْهِنَّ

اومیوی د دواړو باغونو به را کښته وی ، نو تاسی به کوم کوم نعمتونه درب خپل درواغجن کوی ؟ په دی دواړو

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿۵۶﴾ فَبِاَىِّ

کی به ښځی وی کښته نظرکوونکی چی نه به وی نژدی سوی دوی ته یو سړی د دوی څخه مخکې اونه یو پیری ،

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾ كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ

نو تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ هغه داسی دی لکه لعلونه اوملغلری ، نوتاسی به

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۹﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴿۶۰﴾ فَبِاَىِّ

دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ نه ده بدله دنیکی مګر نیکی ، نوتاسی به

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۱﴾ وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿۶۲﴾ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ او ددی دوو څخه ماسوا نور دوه باغونه دی ، نوتاسی به دخپل رب

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۳﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿۶۴﴾ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۵﴾ فِيْهِمَا

کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ ژور شنه لکه تور ، نو تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ په

عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿۶۶﴾ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۷﴾ فِيْهِمَا فَاكِهَةٌ

دغو کی دوې چینی دی راخوتکیدونکی ، نوتاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ په هغه کی میوی

وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ

دی خرماوی اوانار ، نوتاسی به دخپل رب ذکوم کوم نعمتونه درواغن کوی ؟ په دغو تولوباغونو کی ښی ښځی

Maktaba Tul Ishaat.com

حِسَانٌ ﴿۷۰﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِی الْخِیَامِ ﴿۷۲﴾

دی خوبصورته، نو تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی؟حوری دی بندی اوسیدونکی په خیموکی

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۳﴾ لَمْ یَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا

نو تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ چی لاس به نه وی ور وړی دوی ته یو انسان د دوی څخه مخکې

جَآنٌّ ﴿۷۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۵﴾ مُتَّكِـِٕیْنَ عَلٰی رَفْرَفٍ

اونه پیری ، نو تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟ تکیه لګولی به ناست وی په شنو

خُضْرٍ وَّعَبْقَرِیٍّ حِسَانٍ ﴿۷۶﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۷﴾

بالښتونو باندی او په قیمتی کوربچو ښائسته ؤ ، نو تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه درواغجن کوی ؟

تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِی الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿۷۸﴾

لوی برکت والا دی نوم ستا درب چې خاوند دلویی او دعظمت دی.

لنډتفسیر: (په دی آیتونوکی د دوو باغونو ذکر د ، وَلِمَنْ خَافَ : څخه شروع سوی دی، دنورو دوو باغونو ذکر د ، وَمِنْ دُوْنِهِمَا څخه : اولنی دوه باغونه دخواصو مقربینو دی ، دوه باغونه دعامو مومنانو دپاره، دلیلونه ددی تعین اوتقسیم به مخ ته ولیکل سی ، دلته صرف تفسیرلیکل کیږی ، په تیرو آیتونوکی دمجرمانو دسزاګانو ذکر وو، دلته دمومنانو صالحانو دجزا ذکر شروع کیږی) او (دجنتیانو حال دا دی چې په دوی کی دوه قسمه دی، خواص اوعوام نو) کوم سړی (چې دخواصو څخه وی او) دخپل رب په مخکی ددریدو څخه (هر وخت) بیریږی (او بیریږی چې دشهوتونو او نافرمانیو څخه ځان ساتی اودا شان دخواصو دی ، ځکه چې په عوامو خوکله کله بیره راځی اوکله د دوی څخه ګناهونه هم کیږی که څه هم توبه وکاږی ، غرض دا چې کوم سړی چې داسی متقی وی) دهغه دپاره (په جنت کی) به دوه باغونه وی (یعنی دهرمتقی دپاره به دوه باغونه وی اوغالباً په دی تعددکی حکمت د دوی دتکرم اوتنعم اظهار دی لکه چې څنګه په دنیاکی دنعمت دخاوندانو سره اکثره منقولات اوغیرمنقولات شیان (پیروی) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونو څخه منکرکیږی؟(او دغه) دواړه باغونه به (پیرو ښاخونو والا وی (په دی کی دسایی دګنې کیدو او دمیوو دډیر والی طرف ته اشاره ده) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟ (په دی دواړوباغونوکی به دوی چینی وی چې (ترلیری پوری به) بهیدونکی روانی وی ، نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددومره کثرت اوعظمت

Maktaba Tul Ishaat.com

(نعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (او) په دی دوو باغونوکی به دهری میوی دوه قسمونه وی (چی په دی کی زیات خوند اومزه ده کله دیوقسم څخه خوند اخلی کله دبل قسم) نو ای پیریانو اوانسانانو (سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکر کیږی؟ (او) دغه خلګ به تکیه لګولی پرداسی فرشونو باندی ناست وی دکومو آستر چی به دغتو وریښمو وی (اوقاعده ده چی سربیره کپړی په نسبت داستر زیاته نفیسه او ښه وی ، نوکله چی یی استر داستبرقو وی نو سربیره به لا څنګه وی) او ددی دواړو باغونو میوه به ډیره نژدی وی (چی په ولاړی، ناستی، پروتی هر ډول سره به په لاس راځی) نو ای پیریانو او انسانانو! (سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب کوم کوم نعمتونه نه منی؟ (او) په دی (باغونو په کورونو اومحلاتو) کی به کښته نظر کوونکی (یعنی حورانی) وی چی ددی (جنتی) خلګو څخه مخ کی به پردوی نه یوانسان تصرف کړی وی اونه یو پیری (یعنی بالکل محفوظی غیرمستعمل سوی به وی) نوای پیریانو او انسانانو! (سره ددومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکر کیږی؟(اورنګونه به یی دومره صفااوشفاف وی چی) ګویادغه یاقوت اومرجان دی (اوممکنه ده چی تشبیه په سرخی کی هم وی اوتعدد دمشبه به غالبًا داهتمام دپاره وی) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونوڅخه منکرکیږی؟(مخ ته دذکرسوی مضمون تقریر اوتاکید دی چی) آیا دغایت اطاعت بدله بغیر دعنایت څخه بله څه کیدی سی (دوی انتهایی اطاعت وکی ، نو په بدله کی هم دغایت عنایت مورد سو) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟ (دا خو دخواصو دباغونو دصفت ذکرسو) او (مخ ته دعامو مومنانو دباغونو ذکر دی یعنی) ددی (ذکرسو) دوو باغو څخه په کومه درجه کی دوه باغونه نور دی (کوم چی دعامو مؤمنانو دپاره دی اوهریوه ته به دوه دوه حاصلیږی) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونوڅخه منکرکیږی؟ (اومخ ته ددی باغونوصفت دی چی) دغه دواړه باغونه به ډیر زیات شنه وی نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره د دومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونوڅخه منکرکیږی؟ په دی دواړوباغونوکی به دوی چینی وی چی جوش به وهی پس ای پیریانو اوانسانانو!(سره ددومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (جوش وهل په وجه ددی چی دا دچینی دلوازمو څخه دی په لوړو چینوکی هم داصفت مشترك وو اوهلته تَجْرِیْن هم دی اودلته نسته نو دا قرینه ده ، ددی چی دا چینی په صفت دجریان کی داولو دواړو چینو څخه کمی دی اودباغونه دهغو دواړو باغونو څخه کم دی او) په دی دواړو باغونوکی به میوی اوخرماوی اونار وی نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (دلته مطلق فاکهه اوبیاپه تفصیل کی په نخل اورمان باندی بسوالی کول اوهلته په لفظ دکل سره دهر قسم فواکهی وضاحت اوبیاپه لفظ دزَوْجَان سره د دوی ددیروالی ذکر په کوم سره چی دفواکهی کثرت معلومیږی ، دا ټول قرائن ددی دی چی اولنی

Maktaba Tul Ishaat.com

باغونه ددی وروستنیو باغونو څخه افضل اواعلی دی او) ددی (باغونوپه مکانونو) کی به خوب سیرته اوخوبصورته ښځی وی (یعنی حوری) نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ هغه ښځی به غنم رنګه وی (او) په خیموکی به محفوظی وی، نو ای پیریانو اوانسانانو! (سره ددومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومونعمتونوڅخه منکرکیږی؟(هلته دیاقوتو اومرجانوسره تشبیه ورکول کومه چی مفیده مبالغه ده اودلته صرف په حسّان باندی بسوالی کول ، دارنګه قرینه ده چی اولنی دوه باغونه ددی وروسته دوه باغونوڅخه افضل دی ، او ددی ځای تول صفتونه هلته صراحتًا یا اشارتًا مذکوردی، مثلاً خوش سیرته کیدل دقصرتُ الطرْف معلوم سو، حور کیدل په قرینی دمقام سره معلومیږی، دمقصورات څخه پرزیات عصمت اوعفت باندی لفظ دقصرتُ الطرْف دلالت کوی چی څوك داسی وی هغه به ضرورپه کورکی اوسیږی او) هغه خلق به په شنو مشجّرو اوعجیبه خوبصورته جامو (په فرشونو) تکیه لګولی ناست وی، نوای پیریانو اوانسانانو!(سره ددومره کثرت اوعظمت دنعمتونو) تاسی به دخپل رب دکومو کومو نعمتونو څخه منکرکیږی؟ (په دی کی په فکرکولو سره معلومیږی چی ددی دوو باغونو فرش به په نسبت داولو دوو باغونوڅخه په کمه درجه وی ، ځکه چی هلته تصریح ده په وریښمی کیدو بیاپه کوم کی چی ددی تولو مضامینوکوم چی په سورة رحمٰن کی په تفصیل سره بیان سوی دی تائید اوتاکید دی چی) لوی بابرکت دی نوم ستادرب کوم چی عزت والا اواحسان والا دی (دنوم څخه مراد صفتونه دی کوم چی دذات څخه غیرنه دی ، نوحاصل دجملی ثناء سوه ، دکمال دذات اوصفاتو سره او شاید دلفظ داسم په زیاتولو سره مقصود مبالغه وی چی مسمّی به څومره کامل اوبابرکت وی ، ددې خو اسم هم مبارك اوکامل دی)

معلومات اومسئلې : څنګه چی په تیرو آیتونوکی دمجرمانو دسختو سزاګانو ذکر وو ، په دی آیتونوکی دهغو بالمقابل دمومنانو صالحانو دعمده جزاګانو او نعمتونو بیان دی په کومو کی چی دجنتیانو اول دوو باغونو ذکر دی او په دی کی چی کوم نعمتونه دی دهغو بیان دی ، تردی وروسته دنورو دوو باغونو اوپه دی کی دتیارو سوو نعمتونو ذکر دی .

اولنی دوه باغونه چی دکومو حضراتو دپاره مخصوص دی ، هغه خو یی متعین ښوولی دی وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ یعنی ددی دوو باغونو مستحق هغه خلګ دی کوم چی هروخت په هرحال کی دالله ﷻ په مخکی دقیامت په ورځ دورځاندی کیدو اوحساب کتاب ځخه بیریږی ، دکوم په نتیجه کی چی هغه هیڅ ګناه ته نه نژدی کیږی ، ظاهره ده چی داخلګ سابقین او خاص مقربین کیدی سی .

دنورو دوو باغونو مستحق به کوم خلګ وی ، ددی وضاحت په ذکر سوو آیتونوکی نه دی سوی ، مګر دانبوول سوي ده چی دادواړه باغونه به دمخکنیو دواړو باغونو څخه په کمه درجه کی وی ، وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتَانِ : یعنی داولو باغونو څخه به کمتر نور دوه باغونه وی ، ددی څخه په قرینه دمقام معلومه سوه چی ددی دوو باغونو مستحق به عام مومنان وی کوم چی دخاصو مقربینو څخه په درجه کی کم دی . داولنیو اونورو دوو باغونو په تفسیرکی مفسرینو حضراتو نور هم توجیهات بیان کړی دی ، دلته چی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم تفسیر اختیار سوی دی چی اولنی دوه باغونه دسابقینو اولینو اوخاصو مقربینو دپاره دی اونور دوه باغونه دعامو مؤمنانو دپاره دی او دا چی دا نور دوه باغونه داولنیو دوو باغونو څخه په درجه کی کم دی ، په روایتونو دحدیث سره راجع معلومیږی ، لکه چی په بیان القرآن کی په حواله ددر منثور دامرفوع حدیث نقل کړی دی، چی نبی کریم ﷺ دایت ، وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ اود: وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتَانِ په تفسیر کی فرمایلی دی ، جَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ لِلْمُقَرَّبِيْنَ وَجَنَّتَانِ مِنْ وَّرَقٍ لِاَصْحَابِ الْيَمِيْنِ : یعنی دوه باغونه دسرو زرو جوړ سوی دی دمقربینو دپاره اودوه باغونه دسپینو زرو دَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ یعنی عامو مؤمنانو صالحانو دپاره، دارنګه په در منثورکی دحضرت براء بن عازب ﷺ څخه موقوفًا دا روایت کړی دی ، اَلْعَيْنَانِ الَّتِيْ تَجْرِي خَيْرٌ مِّنَ النَّضَّاخَتَيْنِ : یعنی داولو باغونو دوی چینی دکومو په باره کی چی تَجْرِيٰنِ فرمایلی دی هغه ښه دی دنورو دوو باغونو دچینو څخه دکومومتعلق چی نضاختٰن فرمایلی دی ځکه چی نَضَّاخَتٰنِ معنٰی ده خوتکیدونکی دوی چینی، نوداصفت په هره چینه کی دی مګرکوم چی یی په تجریان سره بیان کړی دی په دی کی دخوتکیدوڅخه علاوه ترلیری پوری پرمخکه دبهیدوصفت زیات دی .

دا اجمالی بیان وو دځلورو چینو کومی چی به جنتیانو ته حاصلیږی اوس دایتونو دالفاظو سره ددی معانیو ته وګورې .

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ : دمقام درب څخه مراد داکثرو مفسرینو په نزد دقیامت په ورځ دالله ﷻ په مخکی دحساب دپاره پیش کیدل دی او ددی څخه دبیری معنٰی دا ده چی په ښکاره په پټه په ظاهره اوباطن په ټولوحالاتو کی دهغه سره همیشه دا فکر وی چی زه به یوه ورځ دالله ﷻ په مخکی پیش کیږم او دعملونو حساب به راڅخه غوښتل وی او ظاهره ده چی دچا سره هر وخت دافکر وی هغه ګناه ته نه ورځی .

اوقرطبی وغیره ځینو مفسرینو حضراتو دمقام رب دا تفسیر هم کړی دی چی الله ﷻ زمونږ په هرقول اوفعل اوپټ ښکاره عمل باندی نګران اوقایم دی زمونږ هرحرکت دهغه په مخ کی دی ، مطلب ددی به هم هغه وی چی دحق تعالٰی دامراقبه دی دګناهونو څخه خلاصوی .

ذَوَاتَا اَفْنَانٍ : دا داولنیو دوو باغونو صفت دی چی دډیرو ښاخونو والا به وی چی دا اثر یی لازمی دی چی د دوی سایه به هم ګنه او میوه به یی هم ډیره وی ، دنورو دوو باغونو دکومو ذکر چی مخ ته راځی په هغه کی دا صفت ذکر نه دی چی په دی سره په دی معامله کی ددغه دکمی طرف ته اشاره کیدی سی .

فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ : دمخکنیو دوو باغونو په صفت کی ، مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ : په الفاظ سره دمیوو دټولو قسمونو بیان یی فرمایلی دی ، ددی په مقابله کی دنورو دوو باغونو په صفت کی د ، مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ : په ځای صرف دفَاكِهَةٍ الفاظ دی او دزوجان معنٰی دا ده چی دهری میوی به دوه دوه قسمونه وی ، دا دوه قسمونه دا هم کیدی سی چی وچه اوشنه به وی او دا هم کیدی سی چی یوه خو به عامه معروفه ، مشهوره او دخوند وی او دوهمه به دغیر معمولی انداز وی (مظهری)

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ : لفظ دَطَمْثٌ دځو معانیو دپاره استعمالیږی ، دحیض وینی ته طَمْثٌ وایی اوحائضی ښځی ته طَامِثٌ وایی او دناواوده سوی انجلی سره کوروالی ته هم طَمْثٌ وایی دلته دامعنٰی مراد

Maktaba Tul Ishaat.com

ده اوپه دی کی چی کومه ددی نفی سوي ده چی دکومو جنتیانو دپاره چی داحوری مقرری دی د دوی څخه مخکی دوی به هیڅ انسان یاپیری نه وی مسه کړی ددی مفهوم هغه هم کیدی سی کوم چی په لنډ تفسیر کی بیان سوی دی چی کومی حوری دانسانانو دپاره مقرری دی ، دوی به یوانسان اوکومی چی دمومنانو جناتو دپاره مقرری دی هغوی به یو واری د دوی څخه مخکی نه وی مسه کړی او دا معنٰی هم کیدی سی چی لکه څنګه چی په دنیاکی پرانسانی ښځو کله جنات مسلط کیږی، هلته به ددی هم څه امکان نه وی.

هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ : دخاصو مقربینو ددوو باغونو دځه تفصیل ذکرکولوځخه وروسته دا ارشاد فرمایی چی دښکلی عمل بدله ښکلی جزا کیدی سی ددی څخه ماسوا څه احتمال نسته ، دی حضراتو همیشه دنیك عمل پابندی وکړه نو دحق تعالی دطرف څخه دوی ته دعمده جزا بدله ورکول په کار وه کومه چی دوی ته ورکول سوه .

مُدْهَامَّتَانِ : دډیر شین والی په وجه چی کوم توروالی ښکاره کیږی هغه ته ادهمام ویل کیږی ، مراد دا دی چی ددی دواړوباغونو سرسبزی به د دوی دسیاهی مائل والی په وجه سره وی ، دا صفت که څه هم په مخکنیو دوو باغونوکی نه دی ذکر سوی ، مګر ددی څخه دا نه لازمیږی چی په دغوکی به داصفت نه وی بلکه، ذَوَاتَا أَفْنَانٍ : چی کوم دهغه ځای صفت ښوول سوی دی په دی کی د ، مُدْهَامَّتَانِ : صفت هم شامل دی.

فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ دَخَيْرَاتٌ : څخه مراد دسیرت اوکردار ښه والی او دحسان څخه مراد دشکل او صورت ښه والی دی اودا کار به هم ددواړو باغونو په حوروکی مشترك وی ، دکومو طرف ته چی اشاره په مخکی آیتونو کی موجوده ده .

مُتَّكِئِينَ عَلَى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ : په قاموس کی دی چی رَفْ دشین رنګ دوریښمو کپړه ده چی فرش تکیی اونور دزینت سامان ورڅخه جوړیږی اوپه صحاح کی دی چی پر دغو به نقش اونګار ددرختو اوبوتو اوګلونو وی ، چی په اردوکی ورته مشجّر ویل کیږی ، عَبْقَرِيٌّ هری ښکلی ښائسته کپړی ته ویل کیږی ، په حِسَانٌ سره ددی وصف دخوبصورتی بیان وسو .

تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ:په سورة رحمٰن کی زیات دحق تعالی دنعمتونو اوپه انسان داحساناتو ذکر دی ، ددی پرخاتمه دخلاصی په طور دا جمله ارشاد سوه چی دهغه پاك ذات به څه ووایی ، دهغه نوم هم لوی بابرکت دی ، دهغه په نوم سره دا ټول نعمتونه قائم دی . والله سبحانه تعالی اعلم

تـــــــــمـــت

سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ بِحَمْدِ اللهِ وَعَوْنِهِ لِلْحَادِيْ عَشَرَ مِنَ الرَّبِيْعِ الثَّانِيْ سنه ۱۳۹۱ هـ يَوْمَ السَّبْتِ

﴿ سورة الواقعة ﴾

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتٌّ وَتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة الواقعه په مکه کی نازل سو په دی کی شپږنوی (۹۶) آیتونه اودری (۳) رکوع ګانی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم دخدای چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾

هرکله چی واقع سی واقع کیدونکی ، نسته په واقع کیدو دهغه کی څه درواغ ، کښته کوونکی پورته کوونکی

إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَاءً

هرکله چی وښوری مځکه په ښوریدو سره ، ذره ذره به سی غرونه په ذره ذره کیدو ، بیاسی کرد .

مُّنْبَثًّا ﴿٦﴾ وَكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً ﴿٧﴾ فَأَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحٰبُ

الوتونکی ، او تاسی سی دری قسمه ، نو دراسته طرف والا څه ښه دی دراسته طرف

الْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾ وَأَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ مَا أَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ﴿٩﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ

والا ، او چپه طرف والا څه بد دی چپه طرف والا ، او مخکې کیدونکی

السّٰبِقُوْنَ ﴿١٠﴾ أُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿١١﴾ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿١٢﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ

خو مخکې دی دغه خلق دی مقربین ، په باغونو دنعمت کی ، دوی ګڼ دی

الْأَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْآخِرِيْنَ ﴿١٤﴾ عَلٰى سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِئِيْنَ

اولین څخه ، او لږ د وروسته څخه ناست به وی تختونو جار سوو ، تکیه لګوونکی

عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿١٦﴾ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ﴿١٧﴾ بِأَكْوَابٍ

په دی باندی یو بل ته مخامخ ، ګرځی به په دوی هلکان همیشه پاته کیدونکی سره ، دپیالو

وَّأَبَارِيْقَ ۙ وَكَأْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴿١٩﴾

او کوزو دصفا شرابو ، چی نه به په کی سردردی وی اونه غلطی خبری کول

Maktaba Tul Ishaat.com

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَحُوْرٌ

اومیوی کومی چی دوی خوښوی ، اوغوښی دمرغانو کومی چی د دوی زړه غواړی ، اوحوری

عِيْنٌ ﴿۲۲﴾ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ﴿۲۳﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾

غټی سترګی ، په شان دملغلرو په غلاف کی دننه ، بدله دهغو کارونو کوم چی دوی کول ،

لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِيْمًا ﴿۲۵﴾ اِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿۲۶﴾

نه به اوری هلته فضول خبری او نه دګناه خبره ، مګر یوه خبره سلام او سلام

وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ﴿۲۷﴾ فِيْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ﴿۲۸﴾

اودراسته طرف والا څه ښه دی دراسته طرف والا ، اوسیږي به دبیرو په درخته کی چی شنی به په کی نه وی

وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ﴿۲۹﴾ وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿۳۰﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿۳۱﴾ وَّفَاكِهَةٍ

او په کیلو لاندی باندی به وی ، او سایه اوږده ، او اوبو بهیدونکی ، اومیوی

كَثِيْرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿۳۳﴾ وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ ﴿۳۴﴾

ډیری ، چی نه به بندیږي او نه به منع کیږي ، اوبچیان لوړ

اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً ﴿۳۵﴾ فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿۳۶﴾ عُرُبًا اَتْرَابًا ﴿۳۷﴾

مونږ پیدا کړی دی دغه حوری په عجیبه طرف سره ، نومونږ هغوی کړی دی پیغلی ، محبت کوونکی همزولی ،

لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۳۸﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۹﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۰﴾

دراسته طرف والا وو دپاره ، ډیر جماعت اولنیو څخه ، او ډیر جماعت د وروسته څخه

وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ﴿۴۲﴾

او دچپه طرف والا ، څه بد دی دچپه طرف والا ، په ګرمی هوا او ګرمو اوبو کی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿۴۳﴾ لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿۴۴﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ

او په سایه کی د دود ، چی نه به یخ وی نه به دعزت وی ، دغه خلق وه ددی څخه مخکی

ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿۴۶﴾

خوشحاله ، او وه ضد کوونکی په لویه گناه باندی ،

وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ﴿۴۷﴾ اَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا

او ویل به یی آیا چی مونږ مړه سو او خاوری سو او هډوکی سو نو آیا بیا به پورته

لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۴۸﴾ اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿۴۹﴾ قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ﴿۵۰﴾

کړل سو ؟ او آیا زمونږ اولنی پلان نیکه گان هم ؟ ته ووایه چی مخکنی او وروستنی ،

لَمَجْمُوْعُوْنَ ﴿۵۱﴾ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۵۲﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا

ټول جمع کیدونکی یاست ، دیوې ورځی مقرری په وخت ، بیا به تاسی ای

الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿۵۳﴾ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ﴿۵۴﴾ فَمَالِـُٔوْنَ

بی لاری سوو درواغجن کوونکو ؟ خوری یوه درخته د زقوم ، نو ډکوی به

مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿۵۵﴾ فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿۵۶﴾ فَشٰرِبُوْنَ

ورځخه نسونه ، بیا به چښی په دی سربیره جوشیدلی اوبه ، بیا به چښی

شُرْبَ الْهِيْمِ ﴿۵۷﴾ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿۵۸﴾

لکه چی چښی اوښ تږی سوی ، دا د دوی میلمستوب دی په ورځ دانصاف

لنډتفسیر: هرکله چی قیامت راسی دکوم په واقع کیدو چی څه خلاف نسته (بلکه واقع کیدل یی بالکل صحیح اوحق دی) نوهغه به (څینی) لاندی کړی (اوځینی به) لورکی (یعنی دکفارو ذلت اودمومنانو لورټوالی به په دغه ورځ ښکاره سی) کله چی په (مځکه سخته زلزله راسی اوغرونه به بالکل ذره ذره سی بیابه دغه) دالوتونکی گرد (په شان) سی اوتاسی (ټول انسانان کوم چی دا وخت موجود یاست یا مخ ته تیر سوی دی یاائنده راتلونکی دی) دری قسمه به سی (دکومو تفصیل چی مخ ته راځی ، خواص مومنان

Maktaba Tul Ishaat.com

اوعوام مومنان اوکفار، چی په سورة رحمٰن کی هم دا دری قسمونه ذکر دی اوپه راتلونکو آیتونوکی یی خواصو ته مقربین اوسابقین ویلی دی اوعوامو مومنانوته یی اصحاب الیمین اوکفاروته یی اصحاب الشمال ، اوپه دی ایتونوکی ، دَاِذَا وَقَعَتِ څخه تر ثُلَّةٌ پوری څینی واقعات داولی شپیلی دوخت بیان سوی دی ، لکه رُجَّتْ چی دسورة حجرپه شروع کی راغلی دی ، اوبُسَّتْ اوڅینی واقعات ددوهمی شپیلی دی لکه : خَافِضَةٌ رَافِعَةٌ : اوکُنْتُمْ اَزْوَاجًا اوڅینی مشترك دی لکه اِذَا وَقَعَتْ اولَيْسَ لِوَقْعَتِهَا : چونکه داولی شپیلی څخه تردوهمی شپیلی پوری تول دیو وخت په حکم کی دی ، په دی وجه هر جزء دوخت ته دهری واقعی وخت ویل کیږی ، مخ ته په دی دری سره وو قسمونوکی دتقسیم بیانولو څخه وروسته یی د دری سره وو احکام جلاجلابیان کړل ، اول اجمالاً بیا تفصلاً چی دری قسمونه کوم چی ذکر سوی دی نو (په دوی کی یو قسم یعنی) کوم چی دراسته طرف والادی ، هغه راسته طرف والاڅه ښه دی (مراد ددی څخه چی کومو ته عمل نامه په راسته لاس ورکول سی او که څه هم دا مطلب خو په مقربینوکی هم مشترك دی ، لیکن په دی صفت په بس کولو سره دی طرف ته اشاره پیداکیږی چی په دوی کی داصحاب الیمین څخه ماسوا بل څه صفت دخاص قرب نه سی پیداکیدی ، دغه شان مراد ددی څخه عوام مومنان سول اوپه دی کی اجمالاً د دوی دحالت ښه والی وښوول سو ، مخ ته په ، فِی سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ الخ سره ددی اجمال تفصیل سوی دی) او (بل قسم یعنی) کوم چی چپه طرف والادی هغه چپه طرف والا څومره بددی (مراد ددی څخه کومو ته چی عملنامه په چپه لاس ورکول سی ، یعنی کفار اوپه دی کی اجمالاً د دوی دحالت بدوالی وښوول سو ، مخ ته په فِیْ سَمُوْمٍ الخ سره ددی اجمالی تفصیل دی) او (دریم قسم یعنی) کوم چی داعلی درجی دی ، هغه خو داعلی درجی دی (او) هغه (دخدای ﷻ سره) خاص قرب لرونکی دی (په دی کی تول داعلی درجی بندګان داخل دی انبیاء علیهم السلام، اولیاء، صدیقین اوکامل متقیان ، او په دی کی اجمالاً د دوی حالت اولوړوالی وښوول سو ، مخ ته په، فِی جَنّٰتِ النَّعِیْمِ الخ سره ددی اجمال تفصیل کول کیږی ، یعنی) دا (مقرب) خلګ به دارام په باغونوکی وی (چی زیات تفصیل یی په ، عَلٰی سُرُرٍ سره راځی ، او په درمیان کی په دی خاصو مقربینوکی د ډیرو جماعتونو شاملیدل بیانوی چی) د دوی (مقربینو) یوه لویه ډله خو به دمخکی خلګوڅخه وی اولږ به دوروسته خلګوڅخه وی (دمخکی څخه مراد متقدمین دی ، دحضرت ادم علیه السلام څخه واخله دحضور ﷺ څخه ترمخ کی پوری او دوروسته څخه مراد دحضور ﷺ څخه واخله ترقیامته پوری ، لکه چی په دُرّ کی دحضرت جابر ؓ څخه مرفوعًا دی او په متقدمینوکی دسابقینو ډیروالی اوپه متاخرینوکی دلږوالی وجه دا ده چی خواص په هره زمانه کی کم وی او متقدمین یعنی دحضرت ادم علیه السلام دزمانی څخه دخاتم الانبیاء علیهم السلام پوری زمانه ډیره اوږده ده ، په نسبت دامت محمدیه کوم چی قیامت ته نژدی پیداسوی دی ، نو په اقتضاء دزمانی دعادت په دغه اوږده زمانه کی خواص په نسبت دامت محمدیه دزمانی دلنډوالی خواص به کوم وی څکه چی په دغه اوږده زمانه کی لګ دوه لکه خوانبیاء دی او دخاتم الانبیاء علیهم السلام په زمانه کی خول نبی نسته ، په دی وجه دخواصو مقربیتو یوه لویه ډله خو به دمتقدمینو څخه وی او دمتاخرینو څخه په امت محمدیه کی به ددغو څخه کم وی ، مخ ته دخواصو مقربینو دپاره چی کوم نعمتونه مقرر دی ، دهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

تفصیل دا دی چی) هغه (مقرب) خلګ به دسرو زرو دتارونو څخه په اودل سوو تختونو تکیه لګولی مخامخ ناست وی (په در منثور کی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دلفظ دمَوْضُونة دا تفسیر نقل کړی دی) او د دوی سره به داسی هلکان وی ، کوم چی به همیشه هلکان وی ، دوی به شیان راوړی تلل راتلل به کوی ، پیالی اوکوزی او دشرابو داسی جامونه کوم چی به دبهیدونکو شرابو څخه ډکول کیږی (ددی تحقیق په سورة صافات کی تیر سوی دی) نه به ددی څخه هغوی ته درد سروی اونه به ددی څخه په عقل کی فتور راځی (دا هم په سورة صافات کی تیرسوی دی) اومیوی کومی چی به دوی خوښوی اودمرغانو غوښی کومی چی به د دوی دزړونو خوښی وی او د دوی دپاره به ښائسته غټ سترګی ښځی وی (مراد حوری دی چی رنګونه به یی داسی صفا اوشفاف وی) لکه (په حفاظت سره) پټی اینبوول سوی ملغلری ، دا به د دوی دعملونو په بدله کی حاصلیږی (او) هلته به نه عبثیات اوری اونه هغوی څه عبث خبره (اوری یعنی په شرابو چنبلو سره یاهسی هم داسی شیان به نه کی پیدا په کوموچی خوند اومزه ورک کیږی) نو (دهر طرف څخه به) دسلام سلام اوازونه راځی (لکه دا قول دالله ﷻ دی ، وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ، سَلَامٌ عَلَيْكُمْ : اولکه داقول دالله: تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ، کوم چی دلیل داعزاز اواکرام دی ، غرض روحانی اوجسمانی هرقسم لذت اومسرت به داعلی درجی وی ، داجزاء دسابقینو بیان سوه) او (مخ ته داصحاب الیمین دجزاء تفصیل دی ، یعنی) کوم چی دراسته طرف والادی ، هغه راسته طرف والاڅنګه ښه دی (ددی اجمال اعاده دتفصیل څخه مخکی ځکه وسوه چی دهغه اجمال فصل راغلی وو اوس مخ ته د دوی دښه والی بیان دی چی) هغوی به په هغوباغونوکی وی په کوموکی چی به بی ازغوبیری وی او پرله پسی کیلی به وی او اوږده سایه به وی اوبهیدونکی اوبه به وی اوپه کثرت سره میوی به وی چی ختمیږی به نه (لکه ددنیامیوی چی په فصل تمامیدو سره تمامی سی) اونه به ورڅخه دوی منع کول کیږی (لکه ددنیا باغوانان چی ورڅخه خلګ منع کوی) اولوړ لوړ فرشونه (ځکه چی په کومو درجوکی دغه هوار وی ، هغه درجی به لوړی وی اوچونکی مقام دخوشحالی دی اوخوشحالی بغیر دښځو څخه نه کاملیږی ، په دی طور سره ددی عیش داسبابو په ذکر سره دښځو سته والی معلوم سو ، په دی وجه مخ ته دجنتی ښځو طرف ته یی دَأَنْشَأْنَاهُنَّ ضمیر راجع کی او د دوی ذکر فرمایی چی) مونږ (دهغه ځای) هغه ښځی (په کوموکی چی دجنت حوری هم شاملی دی او ددنیا ښځی هم ، لکه چی په روح المعانی کی دترمذی په حواله سره دا مرفوع حدیث نقل دی ، چی په دی آیت کی چی دکومو ښځو دنوی تخلیق ذکر دی ، ددغو څخه مراد هغه ښځی دی کومی چی په دنیاکی بوډی ګانی یا بدشکله وی دهغوی په حقله فرمایی چی مونږ هغه ښځی) په خاص طور جوړی کړی دی (چی تفصیل یی مخ ته راځی) یعنی مونږ هغه ښځی داسی جوړی کړی چی هغوی پیغلی دی (یعنی دنژدیکت څخه وروسته به بیاپیغلی کیږی ، لکه چی په درمنثور کی دحضرت ابوسعید خدری ﷺ څخه مرفوع حدیث ثابت دی او) محبت کوونکی دی (یعنی حرکات ناز اوانداز ، حسن اوجمال هرڅه به دهغوی زړه راکشوونکی وی اودجنتیانو سره) هم عمره دی (ددی تحقیق په سورة صٓ کی تیر سوی دی) داټول شیان دراسته طرف والاوو دپاره دی (مخ ته دانبیی چی دراسته طرف والابه هم مختلف قسم خلګ وی یعنی) د دوی (اصحاب الیمینو) یوه لویه ډله به

Maktaba Tul Ishaat.com

دمخکی څخه وی اویوه لویه ډله به دوروسته څخه وی بلکه په وروسته کی به اصحاب الیمین په نسبت دمخکی په شمارکی زیات وی چنانچی په احادیثو کی وضاحت دی چی ددی امت دمومنانو مجموعه به دتیرو ټولو امتونو دمومنانو دمجموعی څخه زیات وی څکه چی دخواصو مقربینو اکثریت خو په متقدمینو کی په خپله دلورنی آیت څخه ثابت سوی دی اوکله چی اصحاب الیمین په مرتبه کی دمقربینو څخه کم دی نو د دوی جزاء به هم کمه وی نو ددی توجیه دا ده چی دمقربینو په جزاء کی هغه دعیش سامانونه زیات ذکر دی کوم چی بناریانوته زیات مرغوب دی اوداصحاب الیمین په جزاء کی هغه دعیش سامانونه زیات ذکر دی کوم چی دصحر اوکلیو خلګوته زیات مرغوب ، په دی په جزاء کی هغه دعیش سامانونه زیات ذکر دی کوم چی بناریانوته زیات مرغوب دی اوداصحاب الیمین په جزاء کی هغه دعیش سامانونه زیات ذکردی کوم چی دصحراوو اوکلیو خلګو ته زیات مرغوب ، په دی کی دی طرف ته اشاره ده چی په دی دواړوکی به داسی فرق وی لکه دښارپه خلګو اودکلیو په خلګوکی چیوی لکه چی داسی په روح کی دی) او (مخ ته دکفارو او د دوی دعذابونو ذکر دی یعنی) کوم چی چپه طرف والادی ، دغه چپه طرف والا څومره بددی (اوددی اجمال تفصیل دا دی چی) هغه خلګ به په اورکی وی اوپه جوشیدلو اوبوکی اودتور دود په سایه کی چی نه یخ وی اونه خوشحاله کوونکی (یعنی دسایی څخه یوه جسمانی نفع وی راحت اویخ والی اویوه روحانی نفع وی لذت اوفرحت دغلته به دواړه نه وی دا هغه دود دی دکوم ذکر چی لوړ په سورة رحمٰن کی په لفظ دنحاس راغلی دی مخ ته ددی عذاب وجه ارشاد ده چی) هغه خلګ به ددی څخه مخکی (یعنی په دنیاکی) په لویه خوشحالی کی وه او (ددی خوشحالی په غرورکی) په ډیره لویه ګناه (یعنی په شرك اوکفر) باندی اصرارکوی (مطلب دا دی چی ایمان یی نه راوړی) او (مخ ته د دوی دکفر بیان دی کومی لره چی زیات دخل دی دحق په نه طلب کولوکی یعنی دغو) به داسی ویل چی کله مونږ مړه سو او خاوری اوهډوکی سو نو آیا ددی څخه وروسته به) مونږ دوباره ژوندی سو او آیا زمونږ مخکنی پلرونه نیکه ګان هم (به ژوندی سی چونکی دقیامت په منکرانو کی څینی کفار دنبی کریم ﷺ په زمانه کی هم وه ، په دی وجه د دوی په حقله ارشاد دی چی) ته ووایه چی ټول مخ ته او ورسته به جمع سی ، دیو معین تاریخ په وخت باندی بیا (دجمع کیدو څخه وروسته) به تاسی لره ای ګمراهانو دروانجن کوونکو دزقوم درخته خوړل وی او نس به ورڅخه ډکوی ، بیا به په دی سربیره جوشیدلی ګرمی اوبه چنبل وی ، بیا چنبل هم دتږو اوښانو په شان (غرض دا چی) ددی خلګو به دقیامت په ورځ دا میلمستیا وی .

معلومات اومسئلي

(دسورة واقعه خصوصي فضيلت اوپه مرض دوفات کي دعبد الله ابن مسعود ﷺ سبق اموز هدايتونه)

ابن کثیر په حواله دابن عساکر دابوظبیه څخه داواقعه نقل کړي ده چی دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دمرض وفات په وخت کی حضرت عثمان غنی ﷺ دناجوړی دپوښتنی دپاره تشریف یوړی ، حضرت عثمان ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چی تاته څه تکلیف دی ؟ نووي فرمایل ، دخپلو ګناهونو تکلیف دی راته بیا یی ورڅخه پوښتنه وکړه ته څه غواړی ؟ نووي فرمایل ، دخپل رب رحمت غواړم ، بیا ورته حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

عثمان ﷺ وفرمایل چی زه به تاته یو طبیب راوغواړم نو وي فرمایل چی طبیب خو زه ناجوړه کړی یم ، بیا ورته حضرت عثمان غنی ﷺ وفرمایل چی زه به ستادپاره دبیت المال څخه څه بخشش راولیږم، نوویی فرمایل ، ماته ددی هیڅ حاجت نسته ، حضرت عثمان ﷺ ورته وفرمایل چی بخشش واخله دابه ستاڅخه وروسته ستا دلونو په کار ورسی ، نوویی فرمایل چی آیا ستا سره زما دلونو په باره کی دا فکر دی چی دوی به په فقر اوفاقه کی مبتلاسی ، مگر زما سره دا فکر څکه نسته چی ماخپلو لونوته تاکید کړی دی چی هره شپه دی سورة واقعه وایی ، څکه چی مادنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی .

مَنْ قَرَءَ سُوْرَةَ الْوَاقِعَةِ كُلَّ لَيْلَةٍ لَمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ اَبَدًا (ابن کثیر)

کوم سړی چی هره شپه سورة واقعه وایی ، دی به هیڅکله په لوږه کی اخته نه سی .

ابن کثیرپه روایت دابن عساکر دنقل کولو څخه وروسته ددی تائید دنورو یسندونو او نورو روایتونو اونورو کتابونو څخه هم پیش کړی دی .

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ : ابن کثیر فرمایی چی واقعه دقیامت دنومونو څخه یو نوم دی ، څکه چی ددی په قوع کی دڅه شك اوشبهی ګنجائش نسته .

لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ : كَاذِبَةٌ مصدر دی ، لکه عَافِيَةٌ اوعَاقِبَةٌ ، او معنی دا ده چی ددی په وقوع کی هیڅ دروغ نه سی کیدی ، څینو حضراتو كَاذِبَةٌ په معنی دتكذيب مقرر کړی دی ، معنی ظاهره ده چی ددی تکذیب نه سی کیدی .

خَافِضَةٌ رَافِعَةٌ : یعنی دقیامت واقعه به ډیر لوړی مرتبی والا قومونه او افراد پست اوذلیل کړی اوډیر نو او ذلیل قومونه او افراد به سربلنده کړی ، دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددی جملی دا تفسیر منقول دی او مقصد ددی هولناك کیدل او په دی کی دعجیب قسم انقلاباتو پیښیدو بیان دی لکه چی دسلطنتونو اوحکومتونو دانقلاب په وخت کی لیدل کیږی چی پورته کښته اوکښته پورته سی ، فقیر مالدار اومالدار فقیر سی (روح)

(دحشر په میدان کي دحاضرینو دری قسمونه)

وَكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً : ابن کثیر فرمایی چی دقیامت په ورځ به ټول خلګ په دری ډلو کی تقسیم سی ، یو قوم به دعرش څخه راسته طرف ته وی ، دا به هغه خلګ وی کوم چی دحضرت ادم ﷺ دراسته طرف څخه پیداسوی وی او د دوی عملنامی به دوی ته په راسته لاس کی ورکول کیږی او دوی به دعرش راسته طرف ته جمع سی ، دا ټول جنتیان دی ، دوهم قوم به دعرش چپه طرف ته جمع سی کوم چی به دحضرت ادم ﷺ دچپه طرف څخه پیداسوی وی اوکوموته چی به ددوی عملنامی په چپه لاس کی ورکول سی ، دا ټول به دعرش چپه طرف ته جمعه سی اوداټول دوزخیان دی (الله ﷻ دی ورځخه مونږته امان راکړی) آمین او دریم قسم ډله به دسابقینو وی کوم چی به درب دعرش په مخکی دخصوصی امتیاز اوقرب په مقام کی به وی ، په کومو کی چی به انبیاء رسولان صدیقین، شهیدان اواولیاء الله شامل وی ، د دوی تعداد به په نسبت داصحاب الیمین کم وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دسورة په اخر کی به ددی درو واړو ذکر بیاپه دی سلسله کی راسی چی دانسان دمرګ دوخت څخه اثار ددی محسوس سی چی دی په دی درو ډلو کی په کومه ډله کی شاملیدونکی دی.

وَالسّٰبِقُونَ السّٰبِقُونَ : امام احمد دحضرت عائشه صدیقه ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی تاسی پیژنی چی دقیامت په ورځ به دظلّ الله طرف ته سبقت کوونکی کوم خلګ وی صحابه کرامو ﷺ عرض وکی چی الله ﷻ او دهغه رسول یی ښه پیژنی ، دوی وفرمایل چی داهغه خلق دی چی کله دوی ته دحق طرف ته دعوت ورکول سی نو هغه قبلوی اوچی د دوی څخه حق وغوښتل سی نو اداکوی یی اودخلګو په معاملوکی هغه فیصله کوی کومه چی په خپل حق کی کوی. مجاهد رحمه الله فرمایی چی دسابقین څخه مراد انبیاء علیهم السلام دی ، ابن سیرین رحمه الله فرمایی چی کومو خلګو دواړو قبلو یعنی دبیت المقدس اوبیت الله طرف ته لمونځ کړی دی هغه سابقین دی اوحضرت حسن ﷺ اوقتاده ﷺ فرمایی چی په هر امت کی سابقین وی ، ځینی مفسرین فرمایی چی مسجد ته دتلو څخه مخکی تلونکی به سابقین وی.

ابن کثیر ددی ټولو اقوالو دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی دا ټول اقوال په خپل خپل ځای صحیح او درست دی ، په دی کی هیڅ اختلاف نسته ، ځکه چی سابقین به هغه خلګ وی ، کومو چی په دنیاکی دنیکو کارونو طرف ته سبقت کړی وی ، کوم سړی چی په دی دنیاکی په نیکو کارونوکی دنورو څخه مخکی سو هغه به په اخرت کی هم دسابقینو څخه وی ، ځکه چی په اخرت کی به جزاء دعمل په مناسبت ورکول کیږی.

ثُلَّةٌ مِنَ الْاَوَّلِينَ وَقَلِيلٌ مِنَ الْاٰخِرِينَ : لفظ د: ثُلَّةٌ په پیښ دثاء سره یوی ډلی ته ویل کیږی او زمخشری وایی چی لویی ډلی ته ثُلَّة ویل کیږی (روح)

(داولین اواخرین څخه څه مراد دی؟)

دلته داولین اواخرین دتقسیم دوه ځایه ذکر راغلی دی اول دسابقینو مقربینو په سلسله کی ، دوهم داصحاب الیمین یعنی عامو مومنانوپه سلسله کی ، په اول ځای یعنی په سابقینوکی خو دا فرق سوی دی چی داسابقین مقربین داولینو به لوی جماعت وی او داخرینو څخه به کم وی ، لکه چی په ذکر سوی آیت کی دی اوبل ځای داصحاب الیمین په بیان کی داولینو اواخرینو دواړو په بیان کی لفظ ثُلَّةٌ راغلی دی چی معنی یی دا سوه چې اصحاب الیمین داولینو څخه به غټه ټولی وی ، دغه شان داخرینو څخه به هم غټه ټولی وی ، ثُلَّةٌ مِنَ الْاَوَّلِينَ وَثُلَّةٌ مِنَ الْاٰخِرِينَ.

اوس دغور قابله خبره دا ده چی داولینو څخه مراد څوک دی او داخرینو څخه څوک؟ په دی کی دمفسرینو حضراتو دوه قوله دی، یوداچی دحضرت ادم علیه السلام څخه واخله ترنږدی زمانی دحضرت خاتم الانبیاء علیهم السلام پوری ټول مخلوقات په اولینوکی داخل دی اودحضرت خاتم الانبیاء علیهم السلام څخه واخله ترقیامته پوری راتلونکی مخلوقات په اخرین کی دا خل دی ، دا تفسیر مجاهد رحمه الله اوحسن بصری رحمه الله دابن ابی حاتم رحمه الله څخه په سند سره نقل کړی دی اوابن جریر هم داتفسیر اختیار کړی دی ، دبیان القرآن په لنه

Maktaba Tul Ishaat.com

تفسیرکی هم دا اختیار سوی دی، کوم چی لوړ بیان سوی دی اوددی په دلیل کی یی دحضرت جابرﷺ څخه مرفوع حدیث نقل کړی دی ، داحدیث ابن عساکر رحمه الله په خپل سند سره داسی نقل کړی دی ، دا حدیث ابن عساکر رحمه الله په خپل سند سره داسی نقل کړی دی چی کله اولنی آیت کوم چی دسابقینو مقربینو په سلسله کی راځی نازل سو ، ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَقَلِيلٌ مِنَ الْآخِرِينَ : نوحضرت عمربن خطاب ﷺ په تعجب سره عرض وکی ، چی یارسول الله! آیاپه تیرو امتونوکی به سابقین زیات وی اوپه مونږکی به کم وی؟ ددی څخه وروسته تریو کال پوری راتلونکی آیت نازل نه سو ، کله چی یوکال وروسته دا ایت نازل سو ، ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَثُلَّةٌ مِنَ الْآخِرِينَ : نو نبی کریم ﷺ وفرمایل .

اِسْمَعْ يَا عُمَرُ مَا قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ: (ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِينَ * وَثُلَّةٌ مِنَ الْاٰخِرِينَ) اَلَا وَاِنَّ مِنْ اٰدَمَ اِلَيَّ ثُلَّةً، وَاُمَّتِيْ ثُلَّةً (ابن کثیر)

ای عمر ﷺ! واوره کوم چی الله ﷻ نازل کړه چی داولینو څخه به هم لوی جماعت وی او داخرینو څخه به هم لوی جماعت وی اویاد ساته چی دادم ﷺ څخه ترما پوری یوه ثلّه ده او زما امت بله ثله ده .

او ددی مضمون تائید دهغه حدیث څخه هم کیږی کوم چی امام احمد اوابن ابی حاتم دحضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت کړی دی چی کله آیت ، ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَقَلِيلٌ مِنَ الْآخِرِينَ نازل سو نو په صحابه کرامو ﷺ باندی گرانه سوه چی مونږ به په نسبت دتیرو امتونوکم یو، دغه وخت بل آیت نازل سو: ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَثُلَّةٌ مِنَ الْآخِرِينَ دغه وخت نبی کریم ﷺ وفرمایل چی زما امید دی چی تاسی یعنی امت محمدیه به په جنت کی دټول مخلوق په مقابله کی څلورمه ، دریمه بلکه نیمه حصه دجنتیانو یاست، اوپه باقی نیمه کی به هم ستاسی څه حصه وی (ابن کثیر)

ددی نتیجه به دا وی چی په مجموعی طور به په جنتیانوکی اکثریت دامت محمدیه وی ، مګر ددی دواړو احادیثو څخه په استدلال کی یو اشکال دا دی چی ، قَلِيلٌ مِنَ الْآخِرِينَ خود سابقینو مقربینو متعلق راغلی دی اوپه بل آیت کی چی ، ثُلَّةٌ مِنَ الْآخِرِينَ راغلی دی ، دغه دسابقینو مقربینو متعلق نه دی ، بلکه داصحاب الیمین په حقله دی .

ددی جواب په روح المعانی کی دا ورکول سوی دی چی صحابه کرامو ﷺ اوحضرت عمر ﷺ ته چی کوم په اولنی آیت رنج اوغم ورسیدی ، دهغه وجه دا کیدی سی چی دوی به دا خیال وو چی کوم نسبت په سابقینو کی دی هغه شاید په اصحاب الیمین اوعامو جنتیانوکی وی چی نتیجه به یی دا وی چی په ټولو جنتیانوکی به زمونږ تعداد ډیر کم وی ، کله چی داصحاب الیمین په تشریح کی په اولین اواخرین دواړوکی لفظ ثُلَّةٌ نازل سو نو ددی شبهی ازاله وسوه چی په مجموعی اعتبار سره به په جنتیانوکی دامت محمدیه اکثریت وی ، که څه هم په سابقینو اولینو کی د دوی شمیر دمجموعه تیرو امتونو په مقابله کی کم وی خصوصاً په دی وجه چی په مجموعه ټولو تیرو امتونوکی یولوی شمیر دانبیاؤ علیهم السلام هم دی ، ددغو په مقابله کی دامت محمدیه خلګ به کم وی خو دا دځه غم شی نه دی .

لیکن ابن کثیر، ابوحیان ، قرطبی ، روح المعانی، مظهری وغیره ټولو تفسیرونوکی دوهم تفسیرته ترجیح ورکړی ده چی مطلب یی دا دی چی دا اولین اواخرین دواړی طبقی ددی امت مراد دی ، اولین

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی امت قرون اولی یعنی صحابه اوتابعین وغیره دی ، کومو ته چی یی په حدیث کی خیر القرون ویلی دی او اخرین دقرون اولی څخه وروسته حضرات دی .

ابن کثیر دحضرت جابرﷺ څخه چې کوم مرفوع حدیث داولنی تفسیر په تائیدکی لوړ لیکلی دی ددی دسند متعلق فرمایی ، وَلٰکن فِی اِسْنَادِہٖ نظَرٌ : د دوهم تفسیر دپاره په استدلال کی یی دقرآن هغه ایتونه پیش کړی دی په کومو کی چی دامت محمدیه خیر الامم کیدل بیان سوی دی لکه ، کُنْتُمْ خَیْرَ اُمَّةٍ اوفرمایی چی دا خبره ډیره مستبعده ده چی دسابقینو مقربینو شمیر په خیر الامم کی دنورو امتونو په نسبت کم وی ، په دی وجه راجح دا ده چی د ، ثُلَّةٌ مِنَ الْاَوَّلِیْنَ : څخه مراد ددی امت قرون اولی دی ، اود، قَلِیْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِیْنَ : څخه مراد وروسته خلګ دی چی په دوی کی دسابقینو مقربینو تعدادبه کم وی .

ددی قول په تائیدکی ابن کثیر دحضرت حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ قول په روایت دابن ابی حاتم دا پیش کړی دی چی حضرت حسن رحمۃ اللہ علیہ دا ایت ، السّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ : تلاوت وکی اووې فرمایل چی سابقین زمونږ څخه مخکی تیر سول لیکن یاالله! مونږ په اصحاب الیمین کی دا خل کړی او دحضرت حسن څخه په دوهم روایت کی دالفاظ هم نقل سوی دی ، چی د ، ثُلَّةٌ مِنَ الْاَوَّلِیْنَ په تفسیرکی یی وفرمایل ، ثُلَّةٌ مِّمَّنْ مَّضٰی مِنْ هٰذِهِ الاُمَّةِ، یعنی داولین څخه مراد ددی امت سابقین دی .

دغه ډول محمد بن سیرین فرمایی چی د ، ثُلَّةٌ مِنَ الْاَوَّلِیْنَ وَقَلِیْلٌ مِنَ الْاٰخِرِیْنَ : متعلق علماء دا وایی اوتوقع کوی چی دا اولین اواخرین ټول په دی امت کی به وی (ابن کثیر)

اوپه روح المعانی کی ددی دوهم تفسیر په تائیدکی یو مرفوع حدیث په سند حسن سره دحضرت ابوبکرﷺ څخه روایت نقل کړی دی .

أَخْرَجَ مُسَدَّدٌ فِیْ مُسْنَدِهٖ وَابْنُ الْمُنْذِرِ وَالطَّبْرَانِیْ وَابْنِ مَرْدَوَیْهِ بِسَنَدٍ حَسَنٍ عَنْ أَبِیْ بَکْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ قَوْلِهٖ سُبْحَانَهٗ (ثُلَّةٌ مِّنَ الاولین * وَثُلَّةٌ مِّنَ الاٰخرین) قَالَ: هُمَا جَمِیْعاً مِّنْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ.

مسدد په خپل مسندکی او ابن المنذر اوطبرانی اوابن مردویه په سند حسن سره دحضرت ابوبکره ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ دآیت ، ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِیْنَ : الایة په تفسیرکی فرمایی چی دا دواړه جماعتونه ددی امت محمدیه څخه به وی .

او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه هم په سند ضعیف سره مرفوع حدیث ډیرو حضراتو محدثینو څخه نقل کړی دی چی الفاظ یی دا دی ، هُمَا جَمِیْعاً مِّنْ اُمَّتِیْ : یعنی دا دواړه اولین اواخرین به زما دامت څخه وی .

ددی تفسیر مطابق دایت په شروع کی د ، کُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً : مخاطب به امت محمدیه وی اودا دری سره قسمونه به دامت محمدیه څخه وی (روح المعانی)

په تفسیر مظهری کی یی اولنی تفسیر څکه ډیر بعید ګرځولی دی چی دقرآن دایتونو واضح دلالت پردی دی چی امت محمدیه دټولو تیرو امتونو څخه افضل دی اوظاهره دا ده چی دیو امت افضلیت په دوی کی داعلی طبقی په زیات تعداد سره وی ، په دی وجه دا خبره بعیده ده چی په افضل الامم کی دنه دسابقینو مقربینو تعداد دی کم وی ، دقرآن دایت ، کُنْتُمْ خَیْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ، او، لِتَکُوْنُوْا شُهَدَاءَ عَلَی

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا : څخه دامت محمديه افضليت پرتولو امتونو ثابت دی اوترمذی، ابن ماجه، دارمی دحضرت بهز بن حکيم څخه روايت کړی دی اوترمذی ددی سند حسن مقرر کړی دی ، دحديث الفاظ دادی .

اَنْتُمْ تُتِمُّوْنَ سَبْعِيْنَ اُمَّةً اَنْتُمْ اَخِيْرُهَا وَاَكْرَمُهَا عَلَى اللهِ تَعَالٰى .

تاسی داويا (۷۰) تيرو امتونو تتمه ياست په کومو کی چی تاسی دټولو څخه په اخرکی او دالله ﷻ په نزد دټولو څخه زيات او افضل ياست .

اوامام بخاری دحضرت عبدالله ابن مسعود ؓ څخه روايت کړی دی چی نبی کريم ﷺ وفرمايل چی ايا تاسی په دی راضی ياست چی دجنتيانو څلورمه حصه تاسی سی؟مونږعرض وکی چی بيشکه مونږپه دی راضی يو نودوی وفرمايل .

وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ اِنِّىْ لَاَرْجُوْا اَنْ تَكُوْنُوْا نِصْفَ اَهْلِ الْجَنَّةِ (مظهری)

قسم دی په هغه ذات دکوم په قبضه کی چی زماروح دی، زما اميددی چی تاسی (يعنی امت محمديه) به دجنتيانو په نيمه سی

اوترمذی ، حاکم اوبيهقی دحضرت بريده ؓ څخه روايت کړی دی اوترمذی ددی سندته حسن اوحاکم صحيح ويلی دی ، الفاظ دحديث دا دی چی نبی کريم ﷺ وفرمايل .

اَهْلُ الْجَنَّةِ مِائَةٌ وَّعِشْرُوْنَ صَفًّا ثَمَانُوْنَ مِنْهَا مِنْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ وَاَرْبَعُوْنَ مِنْ سَائِرِ الْاُمَمِ (مظهری)

جنتيان به ټول يوسل اوشل صفونه وی په کومو کی چی به اتيا صفونه ددی امت څخه وی ، باقی څلوينښت به دټولو امتونوپه شريکه وی .

په دی ذکر سوو روايتونو کی ددی امت دجنتيانو نسبت دنورو امتونو دجنتيانو څخه کله څلورمه ، کله نيمه اوپه دی اخری روايت کی په درو کی دوی حصی ذکر دی ، په دی کی څه تعارض څکه نسته چی دا نبی کريم ﷺ اندازه بيان کړي ده په دی اندازه کی په مختلفو اوقاتو کی زياتوب کيدی . والله تعالی اعلم

عَلٰى سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ : دموضونة متعلق دحضرت ابن عباس ؓ څخه ابن جرير ابن ابی حاتم اوبيهقی وغيره دا نقل کړی دی چی دا هغه کټره ده په کومه چی دسرو زرو په تارونو سره کار سوی وی .

وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ : ددی څخه مراد دا دی چی داهلکان به هميشه په دغه حالت هلکان وی ، په دوی کی څه تغير دعمر وغيره به نه وی ، ددغو جنتی غلمانو متعلق راجح تحقيق دا دی چی دحورو په شان به دا هم په جنت کی پيدا سوی وی او دا ټول به دجنتيانو خادمان وی ، دحديث دروايتونوڅخه ثابته ده چی ديوه يوه جنتی سره په زرګونو خادمان وی (مظهری)

بِاَكْوَابٍ وَّاَبَارِيْقَ وَكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ : اَكْوَاب دکوب جمع ده داوبو وغيره چښلو داسی لوښی ته ويل کيږی لکه زمونږپه عرف کی چی ګلاس وی اوابارِيق دابريق جمع ده، لاستی والا لوتی ته ويل کيږی، كَاْس خاص دشرابوپيالی ته ويل کيږی دمعين څخه مراد دادی چی داشراب به ديوی جاری چينی څخه راوړل سوی وی

لَا يُصَدَّعُوْنَ : دصداع څخه مشتق دی چی معنٰی يی دسر درد دی ، په دنيا کی په زياتو شرابو چښلو سره

Maktaba Tul Ishaat.com

په سر کې درد اوچکر وی ، دجنت دا شراب به ددی څخه پاک وی .

لَا يُنْزِفُوْنَ : دنَزَف اصل معنٰی دځاه تولی اوبه راکښل دی ، دلته مراد دعقل څخه خالی کیدل دی .

وَلَحْمِ طَيْرٍ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ : یعنی دمرغیو غوښی څنګه چی د دوی خواهش وی ، په حدیث کی دی چی جنتیان څه وخت دیو مرغه غوښی ته رغبت کوی نو دهغه غوښه چی څنګه یی خوراك ته دده رغب راغلی وی چی کباب وی یابل ډول پخه ، هغه شان به فوراً تیاره سی ، دده په مخکی به راسی (مظهری)

وَأَصْحَابُ الْيَمِيْنِ مَا أَصْحَابُ الْيَمِيْنِ اصحاب یمین، په اصل کی په مومنانو متقیانو اواولیاء الله کی به گناهګاره مسلمانان هم د دوی سره یوځای کیږی، ځینی خو به محض دالله ﷻ په فضل سره ، ځینی به دیو نبی ولی په شفاعت سره دمغفرت اومعافی کیدو څخه وروسته اوځینو لره به عذاب وی ، مګر دخپلی گناه دعذاب تیرولو څخه وروسته به دوی هم دگناه څخه پاك صفاسی ، داصحاب الیمین په ډله کی به شامل سی ، ځکه چی دگناهګار مومن دپاره دجهنم اور په حقیقت کی عذاب نه دی ، بلکه دخیری څخه دپاك صفا کولو یو تدبیر دی (مظهری)

فِيْ سِدْرٍ مَخْضُوْدٍ وَطَلْحٍ مَنْضُوْدٍ وَظِلٍّ مَمْدُوْدٍ وَمَاءٍ مَسْكُوْبٍ : دجنت نعمتونه بی شمیره اوبی مثاله اوبی قیاسه دی ، په دی کی چی کوم نعمتونه قرآن کریم ذکرکوی دغه دمخاطبو دانداز فکر او د دوی دمحبوبو اوپسندیده شیانو ذکر کوی دعربو دخلګو چی دکومو تفریحاتو اوکومو میوو سره مینه وه ، دلته یی دهغو څخه دځو میوو ذکر کړی دی ، فِيْ سِدْرٍ مَخْضُوْدٍ سدر دبیری درختی ته ویل کیږی مَخْضُوْد هغه بیره ده دکوم چی ازغی پریکړل سوی وی اودمیوی دبارځخه یی ښاخونه راکښته سوی وی اودا دجنت بیری ددنیا دبیرو په شان به نه وی ، بلکه هغه بیری به دمنګو برابر غټی اوپه خوند کی هم ددنیا دبیرو سره دهغو هیڅ نسبت نسته (لکه داسی په حدیث کی دی)

طَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ، طلح دکیلی درخته، مَنْضُوْد دکومی چی میوه قط په قط وی لکه دکیلی په څرخونوکی چی په قطار سره لاندی باندی وی .

ظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ : اوږده سایه، دصحیحینو په حدیث کی دی چی دجنت دځینو درختو سایی به دومره اوږده وی چی پراس سپور سی سړی به یی په سل کاله کی قطع نه کړی ، وَمَاءٍ مَّسْكُوْبٍ جاری اوبه کوم چی دمخکی په مخ بهیږی .

وَفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ : دکثیره په معنٰی کی دا هم داخله ده چی دمیوو شمیر به ډیر وی او دا هم چی اقسام او اجناس به یی بی شمیره وی .

لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ : دمقطوعه څخه مراد کوم فصل چی په ختمیدو ختم سی ، لکه چی ددنیادعامو میوو داحال دی ، ځینی په گرمی کی وی اوپه موسم ختمیدو باندی ختمی سی ، څه په یخ یاپسرلی کی وی او دموسم په ختمیدو دهغه نوم نښانه پاته نه سی دجنت هره میوه دائمی په هروخت هرموسم کی به موجوده وی، دَمَمْنُوْعه څخه مراد دا هم دی چی په دنیاکی څنګه په درختوکی دلګیدلو میوو نګرانان دهغه دشکولو څخه منع کوی ، دجنت میوی به ددی څخه هم ازادی وی ، په شکولوکی به یی څه بندیزنه وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ فُرُش : دَفِرَاشٌ جمع ده چی معنٰی یی بستر یافرش ده دفرش لورِوالی اول خو په دی وجه دی چی دامقام په خپله لور دی دوهم په خپله دا فرش په مخکه نه دی ، بلکه په تختونو اوکټونو باندی به وی، دریم په خپله فرش هم پندوی اوځینومفسرینودلته دفراش څخه مرادښځه مقرره کړې ده ، ځکه چی ښځه هم په لفظ دفراش سره تعبیرکیږی، په حدیث کی دی ، اَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ : په دی کی دفراش څخه مراد ښځه ده اوپه راتلونکوایتونوکی چی کوم دجنتی ښځوصفتونه بیان سوی دی هغه هم ددی معنٰی قرینه ده (مظهری) په دی صورت کی به لفظ دَمَرْفُوْعه درفعت د درجی په اعتبار سره وی ، په معنٰی دلوړی درجی اِنَّا اَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً، دَاِنْشَاءَ معنٰی پیدا کول دی ، دهُنَّ ضمیر دجنتی ښځو طرف ته راجع دی، که څه هم په تیرو نژدی آیتو کی د دوی ذکر نسته مګرپه لږفاصله سره دَسَابِقُوْنَ په بیان کی ددوی ذکر راغلی دی په دی وجه ضمیر ددوی طرف ته راجع کیدی سی اوکه په ذکر سوی آیت کی دفراش څخه مراد دجنت ښځی وی ، نوضمیر د دوی طرف ته کیدل ظاهر دی ، دارنګه دفرش اوبستر وغیره دعیش دشیانوپه ذکرکی په خپله یو دلالت دښځو طرف ته پیدا کیږی ، په دی وجه هم ضمیر د دوی طرف ته راجع کیدی سی .

معنٰی دایت دا ده چی مونږ دجنت دښځو پیدائش اوتخلیق په یوخاص انداز سره کړی دی ، داخاص انداز خودجنت دحورانو دپاره داسی دی چی هغوی په جنت کی بغیر دولادت څخه پیداسوی دی او ددنیا ښځی کومی چی به جنت ولاړی سی ، د دوی دخاص تخلیق څخه به دامطلب وی چی کوم په دنیا کی بدشکله تور رنګی یابودی وی ، اوس به هغوی په ښائسته صورتونوکی څوانانی سی ، لکه چی په ترمذی اوبیهقی کی دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ د ، اِنَّا اَنْشَأْنَاهُنَّ : په تفسیرکی وفرمایل چی کومی ښځی په دنیا کی بودی ، ملاتیتی، سپین سری سوی بدشکله وی ، هغوی په دانوی تخلیق ښائسته څوانانی جوړی کړی اوبیهقی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ څخه روایت بیان کړی دی چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ کورته تشریف راوړی ، زما سره یوه بودی ناسته وه، دوی پوښتنه وکړه چی دا څوک ده ؟ ماعرض وکی چی زماپه قرابت کی ترور ده ، نبی کریم ﷺ په طور دخوش طبعی وفرمایل چی ، لاَ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوْزٌ : یعنی جنت ته به یوه بودی هم نه سی تلی ، دا عاجزه ډیره غمجنه سوه اوپه ځینی روایتونوکی دی چی په ژړا سوه نونبی کریم ﷺ دی ته تسلی ورکړه اودخپلی خبری حقیقت یی دابیان کی چی څه وخت دوی جنت ته ځی نوبودی ګانی به نه وی ، بلکه څوانانی به دا خلیږی او دا ایت یی تلاوت وفرمایی (مظهری)

اَبْکَارًا: بِکْر په زور دباء سره جمع ده ، پیغلی انجلی ته ویل کیږی ، مطلب دا دی چی دجنتی ښځو تخلیق به په دی شان سره وی ، چی دهر کورواڼی اویوځای کیدو څخه وروسته به بیا پیغله کیږی (یعنی باکره کیږی به)

عُرُبًا، په پیښ دعین اوراء سره د ، عُرُوْبَه جمع ده ، هغه ښځی ته ویل کیږی کومه چی دخپل خاوند عاشقه اومینه کوونکی محبوبه وی .

اَتْرَابًا : تِرْبٌ په زور دتاء سره جمع ده ، چی معنٰی یی هم عمره ده ، کوم چی یوځای په خاورو کی لوبی کړی وی ، په جنت کی به ښځه اوسړی هم عمره کړل سی ، دحدیث په ځینو روایتونو کی دی چی دټولو عمر به دری دیرش ۳۳ کلونه سی (مظهری)

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُلَّةٌ مِنَ الْاَوَّلِيْنَ وَثُلَّةٌ مِنَ الْاٰخِرِيْنَ دَثُلَّةٌ : معنٰی لوی جماعت دی او داولین اواخرین په تفسیرکی دمفسرینو حضراتو دوه قولونه لوړ بیان سوی دی ، که داولین څخه مراد دحضرت ادم علیه السلام څخه ترخاتم الانبیاء علیهم السلام دزمانی پوری حضرات اوداخرین څخه دحضور ﷺ امت ترقیامته پوری وی ، لکه چی څینی مفسرین فرمایی نو دایت مطلب به داسی چی اصحاب الیمین یعنی دمومنانو متقیانو تعداد به دتیرو امتونو دمجموعی څخه یو لوی جماعت وی اویوازی دامت محمدیه څخه به یولوی جماعت وی ، په دی صورت کی اول خو دامت محمدیه دفضیلت دپاره دا هم څه کمه نه ده چی دتیرو په لکونو انبیاء دامتونو برابر به دا امت سی چی زمانه یی ډیره مختصره ده ، ددی څخه علاوه په لفظ دَثُلَّةٌ کی ددی هم ګنجائش دی چی دثُلَّةٌ داخرینو تعداد داولینو څخه زیات سی .

اوکه دوهم تفسیر مراد واخیستل سی چی اولین اواخرین دواړه ددی امت مراد دی ، لکه چی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه بغوی اودحضرت ابوبکره رضی الله عنه څخه مسدد اوطبرانی او ابن مردویه روایت کړی دی ، چی نبی کریم ﷺ ددی آیت په تفسیرکی فرمایی چی هُمَامِنْ اُمَّتِیْ : یعنی دا اولین اواخرین زما دامت دوی طبقی دی ، ددی معنٰی په لحاظ سره ثابتیږی چی دسابقینو اولینو صحابه اوتابعینو وغیره په شان حضراتو څخه دا امت تر اخره پوری هم بالکل محرومه به نه وی ، که څه هم په اخری دور کی داسی خلګ به کم وی اومومنین متقین اواولیاء الله خو ددی تول امت په اول اواخرکی په ډیر تعداد سره به وی او دامت محمدیه یو دور اویوه طبقه به هم داصحاب الیمین څخه خالی نه وی ، ددی شهادت ددی حدیث سره هم حاصلیږی ، کوم چی په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت معاویه رضی الله عنه څخه منقول دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی زماپه امت کی به یوه ټولی همیشه په حق قائمه وی او دزرګونو مخالفتونو په خندونو کی به هم هغوی دخپل رشد او هدایت کار کوی دوی ته به هیڅ مخالفت نقصان نه سی رسولی تردی چی دقیامت قائمیدو پوری به دوی خپل کار کوی .

نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ﴿۵۷﴾ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ﴿۵۸﴾ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ

مونږ تاسی پیدا کړی یاست بیاولی ربښتیانه منی،آیاوګورئ کومی اوبه چی تاسی څڅوی؟ آیاتاسی دغه پیدا کوی

اَمْ نَحْنُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿۵۹﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ

اوکه مونږیی پیدا کوو ؟ ، مونږ مقرر کړی دی په تاسی کی مرګ او مونږ عاجزه نه یو

بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۶۰﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا

ددې خبری څخه ، چی په بدله راولو ستاسی په شان خلق او کړم تاسی هغه څای ته چی

تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْاَةَ الْاُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۶۲﴾

تاسی ته نه دی معلوم ، اوتاسی خو پیژندلی دی اول وار پیدا کول بیا ولی نصیحت نه قبلوی ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾

آیاوینی تاسی هغه شی کوم چی تاسی کوی، آیا تاسی توکوی هغه یا مونږ یی تو کوونکی یُو ؟

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾

که وغواړو مونږ نوکړو به غوبل سوی وانبه ، بیا به تاسی توله ورځ خبری جوړونکی سی ، چی مونږ قرض دار

بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ

سو ، بلکه مونږ خو محرومه سو ، آیا وینی تاسی اوبه کومی چی تاسی چښی ؟ آیا تاسی

أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنَٰهُ

وروی دغه د وریځی څخه یا مونږ یی وروو ؟ که وغواړو نو کړو به دغه ترخی

أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ

نو ولی شکر نه کوی ، آیا وینی تاسی هغه اور کوم چی تاسی بلوی ، آیا تاسی

أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنَٰهَا تَذْكِرَةً

پیدا کړی ده ددی درخته یامونږ یی پیدا کوو ؟ مونږ پیدا کړه دغه درخته دپاره دعبرت

وَمَتَٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

اوسامان دمسافرانو ، نو پاکی بیانوه دخپل رب دنوم چی دتولو څخه لوی دی .

لنډتفسیر: مونږ تاسی (اول وار) پیداکړی یاست (کوم چی تاسی هم منی) نوبیاتاسی (په اعتبار ددی دنعمت کیدو دتوحید اوپه اعتبار ددی چی بیا پیداکو دقدرت دلیل ددی قیامت) تصدیق ولی نه کوی (مخ ته ددی پیداکولو بیاددی داسبابو دبقاء تفصیل اویادګیرنه ده یعنی) ښه نوبیا داوښیاست چی تاسی کومه (دښځورحمونوته) منی رسوی دهغه څخه تاسی انسان جوړونکی یاست اوکه مونږیی جوړوو (اوظاهره ده چی مونږ یی جوړوو او) مونږ ستاسی په مینځ کی مرګ (په معین وخت) مقررکړی دی (مطلب دا دی چی جوړول او ددی جوړسوی تریوخاص وخته پوری باقی ساتل داتول زمونږکاردی، مخ ته دانښیی چی لکه څنګه چی دانسان دذات پیداکول اوباقی ساتل یی زمنږ کاردی ، دغه ډول ستاسی موجوده صورت باقی ساتل هم زمونږ کاردی او) مونږ ددی څخه عاجزه نه یو چی ستاسی په شان ستاسی پرځای

Maktaba Tul Ishaat.com

نور(انسانان) پیدا کړو اوتاسی ته داسی صورتونه جوړ کو کوم چی تاسی پیژنی هم نه (یعنی مثلاً دانسان څخه دحیوان په صورت کی مسخ کی چی گمان یی هم نسته) او(مخ ته خبرداړول دی، ددی په دلیل یعنی) تاسی ته داول وار پیدا کیدو علم حاصل دی (چی دغه زمونږپه قدرت سره دی) بیاتاسی ولی نه پوهیږی؟ (چی پوه سی ددی نعمت شکر اداکی اودتوحید اقرار وکی اوپه قیامت کی په دوباره ژوندی کیدوهم استدلال وکی ، مخ ته یوبل خبرداری دی یعنی) ښه بیا داوښیاست تاسی چی څه (تخم وغیره) کری، هغه تاسی راتوکوی اوکه مونږ یی راتوکوونکی یو(یعنی په مځکه کی دتخم په غورځولوکی خو ستاسی څه دخل هم سته لیکن دغه دمځکی څخه را ایستل دا دچاکار دی ؟ مخ ته دانبیی چی لکه څنګه چی دمځکی څخه درخته توکول زمونږ کار دی ، مخ ته ددغی درختی څخه ستاسی فائده اخیستل هم زمونږپه قدرت اوحکمت باندی موقوف دی لکه چی داسی لوړهم فرمایل سوی وه یعنی)که مونږ وغواړو نودا(پیداوار) به ذره ذره کو (یعنی دانی به په کی ونه سی اوپانی به یی وچی سی ذره ذره به سی) بیابه تاسی حیران پاته سی (چی اوس خو) په مونږ تاوان راغی (یعنی په سرمایه کی نقصان وسو اونقصان څه) بلکه بالکل محرومه سولو (یعنی ټوله سرمایه ولاړه ختمه سوه ، مخ ته دریم خبرداری دی یعنی) ښه بیا دا وښیاست چی کومی اوبه تاسی چښی هغه دوریځی څخه تاسی اوروی اوکه مونږ یی اوروو (بیادغه اوبه دچښلو قابلی جوړول زمونږ بل نعمت دی چی) که مونږ وغواړو دغه به ترخی کړو نوتاسی شکرولی نه کوی؟ (اولوی شکر عقیده دتوحید اودکفر پریښوول دی، مخ ته څلورم خبرداری دی یعنی) ښه بیا دا وښیاست چی کوم اور تاسی بلوی دهغه درختی (په کومه کی چی دا اور دی چی بیان یی دسورة یٰس په اخرکی دی اودغه شان دکومو ذریعوڅخه چی دا اور پیداکیږی هغه ذریعی) تاسی پیداکړی دی اوکه مونږ یی پیداکوونکی یو مونږ دا (د دوږخ د اور یادخپل قدرت) دیادولو شی او دمسافرو دپاره دفائدی شی جوړکړی دی (وریادول یوه دینی فائده ده اوبله دنیوی فائده په اورباندی خوراك پخول دی او تخصیص دمسافر دحصر دپاره نه دی ، بلکه په سفرکی داور دکومو پیداکولو سبب یوعجیبه شی دی اوپه متاعًا کی دی طرف ته هم اشاره وسوه چی داور څخه فائده اخیستل هم زمونږ دقدرت څخه دی) نو (دچا چی داسی قدرت دی) دخپل (دغه) عظیم الشان پروردګار دنوم تسبیح (اوثنا) کوی (چی کمال دذات اوصفات مقتضٰی دمستحق کیدو دحمد اوثناء دی اودنوم دتسبیح وغیره تحقیق دسورة رحمٰن په اخری آیت کی تیر سوی دی)

معلومات اومسئلي : دسورة دشروع څخه تردی ځای پوری په محشرکی دانسانانو د درو قسمونو اود درو سره وو قسمونو دجزا اوسزا اواحکامو بیان وو، په دی ذکرسوو ایتونوکی هغو ګمراهو خلګو ته خبرداری دی کوم چی دسره دقیامت دقائمیدو او د دوباره ژوندی کیدو قائل نه دی یادالله ﷻ په عبادت کی نور شریکوی ، دانسان ددغه غفلت او جهالت پرده څیرَوَل دی کوم چی دی په هیروکی غورځولی دی وضاحت ددی دا دی چی په دی عالم کائنات کی چی څه موجود دی یاموجود کیدونکی دی.یا اننده راتلونکی دی ، ددی پیداکول اوبیاداباقی پریښوول اوبیا دادانسان په مختلفو کارونوکی لګول، داټول په حقیقت کی دالله ﷻ دقدرت اوحکمت کرشمی دی ، که داسبابو پردی په مینځ کی نیستی سی او

Maktaba Tul Ishaat.com

انسان ددی تولو شیانو پیدا کیدل بی دواسطی داسبابو څخه مشاهده کړی نوپه ایمان راوړلو به مجبوره سی مګر الله ﷻ دنیا دار الامتحان جوړه کړي ده ، په دی وجه دلته چی څه په وجود اوظهور کی راځی ، هغه داسبابو په پردو کی راځی .

او الله ﷻ په خپل کامل قدرت اوبالغ حکمت سره په دی اسبابو اومسببانو کی داسی مستحکمه رابطه قائمه کړي ده چی کوم ځای سبب موجودیږی نومسبب ورسره ورسره په وجود کی راځی چی لیدونکی یی لازم اوملزوم ګڼی اوظاهر بین (بنکاره کتونکی) نظرونه داسبابوپه دی سلسله کی منبتی پاته سی ، او دکائناتو دپیداکیدو ددی اسبابو طرف ته نسبت کوونکی سی ، اصل قدرت اوحقیقی قوت فاعله کوم چی دی اسبابو اومسببانو لره ګردش ورکوونکی دی دهغه طرف ته فکر نه ځی .

په ذکر سوو آیتونو کی اول خو حق تعالی په خپله دانسان دپیدائش حقیقت واضح وفرمایی ، بیایی دانسانی ضرورتونو دپیدائش دحقیقت څخه پرده پورته کړه ، په خپله انسان یی مخاطب کی او سوالونه یی وکړل ، ددی سوالونو په ذریعه یی اصل جواب طرف ته رهنمایی وفرمایله څکه چی په سوالونو کی یی ددغو اسبابو کمزوری او د دوی دپیدائش علت نه کیدل واضح کړل .

په ذکر سوو آیتونو کی اولنی آیت نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ یوه دعوه ده اوراتلونکی آیتونه یی دلیلونه دی ، دتولو څخه اول دانسان په پیدائش یوسوال وسو څکه چی غافل انسان روزانه ددی مشاهده کوی چی دسړی اوښځی دخلط څخه حمل قرار نیسی اوبیاهغه دمور په رحم کی غټیږی اوتیاریږی اودنهو میاشتو څخه وروسته دیومکمل انسان په صورت کی پیداکیږی ، په دی روزمره مشاهده سره دغفلت شعار انسان نظر بس تردی پوری پاته سی ، چی دسړی اوښځی په خلط کیدو سره دانسان دپیدائش حقیقی علت ګڼی ، په دی وجه سوال وسو چی .

أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ الْخَٰلِقُونَ یعنی ای انسانه الړځه فکرخووکړه چی دهچی په پیدائش کی ستادخل ددی څخه ماسواځه دی چی تاخو یوه قطره دمنی یوخاص محل ته ورسوله دی څخه وروسته آیا تاته څه خبرسته چی پردی نطفه څه څه دورونه تیر سول څه څه تغیرات په کی راغلل په څه څه شان سره په دی کی هډوکی غوښه پوستکی پیداسول اوپه څه څه شان ددی عالم اصغرپه وجودکی څنګه څنګه نازك نازك مشینان دغذاحاصلولووینه جوړولواوروح حیوانی پیداکولوبیادلیدوخبروکولو ، اوریدو ، چنبلو ، فکرکولو ، پوهیدو قوتونه دده په وجودکی ودرول سول چی دیوه انسان وجودیوه حرکت کوونکی فکټری (کارخانه) جوړه سوه نه پلارخبردی نه مور ، دچاپه نس کی چی داهرڅه کیږی اخرکه عقل په دنیاکی څه شی دی ، نو هغه په دی ولی نه پوهیږی ، چی په عجیبه حکمتونو باندی مشتمل انسانی وجود ایاخود بخوده بغیر دجوړولو څخه جوړ سو ؟ اوکه څوك جوړونکی سته نو هغه څوك دی ؟ مور اوپلار خو خبرهم نه دی چی څه جوړسول ، څنګه جوړ سو ؟ دوی ته خو دحمل ترپیدا کیدو پوری دا هم علم نه وو چی په حمل کی هلك دی که انجلی ، بیا اخر هغه کوم قدرت دی ، کوم چی په نس کی ، بیاپه رحم کی بیا تربچی لوړ په بنده پرده کی په درو تیاروکی دننه دانبانسته خوبصورته اوریدونکی ، لیدونکی ، شُدبد لرونکی وجود تیارکی ، په دی هم چی په ، فَتَبَارَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخَٰلِقِينَ : ویلومجبوره نه سی ، هغه دعقل رونډ کیدی سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه وروسته یی په آیتونوکی دا هم وښوولہ ، چی ای انسانانو! تاسی دپیداکیدو اوګرځیدو راګرځیدو اوکارجوګه کیدو څخه وروسته هم په خپل وجود اوبقاء او په ټول کار اوبارکی زمونږ محتاج یاست، مونږ ستاسی دمرګ هم داوس څخه یووخت مقررکړی دی اوددغه وخت څخه مخکی چی کوم عمر تاسی ته حاصل دی په دغه کی تاسی په خپله خپل ځان خود مختاره پیداکی ، داهم ستاسی مغالطه ده مونږ ته په دی هم قدرت سته چی اوس اوس تاسی فناکو، ستاسی پرځای نوی قوم پیداکو اودا قدرت مو هم سته چی دفنا کولو په ځای ستاسی وجودونه په یو بل صورت حیوانی یاجماداتی کی بدل کو، دا مضمون ددی ایتونو دی چی .

نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ عَلَى اَنْ نُبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِي مَالَاتَعْلَمُونَ : دمرګ په مقدر اومعین وخت په راتلوکی دی طرف ته هم اشاره ده چی تاسی په خپله بقاء کی ازاد اوخود مختارنه یاست بلکه ستاسی بقاء تریو معین وخته پوری ده ، تاسی حق تعالی دیوخاص قوت اوقدرت اوعقل اوحکمت مالکان جوړکړی یاست ، ددی څخه په کار اخیستو تاسی ډیر څه کولی سی .

د ، وَمَانَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ : مطلب دا دی چی زمونږ په اراده سبقت کوونکی اوزمونږ په مشیت غالب راتلونکی هیڅوك نسته ، مونږ دا وخت هم چی څه غواړو کولی یی سو چی ، اَنْ نُبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ : یعنی ستاسی په ځای اوستاسی په مثل څوك بل قوم راولو ، وَنُنْشِئَكُمْ فِي مَا لَا تَعْلَمُونَ ، اوستاسی هغه شکل جوړکی کوم چی تاسی پیژنی هم نه ، ددی داشکل هم کیدی سی چی مړه سوی خاوری سی داسی هم کیدی سی چی دیوحیوان په شکل کی بدل سی ، لکه په تیرو امتونو چی دمسخ کیدو په بیزوګانو اوخنزیرانو جوړیدو عذاب راغلی دی او دا هم کیدی چی تاسی دګټو اوجماداتو په شکل کی بدل سی .

أَفَرَأَيْتُمْ مَا تَحْرُثُونَ : دتخلیقِ انسانی په معامله کی دانسان غفلت اودطبعی اسبابو په پرده کی دمښتو داصل خالق او مالك څخه دبی خبره کیدو دپردی ځیرلو څخه وروسته دده خوراك کوم چی دده دژوند مدار دی ، ددی حقیقت یی په دی اندازسره ظاهر وفرمایی چی سوال یی وکی چی تاسی کوم په مځکه کی تخم کری لږ فکر خو وکی چی په دی تخم کی د درختی په پیدا کولوکی ستاسی دعمل څه اوځومره دخل دی چی فکر په وکی نو جواب به ددی څخه ماسوا بل نه وی چی دکښت کار دخل په دی کی ددی څخه زیات نسته چی هغه په مځکه کی یوې وکړه ، بیایی سره واړوله ، نرمه یی کړه چی کوم ضعیف تیغ ددی دانی څخه پیداسی ، لوړ راخیژی نو چی په آسانی سره رالوړ سی ، دتخم کرونکی انسان ټول کوشش صرف ددی یوی نقطی چاپیره دی اوکله چی درخته راوخیژی نوبیا دده ټول کوشش دهغه دحفاظت وی ، لیکن دیوی دانی څخه دبوټی تیغ را ایستل نه دده دوس خبره ده اونه دی دا دعوی کولی سی چی مادادرخته جوړه کړي ده ، نوبیا دا سوال پیداکیږی چی دخاوری ددننه څخه ددانی څخه داخوبصورته اوپه زرګونو فائدو مشتمله درخته چا جوړه کړه ؟ نو جواب یی ددی څخه ماسوا څه دی چی دهغه مالك اوخالقِ کائنات کامل قدرت اوعجیبه صنعت ددی جوړونکی دی .

دغه شان ددی څخه وروسته اوبه دکومو په چښلو چی انسان ژوندی اوسی اور په کوم چی خپل خوراك

Maktaba Tul Ishaat.com

پخوی اوخپل صنعتونه په دی چلوی ، ددی ټولو په پیدا کولوکی یی دغسی دسوال اوجواب ذکر وفرمایی او په اخر کی یی دټولو خلاصه دا بیان وفرمایله چی .

نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ : مُقَوِيْنَ دافواء څخه مشتق دی او دغه قواء په معنٰی دصحراء څخه مشتق دی ، دمقوی معنٰی سوه په صحراء کی پاته کیدونکی ، مراد ورڅخه مسافردی چی په صحراء کی یوڅای پاته سی او دخپل خوراك انتظام کوی او مراد دایت دا دی چی دا ټول تخلیقات زمونږ دقدرت اوحکمت نتیجه ده .

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ : ددی لازمی اوعقلی نتیجه دا کیدل په کار دی چی انسان دالله ﷻ په کامل قدرت اوتوحید ایمان راوړی او دخپل عظیم رب دنوم تسبیح وایی چی دا ددی نعمتونو شکر دی .

فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿۷۵﴾ وَإِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿۷۶﴾ إِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۷﴾

نو زه قسم خورم په پریوتو دستورو ، اویقنًا دا لوی قسم دی که تاسی پوهیږي ، بیشکه دا قرآن دی عزتمند ،

فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿۷۸﴾ لَّا يَمَسُّهٗٓ إِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿۷۹﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ

لیکل سوی په یو محفوظ کتاب کی ، لاس به ور وړی دی ته پاك خلق ، نازل سوی دپروردګار عالم دطرف څخه

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۰﴾ أَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ أَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَتَجْعَلُوْنَ

آیا پس په دی خبره کی تاسی سستی کوی؟ او تاسی خپله

رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ وَأَنْتُمْ

حصه دا اخلی چی دی درواغجن کوی؟ نو ولی نه هر کله چی روح ورسی مری ته ، اوتاسی ورته

حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾

دغه وخت کوری ، اومونږ نژدی یُو ده ته ترتاسی اولیکن تاسی نه وینی ،

فَلَوْلَآ إِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾

نوولی که نه یاست تاسی نه دچا په حکم کی ، نو ولی نه واپس کوی تاسی دغه روح که یاست رښتینی؟

فَأَمَّآ إِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ

نو که وی دغه (مړی) مقربینو څخه ، نوراحت دی او روزی ده اوباغ

Maktaba Tul Ishaat.com

نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾ فَسَلٰمٌ

دنعمت ، او که وی هغه دراسته طرف د خلقو څخه ، نو وبه ویل سی ورته چی سلام دی

لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ

په تا ته دراسته دطرف والاوو څخه یی ، او که وی هغه د درواغجن کونکو

الضَّآلِّيْنَ ﴿۹۲﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۹۳﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿۹۴﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ

گمراهانوڅخه ، نو میلمستیا ده دګرمو اوبو ، او غور څول دی په دوزخ کی بیشکه دا خبره

حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿۹۵﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۹۶﴾

ده لائقه دیقین ، نو ته پاکی بیانوه دخپل رب په نوم سره چی دیر لوی دی .

لنډتفسیر: (په عقلی دلیلونو سره وروسته دمرګ څخه دژوندی کیدو دامکان ثابتیدو څخه وروسته دقرآن څخه چی ددی واقع کیدل ثابت دی اوتاسی داقرآن نه منی) نو زه قسم اخلم دستورو په پریوتو اوکه تاسی فکر وکی نو دا یو دیر لوی قسم دی (اوقسم په دی خبره اخلم) چی دا (قرآن کوم چی په پیغمبر ﷺ نازلیږی دالله ﷻ دطرف څخه دنازلیدو په وجه) یو مکرم قرآن دی کوم چی په یومحفوظ کتاب (یعنی لوح محفوظ) کی (دمخکی څخه) لیکلی دی (اوهغه لوح محفوظ داسی دی) چی ده ته بغیردپاکوملائکوڅخه (چی دګناهونو څخه بالکلیه پاکی دی) بل څوك (شیطان وغیره) لاس نه سی وروړی (ددی په مضامینو خبریدل خولیږی خبره ده ، نو دهغه ځای څخه یی دلته په خاص طور سره راتلل دملائکی په ذریعه دی او دا نبوت دی اوشیطانان دا راوړلی نه سی چی په احتمال دکهانت وغیره سره په نبوت کی شبهه وی لکه داقول دالله ﷻ دی ، نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْاَمِينُ : او دا قول ، وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيَاطِينُ : ددی څخه ثابته سوه چی) دا درب العٰلمین دطرف څخه رالیږل سوی دی (کوم چی اشارتًا مدلول دکریم وه ، دلته دستورو په پریوتو قسم دخپل مفهوم او مقصد په اعتبار سره داسی دی لکه په شروع دسورة نجم کی چی دی هلته بیان سوی ، په کوم کی چی دستورو په اعتبار دغروب دحضور ﷺ په نبوّت سره موصوف کیدل اومنار الهدیٰ کیدل مثل والی هم بیان سوی دی کوم چی مقصود دمقام دی اوقسمونه څومره چی په قرآن کی دی په دی وجه چی په مطلوب دلالت کوی تول عظیم دی ، لیکن څینی څینی دمطلوب دخاص اهتمام اوپه دی دزیات خبردارکولو دپاره دعظیم کیدو وضاحت یی هم فرمایلی دی ، لکه چی دلته اوپه سورة فجرکی اجمالاً مطلب دمقام هغه دی کوم چی په تفصیل سره دسورة شعراء په اخری رکوع کی ارشاد سوی دی) نو (ددی دالله ﷻ دطرف څخه نازلیدل ثابت سو نو) ایا تاسی خلک داکلام سرسری خبره ګڼی (یعنی واجب التصدیق یی نه ګڼی) او (ددی مداهنت څخه زیات دا چی) درواغجن کول خپله غزا جوړوی (اوپه دی وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

دتوحید اوقیامت دواقع کیدو څخه هم انکار کوی، نو (که دا انکار حق دی نو، څه وخت چی (دمرګ راتلو په وخت دیو سړی) روح مری ته راورسیږی او تاسی دغه وخت (ناست یاست په افسوسناك نظر سره) ورته ګوری اومونږ (دغه وخت) هغه (مړکیدونکی) سړی ته ستاسی څخه هم زیات نژدی یو (یعنی ستاسی څخه هم زیات ددغه سړی په حال خبر یو، څکه چی تاسی صرف ظاهری حالت وینی اومونږ دده په باطنی حالت باندی هم خبردار یو) لیکن (زمونږ دا علمی قرب په وجه دخپل جهل اوکفر) تاسی نه پیژنی نو (په واقع کی) که ستاسی حساب اوکتاب کیدونکی نه وی (لکه چی ستاسی خیال دی) نوتاسی دغه ورځ (دبدن طرف ته) بیا ولی نه راګرځی (دکوم چی دغه وخت ستاسی تمناهم وی) که (دقیامت څخه په انکار اوحساب کی) تاسی رښتینی یاست؟ (مطلب دا چی قرآن صادق دی او وقوع دقیامت ناطق، نومقتضی دوقوع متحققه سوه اومانع هیڅ امر نسته، نوواقع کیدل ثابت سو اوپه دی سربیره ستاسی انکار اونفی کول په دلالت دحال ددی مستلزمه ده چی ګویا تاسی روح په خپل وس کی ګنی، چی که څه هم په قیامت کی الله ﷻ دوباره روح اچول وغواړی لکه چی مقتضی دقرآن ده، مګر مونږ به یی اچولو ته نه پریږدو، اودوباره پورته کیدل به پری نه ږدو، کله چی په داسی زور سره نفی کوی کنی څوك چی څان عاجزه ګنی، هغوی دوقوع ددلیلونو څخه وروسته داسی دزور خبره څنګه کوی، نوکه تاسی یی په خپل وس کی ګنی نولږ خپل زور هغه وخت وښیاست، کله چی یوه سړی دمړ کیدو په حالت کی وی اودژوند آرزوهم کوی اوچی څوك ورته ګوری رحم یی پرراځی اودلګیر کیږی هم، اودغه زور ښوول دادی چی دغه روح ختلوته مه پریږدی، بدن ته یی واپس کی، کله چی په دی ستاسی وس نسته چی روح بدن ته واپس کړی نو د دوی د دوباره پیدا کولو څخه په منع کولو به ستاسی څنګه وس وسی، نو داسی بی مقصده دعوی ولی کوی اوچونکی مقام دی دنفی دقدرت اونفی دعلم مستلزم ده نفی دتعلق دقدرت لره، په دی وجه په نَحْنُ اَقْرَبُ جمله معترضه کی یی ددغو دعلم تام نفی وفرمایله اوچونکی داکافی دلیل د دوی دپاره شافی نه سو، په دی وجه په لَاتُبْصِرُوْنَ کی یی توبیخ هم وفرمایی اوچونکی په دی تقدیر سره اثبات دقدرت هم وسو، په دی وجه دبعث سره دا دتوحید دلیل هم دی، مخ ته دبدلی ورکولو دکیفیت ارشاد دی، یعنی دا خو ثابته سوه چی قیامت به په خپل وخت ضرور راځی) بیا (کله چی قیامت قائم سی نو) کوم سړی چی دمقربینو څخه وی (دکومو ذکر چی لوړ تیر سوی دی، وَالسّٰبِقُوْنَ الخ) دهغه دپاره خو راحت دی او (دخلاصولو) خوراکونه دی اودارام جنت دی اوکوم سړی چی دراسته لاس والاوو څخه وی (دکومو ذکر چی لوړ تیر سوی دی، وَاَصْحٰبُ الْیَمِیْنِ الخ) نوهغه ته به وویل سی چی ستا دپاره (دهرافت اوخطری څخه) امن وامان دی چی ته دراسته طرف والاوو څخه یی (اودا وینا به برابره خبره ده که ابتداءً وی، که په فضل سره یا په توبی سره یی داول څخه مغفرت وسی یا انتهاءً وی که وروسته دسزا څخه یی مغفرت وسی، او دلته دروح اوریحان څخه فرمایل دنفی دپاره نه دی بلکه اشاره دی طرف ته ده چی دوی به دسابقینو څخه په دی کارونوکی کم وی) اوکوم سړی چی ددرواغجن کوونکو (او) ګمراهانو څخه وی نوپه جوشیدلو ګرمو اوبو سره به ده لره میلمستیا وی اوپه دوږخ کی به ورلره داخلیدل وی، بیشکه دا (څه چی ذکرسول) تحقیقی یقینی خبره ده نو (دچاسره چی داتصرفات دی) دخپل (دی) عظیم الشان

Maktaba Tul Ishaat.com

پروردګار دنوم تسبیح (اوښنا) وایاست (اودا اوس لږ مخ ته تیر سوی دی)

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکی په عقلی دلیلونو سره په قیامت کی د دوباره ژوندی کیدو ثبوت، دحق تعالی دکامل قدرت او ددی دنیاوی پیدا کیدو په ذریعه سره ورکول سوی وو، مخ ته نقلی دلیل په دی دحق تعالی دطرف څخه په قسم سره ورکول سوی دی.

فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ: لفظ دلاَ دقسم په شروع کی یوه عامه محاوره ده، لکه لاَ وَاللهِ او دجاهلیت په قسمونو کی لاَوَاَبِیْكَ خو مشهوردی څینی حضراتو دلاَلفظ زیات مقررکړی دی اوځینو ددی توجیه دا کړې ده چی په دی موقع باندی حرف دلاَدمخاطب دګمان نفی کولو دپاره وی یعنی، لَیْسَ کَمَا تَقُوْلُ، یعنی لکه څنګه چی ته وایی اوګنی هغه خبره نه ده بلکه حقیقت هغه دی کوم چی مخ ته قسم اخلی اوښیی یی.

مَوَاقِع، دموقع جمع ده چی معنٰی یی دستورو پریوتو ځای یاوخت دی په دی آیت کی یی په ستورو قسم دپریوتو دوخت سره مقید کړی دی لکه چی په سورة نجم کی هم په وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰی کی دلویدلو دوخت قید دی ددی قید حکمت دا دی چی دلویدلو په وخت کی دهر ستوری کار دافق څخه قطع کیدل په نظر راځی اودفنا کیدو اثاریی لیدل کیږی په کوم سره چی ددوی حادث اوداللہ ﷻ دقدرت محتاج کیدل ثابتیږی.

إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ لَايَمَسُّهُ إِلَّاالْمُطَهَّرُونَ: په تیرو آیتونوکی یی په مواقع النجوم قسم واخستی کوم مضمون چی دقسم دجواب بیانول دی، هغه په دی آیتونو کی ذکر دی، چی مطلب یی دقرآن کریم مکرم اومحفوظ کیدل او دمشرکانو ددی خیال تردید دی، چی دا دیو انسان جوړ سوی یامعاذ الله دشیطان القاء سوی کلام دی.

د: كِتَابٍ مَكْنُونٍ لفظی معنٰی پټ سوی کتاب، مراد ددی څخه لوح محفوظ دی، لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ دلته دوی مسئلی غورطلب اودتفسیرپه امامانوکی مختلف فیه دی، اول دا چی دنحوی ترکیب په اعتبار سره په دی جمله کی دوه احتماله دی، یو دا چی دکوم کتاب یوصفت مکنون راغلی دی، دا جمله دهغه کتاب دوهم صفت دی اوضمیرپه لَایَمَسُّهُ کی ددغه کتاب طرف ته راجع دی، په دی صورت کی معنٰی دایت داکیږی، چی کتاب مکنون یعنی لوح محفوظ ته ماسوا دپاکو خلګو بل څوك لاس نه سی ورورې، او دا هم ظاهره ده چی په دی صورت کی لفظ دمسّ په خپله حقیقی معنٰی لاس ورورلو کی نه سی اخیستل کیدی بلکه دمسه کولو اولاس ورورلو مجازی معنٰی به مراد اخیستل وی، یعنی په لوح محفوظ کی په لیکل سوو مضامینو باندی خبریدل څکه چی لوح محفوظ په لاس سره مسه کول لاس ورورل دیومخلوق ملائکی وغیره کار نه دی (قرطبی) دبیان القرآن په لنډ تفسیر کی په داترکیب اومطلب اختیارولو سره تفسیر سوی دی.

دوهم احتمال ددی جملی په ترکیب نحوی کی دا دی چی دا قرآن صفت جوړسی، کوم چی لوړ په، إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ کی ذکر دی، په دی صورت کی به دلَایَمَسُّهُ ضمیر دقرآن طرف ته راجع وی اوددی څخه به مراد هغه صحیفه وی، په کومه کی چی قرآن لیکل سوی وی او لفظ دمَسّ به په خپله حقیقی معنٰی لاس ورورلو کی پاته سی، دمجاز ضرورت به نه وی، په دی وجه قرطبی وغیره مفسرینو داترجیح ورکړې ده

Maktaba Tul Ishaat.com

اوامام مالك فرمايي چي دايت ، لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ په تفسيرکي چي ماځه اوريدلی دی ، په هغوکی دټولو څخه ښه قول دا دی چي ددی هغه مطلب وی کوم چي دسورة عبس په آيت کی دی ، يعنی، فِي صُحُفٍ مُكَرَّمَةٍ مَرْفُوعَةٍ مُطَهَّرَةٍ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ كِرَامٍ بَرَرَةٍ (قرطبی وروح المعانی) او ددی مطلب هم دا دی چي دا جمله دکتاب مکنون صفت نه دی ، بلکه دقرآن صفت دی او دقرآن څخه مراد هغه صحيفی دی کوم چي وحی راوړونکو ملائکوته په لاسوکی ورکول کيږی .

دوهمه مسئله غورِ طلب اومختلف فيه په دی آيت کی دا ده چي د ، مُطَهَّرُوْنَ څخه څوك مراد دی؟ دصحابه تابعينو اومفسرينو ديوی لويی ډلی په نزد د ، مُطَهَّرُوْنَ څخه مراد ملائکی دی کومی چي دګناهونو او رذائلوڅخه پاکی دی او معصومی دی، دا قول دحضرت انس ﷺ اوسعيدبن جبير ﷺ څخه منقول دی (قرطبی) دحضرت ابن عباس ﷺ هم دا قول دی (ابن کثير) امام مالك رحمه الله هم دااختيارکړی دی (قرطبی) اوځينی مفسرين حضرات فرمايي چي دقرآن څخه مراد هغه مصحف دی کوم چي زمونږ په لاسونوکی دی او، دَمُطَهَّرُوْنَ څخه مراد هغه خلګ دی کوم چي دنجاست ظاهری اومعنوی يعنی دحَدَثِ اَصْغَر اواكْبَر څخه پاك وی دحدثِ اصغر معنی بی اودسه کيدل دی دکوم دليری کولو دپاره چي اودس کول وی اوحدثِ اکبر جنابت اوحيض اونفاس ته ويل کيږی ، دکوم څخه دپاکی دپاره چي غسل ضروری دی ، دا تفسير حضرت عطاء، طاوس، سالم او حضرت محمد باقر رحمهم الله کړی دی (روح)

په دی صورت کی جمله د ، لَايَمَسُّهُ که څه هم جمله خبريه ده ، مګر دا خبر په حکم دانشاء يعنی دنهی او ممانعت په معنی کی مقررکيږی او مطلب دايت به دا وی چي دمصحف قرآن مسه کول بغير دطهارت څخه جائز نه دی او دطهارت په مفهوم کی دا هم دا خله ده چي دظاهری نجاست څخه هم دده لاس پاك وی اوبی اودسه هم نه وی اوپه جنابت کی هم نه وی ، قرطبی دی تفسير ته اظهر فرمايلی دی ، په تفسيرِ مظهری کی يی ددی په ترجيح زور ورکړی دی .

دحضرت فاروق اعظم ﷺ داسلام راوړلو په واقعه کی چي کوم ذکر دی چي دوی خپله خور دقرآن په ويلوو ليده نو دقرآن دپانو ليدل يی وغوښتل دده خور دا آيت ووايه اودقرآن دپانو يی دده په لاسوکی دورکولو څخه انکار وکی چي دی ته دپاکو خلګو څخه ماسوا بل څوك لاس نه سی وروړی فاروق اعظم ﷺ مجبوره سو اوغسل يی وکی ، بيايی هغه پانی وويلی ، په دی واقعه سره هم ددی اخری تفسير ترجيح کيږی او دحديثو روايتونه په کوموکی چي ناپاك دقرآن دمسه کولو څخه منع سوي دی ، دغه روايتونه هم ځينی حضراتو ددی اخری تفسير دترجيح دپاره پيش کړی دی .

مګر چونکی په دی مسئله کی دحضرت ابن عباس ﷺ اوحضرت انس ﷺ وغيره اختلاف دی کوم چي لوړ تير سو ، په دی وجه ډيرو حضراتو بی اودسه ته قرآن ته دلاس وروړلو دممانعت په مسئله کی دذکر سوی آيت څخه استدلال پرې ايښی دی ، صرف دحديث روايتونه يی پيش کړی دی (روح) هغه احاديث دا دی .

امام مالك په موطاکی دنبی کريم ﷺ هغه مکتوب ګرامی نقل کړی دی ، کوم چي دوی حضرت عمرو بن حزم ﷺ ته ليکلی وو چي په هغه کی يوه جمله دا ده ، لَايَمَسُّ الْقُرْآنَ اِلَّا طَاهِرٌ (ابن کثير) يعنی قرآن ته دی

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه سړی لاس نه وروړی کوم چی پاك نه وی .

اوپه روح المعانی کی دا روایت دمسند عبدالرزاق ، ابن ابی داود اوابن المنذر څخه هم نقل کړی دی اوطبرانی اوابن مردویه دحضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، لَا يَمَسُّ الْقُرْآنَ اِلَّا طَاهِرٌ(روح المعانی) یعنی قرآن ته دی لاس نه وروړی بغیر دهغه چا څخه چی کوم پاك وی .

مسئله : دذکر سوو روایتونو په بنا باندی دجمهور امت او دځلورو سره وو امامانو په دی اتفاق دی چی قرآن کریم ته دلاس وروړلو دپاره طهارت شرط دی ، ددی خلاف کول ګناه ده ، دظاهری نجاست څخه لاس پاکول په اوداسه کی کیدل ، په حالت دجنابت کی نه کیدل تول په دی کی داخل دی حضرت علی ﷺ ابن مسعود ﷺ، سعدبن ابی وقاص ﷺ ، سعید ابن زید ﷺ ، عطاء رحمه الله زهری رحمه الله نخعی رحمه الله حکم رحمه الله حماد رحمه الله امام مالك رحمه الله شافعی رحمه الله اوابوحنیفه رحمه الله دتولو دا مذهب دی لوړ چی کوم اختلاف داقوالو نقل سوی دی ، هغه صرف په دی خبره کی دی چی دامسئله کومه چی دذکر سوو احادیثو څخه ثابته اودجمهور امت په نزد مسلمه ده ایا داخبره دقرآن ددی ذکر سوی آیت څخه ثابته ده اوکه نه ده ، ځینو حضراتو ددی آیت او دذکر سوو احادیثو مطلب یومقرر کړی دی اوددی آیت اودذکر سوو احادیثو دمجموعی څخه یی دا مسئله ثابته کړي ده نور حضرات دایت په استدلال کی دپیش کولو څخه داصحابو ﷺ داختلاف په وجه احتیاط کوی ، لیکن دذکر سوو احادیثو په بنا مسلك تولو دا اختیار کړی دی ، چی بی اودسه اوبی پاکی قرآن ته لاس وروړل جائز نه دی ، په دی وجه خلاف په مسئله کی نه دی بلکه په دلیل کی یی سوی دی .

مسئله : دقرآن مجید غلاف کوم چی دجلد سره ګنډل سوی وی ، هغه هم دقرآن په حکم کی دی ، دغه ته هم بغیر داوداسه اوبغیردپاکی څخه لاس وروړل دځلورو سره وو امامانوپه اتفاق سره ناجائزدی البته دقرآن کریم قمیص کوم چی دجلاکپړی وی که په هغه کی قرآن کریم بندوی نوددغه قمیص سره قرآن کریم ته لاس وروړل بی اودسه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدجائزدی مګردامام مالك اوشافعی په نزد داهم جائزنه دی (مظهری)

مسئله : کومه کپړه چی سړی اغوستی وی ، ددی په لستونی یا لمن سره بی اودسه قرآن کریم ته لاس وروړل هم جائز نه دی البته که په جلا دسمال یاخادر سره یی نیسی نو نیولی یی سی (مظهری)

مسئله : علماء فرمایی چی په دی آیت سره په درجه اولی داهم ثابتیږی چی دجنابت یا حیض اونفاس په حالت کی دقرآن تلاوت هم جائز نه دی ترڅوچی غسل ونه کړی، ځکه په مصحف کی دلیکل سوو حرفونو اونقشونو چی کله داتعظیم واجب دی نواصل حروف کوم چی په ژبه سره اداکیږی دهغه تعظیم ددی څخه زیات اهم اوواجب کیدل په کار دی ، ددی متقضٰی خو دا وه چی بی اودسه سړی ته هم دقرآن تلاوت جائز نه وی ، مګر دحضرت ابن عباس ﷺ حدیث کوم چی په بخاری اومسلم کی دی اودحضرت علی ﷺ حدیث کوم چی په مسند احمد کی دی ، ددی څخه په بی اودسه دقرآن ویل دنبی کریم ﷺ څخه ثابت دی ، په دی وجه فقهاوو په بی او دسه دقرآن دتلاوت اجازت ورکړی دی (مظهری)

أَفَبِهٰذَا الْحَدِيثِ أَنْتُمْ مُدْهِنُونَ، مُدْهِنُوْنَ دَادْهَان څخه مشتق دی چی لغوی معنٰی یی په تیلو مالش کول دی او دتیلو په مالش سره اندامونه نرمیږی ، په دی وجه په نرمولو اوپه ناجائزو مواقعو باندی دنرمی کولو په معنٰی

Maktaba Tul Ishaat.com

او دنفاق په مفهوم کی یی استعمالیدل شروع سو ، په ذکر سوی آیت دکی دالفظ دالله ﷻ دایتونو په تصدیق کی دنفاق یا تکذیب په معنٰی کی استعمال دی .

فَلَوْلَا إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ وَأَنْتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَكِن لَّا تُبْصِرُونَ فَلَوْلَا إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ .

په تیروایتونوکی اول په عقلی دلیلونو سره بیادحق تعالی دطرف څخه په ستورو په قسم اخیستو او د دوی دمجبور اومغلوب کیدو دکیفیت طرف ته یی اشاره وکړه او دوی خبری یی ثابتی کړی ، اول دا چی قرآن دالله ﷻ کلام دی ، په دی کی دچا شیطان اوپیری وغیره هیڅ تصرف نسته ، څه چی په دی کی دی هغه حق دی ، دوهمه مسئله کومه چی دقرآن په مسئلوکی خاص اهمیت لری هغه دقیامت راتلل او دټولو مړو ژوندی کیدل درب العزت ﷻ په مخکی دحساب دپاره پیش کیدل دی او ددی په اخرکی یی دکفارو او مشرکانو ددی ټولو واضحو دلیلونو خلاف دقرآن دحقانیت اوپه قیامت کی دمړو دژوندی کیدو څخه انکارذکر کړی وو

دقیامت اودمرګ څخه وروسته دژوندی کیدوڅخه انکار ګویا د دوی دطرف څخه ددی دعوٰی ده چی د دوی ځان او روح په خپله د دوی په قبضه کی دی او د دوی په خپل ژوندکی د دوی هم څه دخل سته ، د دوی ددی باطل خیال دتردید دپاره یی په ذکر سوو ایتونو کی دیو قریب الموت انسان مثال ورکړی دی او ښوولی یی ده چی کله دده روح حلق ته ورسیږی اوتاسی یعنی دمړکیدونکی خپل خپلوان اودوستان عزیزان ټول دده حال وینی اوپه تقاضا دمحبت او تعلق دا هم غواړی چی دده روح ونه وزی ، دی ژوندی پاته سی ، مګر دغه وخت ټولوته دخپلی ناچاری اوعاجزی احساس اواقرار وی چی هیڅ څوك ددی مړکیدونکی روح نه سی خلاصولی ، په دی الله ﷻ وفرمایل چی دغه وخت دخپل علم اوقدرت په لحاظ سره مونږستاسی په نسبت دغه مړکیدونکی ته زیات نژدی یو دنژدی کیدوڅخه مراد دده ددننه اوظاهری حالاتوڅخه خبرتیااوپرده پوره قدرت دی او فرمایی چی مګرتاسی زمونږ دی نژدیکت او دمړکیدونکی دتصرف لاندی کیدل په سترګوسره نه وینی .

لنډه دا چی تاسی ټول په یوځای دده دژوند اودروح حفاظت غواړی ، مګرستاسی خبره نه چلیږی ، مونږ دخپل علم اوقدرت په اعتبار سره ده ته زیات نژدی یوهغه زمونږ زیرتصرف اودمشیت اوحکم تابع دی په کوم وخت چی مونږ دهغه دروح ایستلو فیصله کړی وی ، هغه هیڅوك نه سی منع کولی ، ددی مثال په وړاندی کولوسره ارشادکیږی چی که تاسی داګڼی چی دمرګ څخه وروسته به تاسی ژوندی نه سی اوتاسی دومره قوی اوبهادر یاست چی دالله ﷻ دنیولوڅخه دباندی یاست نولږدخپل قوت اوقدرت ازمینښت دلته وکی چی ګوری ددی مړکیدونکی روح دوتلو څخه خلاص کړی یا دوتلوڅخه وروسته یی په ده کی بیاراواپس کړی اوکله چی ستاسی څخه دومره هم نه سی کیدی نوبیا خپل ځان دالله ﷻ دګرفت څخه دباندی ګڼل اودمرګ څخه وروسته ددوباره ژوندی کیدوڅخه انکارکول څومره دبی عقلی علامه ده

فَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ : په تیرو آیتونوکی په مختلفو دلیلونو اوپه مختلفو عنواناتو سره دا واضحه سوه چی ددنیا موجوده ژوند یوه ورځ ختمیدونکی اودمرګ په وخت دټولو خپلوانو اودوستانو طبیبانو

Maktaba Tul Ishaat.com

عاجزه کیدل روزانه لیدل کیږی، دغه شان دا هم یقینی وګنی چی دمرګ څخه وروسته دوباره ژوندی کیدل اودخپلو عملونو حساب ورکول دی او دحساب څخه وروسته جزا اوسزا هم یقینی ده اوپه جزا اوسزاکی دټول مخلوق په درو ټولیوکی تقسیمیدل اودهر یوه جلاجلا جزاکیدل کوم چی دسورة په شروع کی بیان سوی دی ددی اجمال بیان دلته ذکرسوی دی چی دمرګ څخه وروسته که داسړی دمقربینو یعنی دسابقینو په ډله کی وی نوراحت په راحت ، ارام په ارام دی اوکه دسابقینو مقربینو څخه نه وی . مګر داصحاب الیمین یعنی عامو مومنانو صالحانو څخه وی نو هم به دجنت په نعمتونو سرفرازه وی اوکه په دریمه ډله یعنی اصحاب شمال کفارو اومشرکانوکی وی نو دجهنم داور اودجوشیدلو ګرمو اوبو سره به ددې واسطه راځی ، په اخرکی فرمایی .

إِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِينِ : یعنی داجزا اوسزا دکوم ذکر چی لوړ سوی دی حق اوبالکل یقینی امر دی ، په دی کی دځه شك اوشبهی ګنجائش نسته .

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ :دسورة په ختمیدو باندی نبی کریم ﷺ ته خطاب دی چی ته دخپل رب دنوم تسبیح کوه ، یعنی ددې پاکی په ټولو هغو شیانو سره کوم چی ددې لائق دشان دی بیانوه ، په دی کی دلمانځه تسبیحات هم داخل دی اوخارج دلمانځه تسبیحات هم اوکله دلمانځه څخه هم ځینی وخت په تسبیح سره تعبیر کول کیږی ، نو دا حکم دلمانځه داهتمام کولو هم سو ، والله سبحانه وتعالی اعلم

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ بِحَمْدِاللهِ وَعَوْنِهٖ لَيْلَةَ الثَّلَاثَاءِ لِعِشْرِيْنَ مِنْ رَبِيْعِ الثَّانِيْ سنه ۱۳۹۱هـ وَيَتْلُوْهُ اِنْشَاءَ اللهُ تَعَالٰى سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ

﴿سورة الحديد﴾

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة الحديد په مدینه کی نازل سو او په دی کی نه ویشت (۲۹) آیتونه اوخلور (۴) رکوع ګانی دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ① لَهٗ مُلْكُ

پاکی وایی الله لره څه چی په اسمانونوکی دی اوپه مځکه کی دی او هغه زبردست حکمتونو والا دی ، هغه لره

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ② هُوَ

دی حکومت دآسمانونو اودمځکی ژوندی کوی او مړه کوی ، او هغه په هرڅه قادر دی هغه دی ټولو

الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ③ هُوَ

څخه اول او ټولو آخر او ظاهر او باطن ، او هغه په هرڅه پوهه دی ، هغه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی

چا چی جوړکړل آسمانونه او مځکه په شپږو ورځو کی بیا قائم سو په عرش

الْعَرْشِ ؕ یَعْلَمُ مَا یَلِجُ فِی الْاَرْضِ وَمَا یَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا یَنْزِلُ

، پیژنی هغه چی ننوزی په مځکه کی ، او په هغه چی راوزی ددې څخه اوڅه چی نازلیږي

مِنَ السَّمَآءِ وَمَا یَعْرُجُ فِیْهَا ؕ وَهُوَ مَعَكُمْ اَیْنَ مَا كُنْتُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

دآسمان څخه اوڅه چی خیژی ده ته ، اوهغه تاسی سره دی کوم ځای چی تاسی یاست ، او الله ﷻ

تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ۝۴ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاِلَی اللّٰهِ تُرْجَعُ

په هغه څه چی تاسی کوی لیدونکی دی ، هغه لره دی حکومت داسمانونو او دمځکی ، اوالله ﷻ ته واپسی ده

الْاُمُوْرُ ۝۵ یُوْلِجُ الَّیْلَ فِی النَّهَارِ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیْلِ ؕ وَهُوَ

دټولو کارونو ، ننباسی شپه په ورځ کی اوننباسی ورځ په شپه کی ، او هغه پوهه دی

عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝۶

د زړونو په رازونو .

لنډتفسیر: دالله ﷻ پاکی بیانوی څه چی په آسمانونو اومځکه کی (مخلوقات) دی (په زبان قال یاپه زبان حال سره) اوهغه زبردست (او) حکمت والا دی ، دهغه حکومت دی په آسمانونو اومځکه کی هغه ژوند ور کوی او(هغه) مرګ ورکوی اوهغه په هرڅه قادر دی هم هغه (دټول مخلوق څخه) مخکی دی اوهغه (به دټولو ذاتی یا صفاتی فناکیدوڅخه) وروسته (هم وی یعنی په هغه نه دمخکی څخه څه عدم راغلی دی اونه اینده په څه درجه کی پرده دعدم راتلوڅه امکان سته په دی وجه دټولو په اخرکی هم هغه دی) اوهغه (دمطلق وجودپه اعتبار سره ازروی دلائل نهایتی) ظاهردی اوهغه (دذات دحقیقت په اعتبار سره نهایت) پټ دی (یعنی څوك دهغه دذات ادراك نه سی کولی) او (که څه هم هغه په خپله خوداسی دی چی مخلوق ته په یوحیثیت سره معلوم دی اوپه یوحیثیت سره غیرمعلوم لیکن ټول مخلوق من کل الوجوه هغه ته معلوم دی) اوهغه دهرشی ښه پیژندونکی دی (او) هغه داسی (قادر) دی چی هغه آسمانونه اومځکی په شپږو ورځو (مقدار زمانه) کی پیدا کړل بیاپرعرش (کوم چی مشابه دی دتخت دسلطنت سره داسی) قائم سو (اوجلوه فرماسو ، څنګه چی دده دشان سره لائق دی او) هغه هرڅه پیژنی کوم شیان چی په مځکه کی

Maktaba Tul Ishaat.com

داخليږي (مثلاً باران) اوکوم شيان چي ددی څخه راوزی (مثلاًنباتات) اوڅه شی چی دآسمان څخه نازليږي اوڅه چي ورته خيژی (مثلاًملائکی چي خيژی کښته کيږی اومثلاً احکام دکومو چي نزول کيږی اوعملونه دبندګانوچي پورته خيژی) او(لکه څنګه چي ددی شيانوهغه ته علم دی ، دغه شان ستاسی تول حالات هم هغه ته معلوم دی چنانچی) هغه (دعلم اواطلاع په اعتبار سره) ستاسی سره وی ، برابره خبره ده که تاسی خلک هرځای چي ياست (يعنی تاسی په هيڅ ځای کی دهغه څخه پټ نه سی پاته کيدی) او هغه ستاسی توله عملونه هم وينی ، دهغه حکومت دی په آسمانونوکی اوپه مځکه کی اودالله ﷻ طرف ته دتولو کارونو (جوهريه اوعرضيه) واپسی ده (يعنی په قيامت کی به پيش سی ، په دی کی دتوحيد سره ضمنًا دقيامت هم اثبات وسو) هم هغه (دَ شپی (اجزاء) په ورځ کی داخلوی (چي په دی سره ورځ لويه سی اوهم هغه (دَ ورځی (اجزاء) په شپه کی داخلوی (چي په دی سره شپه لويه سی) او (ددی قدرت سره دهغه علم داسی دی چي) هم هغه دزړه خبری پيژنی .

معلومات اومسئلي (دسورة حديد ځينې خصوصيات)

پنځو سورتونو ته په حديث کی مسبحات ويل سوی دی دکومو په شروع کی چی سَبَّحَ يايُسَبِّحُ راغلی دی په هغه کی اولنی دا سورة حديد دی ، دوهم حشر، دريم صف ، ځلورم جمعه ، پنځم تغابن ، په ابوداود، ترمذی اونسايی کی دحضرت عرباض بن ساريه (رض) څخه روايت دی چی نبی کريم ﷺ به دشپی دبيده کيدو څخه مخکی دامسبحات ويل او دوی ارشاد فرمايی چی په دی کی يو ايت داسی دی کوم چي دزرو آيتونو څخه افضل دی ، ابن کثير ددی روايت نقل کولو څخه وروسته فرمايی چی دغه افضل آيت دسورة حديد دا آيت دی . هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ .

ددی پنځوسورتونوڅخه په درو يعنی حديد ، حشر اوصف کی خولفظ دَسَبَّحَ په صيغه دماضی راغلی دی اوپه اخری دوه يعنی جمعه اوتغابن کی يُسَبِّحُ په صيغه دمضارع په دی کی اشاره دی طرف ته کيدی سی چی دالله ﷻ تسبيح اوذکرپه هره زمانه هروخت ماضی مستقبل اوحال کی جاری ساتل په کاردی (مظهری)

(دشيطاني وسوسو علاج)

حضرت ابن عباس ؓ فرمايی چی که چيری ستاسی په زړه کی دالله ﷻ اودحق دين په معامله کی شيطان څه وسوسه وغورځوی نودا آيت په پټه ووايه ، هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ : ددی آيت په تفسير او د اول او اخر، ظاهر اوباطن په معنٰی کی دمفسرينو حضراتو دلسو څخه زيات اقوال نقل دی ، په کومو کی چی هيڅ تعارض نسته دتولوګنجائش سته ، دلفظ داول معنٰی خوتقريبًاچی متعينه ده ، يعنی دوجود په اعتبار سره دتولو موجوداتو اوکائناتو څخه مقدم اواول دی ، ځکه چی تول موجودات دده څخه پيدا سوی دی ، په دی وجه هغه دتولوڅخه اول دی او داخر معنٰی ځينو حضراتو دا کړی ده چي دتولو موجوداتو دفنا کيدو څخه وروسته هم هغه به باقی وی لکه چی په آيت ، كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ : کی ددی وضاحت دی او دفنا څخه مراد عام دی ، برابره خبره ده که فناء اوعدم قوع وسی لکه چي دقيامت په ورځ به عام مخلوقات فناء سی يا دفنا وقوع نه وی ، مګر ددی فنا اوعدم ممکن وی اوهغه په خپل ذات کی دعدم دخطری څخه خالی نه وی ، دی ته دموجود کيدو په وخت کی هم فانی ويل کيږی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی مثال جنت او دوزخ اوپه دی کی داخلیدونکی ښه اوبد انسانان دی چی د دوی وجود به فنا کیږی نه ، مگر سره دفنا دنه واقع کیدو امکان اواحتمال دفناء څخه بیاهم خالی نه دی ، صرف دحق تعالی ذات دی په کوم چی په هیڅ حیثیت اوهیڅ مفهوم سره نه مخکی کله عدم راغلی دی اونه اننده کله ددی امکان سته ، په دی وجه ده ته دتولو څخه اخر ویل کیږی .

اوامام غزالی رحمه الله فرمایی چی حق تعالی ته اخر په اعتبار دمعرفت ویل سوی دی چی دتولو څخه اخری معرفت دهغه دی ، انسان په علم او معرفت کی ترقی کوی ، مگر دا تولی درجی کومی چی ده ته حاصلی سوی ، دلاری مختلفی منزلونه دی ، ددی انتها او اخری حد دحق تعالی معرفت دی (روح المعانی)

او دظاهر څخه مراد هغه ذات دی کوم چی په خپل ظهور کی دتولو شیانو څخه فائق اوبرتر وی اوظهور چونکه دوجود فرع ده نو کله چی دحق تعالی وجود پر تولو موجوداتو باندی فائق اومقدم دی، دده ظهور هم په تولوباندی فائق دی چی دده څخه زیات په دی عالم کی څه شی ظاهر نسته ځکه چی دده دحکمت اوقدرت مظاهر ددنیا په هره هره ذره کی ښکاره دی اوبَاطِنْ دخپل ذات دحقیقت په اعتبار سره دی چی دده حقیقت ته دچا دعقل اوخیال رسایی نه سی کیدی .

ای برتراز قیاس وگمان وخیال ووهم وزهر چی دیده ایم وشنیدیم وَخوانده ایم
ای بیرون ازجمله قال وقیل من خاك بر فرق من وتمثیل من

ترجمه: ۱: ای الله ته زمونږ دقیاس ، گمان، وهم اوخیال څخه بالاتر یی ، اوڅه چی مونږ لیدلی ، او ریدلی او ویلی دی ، ددی تولوڅخه ستا ذات بالاتر دی ، ۲: ای هغه ذاته ! ستا احاطه مونږ په هیڅ قیل اوقال سره نه سو کولی او ستاپه باره کی زمونږ مثالونه بیانول او فرقونه ښوول عبث دی)

وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ : یعنی الله ﷻ ستاسی سره دی ، تاسی چی هر چیری یاست ، ددی معیت حقیقت اوکیفیت دیومخلوق دعلم په احاطه کی نه سی راتلی مگر ددی وجود یقینی دی ، ددی څخه بغیرنه دانسان وجود قائم پاته کیدی سی نه څه کار دده څخه کیدی سی ، دده په مشیت اوقدرت سره هرڅه کیږی کوم چی په هرحال او هرځای کی دهر انسان سره دی ، والله تعالی اعلم

اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ؕ

ایمان راوړی په الله او دهغه په رسول اوخرڅ کوی دهغه څخه چی تاسی یی خپل نائبان کړی یاست په هغه کی

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝۷

نو کوم چی ایمان راوړی په تاسی کی اوخرڅ کوی ددغو لوی ثواب دی ،

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ

اوتاسی ته څه سوی دی چی ایمان نه راوړی په الله اودهغه په رسول بولی تاسی چی ایمان راوړی په خپل رب

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَدْ اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸﴾ هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى

او اخستی یی دی تاسی څخه وعده که تاسی منونکی یاست ، (الله) هغه ذات دی چی نازلوی په خپل

عَبْدِهٖۤ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ

بنده ایتونه واضح چی را وباسی تاسی دتیارو څخه رنا ته ، او الله ﷻ په تاسی

بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹﴾ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ

نرمی کوونکی مهربانه دی ، اوځه سوی دی تاسی چی نه خرڅوی په لاره دالله کی او الله ﷻ ته

مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ

پاته کیږي هرڅه چی په آسمانونو او په مځکه کی دی ، برابر نه دی په تاسی کی چاچی خرڅ کړی دی دفتح

الْفَتْحِ وَقٰتَلَ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ

(مکه) څخه مخکې او جنګ یی کړی دی ، ددغو خلقو درجه غټه ده دهغو څخه چی خرڅ کوی ددی څخه وروسته

وَقٰتَلُوْا ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۰﴾

او جنګ کوی ، او دټولو سره وعده کړی ده الله نیك ، او الله ﷻ خبر دی څه چی تاسی کوی ،

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗۤ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۱﴾

څوك دی داسی چی قرض ورکی الله ﷻ ته په ښه شان سره بیابه یی هغه دوچنده کړی ده لره اوده ته به ورکول کیږي ثواب دعزت

لنډتفسیر: تاسی خلک په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان راوړی او (چی ایمان راوړی نو) په کوم مال کی چی هغه تاسی دنورو قائمقام جوړکړی یاست ، دهغه څخه (دهغه په لاره کی) خرڅ کوی (په دی عنوان داستخلاف کی دی طرف ته اشاره ده چی دامال ستاسی څخه مخکی دبل چاسره وو او دغه شان به ستاسی څخه وروسته دبل لاس ته ولاړسی نوکله چی داهمیشه پاته کیدونکی نه دی نو دا دغه شان جمع کول اوساتل اوپه ضروری مصرف کی یی نه خرڅ کول ، دحماقت څخه ماسوا نورڅه دی) نو (ددی حکم موافق) چی کوم خلک په تاسی کی ایمان راوړی او (دایمان راوړلوڅخه وروسته دالله ﷻ په لاره کی) خرڅ کوی دهغوی دپاره لوی ثواب دی او (کوم خلک چی ایمان نه راوړی ددغوڅخه مونږ پوښتنه کوو چی) تاسی ته ددی څه سبب دی چی تاسی په الله ایمان راوړی (په دی کی ایمان بالرسول هم راغلی) حال دا دی چی (دایمان راوړلو قوی دواعی موجود دی، هغه دا چی) رسول (ﷺ دکوم رسالت چی په دلیلونو

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ثابت دی، تاسی ددی خبری طرف ته را بولی چی تاسی په خپل رب (دده ددرکول سوی تعلیم مطابق) ایمان راوړی (یو داعی خو دا سو) او (بل داعی دا دی چی) په خپله خدای ستاسی څخه (دایمان راوړلو میثاق په، اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ) عهد اخیستی وو (چی اجمالی اثریی ستاسی په فطرت کی هم موجود دی او دالله ﷻ رسول چی کومی معجزی اودلیلونه راوړی دی هغه هم ددی یاد دهانی وکړه نو) که تاسی ایمان راوړی (نودا دواعی کافی دی ، کنی نو بیا دایمان راوړلو دپاره دکوم داعی انتظار دی ، لکه دا قول دالله ﷻ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ وَآيَاتِهِ يُؤْمِنُونَ : مخ ته ددی مضمون وَالرَّسُولُ الخ نوره تشریح ده چی) هغه داسی (رحیم) دی چی په خپل بنده (خاص محمد ﷺ) صفا صفا ایتونه رالیږی (کوم چی دحسن عبارت اوخاص اعجاز په وجه په واضح مقصود دلالت کوی) چی هغه (خاص بنده) تاسی دَ (کفر اوجهل دَ) تیاروڅخه (دایمان اوعلم دحقیقتونو) درنا طرف ته راولی (لکه داقول دالله ﷻ دی ، لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ) اوبیشکه الله ﷻ ستاسی په حال لوی مشفق مهربانه دی (چی هغه داسی دتیارو څخه را ایستونکی ستاسی طرف ته راولیږی) او (په دی مضمون کی خو پرایمان راوړلو سوال وو اوس دالله ﷻ په لاره کی په خرڅ نه کولو سوال دی چی مونږ پوښتنه کوو چی) ستاسی دپاره ددی کوم سبب دی چی تاسی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ نه کوی حال دا دی چی (ددی هم یوقوی داعی دی هغه داچی) ټول آسمانونه اومځکه به په اخرت کی الله ﷻ ته پاته سی (کله چی ټول مالکان مړه سی اوهغه پاته سی، نو کله چی به دټولو مالکانو څخه یوه ورځ پاته کیږی نو په خوشحالی سره یی ولی نه ورکوی چی ثواب یی هم وسی او دآسمان ذکر کول سره ددی چی هیڅ یومخلوق هم ددی مالك نه دی، شاید ددی نکتی دپاره وی چی لکه څنګه چی آسمان بغیر دشرکت څخه دده ملك دی، دغه شان مځکه هم دحقیقت په اعتبارسره خوفی الحال هم دهغه ملك دی اواخربه په ظاهری طورهم دده په ملك کی پاته سی، دامضمون دلفظ دمُستخلفین دشرح په طور وسو، مخ ته دخرڅ کوونکو ددرجو تفاضل ښیی چی که څه هم چی خرڅ کول په دې وجه چی امریی سوی دی دهر یوه دپاره کوم چی ایمان راوړی خرڅ کوی موجب داجردی ، لیکن بیاهم تفاوت دی ، هغه دا چی) کومو خلګو دمکی دفتح څخه مخکی (دالله ﷻ په لاره کی) خرڅ کړی دی او (دالله ﷻ په لاره کی) جنګ یی کړی دی (اوکوم چی دمکی دفتح څخه وروسته وجنګیدل اوخرڅ یی وکی دواړه) برابرنه دی (بلکه) هغه خلګ په درجه کی دهغه خلګو څخه زیات دی کوموچی (دمکی دفتح څخه) وروسته خرڅ وکی اوجنګ یی وکی او (همسی خو) دالله ﷻ دښیګړی (یعنی ثواب) وعده دټولو سره کړې ده اوالله ﷻ ته ستاسی دټولوعملونو پوره خبردی (په دی وجه ثواب به ددواړو وختونوپه عمل ورکوی ، په دی وجه کوموخلګوته چی موقع دمکی دفتح څخه مخکی دخرڅ کولو حاصله نه سوه هغوی ته هم ترغیبًا وایو چی) څوك دی هغه کوم چی الله ﷻ ته په ښه شان (یعنی په خلوص سره) دقرض په طور ورکړی ، بیابه خدای ﷻ دا (د ورکړل سوو ثواب) ددی سړی دپاره دوچنده کوی او (ددو چندی سره) دهغه دپاره ښه اجر (تیار سوی) دی (په دوچنده کولو سره یی دمقدار زیاتول بیان کړل اوپه لفظ دکریم سره ددی جزا دکیفیت دښه والی طرف ته اشاره ده)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي : وَلَقَدْ اَخَذَ مِيثَاقَكُمْ : ددی څخه میثاق ازل هم مراد کیدی سی ، کله چی الله ﷻ دمخلوقاتو دپیدا کولو څخه مخکی په وجودکی راتلونکی ټول ارواحان جمع کړل د دوی څخه یی دالله ﷻ درب العلمین کیدو اقرار اوعهد اخیستی وو چی ذکر یی په قرآن کریم کی د ، اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى : په الفاظو سره راغلی دی او دا هم کیدی سی چی ددی میثاق څخه هغه عهد اومیثاق مراد وی کوم چی دټیرو انبیاوو علیهم السلام او د دوی دامتونو څخه په خاتم الانبیاء ﷺ باندی دایمان راوړلو او دده دمدد کولو په حقله اخیستل سوی دی چی ذکر یی دقرآن کریم په دی آیت کی راغلی دی ، ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُوْلٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ قَالُوْا اَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ (آل عمران ، ۸۱)

اِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ : یعنی که تاسی مومنان یاست ، دلته دا سوال پیدا کیږی چی داکلام دهغو کفارو سره دی دکومو په نه مومن کیدو چی خبرداری ددی څخه مخکی راغلی دی ، وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ : بیا دوی ته دا ویل څنګه صحیح سوه چی که تاسی مومنان یاست ؟

جواب دا دی چی کفار او مشرکان هم په الله ﷻ باندی دایمان خو مدعی وه ، دبتانو په باره کی به یی دا ویل چی مونږ د دوی عبادت څکه کوو ، چی دوی به دالله ﷻ په مخکی زمونږ سفارش کوی ، مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى : نو مطلب دایت دا سو چی تاسی چی کوم په الله ﷻ دایمان لرلو دعوی کوی ، که ستاسی دا دعوی رښتنی وی نو بیا دایمان بالله صحیح اومعتبر صورت اختیار کی ، کوم چی ددی څخه بغیر نه سی کیدی چی په الله ﷻ دایمان راوړلو سره دهغه په رسول هم ایمان راوړی .

وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : میراث په اصل کی هغه ملکیت ته ویل کیږی کوم چی داولنی مالك دمرګ څخه وروسته دده وروسته ژوندیو وارثانوته حاصلیږی او دامالك جبری وی که مرکیدونکی غواړی اوکه نه غواړی کوم چی وارث وی،ملکیت دهغه طرف ته منتقل کیږی،دلته دالله ﷻ ملکیت دآسمان اومځکی دمیراث په لفظ سره په تعبیر کولوکی دا حکمت دی چی که تاسی غواړی اوکه نه غواړی دکوم شی چی نن تاسی مالکان ګڼل کیږی دغه ټول به په اخرکی دحق تعالی خاص ملکیت ته منتقل سی مراد دادی چی که څه هم حقیقی مالك دعالم دټولو اشیاوو مخکی هم حق تعالی وو ، مګرده په خپل فضل سره دځینی شیانوملکیت ستاسی په نوم کړی وو اواوس به دغه ظاهری ملکیت سی، په دی وجه داوخت کله چی تاسی ته ظاهری ملکیت حاصل دی که تاسی یی دالله ﷻ په نوم خرڅ کړی نوددی بدله به تاسی ته په اخرت کی حاصلیږی ، دغه شان به ګویا دالله ﷻ په لار کی دخرڅ سوی شی ملکیت ستاسی دپاره دائمی سی .

په ترمذی کی دحضرت عائشه ؓ څخه روایت دی چی یوه ورځ مونږ یوه بزه ذبح کړه ، چی اکثره حصه یی تقسیم سوه ، صرف یولاس (ولی) یی دکور دپاره پرې نښووی، نبی کریم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چی آیا دبزی په غوښوکی دتقسیموولو څخه وروسته څه باقی پاته سوی دی ؟ ماعرض وکی چی یولاس (ولی) پاته دی نو دوی وفرمایل چی دا ټوله بزه باقی پاته سوه، صرف دغه یولاس یی باقی پاته نه سوکوم چی تاسی باقی ګڼی ، څکه چی ټوله بزه دالله ﷻ په لاره کی خرڅ سوه ، دغه به دالله ﷻ سره ستاسی دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

باقی وی او دا لاس کوم چی دی دځان دپاره اینبی دی، په اخرت کی هیڅ معاوضه نسته ، ځکه چی دا به دلته ختم سی (مظهری)

په تیرو ایتونوکی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو دتاکید بیانولو ځخه وروسته په راتلونکی آیت کی دانبوول سوي ده چی دالله ﷻ په لاره کی چی هرڅه په هر وخت کی هم خرڅ سی ، ثواب خو به دهر یوه په هرحال کی حاصلیږی لیکن دثواب په درجوکی به دایمان اواخلاص اومسابقت په اعتبار سره فرق وی په دی وجه فرمایی .

لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ یعنی په مسلمانانوکی فی سبیل الله مال خرڅ کوونکی دوه قسمه خلګ دی یوهغه چی دمکی دفتح ځخه مخ ته یی ایمان راوړی دی او دایمان راوړلو ځخه وروسته یی دالله ﷻ په لاره کی مال خرڅ کی ، دوهم هغه چی کوم دمکی دفتح ځخه وروسته په جهادکی شریك سول او دفی سبیل الله جهادپه خرڅ کولوکی هم ، دادواړه قسمونه دالله ﷻ په نزدبرابرنه دی بلکه دثواب ددرجو په اعتبارسره په دوی کی تفاضل دی ، دمکی دفتح ځخه مخکی دایمان راوړونکو اوجهاد کوونکو اوخرڅ کوونکو درجه دثواب په اعتبار سره لویه ده ، دبل قسم ځخه یعنی کوموخلګوچی دمکی دفتح ځخه وروسته په اسلامی خدمتونوکی شرکت وکی .

(دمکي فتح دصحابه کرامو ﷺ ددرجو متعین کولو دپاره دحد فاصل مقررولو حکمت)

په ذکر سوو آیتونو کی حق تعالی دصحابه کرامو ﷺ دوی طبقی مقرره کړی دی یوه هغه کومه چی دمکی دفتح ځخه مخکی مسلمانان سول او په اسلامی خدمتونوکی یی حصه واخیسته ، دوهم هغه خلګ کومو چی دمکی دفتح ځخه وروسته دا کار کړی دی دمخکنیو خلګو دمقام په نسبت دنورو خلګو دالله ﷻ په نزد دلوړیدو اعلان په دی آیت کی فرمایل سوی دی ،

دمکی فتح په دی دواړو طبقوکی دحد فاصل مقررولو کی یو لوی حکمت دا دی چی دمکی مکرمی دفتح ځخه مخکی دسیاسی حالاتو او ظاهرو اسبابو په اعتبار سره دمسلمانانو فناء اوبقاء اوداسلام دژیاتیدو خپریدو یا دډیرو تحریکونو په شان دمړ کیدو احتمالات په ظاهرو نظرونوکی په یوډول انداز سره ګردش کوی ددنیا هوښیاران خلګ په یو داسی جماعت یاتحریك کی شرکت نه کوی دکوم دشکست خوړو یاختمیدو خطره چی په مخکی وی ، دانجام انتظار کوی کله چی دکامیابی امکانات واضح سی نوشریکیږی ، اوځینی خلګ که څه هم دا حق اوصحیح ګڼی لیکن دمخالفینو دازارونو دبیری اودخپلی کمزوری په سبب دشرکت کولو همت نه کوی ، لیکن باعزم اوباهمته خلګ کوم چی کومه نظریه اوعقیده صحیح اوحقه ګڼی اوقبلوی یی ، هغه دفتح اوشکست اوپه جماعت کی پرکموالی اوډیروالی باندی دنظر کولو ځخه بغیر ددی دقبلولو طرف ته منډی وهی .

دمسلمانانو قلت اوکمزوری او ددی په وجه دمشرکانو دازارونوسلسله وه خصوصاً داسلام دابتداء په وخت کی چی داسلام اوایمان اظهار کول دخپل مرګ سره لوبی کول اودخپل کور اواهل دهلاکت دپاره دپیش کولو مترادف وو ، داظاهره ده چی په داسی حالاتوکی چی اسلام قبول کی ، خپل ځانونه یی په خطره کی واچول اوبیا دنبی کریم ﷺ په مدد کی او ددین په خدمت کی یی خپل ځانونه اومالونه ولګول ،

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوی ایمانی قوت او اخلاص عمل ته نور خلګ نه سی رسیدی .
کرار کرار حالات بدلیدل ، مسلمانانوته قوت حاصلیدی تردی چی مکه مکرمه فتح سوه ، په ټولو عربو باندی داسلام حکومت قائم سو، دغه وخت لکه چی په قرآن کریم کی ذکر دی ، يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللهِ أَفْوَاجًا: یعنی خلګ دالله ﷻ په دین کی ډلی ډلی داخلیږی ، ددی ظهور وسو، ځکه چی ډیروخلګو داسلام په حقوالی خو یقین درلودی ، مګر دخپلی کمزوری اوداسلام دمخالفینو دقوت اوشوکت او ددوی دازارونو دبیری څخه داسلام او ایمان په اظهارکی پس اوپیش کیدل ، اوس د دوی دلاری څخه دابندیز لیری سو نو فوج په فوج راتلل په اسلام کی داخل سوه ، دقرآن کریم دی آیت د دوی هم اکرام او احترام وکی او د دوی دپاره یی هم دمغفرت او رحمت وعده ورکړي ده ، لیکن دا یی وښوولە چی دهغو درجه او مقام دهغو خلګو سره نه سی برابریدی ، کومو چی دخپل همت او اولو العزمی اوقوت ایمان په سبب دازارونو اومخالفتونو دخوف اوخطری پرواه ونه کړه، داسلام اعلان یی وکی او په سخت وخت کی داسلام په کار ورغلل .
لنډه دا چی دعزم اوهمت اودایمان دقوت ددرجو متعین کولو دپاره دمکی دفتح څخه مخ کی او وروسته حالات دیوحد فاصل حیثیت لری ، په دی وجه په ذکر سوی آیت کی یی وفرمایل چی دا دواړی طبقی برابریدی نه سی .

(دټولو اصحابو ﷺ دپاره دمغفرت اورحمت خوشخبری او دصحابه کرامو ﷺ دباقي امت څخه امتیاز)

په ذکر سوو ایتونوکی که څه هم دصحابه کرامو ﷺ په مینځ کی ددرجو دتفاضل ذکر سوی دی لیکن په اخرکی فرمایی ، وَكُلًّا وَعَدَ اللهُ الْحُسْنٰى : یعنی سره ددی چی د دوی په مینځ کی دمرتبو فرق دی الله ﷻ دحسنٰی یعنی دجنت او مغفرت وعده دټولوسره کړي ده ، دا وعده دصحابه کرامو ﷺ دهغه دواړو طبقو دپاره ده کومو چی دمکی دفتح څخه مخکی او وروسته دالله ﷻ په لاره کی خرڅ وکی او داسلام دمخالفینو مقابله یی وکړه ، په دی کی تقریبًا دصحابه کرامو ﷺ پوره جماعت شاملیږی ، ځکه چی داسی افراد خو ډیر کم کیدی سی کومو چی دمسلمانیدو باوجود دالله ﷻ دپاره خرڅ نه وی کړی او داسلام دمخالفینو په مقابله او مقاتله کی هم نه وی شریك سوی ، په دی وجه دقرآن کریم دمغفرت او رحمت دا اعلان دصحابه کرامو ﷺ دپوره جماعت دپاره عام اوشامل دی .
ابن حزم رحمه الله فرمایی چی ددی سره دقرآن بل آیت دسورة انبیاء یوځای کړه په کوم کی چی یی فرمایلی دی، إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنٰى أُولٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ۝ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنْفُسُهُمْ خَالِدُونَ یعنی دکومو خلګو دپاره چی مونږ حسنٰی مقرره کړي ده ، هغوی به دجهنم څخه داسی لیری اوسیږی چی دهغه تکلیف ورکوونکی اوازونه به هم د دوی غوږونو ته نه رسیږی او په خپل زړه پوری نعمتونوکی به همیشه همیشه اوسیږی .

دبحث لاندی په آیت کی ، كُلًّا وَعَدَ اللهُ الْحُسْنٰى : ذکردی ، اوپه دی آیت کی دکومو دپاره چی دحسنٰی وعده ده ، دهغوی دپاره دجهنم داور څخه ډډیرلیری اوسیدو اعلان دی ، ددی مطلب دا دی چی قرآن کریم ددی ضمانت ورکی ، دصحابه کرامو ﷺ سابقینو اواخرینو څخه دیوچا څخه هم که په ټول عمرکی

Maktaba Tul Ishaat.com

څه ګناه سوی هم وی ، نوقآئم نه پرپاته کیږی ، توبه به یی کړی وی یابیا دنبی کریم ﷺ دصحبت اونصرت او ددین دعظیمو خدمتونو او د دوی دبی شمیره نیکیو په وجه الله ﷻ دوی معاف کړی دی او د دوی مرګ د دوی دګناه دمعاف کیدو څخه مخکی نه دی سوی یاددنیا مصیبتونه اوافتونه اودزیات څخه زیات په برزخ کی څه تکلیف د دوی دګناهونو کفاره سی .

اوپه کومو احادیثو کی چی په ځینو صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی دمرګ څخه وروسته دعذاب ذکر راغلی دی هغه داخرت عذاب او دجهنم عذاب نه دی ، برزخی یعنی دقبر عذاب دی ، دا څه بعیده نه ده چی په صحابه کرامو رضی الله عنهم کی دچا څخه څه ګناه وسوه اواتفاقًا دتوبی کولو اودهغه څخه دپاکیدو موقع ورته حاصله نه سوه نو دی دبرزخی عذاب په ذریعه پاکول کیږی چی دا خرت عذاب نه وی باندی .

(دصحابه کرامو رضی الله عنهم مقام دقرآن او حدیث څخه پیژندل کیږی دتاریخي روایتونو څخه نه سي پیژندل کیدی)

لنډه دا چی صحابه کرامو رضی الله عنهم دعام امت په شان نه دی هغوی دنبی کریم ﷺ اوامت په مینځ کی دالله ﷻ جوړه کړل سوی یوه واسطه ده ، د دوی څخه بغیرنه امت ته دقرآن درسیدو څه لارسته اونه دقرآن دمعانیو او دنبی کریم ﷺ دتعلیماتو ، په دی وجه په اسلام کی د دوی یو خاص مقام دی ، دتاریخ دکتابونو درطب اویابس څخه د دوی مقام نه سی پیژندل کیدی ، بلکه دقرآن اوسنت په ذریعه پیژندل کیدی سی .

په دوی کی که دچا څخه څه خطاهم کیږی نو اکثره هغه اجتهادی خطاوی په کومه چی څه ګناه نه وی بلکه دصحیح احادیثوپه وضاحت سره یواجرحاصلیږی اوکه فی الواقع څه ګناه هم وسی نواول خوهغه د دوی دټول عمر دنیکو عملونو اودنبی کریم ﷺ او داسلام دنصرت اوخدمت په مقابله کی دنیست حیثیت لری بیاپه هغوی کی دبیری اوخوف خدا داحالت وو چی په معمولی ګناه سره به رپیدل اوفوراً به یی توبه کښله اوپه خپل نفس به یی ددی دسزا دجاری کولو دپاره به یی کوشش کوی ، چابه څان دجمات دستنی سره تړی اوترڅو پوری چی به یی دتوبی قبلیدو یقین نه ووسوی بندبه وو اوبیاپه دوی کی دهریوه نیکی دومره دی چی هغه په خپله دګناهونو کفاره کیدی سی په دی ټولو سربیره دا چی الله ﷻ د دوی دخطاګانو دمغفرت عام اعلان په دی آیت اونوروایتونو کی وفرمایی اوصرف مغفرت نه بلکه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ : یی وفرمایل او دخپلی رضایی هم سند ورکی ، په دی وجه د دوی په مینځ کی چی کوم اختلافات اومشاجرات پیښ سوی دی دهغه په وجه دوی ته څه بد ویل یاپه دوی لعن طعن کول قطعًا حرام اودنبی کریم ﷺ دارشاد مطابق دلعنت موجب اوخپل ایمان په خطره کی غورځول دی ، نعوذ بالله منه .

نن صبا دتاریخ د درواغو اورښتیا قوی اوضعیف روایتونو په بنا چی کوم ځینو خلګو حضرات صحابه رضی الله عنهم مورد دطعن اوالزام جوړ کړی دی اول خو ددغو بنیاد چی پر تاریخی روایتونو دی ، دغه بنیاد متزلزل دی اوکه په څه درجه کی دغه روایتونه قابل التفات هم ومنل سی ، نو دقرآن اوحدیث دښکاره ارشاداتو خلاف دهغه هیڅ حیثیت نه پاته کیږی هغه ټول مغفور دی .

(دصحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کي کي دپوره امت اجماعي عقیده)

داده چی دټولوصحابه کرامو رضی الله عنهم تعظیم اوتکریم د دوی سره محبت ساتل د دوی مدح اوثنا کول واجب دی اوددوی په مینځ کی چی کوم اختلافات اومشاجرات پیښ سوی دی دهغه په معامله کی سکوت کول او

Maktaba Tul Ishaat.com

خوك مورد دالزام نه جوړول لازم دی داسلامی عقیدوپه ټولوکتابونوکی ددی اجماعی عقیدی وضاحتونه موجوددی دامام احمد رساله کومه چی په روایت داصطخری معروفه ده دهغه ځینی الفاظ دا دی .

لاَ يَجُوْزُ لِاَحَدٍ اَنْ يَذْكُرَ شَيْئًا مِنْ مَسَاوِيْهِمْ وَلاَ يَطْعَنُ عَلٰى اَحَدٍ مِنْهُمْ بِعَيْبٍ وَلاَ نَقْصٍ فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ وَجَبَ تَاْدِيْبُهُ (شرح العقيدة الواسطية المعروف بالدرة المضية ص ۳۸۹)

دچا دپاره جائز نه دی چی په صحابه کرامو ﷺ کی دچا دبدی ذکر وکی یا په دوی کی په یوه طعن وکی یاځه عیب یانقصان ددوی طرف ته منسوب کړی اوځوك چی داسی وکی، هغه لره سزا ورکول واجب دی .

اوابن تیمیه رحمه الله په الصارم المسلول کی دصحابه کرامو ﷺ متعلق دفضیلتونو او خصوصیتونو دډیرو ایتونو او روایتونو دحدیث لیکلو ځخه وروسته لیکی .

وَهٰذَا مِمَّا لاَ نَعْلَمُ فِيْهِ خِلاَفًا بَيْنَ اَهْلِ الْفِقْهِ وَالْعِلْمِ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالتَّابِعِيْنَ لَهُمْ بِاِحْسَانٍ وَسَائِرِ اَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ فَاِنَّهُمْ مُجْمِعُوْنَ عَلٰى اَنَّ الْوَاجِبَ الثَّنَاءُ عَلَيْهِمْ وَالْاِسْتِغْفَارُ لَهُمْ وَالتَّرَحُّمُ عَلَيْهِمْ وَالتَّرَضِّيْ عَنْهُمْ وَاعْتِقَادُ مَحَبَّتِهِمْ وَمُوَالاَتِهِمْ وَعُقُوْبَةُ مَنْ اَسَاءَ فِيْهِمُ الْقَوْلَ .

ترځو پوری چی زمونږ په علم کی ده مونږ په دی معامله کی دفقهاوو علماوو صحابه او تابعین او دټول اهل سنة والجماعت په مینځ کی څه اختلاف نه کی پیدا ځکه چی دټولو پردی اجماع ده چی پرامت واجب داده چی دټولو صحابه کرامو ﷺ مدح اوثنا کوی او د دوی دپاره استغفار کوی او د دوی ذکر دالله ﷻ درحمت اورضا سره کوی د دوی په محبت او دوستی باندی ایمان وساتی اوځوك چی د دوی په معامله کی بی ادبی کوی هغه لره سزا ورکی .

او ابن تیمیه رحمه الله په شرح دعقیده واسطیه کی دټول امت محمدی ﷺ داهل السنة والجماعة عقیده بیانوی ، دصحابه کرامو ﷺ دمشاجراتو متعلق لیکی .

وَيُمْسِكُوْنَ عَمَّا شَجَرَ بَيْنَ الصَّحَابَةِ وَيَقُوْلُوْنَ هٰذِهِ الْاٰثَارُ الْمَرْوِيَّةُ فِيْ مَسَاوِيْهِمْ مِنْهَا مَا هُوَ كَذِبٌ وَمِنْهَا مَا زِيْدَ فِيْهَا وَنُقِصَ وَغُيِّرَ وَجْهُهُ وَالصَّحِيْحُ مِنْهُ هُمْ فِيْهِ مَعْذُوْرُوْنَ اِمَّا مُجْتَهِدُوْنَ مُصِيْبُوْنَ وَاِمَّا مُجْتَهِدُوْنَ مُخْطِئُوْنَ وَهُمْ مَعَ ذٰلِكَ لاَ يَعْتَقِدُوْنَ اَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنَ الصَّحَابَةِ مَعْصُوْمٌ مِنْ كَبَآئِرِ الْاِثْمِ وَصَغَآئِرِهِ بَلْ يَجُوْزُ عَلَيْهِمُ الذُّنُوْبُ فِي الْجُمْلَةِ وَلَهُمْ مِنَ الْفَضَآئِلِ وَالسَّوَابِقِ مَا يُوْجِبُ مَغْفِرَةَ مَا يَصْدُرُ مِنْهُمْ حَتّٰى اَنَّهُمْ يُغْفَرُ لَهُمْ مِنَ السَّيِّاٰتِ مَا لاَ يُغْفَرُ لِمَنْ بَعْدَهُمْ .

اهل سنت والجماعت سکوت اختیار وی په هغو اختلافی معاملو سره کوم چی دصحابه کرامو ﷺ په مینځ کی پیښ سوی دی او وایی چی کوم روایتونه په دغوکی پرچا دعیب لګولو دی دهغه حقیقت دا دی چی ځینی خو بالکل درواغ دی اوپه ځینوکی یی کموالی او زیاتوالی کړی دی ، اصل حقیقت یی ورخراب کړی دی اوځه چی صحیح دی هغه په دغوکی معذور دی (ځکه چی هغوی چی څه کړی دی دالله ﷻ دپاره یی کړی دی اجتهاد یی کړی دی) په دی اجتهادکی یاهغوی په صحیح خبره وه (نو ددو چنده ثواب مستحق وه) یاپه خطاء وو (نو معذور او دیوه ثواب مستحق وه) ددی ټولو خبرو سره هغوی ددی ، معتقد نه دی چی هرصحابی دلویی وړی ګناه ځخه معصوم دی، بلکه دهغوی ځخه دګناهونو کیدل ممکن دی ، مګر دهغوی فضائل او داسلام عظیم الشان خدمتونه داسی دی کوم چی ددغو ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

دمغفرت مقتضی دی تردی پوری چی د دوی مغفرت او معافی به دومره وسیعه وی کومه چی به په امت کی دنورو دپاره نه وی .

په مقام صحابه د دوی په درجو اوفضیلتونو مفصل بحث دسورة فتح ترایت ، وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ اَشِدَّآءُ الخ لاندی تیر سوی دی او احقر په دی بحث یوه مفصله رساله د (مقام صحابه) په نوم سره کلی ده کومه چی جلا چاپ سوي ده ، په دی کی عدالت صحابه، مشاجرات صحابه او د دوی په باره کی دتاریخی روایتونو حیثیت او د درجی مکمل تحقیق دی ، هلته یی وگوری .

يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ

په کومه ورځ چی ته ووینی ایماندار سړی او ایمانداری ښځی چی منډی وهی د دوی رنا د دوی

اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

په مخکې ، او د دوی راسته طرف ته خوشخبری ده تاسی ته نن ورځ باغونه دی چی بهیږي به لاندی

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾ يَوْمَ يَقُوْلُ

دهغه څخه نهرونه همیشه به وی په هغه دی ، دا ده لویه کامیابی ، په کومه ورځ چی ووایی

الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ

منافقان سړی او منافقانی ښځی ایماندارو ته چی انتظار وکړی مونږ ته چی رنا واخلو ستاسی

قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ

دنور څخه وبه ویل سی ورته چی واپس سی وروسته نو ولټوی رنا ، بیا به و دورول سی د دوی په مینځ کی یو

بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴿۱۳﴾ ؕ

دیوال چی په هغه کی به دروازه وی ، دننه به په کی رحمت وی ، او دباندی طرف ته به یی عذاب وی ،

يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ

اواز به وکړی هغه ته چی آیا مونږ تاسی سره نه وو ؟ وبه وایی چی ولی نه ، لیکن تاسی په فتنه کی واچول

وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ

خانونه، اوانتظار موکوی اوپه دوکه کی لویدلی او مغروره سوی په خپلو خیالونو تردی چی راغی حکم دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ

او دوکه کړی تاسی په الله دوکه کوونکی ، نونن به تاسی څخه قبوله نه سی فدیه ورکول ، او نه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾

دکافرانو څخه ، ستاسی دټولو ځای دوزخ دی ، هغه دی ملګری ستاسی ، اوډیر بدځای دی دورتلو ،

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ

آیاوخت نه دی راغلی مؤمنانو لره چی عاجزی وکړی د دوی زړونه دالله ﷻ په یادو سره اوځه چی نازل سوی

مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ

دی دحق دین څخه او نه سی په شان دهغه چا چی کتاب ورته ورکړل سوی وو ددی څخه مخکې نو اوږده

عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ

سوه په هغوی زمانه نو سخت سول زړونه دهغوی ، او ډیر په هغوی کې نافرمانه دی ، پوهه سی چی

اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ

الله ﷻ ژوندی کوی مځکه ، وروسته دمرګ دهغه څخه ، مونږ بنکاره بیان کړی دی تاسی ته آیتونه چی تاسی

تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷﴾ اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا

پوهه سی ، بیشکه کوم خلق چی خیرات کوونکی دی سړی او ښځی اوقرض ورکوی الله ته قرض

حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ

ښه دوچنده کوی یی دوی لره او دوی لره ثواب دی دعزت ، او کوم خلق چی ایمان راوړی په الله ﷻ

رُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ۚ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ لَهُمْ

اودهغه په ټولو رسولانو دغه دی رښتینی ایماندار ، او حال احوال ښوونکی دی په نزد درب خپل د دوی دپاره

اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۹﴾

د دوی ثواب او رڼا ده ، او کوم چی کافران دی او درواغجنان یی کړل زمونږ آیتونه دوی دی د دوزخ خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: (هغه ورځ هم دیادولو ده) په کومه ورځ چې ته مسلمانان سړی اومسلمانانی ښځی وویني چې د دوی نور د دوی څخه مخکی او د دوی راسته طرف ته منډې وهی (دا نور پرپلِ صراط باندی دتیریدو دپاره به د دوی سره وی اوپه یوه روایت کی دی چې چپه طرف ته به هم وی لکه چې په درمنثورکی دی نو تخصیص دراسته طرف شایدپه دی وجه وی چې ددی طرف نوربه زیات قوی وی اونکته په دی تخصیص کی شاید دا وی چې دا به ښیانه وی د دوی دعملنامی په راسته لاس کی دورکولو اوپه مخکی نورکیدل خو پرداسی موقعو عام عادت دی او دوی ته به وویل سی چې) نن تاسی ته خوشخبری ده ددا سی باغونو چې لاندی یی نهرونه بهیږی چې په کومو کی به دوی همیشه اوسیږی (او) دالویه کامیابی ده (ظاهره ده چې دا خبره به هم دغه وخت وویل سی او دا وخت په طور دخبر ورکولو وویل سی او بُشْرٰکُمُ ویونکی غالبًا ملائکی دی ، لکه دا قول دالله ﷻ دی ، تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا الخ یابه یی حق تعالی په خپله په دی خطاب سره مشرف وفرمایی او دا به هغه ورځ وی) په کومه ورځ چې منافقان سړی اومنافقانی ښځی مسلمانانوته (په پل صراط باندی) ووایی چې (لږ) زمونږ انتظار وکی چې مونږ هم ستاسی په نور سره څه ړنا حاصله کړو (دابه هغه وخت وی کله چې مسلمانان دخپلو عملونو او ایمان په برکت سره ډیر مخ ته ولاړسی اومنافقان کوم چې په پل صراط دمسلمانانو سره ورځیژی ، وروسته په تیاره کی پاته سی ، برابره خبره ده که د دوی سره داول څخه نور نه وی یالکه چې ددر منثور په یو روایت کی دی چې د دوی سره به هم څه قدر نور وی اوبیابه هغه مړ سی اوحکمت په عطاء دنورکی دا وی چې په دنیا کی دظاهری اعمالو په اعتبار سره هغوی دمسلمانانو سره اوسیدل، مګر په اعتبار دعقیدی په زړه سره جلاوه ، په دی وجه به اول دوی ته دظاهری اعمالو په وجه سره نور حاصل سی مګر بیاپه زړه کی دایمان او تصدیق دنیست والی په سبب دغه نور ورک سی اودارنګه د دوی دتګی او دوکی جزا هم دا ده چې اول دوی ته نور حاصل سو ، بیا خلاف ګمان ورک سو ، غرض دا چې هغوی به مسلمانانو ته د دریدو دپاره ووایی) دوی ته به جواب ورکول سی (دا جواب ورکوونکی به برابره خبره ده که ملائکی یامومنان وی) چې تاسی خپل شاته واپس سی بیا (دهغه ځای څخه) ړنا ولټوی (ددُرِّ منثور دروایت مطابق، ددی شاته، څخه مراد هغه ځای دی کوم ځای دسختی تیاری څخه وروسته پرپل صراط دختلوپه وخت کی نور تقسیم سوی وو ، یعنی دنور دتقسیمدو ځای هغه دی هلته ولاړسی راوایی خلی چنانچی هغوی به هلته ولاړسی ، کله چې هلته هم څه حاصل نه سی ، بیابه دی خواته راسی) بیابه (مسلمانانوته ونه رسیږی بلکه) د دوی (فریقینو) په مینځ کی به یو دیوال قائم کړل سی ، په کوم کی چې به یوه دروازه (هم) وی (چې کیفیت یی دا دی چې) ددی په دننه طرف کی به رحمت وی او دباندی طرف ته به یی عذاب وی (ددر منثور دروایت مطابق دا دیوال اعراف دی او ددننه څخه دمومنانو جانب او ددباندی څخه دکافرانو جانب مراد دی او درحمت څخه مرادجنت دی او دعذاب څخه مراد دوزخ دی اوشاید دادروازه دخبرو اترو دپاره وی یاپه دی دروازه دجنت لاروی او داعراف زیات تحقیق دسورة اعراف په پنځمه رکوع کی تیر سوی دی غرض دا کله چې د دوی اومسلمانانو په مینځ کی دیوال حائل سی او دوی په خپله په تیاره کی پاته سی نو دغه وخت به) دغه (منافقان) هغوی (مسلمانانو) ته اواز وکی چې ایا (په دنیاکی) مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسی سره نه وو (یعنی په عملونو اوطاعتونوکی به مونږ ستاسی سره شریك وو نونن هم ملګرتیا په کار ده) هغوی (مسلمانان) به ووایی چی (هو!) واست خو لیکن (دغسی کیدل څه په کارنه رائی ځکه چی محض په ظاهرکی زمونږ سره واست او باطنی حالت ستاسی دا وو چی) تاسی خپل ځان په ګمراهی کی منبلولی وو او (هغه ګمراهی دا وه چی تاسی دپیغمبر ﷺ اومسلمانانوسره دښمنی درلوده اوپر هغوی دحادثو واقع کیدو) تاسی منتظر واست (اوخواهشمند واست) او (داسلام په حقوالی کی) تاسی شك کوی او تاسی ستاسی بی هوده ارزوګانو په دوکه کی غورځولی واست ، تردی چی پرتاسی دخدای حکم راغی (مراد دبی هوده ارزوګانو څخه دا دی چی اسلام به ختم سی او داچی زمونږ مذهب حق دی او دنجات موجب دی اومراد دخدای دحکم څخه مرګ دی یعنی تول عمر په دغه کفریاتو باندی اصرار کوونکی پاته سواست ، توبه مو هم ونه کړه) اوتاسی دوکه کوونکی (یعنی شیطان) دالله ﷻ په باره کی په دوکه کی غورځولی واست (هغه داسی چی الله ﷻ به پرمونږ مؤاخذه نه کوی ، ددی مجموعی حاصل دا دی چی ددی کفریاتو په وجه ستاسی ظاهری ملګرتیا دنجات دپاره کافی نه ده) غرض دا چی نن به نه ستاسی څخه څه معاوضه واخیستل سی اونه دکافرانو څخه (یعنی اول خو دمعاوضی ورکولو دپاره ستاسی سره څه سته نه ، لیکن بالفرض که وی هم بیابه هم نه قبلیدل ځکه چی دادار الجزاء ده ، اودار العمل نه دی او) ستاسی دټولو ځای دوزخ دی هغه ستاسی (دهمیشه دپاره) ملګری دی اوهغه (واقعی) ناکاره ځای دی (داقول، فَالْيَوْمَ الخ یاخوبه دمومنانو وی یادحق تعالی، ددی ټول بیان څخه داثابته سوه چی په کوم ایمان کی دضروری طاعاتوکمی وی ، هغه ګویا کالعدم نه دی لیکن کامل هم نه دی ، په دی وجه په راتلونکو ایتونوکی ددی دتکمیل دپاره په صورت دعتاب مسلمانانوته حکم فرمایی چی) ایا دایماندارو (څخه چی کوم خلګ په ضروری طاعاتوکی کمی کوی لکه دګناهګارو مسلمانانو حالت چی وی نو آیا د دوی) دپاره (اوس هم) ددی خبری وخت نه دی راغلی چی د دوی زړه دخدای دنصیحت اوکوم چی حق دین (دالله ﷻ دطرف څخه) نازل سوی دی (چی دغه نصیحت خداوندی دی) ددی په مخکی کښته سی (یعنی په زړه سره دضروری طاعتونو دپابندی قصد اودګناهونو دپریښوولو وکی اودی ته خشوع په معنی دسکون ځکه وویل سوه چی دزړه په مطلوبه حالت باندی پاته کیدل سکون دی اودمعصیت طرف ته تلل مشابه دحرکت دی) اوپه ذکر سوی معنی باندی په خشوع کی په وخت اړولو سره چی مطلب یی په توبه کی وخت اړول دی ، دغه) دهغو خلګو په شان نه سی کیدی کومو ته چی د دوی څخه مخکی (اسمانی) کتاب حاصل سوی وو (یعنی یهود اونصارا چی دوی هم دخپلو کتابونو دمقتضی څخه خلاف په شهواتو اونافرمانیو کی مشغولیدل شروع کړل) بیا (په دغه حالت کی) پرهغو یوه اوږده زمانه تیره سوه (اوتوبه ګارنه سول) بیا (ددی توبی په نه کولو سره) دهغوزړونه (ښه) سخت سول (چی اضطراری ندامت اوملامتیا ورته هم نه کیده) او (نوبت یی دی ته ورسیدی چی ددغه سخت دلی په وجه) دیرخلګ دهغو (نن) کافران دی (ځکه چی په معاصی باندی اصرار کول اوښه یی ګڼل اودبرحق نبی سره دښمنی اکثره سبب دکفر جوړیږی ، مطلب دا دی چی مسلمانانو لره ژر توبه کول په کار دی ، ځکه چی ځینی وخت بیادتوبی توفیق پاته نه سی اوځینی وخت کفر ته نوبت ورسیږی، مخ ته فرمایی چی که ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

خلګو په زړونوکی دګناهونو څه خرابی کمه یازیاته پیدا سوی وی نو دا ددی وهم په ربنا باندی دتوبی څخه مانع مه ګنی چی اوس به په توبی سره څه اصلاح وسی بلکه) په دی خبره پوه سی چی الله ﷻ (دداسی شان مالك دی چی هغه) مخکه ددی دوچیدو څخه وروسته ژوندی کوی (بس دغه شان په توبه کولو باندی په خپل رحمت سره مړ زړه ژوندی اوصحیح کوی نومایوسه کیدل نه دی په کارځکه چی) مونږتاسی ته (ددی) مثالونه بیان کړی دی چی تاسی پوه سی (دمثال یانمونی څخه مراد لکه چی په مدارك کی دی چی دمخکی ژوندی کول دی اوجمع راوړل یی شاید چی په وجه دتکرار دوقوع وی ، مخ ته دلوړذکرسوی خرځ کولودفضیلت ارشاد دی یعنی) بیشکه صدقه ورکوونکی سړی اوصدقه ورکوونکی ښځی اودا (صدقه ورکوونکی) الله ﷻ لره په خلوص سره قرض ورکوی هغه (به دغه) صدقه (په اعتبار دثواب) به دهغوی دپاره زیاتوی او (د دوچندی سره) دهغوی دپاره ښه اجر (منتخب سوی) دی (تفسیر ددی اوس تیرسوی دی) او (مخ ته دلوړ ذکر سوی ایمان دفضیلت ارشاد دی چی) کوم خلګ چی په الله ﷻ او دهغه په رسولانو باندی (پوره) ایمان لری (یعنی په کوموکی چی ایمان اوتصدیق او پابندی دطاعاتوپه مکمله درجه کی وی) داسی خلګ دالله ﷻ په نزد صدیقان اوشهیدان دی (چی بیان یی دسورة نسآء په نهمه رکوع کی تیر سوی دی ، یعنی دا مرتبی دکمال او دکامل ایمان په برکت نصیب کیږی او دشهید حاصل دالله ﷻ په لاره کی خپل نفس خرځ کول دی ، یعنی چی خپل ځان دالله ﷻ په لاره کی پیش کی ، که څه هم قتل نه سی ځکه چی دغه داختیار څخه دباندی ده) ددغو دپاره (په جنت کی) دهغوی (خاص) اجر او (په صراط باندی) دهغوی (خاص) نور وی او (مخ ته دکفارو ذکر فرمایی چی) کوم خلګ کافران سول او زمونږ آیتونه یی دروغجن کړل ، هم دغه خلګ دوږخیان دی .

معلومات اومسئلې: يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَى نُورُهُمْ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ (یعنی هغه ورځ دیاد ساتلوده په کومه ورځ چی ته مومنان سړی اومومنانی ښځی وویني چی د دوی نور به د دوی څخه مخکی او راسته طرف ته وی الخ)

ددی ورځی څخه مراد دقیامت ورځ ده او دا دنور عطاء کولو معامله به په پل صراط باندی دتللو څخه څه لږ مخکی راسی ، ددی تفصیل په یوحدیث کی دی کوم چی دحضرت ابو امامه باهلی ﷺ څخه روایت سوی دی ، ابن کثیر دا په حواله دابن ابی حاتم نقل کړی دی ، حدیث اوړد دی ، په کوم کی چی دا بو امامه ﷺ په دمشق کی په یوه جنازه کی شرکت او دفارغیدو څخه وروسته خلګو ته دمرګ او اخرت دیادولو دپاره پرمرګ اوقبر باندی دحشر څه حالات بیانول ذکر دی ، دهغه دځو جملو ترجمه دا ده چی .

بیابه تاسی دقبرونو څخه میدان دحشر طرف ته منتقل سی په کوم کی چی به مختلف مراحل اوموقف وی یوه مرحله به داسی راسی چی دخدای په حکم به ځینی مخونه سپین او روښانه سی اوځینی مخونه به تورسی ، بیا به یوه مرحله داسی راسی چی په میدان دحشرکی په جمع سوو ټولوخلګوچی مومنان اوکافران ټول به په کی وی یوه سخته تیاره راخپره سی چاته به هیڅ په نظر نه راځی ، ددی څخه وروسته به نور تقسیم سی هر مومن ته به نور ورکول سی (دابن ابی حاتم په بل روایت کی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه نقل دی چی په مومنانوکی به دا نور په قدر د دوی دعملونو تقسیم سی ، دچا نور به په

Maktaba Tul Ishaat.com

مثل دغر دچا دا دخرما ددرختی په شان، دچا دا دانسان دقامت به برابر وی ، دتولو څخه کم نور دهغه سړی وی ، دکوم چی به صرف په ګوته کی نور وی اوهغه به هم کله روښانه کیږی اوکله به مری (ابن کثیر) بیا ابوامامه باهلی ﷺ فرمایی چی منافقانو اوکفارو ته به هیڅ نور ورنه کول سی او فرمایی چی دا واقعه قرآن کریم دیو مثال په عنوان سره په دی آیت کی بیان فرمایلی ده .

أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ سَحَابٌ ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا وَمَنْ لَمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِنْ نُورٍ .

اوفرمایی چی مومنانوته کوم نور ورکول سی (ددغه حال به ددنیا دنور په شان نه وی چی کوم ځای نور وی نو خوا اوشا ته نور خلک ورڅخه هم فائده اخلی لکه څنګه چی یو ړوند دبل روغ دسترګو په نظر سره څه نه سی لیدی ، دغه شان دمومنانوددی نورڅخه به څوك کافر یافاسق فائده نه سی اخیستی (ابن کثیر) دحضرت ابوامامه باهلی ﷺ ددی حدیث څخه معلومه سوه چی په کوم موقف کی دسختی تیاری څخه وروسته دحق تعالی دطرف څخه په مومنانو سړو اومومنانو ښځو نور تقسیم سی نودغه وخت به منافقان اوکافران ددغه نور څخه محرومه سی او هغوی ته به هیڅ قسم نور حاصل نه سی .

مګر طبرانی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه یو مرفوع روایت دا نقل کړی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی ، په پل صراط باندی به الله ﷻ هر مومن ته نور ورکړی او هرمنافق ته هم مګرڅه وخت چی پرپل صراط ورسی نو دمنافقانو نور به ختم سی (ابن کثیر)

ددی څخه معلومه سوه چی منافقینو ته به هم په ابتداء کی نور ورکول سی مګر پل صراط ته په رسیدو به دا نور د دوی څخه واخیستل سی ، په هرحال په ابتداء کی دوی ته نور نه وی ورکول سوی یا ورکول سوی وی بیا مړ سوی وی ، دغه وخت به هغوی مومنانو ته درخواست کوی چی لږ ودریږی چی مونږ هم ستاسی دنور څخه څه فائده واخلو، ځکه چی مونږ په دنیا کی هم په لمانځه ، زکوة، حج، جهاد، تولو شیانو کی ستاسی سره شریك وو ، نو دوی ته به ددی درخواست جواب دنامنظوری په شکل کی ورکول سی چی بیان یی مخ ته راځی او دمنافقانو دحال مناسب خودا ده چی اول دوی ته هم دمسلمانانو په شان نور حاصل سی بیا لیری سی څنګه چی هغوی په دنیاکی خدای او رسول ته د دوی کی ورکولو په کوشش کی لګیدلی وه د دوی سره په قیامت کی به هم معامله داسی کول کیږی ، لکه چاته چی ددوکی ورکولو دپاره څه ړنا وښوول سی او بیا مړه کړل سی ، لکه چی د دوی په باره کی دقرآن کریم دا ارشاد دی ، يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ : یعنی منافقان الله ﷻ ته د دوکی ورکولو کوشش کوی اوالله ﷻ دوی ته دوکه ورکونکی دی ، امام بغوی فرمایی چی ددی دوکی څخه دامراد دی چی اول به نور ورکول سی ، مګر عین هغه وخت کله چی دنور ضرورت وی واخیستل به سی او دا به هغه وخت وی کله چی به مومنانو ته هم دا بیره پیښه سی چی هسی نه زمونږ څخه هم نور واخیستل سی ، په دی وجه هغوی به دالله ﷻ څخه دعا کوی چی زمونږ نور تر اخره پوری پوره کړی ، چی ذکر یی په دی آیت کی دی ، يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا، الاية (مظهری)

Maktaba Tul Ishaat.com

په مسلم ، احمد ، او دارقطنی کی دحضرت جابر بن عبدالله په مرفوع حدیث کی هم راغلی دی چی په شروع کی به مومنانو اومنافقانو دواړو ته نور ورکول سی بیا چی پل صراط ته ورسیږی نو دمنافقانو نور به لیری سی .

او په تفسیرِ قرطبی کی ددی دواړو روایتونو تطبیق داسی بیان سوی دی چی اصل منافقان کوم چی دنبی کریم ﷺ په زمانه کی وه هغوی ته به دشروع څخه دنورو کفارو په شان هیڅ نور حاصل نه سی ، مګر هغه منافقان چی دنبی کریم ﷺ دزمانی څخه وروسته په دی امت کی وی ، کومو ته چی دمنافقانو نوم څکه نه سوای ورکول کیدی چی دوحی سلسله په نبی کریم ﷺ باندی ختمه سوی وه او دچاپه باره کی بغیر دقطعی وحی څخه دا حکم نه سی لګول کیدی چی هغه په زړه سره مومن نه دی ، صرف دژبی اقرار دی په دی وجه په امت کی چاته داحق نسته چی چاته منافق ووایی، لیکن الله ﷻ خو پوه دی چی دچاپه زړه کی ایمان سته دچاپه زړه کی نسته ، نو په دوی کی چی کوم خلګ دالله ﷻ په علم کی منافقان دی که څه هم په ظاهرکی د دوی منافقت نه دی ښکاره ددغو سره به دا معامله وی چی په شروع کی به دوی ته هم نور ورکول سی وروسته به ورڅخه واخیستل سی .

دا قسم منافقان دامت هغه خلګ دی کوم چی په قرآن او احادیثوکی تحریف کوی اومعنٰی یی خرابوی او دخپل مطلب موافق یی جوړ وی (نعوذ بالله منه)

(په میدان دحشر کې دنور او تیاری اسباب)

دلته په تفسیرِ مظهری کی دقرآن اواحادیثو څخه دحشر دنور اوتیاری اسباب هم بیان سوی دی کوم چی دعلمی تحقیقاتو څخه زیات اهم دی ، هغه نقل کوم (شاید چی الله ﷻ زمونږ هم نور نصیب کړی)

۱، ابوداود ترمذی دحضرت بریده ؓ څخه اوابن ماجه دحضرت انس ؓ څخه دا مرفوع حدیث روایت کړی دی ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، خوشخبری واوروی هغو خلګو ته چی دشپی په تیاره کی مسجد ته څی ، دقیامت په ورځ دمکمل نور، او ددی مضمون روایتونه دحضرت سهل بن سعد ؓ ، زیدبن حارثه ؓ، ابن عباس ؓ، ابن عمر ؓ، حارثه ابن وهب ؓ، ابو امامه ؓ ، ابو الدرداء ؓ ، ابوسعید ؓ ابوموسٰی ؓ ابو هریره ؓ ، حضرت عائشه صدیقه ؓ وغیره صحابه کرام ؓ څخه هم منقول دی (مظهری)

۲: په مسند احمد اوطبرانی کی دحضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی .

مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوَاتِ كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورًا وَلَا بُرْهَانًا وَلَا نَجَاةً وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَهَامَانَ وَفِرْعَوْنَ.

کوم سړی چی دپنځو لمونځونو محافظت کوی (یعنی په خپلو وختونو کی یی سره دادابو پابندی ادا کوی) دده دپاره به دا لمونځ دقیامت په ورځ نور اوبرهان اونجات جوړ سی اوکوم چی په دی محافظت نه کوی ، نه به د دوی دپاره نور وی نه برهان اونه نجات اوهغه به دقارون، هامان اوفرعون سره وی .

۳: اوطبرانی دحضرت ابوسعید ؓ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی سورة کهف ووایی، دقیامت په ورځ به دده دپاره دومره نور وی چی دده دځای څخه به ترمکی مکرمی

Maktaba Tul Ishaat.com

پوری غورول سوی وی ، او په یوه روایت کی دی چی کوم سړی دجمعی په ورځ سورة کهف وایی ، دقیامت په ورځ به دده دقدمونو څخه ترآسمانه پوری نور څلیږی .

۴: امام احمد دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دقرآن یو آیت هم تلاوت کی ، دا آیت به دقیامت په ورځ دده دپاره نور وی .

۵ : دیلمی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه مرفوعًا روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، په ما درود لیږل به په پل صراط باندی دنور سبب جوړیږی .

۶ : طبرانی دحضرت عباده بن صامت ﷺ څخه داحدیث روایت کړی دی ، چی نبی کریم ﷺ دحج احکام بیانول نو ویی فرمایل چی دحج اوعمری داحرام څخه دفارغ کیدو دپاره چی کوم سرخرول کیږی نو ددی څخه چی کوم وریښته پرمځکه لویږی ، هغه به دقیامت په ورځ نور وی .

۷ : په مسند بزارکی دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه مرفوع روایت دی چی په منی کی دجمراتو رمی کول به دقیامت په ورځ نور وی .

۸ : طبرانی په سند جید سره دحضرت ابوهریره ﷺ څخه مرفوعًا روایت کړی دی چی دکوم سړی وریښته په حالت داسلام کی سپین سی ، هغه به دده دپاره په قیامت کی نور وی .

۹ : بزار په سند جید دحضرت ابوهریره ﷺ څخه مرفوعًا روایت کړی دی چی کوم سړی دالله ﷻ په لاره کی په جهاد کی یو غشی هم گذار کړی ، دده دپاره به په قیامت کی نور وی .

۱۰ : بیهقی په شعب الایمان کی په سند منقطع دحضرت ابن عمر ﷺ څخه مرفوعًا روایت کړی دی چی په بازار کی دالله ﷻ ذکر کوونکی ته به دقیامت په ورځ دده دهر ویښته په مقابله کی یو نور حاصلیږی .

۱۱ : طبرانی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه مرفوعًا نقل کړی دی چی کوم سړی دیومسلمان مصیبت اوتکلیف لیری کړی نوالله ﷻ به دهغه دپاره پرپُل صراط باندی دنور دوه شعبی جوړی کړی ، په کوم سره چی به یوجهان روښانه سی چی شمیر یی دالله ﷻ څخه ماسوا بل هیڅوك نه پیژنی .

۱۲: په بخاری اومسلم کی دحضرت ابن عمر ﷺ څخه اومسلم دحضرت جابر ﷺ څخه اوحاکم دحضرت ابوهریره ﷺ څخه اوحضرت ابن عمر ﷺ اوطبرانی دابن زیاد څخه روایت کړی دی ، دی تولو بیان کړی دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی ، اِيَّاكُمْ وَالظُّلْمَ فَاِنَّهُ هُوَ الظُّلُمَاتُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ : یعنی تاسی دظلم څخه ډیر ځانونه ساتی ځکه چی ظلم به دقیامت په ورځ تیاره اوتاریکی وی .

(الله ﷻ دی مونږ دتیارو څخه په امان کړی اوخپل کامل نوردی دقیامت په ورځ زمونږ نصیب کړی امین)

يَوْمَ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ لِلَّذِينَ آمَنُوا انْظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُورِكُمْ

(یعنی په هغه ورځ کله چی منافقان سړی اومنافقانی ښځی مومنانوته ووایی چی لږ زمونږ انتظار وکی چی مونږ هم ستاسی دنور څخه فائده واخلو)

قِيلَ ارْجِعُوا وَرَاءَكُمْ فَالْتَمِسُوا نُورًا : دوی ته به وویل سی چی واپس سی کوم ځای چی دانور تقسیم سوی وو، هلته نور تلاش کړی ، دا خبره یا خو به مومنان د دوی په جواب کی ووایی یابه ملائکی جواب ورکی (لکه چی دابن عباس ﷺ اوقتاده ﷺ څخه دوه قولونه دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُورٍ لَهُ بَابٌ بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهُ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ.

یعنی چی دمومنانو یا ملائکو جواب واوری نومنافقان به هغه ځای ته واپس سی کوم ځای چی نور تقسیم سوی وو، هلته به هیڅ نه کی پیدا نو بیا به هغه طرف ته راسی دغه وخت به دوی مومنانوته ونه رسیدی سی، بلکه د دوی او دمومنانو په مینځ کی به دیوال حائل سی چی دهغه دننه طرف ته کوم ځای چی به مومنان وی رحمت وی اوکوم طرف ته چی منافقان وی عذاب به وی.

په روح المعانی کی دابن زید ﷺ قول نقل کړی دی چی دا دیوال به اعراف وی کوم چی به دمومنانو او کفارو په مینځ کی حائل سی او ځینو نورو مفسرینو داعراف ددیوال څخه علاوه بل دیوال مقررکړی دی، اوپه دی دیوال کی چی کومه دروازه جوړه سی یا خو په دی وجه چی په دی لاره باندی به دمومنانو او کفارو په مینځ کی خبری وسی یا چی په دی دروازه مومنان دننه سی نو بیا به بنده سی.

فائده: ددی نور په معامله کی دکفارو هیڅ ذکر نه دی راغلی ځکه چی په دوی کی دنور هیڅ احتمال نه وو، دمنافقانو دنور په باره کی دوه روایتونه راغلل چی داول څخه به دوی ته نور حاصل نه سی یا دحاصلیدو څخه وروسته پرپل صراط باندی دتلو څخه وروسته به ورځخه مرکړل سی او د دوی او دمومنانو په مینځ کی به یو دیوال حائل کړل سی، ددی مجموعی څخه دا معلومه سوه چی دپل صراط په ذریعه به دجهنم څخه پوری وتل دا صرف دمومنانو دپاره وی، کفار اومشرکان به په پل صراط نه سی ورختلی، هغوی به دجهنم په دروازو جهنم ته وغورځول سی، او مؤمنان به دپل صراط په لاره باندی تیرسی، بیا گناهگار مومنان دکومو دپاره چی د دوی دعملونو په سزا کی څو ورځی په جهنم کی پاته کیدل وی، هغوی به ددی پل څخه ولویږی جهنم ته به ورسیږی، باقی مومنان به صحیح سالم تیرسی اوجنت ته به داخل سی (شاه عبدالقادر دهلوی ددی داوضاحت کړی دی او په در منثورکی چی څه دی هغه ددی تائید کوی) والله تعالی اعلم،

أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ.

یعنی آیا اوس هم وخت نه دی راغلی دایماندارو دپاره چی د دوی زړونه دالله ﷻ دذکر دپاره عاجزی وکی او نرم سی او ددی قرآن کریم دپاره کوم چی په دوی نازل سو.

دخشوع قلب څخه مراد دزړه نرمیدل او وعظ او نصیحت قبلول او دهغه اطاعت کول دی (ابن کثیر) دقرآن دپاره خشوع دا دی چی دده داحکامو، اوامرو اونواهیو دمکمل اطاعت دپاره تیارسی اوپه دی په عمل کولو کی څه سستی اوکمزوری ونه کړی (روح المعانی)

داعتاب اوخبرداری مومنانوته دی، دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی، چی الله ﷻ دځینو مومنانو په زړونوکی دعمل په اعتبار سره څه سستی معلومه کړه، په دی دا ایت نازل سو، (ابن کثیر)

امام اعمش رحمه الله فرمایی چی مدینی منوری ته درسیدوځخه وروسته اصحابو ﷺ ته څه معاشی سهولتونه او ارام حاصل سو، نو په ځینو حضراتو کی دعمل جد اوجهد کوم چی د دوی عادت وو په هغه کی څه کمی اوسستی راغله، په دی دا ایت نازل سو (روح المعانی)

دحضرت ابن عباس ﷺ په مذکوره روایت کی دا هم ده چی دا دعتاب آیت دقرآن دنزول څخه دریالس کاله

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته نازل سو (رواه عنه ابن ابی حاتم)
او په صحیح مسلم کی دحضرت ابن مسعود ﷺ روایت دی چی زمونږ داسلام راوړو څخه څلورکاله وروسته ددی آیت په ذریعه په مونږ عتاب او خبدارول نازل سو (والله تعالی اعلم)
په هرحال حاصل ددی عتاب اوخبدارولو، مومنانو لره دمکملی خشوع اوعمل صالح دپاره دمستعد اوسیدو تعلیم دی او دزړه په خشوع باندی دتولو عملونو مدار دی.
دحضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دتولوڅخه اول چی کوم شی دخلګو څخه پورته کول کیږی هغه خشوع ده (ابن کثیر)

(آیاهرمومن صدیق اوشهید دی ؟)

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللهِ وَرُسُلِهِ أُولَئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاءُ :
ددی آیت څخه معلومه سوه چی صدیق اوشهید هرمومن ته ویل کیږی اوحضرت قتاده اوعمرو بن میمون ددی آیت په بنافرمایی چی هرهغه سړی کوم چی په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان راوړی هغه صدیق اوشهید دی.
ابن جریر رحمه الله دحضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، مُؤْمِنُوْا أُمَّتِيْ شُهَدَآءُ: یعنی زمادامت ټول مومنان شهدآء دی او ددی په دلیل کی یی دا ایت ذکر سوی تلاوت وفرمایی.
ابن ابی حاتم دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت کوی چی یوه ورځ د دوی سره څه اصحاب حضرات جمع وه ، دوی وفرمایل ، كُلُّكُمْ صَدِيْقٌ وَشَهِيْدٌ : یعنی په تاسی کی هر یو صدیق اوشهیدهم دی ، خلګوپه تعجب سره وویل چی ابوهریره ﷺ دا تاسی څه وایاست ؟ نو حضرت ابوهریره وفرمایل ، چی که زما په خبره یقین نه کوی نو دقرآن دا ایت ووایاست، وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللهِ وَرُسُلِهِ أُولَئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاءُ لیکن دقرآن کریم دیوبل آیت څخه په ظاهره دامستفاد کیږی چی صدیق او شهید هرمومن نه دی ، بلکه دمومنانو څخه دیوی اعلی طبقی خلګوته صدیق اوشهید ویل کیږی ، آیت دا دی ، فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ : ځکه چی په دی آیت کی دانبیاوو سره دعامو مومنانو دری طبقی په خصوصیت سره ذکر سوی دی ، صدیقان ، شهداء اوصالحان ، او ددی څخه ظاهره دا ده چی ددی درو سره ووپه مفهوم اومصداق کی فرق دی ، کنی ددی درو سره وو دجلاجلاذکرکولو ضرورت نه وو ، په دی وجه څینی حضرات فرمایی چی صدیقین اوشهداء خوپه اصل کی دمومنانو مخصوص (داعلی طبقی) خلګ دی کوم چی داعلی لوړو صفتونو حامل دی ، دلته ټولو مومنانوته دصدیق اوشهید فرمایلو مطلب دا دی چی هر یو مومن هم په یوحیثیت سره دصدیق اوشهید په حکم کی دی او د دوی په زمره کی پیوست ګڼل کیږی.

اوپه روح المعانی کی دی چی مناسبه دا ده چی په دی آیت کی د ، اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا څخه مراد هغه مومن واخیستل سی ، کوم چی کامل ایمان لری اودطاعاتو پابند وی او نه هغه مومن کوم چی په شهواتو او غفلت کی ډوب وی ، هغه ته صدیق او شهید نه ویل کیږی.
ددی تائید دهغه حدیث څخه کیږی په کوم کی چی نبی کریم ﷺ فرمایی ، اَللَّعَّانُوْنَ لَايَكُوْنُوْنَ شُهَدَآءَ : یعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

په خلګولعنت کوونکی به په شهداوو کی شامل نه وی اوحضرت فاروق اعظم ﷺ یو وارخلګوته وفرمایل چی ، تاسی لره څه سوی دی چی تاسی وینی چی یو سړی دخلګو عزت اوابرو مجروح کوی اوتاسی دی نه منع کوی نه یی څه بد ګنی ، دی حضراتو عرض وکی چی مونږ دهغه دبدزبانی څخه بیربږو چی که مونږ څه ووایو نو هغه به زمونږ په ابرو اوعزت هم حمله وکی ، حضرت فاروق اعظم ﷺ وفرمایل چی که دا خبره وی نو تاسی خلګ شهداء کیدی نه سی .

ابن اثیر رحمه الله داروایت نقل کی اوددی مطلب یی داوښووی چی داسی مداهنت کوونکی په هغوشهداوو کی شامل نه وی کوم چی دقیامت په ورځ دتیرو انبیاؤ دامتونوپه مقابله کی شاهدی ورکوی (روح)

په تفسیرِ مظهری کی دی چی په دی آیت کی ﴿اٰمَنُوْا﴾ څخه مراد صرف هغه حضرات دی کومو چی دنبی کریم ﷺ په عهدِ مبارک کی ایمان راوړی او د دوی په صحبت سره مشرف سول .

اوپه آیت کی لفظ د ﴿هُمُ الصِّدِّیْقُوْنَ﴾ چی کومه کلمه دحصرده دا پردی دلالت کوی چی صدیقیت په صحابه کرامو ﷺ کی منحصر دی ، حضرت مجددِ الف ثانی فرمایی چی صحابه کرام ﷺ ټول دنبوت دکمالاتو حامل وه ، کوم سړی چی یو وار نبی کریم ﷺ دایمان سره ولیدی هغوی دنبوت په کمالاتو کی مستغرق سول ، والله سبحانه وتعالی اعلم

اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِیْنَةٌ وَّ

پوهه سی چی ددنیا ژوند لوبی او تماشی او زینت دی

تَفَاخُرٌۢ بَیْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِی الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَیْثٍ

او تفاخر دی ستاسی په مینځ کی او زیاتوالی دی په مالونو او اولاد کی ، لکه باران چی

اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ یَهِیْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ یَكُوْنُ حُطَامًا ؕ

خوشحالوی زمینداران سبزه کیدل ددی بیاترو تازه سی بیا ته وینی چی ژړ سی بیا سی ذره ذره

وَفِی الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِیْدٌ ۙ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ؕ وَ

او په آخرت کی سخت عذاب دی او معافی هم ده الله دطرف څخه او رضامندی ، او

مَا الْحَیٰوةُ الدُّنْیَاۤ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۲۰﴾ سَابِقُوْٓا اِلٰی مَغْفِرَةٍ مِّنْ

نه دی ژوند ددنیا مګر صرف سامان د دوکی دی ، منډی وهی دخپل رب دمغفرت طرف ته

رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۙ اُعِدَّتْ

او جنت ته چی پلنوالی یی داسمان اومځکی هومره ، تیارسوی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖۤ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

دهغوی دپاره چی ایمان را وړی په الله او دهغه په رسولانو دا فضل دالله ﷻ دی چی ورکوی یی هغه چاته

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۱﴾

چی وغواړی ، او دالله ﷻ فضل لوی دی .

لنډتفسیر: تاسی ښه پوه سی چی (داخرت په مقابله کی) ددنیا ژوند (هیڅکله دمشغول کیدو شی نه دی ځکه چی) دا محض لهو لعب او (یوظاهری) زینت اوپه خپل مینځ کی په یوبل فخرکول (په قوت ښائست او دنیوی هنر اوکمال کی) اوپه مالونو اواولادکی دیوبل څخه ځان زیات ښوول (یعنی ددنیا مقصدونه دا دی چی په کوچنیوالی کی دلهو اولعب غلبه وی اوپه ځوانی کی دزینت اودفخر اوپه زوړوالی کی دمال دولت آل اولاد زیاتول اوشمیرل او دا ټول فانی مقصدونه دی اومحض خواب اوخیال دی چی مثال یی داسی دی) لکه چی باران (وسی) چی په دی سره پیداوار (فصل ښه سی) زمیندار په خوشحاله کیږی بیا دغه (فصل) وچ سی ، نو هغه ته ژړ سوی وینی ، بیاهغه ذره ذره سی (دغه شان ددنیا ځو ورځی بهاردی ، بیا زوال اوزائله کیدل، داخو ددنیا حالت سو) اواخرت (داسی دی چی په دی) کی (دوه شیان دی یوخو دکفارو دپاره) سخت عذاب دی او (دوهم دایماندارو دپاره) دخدای دطرف څخه مغفرت اورضا مندی ده (او دا دواړه باقی دی ، نواخرت خوباقی دی) او ددنیاژوندمحض (فانی دی لکه چی فرض که یو) ددوکی اسباب دی (او ددی تفسیر په ال عمران کی تقریباًپه اخرکی تیرسوی دی ، نوکله چی متاع ددنیا فانی اوداخرت باقی دی کوم چی دایمان په دولت نصیب کیږی نوتاسی ته په کار دی چی) تاسی دخپل پروردګار طرف ته منډی وهی او (دارنګه) داسی دجنت طرف ته چی پراخوالی یی دآسمان اومځکی د پراخوالی هومره دی (یعنی ددی څخه کم خونه دی دکموالی نفی ده او دزیاتوالی نفی نسته او) هغه دهغو خلګو دپاره تیار سوی دی کوم چی په الله ﷻ او دهغه په رسولانو ایمان لری (او) دا (مغفرت اورضوان دالله ﷻ فضل دی ، هغه خپل فضل چا ته چی غواړی ورکوی اوالله ﷻ لوی فضل والا دی (په دی کی اشاره ده چی په خپلو عملونو څوك مغرورنه سی او په خپلو عملونو دجنت دمستحق کیدو مدعی نه وی دامحض فضل دی چی مداریی زمونږ پرمشیت دی ، مګر مونږ په خپل رحمت سره ددی عملونو دکوونکو سره خپل مشیت متعلق کی ، که چیری مونږ غوښتلی نو مشیت به مو نه ورسره متعلق کولی چی ، اَلْقُدْرَةُ تَتَعَلَّقُ بِالضِّدَّيْنِ)

معلومات اومسائل: په تیرو آیتونوکی دجنتیانو او دوزخیانو حال بیان سوی وو کوم چی به په اخرت کی پیښیږی او دائمی به وی او داخرت دنعمتونو څخه محرومی اوپه عذاب کی داخته کیدو لوی سبب دانسان دپاره ددنیا فانی لذتونه اوپه دی کی مشغوله کیدل داخرت څخه غفلت کیدل دی ، په دی وجه په دی ایتونوکی ددنیا فانی اوبی اعتماده کیدل بیان سوی دی .

دعمر دابتداء څخه تر اخره پوری چی څه په دنیاکی کیږی اوپه کوموکی چی دنیادار منهمك اومشغوله

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه دی خوشحاله وی دهغه بیان په ترتیب سره دا دی چی ددنیا دژوند خلاصه په ترتیب یوځوشیان اوځو حالات دی ، اول لعب بیا لهو بیا زینت بیا تفاخر بیا دمال او اولاد په کثرت باندی ناز اوفخر .
لعب هغه لوبی دی په کوم کی چی مطلق څه فائده پیش نظرنه وی لکه دډیرو کوچنیانو بچیانو حرکتونه اولهوهغه لوبی دی چی اصل مقصد خویی تفریح اوزړه مشغولول او دوخت تیرولو مشغله وی، په ضمنی طورڅه ورزش یابله فائده هم په دی کی حاصلیدی سی، لکه دلویو بچیانو لوبی، بال، لامبو وهل یانښانه بازی وغیره اوپه حدیث کی دنښانه بازی اولامبو وهلو مشق ته نبه لوبه ویلی ده ، زینت دبدن اوکپړو وغیره معروف دی ، هرانسان ددی دورڅخه تیریږی چی دعمر بالکل ابتدایی حصه خویی بالکل په لعب کی تیره سی ددی څخه وروسته لهو شروع سی ، ددی څخه دده سره دخپل تن بدن اوکپړو دښائست فکر سی ، ددی څخه وروسته دهمزولو او هم عمرو څخه دمخ ته کیدو او پر دوی دفخر کولو داعیه پیداسی .
اوپه انسان چی څومره دورونه په دی ترتیب سراه راځی ، که فکر وکی نو په هردورکی دی په خپل دی حال باندی قانع اودتولو څخه نبه ګنی کله چی دیو دور څخه بل دورته منتقل کیږی نو دتیرو دورو کمزوری اوخطا والی ورته رامخ ته کیږی ، بچیان چی په ابتدایی دورکی کومی لوبی دخپل ژوند سرمایه اودتولو څخه لوی دولت ګنی که څوک یی دده څخه اخلی نوده ته داسی صدمه رسیږی لکه چی دلوی سړی څخه مال اسباب اوکوته بنګله واخیستل سی، لیکن ددی دور څخه چی مخ ته تیرسی، ده ته حقیقت معلوم سی چی کوم شیان مونږ هغه وخت دژوند مقصد جوړ کړی وه ، هغه هیڅ نه وه تول خرافات وه ، په کوچنوالی کی په لعب بیا په لهوکی مشغوله وو په ځوانی کی دزینت اوتفاخر مشغله یومقصد جوړ سوی وو چی زوړ سو نو اوس مشغله دتکاثر فی الاموال اواولاد جوړه سوه چی دخپل مال دولت په شمیر او د اولاد اوفسل په زیاتوالی خوشحالی کوی ، دغه شماری اوحسابوی ، مګر لکه څنګه چی په ځوانی کی ورته دکوچنیوالی حرکتونه خطا معلومیدل چی زوړوالی ته ورسیدی ، دځوانی حرکتونه ورته خطا اوناقابل التفات په نظر ورغلل اوس یی اخری منزل زوړوالی دی ، په دی کی دمال پریمانی او د اولاد کثرت اوقوت او د دوی په جاه اومنصب باندی فخر دژوند سرمایه اوعظیم مقصود جوړسی ، قرآن کریم وایی چی دا حال هم دتیریدو دی او فانی دی ، راتلونکی دور دبرزخ بیا دقیامت دی ، دهغه فکر کوه چی اصل هغه دی ، قرآن کریم په دی ترتیب سره ددی تولو دنیوی مشغلو او مقصدونو زائل کیدل ناقص اوناقابل اعتماد کیدل ، بیان کړل او بیایی مخ ته دا دیوفصل په مثال سره واضحه کړه .
كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا : دغیث معنی باران دی او لفظ دکفارکوم چی دمومنانوپه مقابله کی راځی ، دهغه معنی خومعروفه اومشهوره ده ، ددی ټوله بله لغوی معنی دکښتکارهم راځی ، په دی آیت کی ځینو حضراتو دامعنی مراد کړې ده اومطلب دایت یی دا مقررکړی دی چی لکه څنګه چی په باران سره فصل اوقسم قسم بوټی زرغونیږی اوکله چی هغه تر اوتازه سی نو زمینداران په هغه خوشحالیږی اوځینو نورو حضراتو مفسرینو لفظ دکفار دلته هم په معروفه معنی کی اخیستی دی ، چی کافران خلګ په دی سره خوشحالیږی ، په دی چی کوم دا اشکال دی چی دفصل په تر

Maktaba Tul Ishaat.com

اوتازه لیدلوسره خوشحالیدل خودکافرانو سره مخصوص نه دی مسلمانان هم په دی سره خوشحاله کیږی ، ددی جواب مفسرینو حضراتو دا ورکړی دی چی دمومن په خوشحالی او دکافرپه خوشحالی کی لوی فرق دی ، مومن خوشحالیږی نو فکر یی دحق تعالی طرف ته راګرځی ، هغه یقین کوی چی دا هرڅه دهغه قدرت ، حکمت او رحمت دی ، هغه دا شی دژوند مقصد نه جوړ وی بیا ددی خوشحالی سره ده ته داخرت فکر هم هر وخت لګیدلی وی ، په دی وجه کوم مومن چی دایمان تقاضا پوره کوی ، ددنیا دلوی څخه په لوی دولت باندی هم هغه داسی خوشحاله اومستیږی نه ، لکه چی کافر وی ، په دی وجه دلته دخوشحالی داظهار کفارو ته نسبت دی .

مخ ته ددی مثال خلاصه دا ده چی دا فصل اونور بوټی ګلونه کله چی تر اوتازه سی نو ټول لیدونکی خصوصاً کفار ډیر خوشحاله اومشغول په نظر سره راځی مګر اخر بیا دهغه وچیدل شروع سی اول ژړ مړاوی سی، بیا بالکل وچ سی ذره ذره سی ، دا مثال دانسان دی چی په شروع کی تر اوتازه ښائسته اوخوبصورته وی ، دکوچنیوالی څخه تر ځوانیدو پوری مرحلی ، په دی حال کی طی کوی ، مګر اخر زوړوالی راسی په کوم کی چی کرار کرار دبدن تازګی اوحسن اوجمال ټول ختم سی اواخر مړسی خاوری سی ، ددنیا دبی ثباتی اوزوال پذیر کیدو دبیان فرمایلو څخه وروسته بیا داصل مقصود داخرت دفکر طرف ته دتوجه راګرځولو ذکر فرمایی .

وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللهِ وَرِضْوَانٌ : یعنی په اخرت کی به انسان ته ددی دوه حالتونو څخه یوحالت خامخا راسی ، یو حال دکفارو دی د دوی دپاره سخت عذاب دی ، دوهم حال دمومنانو دی ، د دوی دپاره ﷲ ﷻ دطرف څخه مغفرت او رحمت دی .

دلته دعذاب ذکر اول وسو ځکه چی په دنیاکی مست اومغرور کیدل کوم چې په اولو ایتونوکی ذکر دی ددی نتیجه هم سخت عذاب دی او دسخت عذاب په مقابله کی یی دوه شیان ارشاد وفرمایل، مغفرت او رضوان، په کوم کی چی اشاره ده چی دګناهونو اوخطاګانو معافی یونعمت دی چی په نتیجه کی یی بنده دعذاب څخه خلاصیږی ، مګر دلته صرف دومره نه ده بلکه دعذاب څخه خلاص سی ، بیا دجنت په دائمی نعمتونو سره هم سر فرازه سی ، چی سبب یی رضوان یعنی دحق تعالی خوشحالی ده .

ددی څخه وروسته یی ددنیا حقیقت په دی لندو الفاظوکی بیان کی .

وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ : یعنی په دی ټولو خبرو دپوهیدلو او لیدلو څخه وروسته دیوهوښیار اوبصیر انسان دپاره ددی څخه ماسوا بله نتیجه ددنیا په باره کی نه سی پاته کیدی چی دا یوه د دوکی سرمایه ده اصلی سرمایه نه ده کوم چی دسختی په وخت کی په کار راسی ، بیا داخرت ثواب اوعذاب او ددنیا دبی ثباتی دبیانولو لازمی اثر دا په کار وو چی انسان ددنیاپه لذتونو کی مشغوله نه سی او داخرت دنعمتونو فکر زیات کوی ، ددی بیان په راتلونکو ایتونوکی داسی راغی .

سَابِقُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ : یعنی مخ ته کیږی دخپل رب مغفرت او دده جنت طرف ته دکوم پلنوالی چی دآسمان اومځکی دپلنوالی برابر دی .

دمسابقت کولو څخه مراد دا هم کیدی سی ، چی په عمر او صحت او قدرت هیڅ باور نسته په نیکو

Maktaba Tul Ishaat.com

عملونو کی سُستی اوبی ثباتی مه کوی ، هسی نه چی بیاځه ناروغی یاعذر راسی اوتاسی ددی کار قابل پرې نږدی یامرګ راسی نو مطلب دمسابقت دا دی چی دعجز او ضعف اومرګ څخه مسابقت کوی چی ددی دراتلو څخه اول اول دداسی عملونو ذخیره جمع کړی کومه چی جنت ته درسولو ذریعه جوړه سی . او دمسابقت معنی دا هم کیدی سی چی په نیکو عملونوکی دنوروڅخه دمخ ته کیدو کوشش کوی ، لکه چی حضرت علی ﷺ په خپلو نصیحتونوکی فرمایی چی ، تاسی جماتونو ته دټولو څخه مخ ته ټلونکی او دټولوڅخه په اخر کی وتونکی جوړ سی ، حضرت ابن مسعود ﷺ فرمایی چی ، دجهادپه صفونوکی په اولنی صف کی د درېدو دپاره مخ ته کیږی ، حضرت انس ﷺ فرمایی چی دجمات په لمانځه کی اول تکبیر ته دحاضرېدو کوشش کوی (روح)

دجنت په تعریف کی فرمایی چی ددی پلنوالی به دآسمان اومځکی برابر وی ، په سورة الِ عمران کی هم ددی مضمون آیت اول تیرسوی دی ، په هغه کی لفظ دسمٰوٰت په جمع سره راغلی دی ، ددی څخه معلومه سوه چی دآسمان څخه مراد اووه آسمانونه دی اومعنی دا ده چی داوو آسمانونو اومځکو پراخوالی یوځای جمع کړه ، نو دغه به دجنت پراخوالی وی او داخو ظاهره ده چی اوږدوالی خو دهرشی ددی دپلنوالی څخه زیات وی ، ددی څخه ثابته سوه چی دجنت پراخوالی داوو آسمانونو اومځکی دپراخوالی څخه زیات دی اولفظ دعرض کله چی مطلق دفراخی په معنی کی استعمالیږی، په دی کی داوږدوالی مقابله مقصود نه وی ، په دواړو صورتونوکی دجنت دعظیم الشان وسعت بیان وسو.

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ : ددی څخه په مخکی آیت کی جنت او ددی دنعمتونو دپاره دمسابقت اوکوشش حکم وو، په دی سره چاته داخیال پیداکیدی سو چی جنت او ددی لازوال نعمتونه زمونږ دعمل ثمره او زمونږ عمل ددغو دپاره کافی دی ، په دی آیت کی الله ﷻ دا ارشاد وفرمایی چی ستاسی عملونه دجنت دپاره کافی علتونه نه دی په کوموباندی چی دجنت ورکول مرتب کیدل لازمی وی ، دانسان دټول عمر عملونه خودهغونعمتونوبدله هم نه سی کیدی کوم چی ده ته په دنیا کی حاصلیږی ، زمونږ دا عملونه دجنت دلازوال نعمتونو قیمت نه سی جوړیدی ، په جنت کی چی څوک هم دا خلیږی ، هغه به دالله ﷻ په فضل او احسان سره به داخلیږی ، لکه چی په صحیحینوکی دحضرت ابو هریره ﷺ څخه په مرفوع حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی په تاسی کی هیچا ته یوازی دده عمل نجات نه سی ورکولی اصحابو ﷺ عرض وکی چی ایاتاسی ته هم ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی هو ، زه هم په خپل عمل سره جنت نه سم حاصلولی ، بغیر ددی چی دالله ﷻ فضل او رحمت وسی (مظهری)

مَآ أَصَابَ مِنْ مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتٰبٍ

هیڅ آفت نه راځی په ملک کی او نه ستاسی په ځانونو کوم چی لیکلی نه وی

مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا ۚ إِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا

په کتاب کی مخکې ددې څخه چی پیدا کی مونږ هغه په دنیا کی بیشکه دا الله ته اسانه ده ، چی تاسی غم ونه

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی په هغه چې په لاس درنه سی او غرور ونه کړی ،

بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ۙ﴿۲۳﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ

په هغه چې درکړل سی او الله ﷻ نه خوښوی تکبر کوونکی فخرکوونکی ، هغه چې په خپله بخل کوی

وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۴﴾

او حکم کوی خلقو ته په بخل سره ، او څوک چې مخ اړوی نو بیشکه چې الله بې حاجته صفت کړل سوی دی

لنډتفسیر: یو مصیبت نه په دنیاکی راځی اونه خاص ستاسی په نفسونوکی ، مګر دغه (ټول) په یوه کتاب (یعنی په لوح محفوظ کی) لیکل سوی دی ، مخ ته ددی څخه چې مونږ روحونه پیداکو (یعنی ټول مصیبتونه خارجی وی یاداخلی دغه ټول مقدردی او) دا دالله ﷻ په نزد اسانه کار دی (چې دواقع کیدو څخه یې مخکی ولیکله څکه چې هغه ته علم غیب حاصل دی اومونږ دا خبره په دی وجه وښوولې) چې کوم شی تاسی ته حاصل نه سی (تندرستی یامال یا اولاد) نو تاسی په دی باندی (دومره) غم ونه کی (کوم چې دالله ﷻ په رضا طلب کولو اوداخرت په کارونوکی ډمشغول کیدو څخه خنډ جوړ سی او دطبعی تکلیف څه باك نسته) اوچې کوم شی تاسی ته درکول سی (دهغه په نسبت هم داوګڼی چې خدای ﷻ په خپل فضل اوکرم سره ددی راکول خوښ کړی وه اوهغه راکړی دی) په هغه لویی ونه کی (څکه چې لویی کول خو په هغه شی وی چې استحقاق یې ذاتی وی اوکله چې دبل په مشیت اوحکم سره یوشی حاصل سوی دی په هغه دلویی کولوڅه حق دی) او (مخ ته په دی لویی کولوباندی وعید دی چې) الله ﷻ لوی کوونکی ، فخر کوونکی نه خوښوی (داختیال یعنی لویی کولو لفظ اکثره په اندرونی فضائلو باندی دلویی کولو دپاره اوفخر اکثره په خارجی اشیاوو مال مرتبه وغیره باندی دلویی کولو دپاره مستعمل کیږی ، مخ ته دبخل مذمت دی چې) څوک چې داسی وی چې (دنیا دمحبت په وجه سره) په خپله هم (دخدای په نزد په پسندیده حقونوکی دصرف کولو څخه) بخل کوی (که څه هم په خپلو خواهشاتو اوګناهونوکی هرڅومره اسراف کوی) او (ددی ګناه هم مرتکب کیږی چې) نورو خلګوته هم دبخل ښودنه کوی (دَالَّذِيْنَ الخ څخه کوم چې په ترکیب کی بدل دی ، دا مقصود نه دی ، چې وعیدګویا ددی کارونو دمجموعی سره متعلق دی ، څکه چې ظاهره ده چې په هر بدخصلت باندی وعیددی ، بلکه اشاره دی طرف ته ده چې ددنیا محبت داسی دی په کوم سره چې اکثره بدخصلتونه جمع کیږی ، اختیال اوافتخار هم اوبخل هم او داسی نور) او (دا ددنیا محبت کله چې څوک دحق څخه روی ګردانی ته رسوی چې دهغه په حق کی داعذاب دی چې) کوم سړی چې (دحق دین څخه چې یوه فرعه یې دخدای په لاره کی خرڅ کول دی) مخ واړوی نوالله ﷻ (ته هیڅ نقصان نسته څکه چې هغه دټولو دعبادت اومالونوڅخه) بې نیازه دی (او په خپل ذات وصفاتوکی کامل او) لائق دثناء دی .

معلومات اومسائل: ددنیا دوه شیان انسان ته دالله ﷻ دیادو او داخرت دفکر څخه غافله کوونکی دی ، یو راحت اوعیش چې انسان په کی اخته سی نو الله ﷻ یې هیر سی ، ددی څخه دځان ساتلو هدایت په

Maktaba Tul Ishaat.com

تیرو آیتونوکی راغلی دی دوهم شی مصیبت او غم دی ، په دی کی په اخته کیدو باندی هم څینی وخت انسان مایوسه سی او دخدای ﷻ دیادو څخه غافله سی ، په دی ذکر سوو آیتونوکی ددی بیان دی .

مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا : یعنی کوم یو مصیبت چی په تاسی په مځکه کی یاپه خپلو ځانونوکی واقع کیږی ، دغه ټول مونږ په کتاب یعنی لوح محفوظ کی دمخلوقاتو دپیدا کیدو څخه مخکی لیکلی وه ، دمخکی دمصیبت څخه مراد قحط ، زلزله په فصل اوباغ کی نقصان ، په تجارت کی تاوان ، دمال دولت ضائع کیدل دخپلوانو دوستانو مرګ ټول په کی دا خل دی او دخپلو ځانونو په مصیبت کی هر قسم مرضونه او زخم اوګوذار وغیره شامل دی .

لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ مطلب ددی آیت دا دی چی په دنیاکی څه مصیبت یاراحت خوشحالی یاغم انسان ته پیښیږی هغه ټول الله ﷻ په لوح محفوظ کی دانسان دپیدا کیدو څخه مخکی لیکلی دی ددی اطلاع تاسی ته څکه درکول سوه چی تاسی ددنیا ښو او بدو حالاتوته زیات فکر ونه کی نه ددی ځای تکلیف اومصیبت یا نقصان او فقدان دځه زیات حسرت اوافسوس کولو شی دی او نه ددی ځای راحت اوعیش یامال متاع دومره زیات دخوشحالی اومستیدو شی دی چی په کی مشغول سی او دالله ﷻ دیادو څخه غافله سی .

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی هرانسان په طبعی طورپه څینو شیانو خوشحاله کیږی اوپه څینو غمجن کیږی ، لیکن په کار دا ده چی چاته څه مصیبت پیښ سی هغه په هغه صبر وکی او داخرت اجر او ثواب وګټی ، او چاته چی راحت او خوشحالی ورپیښه سی ، هغه په هغه شکر ګذارسی او اجر او ثواب حاصل کړی (رواه حاکم وصححه) (از روح المعانی)

په ورپسی آیت کی یی په راحت اوارام یامال دولت باندی دلویی کوونکو اوفخر کوونکو مذمت بیان کړی دی ، وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ یعنی الله ﷻ نه خوښوی لویی کوونکی اوفخر کوونکی ، او ظاهره ده چی څوك نه خوښوی ، دهغه سره بغض اونفرت هم لری ، مطلب دا دی چی ددنیا په نعمتونو لویی کوونکی اوفخر کوونکی دالله ﷻ په نزد مبغوض دی ، مګر په نه خوښولو سره یی ورځخه تعبیر وکی شاید اشاره دی طرف ته وی چی دعقلمند عاقبت او انجام ته فکر کوونکی انسان دا فرض دی چی هغه په خپل هرکار کی ددی فکر کوی چی هغه دالله ﷻ په نزد دخوښی دی که دناخوښی ، په دی وجه یی دلته دناخوښه کیدو ذکر وفرمایی .

لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ

مونږ لیږلی دی خپل رسولان دښکاره ښو سره او نازل کړی مودی د دوی سره کتاب

وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ

او ترازو چی خلق قائم سی په انصاف باندی ، او مونږ نازله کړی ده اوسپنه چی په دی کی

Maktaba Tul Ishaat.com

شَدِيدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ

سخت جنگ دی اوفائدی دی په کی دخلقو او چی معلوم کړی الله چی څوك مدد کوی دهغه اودهغه درسولانو

اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۵﴾

په نالیدلی ، بیشکه الله زور اوزبردست.

لنډتفسیر : مونږ (ددی اصلاح اخرت دپاره) خپلو پیغمبرانوته ښکاره احکام ورکړل ومولیږل اومونږ د دوی سره کتاب او (په دی کتاب کی خاصکر) دانصاف کولو (حکم چی تعلق یی دحقوق العباد سره دی) نازل کی چی خلك (په حقوق الله اوحقوق العبادکی) په اعتدال باندی قائم پاته سی (په دی کی ټول شریعت راغی کوم چی معتدل یعنی دافراط اوتفریط په مینځ کی دی) اومونږ اوسپنه پیدا کړې ده چی په دی کی سخت هیبت دی (چی ددی په ذریعه دعالم انتظام وی چی دبیری څخه ډیری بی انتظامی بندیږی) او (ددی څخه علاوه) دخلکو نوری هم قسم قسم فائدی دی (چنانچی اکثره دکار شیان داوسپنی څخه جوړیږی) او (په دی وجه مو اوسپنه پیدا کړه) چی الله ﷻ (په ظاهری طورسره) معلوم کړی چی بغیر (دخدای پاك) دلیدو څخه دهغه او دهغه درسولانو (یعنی په دین کی) څوك مدد کوی (ځکه چی په جهاد کی هم په کار راځی نو دا هم اخروی نفع سوه او دجهاد حکم په دی وجه نه دی چی دالله ﷻ ورته حاجت دی ځکه چی) الله ﷻ (په خپله) قوی زبردست دی (بلکه ستاسی دثواب دپاره دی)

معلومات اومسئلې

(دآسمانې کتابونو او دانبیاء علیهم السلام دلیږلو اصل مقصد دخلکو په عدل او انصاف قائم ساتل دی)

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ.

دلفظ دبینټ لغوی معنی واضح اوښکاره شی دی ، ددی څخه دا هم مرادکیدی سی چی واضح احکام وی ، لکه په لنډتفسیرکی داترجمه سوې ده او دا هم کیدی سی چی ددی څخه معجزات او په نبوت او رسالت باندی واضح دلیلونه مراد وی (لکه ابن کثیر، اوابن حبان یی داسی تفسیر کړی دی) او دبینټ څخه وروسته په وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ : کی دکتاب نازلولوجلا ذکرپه ظاهره ددی تفسیر تائید کوی، چی دبینټ څخه مراد معجزی اودلیلونه وی اوداحکامو دتفصیل دپاره یی دکتاب نازلولو ذکر وفرمایی.

دکتاب سره دیوبل شی دمیزان نازلولو هم ذکردی ، میزان په اصل کی هغه آلی ته ویل کیږی په کوم سره چی دیوشي وزن کول کیږی چی عام صورت یی دَ، تلی، دی او درواجی تلی څخه علاوه دمختلفو شیانو دوزن کولو دپاره چی کوم مختلف قسم الات ایجادیږی ، دغه هم دمیزان (تلی) په مفهوم کی داخل دی لکه نن صباچی دهوا، رنا وغیره ناپ کولو الات دی ، په دی آیت کی دکتاب په شان دمیزان دپاره هم دنازلولو ذکر فرمایلی دی ، دکتاب دآسمان څخه نازلیدل او دملائکو په ذریعه پیغمبر ته رسیدل خو معلوم اومعروف دی ، دمیزان نازلولو څه مطلب دی؟ ددی متعلق په روح المعانی مظهری وغیره کی دی چی دمیزان نازلولو څخه مراد دهغو احکامو نزول دی کوم چی دمیزان استعمالولو اوانصاف کولو په

Maktaba Tul Ishaat.com

حقله نازل سوه، اوقرطبی فرمایی چی په اصل کی نازل سوی خوکتاب دی، دتلی ایجاد کول اووضع کول یی ددی سره لګولی دی لکه چی دعربو په کلام کی ددی نظائر موجود دی ، نوګویا مفهوم دکلام دا دی اَنْزَلْنَا الْکِتٰبَ وَوَضَعْنَا الْمِیْزَانَ : یعنی مونږ نازل کی کتاب اوایجاد موکړه تله ، ددی تائید دسورة رحمٰن دایت، وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَاوَوَضَعَ الْمِیزَانَ : څخه هم کیږی،چی په دی کی دمیزان سره لفظ دوضع استعمال کړی دی . اوپه څینو روایتونوکی دی چی په حضرت نوح علیه السلام باندی په حقیقی معنٰی کی دآسمان څخه تله نازله سوی وه اوحکم ورکول سوی وو ،چی په دی سره وزن کوی،حقوق پوره ورکول په کار دی، والله تعالی اعلم دکتاب اومیزان څخه وروسته دیو دریم شی دنازلولو ذکردی یعنی حدید (اوسپنه) ددی دنازلولو مطلب هم داپیدا کول دی ، لکه چی دقرآن کریم په یوایت کی دحیوانانو متعلق هم لفظ دانزال استعمال فرمایلی دی، حال دا دی چی دا دآسمان څخه نه دی نازل سوی ، په مځکه پیداکیږی، آیت دا دی ، وَاَنْزَلَ لَکُمْ مِنَ الْاَنْعَامِ ثَمَانِیَةَ اَزْوَاجٍ : دلته په اتفاق دآنْزَلْنَا څخه مراد خَلَقْنَا دی ، یعنی تخلیق یی دانزال په لفظ سره تعبیر کړی دی ، چی په دی کی اشاره دی طرف ته پیداکیږی چی په دنیاکی څه دی دغه ټول په دی اعتبار سره منزل من السماء دی چی د دوی دپیدا کیدو څخه هم دیر مخکی دغه په لوح محفوظ کی لیکل سوی وه (روح)

حدید یعنی داوسپنی په نازلولوکی دوه حکمتونه په آیت کی بیان سوی دی اول دا چی په مخالفینو ددی رعب پریوزی او سرکښان ددی په ذریعه دالله ﷻ دحکمونو اوعدل او انصاف داحکامو پابند جوړول کیږی ، دوهم دا چی په دی کی دخلګو دپاره دیری فائدی الله ﷻ اینبی دی چی څومره صفتونه او ایجادات او مصنوعات په دنیا کی سوی دی یا اننده کیږی په دغو ټولو کی داوسپنی ضرورت دی ، داوسپنی څخه بغیر یو صنعت هم نه چلیږی .

فائده : دلته دا خبره هم دفکر کولو غوښتونکی ده چی په دی آیت کی اصلی مقصد دپیغمبرانو او کتابونو دلیږلو او دمیزان دعدل دایجاد کولو او ددی داستعمالولو دابیان کړی دی چی ، لِیَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ : یعنی خلک په انصاف قائم سی ددی څخه وروسته دیو دریم شی یعنی داوسپنی دنازلولو یعنی اَیجاد کولو هم ذکرفرمایل سوی دی ، دا هم په حقیقت کی ددغه عدل اوانصاف دتکمیل دپاره دی کوم چی دپیغمبرانو اوکتاب دنازلولوڅخه مقصود دی ، ځکه چی انبیاء علیهم السلام اواسمانی کتابونه دعدل او انصاف قائمولو واضح دلیلونه ورکوی او دنه قائمولو په صورت کی داخرت دعذاب څخه بیروی ، میزان دا حدود ښیی په کوم سره چی انصاف کول کیږی ، مګر سرکښ عنادګر کوم چی نه څه دلیل منی ، نه دتلی دتقسیم مطابق عمل کولوته تیاردی ، که دوی ازاد پریښوول سی ، نوهغوی په دنیاکی عدل اوانصاف قائمولوته نه پریږدی ، د دوی دپابند کولو کار داوسپنی او دتوری دی کوم چی دحکومت سیاست کوونکی په اخر کی په مجبوری سرملستعمالوی .

بله فائده : دلته دا خبره دغور قابله ده چی قرآن کریم په دنیاکی دعدل اوانصاف کولودپاره دوه شیان خو اصل مقرر کول ، یو کتاب ، دوهم میزان ، په کتاب شړه دحقوقو دادائیګی او په دی کی دکمی اوزیاتی

Maktaba Tul Ishaat.com

دممانعت احکام معلومیږی ، اوپه میزان سره هغه حصی متعین کیږی کومی چی دنورو حقوق دی ددی دواړو شیانو دنازلولو مقصد یی ، لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ : مقررکړی دی داوسپنی ذکریی ددی څخه وروسته په اخرکی وفرمایی په کوم کی چی اشاره ده ، چی دعدل اوانصاف قائمولو دپاره داوسپنی استعمال دمجبوری په درجه کی کیدی سی ، دغه اصل ذریعه داقامتِ عدل او انصاف نه ده .

ددی څخه ثابته سوه چی دخدای دمخلوق اصل اصلاح اوددوی په عدل او انصاف قائمول په حقیقت کی دذهنونوپه تربیت اوتعلیم سره کیږی دحکومت زور زبردستیَ په اصل کی ددی کاردپاره نه دی بلکه دلاری څخه دخلقِ لیږی کولو دپاره دمجبوری په درجه کی ده ، اصل شی دذهنونو تربیت اوتعلیم او تلقین دی .

وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ : دلته وَلِيَعْلَمَ دحرف عطف سره راغلیْ دی ، په روح المعانی کی دی چی دا عطف په یوه محذوفه جمله باندی دی یعنی لِيَنْفَعَهُمْ اومطلب دا دی چی مونږ اوسپنه ددی دپاره پیدا کړه چی پرمخالفینو ددی رعب پریوزی اوپه دی وجه چی خلک ددی څخه په صنعت اوحرفت کی فائده واخلی اوپه دی وجه چی په قانونی اوظاهری طور باندی الله ﷻ دا معلومه کړی چی کوم خلک داوسپنی دالاتودجنګ په ذریعه دالله ﷻ اودهغه درسولانومددګارجوړیږی او ددین دپاره جهادکوی په قانونی اوظاهری طورباندی ځکه ویل سوی دی چی په ذاتی طورخوحق تعالی ته هرڅه دمخکی څخه معلوم دی مګرکله چی انسان عمل کوی نوهغه په عملنامه کی لیکل کیږی قانونی ظهور یی په دی سره کیږی .

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّاِبْرٰهِيْمَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا

او مونږ ولیږلي نوح ﷺ او ابراهیم ﷺ او مقرر کی مونږ په اولاد د دوی کی

النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۶﴾

نبوّت او کتاب بیا څوک په دوی کی په هدایت ځی او ډیر په دوی کی نافرمانه دی ،

ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاٰتَيْنٰهُ

بیاپرله پسی ولیږل مونږ د دوی په قدمونو خپل رسولان او ورپسی ولیږلي مونږ عیسی ﷺ زوی دمریم اوده لره

الْاِنْجِيْلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ۭ

مونږ ورکی انجیل ، اوکښیښووی مونږ په زړونو دهغوی کی چی دده تابعدار سول نرمی او رحمت

وَرَهْبَانِيَّةَ ۨ ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَاۗءَ رِضْوَانِ

اوپریښوول ددنیاکومه چی دوی نوی خبره را ایستلی وه مونږ نه وه مقرر کړی دا په هغوی مګر لټول درضامندی

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ

دالله ﷻ نبیادوی ساتنه ونه کړه دهغه څنګه چې حق دساتنې دهغه وو ، بیاورکړه مونږ په دوی کې ایماندارو ته دهغو

وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا

بدله ، اودیر په دوی کې نافرمانه دی ، ای ایماندارو ! ویره کوی دالله څخه او ایمان

بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ

راوړی دهغه په رسول دربه کړی تاسی ته دوی برخی دخپل رحمت څخه او دربه کړی تاسی ته رڼا چې ګرځی به

بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ

دهغه سره او معاف به کړی تاسی او الله ﷻ معاف کوونکی مهربانه دی ، چې معلوم نه سی اهل کتابو ته

اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَىْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ

چې دوی نه سی پیدا کوی څه شی دفضل دخدای څخه او دا چې فضل دالله ﷻ په لاس کې دی ،

اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾ ع

ور کوی یې چا ته چې غواړی او دالله ﷻ فضل ډیر لوی دی.

لنډتفسیر: اومونږ (دمخلوق داخرت او ددین داصلاح دپاره) نوح ﷺ اوابراهیم ﷺ پیغمبر جوړکړی راولیږی اومونږ د دوی په اولادکی پیغمبری اوکتاب جاری پاته کړل (یعنی د دوی په اولادکی موهم ځینی پیغمبران اوپه دوی کی ځینی صاحب کتاب جوړکړل) نو (کومو کومو خلګوته چې داپیغمبران راغلل) په هغوخلګوکی ځینی خوهدایت پیداکی اوځینی په دوی کی نافرمانه وه (اودا ذکر سوی پیغمبران خو دمستقل شریعت خاوندان وه، په دوی کی ځینی دکتاب خاوندان هم وه ، موسیٰ ﷺ کم چې دحضرت نوح ﷺ اوابراهیم ﷺ دواړوپه اولادکی وو اوځینی که څه هم صاحب کتاب نه وه ، لکه هود اوصالح ﷺ چې د دوی دکتاب خاوندان کیدل منقول نه دی ، مګر شریعت د دوی مستقل وو، په هرحال ډیرنبیان خو دمستقل شریعت خاوندان ولیږل) بیا د دوی څخه وروسته مو نور رسولان (کوم چې دمستقل شریعت خاوندان نه وه) په یو بل پسی راولیږل (لکه دموسیٰ ﷺ څخه وروسته دتورات په احکامو عمل کوونکی ډیر پیغمبران راغلل) او د دوی څخه وروسته مو (بیا یو دمستقل شریعت خاوند یعنی) عیسیٰ ﷺ زوی دمریم (رض) ولیږی اومونږ ده ته انجیل ورکی او (د دوی په امت کی دوه قسمه

Maktaba Tul Ishaat.com

خلګ سول یو هغه چې په دوی یې ایمان راوړی او دوهم انکارکوونکی) اوکومو خلګو چې د دوی تابعداری کړی وه (یعنی اول قسم خلګ) مونږ دهغوی په زړونو کی شفقت اوترحم (دیوبل سره کوم چې اخلاقِ حمیده دی) پیداکی (لکه دا قول دالله ﷻ په باره داصحابو ﷺ کی: رُحَمَآءُ بَیۡنَهُمۡ اوشاید په وجه ددی چې د دوی په شریعت کی جهاد نه وو، ددی مقابل صفت، اَشِدَّآءُ عَلَی الۡکُفَّارِ: یې ذکر ونه فرمایی، غرض دا چې غالب په دغو شفقت اورحمت وو) او (زمونږ دطرف څخه خودغوخلګوته صرف په احکامو کی دتابعداری کولو ذکرسوی وو، لیکن په دغو متبعینو کی څینی هغه سول چې) هغوی رهبانیت (څان څخه ایجادکی (درهبانیت مطلب دنکاح اوجائز لذتونو، او اختلاط پریښوول دی اوددی دایجاد سبب دا جوړ سوی وو چې دعیسیٰ ﷺ څخه وروسته کله چې خلګو دالله ﷻ احکام پریښوول شروع کړل نوځینی اهل حق هم وه، کوم چې به دحق اظهارکوی، دا خبره خواهشِ نفسانی لرونکوته مشکله معلومه سوه او دوی خپلو بادشاهانو ته درخواست وکی چې دغه خلګ دی مجبوره سی چې زمونږ په شان جوړ سی، کله چې هغوی مجبوره سول نو هغوی درخواست وکی چې مونږته دی اجازت راکول سی چې مونږ ددی خلګو سره هیڅ تعلق او غرض نه ساتو اوازاد ژوند تیروو، برابره خبره ده که په یوکُنج کی کښینو یاپه سفر اوسیاحت کی عمر تیروو، چنانچې په دی باندی هغوی پریښوول سول (لکه چې په دُرِّ منثورکی داسی دی) په دی مقام باندی دا ذکر دی چې دوی رهبانیت (اختیارکی) مونږ په دوی باندی داواجب کړی نه وو، لیکن دوی دالله ﷻ درضا دپاره (خپل ددین دمحفوظ ساتلو دپاره) دا اختیار کړی وو نو (په دغو راهبانوکی زیات هغه سول چې) دوی ددی (رهبانیت) پوره رعایت ونه کی (یعنی دکوم غرض دپاره چې دا اختیار سوی وو او دغه غرض دالله ﷻ رضا لټول وو او ددی اهتمام یې ونه کی، یعنی اصل احکام یې پوره نه کړه، که څه هم صورتًا درهبانیت اواحکامو په څای کولو اظهار یې کوی، دغه شان په راهبانو کی دوه قسمه خلګ سول، داحکامو رعایت کوونکی او رعایت نه کوونکی او په دوی کی چې کوم دنبی کریم ﷺ دزمانی وه، د دوی په حق کی داحکامو درعایت یوشرط داهم دی چې په نبی کریم ﷺ باندی ایمان راوړی، په دی وجه دنبی کریم ﷺ په عهدِ مبارك کی داحکامو رعایت اواهتمام کوونکی هغه خلګ سول کومو چې په دوی ایمان راوړی اوکومو چې په دوی ﷺ دایمان راوړلو څخه منعه وکړه، اوهغوی داحکامو په رعایت نه کوونکوکی شامل سول) نو په دوی کی چې کومو (په نبی کریم ﷺ باندی) ایمان راوړی مونږ دوی لره د دوی اجر (وعده سوی) ورکی (مګر داسی خلګ کم وه) اوزیات په دوی کی نافرمانه دی (چې په حضور ﷺ یې ایمان نه راوړی اوچونکه اکثریت دنافرمانیو وو، په دی وجه درعایت نه کولو نسبت ټولوته وسو چې فَمَا رَعَوۡهَا یې وفرمایل، معلومه سوه چې دانفی درعایت داکثریت په اعتبار سره ده اولږ کومو چې ایمان راوړی وو، دهغوی بیان یې دایت په اخرکی په، فَاٰتَیۡنَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡهُمۡ اَجۡرَهُمۡ: کی وفرمایی.

تردی څای پوری په عیسایانوکی دایمان راوړونکو اونه راوړونکو د دوو قسمونو ذکر وو مخ ته دایماندارو حکم دی چې) ای (په عیسیٰ ﷺ) ایمان لرونکو تاسی دالله ﷻ څخه وبیریږی او (ددی بیرې په مقتضیٰ عمل کوی یعنی) دده په رسول (ﷺ) باندی ایمان راوړی، الله ﷻ به تاسی ته دخپل رحمت څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

(ثواب) دوی حصی درکړی (لکه چی په سورة قصص کی ، أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ : الاية کی دی) اوتاسی ته به داسی نور درکړی چی تاسی به ددی سره گرځی (یعنی داسی ایمان به درکړی کوم چی به هر وخت ستاسی سره وی ، ددی ځای څخه تر پل صراط پوری) اوتاسی به وبخښی (څکه چی په اسلام سره دکفر دزمانی ټول گناهونه معاف کیږی) اوالله ﷻ غفور رحیم دی (او دا دولتونه به تاسی ته څکه درکول سی) چی (څه وخت ددی بخششونو ظهور وسی ، یعنی دقیامت په ورځ دغه وخت به) اهل کتابونه (یعنی کومو چی ایمان نه وو راوړی هغوی ته به) دا خبره معلومه سی چی دغو خلگوته دالله ﷻ دفضل پر یو جزء هم (بغیر دایمان راوړلو څخه) وس نسته (او دا هم معلومه سی) چی فضل دالله ﷻ په لاس کی دی هغه چی چا ته وغواړی ورکوی یی (چنانچی دهغه مشیت دهغه دفضل سره دمسلمانانو سره متعلق سول نو هغوی ته یی ورکی) اوالله ﷻ لوی فضل والا دی (مطلب دا چی دهغوی غرور او زعم مات سی چی په موجوده حالت باندی هم هغوی ځان دفضل مورد او دمغفرت محل گڼی)

معلومات اومسئلي : په تیرو ایتونوکی ددی عالم دهدایت اوپه دی کی دعدل اوانصاف دقائمولو دپاره دانبیاؤ رسولانو او د دوی سره دکتاب اومیزان نازلولو عمومی ذکر وو، په دی ذکر سوی ایتونوکی ددغو څخه دخاصو خاصو انبیاوو ذکر دی ، اول دحضرت نوح ﷺ چی هغه ادم ثانی دی او دطوفان نوح څخه وروسته په دنیاکی دباقی پاته کیدونکو مخلوقاتو نسل دهغه څخه دی ، دوهم حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ کوم چی دانبیاوو پلار اوپیشوا دمخلوقاتو دی ، ددغو دواړو دذکر سره یی دا اعلان وفرمایی چی اننده څومره انبیاء اواسمانی کتابونه دنیاته راځی هغه ټول به ددی دواړو په اولاد کی وی یعنی دحضرت نوح ﷺ هغه نباخ ددی فضیلت دپاره مخصوص سو، په کوم کی چی حضرت ابراهیم ﷺ دی هم دا وجه ده چی وروسته څومره انبیاء ﷺ مبعوث سول اوځومره کتابونه نازل سول هغه ټول دحضرت ابراهیم ﷺ په اولادکی دی .

ددی خصوصي ذکر څخه وروسته دانبیاوو ﷺ پوره سلسله یی په یوه لنډه غوندی جمله کی بیان کړه ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِم بِرُسُلِنَا : په اخر کی یی په خصوصیت سره دبنی اسرائیلو په پیغمبرانوکی داخری پیغمبر حضرت عیسیٰ ﷺ ذکر وکی دحضرت خاتم الانبیاء ﷺ او د دوی دشریعت ذکریی وفرمایی په حضرت عیسیٰ ﷺ باندی دایمان راوړونکو د دوی دحواریانو خاص صفت یی دا وښووی ، وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً : یعنی کومو خلگو چی دحضرت عیسیٰ ﷺ یا انجیل تابعداری وکړه ، مونږ دهغوی په زړونوکی شفقت اورحمت پیداکی ، یعنی هغه خلگ په خپل مینځ کی پریوبل مهربانه اورحیم دی ، یا دخدای دټول مخلوق سره د دوی دشفقت او رحمت تعلق دی ، رَأْفَتْ او رحمت دواړه لفظونه دیوبل هم معنیٰ گڼل کیږی ، دلته دمقابلی په وجه ځینی حضرات فرمایی چی رَأْفَتْ سخت رحمت ته ویل کیږی ، گویا دعام رحمت څخه په دی کی زیاته مبالغه ده اوځینی فرمایی چی په یوه سړی باندی درحمت اوشفقت دوی تقاضی عادتًا کیدی سی یوه دا چی که هغه په څه تکلیف اومصیبت کی اخته وی نو دده تکلیف لیری سی ، دی ته رَأْفَتْ ویل کیږی ، دوهم دا چی دده څه شی ته ضرورت وی هغه ورکول سی ، دا رحمت دی ، غرض دا چی درَأْفَتْ تعلق دمضرت ددفع سره دی او درحمت دا دجَلْبِ مَنْفَعَتْ سره ،

Maktaba Tul Ishaat.com

اوچونکی دمضرت دفع په هر اعتبار سره مقدمه ګڼل کیږی ، په دی وجه عموماً کله چی دا دواړه لفظونه یو ځای ویل کیږی ، نو رافت په رحمت باندی مخکی ویل کیږی .

دلته دحضرت عیسیٰ ﷺ اصحاب کومو ته چی حواریان ویل کیږی ، د دوی خصوصی صفت رَاْفَت او رحمت بیان سوی دی ، لکه چی دنبی کریم ﷺ داصحابو کرامو ﷺ څو صفتونه په سورة فتح کی بیان سوی دی ، په کومو کی چی یوصفت ، رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ : هم دی ، مګر هلته ددې صفت څخه مخکې دصحابه ﷺ خاص صفت اَشِدَّآءُ عَلَی الْکُفَّار، بیان سوی دی، دفرق وجه دامعلومیږی چی دحضرت عیسیٰ ﷺ په شریعت کی دکفارو سره دجهاد اوقتال احکام نه وه ، په دی وجه دکفاروپه مقابله کی دشدت ظاهرولو هلته څه ځای نه وو. واللہ تعالی اعلم

(درهبانیت مطلب او ضروری هدایت)

وَرَهْبَانِیَّةَ ابْتَدَعُوهَا رهبانیت درهبان طرف ته منسوب دی ، دراهب اورهبان معنیٰ ده بیریدونکی ، دحضرت عیسیٰ ﷺ څخه وروسته کله چی په بنی اسرائیلوکی فسق اوفجورعام سوخصوصاً بادشاهانو اورئیسانو دانجیل داحکامو څخه بنکاره بغاوت شروع کی ، په هغوی کی چی څینی عالمان اوصالحان وه ، هغوی یی دبدعملی څخه منع کوله نو هغوی قتل سول ، کوم چی خلاص پاته سول هغوی ولیدل چی اوس دمنع کولو اومقابلی کولو طاقت نسته ، که مونږ ددغو خلګو سره یوځای اوسیږو نو زمونږ دین به هم بربادسی ، په دی وجه هغو خلګو په ځان دا خبره لازمه کړه چی اوس ددنیا ټول جائز لذتونه اوارام هم پریږدی ، نکاح مه کوی ، دخوراك چښاك دسامان جمع کولو فکرمه کوی ، داوسیدو دپاره دسامان او کور اهتمام مه کوی دخلګو څخه لیری په یو ځنګل غره کی اوسیږی ، یابیا دخانه بدوشو په شان په سیر اوساحت کی ژوند تیر کړی ، چی ددین په احکامو باندی په ازادی سره پوره پوره عمل وسی ، د دوی دا عمل چونکی دخدای دبیری څخه وو ، په دی وجه داسی خلګو ته راهب یارهبان ویل شروع سول ، د دوی طرف ته په نسبت کولو ، د دوی طریقی ته رهبانیت ویل کیږی .

د دوی داطریقه چونکی دحالاتو څخه دمجبوری او ددین دحفاظت دپاره وه په دی وجه اصالةً څه مذموم شی نه وو ، البته یوشی دالله ﷻ دپاره په خپل ځان باندی دلازم کولوڅخه وروسته په هغه کی کوتاهی او خلاف ورزی کول لویه ګناه ده ، لکه چی دنذر اومننی حکم دی چی هغه په اصل کی خو په چا لازم او واجب نه وی په خپله څوك په ځان باندی څه شی نذر کړی ، حرام یاواجب یی کړی نوبیا شرعاً دهغه پابندی واجب او خلاف ورزی یی ګناه سی ، مګر په هغوی کی څینو خلګو درهبانیت په نوم سره ددنیا طلبی اوعیش او عشرت ذریعه جوړه کړی ، ځکه چی عوام خلګ دداسی خلګو معتقد سول ، تحفی ډالی او نذرانی راتلل شروع سو ، دخلګو د دوی طرف ته رجوع وسوه نو خبره فواحشو ته ورسیده .

قرآن کریم په ذکر سوی آیت کی په دی خبره بده وګڼله ، چی په خپله یی په ځانونو باندی دلذتونو پرې نسول لازم کړی وه کوم چی دالله ﷻ دطرف څخه پردوی نه وه لازم سوی ، اوکله چی یی لازم کړل نوبیا دوی لره دهغه پابندی کول په کار وه لیکن دوی دهغه خلاف ورزی وکړه .

ددغو خلګو دا طریقه په اصل کی مذمومه نه وه ، دحضرت عبد اللہ ابن مسعود ﷺ حدیث پردی باندی شاهد دی ، ابن کثیر رحمہ اللہ په روایت دابن ابی حاتم او ابن جریر رحمہ اللہ یو وړد حدیث نقل کړی دی په

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم کی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی بنی اسرائیل په دوه اویا ۷۲ فرقو کی تقسیم سوی وه په کوم کی چی صرف دری فرقوته دعذاب څخه نجات حاصل سو کومو چی دعیسیٰ ﷺ څخه وروسته ظالم او جابر بادشاهان اودولت اوقوت او والا فاسقان او فاجران خلګ د دوی دفسق اوفجورڅخه منع کړل د دوی په مقابله کی مغلوب سول او قتل سول نوبیا د دوی پرځای یوه بله فرقه راپورته سوه دکومو چی دمقابلی دومره قوت اوطاقت نه وو، مګر دحق کلمی درسولو دپاره یی دخپلو ځانونو دپرواکولو څخه بغیر هغوی دحق طرف ته راوبلل ، دغه ټول هم قتل سول ځینی په آرو سره ځیری سول ، ځینی ژوندی په اور کی وسوزل سول ، مګرهغوی دالله ﷻ درضادپاره پردی ټولومصیبتونوباندی صبر وکی، دوی هم نجات پیداکی ، بیا یو دریم جماعت د دوی پرځای پورته سوپه کومو کی چی نه دمقابلی طاقت وو ، نه د دوی سره په یوځای داوسیدو یی په خپل دین دعمل کولو صورت جوړیدی ، په دی وجه دی خلګو دغرونو اوځنګلونو لار ونیوله اوراهبان جوړسول ، دا هغه خلګ دی دکومو چی الله ﷻ په دی کی ذکرکړی دی ، وَرَهْبَانِيَّةَ ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ : ددی حدیث څخه معلومه سوه چی په بنی اسرائیلو کی داصل رهبانیت اختیار کوونکی کوموچی درهبانیت دلوازمو رعایت وکی اوپه مصیبتونویی صبروکی، هغوی هم نجات پیدا کی .

دذکر سوی آیت دتفسیر خلاصه دا سوه چی لکه څنګه چی په ابتداء کی رهبانیت اختیار کړی وو ، هغه په خپل ذات کی مذموم اوبدشی نه وو البته هغه څه شرعی حکم نه وو، دغوخلګوپه خپله رضا اوخوشحالی سره پرخپل ځان لازم کړی وو ، دبدوالی اومذمت ارخ یی ددی ځای څخه شروع سوچی ددی التزام څخه وروسته ځینی خلګو ددی ساتنه ونه کړه او چونکی تعداد ددواسی خلګو زیات سوی وو ، په دی وجه اکثرو لره حکم دکل وی نو ددی قاعدی موافق قرآن دبنی اسرائیلو طرف ته ددی نسبت وکی چی دوی کوم رهبانیت په ځان لازم کړی وو ، دهغه ساتنه یی ونه کړه او ددی دشرطونو رعایت یی ونه کی ، دا خبره یی وفرمایله ، فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا .

ددی څخه داهم معلومه سوه چی ددی رهبانیت په حقله چی قرآن کریم فرمایلی دی ابْتَدَعُوْهَا یعنی دوی ایجاد کی ، په دی کی لفظ دَابْتِدَاع چی دبدعت څخه مشتق دی هغه دلته په خپله لغوی معنیٰ یعنی دختراع اوایجاد دپاره ویل سوی دی دشریعت اصطلاحی بدعت مرادنه دی دکوم په باره کی چی په حدیث کی ارشاد دی ، كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ : یعنی هر بدعت ګمراهی ده .

دقرآن کریم په نظم اونسق چی فکر وسی نو دا خبره بالکل واضحه کیږی دټولو څخه اول خو په دی جمله نظر واچوی ، وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً په دی کی الله ﷻ دخپل نعمت داظهار په سلسله کی فرمایی چی مونږ دهغوی په زړونوکی رافت رحمت اورهبانیت پیداکی ، دکلام دنسق څخه دا خبره معلومیږی چی څنګه رافت اورحمت مذموم نه دی ، دغه شان د دوی اختیارکړی رهبانیت هم په خپل ذات سره څه مذموم شی نه وو، کنه نو په مقام دامتنان کی درافت اورحمت سره درهبانیت دذکر کولو هیڅ وجه نه وه ، په دی وجه کومو حضراتوچی مطلقارهبانیت مذموم اوممنوع ګرځولی دی ، دوی ته دلته درهبانیت په عطف کی غیر ضروری تاویل کول راغلل، چی دا یی په رافت اورحمت باندی عطف

Maktaba Tul Ishaat.com

ونه منی بلکه یوه مستقله جمله یی دلته محذوفه مقرره کړه یعنی ، اِبْتَدَعُوا (لکه چی قرطبی داسی کړی دی) لیکن په ذکر سوی تفسیر ددی دتاویل څه ضرورت نه پاته کیږی ، مخ ته هم قرآن کریم د دوی په دی ابتداع څه نکیر اورد ونه فرمایی ، بلکه نکیر یی په دی وکی چی دوی ددی اختیار کرده رهبانیت ساتنه ونه کړه او دده دحقوقو او شرآئطو رعایت یی ونه کی ، دا هم هلته کیدی سی چی ابتداع په لغوی معنی کی واخیستل سی چی شرعی اواصطلاحی معنی وی نو قرآن په خپله هم نکیر پرکوی ، ځکه چی بدعت اصطلاحی په خپله یوه گمراهی ده .

اودعبدالله ابن مسعود رضی الله عنه دذکرسوی حدیث څخه نوره هم دا خبره واضحه سوه چی ترهُب اختیارونکی جماعت یی په نجات یافته جماعتونو کی شمارکی که دوی داصطلاحی بدعت مجرمان وای نو په نجات یافته کی به نه وای شمار سوی بلکه په گمراهانوکی به شمار وای .

(آیا رهبانیت مطلقًا مذموم او ناجائز دی او که څه تفصیل په کې سته ؟)

صحیح خبره دا ده چی دلفظ درهبانیت عام اطلاق دلذتونو اودمباحاتو پرپرینبوولو باندی کیږی ، ددی څو درجی دی ، یوه دا چی یومباح اوحلال شی اعتقاداً یاعملاً حرام مقررکی ، داخو ددین تحریف او تغیر دی ، ددی معنی په اعتبار سره رهبانیت قطعًا حرام دی اودقرن آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكُمْ : او ددی په مثالونوکی ددی دممانعت اوحرمت بیان دی ، ددی آیت عنوان لاَ تُحَرِّمُوا په خپله دانبیی چی ددی ممانعت څکه دی چی دی دالله ﷻ حلال کړی شیان اعتقاداً یا عملاً حراموی کوم چی دالله ﷻ په احکاموکی بدلون اوتحریف دی ، دوهمه درجه دا ده چی دمباح کول عملاً یا اعتقاداً نه حراموی مگر دځه دنیوی یا دینی ضرورت په وجه دهغه دپرینبولو پابندی کوی ، دنیوی ضرورت لکه دځه ناروغی دخطری په وجه دځه مباح شی څخه پرهیز کوی اودینی ضرورت دا چی دی محسوسه کړی چی که ما دامباح اختیار کړل نو اخر په گناه کی به مبتلا سم ، لکه د درواغو غیبت وغیره څخه دخلاصیدو دپاره یو بنده دخلگو سره اختلاط پریږدی یا دنفسانی رذیله اخلاقو دعلاج دپاره څو ورځی څینی مباحات پریږدی او دپرینبوولو پابندی په توگه دعلاج او دوا ترهغه وخته پوری کوی ترڅو پوری چی دارذیله لیری سوی نه وی لکه صوفیاءِ کرام چی مبتدی ته دکمو خوړو ، کمو بیدو کیدو او دکم اختلاط تاکید کوی چی دایوه مجاهده وی نفس لره پراعتدال دراوستو ، کله چی پرنفس منع راسی چی ناجائزو ته درسیدوخطره پاته نه سی نو دا پرهیز پری نبوول سی ، دا په حقیقت کی رهبانیت نه دی تقوٰی ده کومه چی په دین کی مطلوب ده او داسلافو کرامو اصحابو او تابعینو څخه ثابته ده .

دریمه درجه دا ده چی یومباح حرام خو نه گرځوی ، مگر ددغه استعمال څنگه چی په سنتو سره ثابت دی دغه شان استعمال یی پرینبوول هم ثواب او افضل گنی اوپرهیز ورڅخه کوی دا یو قسم غلوه ده چی په دیرو احادیثو کی یی نبی کریم ﷺ منع فرمایلی ده اوپه کوم حدیث کی چی ، لاَ رَهْبَانِيَّةَ فِي الْاِسْلَامِ : راغلی دی ، یعنی په اسلام کی رهبانیت نسته ، ددی څخه مراد داسی ترك مباحات دی چی ددی پرینبوول فضل اوثواب گنی ، په بنی اسرائیلوکی چی کوم رهبانیت داول څخه شروع سو هغه که ددین دحفاظت په ضرورت سره وو نوپه دوهم قسم یعنی تقوٰی کی داخل دی ، لیکن په اهل کتابوکی دغلوفی الدین افت

Maktaba Tul Ishaat.com

دير رو هغوی که به دی غلوکی داولی درجی تحریم دحلالولته ورسیدل نودحرامو مرتکب سول اوکه به دریمه درجه کی پاته سوه نوهم دیومذموم فعل مجرمان سول والله تعالی اعلم

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ په دی آیت کی د، يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : خخه مراد اهل کتاب دی کومو چی به عیسی علیه السلام ایمان راوړی . دقرآن کریم عام عادت دا دی چی د. اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لفظ صرف دمسلمانانو دپاره وایی . دیهودو اونصاراوو دپاره داهل کتابو لفظ راخی . خکه چی صرف به موسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام باندی د دوی ایمان معتبر نه دی اوته کافی دی ترخو پوری چی په نبی کریم ﷺ باندی ایمان رانه وړی . په دی وجه هغوی دَ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ویلو مستحق نه دی . مگر دلته ددی عام عادت خلاف دالفظ دنصاراوو دپاره وویل سو شاید به دی کی دا حکمت وی چی مخ ته دوی نه حکم سوی دی چی په عیسی علیه السلام دصحیح ایمان راوړلو تقاضا دا ده چی په خاتم الانبیاء ﷺ باندی هم ایمان راوړی او هغوی چی کله داسی وکی نو، د اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دخطاب مستحق سول مخ نه دایمان په دی تکمیل د دوی سره دا وعده وسره چی دری نه به دوجنده اجر اوثواب حاصلیږی ، یو به اول نبی حضرت عیسی علیه السلام دایمان راوړلو او دده په شریعت دعمل کولو او دوهم په خاتم الانبیاء ﷺ باندی دایمان راوړلو او د دوی په شریعت دعمل کولو، په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی که څه هم یهود اونصاری په نبی کریم ﷺ باندی دایمان نه راوړلو تر وخته پوری کافران وه او دکافر هیڅ عبادت مقبول نه دی . ددی مقتضا دا وه چی په ټیر شریعت چی کوم عمل سوی ور هغه نول عبث سول ، مگر دی آیت دا وښوولو چی کافر کله مسلمان سی نو دکفر دزمانی گړی نیک عملونه هم بیا دده بحال سی ، په دی وجه دوجنده اجر وی .

لِئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ : په دی کی لَا زائد دی معنی لِيَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ ده اومطلب دایت دا دی چی دا ذکر سوی احکام خکه بیان سول چی اهل کتاب پوه سی چی هغوی په خپل موجوده حالت کی ، چی صرف په حضرت عیسی علیه السلام خو یی ایمان دی او په نبی کریم ﷺ نشه ، په دی حالت کی هغوی دالله ﷻ دهیڅ فضل مستحق نه دی . ترخو پوری چی په حضرت خاتم الانبیاء ﷺ باندی ایمان رانه وړی والله سبحانه وتعالی اعلم

تمت

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ بحمدالله تعالی وعونه للسادس والعشرين من الربيع الثانی يوم الاثنين بعد العشاء ويتلوه انشاء الله سورة المجادلة .

تفسير معارف القرآن د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com